جواب : ناګری وي اوکه انګریزي هرد وارو خطونو کې که چرته درسم خط د مصحف عثمان رعایت اونه شی نو دیکې قرآن مجید لیکل هیڅکله هم جائزنه دي ځکه چه د مصحف په لیکلو کې رعایت د مصحف عثمانی رسم الخط واجب دي - پاتی شو هغه خط چه په هغې رعایت د دغه رسم خط کیدیشی لکه فارسی یاأردو نستعلیق یانورودي په شان - په دیکې قرآن لیکل مختلف فیه بین القولین دي. خوډیره نزدي اوراجح داده چه داسی خطونو کې هم پوره مصحف لیکل جائزنه دي. اتفاقی یو دوه ایتونو لیکلو کې څه باك نشته - الغرض الفاظ د قرآن صرف په عربي خط کې لیکل پکاردي ترجمه اوتفسیرپه بله ژبه کې دلیکلو اوبل خط کې دلیکلو څه باك نشته ، قال في الاتقان وقال اشهب سئل مالك هل يكتب المصحف على ما احدثه الناس من الهجاء فقال لا الاعلى الكتبة الاولىٰ رواه الداني في المقنع ثم قال ولامخالف له من علماء الامة وقال في موضع اخرسئل مالك عن الحروف في القرا ن مثل الواو والالف المزيدتين في الرسم المعددتين في اللفظ نحو اولواقال الامام احمديحرم مخالفة خط مصحف عثمان في

او ویاء اوالف اوغیرذلك اه (ص١٧٢/ ج٢) قلت ولایمکن رعایة ذلك فی خط الهنـــود ولا فی خط الانجلیزی فغایة مایمکن فیهماان یکتب الحروف الملتفظ بهافقط ولایمکـــن رعایــة الزوائـــد اصلاوایضاً فبعض مایتلفظ من الحروف فی العربی لاتوجدفی هذین اللسانین اصلا مثـــل الصـــاد القاف ونحوهمافیعبرعنهابحروف مشترك بینهاوبین غیرهاولایخفی مافیه لزومه التحریف فی القـــرآن وقال فی الاتقان ایضاً وهل تجوزکتابته بقلم غیر العربی قال الزرکشی لم ارفیه کلاماًلاحـــد مـــن العلماء قال ویحتمل الجوازلانه قدیحسنه من یقراه بالعربیة والاقرب المنع کماتحرم قرأته بغیرلسان العرب ولقولهم القلم احداللسانین والعرب لاتعرف قلماغیرالعربی وقدقال تعالیٰ عربی مبین آه ص١٧٦/ ج٢) والله اعلم ، ١٢رجب / ١٣٤٢هـ)

جواب مفصّل

بسم الله الرحمٰن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

الجواب دارتداد دفتنی بندولو په سلسله کې ناظم صاحب دانجمن تبلیغ الاسلام قصبه نگره ضلع لکهنؤ دقرآن مجید دترجمې په ناګری ژبه کې دخورولو چه کومه اراده ښکاره کړیده اودهغې متعلق یې دحضرت اقدس حکیم الامت جناب مولاناتهانوی ادام الله فیوضهم نه مشوره غوښتې وه، اوخصوصیت سره یې ددې خبرې متعلق سوال کړي وه چه مذهبي حیثیت سره ترجمې سره دقرآن پاك متن په عربي کې ولیکلی شي یاهندي خط کې ولیکلی شي په دې وجه ٣٠رمضان المبارك ١٣٤١هـ دهغې جواب په دې لفظونو سره ورکړي شوي وه. الجواب دیرنیك کاردي الله دې مکمل مدداوفرمائي داجازت په بنیاددالاندینې مشورې پیش کوم (١) ترجمه که څرته په دې غرض وي چه هغه خلق به په خپله مطالعه وکړي نودې طریقې سره په مطالعه کولوکې دسختوغلطواحتمال دي اوکه څرته دې غرض سره وي چه څرته دیوعالم نه به یې زده کړونودیرفائده مند دي (٢) ترجمه کوونکې که څرته جامع دیندار دي نودمستقل ترجمې کولوځه باك نشته کنې مقبولوتراجموکې دیوبزرګ دترجمې صرف ژبه بدلول کافي دي مستقل ترجمه مناسب نه ده (٣) په متن کې دقرآن مجیدرسم الخط په عربي ژبه کې پکاردي ،هندي رسم الخط ته هیڅ ضرورت نشته ،بغیردلوستلونه خوپه هندي ژبه کې کیدوسره هم یې څوك نه شي

لوستلی – اولوستلوسره دعربي حرفونه یادول څه ګران نه دي اوکوم چه اصل مقصوددترجمې متعلق دي یعنې ارتدادنه بچ کول او اسلام طرفته راوستل په هغې کې عربي اوناګری رسم الخط په نه داخلولوکې برابردي ددې نه علاوه په هندي یاناګری کې دبعضوحرفونودعربي شکل هم نشته لکه ق،ض،ط،ظ،ز، مثلا پس هرکله چه داپه بل شکل کې ولیکلی شي نوښکاره خبره ده چه اصلي حرفونه به لوستلی هم نه شي په دې کې قصداً دتحریف جائزلرل دي وهو حرام هذا ماحضرالان لعل الله یحدیث بعدذالك امراً وګوري تتمه خامسه / ص ٢٤١، اوس دغه انجمن دترجمې اوتفسیرنمونه په اردوخط کې فوراً په برقي پریس لکهنؤ کې چاپ کړه اوراې ښکاره کولو دپاره یې دحضرت اقدس په خدمت کې پیش کړه په هغې باندي عالماه حیثیت سره دمولانامولوي ظفراحمدصاحب مقیم خانقاه امدادیه اشرفیه تهانه بهول په حواله دتفسیراتقان مولفه حضرت امام جلال الدین سیوطي علیه الرحمت یوه تفصیلي فتوی لیکلی شوي وه. کوم چه راتلونکې نمونې سره شامل ده (١) اودینه ښکاره ده چه دترجمې اوتفسیرلیکلوپه بل ژبه اوبل خط کې دلیکلوڅه باك نشته خومتن دقرآن مجیدپه داسې خط کې لیکل چه په هغې کې دمصحف عثماني دخط خیال اونه کړیشي نومنع دي- اګرچه ددې تفصیلي اومدلل فتوی نه وروستودچاپل چادلیکلوڅه ضرورت نه وه خوراقم الحروف دریاست الورد ملازمت دوجه نه هندي رسم الخط اوناګری ژبې سره واقفیت لري اوتن صبادچهټې دوجه نه تهانه بهون ته راغلی یم هرکله چه مې دانمونه دترجمې اودتفسیروکتله نوپه هغې کې بعض امور داسې په نظر راغلل چه دهغې متعلق خپل خیال ښکاره کول ضروري معلوم شو په دې وجه دالاندینې عرض کوم

انجمن موصوف دترجمې او تفسیرکولو

دپاره دالاندینې طرزاختیارکړیدي

(١) ورومبی اصل قرآن مجیدپه عربي خط کې لیکلی شویدي (٢) بیادهغې مخامخ اصل قرآن مجیدپه ناګری خط کې لیکلی شویدي (٣) دهغې نه وروستودهغې دواړو دلاندې دقرآن مجیدترجمه په ناګری خط اوژبه کې لیکلی شویده (٤) بیادهغې تفسیردترجمې دلاندې په ناګری ژبه کې لیکلی شویده وګوري صفحه ٢ نمونه ترجمه او تفسیر، په دیکې نمبر (١)

---

(١) کونکودپاره یې داپه تفصیلي جواب کې شامله کړیده؛

بالکل صحیح دي. اصل قران مجید په عربي خط کې لیکل دضروریاتو نه دي خو نمبر (۲) یعني اصل قران مجید په ناګری خط لیکل دتحریف لازمیدو دوجه نه ناجائزدي دهغې یوه وجه خود حضرت اقدس دجواب په نمبر (۳) کې دالیکلی شوېده چه دبعض عربي حرفونو مثلاً ق، ض، ط، ظ، ز، وغیره شکل په هندي یاناګری ژبه کې نشته - اوهرکله چه داپه بل شکل کې ولیکلی شي نو اصلي حرفونه به بیالوستي هم نه شي اودویمه وجه کومه ددي نمونې لیدلې شوې کتلو سره دهرچا په پوهه کې راتلې شي. مثلاً صرف بسم الله الرحمٰن الرحیم کې دلفظ الله الف اوالفاظ الرحمٰن الرحیم کې حروف الف اولام چه دعربي خط موافق لیکل پکاروه کمیږي ، اوهرکله چه صرف بسم الله الرحمٰن الرحیم کې صرف دپنځو حرفونو کمی لازم راځي نو په ټول قرآن مجید کې به دڅومره حرفونو کمی لازم راشي داخبره دسوچ قابله ده اوداخط دمصحف عثماني نه ښکاره مخالفت دي کوم چه په ائمه مجتهدینو کې حضرت امام مالک رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله ناجائزاوحرام ګرځولی دي ، وګوري تفسیر اتقال مولفه حضرت امام جلال الدین سیوطی رحمه الله ص ۱۷۲، ۱۷۲ اوفتوی دمولانا ظفراحمد صاحب چه دهغې بره ذکراوشو، بهرحال داصل قران مجید صرف عربي خط کې لیکل ضروري دي ناګری خط کې ددې دلیکلو نه شرعاً اجازت کیدېشي اونه په ظاهره ددې څه ضرورت شته بلکه که غورسره وګوري نو داصل قران مجید دناګری حرفونو لیکلو نتیجه به داپه نظر راشي چه کوم مسلمان صرف هندي حرفونه پیژنې هغوی به لږغوندې کوشش سره بغدادي قاعدې لوستلو نه پس به په عربي خط کې لیکلی شوې قران مجید په لوستلو باندې قدرت اولرلی شي دې نوې طرزجاري کیدو په وجه داسلامي رسم الخط نه بالکل بې پرواه اومحروم شي - حالانکه ضرورت ددې خبرې دي چه ټولو مسلمانانو ته داسلامي رسم الخط خودلو طرفته شوق پیداکړیشي په دې وجه نمبر (۲) داطرز مجوزه یعني اصل قران مجید په ناګری خط کې لیکل صرف مذهبي حیثیت سره هم نه بلکه قومي اوسیاسي لحاظ سره هم قابل دپرېخودودي، اوس پاتې شول مضمونونه اوهدایات دقران مجید داسې مسلمانانو ته چه صرف هندي لیکلو اولوستلو باندې پوهیږي هغوی لره خبرول اودارتداد دفتنې نه بچ کول یاغیرمسلم دوطن ملګري خپل طرفته رابلل ددې انحصار داصل قران شریف په ناګری خط کې لیکلو سره نه دي بلکه دامقصود دترجمې اوتفسیراشاعت سره حاصلیدېشي اوددې دپاره صرف په ناګری کې هم نه بلکه په ټولو ژبو اوخطونو کې دلیکلو اوخورولو اجازت هم نه بلکه

ضرورت دي، په دې شرط چه ورسره ورسره قران مجید هم عربي خط کې ولیکلی شي، اوددې صورت کې دغه لیکلی شوې طرزدترجمې اودتفسیر دنمبر (۱) په شان نمبر (۳) او (۴) هم موزون اومناسب دي ګویادغه طرزداسې کیدل پکاردي چه اول دقران مجید ایتونه په عربي کې ولیکلی شي دهغې مخامخ بیاترجمه په ناګری ژبه کې پکارده اودهغې دلاندې تفسیرهم په ناګري ژبه کې پکاردي لکه څنګه چه دغه لیکلی شوې نمونه کې په اردو کې شوېدې اوالفاظ دقران مجید په ناګری ژبه کې دلیکلو خیال بالکل ختمول پکاردي چه دغیرضروري کیدونه علاوه شرعاً ممنوع هم دي اودوخت دقانډې اخستونه خلاف هم دي، دې موقع باندې داخبره ښکاره کول هم دضروریاتو نه دي چه دې زمانه کې داسلام مخالفین داردو اودهندۍ په سوال باندې ډیرزورورکوي اومسلسل دکوششونو په ذریعه دهندو حکومتونو نه داردو رسم الخط رواج بندوي اودهغې په ځای ناګري ژبه جاري کوي چه په هغې کې سنسکرت ژبې غیرمشهورالفاظ دننه کوي اومسلمانانو دپاره ډیرمشکلات پیداکوي اودغه کوشش ددوي په علاقو برټش حکومت کې هم جاري دي .داسې صورت کې دحفظ ماتقدم په لحاظ سره دعالمانو طرفنه څه خبره داسې نه دې کیدل پکاردي کوم چه عامو مسلمانانو دپاره دنقصان سبب وي چونکه دهندوستان څه داسې حصه نشته چه هلته خلک په اردو یاهندوستاني ژبه نه پوهیږي داسې حالت کې چرته دوي بزرګ عالم دمقبول ترجمونه یوتفسیرواخستې شي اودهغې نه دعربي اوفارسي ګران الفاظ ویستلی شي اودهغې په ځای عام اسان لفظونه راوړلی شي داسې ترجمه ناګری حرفونو کې دخورولونه په مقابله دهغه ترجمې چه هغې کې دسنسکرت شبې غټ غټ لفظونه راغلي وي فائده منده ګرځیدلی شي څکه چه په سنسکرت ژبه صرف مسلمانان هم نه بلکه دښارعام هندوان هم نه پوهیږي نودبانډو خلق به پرې څه پوهه شي په دې وجه دترجمې اوتفسیردپاره اردو یادهندوستاني عام اسانه ژبه اختیارول پکاردي اوهغه په ناګری حرفونو کې شائع کړیشي دي دپاره چه عامې فائدې ورکولو سره دقومي مصلحت په لحاظ سره هم مناسب اوموزون ثابت وي لکه څنګه چه مسترمحمد علي صاحب صدرآل انډیاکانګریس په موقع داجلاس اسپیشل کانګریس کوم چه دهلی کې منعقدشوې وه په اردو کې تقریر وکړو اودبعضې بنګالي خلقو په دې وینا چه تقریرانګریزي کې پکاروه هغوي ته جواب ورکړو چه داژبه دهندوستان عامه ژبه ده تاسو خلقو ته دې هندوستاني ژبې ته ترقي ورکول پکاردي

نوموکله چه یوعامه اسانه ژبه موجوده او په دیکي داسلام اصطلاحي لفظونه هم په اسانی سره استعمالیدی شي نودا پریخودل اویوغیرمشهوره ژبه اختیارول چه هغی دپاره دنوي اصطلاحي لفظونو جوړولوضرورت هم دي اودبی فائدي ګرځیدونه علاوه ګرانه هم ده مثلاً دحضور سرورعالم ﷺ پاك نوم سره بلکه ددی مبارك نوم په ځای نمونه تفسیر کي لفظ سوامی استعمال کړي شویدي لغت په اعتبارسره دلفظ سوامی مطلب چه هرڅه وي خوعرف کي هم دالفظ لاله منشی رام عرف شردهاتند بلکه دټولوبزرګانونومونوسره استعمال شویدي آیادي سره دي خلقواود حضورسرورعالم ﷺ ذات سره دبرابري پیدا کیدوابهام نه پیدکیږي کوم چه دجاهلانو دپاره دګمراهی سبب ګرځیدلی شي .ددی نه علاوه دیوتالیف دپاره غیرمشهوري ژبی اختیارولو کي یوه خرابی داهم ده چه په دغه ژبه چه کله پوره عبورنه وي نودیرلفظونه غلط دمحاوري خلاف اوغیرفصیح لیکلی کیدیشی اودي سره دهغی تالیف دقبولیت درجه دهغی خلقوپه مخکي غورزیږي کوم چه په دغه ژبه کي پوهیږي اوکوم مقصدچه دهغه تالیف وي هغه فوت کیږي – مثلاً دفهرست لفظونه واخله په هغی بعض دهندی لفظونه قابل داصلاح دي مثلاً (الف) لفظ آګیا (راغی) الف محدوده سره لیکل پکاردي هغه دالف مقصوره دلاندي لیکلی شویدي (ب) لفظ اکثریي اچهرلیکلی دي – (ج) لفظ دستونه یي پشت لیکلی دي دغه شان دایو، ودیاوغیره لفظونه کوم چه په ناګری ژبه کي په واوسره لیکلی کیږي هغه یي (ب) سره لیکلی دي وغیره وغیره دغه شان دترجمی اودتفسیرپه نمونه کي په دي لاندینی خبروباندي ددباره سوچ کولوضرورت دي- (۱) دبسم الله الرحمن الرحیم په ترجمه کي په مقابله دمقبولوترجمودډیرولفظونوکمی پاتی شویدي، (۲) دسورة فاتحه په ترجمه کي دمالك یوم الدین ترجمه « چه دهغه په بس کي دقیامت ورځ ده »کړي شویده کومه چه دمقبولوترجمه موافق نه ده الفاظ مالك دی دورځ دجزا اوسزا دمناسبت خیال ساتل پکاروه، (۳) تفسیریي دلاندینی لفظونونه شروع کړیدي- قران شریف (کوم چه مسلمانان داسمان نه جوړکړي شوي مني) دی طریقی سره لیکلوکي سرسري نظرسره په کتلوداشبه کیدیشی چه خدائی مه کړه صاحب تفسیردمسلمانانونه جداځوك بل سړي دي ددی اصلاح کول پکاردي (۴) کل امرذی بال (الحدیث) ترجمه هم داصلاح قابله ده دلفظونوذی بال مطلب بالکل نه دي اداشوي اولم یبدا ء بیسم الله ترجمه هم دصحیح کولومحتاج ده دغه شان دلفظ ابترترجمه م صحیح نه ده شوي، (۵) آیت دیایها النبی

قل لازواجك (الایه) ترجمه کي دلفظ نبی ترجمه یي سست بیسته کړیده په هندی ژبه کي ددی استعمال نه کیږي نصاب خسرویعنی خالق باری کي دالفظ ضرورلیکلی شویدي خوچاچه هغه کتاب نه دي لوستلی هغوی په دي نه پوهیږي لهذالفظ نبی کوم چه داسلام اصطلاحي لفظ دي ترجمه کي په خپل حال ساتل پکاردي . (۲) په دغه ایت شریفه کي دلفظ ادنی مطلب په ترجمه کي نه دي راغلی – اولفظ آشازیاتی راوړي دي- بهرحال داټولی خبری دیوغیرمشهورژبی اختیارولونتیجه ده مناسب دادي چه په مقبولوترجمو کي دیوبزرګ ترجمه مخی ته کیږدي اودهغی نه دعربی اوفارسی ګران لفظونه اوباسی اودهغی په ځای عام اسان لفظونه راوړي اواسلامی اصطلاحي لفظونه په خپل حال پریعږدي، اواردوحرفونوپه ځاي په ناګری حرفونوکي ترجمه خوره کړي اودغه شان دمناظران اسلام دتفسیرونواوکتابونونه مددواخلی اوعام آسان لفظونوکي داسی تفسیر ولیکلی شی چه په هغی کي داسلام دمخالفینودټولواعتراضونوجواب ځاي په ځاي ولیکلی شي کوم چه په قران مجیدباندي تراوسه پوري شویدي دغه شان ترجمه اودغه شان تفسیرعام آسانه اردویاهندوستانی ژبه کي په ناګری خط شائع کیدوسره اخباردیانندپرکاش دهلی اونوراخبارمشرانودکاروائیانوبندیزبه هم په ښی طریقی سره وکړیشی اوقومی مصلحتونوته به هم ضررونه رسی خوسنسکرت ژبه کي ترجمه اوتفسیر شائع کول اواسلامی اصطلاحي لفظونه بدلول هرګزمناسب نه معلومیږي وماعلینا الا البلغ- محرره ۲ شعبان المعظم ۱۳۴۲ هـ مقام تهانه بهون ضلع مظفرنګر خادم الطلبه محمد عبدالواحد سررشته دارکونسل ریاست الور- (تتمه خامسه ص ۲۸۰)

تحقیق ترجمه قران مجید درنظم

سوال :(۱۱) بعدالحمدوالصلوة – احقرته په اخرذی الحجه ۱۳۳۵ هـ کي مظفرنګرته دتلواتفاق وشونوهلته یوصاحب (په ډیره اوچته عهده باندي دي) ماته ورومبی ځلورسیپاری دقرآن مجیداوخودلی چه په هغی کي دلفظ لاندی په نظمونوکي داردو ترجمه شوي وه دهغی متعلق یي زمارائی اوغوخته په سفر کي دکتلووخت ملاؤنه شوچه کلی ته راغلم ځای په ځای می وکتله – اوس خپله رائی پیش کوم دلته په دووځایونو باندي کلام دي یوداچه په خپله داترجمه څنګه ده – دویم په نظم کي دقرآن مجیدترجمه کول څنګه دي نودورومبی خبري حالت خواجمالاً دینه معلومیږي چه مترجم په خطبه کي داشعر لیکل دي

اوروه ډپټی نذیر احمد کا بهی **** ترجمه پیش نظر تهاخوهی

یعنی دهغه ډپټی نذیر احمد ترجمه ډیره ښه وه

بل دال عمران په اخر کې رابطوا ترجمه کې چه هلته یې ډیر اقوال نقل کړیدي هلته دا شعر هم دي

اورهین یون لکهتی نذیر احمد اسی **** که رهو تیار دشمن کی لی

ترجمه - یعنی نذیر احمد داسی لیکي چه دښمن دپاره تیار اوسی.

دی نه صفا ښکاره کیږي چه مترجم صاحب دډپټی صاحب معتقد دي اود ډپټی صاحب دترجمی اوعقیدي اودتحقیق حالت دبنده درسالی اصلاح ترجمه دهلویه کې ښکاره دي، پس څه رنګ چه هغه معتبر نه دي دغه شان دهغه دمعتقد دترجمی هم اعتبار نشته چه غیر معتبر لره کنړل په خپله دلیل دي دغیر معتبر کیدو اوتفصیلاً دمختلفو ځایونو دکتلو نه معلومیږي په دی وجه دلته په یو ځای کې کوم چه زما په نظر کې دنمونی دپاره کافی دي دسیقول په دریم پاؤ باندي دوه ایتونه دي وړومبی. وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ (الایه) دویم ایت دیته نزدي. وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ (الایه) دوړومبی ایت ترجمه دا یې کړیده -

اورجب تم دوسری دیدو طلاق عورتون کو بهر کامل افتراق

یعنی کله چه تاسو دویم طلاق ورکړي ښځوته پوره جدائی، اودویم ایت ترجمه یې دا کړیده

اورجب تم تیسری دیدو طلاق عورتون کو بهر کامل افتراق

یعنی کله چه تاسو دریم طلاق ورکړه ښځوته پوره جدائی - علمان دخبره پیژنی چه وړومبی ایت کې ددویم قید - اودویم ایت کې ددریم قید زیادت علی القران دي، چه دهغی څه دلیل نه قران کې شته نه سیاقاً نه سباقاً اونه قواعد شرعیه کې شته دوړومبی ایت نه مخکې دادي طلاق نشته چه دهغی قرینی سره وړومبی ایت کې دویم طلاق مراد شی. اوبیا دهغی قرینی فان طلقها فلاتحل له الخ- دلته کې دریم طلاق مراد دي اودي نه وروستو څه ذکر دوړومبی سره دویم ایت کې دریم طلاق مراد شی بیا چه کوم حکم دي دواړو ایتونو کې ذکر دي یعنی فامسکوهن وړومبی ایت کې اولاتعضلوهن دویم ایت کې هغه مخصوص نه دي. دویم

اودریم سره- یعنی په طریقی دلف نشر مرتب سره بلکه وړومبی حکم په شان ددویم طلاق په وړومبی طلاق کې هم دي. دغه شان دویم حکم ددریم طلاق په شان وړومبی اودویم کې هم دي هرکله چه دازواج نه مراد نوي ازواج یعنی خاوندان واخستی شی اوکه چرته هغه مخکینی خاوندان مرادوي لکه څنګه چه ډیر مفسرین هغی طرفته تلی دي، اواسباب دنزول هم دهغی موافق دي نو بیا خو دریم طلاق سره ددی تفسیر کول محض باطل دي - څکه چه دریم کې داحکم هډو شته هم نه- دغه وخت اتفاق سره په یو بل ځاي می نظر اوغورزیده. ددغه مخکینې رکوع نه وروستو بله رکوع کې ارشاد دي، مالم تمسوهن اوتفرضوالهن فریضة، په دیکې دتفرضوا عطف په تمسوهن باندي کیدو سره تقدیر دعبارت دادي اولم تفرضوالهن اوبالاجماع نفی ددواړو مراده ده - اودا یو صورت دي چه دیکې په ځای دمهر داحکم دي متعوهن ددی ترجمه یې داسی کړیده.

که نه مس تم نی کیاکچه جنهین یاهواتههرایاکچه مهرمین

ترجمه - چه تاسو دوي ته لاس اونه لګول یا مو دوي ته څه مهر مقرر کړي وي - نو دی ترجمه کې څو مره لویه غلطی ده چه مراد خو دادي چه تاسو نه وي مقرر کړي اوده ترجمه دا کړیده چه مقرر کړي وي بالکل تحریف دي اودعربی قاعدو اودا جماع نه علاوه په خپله وروستو ایت کې دا غلطی ښکاره کیږي کوم چه ده کړیده هغه داده، وقد فرضتم لهن فریضة، ددی ترجمه یې په خپله هم داسی کړیده- اوحقیقت مین هوتم تههراچکی،

اوحقیقت کې ورته تاسو مهر مقرر کړي وي. او ښکاره خبره ده چه دا صورت دوړومبی صورت مقابل دي اودغه ترجمی کولو باندي دواړه صورتونه یو شان شول نو حکم هم یو کیدل پکار دي حالانکه نصاً مختلف دي نور هم ډیر ځایونه دي وخت کې په نظر دي خو بیا اوږدیږي هرکله چه په دوو رکوع کې داحالت دي نو ټول قران کې به یې څه حال وي او غلط ترجمی کولو او لوستلو په مفاسدو کې دادي چه حکمونه به غلط شی دا خو ښکاره خبره ده اودغه یو امر کافی دي. دداسی ترجمی داخستو او ناجائز کیدو دپاره بیا د ترجمی دغلطی نه علاوه ژبه هم ډیرو ځایونو کې غلطه ده چه دهغی اثر یې په ترجمه او مضمون باندي پریوزی لکه دتفرضوا ترجمه چه مخکې نقل شوه. یاهوتههراجنهین کچهه مهرمین. صفا معلومیږي چه مهر کې یې دا ښځې ګرځولی دي لکه غلام وینځه کوم چه مال دي مهر کې یې وګرځولی حالانکه مطلب دادي چه دوي دپاره مهر نه وي مقرر شوي - اودفصاحت اوشعریت خو په ټوله

اوروه ډپٹی نذیراحمد کابھی .... ترجمه پیش نظرتھاخوهی

یعنی دهغه ډپټی نذیراحمد ترجمه ډیره ښه وه
بل دال عمران په اخرکي رابطوا ترجمه کي چه هلته یې ډیراقوال نقل کړیدي هلته داشعرهم دي

اورهین یون لکهتی نذیراحمداسی .... که رهوتیارډشمن کی لی

ترجمه - یعنی نذیراحمد داسی لیکی چه دشمن دپاره تیاراوسی
دی نه صفا ښکاره کیږي چه مترجم صاحب دډپټی صاحب معتقددي اودډپټی صاحب دترجمی اوعقیدی اودتحقیق حالت دبنده درسالی اصلاح ترجمه دهلویه کي ښکاره دي، پس څه رنګ چه هغه معتبرنه دي دغه شان دهغه دمعتقددترجمی هم اعتبارنشته چه غیرمعتبرلره کنرل په خپله دلیل دي دغیرمعتبرکیدو اوتفصیلاً دمختلفوځایونو دکتلونه معلومیږي په دی وجه دلته په یوځای کي کوم چه زمایه نظرکي دنمونی دپاره کافی دي دسیقول په دریم پاؤباندي دوه ایتونه دي وړومبی ﴿وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ﴾ (الایه) دویم ایت دینه نږدي ﴿وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ﴾ (الایه) دوړومبی ایت ترجمه داسې کړیده—

اورجب تم دوسری دیدو طلاق   عورتون کوبھر کامل افتراق

یعنی کله چه تاسو دویم طلاق ورکړي ښځوته پوره جدائی. اودویم ایت ترجمه یې داکړیده

اورجب تم تیسری دیدو طلاق   عورتون کوبھر کامل افتراق

یعنی کله چه تاسو دریم طلاق ورکړه ښځوته پوره جدائی – علمان دخبره پیژنی چه وړومبی ایت کي ددویم قید – اودویم ایت کي ددریم قید زیادت علی القران دي، چه دهغی څه دلیل نه قران کي شته نه سیاقاً نه سباقاً اونه قواعدشرعیه کي شته دوړومبی ایت نه مخکې دادي فان طلقها فلاتحل له الخ- دلته کي دریم طلاق مراددي اوددي نه وروستو څه ذکردوړومبی طلاق نشته چه دهغی قرینی سره وړومبی ایت کي دویم طلاق مرادشی اوبیادهغی قرینی سره دویم ایت کي دریم طلاق مرادشی بیاچه کوم حکم دي دواوروایتونوکي ذکردي یعنی فامسکواهن وړومبی ایت کي اولاتعضلوهن دویم ایت کي هغه مخصوص نه دي دویم

اودریم سره یعنی په طریقی دلف نشرمرتب سره بلکه وړومبی حکم په شان ددویم طلاق په وړومبی طلاق کي هم دي دغه شان دویم حکم ددریم طلاق په شان وړومبی اودویم کي هم دي هرکله چه دازواج نه مراد نوي ازواج یعنی خاوندان واخستی شی اوکه چرته هغه مخکینی خاوندان مرادوي لکه څنګه چه ډیر مفسرین هغی طرفته تلی دي، اواسباب دنزول هم دهغی موافق دي نوبیاخودریم طلاق سره ددی تفسیرکول محض باطل دي- څکه چه دریم کي داحکم هډوشته هم نه- دغه وخت اتفاق سره په یوبل ځاي می نظر اوغورزیده ددغه مخکینې رکوع نه وروستوبله رکوع کي ارشاددي ، مالم تمسوهن اوتفرضوالهن فریضة، په دیکې دتفرضوا عطف په تمسوهن باندي کیدوسره تقدیر دعبارت دادي اولم تفرضوالهن اوبالاجماع نفی ددواړو مرادده – اودایوصورت دي چه دیکې په څای دمهرداحکم دي متعوهن ددی ترجمه یې داسی کړیده .

که نه مس تم نی کیاکچھ جنهین   یاهواتھهرایاکچھ مهرمین

ترجمه - چه تاسو دوي ته لاس اونه لګول یامودوي ته څه مهر مقررکړي وي - نودی ترجمه کي څومره لویه غلطی ده چه مراد خودادي چه تاسونه وي مقررکړي اوده ترجمه داکړیده چه مقررکړي وي بالکل تحریف دي اودعربی قاعدواوداجماع نه علاوه په خپله وروستوایت کي داغلطی ښکاره کیږي کومه چه ده کړیده هغه داده .وقدفرضتم لهن فریضة. ددی ترجمه یې په خپله هم داسی کړیده- اوحقیقت مین هوتم تهھراچکی.
اوحقیقت کي ورته تاسو مهرمقررکړي وي .اوښکاره خبره ده چه داصورت دوړومبی صورت مقابل دي اودغه ترجمی کولوباندي دواړه صورتونه یوشان شول نوحکم هم یوکیدل پکاردي حالانکه نصاً مختلف دي نورهم ډیرځایونه دي وخت کي په نظردي خوبیااوډیري هرکله چه په دوورکوع کي داحالت دي نوټول قران کي به یې څه حال وي اوغلط ترجمی کولواولوستلوپه مفاسدوکي دادي چه حکمونه یه غلط شی داخوښکاره خبره ده اودغه یوامرکافی دي .دداسی ترجمی داخستواوناجائزکیدودپاره بیادترجمی دغلطی نه علاوه ژبه هم ډیروځایونوکي غلطه ده چه دهغی اثربیایه ترجمه اومضمون باندي پریوزی لکه دتفرضوا ترجمه چه مخکې نقل شوه، یاهوتهھراجنهین کچھ مهرمین. صفامعلومیږي چه مهرکې یې دابنځی ګرځولی دي لکه غلام وینځه کوم چه مال دي مهرکې یې وګرځولی حالانکه مطلب دادي چه دوي دپاره مهر نه وي مقررشوي – اودفصاحت اوشعریت خوپه تولـه

ترجمه کې څه نوم او نخښه هم نشته – داخو دوړومبی مقام متعلق خبره وه يعنی داخبره چه په خپله دا ترجمه څنګه ده او س پاتی شو دويم مقام يعنی په نظمونو کې ترجمه د قرآن کول څنګه دي. ديکې يو لوي فساد خو دادي چه ديکې ترجمه بعينه محفوظ نشي پاتی کيدی، دشعر د ضرورت او وزن د وجه نه خواه مخواه ديکې کمی يا زياتی راځی بيا هر کله چه دلفظ لاندي ليکلی شوي وي نو کتونکي داګڼړي چه دا ټوله ترجمه ده حالانکه ديکې په ترجمه باندي نو هم زياتی لفظونه وي. په دي وجه ترجمه متکلم فيها کې هم ددی نه يو شعر خالی نشته الاناد راو النار کالمعدوم – او ددی متعلق د وړومبی سيپاری په اخر کې د ضروري التماس په عنوان کې چه مترجم کوم عذر کړيدي بظاهر کوم څه الفاظ د څه ځای چه څه ضرورت د پاره اخستی شوي وي هغه خاص دی مطلب اداکولو د پاره دي او هغه هم خاص د قرآن د لفظونو د الف لام او تنوينات وغيره معنی دي يا د مقدرات محذوفه اظهار دي نه چه څه زياتی عبارتونه وغيره د ابعض ځايونو کې خو واقع دي خو اکثر ددی نه خلاف واقع شويدي مثلاً دا ايت دي. وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُم بِٱتِّخَاذِكُمُ ٱلْعِجْلَ فَتُوبُوٓا۟ إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَٱقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِندَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥٤﴾ ددی چه يې کومه ترجمه کړيده ما داو ړ دوالی د وجه نه نقل نه کړو په ديکې دالاندينی لفظونه دي د کوم تنوين يا د کوم الف لام وغيره د قرآن د کلماتو ترجمه ده يا د کوم مقدر اظهار دي (۱) خو يعنی په خپله (۲) مخامخ (۳) خپل شرك سره (۴) د باتخاذکم العجل ددی ترجمی ډير لفظونه چونکه،

لی بيهتی پرستش تم بهی ••• وه جو اك بچهری کی بت کې آپ هی

يعنی د هغی خسی د عبادت د پاره تاسو کيناستی- (۵) کوم چه تاسو ته لازم دي (۶) جناب پاك (۷) په حکم د الله (۸) کوم چه (۹) ارشاد سره (۱۰) کريم – او که چرته څوك دا عذر وکړي چه داسی زيادات په خانله خطونو کې ليکلی شويدي بيا خو هغه وهم وغيره د ترجمی ګڼړلونه کيږي نو دا هم غلط دي په دی لسو نمبرو کې صرف نمبر (۷) په خانله خطونو کې دي. باقی يو هم نه دي او که چرته څوك دا شبه وکړي چه ددی انتظام خو کيديشی چرته چه اصل ترجمه کې څه بدوالی نه وي صرف زيادات په ترجمه کې راشی دی شان سره که چرته زيادات

دي ويستل نو ترجمه به محفوظه پاتی شی ددی ترجمی په زياداتو کې هر ځای ردا هم ممکن نه دي په دی وجه نمبر (۴) کی که د چاړره غواړي او ودي ګوري چه ترجمه محفوظ پاتی نه شوه او د ايهام د قيد دی صورت سره احتراز راغی کوم ځای چه ايهام نه وي – لکه بعض ځايونو کې صرف حاصل د مضمون په نظم کې راولی خو په شکل د ترجمی نه کيږي او هغه هم چرته اتفاق سره څه موقع باندي نه چه قصداً او استقلال د ټول قرآن –بله يوه خرابی په ديکې دا هم ده چه که چرته قرآن کلمات د ترجمی د لفظونو مقابل وليکی لکه څنګه چه دي ترجمه منظومه کې شويدي نو بيا خو به د فصل بين المصرعين په وجه په قرآن کلماتو کې هم فصل کولی شی. او په يکې هم د غه شان ده او په ديکې بې قرآن مجيد د ترجمی تابع جوړولو نه علاوه کوم چه قلب موضوع دي په تقطيع کې کلمات القرآن فی الکتاب لازم راځی. او دا ښکاره خبره دي چه عادةً تلاوت د کتابت تابع وي نو ددی کلماتو په مينځ کې تلاوت کې هم څومره اندازه کې دي او بی ځايه فصل په ډيرو ځايونو کې په معنی کې فساد راولی لکه څنګه چه په عالماتو باندي پته نه ده – او که چرته فصل اونه کړي نو سره د امکان د مقابلی نه عدم مقابله الفاظ او ترجمی سره ديو لفظ په نسبت سره د دويم لفظ ترجمه کيدو مشابه به شی او ددي د وارونه خان بچ کول واجب دي – او دا هغه مفاسد دي چه که چرته نظم کې څه مصلحت هم وي بيا هم ددی مفاسدو د کيدو د وجه نه به د هغه مصلحت اعتبار نه شو کيدي- لکه شرعی قاعده ده چه په يو عمل غير ضروري کې اګرچه هغه په درجه د استحباب کې ولي نه وي خو هغی کې چه کوم مفاسد وي هغه وجوباً پريخودلی شي او د هغی د محاسنو لحاظ نه شی کيدلی – د فقه ډير فروعات په دي باندي متفرع دي کما لايخفیٰ او اوس خو ديکې څه مصلحت هم نشته او کوم مصلحتونه چه بې د کتاب په مقدمه او التماس کې ليکلی وي مثلاً دا چه مسلمانان به ددی د نظم کيدو د وجه نه ډير په شوق سره مطالعه کوي او خاص کر په خپلو بچو به يې د مختلفو غزلو شعرونو په ځای يادوي –نو په خپله دی مصلحت کې د مفاسدو اقرار دي چه ددي انجام به داوي چه د غزلو په ځای به داوائی څکه چه بغير د سندرو او خائسته آواز نه خو ذوق او شوق نه راځی – که چه بنياد دي د مطالعی خصوصاً هغه پيشه ور وعظ کوونکې چه هغوی ته هميشه د مجلس کرم کولو فکر وي- او ددی وعظ کوونکو د اثر د وجه نه به عام خلقو کې د سندرو او ګانو د طرز عقيده خوره شی او د ګانو حکم ښکاره دي خصوصاً دا چه ترجمه يې د هغی آله جوړه کړيده بل دا چه په نظم کې هيبت او عظمت هم نه وي – وهو السرق قولـه

تعالیٰ ، وماعلمناه الشعر ومایبنغی له – وفی ترك السلف الخطبة بالنظم لكونهما ذكراً – اماالقران قال الله تعالیٰ ان هو الاذكر – وقرآن – واماالخطبة فقال الله تعالیٰ – فاسعوالیٰ ذكرالله هذامالقی الله تعالیٰ فی روحی فی هذا الوقت ولله الحمد – پاتی شو دیادولو مصلحت نو که چرته دعربی قاعدو علم وي بیا خو دي دیادولو ضرورت نشته او که چرته علم نه وي نو بیا دیادولو څه فائده نشته. ورومبی بې خو په مطلب نه پوهیږي نو بیا به بې یاد ځنګه پاتی شي چه دا شعر دفلانی جملی ترجمه ده نو بیا خو یادول او نه یادول برابر شول – بیا که چرته داسی مصلحتونو معتبروي نو صیاته به اوګوري چه د چاپه قرآن مجید سره شوق نه وي څوك به قرآن مجید نظمونو ته اروي او زیادات دشعرونو په هغه خانله خطونو کې دننه کوي آیا داجائز دي ؟ دغه وجه ده چه تر ننه پوري سره ددی چه بنه عالمان او قدرت لرونکي دخیروبیان موجود دي بیاهم چانه دي کړي او دا اجماع ده په پریخودو باندي ددی مخالفت جائز نه دي – قرب ۳۲ھ (حوادث خامس /ص ۱۲)

تفصیل انتفاع به کاغذ ردي

سوال :(۱۲) (۱) د کاغذ هغه ردي تکړه چه هغی کې دالله او دالله درسول ﷺ مبارك نومونه او نور هر قسم لیکل وي هغه شلول او په اوبو کې ویلی کول او په هغی کې دشرشمو سفوف یا اوره ملاول او بیا دهغی نه ګولی جوړول لکه څنګه چه نن صبا رواج دي داکار جائز دي یا نه ؟ (۲) یادغه ردتکړه او سوزوي او په هغی کې کیرا رنګ کړي او ستعمالوي بې دا جائز دي یا نه ؟

جواب : فی الدرالمختارولایجوزلف شئی فی کاغذفیه وفی کتب الطب یجوزولوفیه اسم الله اوالرسول فیجوزمحوه لیلف فیه شئی وفی ردالمحتارقال – وهل اذاطمس الحرف بنحوجربعدمحواً بحرقیه واماالعقه بلسانه وابتلاعه فالظاهر جوازه – دی روایت نه معلومه شوه چه کومو کاغذونو کې دیني حکمونه لیکلی شوي دي هغه په داسی استعمال کې راوستل جائز نه دي – او په کومو کاغذونو کې چه نور مضمونونه وي هغه په داسی استعمال کې راوستل جائز دي – خو په هغی کې داضروري دي چه چرته دالله او درسول ﷺ نوم لیکلی شوي وي هغه دي وران کړي یعنی یا خو دي په هغی باندي سیاهی واړه وي یا دي هغه په ژبه اوڅټی او تیر دي کړي دا ددواړو سوالونو جواب دي. ۲۷ ربیع الاول ۱۳۲۵ھ (امداد/ ص ۱۸۱/ ج ۲)

احتراق اشتهارات که بروایات قرانیه باشند

سوال :(۱۳) ډیر اشتهارونه د قرآن مجید داسی شائع کیږي چه یو طرف ته اشتهار وي او بل طرفته قرآن مجید او په ټولو کوڅو کې بې ادبی سره پراته وي. چاته چه اورسی هغوي بې هم څه خیال نه ساتی ، الامن شاء الله داسی اشتهارونو یا پاڼي چه کوم جلد کې ترلی شوي وي وغیره (کوم چه اکثر ددهلی په ډك وغیره کې قرآن او حدیث کې راځی) او سوزولی شی نو جائز دي یا نه سوزولو سره هغه ایرې ایرې شی او هغه په چوله کې کدوه شی اوس هغه واجب التعظیم دي یا نه ، قرآن شریف یا آخري سیپاره کومه چه د ماشومانو په لوستلو کې اوشلیږي د هغی ښخول خو ممکن دي خو د بعضو ښخول هر وخت ممکن نه دي خاص کرپه هغه ښارونو کې چرته چه قبرستان دوه میله فاصله باندي وي – دي باره کې چه څه او چته رائی وي د هغی باره کې خبرداری راکړي؟

جواب : دی سوزولو کې اختلاف دي په دی وجه په کولو کې بې هم ګنجائش شته او پریخودل بې ډیر احتیاط دي. او په تقدیر د پریخودو باندي داصورت آسان دي چه دا دي جمع کوي چه کله ډیر جمع شی نو ښخ دي کړي او د سوزولو په صورت کې د هغی ایره د قلب ماهیت د قاعدي په بنیاد واجب الاحترام خو نه دي خو که چرته دا جدا په یولو ښې کې او سوزوي او هغه ایره په اوبو کې واچوي او دریاب کې بې اوبهوي نو نور هم زیات ادب ته نزدي دي. ۲۰ ذی الحجه ۱۳۲۲ھ (حوادثالثه/ ص ۱۲۳)

استعمال غلاف ریشمی برقران

سوال :(۱۴) قرآن مجید قمیص یا بسته چه د خاص ریښمونه جوړ کړیشی نو په هغی کې نارینو او زنانو ته تلاوت کول څنګه دي ؟

جواب : جائز دي – فی ردالمحتارحیث عدالاستعمالات المباحة مالفه وکذا الکتابة فی ورق الحریروکیس المصحف والدراهم ومایغطی به الاوانی وماتلف فیه الثیاب وهوالمسمی بقچه ونحوذلك ممافیه انتفاع بدون لبس اوشبه اللبس. ۲۷ ربیع الاول ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه/ ص ۲۳)

تعظیم موئی مبارک که دربعض جای هایافته می شود

سوال :(۱۵) دکهن وغیره کې ډیرو ځایونو کې دحضرت محمد ﷺ ویښته موجود دي اوهر کال خلق دا راوباسي اوپه اوچت ځای یې کیږدي اوهغې ته اوبو کې غوټه ورکوي اوهغه اوبه څښکي اوډیرعزت یې کوي - اوتراوسه پورې موتږهغه مبارك ویښته کتلي - اوس بعضې خلقوپه هغې کې څه شرطونه لګول شروع کړل چه هغه ویښتو مبارکولره ضروري دي چه په دهوپ کې یې کیږدي نوهغې به سیوري نه وي اوپه کوم کورکې چه موجود وي هلته دې دریخ سیوري وي اوهغه کوروالوته به څه تکلیف نه رسي نواوس سوال دادي چه آیا: اوبیښته مبارك اوګټرویانه اودي مبارك ویښته سره داشرطونه ضروري دي یانه - اوددې څومره تعظیم پکاردي ؟ فقط!

جواب : که چرته ددې ویښته دمبارك کیدو څه سندنه وي نوددې عزکول حاصل نه دي - اوکه چرته څه سندیې شته نوددې په عزت کولو اجراوثواب دي خوپه دي شرط چه د شریعت دپولې نه بهرنه شي اواوبوکې غوټه ورکول اوهغه څکل داهم دخیراوبرکت اود امراض ظاهري اوباطني تولونه دشفاباعث دي. عن عثمان بن عبدالله بن وهب قال ارسلنی اهلی الی ام سلمة بقدح من ماء وقبض اسرائیل ثلث اصابع من قصعة فیه شعر من شعر النبی ﷺ وکان اذااصاب الانسان عین اوشئ بعث الیهامخضبه فاطلعت فی الجلا جل فرأیت شعرات حمرات ۱۲ بخاری جلد ۲ صفحه ۸۷۵. اودې ویښته مبارك دپاره دا ضروري نه دي چه دهغې سیوري به نه غورزیږي اوپه کوم کورکې چه موجود وي هلته به وریخ سیوري وي اوهغه کوروالوباندې به هیڅ تکلیف نه راځي - داخبرې په خپله دجناب سرورکائنات ﷺ سره ضروري نه وي - دحضرت ﷺ سیوري هم وه دهغه ګرمی هم کیده. که چرته دمعجزې په طورباندې دهغه سیوري نه وي غورزیدلی یاپرې وریخ سیوري کړې وي نوڅه لږ خبره نه ده خوهمیشوالی ثابت نه دي اوهغوي بیماریدل هم - نوهرکله چه ګل دپاره داخبرې ضروري نه دي نوجز دپاره څنګه ضروري شي والله اعلم. ۲۵ربیع الاول/۱۳۰۱ھ امداد ص ۱۹۱ ج ۴.

ګلکاري جلدبوري طلا.

سوال :(۱۶) دسروزروپه تکروقرآن مجیدپه جلدباندې ګلونه وغیره جوړولی شي اوډیرې مودې پورې هغه قائم وي ؟

جواب : فی الدرالمختاروحلّ الشرب من اناء مفضض ای مزوق بالفضة والرکوب علی سرج

مفضض والجلوس علیٰ کرسی مفضض ولکن بشرط ان یتقی ای یجتنب موضع الفضة بفم قیل ویدوجلوس سرج ونحوه وکذا الاناء المضبب بذهب اوفضة الخ وفی ردالمحتاروفسره (ای المفضض) بالمرصع بها - ویقال لکل منقش ومزین مزوق قاموس وفیه مفضض وفی حکمه المذهب .ص ۳۳۶/ ج۵/ وفی الدرالمختاراما المطلی فلاباس به بالاجماع بلافرق بین خاتم ورکاب وغیرهما لان الطلاء مستهلك لایخلص فلاعبرة للونه عینی وغیره .ص ۳۳۷/ ج۵/ وفی الدرالمختاریحرم لبس الحریرالی قوله الاقدراربع اصابع کاعلام الثوب ثم الیٰ قوله ردالمحتارهل المراد قدرالاصابع طولاوعرضاً اوالمراد عرضهافقط وان زادطوله علی طولها المتبادرمن کلامهم الثانی صفحه وجلدمذکور - وروم‍بی روایت سره دسروزروکوټ ورکولو جوازپه قید دبیخ کولو دهغه ځای استعمال - اودویم روایت سره دسرو زرو اوبورو کولو جواز دغه قیدنه بغیراوبغیردقید داندازې نه - اودریم روایت سره دهغه علم جوازبغیردقیدنه دبیخ کولو دهغه ځای نه خوپه قید داندازې سره معلوم شول. بیاداتپوس کوونکی خونه وروم‍بی سره محلق دي څکه چه دجدا کولونه وروستو دهغه کارنه پاتې کیږي اونه دویم سره څکه چه جداکیدل ممکن دي. نواوس دریم سره ملحق معلومیږي نوکه چرته داګل یابوټې وغیره په پلنوالی کې دڅلورګوتونه زیات نه وي نوجائزدي کنې نه دي جائز. ۱۷ربیع الاول/۱۳۳۳ھ حوادث ۳/ ص ۱۳۳.

په مجلس کې قبلې ته مخ کول

سوال :(۱۷) بعض خلق مشرق طرفته نه مخ کوي چه کیني که څوك داسې وکړي نوثواب شته یانه - تپوس کولوسره هغه سرې جواب ورکوي چه بیاقبلې طرفته شاکول لازم راځي په دې وجه زه دوي نه ځان بچ کوم ؟

جواب : فی المقاصدالحسنة حدیث اکرم المجالس مااستقبل به القبلة مع مااورده طرقا ضعیفة قال لحدیث ابن عباس رضی الله عنهما مرفوعاً بلفظ ان لکل شئ شرفاوان شرف المجالس مااستقبل به القبلة اورده الحاکم فی صحیحه حدیث ابی هریرة رضی الله عنه رفعه ان لکل شئ سیداً وسیدالمجالس قبالة القبلة وسنده حسن ثم قال قد ترجم البخاری فی الادب المفرد استقبال القبلة واورده من حدیث سفیان بن منقذ عن ابیه قال کان اکثرجلوس عبدالله بن عمر رضی الله عنهما وهومستقبل القبلة اه مختصراً، ص ۳۷ - دې روایتونونه داثابتیږي چه قبلې ته مخ کول مستحب دي بلکه که دبعض طرق په

اعتبار سره ضعیف یې هم اومنی بیا هم په فضائل اعمال حدیث ضعیف هم کافی دي. ۲۵ ربیع الاول ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص ۲۲)

حکم فال ازقران مجید

سوال :(۱۸) خوورخونه زه ډیر حیران او پریشان یم قسما قسم خوبونه وینم آخري خبره داده چه ټول خیالات دي - اودخوبونو په نسبت قران نه فال اخلم ورومبی یوولس ځله درود شریف په رسول مقبول ﷺ په روح پرفتوح باندي بخښم دهغی نه وروستو سورة فاتحه د یوسف علیه السلام په روح مبارك بخښم - اودهغی نه وروستودری ځله ایة الکرسی دټولو مسلمانانو په ارواح بخښم دهغی نه وروستو که چرته دسحروخت وي نود شروع نه که دغرمی وخت وي نو دمینځ نه اودورځی ختمیدونه وروستو آخری حصه دقران کولاؤ کړم ورومبی کرښه چه دقرآن مجید کومه روازي نونیك اوبدفال پري کورم واجباً عرض دي چه ترواسه می څومره فالونه چه کتلی دي ټول می صحیح موندلی دي اوصحیح هم داسی چه دهغی دریښتونوالی نه ژبه اوقلم عاجز دي تاسو ولیکي چه دا طریقه بده خو نه ده -دشریعت موافق په ماځه بوجه خونشته ؟

جواب : محقیقینو دا ناجائزه لیکلی ده خصوصاً چه کله د دی یقین وکړیشی نو دټولو په نزد ناجائزده، ۸شعبان ۱۳۳۷ھ (تتمه خامسه ص ۸۹)

په قران مجیدکي دطاؤس وزرکیخودل

سوال :(۱۹) دلاندینی فقهی مسئلی جواب راکړي دطاؤس وزر په قرآن کي کیخودل څنګه دي ؟

جواب : چونکه دا امر منع کوونکی نشته پدی وجه جائزدي ۱۴شوال ۱۳۳۹ھ (تتمه خامسه ص ۱۹۲)

داسی ځله کي دقران تلاوت کول چه اوریدوطرفته یې متوجه نه وي

سوال :(۲۰) خواندن قرآن کریم بآوازبلند تروکسانیکه باطراف خوانندہ نشسته اند وبجهت امور دینی یادنیوی گوش بسماعت ندارند درست یانه ؟ ایضاً[1] تقدیراول تاویل عبارات فقهاء چیست درعالمګیری لایقرأجهراً عند المشتغلین بالاعمال انتهی ونیزدران رجل یکتب الفقهیة وبجنبه رجل یقرأ القرآن لایمکنه استماع القرآن کان الاثم علی القاری الخ وهکذافی الشامي؟

[1] این مبنی بله قول است

جواب : مختلف فیه است .۸ ذی الحجه ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی ص ۲۱۲)

دقران اوریدوپاره په ذکراووظیفه پریږدي یانه

سوال :(۲۱) دربعضی اوقات ماخادمان درذکراسم ذات یادوازده تسبیح درمسجد مشغول شویم ودیگری قرآن مجید بآوازبلند تلاوت می کنند آیاذکرموصوف خفیه میکنیم یابدستور عمل ؟

جواب : بدستورخوانند بناءً علی القول الثانی- تاریخ مذکوره بالا (تتمه اولی ص ۲۱۲)

تحقیق وجوب استماع قران کریم درخارج نماز

سوال :(۲۲) بعض کتابونوکي یې لیکلی دي - چه دقران اوریدل په لمونځ کي واجب دي اودلمونځ نه بهرواجب نه دي - اوبعض کتابونوکي یې لیکلی دي چه که چرته یو سړي قران کریم لولی او اوریدونکی یې نه اوري دخه مشغولتیا دوجه نه که دینی وي که دنیوی نوقاری ګنهګاردي --دینه معلومیږي چه ایت عام دي لمونځ اوبهردلمونځ ته هم -اودامام صاحب کلیه المطلق یجری علی اطلاقه هم ددی مؤید معلومیږي نن صباعالمان په کوم باندي فتوی ورکوي ؟

جواب : دقرآن په اوریدوکي دواړه قولونه دي زه اسانی دپاره دا اختیاروم چه دلمونځ نه بهرمستحب دي .۱۲شعبان ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص ۲۳)

حکم کتابت قران وترجمه اردوکالم

سوال :(۲۳) قرآن کریم چه دهغی هم په دغه یوه صفحه کي دقران پاك عربی لیکلی شوي وي اودهغی مخامخ انګریزی اردو یاصرف انګریزی ترجمه - اوپه انګریزي کي تفسیروي نودی کیخودل ، لوستل اوچاپ کول صحیح دي یانه ؟

دلته نه داجواب وشو

دسوال عبارت سره دهغی صورت ذهن کي رانغی دهغی دیوي صفحی نقل راولیږه؟ بیاتپوس کوونکی نمونه راولیږله چه دهغی نقشه داده،

قران شریف	انګریزی ترجمه
انګریزی تفسیر	

ملته نه داجواب ولیکلی شو

جواب : دی طرز کې دغیر مسلمو سره تشبه ده څکه چه دا دهغوی ایجاد او په هغوی کې شائع ده – او په مسلمانانو کې ددې داسې طریقه نشته چه غیرمسلمو سره په دیکې دمعنی اختصاص نه وي پاتی شوي پدی وجه ددی طریقی نه منع کړي شوی ده. دویم دی طریقه کې صورت دمقابلې دمعارضی او دموازنې په شان دي په دې وجه کومو مضمونونو کې چه تقابل او وزن خودلی کیږي هغه په داسې طریقې سره لیکلی کیږي او داخیره لیدلی. کتلی شی او مقابله دقران چه څنګه بده ده دغه شان دهغې صورت موهومه هم ډیربد دي باقی ددی جزونو جمع کول په دې طریقې سره هم کیدیشی.

قران شریف ....
....
ترجمه ....
....
تفسیر ....
....
والله اعلم. ۲۵ رجب ۱۳۳۵ھ حوادث خامسه ص ۸

قران کریم یادوډي په بی ادبی کیدوباندي څکلول

سوال :(۲۴) (۱) هرکله چه قرآن کریم دڅه وجه نه دیره خاي نه رااوغورزیږي نودي غورزیدوباندي څه ورکول شته یا نه ؟ (۲) ډیروکورونوکې زنانه لیدلي شوي دي چه دقرآن کریم په وزن سره غله ورکوي (۳) دریم داکه چرته بالښت وغیره برته نه په کټ کې رااوغورزیږي نوهغه هم تندی سره لګوي اوخکلوی یې (۴) دغه شان که چرته ډوډي وغیره رااوغورزیږي نوهم کوي دی باره کې چه څه حکم وي هغه ولیکئ ؟ .

جواب : (۱) ضروري نه دي (۲) شریعت کې ضروري نه دي په نفس باندي جرمانه ده او جائزدي (۳) ضروري نه دي خو ادب او داحترام طریقه ده او جائزده (۴) هم دغه حکم دي کوم چه بره ولیکلی شو. اول جمادی الثانیه ۱۳۳۴ھ تتمه رابعه ص ۳۸

دزوړقران کریم معامله

سوال :(۲۵) زمونږ په محله کې څه جینکۍ قرآن کریم لولی هرکله چه ددوي قرآن کریم زوړشی او مخکی ورو ستونه او شلیږي او دتلاوت قابل نه وي نو دوي هغه په جومات کې کیږدي – دی دپاره چه کورونو کې ددی بی ادبی اونه شی. څه موده وروستو کله چه داسې

قرآن کریمونه ډیرراجمع شی نو دجومات امام صاحب یې په یو پاك کپړه کې اوتړي اومقبره کې دننه په یو محفوظ خاي کې یې ښخ کړي چونکه هغه قرآن کریمونه دتلاوت قابل نه وي اونه په جومات کې دکیخودونکو ددی وقف کول مقصود وي بلکه عرفاً او عادةً ددوي په جومات کې دکیخودونه دامطلب ګڼرلی شی چه دادکورونو دبی ادبی نه بچ پاتی شي- او دجومات امام چه څه مناسب ګڼري هغه خاي ته وړي – لهذا امام صاحب په یوي طریقی سره هغه په خپل کارکې راوستی شي- هغه طریقه داده چه هرکله هغه دخپل وعظ دپاره څه تیاروي نوهغی کې دقرآن کریم دایتونواوکوګانو لیکلو هم ضرورت وي نودادخپلو لیکلوپه خای ددی قرآن کریم دپاڼرونه کټ کړي او په مناسب خای کې یې اولګوي- دیکې دری فائدي دي یو خو وخت بچ کیږي دویم هغه کلمات او ایتونه ډیرخوشخطه لیکلی شوي وي دریم په هغې باندي دوقف نخښی مد او شدونه وغیره هم لیکلی شوي وي – او که داپه خپله لیکی نودافائدي پکې نه شی راتلی – او ددی قرآن کریم باقی پاڼري کټ کړي شوي ډیرپه احتیاط سره یو صندوق کې جمع کولی شي او بیا په څه وخت کې ښخولی شی سره ددې نه چه دې صورت کې دوقف څه ښکاره قرینه نشته او نه ددی پاڼرو په دې ذکرشوي استعمال په صورت کې څه بدنیتی زره کې شته بیاهم دوه قسمه شك همیشه راځي یو خوداچه کیدیشی دي عمل سره دتصرف فی الوقف ګناه لازم راشي دویم داچه کیدیشی دې طریقی سره دقرآن پاك بې ادبی کیږي ، براه مهربانی دی مشکل کارکې مونږته لاره اوښائی که داکارناجائزه وي چه دې نه توبه اوباسو او که جائزوي چه داشك زمونږه ختم شي فقط تحریر - ۲ ربیع الاول ۱۳۵۲ھ.

جواب : زمایه نزد خوداکارضرور دادب نه خلاف دي کلیات شرعیه نه داپوړته راځي- څکه چه دیکې څه محذورات دي یو داچه خپل لاس سره قرآن کریم شلول او هغه هم احترام دپاره نه لکه څنګه چه ښخول یې داحترام دپاره کیږي- بلکه دخپل مصلحت چه دلیکلو هغه بوج درباندي سپك شی هغې دپاره کوم چه فی نفسه قربت هم نه دي. کنی دقرآن کریم په لیکلوباندي به اجرت اخستل جائزنه وي- نودیکې دخپل مباح مصلحت تقدیم او شو دقرآن کریم په واجب مصلحت باندي -دویم دغه شان لګولوباندي چونکه ددی نه فائده اخستل باقی دي په دی وجه دامتقوم او مال دي او دخپل اصلی مالك په ملکیت کې په خپل حال سره داخل دي- او هرکله چه ملکیت دي نو ددی ټول لوازم به هم مرتب کیږي – بعض دهغې نه داچه ددی دمالك دمرګ نه وروستو به دادهغه دوارثانو په ملکیت کې داخلیږي – آیا داسې په دي

باندي قدرت لري چه هره خيټه کي د شريکانو نه اجازت واخلي - بيا آيا دا ممکن دي چه دي سري ته وروستو دده وارثان ددی التزام وکړي او آيا ددی مفسد سبب جوړيدل به ناجائزنه وي بعض ددی لوازمونه په هره خيټه کي د ټولو شريکانو نه په شرطونو سره اجازت اخستل دي - دده هم او دده دوارثانو هم - اشرف علي ، ۲۸ ربيع الاول / ۱۳۵۲ھ / التورشعبان / ۱۳۲۵ھ / ص ۳۲ /

دقران کريم ايت په مُهرکي ليکل مکروه دي

سوال :(۲۶) يو سړي مُهر جوړول غواړي چه دهغې نقشه داده



نصر من الله وفتح قريب

اوس دا پوښتنه کول غواړو چه ددی مهر په څلورمه درجه کي دقرآن کريم يو ايت ليکلی شويدي - دهغې دپاسه په دريو درجوکي په انگريزي کي اخبار روزانه صحيفه حيدرآباد کن ليکلی شويدي - په ديکي دقران دايت دبې ادبي څه خبره خو نشته که چرته شته نو دکوم ايت يادکوم حديث په بنياد دده ، که چرته دانگريزي په ځاي په چينئ ياجاپاني يا اطالوي ژبه کي خاص دهغوی په حرفونو کي څه عبارت وليکي او لاندي ترينه دقران ايت وليکي نو ديکي څه باك شته يانه دويم خبره داده چه دا مهر د اخبار په بهر طرف او دنورو خطونو په لفافو باندي چاپ کولی شي يانه ځکه چه دا اخبارونه او لفافي دملفوفه په شان حفاظت سره نشي کيخودلی بلکه دا او شلولي اوردي کاغذونو کي يې اوغورزوي داسې صورت کي که چرته لفافو او اخبار وغيره باندي داچاپ کريشي نو آيا څه گناه لازم راځي که چرته راځي دکوم ايت يادحديث په بنياد باندي !

جواب : في الدرالمختاربساطاً وغيره کتب عليه الملك لله يكره بسطه واستعماله لا تعليقه للزينة الى قوله قلت وظاهره انتفاء الكراهة بمجرد تعظيمه وحفظه علق اولازين به اولا وهل مايكتب على المراوح وجدرالجوامع كذالك بحر وفي ردالمحتار قوله قلت وظاهره الخ كذا يوجد في بعض النسخ اى ظاهر قوله لا تعليقه للزينة قوله بحروالقول في فتح القدير وتكره كتابة القران واسماء الله تعالىٰ على

الدراهم والمحاريب والجدران ومايفرش اھ ، ج ۱ / ص ۱۸۴ / دی روايت کي دلالت دي ددی مهر په کراهت باندي او دا ښکاره خبره ده چه دايت ليکلو څه ضرورت هم نشته چه هغې ته جائزنا جائزو وائی / قريب ۱۳۳۷ھ / تتمه خامسه / ص ۷۷ /

قران کريم دبرکت دپاره په شيشه کي کيخودل

سوال :(۲۷) دقرآن کريم يو سورت دتصوير په شان کيخودل جائزدي دخاتست دپاره که جائزنه دي که دشيشه کي يې بندکړي او کيږدي نو جائزدي يانه ؟ بينوا توجروا ؟

جواب : برکت دپاره خيردي - او خانست دپاره کيخودل دادب نه خلاف دي !

۵ صفرالمظفر / ۱۳۳۸ھ / تتمه خامسه / ص ۱۰۲ /

دتعليم او تعلم او دکتابونو او دمدرسو وغيره حکمونه

دنورو امامانو دمذهب تحقيق بغير دهغوی دتقليدنه نشي کيدی

سوال :(۲۸) دستاپه نزد په دی څلور امامانو کي په شريعت کي په اعتبار دقوت او دليل سره دچا مذهب قوي دي ، او داحتياط په اعتبار سره دچا او په اعتبار داساني سره دچا ؟

جواب : داسوال هله کيديشي چه کله دنورو مذهبونو پوره تقليد ممکن وي او په هندوستان کي دا ممکن نه دي / تتمه اولیٰ / ص ۲۰۰ /

مسلمانانو ته دانجيل تعليم

سوال :(۲۹) څه فرمائی علماء دين او مفتيان شرع متين په دي مسئله کي چه دي کلی کي دزنانو مدرسی دانجيل خودلو دپاره دعيسائيانو دطرفنه مقرردي او په دي کي دمسلمانانو زنانه هم تعليم حاصلوي او انجيل لولي - او دانجيل استاذان هم دی مدرسوکي اکثر مسلمانان دي او دنورو مذهبونو خلق هم نوکران کيږي نو داتعليم کوم چه دي نابالغه جينکو ته دشروع نه ورکولی شي زيات مؤثر به وي او دي صورت کي خو هغه تعليم په شان دکاڼړي دکرخې وي - نو مسلمانانو ته انجيل لولول دی نابالغه جينکو ته په شريعت کي جائزدي يانه - او بل داچه کوم استاذان دمسلمانانو نه دي جينکو ته په پټه قرآن کريم ښائی - خو دانجيل خودلو دپاره نوکران شويدي دادقران تعليم په خپله دهغوی نه پټ ورکوي داسی استاذ که قرآن کريم ښائی يا انجيل قابل دامامت دي يانه او داپيشه په شريعت کي څنگه ده ؟

جواب: نـه خو داسـی چینکوتـه چـه دخپـل دیـن نـه بالکـل نـاخبره دي انجیـل چـه دیکـي د پر تحریفونه اودروغ دي لوستل جائزدي .وقال الله تعالیٰ ویتعلمون مایضرهم ولاینفعهم الایـة .وعن ابی هریرة (رض) قال کان اهل الکتاب یقرؤن التوراة بالعبرانیة ویفسرونها بالعربیة لاهـل الاسلام فقال رسول الله ﷺ لاتصدقوا اهل الکتاب ولاتکذبوهم وقولوا امنا بالله وماانزل الینـا رواه البخاری – وعن جابر (رض) عن النبی ﷺ حین اتاه عمر فقال انا نـسمع احادیـث مـن یهود تعجبنا افتری ان نکتب بعضها فقال امتهوکون انتم کماتهوکت الیهود والنصاریٰ لقد جئتکم بهابیضاء نقیة ولوکان موسی حیاماوسعه الااتباعی رواه احمد والبیهقی فی شعب الایمـان، وعـن جابران عمربن الخطاب (رض) اتی رسول الله ﷺ بنسخة من التوراة فقال یارسول الله ﷺ هذه نسخة من التوراة فسکت فجعل یقرأ ووجه رسول الله ﷺ یتغیر فقـال ابـوبکر (رض) ثکلتـک الثواکل ماتری مابوجه رسول الله ﷺ فنظر عمر (رض) الی وجه رسول الله ﷺ فقال اعوذبالله من غضب الله وغضب رسوله رضینابالله رباوبالاسلام دیناً وبمحمدنبیاً فقال رسول الله ﷺ والـذی نفس محمدبیده لوبدالکم موسیٰ فاتبعتموه وترکتمونی لضللتم عن سواء السبیل ولوکـان حیـا وادرک نبوتی لاتبعنی رواه الـدارمی – اونـه دغـه خودلو دپاره نوکري کول جائزدي ځکه دخلقوپه گمراه کولو باندي اجرت اخستل حرام دي ، وتزل فی مثل هٰؤلاء قوله تعالیٰ فویل للذین یکتبون الکتـاب بایدیهم ثم یقولون هٰذامن عندالله لیشتروابه ثمناً قلیلا فویل لهم مماکتبت ایدیهم وویل لهـم ممایکـسبون الایة –اوقران کریم خودل ددوي هیڅ په کارنه راځي ترڅوچه دي عمل نه یې توبه نه وي ویستی.

هم خـداخواهـی وهم دیـنـای دون **** این خیال ست ومحال ست وجنون

این چه ایمـان ست دین ست ای اخـل **** اقتدائ کفرومصحف دربغـل

ازســردرس مــلاهـی بـازآ **** دردبستـــان الهی بــازآ

(امداد ص ۱۳۰ ج ۲)

دمدرسو دجلسو متعلق تحقیق

سوال: (۳۰) دمدرسی یومهتمم دطالبانو دانعام دپاره په جلسه کي دشرکت درخواست کړي وه په هغې یې داولیکل مخدومی ومکرمی دامت برکاتهم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته . ددي نه په مخکي خط کي جلسی ته دحاضریدونه چه کوم طبعی مانع وه دهغی

اطلاع می درکړي وه چه دهغی مشاهده مکرمی ومولوي صاحب په خپلو سترګو کړي وه اوممکن ده چه جلسی پوري دامانع ختم شي اوس بعضي شرعي موانع صرف دمشوری په طورسره پیش کول غوارم اګرچه دعالمانوپه خدمت کي داجرآت کول دبی ادبی نه خالی نه دي خویوطرف نه خیرخواهی ددین خبراوماموربه کیدل مخی ته دي بل طرفته ستاسوپه مهربانوباندي اعتماددي بیاددي سره دخپلی مشوري دغلطی راڅرګندولو امیدهم دي تولـو امورواجازت راکړوچه بی تکلفه خپل خیالات ښکاره کړم که چرته واقعی زماخیال غلط وي نوزه دزړه نه غوارم چه ددی اصلاح وکړي – دهغی موانع شرعیوحاصل دادي چه څومره دسوچ کولو اودتجربونه معلوم شویدي تولوئ غرض دوی جلسو دانعقادنه دوه خبري معلومیږي (۱) اودخپل کارشهرت کول – یاداسی اووایه چه دمدرسی وقعت او اچتوالی چه دهغی حاصل حب جاه اوحب مال را اوزي اودی نه په ډیرونصوصو کي منع راغلیده هرڅومره که چرته مال اوجاه ددین دپاره مقصود وي نوڅه بده خبره نه ده – خوخبره په دیکي ده چه داسی موقعو باندي دا امورددین دپاره مقصود وي یادنیادپاره نو اګرچه نفس تاویلونه کوي چه داددین دپاره دي خو الله رب العزت هرقصددپاره یومعیار جوړکړیدي چه هغې سره صحت اوفساد دقصد معلومیږي نودي موقعو کي چه څومره غورکولی شي علامت ددنیاد طلب کولو معلومیږي، تفصیل دهغې دادي چه که چرته ددین هم مقصود وي نودهغې په اسبابو اوطریقو کي هم څه کار دالله درضانه خلاف اختیارولی شي – اوهرکله چه داسی امور اختیارولی شي نودي سره صفا معلومیږي چه دینا مقصود ده- اودي امورو کي بعض دنمونی په طورلیکم (۱) دچندي په حاصلو کي دقواعدو شرعیو رعایت نه شي کیدلی ، ځکه چه حکم شرعي دي – لایحل مال امری الا بطیب نفس منه – په چنده کي سوچونه کوي اوداسی طریقی اختیاروي چه هغې سره دمخاطب په زړه باندي اثراوشی ، اګرچه هغه اثرددباؤ یاشرم اولحاظ سره ولی نه وي داسی خلق واسطه جوړولی شي په ذیله کي دهغوی مخی ته فهرست هم پیش کولی شي په جلسه کي دشرکت دپاره ډیرزورزور کولی شي اویقیناً معلوم دي چه غټو خلقو ته خالی لاس راتلو دخپل ذلت اوبی عزتي ویره وي باقی مشهوروي هم کوم نه چه ددوي دبدنامی ویره وي ، (۲) شرعی حکم دي چه ریاحرام ده او اکثرپه داسی موقعو کي دورکوونکو په زړه کي ریاراځي اودریا سبب جوړیدل هم ګناه ده (۳) ډیروو ختونو کي دعالمانو دمالدارو په دروازه باندي تلل اوهغوي سره دچاپلوسی خبري کول

(۴) کومو مالونه نه چه حلال نه وائی که چرته هغه هم حاصل شي نوانکارتری نه کوي ممکن ده یاواقع ده چه که چرته چاسود خوریارشوت خوراخستونکي څه ورکړي وي او هغه یې په خرګنده یاپه پټه واپس کړي وي - (۵) خپله مدرسه داصلی حاجت نه هم ډیره زیاته ښکاره کوي تصریحاً یاایهاماً چه دهغې حاصل دروغ او دهوکه ده ، (۶) که چرته څوك په مدرسه باندي څه قسم اعتراض وکړي او هغه حق هم وي بیاهم هغه اعتراض نه شي قبلولی بلکه هغې پسې ولګي او دهغې ردکولو کوشش کوي- اګرچه په زړه هغه حق ګنړي چه دهغې حاصل حق کمزوري کول دي ، (۷) که چرته بله مدرسه مقابله کې راشي اواګرچه دهغې حالت په واقع کې ښه وي هو همیشه هغه داز غې په شان نظر راځي اوزړه کې دهغې دړولو او ختمولو آرزولري - حالانکه دخوشحالی خبره وه چه ددین کاره یرو خایونو کې کیږي خوصرف په دې وجه چه دهغې مشهورتیا اونه شي په هغې کې دچندي زیاتی او دیکې کمی راتشی زړه بې نه منی ، (۸) په کاروائی کې دخپل اظهار ، خپله مدحه ، دخپلې مدرسی ترجیح ، دخپل کارځه والی اوزیاتوالی خوول - اوپه دي وجه دتعلیم دکیفیت زیات اهتمام کول او ډیر کتابونه راغوندول چه خپله کاروائي اوښائي که طالبانو ته ورزي او که نه ورزي - په دې علامو کې وړومبی څلور دحب مال لغیرالدین علامی دي - اوآخري څلور دحب جاه لغیرالدین علامی دي او دمنشاء دفساد دوجه نه آثارهم دغه شان مرتب کیږي ، (۹) ډیرو جلسو کې اسراف کیږي دکومو خلقو دراوستو چه څه ضرورت نه وي دهغوی او دهغوی دملګرو اودخادمانو په کرایه کې ډیري روپی ځي- بعض وختونو کې دخوراك وغیره هم دمدرسی نه اهتمام کولی شی اوپه هغې کې ډیر تکلفات وي اومیلمنو نه بغیر هم یکې خلق خوري اوغالباً بلکه یقیناً روپی اخستونکي والونه اجازت نه شي اخستلی او ددلالت اذن دعوی کول هم مشکل دي ځکه چه ورکوونکي په خپله دداسی مصرفونو بدي بیانوي- (۱۰) بعض ځایونو کې په جومات کې داسی جلسی کولی شی او جومات سره دبیتك په شان معامله کولی شی ،شور ،دنیاخبري ،غلط شعرونه ، او ډیر منکرات کوم چه کتو سره تعلق لري هرکله چه جومات هغه مباح امور جائزنه دي کوم دپاره چه جومات نه دي جوړ شوي تابه منکرات چه رسد - (۱۱) دداسی کارونو په ځاي دعزت دعالمانو ذلت او سپکوالی ددنیادارو په نظر کې راځی ځکه چه اصل عزت استغناء ده او ددی سپکوالی ثمره داکیږي چه خپل اولاد دپاره ددین علم نه خوښوي چه داانجام به دهغوی هم وي ،ګویاچه داحالت

دخیر دمنع کولو یوه شعبه ده - (۱۲) طالبان او مخلص زیارت خودل نااهلولره اهل ښائی دقس علی هذا که چرته داخیالات داصلاح قابل وي نواصلاح وکړي کنی زه په عمل کولو او قبلولو باندې زورنه کوم خو کمه درجه کې زماغیر حاضري دپاره دامضبوط وجه وګڼړي او معاف می کړي فقط والسلام ،

دمهتمم صاحب دطرفه جواب

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته - دحضرت اقدس خط راورسید ودمضمون نه خبرشوم ډیر اطمینان راته اوشو او خوشحال شوم دالله شکردي چه ددي مدرسی بنیاد دشروع نه داسی کیخودلی شویدي چه کوم امورتاسولیکلی دي دینه نفرت کوي ریاکاري دلته هیڅ څوك هم نه خوښوي صرف په توکل بنیاددي دچندي والوپه خدمت کې ډیر زورنه شی کولی دچاچه زړه غواړي شریك شي دچازړه نه غواړي نه شریکیږي کوم کارچه دالله دپاره وي په دیکې ددی امورو خیال هرګزنه شي کولی خداوند کریم چه څه غواړي هغه کوي ددنیادارو چاپلوسی کول فضول دي - دغه وجه ده چه دي مدرسه کې هغه څه کسان په چنده کې شریکیږي کوم چه اخلاص سره ورکوي او باربار دهغوی نه دغو ختو وخت نه راځي نه دبنده داسی قسم عادت دی داکارزماپه نزد معیوب دي مدرسه کې دجلسی کولو غرض زماصرف دومره وي چه کوم خلق چنده کې شریك دي هغوي ته واقعی کیفیت بغیردزیاتی او کمی نه واوروتی شي اودانعام تقیسمولو نه چه کوم طالبان قابل دي دهغوی خوشحالول مقصوددي - دي دپاره چه دهغوی زړه مات نه شي اوبل داچه عالمان راجمع شي او وعظ اونصیحت وکړي دي دپاره چه خلقو ته هدایت اوفائده اورسي ، خاص دجلسی دپاره او دعالمانو دراوستلو په کرایه کې خرچ کولو دپاره او کوم خلق چه جلسه کې شریکیږي چاته چه دمدرسی دطرفنه دعوت وي دی غرض سره دی نوم سره اجازت اخستل تراوسه پوري داسی کاروائی کیږي دمدرسی په چنده اودي چنده کې څه تعلق نشته ، داخبره الله رب العزت دوړومبی نه زماپه زړه کې پیدا کړي وه- جلسه کې شریکیدو دپاره دچاخوشامدنه کیږي اومالدارته هم هیڅوك نه ځی بلکه خاص طور باندې غریبانانو طرفته ډیره توجه کیږي چونکه داخبره مشاهدي سره معلومه ده چه مالدار خلق په جلسه کې دشرم دوجه نه راځی په دی وجه هغوي رابللی هم نه شي اونه دهغې کوشش کولی شی په خپله دعوت ورکولو کی نفرت معلومیږي که چرته یوه مدرسه مقابله کې وي نو دهغې ورانی پسی لګیدل کم عقلتوب دي- دالله شکردي چه دلته په یوه

مدرسه کې هم مقابله نشته دچامخالفت سره موکار نشته بلکه نوري چه کومې مدرسې دي دهغې ترقي غواړودهغې خلاف کول دالله ﷻ اودرسول الله ﷺ په دين غلا کول دي اوددين بدخواهي ده - چونکه دستاربندي يو فخرګرځيدلی دي اوهغه مدرسوالوښه اختيار کړيده په دي وجه هغه کاربنده بنه اونه ګڼړواوپه دي مدرسه کې يې دهغې سلسله موقوف کړه دي مختصر بيان سره حضرت معلومولی شی چه زما غرض دجلسې کولونه څه دي آياحب دنيايا څه نوردي نه علاوه بل څه خبره که دالله دمرضی خلاف وي نو نصيحت اوفرمائی په خداي زه په ديکې ستاسوډيرشکرګزاريم اوتاسوخپل محسن ګڼړم چونکه دي مدرسه کې جلسې دپاره بل څه ځاي نشته په دي وجه دجومات صحن مو اختيار کړيدي خوحتی الامکان دهغه منع کړوشوکاروڼوخيال دخپل طرف نه کولی شی اوخلقوته دي باره کې ډيرتاکيد کيدی شی داخبره صرف دمجبوري دوجه نه ده جلسې کولوسره زما غرض داهرګزنه دي چه چنده راغونډه کړواو اوچتوالی منظوروي ياتی شوه خبره دسبق خودلو-نودالله په فضل سره داخبره نشته بلکه مدرسوته حتی الوسع تاکيددي چه طالبانوته بنه په اطمينان سره سبق وښائي اګرچه کتابونه په کال کې کم وي اوبل دطالبانوشميرچه څومره وي هم هغه هومره خودلی شی اميد دي چه صحيح جواب سره مونږخبرکړي !

ددی جواب نه جواب دطرفه حضرت مولانامدظلهم العالی

مخدومی دامت فيوضهم السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته :- دی خط زه ډيرخوشحاله کړم الله دي ستاپه نيک مقصدونواواخلاص کې نورهم برکت واچوي ،اوستادي مدرسې نه اودغه شان دنوروټولودينی مدرسودفيوضواوبرکتونونه دي مونږحاجت مندوته فائده راورسوي ستادي خط سره راته اطمينان راغی چه ماشاء الله ستاپه داسې اموروباندي نظراودهغې اهتمام شته خودټولوحال صرف دومره دي چه جلسه څه کارقبيح بالذات نه کيږي خودشک باقی دي اوباقی معلوم دي چه دواجب پريخودودپاره صرف قبيح بالذات شرط نه وي بلکه قبيح بالغيرکافی دي -نوداخبره خومنلی شويده چه ډيري بلکه ټولی جلسې دمخکې مفاسدمفروضه نه نه خالی کيږي اوداهم ښکاره ده چه دهغې بنديز حتی الامکان ضروري دي اودهغې جاري کيدل مباشرة ياتسبياً منهی عنه -داسې حالت کې کې که چرته دمدرسې يومهتمم ډيراحتياط سره جلسه وکړي نومباشردمفاسدوخواونه ګرځيدوخوديکې څه شک نشته چه دنوروغيراحتياطی جلسودجاري کيدو سبب جوړشو

فقهاؤ ډيروځايونوکې بعض مباح کارونه صرف سدللذرائع وحسماللمادة الفاسد تاکيد سره بندکړيدي په دي وجه دی زمانه کې محققينوعالمانوراواجونه که ميلاد ، فاتحه ،عرسونه اګرچه دعقيدي اوعمل په لحاظ سره محتاط ولی نه وي خوصرف ددی وجه نه يې بندکړيدي چه دنوروبې احتياطودپاره به سندجوړلی شی اوبې احتياطودپاره سبب دجاري کيدوبه شی دي حکم کې دامجلسونه اودمدرسې مجلسونه ټول برابردي په دي وجه دمشاهدي اوکتلونه وروستوسوچ کول کافی دي - اوکوم مصلحتونه چه دي جلسوکې بيان شول ددی په مصلحت کيدوکې خبره نشته خومصالح اومفاسدوکې چه کله تعارض راشی نودمفاسدواثرته ترجيح راځي -هرکله چه مصالح حدضرورت شرعی ته نه وي رسيدلی اومانحن فيه کې ښکاره خبره ده ضرورت[1] شرعی نه دي بلکه مصلحت هم دي صورت کې منحصرنه دي امدادکوونکوته دخط په ذريعه دمدرسې حالت معلوميدی شي اوطالبانوته دغه شان انعام ورکولوسره زړه خوشحاليدی شی اووعظ اوهدايت ورومبې خوداسې موقعوباندي دشريکانوجلسې ته صفاصفامشکل دي دهغوی دخفه کيدوخيال کولی شی بيادا دي مقصوداهتمام مستقل طورباندي هم کولی شی په دی وجه تراوسه پوري هم دحاضري نه دمعافی خواهش لرم والسلام ، (امداد/ص ۱۴۱/ج۲)

دخلاف شرعی ليکلونوؤ اخباروا ورسالواخستلو اوکتلو حکم

سوال :(۳۱) څه فرمائی علماء دين اوپه مفتيان شرع متين په دي مسئله کې چه دالاندينی ليکل سره دتاريخ نه ديوغيرمسلم اخبار نه نقل شويدي کوم اخبارچه مسلمانانوته داسې قسم ترغيب ورکوي آياعام مسلمانانودملك مشرانوته ددي اخبارلوستل ،اخستل، په دی کې اشتهارورکول ياڅه بلی طريقی سره دي ته په واسطی سره يابغيردواسطی نه مالی امدادورکول جائزدي يانه ؟(۱) ۳۱ اګست ۱۹۲۹هـ دعمردکميټي درضامندي رپورټ دماشوموالی دواده ختمولوضرورت پنډتان اومولیان دفن کړي (خلاصه په خپله دسرخی نه ښکاره ده)(۲) ۹نومبر۲۹هـ دمذهب په نوم باندي دنابالغه جينکوواده (په ديکې يې مذهبی طبقی والوته داحکاموورانوونکي وبيلی دي (۳) ۲۲ ستمبر ۲۸هـ افغانستان نه دملیانووتل (په ديکې ددی وتلويې مدح کړيده)(۴) ۱۲نومبراو۲۷اپريل ۲۹هـ ملیان اوپنډتان خطره کې

[1] نودضرورت موقع په شرط درعايت داحتياط مستثنی دي اواګرچه دالړوي خومعدوم نه دي ۱۲منه

۱۳،۵،، اکتوبر ۳۱هـ دي، په دیکښې بې مذهبې طبقې ته دفضا خرابونکې وئیلي دي، نیاز فتح پوري او موجوده اسلام په دیکښې یې کس ته مصلح وئیلي دي او ددین ورانولو ته یې اصلاح وئیلي ده، ۲،۱۴،، اپریل ۲۸هـ دترکی خداي ته جواب، په دیکښې یې په بد مذهبي باندې دترکی موجوده مدح کړیده، ۷،۱۷،، اپریل ۲۸هـ دافغانستان ملکه او پرده، په دیکښې یې ددې ملکې دبې پردګۍ مدحه کړیده او ددې بدګرونکو مذمت یې کړیدي، ۸،، ۲۸ جنوري ۲۸هـ دافغانستان نه دملازم خاتمه، په دیکښې دشریعت قانون پرېښودو باندې مدح کړیده، ۹،۷،، جولائی ۲۷هـ افغانستان او هندوستانی دمسلمانانو پوزه، د۷ په شان، ۱۰،، ۱،۱۴ هـ ۲۷هـ دهندو مسلمانان او سکه فسادونه او شدهي، هغه تحریک چه شردها دنند دمسلمانانو دهندو جوړولو دپاره چلولی وه، او دتبلیغ نتیجې په دیکښې دتبلیغ دختمولو رائي ورکړ شویده ۱۱،،۲۷ دسمبر ۲۴هـ دکتاپور قیدیان دخلاص کړیښی، په دیکښې یې دکتارپور دهغه فسادوخلقو سفارش کړیدي چه هغوي چه څه وکړل په مذهبي لیونتوب یې او کړل په دې وجه مسلمانان دې ددوي دخلاصولو خپله کوشش وکړي، ۱۲،، ۵ جون ۳۳هـ غیر ملکونو ته روپی دمذهب په نوم، په دیکښې یې مدهند مسلمانان دنورو ملکونو دمسلمانانو دمالي امداد نه منع کړیدي، ۱۳،، ۳۰ جنوري ۳۳هـ دحکومتونو دظلمونو علاج. دالور کشمیر جواب. بهوپال او حیدرآباد کې ددوو هندوانو ژوند ضرورت، په دیکښې یې هندوانو ته ترغیب ورکړیدي چه اسلامی ملکونو کې فسادوکړي، ۱۴،، بغیر دتاریخ نه ددې اخبار په وې وخت کې دحضرت ادم علیه السلام برېنډ فوټو شائع کړو، ۱۵،، ۷ مارچ ۳۱هـ نیم برېنډ باغي فقیر، په دیکښې یې ګاندهي ته پیغمبر اعظم او مرتبه کې یې دنورو پیغمبرانو برابر خودلی دي، ۱۲،۲۱،، مارچ ۳۱هـ پیغمبر اسلام او ګاندهي، د۱۵ په شان، په دې نمبر کې یې ددې اخبار نوم هم لیکلی دي ((ریاست)) او دا مضمون یې هم لیکلی دي چه دې اخبار باندې دخداي منکر او مداوم علی السجدة ته برابر حق دي، ۳،۱۷،، دسمبر ۲۷هـ دکافرېن دتبلیغ تازلیدل په حکومتونو باندې، دلسم نمبر په شان،

جواب: دکوم کاسره، چه په هغې کې ددې اخبار اخستل. لوستل په دیکښې اشتهار ورکول یا په څه بلې طریقې سره په واسطې سره یا بغیر واسطې نه مالي امداد ورکول هم داخل دي، چه دګناه امداد کیږي او په هغه کار کې څه صحیح غرض هم نه وي، لکه دباطل ختمولو دپاره اخستل یا دخپل حاجت سامان اخستل، هغه کار هم دګناه دي اګرچه امداد قصد هم نه وي. کما صرح الفقهاء فی اعطاء السائل الذی یحرم علیه السوال وکاستخدام الخصی ونظائرها

الکثیرة، نو په استثناء دحالت متثنیه نورو حالتونو کې دداسې اخبارونو اخستل وغیره تول ناجائز دي، وهذا کله ظاهر - ۲۴ رجب ۵۲هـ (النور رمضان المبارک ۵۳هـ ص ۱۰)

ایضاً

سوال: (۳۲) که چرته یو اخبار دشریعت دشرطونو او حدونو پوره خیال ساتي چه دهغې ذکر په رساله اخباربینی کې پوره موجود دي نو دا خبره خوښکاره ده چه دداسې اخبار مطالعه به جائزوي- خو سوال دا دي چه دجائز کیدو نه مخکې دهغې امداد او خورول به دي یا نه؟

جواب: دا خبره ښکاره ده چه دغیبو حالتونو دمعلومولو کله کله شرعاً ضرورت وي څکه چه دهغې معلومیدو سره انسان ډیر څه طاعتونه په ځاي راوري مثلاً دمسلمانانو امداد، دمظلومانو امداد برابره خبره ده که ذات سره وي یا مال سره وي یا مشوري سره وي او دداسې اخبار دداسې علم واسطه وي - او په واسطه دعلم سره دداسې طاعتونو ذریعه جوړیدلی شی او کوم مفاسد چه په عام اخبارونو کې موندلی شي دهغې نه داخلي و لکه څنګه چه سوال کې ذکر دي نو دداسې اخبار امداد کول یقیني خبره ده چه ښه دي- او ددې امداد ته په عدم امداد ترجیح ورکولی شي والله اعلم بالصواب مورخه ۲ صفر المظفر ۱۳۵۸هـ (النور شوال ۱۳۵۸هـ ص ۸)

سنسکرت ژبه زده کول

سوال: (۳۳) څه فرمائي علماء دین او مفتیان شرع متین په دې مسئله کې چه نن صبا دآریه مذهب والو، یو قوم دي چه هغوي په هندوستان او ایران کې آباد دي، ډیر زور دي او قران او حدیث شریف باندې قسما قسم بې ځایه اعتراضونه کوي او مسلمانان دهر که کوي او عالمان اګرچه تحقیقي جوابونه دوي ته ورکوي خو دي وخت کې الزامي جواب ډیر فائده مند او چپ کوونکې جواب دي او الزامي جواب تر څو چه دهغوي دمذهب نه پوره خبر نه یې ممکن نه دي او دهغوي دمذهب کتابونه په سنسکرت ژبه کې دي - په دې وجه که چرته په دې ضرورت که دیو داسې کس نه چه دیندار او معتبروي او لوستونکې هم ددیني علومونه خبروي دا ژبه زده کړیشي نو جائز ده یا نه؟ بینوا توجروا؟

جواب: ددې دتعلیم او تعلم فی نفسه جائز کیدل خو په دې وجه مانع دجواز یکې نشته ښکاره دي او قاعده مقرره ده چه یو امر جائزه که چرته دیو امر مستحسن او واجب مقدمه او موقوف علیه وي نو هغه هم مستحسن او واجب ګرځي او دې ذکر شوي مصحلت په استحسان

یاضرورت کې څه خبره اوپېتوالی نشته- په دی وجه ددې ژبی زده کول په داسې حالت بې شکه مستحسن یاضروري دي علی الکفایه -دی بنیادباندې زمونږ متکلمینو عالمانو یونانی فلسفه حاصل کړیده -اوعلم کلام یې په دې معقول طرزسره مدون کړو-بریده ماروا‌ه مسلم عن حذیفة ﷺ قال کان الناس یسألون رسول الله ﷺ عن الخیر وکنت اسئله عن الشر مخافة ان یدرکنی الحدیث قلت وادراك الشر للمسلمین کادراکـه لنفسـه- البته بعض روایتونه داسې امورو کې دبعضو داسې عوارض خارجیو په وجه کوم چه دمعلم یاد ناجنس دصحبت یاد فساد نیت اوبد استعمال یادفتنواحتمال یاپه لایعنی کې دمشغولیدو دوجه نه وي دقبیح لغیره احتمال یکې ګرځیدیشی دسوال دغه قیدونو مصرحو سره ددی تولو احتمال ختمیدي شی په دي وجه څه مفسده هم په دی مصلحتونو کې معارض نشته پس داجائزهم دي او استحسان اوضرورت هم په خپل حال باقی دي والله تعالی اعلم- ۵صفرالمظفر۱۳۲۴ھ(امداد ج۲ص ۱۷۰)

په یونیورستۍ کې دچندي ورکولو حکم

سوال:(۳۴) دعلی ګړه په یونیورستی کې دچاچنده ورکول څنګه دي -کـه چرتـه یوصورت کې هم ناجائزوي نوزه په حتی الوسعه دی کلی کې دچندي نه ورکولو کوشش دخپل وعظ په ذریعه وکړم؟

جواب: یونیوستی کې ورکول صحیح نه دي خوزماپه مشوري سره ته په دي تکلیف کې مه غورزوه- ۷ربیع الاول ۱۳۳۰ھ(تتمه اولی ص ۲۰۹)

دمسمریزم تحقیق او حکم

سوال:(۳۵) مسمریزم یوعلم دي چه په هغی کې دطبعیت اودنظردووالی مهارت په خوړخوکې حاصلیږي بیاهغی سره دتصوف برحلی لکه وحدة الوجود، کشف دقبرونو، امراض سلب کول وغیره بغیرد ذکرنه طی کولی شی- اوددی نه علاوه نوري خبري هم حاصلیږي مثلاً څوك دنظرپه زور سره بی هوشه کول اودهغه نه دپتورازونوتپوس کول ،دنورو خایونو کوم چه دنظرنه غائب دي حال بیانول وغیره لکه څنګه چه اشراقیین حکماء کوي ددی حاصلول صحیح دي څه دشریعت خلاف کارخونه دي ؟

جواب: تصوف نه دیکسوئی نوم دي نه دمکاشفاتونه دتصرفاتواونه دوارداتو -بلکه دهغی حقیقت دي اصلاح دظاهراوباطن بس دهغی مقصدونه قلبیه اوقالبیه علمونه دي- اودهغی غایه الله ته نزدي والی اودالله رضاده،اویکسوئی دهغی مقدمه ده هرکله چه دغه ذکرشوي مقصدپه هغی مرتب وي اوواردات لکه وحدة الوجودوغیره ددی عوارض اوآثارغیرلازمه دي -اومکاشفات کونیه لکه کشف القبور وغیره اوتصرفات لکه سلب الامراض وغیره ؤدي سره هیڅ تعلق نشته ریاضت باندي ددی ترتب کیدلی شی په دی وجه کافران هم په دیکې شریك دي- اومسمریزم کې تول دري څیزونه دي دبعضو پټو څیزونو خبرورکول ،څه تصرفات کول اودهغی دمهارت دپاره دیکسوئی مشق کول نوورومبی خوپه دیکې دپټو څیزونو خبرورکول اکثردعامل دخیال تابع وي په دي وجه که چرته یوه غائبه واقعه ددوعاملانوپه مخکې جداجداپه مختلف طریقی سره بیان کړي اوهریوته یقین راشی اوبیایوسري جداجدامجلسونوکې ددی واقعی دنسبت دعاملانونه تپوس وکړي نودواړوبه دخپلوقاعدواوطریقواستعمالولونه وروستو جداجداجواب درکړي کله چه غواړي داازمائش وکړه اوکه چرته فرض کړي چه کله کله خوواقعی ددی انکشاف هم کیږي نودکشف تصوف سره تعلق نه کیدل بره معلوم شول دغه شان دتصرفاتوورسره هم تعلق نشته اوس پاتی شوه یکسوئی نوداًمقدمه دتصوف هله ده چه کله تصوف په دي باندي مرتب وي اوهرکله چه مسمریزم کې دانشته نوهغه مقدمه دتصوف هم نه شوه پس معلومه شوه چه دتصوف دي سره هیڅ تعلق نشته اوس پاتی شوه قطع نظر ددي نه ددی جائزکیدل اوناجائزکیدل نوچونکه مشاهدي سره په دي باندي ددیرمفاسدوترتب معلوم شویدي لکه دانبیاؤاواولیاؤکمالات ددی قبیلی نه ګنړل په دی وجه داسې توهم ددي سوال منشاء هم ده یادهغوی سره دعوي اوګمان دبرابرئ کول -اوعامل کې عجب پیداکیدل بعض امورچه دهغی تالاش کول حرام دي دهغی دمعلومولو کوشش کول دی انکشافاتوباندي کوم چه حجت شرعی نه دي بغیرددلیل شرعی اواقرارا وکتونه یقین کول -دي بنیادباندي په چاباندي دغلاوغیره ګمان پخول ،بعض غیرمباح اغراضوکې دتصرف نه کاراخستل یاپه خپله که چرته دمفاسدونه بچ شی خودنوروعوامودپاره دوي عامل موجب دفتنی اودګمراهی جوړیدل -وغیره ذالك من المفاسد العدیدة الشدیده -په دی وجه دافن اګرچه بالذات اوبعینه مقتضی دقبیح نه وي خوددغه مفاسدو اوعوارضو دوجه نه کوم چه عادةً ددي دلوازمونه دي - قبیح لغیره په قسم

کي داخل دي نو داهم منهي عنه او حرام دي داصول فقه په ماهر باندي دا قاعده پټه نه ده
فقط۔ ربیع الاول ۱۳۲۵ھ امداد ج ۲ ص ۱۷۹،

ایضاً

سوال : (۳۶) څه فرمائي علماء دین او مفتیان شرع متین په دې مسئله کي چه د روحاني علمونو لکه مسمریزم، علم تصور، او د علم مقناطیسي وغیره په باره کي د شریعت څه حکم دي۔ جائز که ناجائز۔ که جائز وي نو جزء وي یا کلي، د حدیث او ایت په حوالی سره دلیلونه او فرمائي؟

جواب : داعمل روحاني نه دي عملانه اثرا۔ بلکه دوارو طریقو سره اعمال نفساني دي او چونکه قاعده شرعیه ده چه که چرته مباح فعل هم متضمن وي مفاسد ته نو هغه هم غیر مباح گرځي او دا اعمال د مفاسد کثیرو اعتقادیو او عملیو گرځي لکه څنگه چه په تجربه کار باندي پټه نه ده۔ په دی وجه د دی قاعدي په بنیاد د دی منع کولی شی که چرته د مفاسدو په تفصیل باندي خبر یدل پکار وي نو زباني سوال باندي ښکاره کیدیشي، ۱۷ ربیع الاول ۱۳۳۵ھ حوادث خامسه ص ۲،

ایضاً

سوال : (۳۷) دلته یو ي زنانه ز لاهور نه د مسمریزم گوته راغوختی ده ما اوریدلی دي دیکي مړه شوي سړي په نظر راځي که چرته د دی کتل جائز وي نو زه به یې هم راواغوارم او که چرته ناجائز وي نو تاسو یې دي کاره کي ولیکئ زه به هغې هرگز او نه گورم په دی وجه ما تاسو نه تپوس وکړو؟

جواب : د دی گوتي حقیقت ما ته ښه معلوم دي دیکي چه څه په نظر راځي واقعي نه دي محض د عامل خیال وي او خلق دا واقعي گڼړي او خپله عقیده او عمل خرابوي پدي وجه د دی استعمال جائز نه دي ،اول رجب ۱۳۳۹ھ حوادث خامسه ص ۳۸،

ایضاً

سوال : (۳۸) د مسمریزم علم په ذریعه صرف مخلوق ته فائده وي دي ور کولو د پاره لکه دبیمار د دی په ذریعه علاج کول یاد بوتو وغیره خواص معلومول یاد چاد بدو عادتونو پریخودلو د پاره جائز دي یا نه؟

جواب : کوم خواص چه تاسو په مسمریزم کي لیکلی دي بعض خو دیکي خلاف واقع دي لکه دبوتو خواص معلومول د دی مسمریزم سره هیڅ تعلق نشته او د څه معمول په ذریعه د مخفیاتو نه څه معلومیږي او دي سره دا هرکه او شوه نو هغه بالکل د عامل یاد چاد مجلس د حاضر د خیال تصرف وي د معمول په متخیله کي برابره خبره ده که هغه خیال صحیح وي

یا غلط وي په دی وجه چه کله غواړي امتحان یې وکړه۔ چه یو واقع د یو عامل مخامخ یو خاص طریقي باندي بیان کړه او هغه واقعه د بل عامل مخکي په بل طریقي باندي بیان کړه یاد واړه عاملان په جدا جدا مجلس کي د یو مختلف معمولاتو باندي د مختلفو حاضرینو په مجلس کي چه هغه معمول او حاضرین تول خالي الذهن وي دا عمل استعمال کړي نو یقیناً دواړه معمول به جدا جدا جواب ورکړي او دا ښکاره خبره ده چه د نقیضینو اجتماع محال ده خواه مخواه د یو جواب به خلاف واقع وي نو ثابته شوه چه دي عمل په ذریعي سره د واقیعاتو انکشاف نه شي کیدلی البته بعض خواص اکثر په دي باندي مرتب کیدیشي لکه سلب د مرض او اصلاح د خیالاتو خو دي مصلحتونو د پاسه په دیکي نور مفاسد دي اگرچه هغه لازم عقلي نه دي خو لازم عادي دي د هغې بیان زباني کیدلی شي او تجربه کار مشاهده کولی شي په دی وجه د ارشاد موافق ،قل فیهما اثم کبیر و منافع للناس و اثمهما اکبر من نفعهما۔ دا به منع کولی شي اگرچه دا نهي د قبیح لغیره په وجه وي لکه فقهاء ،چه کیمیا په دي بنیاد د حرامه گرځیده د دي قسم ډیر فنونه دي د تولو دغه حکم دي او هغه پنځه فنه دي کیمیا ، لیمیا ، هیمیا ، سیمیا ،ریمیا ،د دی تولو شرح زما په رسالی مائة دروس کي شته د دی مجموعه ده کله سره۔ ۵ رمضان المبارک ۱۳۴۱ھ تتمه خامسه ص ۲۴۲،

ایضاً

سوال : (۳۹) څه فرمائي علماء دین او مفتیان شرع متین په دي مسئله کي چه مسمریزم زده کول او په دي باندي عمل او یقین کول مسلمانانو د پاره څنگه دي په شریعت کي جائز دي که ناجائز۔ او یو میز د دریو خپو خور کړي او د مړي روحونه راوبلی او د سوال او جواب کوي او دي روحونه معلومات کوي او یا خلقو ته ښائي چه ستا کار به کیږي یا به نه کیږي دي باندي مسلمانانو ته یقین کول څنگه دي؟

جواب : وړومبی د مسمریزم حقیقت زده کول پکار دي بیا به درته حکم زده کول اسان وي ، حقیقت د دی عمل دا دي چه د قوت نفسانیه په ذریعي سره د بعضو کارونو صادرول لکه څنگه چه ډیر افعال قوت بدنیه په ذریعه سره صادر کیدلی شي نو قوت نفسانیه هم د قوت بدنیه په شان د صدور یو د آله دي – او حکم د هغې دا دي چه کوم افعال فی نفسها مباح دي د هغې صادرول هم جائز لکه یو سړي باندي خپل قرض واجب وي او هغه وس هم لري دي قوت سره هغه مجبوري کړي او خپل حق ترینه واخلی جائز دي۔ او یو کوم سړي چه څه حق واجب نه وي

لکه چنده ورکول یادیوې ښځې دچاسره نکاح کول هغه مغلوب کول او خپل مقصود ترینه حاصلول حرام دي. وعلی هذالقیاس سائر افعال. داخودهغې حکم وه فی نفسه اوبیو حکم دي په اعتبار دعارض سره چه که چرته دیکې څه مفسده دبهرنه یوځاي شي نودي مفسد په وجه سره هم پدیکې ممانعت عارض کیږي مثلاً دي لره ذریعه دکشف دواقعاتو جوړول برابره خبره ده که ماضیه وي که حالیه وي او که راتلونکې کوم باندې چه څه شرعي دلیل نشته لکه دغل معلومول یادمړي دحال تپوس کول یادڅه کاردانجام تپوس کول یادروحونو دحاضریدوعقیده لرل لکه څنګه چه سوال کې ذکردي - داټول دروغ اودهوکه ده - په دې کې په خپله اکثر عمل کوونکې جاهلان مبتلاء دي، اوددې جهل په بنیاددهغوی تصنیفات په دې فن باندې مبنی دي اوبعضی نورته دهوکه ورکوي مسمریزم سره ددې څیزونو هیڅ تعلق نشته که چرته بالفرض وي هم بیابه هم دنجومي اوتروینتی په شان ددې نه کار اخستل اوپه دې باندې عقیده لرل حرام دي چونکه احقرته ددې عمل په خپله تجربه ده په دې وجه دي تحقیق کې تردد نشته. ۲۵رجب ۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه / ص ۵۷۹)

تحقیق جواز تعلیم علم منطق

سوال: (۴۰) تعلیم علم المنطق حرام اومباح اوفرض اوواجب ام حسن واذاکان مباحابقدر الاصطلاح جائزام لا، رحمنالله وایاکم والعفومن کرمکم مامول؟

جواب: العلم المنقول کالاغذیة مقصودة والمعقول کالادویة ضروری لمن اشتغل بالکفایة من المنقول ولم یسلم ذهنه عن الخطاء فی الاستدلال بدونه ولماکان الضروری یتقدر بقدرالضرورة وقدهامختلف باختلاف الاذهان فبایّ مقدارترفع الضرورة کان الضروری هوذاك المقداروما لاضرورة ولاضرر کان له مباحاًومن تضرربه کان له مذموماً وقدرالتضرریکون الذم من الکراهة والحرمة. ۲۴ربیع الاول ۳۵ھ (تتمه خامسه / ص ۹)

دصلوة په نخښه کې صلعم یادنوروصحابه ﷺ په نومونوباندې لیکل

سوال: (۴۱) دیوکس نوم ((محمدحسن)) دي هغه دخپل نوم لفظ محمدباندې (ص) اوحسن باندې (رض) لیکي (دغه شان محمد (ص) حسن (رض)) آیاداسې کول شرک نه دي

څکه چه دلته خودمحمدنه هغه پاکه هستي مرادنه ده دچانوم سره چه صلعم لیکلی شي اونه هغه حسن مرادچه دهغه نه وروستو ﷺ لیکل ضروري دي؟

جواب: دلیکونکې دامقصودنه وي چه ددې نوم مسمی محمد ﷺ یاحسن ﷺ دي اوداڅنګه کیدیشي چه کله دداروجزونومسمی بیل بیل وي نویوکس ددوو ذاتونومصداق څنګه کیدیشي چونکه بنیادپه خپله ددې تسمیه تبرك باسماء الذوات المبارك دي نودي الفاظو سره ذهن هغه اسماء ذوات مبارکه طرفته منتقل کیږي کوم چه داسماء منقول عنهادي ګویاپه دا اسماء منقوله دهغه منقول عنهامذکردي دي منقول عنهاقصد سره کوم چه په واسطې سره دهغې الفاظ داله ګویاچه حکماً مذکوراومدلول دي داسې رموزلیکلی په دې وجه دانه شرك دي نه کفر. البته دې توجیه کې لرې والی ضروري دي په دې وجه ددې حذف غوره دي. ۲۰شوال ۱۳۳۵ھ (تتمه خامسه / ص ۳۵)

دیوسف ﷺ اوزلیخې کتاب لوستل جائزدي

سوال: (۴۲) دیوسف ﷺ اوزلیخې کتاب مصنفه مولوي عبدالرحمن جامي لوستل جائزدي یانه څکه چه مولاناعبدالرحمن جامي دبی بی صاحبې په صفت کې دحدنه زیات تعریف کړیدي په دې وجه دتیونوپه تعریف کې لیکلي دي:

دو پستان هریکی چون قبه نور | حبابی ساخته ازعین کانور
دونارتازه تررُسته زیك شاخ | کف امیدشان ناسوده گستاخ

اونوروځایونوکې بیې لیکلي دي

شکم چون تخته قاقم کشیده | بزی دایه ناف اوبریده
سرنیش کوه اماسیم ساده | چوکوه کز کمرزیراوفتاده

وعلی هذالقیاس، حضرت درخواست دادي چه که چرته دیولوئ زمیندار یادیوحاکم دبی بی داسې تعریف وکړیشي نوهغه به څومره خفه شي سوچ کول پکاردي چه دیوسف ﷺ څومره قدردې هغه به غصه کیږي نه؟ بینواتوجروا؟

جواب: داسې تعریف اګرچه داحترام خلاف دي خودداسې حالت په اعتبارسره دي چه کوم وخت هغه واجب الاحترام نه وه یعنی دیوسف ﷺ په نکاح بلکه داسلام رواړونه هم مخکې دکوم حالت په اعتبار سره چه په خپله الله رب العزت دهغه قصه کې داسې ذکر کړیدي چه

احترام پکښي نشته، ورواته الی هوق بینهاالخ قالت ماجزاء الخ المستلزم للکذب والکید ونحوها. نو ددي دمنع کولو سبب خو داعارض نه شی کیدلی البته که چرته داسی مضمونو سره دقوت شهواني راپاریدو احتمال وي نو صرف دامضمون دي نه لولی ،فقط تتمه خامسه (ص۱۰۴)

دعلم رمل حرام کیدل ،داسی علم چه په هغی کښي

دمنجمو او څطونو په ذریعه دغیب خبري معلوموي

سوال :(۴۳) علم رمل شرعاً جائزدي یا نه احقر درمل دیو کتاب په مقدمه کښي لیدلی وه چه مشکوة شریف کښي یو حدیث دي چه هغی سره دعلم رمل جواز ثابتیږي او س حضرت دي ولیکی چه دابیان ددغه مصنف صحیح دي یا نه یا چرته دبل حدیث شریف په کتاب کښي ددي علم دجواز حکم شته یا نه؟

جواب : داددغه مصنف غلطی ده. دهغه حدیث مضمون دادي چه یو نبی څه کرخی راخکلی دي نو دکوم سړي کرخی چه دهغی موافق وي جائزدي مضمون دحدیث ختم شو- اوس دروميي خو دا ثابتول گران دي چه مراد ددي نه رمل دي ځکه چه هغی کښي هم کرخی وي خو ممکن ده چه چرته بل علم کښي هم داسی وي بل داچه که چرته رمل هم مرادوي، نو دهغه رمل ددی خطو تو دموافق کیدو څه دلیل نشته او شرط دجواز دغه موافقت دي او هغه معلوم نه دي په دي وجه دجواز حکم ممکن نه دي په دی وجه ددی تعلیم او تعلم نه به حرام ویلی کیږي (تتمه خامسه ص ۱۸۲)

په دینی مدرسو کښي دسرکاري امداد حکم

سوال :(۴۴) دحکومت طرفنه که چرته دیني مدرسی ته څه امداد ملاوشی اخستل یې جائز دي یا نه ؟

جواب : که چرته وعده وکړي چه مؤثره امداد کوؤ خو څه دخل نه کوؤ بیا دا امداد اخستل جائز دي ۹شعبان (۱۳۳۱ھ حوادث ۱،۲، ص ۱۱۲)

شرائط جواز تعلیم ترجمه قران مجید

سوال :(۴۵) څه فرمائی علماء دین او مفتیان شرع متین په دي مسئله کښي چه زید وائی چه عام مسلمان هلکان او جینکئ خاص کرهغه بچی کوم چه دتجارت او دنوکرئ پیشه کوي دوي ته دزده کړي په زمانه کښي ددنیا کاروبار طرفته رجوع ورکوي دي سره دوي همیشه دپاره دقران دنعمتونه محروم شی داسی تولو بچوته په مدرسو کښي داهل السنت استاذانو داهتمام لاندي ترجمه دمولانا رفیع الدین صاحب دهلوی یا مولانا شاه عبد القادر صاحب دهلوی یا دمولانا شاه اشرف علی صاحب سلمه، دی دري واړو کښي دیو ترجمه یاددی نه علاوه نور کوم چه زمونږ اهل السنت عالمان یې خوښوی بغیر دتعلیم دصرف او نحوی نه په مدرسو کښي داستاذ په ذریعه دقرآن دالفاظو او داردو رسالو ویلو نه وروستو یا اردو ژبه زده کولو نه وروستو ضرور خو دل او زده کول پکار دي او دي دپاره دالاندینی دلیلونه پیش کوي ،

إِنَّ ٱلَّذِى فَرَضَ عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ لَرَآدُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ (پ ۲/ع ۱۲) دی ایت سره دقرآن دایتو نو زده کول او په حکمونو دقران باندي عمل کول ضروري نه شو. إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ قُرْءَٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ (پ ۱۲/ ع ۱۱) هرکله چه دقران په نازلیدو باندي حکم دپوه او شونو زده کول به ضروري نه وي، أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَآ (پ ۲۲/ع ۷) په قرآن کریم کښي سوچ کول بغیر دپوهی نه ممکن کیدیشی؟ كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓا۟ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ (پ ۲۳/ ع ۱۲) دلاندي په تفسیر فتح البیان کښي راځی په ایت په دي باندي دلیل دي چه الله رب العزت قرآن مجید دي دپاره نازل کړیدي چه ددی په معنی کښي سوچ او فکرو کړي نه دي دپاره چه بغیر دسوچ او فکر نه صرف تلاوت کوي، وَإِنَّهُۥ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ ۖ وَسَوْفَ تُسْـَٔلُونَ (پ۲۵/ ع ۹) ددي تفسیر ابن کثیر کښي راځی تاسو نه به ددی قران تپوس کیږي او تاسو په دي باندي عمل کولو کښي څنګه وي او ددي په منلو کښي څنګه وي ؟

وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَا أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ، (پ ۹ ع ۱۲) ددي تفسير موضح القران كې راځي خداى ﷻ اورسول الله ﷺ پېژندل اودهغوى حكمونه زده كول په هرچا باندي فرض دي عمل اونه كړي نوجهنم ته به ځي.

وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَٰذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورًا، (پ ۱۹ ع ۱) ددي تفسيرابن كثير كې راځي الله دخپل رسول ﷺ دطرفنه خبردركوي چه هغوي عرض وكړوچه اى زماربه دي قوم ستاقران شاته غورزولى دي اوداخكه چه مشركينوقران ته غوږنه كيخودواونه يې اوريدواوداپه هجران كې راځي اودي سره ايمان نه راوړل ،داريشتونى نه گنړل ،اوديكې سوچ نه كول ،اوداته زده كول ،اودي باندي عمل نه كول، اوددي حكمونه نه منل، اوددي دمنهياتونه ځان نه بچ كول، اوددي نه اوريدل، شعرونوقصواوسندروطرفته تلل ، دى هجران كې راځي –اوداسې لاړي طرفته تلل كومه چه درسول الله ﷺ نه نه ده راغلى داهم په هجران كې راځي –حديثونه عن عثمان ﷺ قال قال رسول الله ﷺ وسلم خيركم من تعلم القران وعلمه، رواه البخاري- دي حديث كې رسالتمآب ﷺ بهترين سړي هغه چاته وويل چه قران زده كوي اونوروخلقوته يې ښائي،عن عبيدة المليكى وكانت له صحبة قال قال رسول الله ﷺ يااهل القران لاتوسدوالقران واتلوه حق تلاوته من اناء الليل والنهاروافشوه وتغنوه وتدبروامافيه لعلكم تفلحون ولاتعجلواثوابه فان له ثوابا- رواه البيهقى –دي حديث كې حضرت ﷺ ارشاداوفرمايه چه قران غورسره لولى اوزده كولونه بغيرسوچ اوغورممكن نه دي –عن حارث الاعورقال مررت فى المسجدفاذا الناس –يخوضون فى الاحاديث فدخلت على علىؓ ﷺ فاخبرته فقال اوقدفعلوهاقلت نعم قال اماسمعت رسول الله ﷺ يقول الاانهاستكون فتنة قلت ماالمخرج منهايارسول الله ﷺ قال كتاب الله فيه نبأ ماقبلكم وخبرمابعدكم وحكم مابينكم هوالفصل ليس بالهزل من تركه من جبارقصمه الله ومن ابتغى الهدى فى غيره اضله الله وهوحبل الله المتين وهوالذكر الحكيم والصراط المستقيم هوالذى لاتزيغ به الاهواء ولاتلتبس به الالسنة ولايشبع منه العلماء ولايخلق من كثرة الرد ولاتنقضى عجائبه وهوالذى لم تنته الجن

اذاسمعته حتى قالوا اناسمعنا قرأناعجبايهدى الى الرشدفامنابه من قال به صدق ومن عمل به اجرومن حكم به عدل ومن دعااليه هدىٰ الىٰ صراط مستقيم- رواه الترمذى- والدرامى –دي حديث كې قابل دغورخبره داده چه خاص كرد فتنوپه زمانه كې حضرت ﷺ خپل امت ته قرآن كريم په مضبوطى سره دنيولو سخت حكم فرمائيلى دي نوداښكاره ده چه زمونږپه زمانه كې په خپله په اسلام كې نوي نوي گمراه فرقى پيداشوي دي اوفتنى اوفسادونه خوروي ،نوبياداهل السنت هلكانواجينكوته به قرآن كريم تعليم ولى ضروري نه وي،طلب العلم فريضة على كل مسلم ومسلمة، دي حديث كې دعلم دين زده كول هريوباندي فرض شول نوعلم ددين كې ترجمه دقران دهرڅه نه مخكې ده بياحديثونه ،فقه، تفسيرونه، اوعقيدې زده كول هم دلازماتونه دي

دهندوستان دمشهورولويولويوعالمانواقوال

شيخ الاسلام مولاناشاه ولى الله صاحب محدث دهلوى رحمه الله دخپل كتاب فتح الرحمٰن په مقدمه كې فرمائى،،، مرتبه واين كتاب بعدخواندن متن قرآن درسائل مختصرفارسى است،يافهم لسان فارسى بى تكلف دست دهدوتخصيص صبيان اهل حرف (جمع حرفه) وسپاهيان كه توقع استيفاء علوم عربيه ندارند دراول سن تميزاين كتاب رابايشان تعليم بايدكرد- تااول چيزكه درجوف ايشان افتدمعنى كتاب الله باشدسلامت فطرت ازدوست نه ر، دوسخن ملاحده كه بمرقع صوفيه صافيه مستترسده عامل راگمراه مى سازند فريضة نكندواوراجيف (چيزهاى دروغ) معقوليان خام وسخن هودان بى انتظام لوح سينه راملوث نه سازو،ونيزآنانكه بعدانقضائ شطرعمر(نيمه چيزى) توفيق به يابندوتحصيل علوم آليه (مثل نحووصرف) نتواننداين كتاب ايشان رابايدآموخت تادرتلاوت قرآن حلاوت يابندومنفعت آن درحق جمهورمسلمانان متوقع است انشاء الله العظيم امادرحق صبيان ومبتديان خودظاهراست چنانكه گفته اند،، دي مضمون كې شاه صاحب په خصوصيت سره پيشه وروتولومسلمانانوهلكانواوجينكوته بغيردتعليم دصرف اونحوي نه دترجمى دقرآن كريم خودلوپه صفالفظونوكې هدايت كړيدي ،عيان راچه بيان-

اوشيخ الاسلام مولاناشاه عبدالقادرصاحب محدث دهلوي رحمه الله دخپل كتاب موضح القرآن په مقدمه كې فرمائى واوره چه مسلمانانوباندي لازم دي چه خپل رب اوپيژنى اودهغه صفتونه اوپيژنى اودهغه حكم معلوم كړي اودالله دمرضى اودناراضگى تحقيق وكړي چه

دي نه بغیربندګي نه کیږي اوچاچه بندګي اونه کړه هغه بنده نه دي. الله رب العزت پېژندل کیږي په زده کولو سره – سرې بالکل ناپوه پیدا کیږي هرڅه زده کیږي په زده کولو سره اوخودونکی که هرڅومره تقریروکړي دهغې برابرنه شي کیدلی. کوم چه الله ﷻ حضرت ﷺ اوخودل دالله ﷻ په کتاب کې چه کوم هدایت دي هغه په بل کتاب کې نشته اوقران کریم په عربي کې دي اوهندوستانی ته ددې زده کول ګران دي په دی وجه دي عاجزبنده عبدالقادرته خیال راغی چه اوس په هندي ژبه کې دقرآن شریف ترجمه وکړم- اوس ډیرې خبرې معلوم کړه ورومبی داچه دلته ترجمه لفظ په لفظ ضروري نه ده ځکه چه ترکیب دهندي دعربي نه ډیرلرې دي که چرته بعینه هغه ترکیب پاتې شي نوپه معنی به بیاڅوك نه پوهیږي دویم داچه دې ژبې کې رواني نشته بلکه عام هندي ژبه دي دپاره چه عوام پرې بغیرد تکلیف نه پوه شي دریم داچه که هرڅومره دقران معنی دي نه هم اسانه کړم خوبیاهم داستاذنه زده کول لازمي دي ورومبی خومعنی دقرآن بغیرد سند نه معتبرنه دي دویم ربط دکلام مخکې سره اووروستوسره پېژندل اوقطع کلام نه بچ کیدل بغیرداستاذنه نه کیږي – ځکه چه ژبه دقرآن عربي ده عرب هم استاذته محتاج وه مولانا سید صدیق حسن خان صاحب په خپل کتاب ترجمة القرآن په مقدمه کې فرمائی ټول امت باندې داخبره لازم ده چه ځنګه ورومبی خپلو بچوته دقرآن الفاظ ښائي دغه شان ددې خبرې هم اهتمام ولري چه کوم بچي صرف اوپېژنی اواردوژبه وئیلی شي نوهغه ته ورومبی دموضح القرآن سبق ورکړي ،دې دپاره چه هغه دقرآن په لفظي معنی پوه شي – بیاپه څوارلسمه صفحه کې فرمائی معلومه شوه چه دقرآن نازلیدل صرف دلوستلو دپاره نه دي بلکه دې دپاره دي چه داولولي اوددې په مقصد باندې خان پوه کړي داخبره په هرلوستونکی اونه لوستونکی باندې واجب ده – بیاپه صفحه ۱۹ کې فرمائی ډیره دشرم خبره ده چه ټول قرآن کریم دي یادوي ،دژبې په سرباندې یې لولی دطوطی په شان شپه اوورځ یې رټه لګوي خودهغې معنی ورته معلوم نه وي انتهی – ددې عالمانو په ټولو اقوالو کې دصفاواضحه دي چه قرآن کریم دمسلمانانو هلکانو جینکوته خودل بغیرد تعلیم دصرف اونحوي نه لازم دي – ډیره دتعجب خبره ده چه دقرآن ترجمی اوحدیثو اوتفسیرونو ترجمی کومې چه عالمانو تالیف کړیدي هغه په خپله داستاذنه بغیر لوستلو کې ورته دڅه ضرراحتمال نشته خودهغه شئ داستاذ په ذریعه وئیلو کې دضرر ویره کول ډیره دتعجب خبره ده – ددې نه خلاف دعمرداقول دي چه دصرف اونحوي نه بغیردقرآن ترجمه په

مدرسو کې داستاذ په ذریعه زده کونکی ددین اسلام نه ګمراه کیږي اګرکه هغه داهل السنت عالمانو اهتمام دلاندې ولی زده نه کړي پدې وجه اوس مونږعالمانوته ډیرپه ادب سره عرض کوؤ چه دادواړو قولونه دي غورسره وګوري اودلیل سره دجواب ولیکئ بینواتوجروا؟

جواب: ومنه الصدق والصواب :- دقرآن کریم تعلیم هرچادپاره واړه وي که لوي عوام وي که خواص دوي مطلوب اومامورکیدل ښکاره دي اوپه دیکې دترجمی تعلیم هم داخل دي په دی وجه چه دعجمو دترجمی سره هغه تعلق دي کوم چه دعربو اصل سره دي اوعوام عرب چرته ددی تعلیم ته نه دي مستثنی شوي پدې وجه عوام عجم به هم دقرآن دترجمی نه شی مستثنی کیدلی اوروایت لاتعلموهن دسورة یوسف صحت نه دي ثابت شوي. البته که چرته دشاګردکم علمی دوجه نه په دیکې څه مفاسدپیداشی نوپه خپله دهغی مفاسدو بندیز پکاردي اوددې بندیز تدبیرونه اجتهادي اموردي کوم چه په تجارت باندې مبنی دي چه په هغې کې دمصلحینو مشوري هم راتللی شی نودهغی اصول داحقردخیلی تجربی موافق لیکي (۱) تعلیم ورکونکی عالم، پوره اوحکیم عاقل وي چه دترجمی دتقریراودتفسیرپه مضمونونوکې دمخاطب دپوره خیال ساتی (۲) زده کونکی ښه پوه اوتابعداروي ،معجب بالرائی اوخودپسند نه وي چه دتفسیرپه پوه کې غلطی ونکړي اودتفسیربالرائی جرآت اونه کړي (۳) که چرته یومضمون دطالب په پوه کې نه راځي نودیکې دي استاذ هغه ته وصیت وکړي چه ددې ځای ترجمه صرف تبرکاً ولولې یااجمالاً دومره پوه شه اومخکې تفصیل مه کوه- اوشاګرد هم داقبول کړي دغه شان که چرته استاذهم ددغه صفتونو کوم چه ورومبی (۱) کې تیر شول نه ملاوېږي نو هغه دي هم د داسې ځایونو بالکل تقریرنه کوي صرف دعبادت ترجمه دي وکړي – زمونږ په کلو کې ډیرې جینکئ دقرآن کریم ترجمه لولی خودغه شان چه صرف عبارت لولی- نه استاذه دتفسیرتقریرکوي اونه شاګرده دهغی تحقیق –صرف برکت حاصلول اوبی تکلیفه چه اجمالاً څومره په پوه کې راځی دهغی زده کول مقصودوي دي نه وروستوکله چه دامبتدی دتفسیرپه پوهیدوباندې قدرت ولري که څه کتابونو لوستلو سره وي یاڅه نوروم‌علوماتو سره وي یادعالمانو صحبت سره وي نودغه وخت دي دوباره دیو عالم نه سره دتحقیق نه ترجمه ولولی. په یوځل وئیلوباندې دي کفایت نه کوي اودسوال کې یې چه څومره دلیلونه ددی تعلیم دمطلوبیت لیکلی دي قواعدشرعیه سره هغه ټول مقید دي دي شرطونو سره دحضرت شاه عبدالقادرصاحب په کلام کې دبعضوشرطونو په اختلاف دعنوان

تصریح هم ده – دغه شان بغیرد استاذه چه دتراجمو اودتفسیرونو مطالعه کوي هغوي دپاره هم بعض محقیقین دغه شرطونه ضروري ګڼري اوکوم خاي چه داسې استاذه چه ملاؤنه شي هلته دامشوره ورکوي چه وروميې ضروري ددين معلومات حاصل کړه دي دپاره چه دقران دعلوموسره دي مناسبت راشي بیا دمطالعه په وخت کښې چه چرته ذره غوندې شبه هم راشي هلته دفکرنه کارمه اخله بلکه تحقيق وکړه هرکله چه يو محقق عالم ملاؤشي دهغه نه يې حل کړه اوکوم حضرات چه منع کوونکي دي دهغوي منع کول ددې فسادونو په بنیاد دي کوم چه ديکي ليکلي شويدي چه دهغې سبب ددي شرطونو رعايت نه کول دي نودي سره هرچاته بيه ګمان لرل واجب دي اودهغوي اختلاف صرف صوري اختلاف دي اوددي اختلاف موضوع په سبب في الواقع دوارو قولونو کښې څه تناقض نشته – البته قاعده شرعيه داده چه کوم عمل کښې مفاسد غالب وي که چرته هغه غيرمطلوب وي نودنفس عمل نه منع کولی شي اوکه چرته مطلوب وي نودعمل نه منع نه شي کولی بلکه ددې مفاسدبنديز کولی شي په دې وجه دمنع کوونکو په خدمت کښې داقاعده پيش کوم اومشورةً عرض دي چه دتعليم خودي اجازت ورکړي شي اودمفاسدوددبنديدوکوشش وکړي اوکه داطريقه دبنديزدپاره کافي نه وي نوڅه بله مناسب طريقه تجويزکړي والله اعلم – ۲۵ صفرالمظفر ۱۳۳۹هـ (تتمه خامسه ص ۱۷۵)

جوازخواندن کتب دنيبه درمدارس سرکاری

سوال :(۴۶) ماقولکم رحکم الله تعالى :- دی مسئله کښې چه ګورنمنټ مدرسه عاليه سلهټ کښې ديني علوم لکه تفسيربيضاوی ،جلالين شريف ،لکه حديث شريف مشکوة شريف ،لکه فقه هدايه ،شرح الوقايه ،لکه اصول فقه توضيح تلويح ، وغيرها من العلوم الدنيه والعقليه لوستل حرام اوګناه کبيره ده ياجائزدي – اوددی مدرسي طالبانوته څای جائداد ورکول موجب دثواب دي که دعذاب – فقهي کتابونو په حوالی سره چه مونږمقلدينو سره دغه دليل دي بيان کړي عندالله به اجراومومی ؟

جواب : ف دراختار کل مصرفه وال من جهتهم (ای الکفار) يجوزله اقامة الجمع والاعياد والحدوتقليدالقضاة الخ – ج۲ / ص ۸۴۲/ وفي ردالمحتار کتاب القضاء ويجوزتقلدالقضاء من السلطان العادل والجائرولوکافراً ذکره مسکين وغيره الاذاکان يمنعه عن القضاء بالحق فيحرم اه ،ددی روايتونونه معلومه شوه چه ولايت اوقضاء دکافرنه قبلول جائزدي اوعادةً دی منصبونو باندي

مالي امدادلازم دي نودملزوم اجازت دلازم هم اجازت دي اوديکي اوددين په تدريس کښې هيڅ فرق نشته نودغه مدرسوکښې لوستل خودل اوتنخواه وظيفه اخستل ټول جائزدي – اودي مدرسوکښې لوستل داسې دي لکه قاضي متقلد من الکافرته مقدمې ورل اوپه جائدادورکولوکښې خوځه وچه دشبه کيدلی نه شي چه اوانت من المسلم للمسلم- البته که چرته طالبان يامدرس په يوغيرمشروع کارباندي مجبوره کړيشي نوبيا استعانت هم ناجائزه دي- ۵ شعبان/ ۱۳۳۹هـ (تتمه خامسه ص ۱۹۳)

تعويذونه اوعملونه / په اوروکښې دتعويذ

ګولی جوړول اودسمندرپه مهيانوخوړل

سوال :(۴۷) مقدمه کښې دکامیابۍ دپاره چه دالله نوم په کاغذباندي وليکئ اودهغې نه په اوروکښې ګولی جوړي کړي اومهيانوباندي يې اوخوره وي نودا جائزدي يانه ؟

جواب : هرکله چه تعويذخوړل څکل سري دپاره جائزدي دغه شان حيوان ته هم – اوکه چرته اچولو سره شبه دتوهين وي نوقصداً توهين نه دي بلکه تبرک حاصلول مقصود وي پاتي شوه داخبره چه دي عمل لره په مقصودکښې څه دخل شته يانه نوماته دهغې پته نشته والله اعلم – ۱۲ شعبان/ ۱۳۲۲هـ (امداد/ ج۲ / ص ۱۲۳)

په لوښي باندي څه شي ليکودل اوهغه په

حرکت کښې راتلل اودهغې نه واقعي معلومول

سوال :(۴۸) زيد دقرآن ايت ولولی اوپه په لوښي يې دم کوي يوبل کس دغه لوښي نيسي بيا دغه لوښي کښې يوقسم حرکت پيدا کيږي که چرته يو جادوګرپه ده جادوکړي وي نوچرته چه جادووي هلته ځي اوکه چرته په يوه ونه باندي کړي وي نوپه ونه باندي ختل غواړي که چرته دچامال پټ شوي وي نوچرته چه مال دي نوهلته ځي – ددی زيد داعمل جائزدي ياناجائز- که چرته حرام دي نوکوم دليل سره ؟

جواب : داعمل في نفسه جائزدي اوس داکتل پکاردي چه چرته يوناجائزکارطرفته خونه مفضي کيږي يامنفي کيږي که چرته کيږي نودي عارض دوجه نه لغيره ناجائزشو- مثلاً دي عمل سره يوسري غل ګڼړل کوم چه ددي نص نه خلاف دي ولاتقف ماليس لك به علم .څکه چه علم نه مراد

دلیل شرعي دي اوداسې عملونه دلیل شرعي نه دي اوکه چرته یوناجائز کار طرفته نه مفضي کیږي نوبیابالکل جائزدي مثلاً دي عمل په ذریعې سره مال ملاویدل یاجادو ختمیدل - خلاصه داده چه في نفسه جائزدي اوکه چرته مقدمه دحرامو جوړیږي نوبیاجائزنه دي - ۱۹ذي الحجه ۱۳۳۲هـ (امداد ج۲ ص۱۲۹)

عدم جوازتعویذتسخیردرعشق آماره

سوال :(۴۹) دیوصاحب یوهلك سره ډیرسخت تعلق پیداشوي وه - اوس هغه هلك وطن ته لاړواوس هغه صاحب ډیرخفه اوبې قراره دي - ددین اودنیاکارنه پاتې دي اوداوائي چه ځان وژنم اولري ته ده چه داسې وکړي داسې حالت کې دهغه واپس راتلودپاره دعااوتعویذاوعمل جائزدي یانه. هغه وائي اومعتبرسړي دي چه زماډیرپاك اوصفامحبت دي ؟

جواب : داسې محبت کې پټه پلیتي ضرور پرته ده په دي وجه دده امدادناجائزدي بل داچه دیوکس دمصلحت دپاره بل کس پریشانه کول اوکورنه بې کوره کول که چرته محبت پاك هم وګڼي بیاهم ناجائزدي. که چرته پاك محبت دي نومحب ته پکاردي چه محبوب ته لاړشي نه داچامحبوب ځان ته راغواړي که چرته داسړي ددي مصیبت نه دخلاصي کوشش وکړي نوداډیره ضروري خبره ده که هغه چرته داسې کول غواړي نوماسره دي خط اوکتابت وکړي - ۲۵رجب ۱۳۳۲هـ (تتمه ثانیه ص۱۵۴)

په خاوندباندې حرام شیزونه خوړل

اوتابع کیدودپاره پرې جادووغیره کول

سوال :(۵۰) زنان اکثرشوهران خوداغلیظات قسم قسم اشیاء اوجانوران خریدکرده گوشت آنرا همراه طعام وشراب شوهررامی خوراندویقین میکنند که شوهرایشان مطیع وفرمانبردارایشان شوددرهیچ امرخلاف ایشان نکند. مثل خون حیض وگوشت بوم وگوشت کرگس وغیره جانوران حرام، دربن باب حکم شرع چیست وبعضی ازملایان جادوزبان بندي وغیره هم می کنانند ؟

جواب : اولاً خوداین چنین عملیات راگوفي نفسه بطریق مباح باشد بغرض مسخرکردن شوهر فقهاء ممنوع گفته اندوخصوصاً اگرمباح هم نباشد مثل خودانیدن اشیاء محرمه پس حرام درحرام خواهدبود. ومن ثم لعن رسول الله ﷺ اکل الربوا وموکله رواه مسلم وفي ردالمحتارعن

الخانیة امرأة ارادت ان تصنع تعویذالیحبهازوجهاذکرفي الجامع الصغیران ذلك حرام - ج۵ ص۳۵۸ (تتمه اولی ص۳۱۸)

تحقیق جوازوعدم جوازرقم دستک

سوال :(۵۱) سرکاري اودسوداګیرۍ اودجاګیرداری ملازم چاته چه درقم دوصولولواحکام لیکلی کیږي دیته دستك (هغه مهري کاغذچه په هغې کې دحاکم احکام لیکلی شوي وي) وائي په هردستك کې دخوراك په نوم سره ۳ یاڅلورروزانه لیکلی شي نوددادستك پیسواخستل اوخوړل شرعاً جائزدي یانه داخبره هم ده چه دمیاشتي مقرروپیسونه علاوه کرمي چه نوکرلرونکو خوانانوته هره میاشت ورکوي ددستك پیسي مزدورانوته اونوروادارو ته دحکم موافق نوکري کوونکي خوانان پیسي وصولوي ؟

جواب : في الهدایه کتاب احیاء الموت فصل کري الانهارفالاول (ای النهارغیرالمملوك) کریه علی السلطان من بیت المال المسلمین الی قوله فان لم یکن في بیت المال شئ فالامام یجبرالناس علی کریه احیاء لمصلحة العامة اذهم لایقیمونهابانفسهم وفي مثله قال عمر رضی الله عنه لوترکتم لبعتم اولادکم - ج۲ / ص۴۷۱ دی روایت نه معلومه شوه چه کوم مصرفونه دعام مصالحونه دي هغې دپاره بادشاه ته داهل مصالحونه دضرورت په اندازه مال وصولول اودهغې په مصالحوکې لګول جائزدي دبادشاهي انتظامونواصلي غرض دمصالح عامو حفاظت دي دهغې متعلق چه څومره اخراجات کیږي دهغې اندازه دهغې اهل مصالحونه وصولول باصله مشروع دي اودستك هم په دیکې داخلیدیشي چه سپاهي نیابةً وصول کړواوبالاذن یې په اجرت کې قبضه کړو - داخوددستك دبادشاهي رقمونوجواب وه پاتې شوسوداګرو اوجاګیرداروددرقمونودستك هغه خودي کلیه کې داخل نه دي، اوس کتل پکاردي چه ددي سوداګرواوجاګیرداروددي محکومینو سره دکوم ترون معامله شویده که چرته هغه معامله دمعاوضاتونه ده لکه داجاري په شان نوکه چرته شرط یاعرف دستك دي رقم لره درقم اجازدجزودجوړولووه نوبیاخوجائزدي خویه دي شرط چه ټول شرطونه ددي عقد مثلاً داجاري اوموندلي شي چه دهغې نه یوتعین دمقدارهم دي یعنې په ټول کال کې پنځه روپۍ داسې مقررول پکاردي - اوداتعین شرعاً صحیح نه دي چه ترڅورقم نه وي وصول

نوبیاخودري یاڅلورروزانه داصحیح نه دي – اوکه چرته هغه جزونه جوړیږي لکه عقدمعاوضه هم نه وي بیاخوجائزنه دي – ۱۲ربیع الثانی ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه ص ۲۵)

افضلیت ترک رقیه

سوال :(۵۲) ماته په دیکې شك پریوتی دي هغه داچه ناجائزه جادوتوڼري وغیره یاجائزلکه څنګه چه اوس عام رواج دي چه دقرآن کریم ایت سره توڼري کوي اوزه یې مطلق نه کوم نوداخیال زماخراب خونه دي اودالله کلام ګنړم په دي وجه مې حضرت ته ولیکل چه زماعقیده خوخرابه نه ده ؟

جواب : جائزخودي خوغوره دادي چه اونه کړي ستاعقیدهٔ صحیح ده – ۱۲رجب ۱۳۲۵ھ (تتمه خامسه ص ۱۸)

غل راوستلودپاره عملونه

سوال :(۵۳) شاه ولی الله صاحب محدث دهلوی رحمه الله دغل معلومولوترکیب لیکلی دي اودلته بعضی بزرګان داچل کوي چه دغل معلومولودپاره یوایت دچرګی په اګی ولیکی اویاسورۃ یسین یایوبل سورت لولی اویووړوکی هلك باندي اګی ګوري هغه هلك په هغه اګی کې ګوري اووائی چه فلانی سړي فلانی څیزاخستی دي – دی ترکیب سره بعض څیزونه خلقوته ملاؤشوي وي دغل پته لګیدلی ده داسی ترکیب کول شرعاً جائز دي یانه حالانکه یقین یاغالب ګمان پیداکولودپاره داسی کیږي ؟

جواب : نه دي جائز- بلکه دی دپاره دي چه دڅه دغه شان پته لګی دهغی تالاش په شرعی طریقه وکړي خوعوام دحدنه ډیرمخکې خی . ۲۲شوال ۱۳۳۵ھ . برتی سوال تتمه :- داعمل څنګه دي ؟ جواب زماپه نزدبالکل جائزنه دي څکه چه عوام دتالاش کولودحدنه هم ډیرمخکې خی . ۲۲ شوال ۱۳۳۵ھ (تتمه خامسه ص ۳۵)

دتعویذپه ذریعه پیریان سوزول

سوال :(۵۴) که چرته په بچی یاښځی باندي دپیری شك وي نوعاملان پیریان سوزوي آیادا پیریان سوزول جائزدي یانه ؟

جواب : که چرته څه تدبیرسره نه وروستوکیږي نوصحیح دي بهتره وه چه دي تعویذکې داعبارت ولیکی چه که لانه ړي نواوسوزي . جمادی الثانی ۱۳۳۷ھ (تتمه خامسه ص ۱۸۵)

یوي ښځی دپاره تعویذکول چه په نکاح باندي رضاشي

سوال :(۵۵) کندي ښځی ته څه عمل کول اودهغی نه دنکاح خواهش کول جائزدي یانه څه عمل دقران نه لوستل اوپه کندي ښځی خوړل نکاح دپاره جائز دي یانه ؟

جواب : عمل په اعتبارداثرسره دوه قسمه دي یوقسم داچه چاباندي عمل کوي چه هغه تابعداره مغلوب المحبت اومغلوب العقل شی داسی عمل دی مقصوددپاره جائزنه دي کوم چه شرعاً واجب نه وي لکه نکاح دیومعین کس سره کول شرعاً واجب نه دي دي دپاره داسی عمل جائزنه دي دویم قسم داچه چه صرف دمعمول دي طرفته توجه بغیردمغلوبیت نه راشی یابصیرت سره څان دپاره مصلحت تجویزکړي داسی عمل داسی مقصود دپاره جائزدي – دی حکم کې قران اوغیرقران مشترك دي . ۳۰ شعبان ۱۳۴۱ھ (تتمه خامسه ص ۲۴۰)

قران دعمل په طورباندي لوستل جائزدي

سوال :(۵۶) قرآن کریم یانمونځونه یاذکردرزق فراخی دپاره یاحاجت پوره کولودپاره کول جائز دي یانه ؟

جواب : جائزدي لکه څنګه چه حدیث کې دسورۃ واقعی داخاصیت راغلیدی. کوم چه دجواز صریح دلیل دي – ۲ذی قعده ۱۳۴۱ھ (تتمه خامسه ص ۲۴۷)

دیابدوح دحکم تحقیق

سوال :(۵۷) دیابدوح متعلق بعض وائی چه داسریانی ژبه کې دالله نوم دي اوبعض وائی چه دادموکل نوم دي اویاسره لوستل یې هم منع کوي که حضرت ته ددي تحقیق وي په هغی خبرداري راکړي؟

جواب : ماته هیڅ تحقیق نشته اوبغیردتحقیق نه زه ددي لوستل جائزنه ګنړم . (تتمه رابعه ص ۴۱)

تابع کولودپاره عمل یادتعویذحکم

سوال:(۵۸) که چرته ښځه دخپل خاوندتابع کولودپاره څه تدبیر په قرانی ایتونوسره یادعاسره یاڅه بلی طریقی سره وکړي نو جائز دي یانه ؟

جواب: نه دي جائز۔ البته دظلم دفع کولودپاره جائزدي ۔۲رجب/۱۳۲۹ھ،تتمه اولی/ص۱۴۵،

دلی ‹‹خمسة اطفی بها›› تعویذجائزنه دي

سوال:(۵۹) اشرف المواعظ دویمه حصه وعظ الصبرمطبوعه بلالی پریس ساډهوره۔ عبارت دهغی دادي البته بعض تعویذونه هم داسی دي چه هغه دمنع کولوقابل دي دیوطاعون تعویذمشهوردي ‹‹لی خمسة›› پوره شعردي دهغی نه وروستودامضمون دي داهغه پنځومبارکونوموته دي که چرته څه تاویل اونه کړي نوددي مضمون شرك دي اوکه چرته څه تاویل وکړي نودهغی په وسیلی سره داسوال اودعاء ده نوددعاادب دادي چه په نثرکي وي نظم کي دعاڅنګه الخ ۔په نظم کي دعاادب نه خلاف ده یانظم کي دعانه دي کول پکاردي دحضرت صدیق ﷺ دعاپه عربی شعرکي ده اوهغه دمهرپه شکل کي چاپ کړي شوي خرڅیږي کوم چه عربی مناجات دي ؟

جواب: دهغی نه وروستنی عبارت هم لوستل پکاردي چه په هغی کي داظناً شیعه ګانوطرفته منسوب کیدل ذکرشویدي تولوکي کتل پکاردي یویوجزوباندي مراددحکم نه دي ګڼړل پکار۔ نسخه خوتولوجزونوته وئیلی شی اودغه موثروي اګرچه یوجزوزیات قوي نه وي دغه شان دمناجات نظم کیدل ددي منع کوونکی ضعیف دي چه دهغی مانعیت په حدیق ایاك والسجع فی الدعاء کي راغلیدي اوداچه اجزاء سره ملاؤشونوموثرقوي شو۔ اودامشهورمناجات دحضرت صدیق ﷺ نه ثابت نه دي ۔۲۹شوال/۱۳۵۰ھ،النوراص۷جمادی الثانی/۱۵ھ،

نجاست وطهارت / دولایتی صابن داستعمال حکم

سوال:(۶۰) دولایتی صابون استعمالول چه په هغی کي دخنزیردوازګی هم احتمال دي خویقین پري نشته ؟

جواب: غالب احتمال خومعتبردي ددي بچ کیدل واجب دي باقی صرف کمزوري شك معتبرنه دي البته احتیاط بیاهم غوره دي ،۲۷محرم/۱۳۳۲ھ،

دپلیت ځیزنه فائدي اخستوباره کي دڅوعبارتونوتطبیق

سوال:(۶۱) ددي عبارتونه وجه دتطبیق څه ده (۱) اذاتنجس الخبزا والطعام لایجوزان یطعم الصغیرا والمعتوه واواحیوان الماکول اللحم ، عالم یری کتاب الکراهة (۲) لایجوزلاحدان یوکل المجنون المیته بخلاف الهرة وقال اصحابنالایجوزالانتفاع بالمیتة علی وجه ولایطعم الکلاب والجوارح اه عالم یری (۳) لان ماتنجس باختلاط النجاسة به والنجاسة مغلوبة لایباح اکله ویباح الانتفاع به فیماوراء الاکل ۔ شامی فصل البیرتحت قول صاحب الدرالمختار فیطعم للکلاب، وړومبی عبارت نه معلومیږي چه په حیوان ماکول اللحم دی خوروي دریم عبارت عام معلومیږي دنجاست دمغلوبه کیدوقیدیي لګولی نوروخایونوکي یي داقیدنه دي لګولی ددویم عبارت دشروع نه معلومیږي چه پیشوباندي مرداره خوړل جائزدي اوداخري حصه نه یي معلومیږي چه جائزنه دي دشامی عبارت کوم چه ماء مستعمل کي دي په هغی کي یي دنورومقدموخلاف یونوي تقریرکړیدي کوم چه لاندي لیکلی شویدي ، الماءاذاوقعت فیه نجاسة فان تغیر وصفه لم یجزالانتفاع به بحال والاجازکبل الطین سقی الدواب و شامی ماء مستعمل،

جواب: اوبه مطعوم کي دافرق دي چه په اوبوکي دنوروامامانوپه قول باندي ګنجائش شته دامتفق علیه نجس نه دي په دي وجه یي تصریح کړیده فان تغیروصفه لم یجز، څکه چه دي صورت دټولوپه نزددانجس شوي بیادمطعوم په باب کي داتفصیل دي چه یاخوهغه عین نجاست دي لکه میته یامتنجس دي ۔ که چرته په خپله نجاست دي نودي دویم عبارت موافق دهغی نه په هیڅ طریقی سره فائده اخستل صحیح نه دي۔ ق لایطعم الکلاب والجوارح ۔ اوچاچه په پیشوباندي ددی خوړلوته جائزوئیلی دي نویاخودهغی بنیاداختلاف دي نودتطبیق حاجت نشته اویادي قول کي دتاویل وکړیشی چه داسی ځای کي دي واچولی شی چه په خپله پیشودغه شان سپی وغیره راشی اووي خوري په خپله دي دهغوي مخی ته نه کیږدي اوکه چرته هغه متنجس دي نویاخویاغالب النجاست دي یامغلوب النجاست ۔که چرته غالب النجاست دي نوپه قاعدي للاکثرحکم الکل ددی حکم هم په شان دعین نجاست دي لکه څنګه چه ددریم عبارت نه معلومیږي اودبعضوقیدنه لګول یاداختلاف دقولینوپه بنیاددي اویادشهرت په بنیادباندي دي اودبل ځای دعلم تصریح یي نه ده کړي خومراددي اوکه چرته مغلوب النجاست دي نوپه خپله یي خوخوړل جائزنه دي پاتی شوپه بل څه خوړل نوسپوغیره ته جائزدي لکه څنګه چه دریم عبارت

نه معلومیږي او حیوان ماکول په حکم دسرې کې دي – په دې وجه هغه دپاره جائزنه دي لکه څنګه چه وروسته عبارت نه معلومیږي نو د ماوراء اکل نه مراد بعض ماوراء الاکل دي یعنی اطعام دغیر انسان او دغیر حیوان ماکول اللحم – او اکل ته به هم مختص وویلی شی اکل دانسان سره اوس امید دي چه د ټولو عبارت حل شوي وي فقط والله اعلم وعلمه اتم واحکم – ۲ ربیع الثانی ۱۳۳۴ھ امداد ج ۲ ص ۱۷۱.

دخنزیر وغیره او چې پاخانې سره یوځ کړي شوي دڅاورولوښي

سوال :(۴۲) دخنزیر وغیره داو چې پاخانې سره یوځ کړي شوي لوښي استعمالولی شي یا نه

جواب : جزئیه خو مې اونه لیده خو د کلیاتو نه جواز معلومیږي فقط، ۹ صفر المظفر ۱۳۲۸ھ.

دنشه راوستونکې شیز حکم

سوال :(۴۳) نشه کومه چه پان کې اچولی کیږي او خوړلی کیږي دي سره خوله نشه شی او دانګریزي دوائي وي ددې دخوړونکي دا حال وي چه زیږ شیاو بالکل اوچ کرس شی او که وي نه خوري نو یو ساعت هم ورته ارام نه راځي، خبره دې پورې رسی چه ټول جائداد وروپی خرڅ کړي خو خوري بې – او دا وائي چه دي کې نشه نشته ددې خوړل حرام دي یا ګناه؟

جواب : که نشه یکې نه وي نو فی نفسه مباح دي خو ددې وجه نه چه بدن ته نقصان رسوي او کوم نقصانونه چه سوال کې ذکر شویدي پدي وجه منع دي او چرته چه داعوارض نه وي نو مباح دي والله اعلم، ۳ ربیع الثانی ۱۳۲۴ھ امداد ج ۲ ص ۱۸۲.

دولایتي پوري درنګ قسمونه اورنګونه

سوال :(۴۴) فقهاؤ ډیر ځایونو کې پلیت خیزونه دهلاکت پیدا کولو دوجه نه ښکاره ګڼلی دي لکه صابون او کهګل، هغه ځنه چه یکې بوس یو ځای شوي وي، کې چه بوس سخا شوي وي او خوټی ترډې چه درمختار کې بې خوتردې پورې لیکلی دي چه او بو او خاوره کې چه کوم خیزونه ښکاره وي مرکب به دهغې تابع وي – اګرچه صاحب فتح ددې خلاف ته ترجیح ورکړیده خو بهرحال مسئله قابل دګنجائش را اوباسی نو څنګه دي – دڅوتونه زیات ددې حلت نه دي او عموم بلوی ددې مقتضی ده چه ولایتی کیږي چه څومره راځي ټولی به دي رنګ کې رنګ کړي شوي وي د ټولو وینځل او استعمالول او خصوصاً د پخوالي هغه کچه

ځاځکی استعمالول ډیر ګران دي خصوصاً دامام صاحب په مذهب کې ګنجائش هم شته څکه چه اسپرټ دانګورو د شرابو نه شی جوړولی- او دامام محمد ﷺ مذهب اګرچه مفتی به دي خو په دي وجه دی باندي فتوی ورکړي شویده چه خلق تر ینه ځان بچ کړي پدي وجه شرعاً نو صحیح دي او استعمالاً محل دبحث دي – دحدیثونه هم حرمت ثابت دي نه که پلیتوالی باقی دعموم بلوی داحالت دي چه ځان بچ کول ترینه ګران دي تردې چه څرمن کومه چه جلدونو کې لګولی کیږي چه قرآن کریم پورې ترهم محفوظ نه دي پاتی شوي؟

جواب : دفقهاؤ تصریحاتو نه معلومیږي چه دحقیقت بدلیدل مطهر دي خو د وصف بدلیدل مطهر نه دي ردالمحتار ج ۱ ص ۳۲۵/ اوس دیته خو دحقیقت بدلیدل وئیل مشکل معلومیږي بل هو کالدبس لانه عصیر جمد بالطبخ- ردالمحتار ج ۱ / ص ۳۲۵/ او په ددې په صفحه ۳۳۵ کې راځی مایستقطر من وردی الخمر وهو المسمی بالعرقی فی ولایة الروم نجس حرام کسائر اصناف الخمراه، د اسپرټو حال خو دینه معلوم شو اوس پاتی شو نو د درمختار په جزئیه کې خو ډیر کلام دي او صحیح نجاست دي – پاتی شو ضرورت نو د اهله دي چه کله بچ کیدل نه شی کیدلی او دا مفقود دي ردالمحتار صفحه ۳۳۴ کې راځی لو اصابه بلاقصدا خ، یا څه یو ضروري شی ددې نه بغیر نه جوړیږي ردالمحتار صفحه ۳۲۱ کې راځی .بخلاف السرقین اذاجعل فی الطین للطین لاینجس لان فیه ضرورة لانه لایتهیاالابه حلیه، البته داخبره چه دا داشربه منهیه نه نه جوړیږي نو محل دګنجائش دي – که چرته ثابت شی تحقیق وکړي – ۱ ربیع الثانی / ۱۳۳۴ھ امداد ج ۱ ص ۱۰.

سوال دی جواب سره متعلق :- د اسپرټ په نسبت چه څومره د ډاکټرانو نه او د ډاکټري کتابونو نه تحقیق اشو- دغه ده چه دګړي یادا وربشو د شرابو نه جوړیږي بل دا چه دیکې عموم بلوی دڅوتونه هم ډیره زیاته ده – ادنی خبره ده چه دهر تعلیم یافته په جیب کې څه نه څه کاغذونه او خطونه وي – او کوم چه عام طور سره په انګریزی رنګ سره لیکلی شی – او ډاکخانه دښارنوم وي – هغه عموماً په انګریزی رنګ او سیاهی سره وي – بلکه کورنی رنګ او سیاهی هم دولایتي سکارونه تیارولی شی دهغې حال هم دنورو رنګونو په شان دي – کتابونه چه کوم پریس کې چاپ کیږي اوس عموماً ولایتي رنګ سره چاپ کیږي – او اوس خودي پورې پوه ده چه یو چاپ والاهم په کورنی رنګ سره کتاب نه چاپ کوي – دی ټولو نه احتیاط ډیر زیات ګران دي هسی خو دڅوتونه هم احتیاط ممکن دي په مکان باندي پوځ

پلستر باکچه پې کړي نو هغې طرفته برابرتوجه ساتل ممکن دي دځو تو فائده صرف داده چه کوته دي ليوه کړه په هغه خاوره کومه کې چه ځوتې توي نو هغه دچودونه بيابېچ وي ممکن ده چه دغه چودونو کې خاوره واچوي ددې په نسبت درمختار کې راځي لان لا پتهيا الابه. او دا بنکاره خبره ده چه نن صبا رنگ بغير دولايتي پوړي نه نشته غرض چه ليوور کول په دغه ځنه دځوتو باندي ډيره زياته ده او ضرورت دينه په هيڅ طريقې سره کم نه دي - دپليتو برسو په نسبت فقهاؤ تصريح کړيده چه هر کله سخاشي او په خاوره کې ګډ کړيشي نو دحقيقت بدليدل په ګنړلې شي - ددې نه ددې حالت کم نه دي که دي باندي نظر وکړيشي نو ممکن ده - غرض داچه هر صورت کې ددې نسبت آسان معلوميږي -

جواب : دحقيقت بدليدل خو تر او سه پوري زما زړه نه دي منلې - البته ضرورت او عموم بلویٰ واقعې معلوميږي او داشرب منهيه نه دي نه جوړيدل محل دګنجائش نه کيدل مخکې مې هم عرض کړيدي - والله تعالیٰ اعلم (امداد ج۱ ص ۱۱)

درنګ قسمونه او پوړۍ

سوال :(۶۵) نن صبا خلق دمختلف رنګونو کپړي اغوندي او هغه رنګونه کچه وي او بالکل سورهم کوم چه پوخ وي دهغې اغوندل جائز دي يانه ؟

جواب : بنځو دپاره رنګونه ټول جائز دي کچه او پوخ البته پوړي کې قوي شبه دشرابوده که دومره بې او وينځې او به صفا راشي نو پاکيږي فقط، ۱۲ ذي قعده ۱۳۲۵ هـ (امداد ج۲ ص ۱۸۴)

دپوړۍ درنګ حکم

سوال :(٦٦) ولايتي رنګ کوم چه عام طور باندي دزنانو دکپړو رنګولو په کار راځي دهغې په نسبت يقينې طور باندي څه شهادت ددې خبري معلوم نه دي - چه ديکې دڅه دڅه پليت شي ګډ دون شته البته دفتاوی رشيديه نه داپته لګي چه شرابو سره دګډ وډ کيدو وجه نه ناجائزه دي که چرته دکپړي رنګولو نه وروستو او وينځلې شي نو بيا خو ټول رنګ او ځي ددې په نسبت دحضرت څه ارشاد دي - بل څه صورت دجواز شته يانه ؟

جواب : ماسيوا دهغه اشربه اربعه نه کومې چه په فقه کې ذکر دي نوراشربه دشيخينو په نزد پليت نشته او پوړي کې دکومې اشربو اسپرټو چه احتمال دي هغه غالباً دغه اربعونه

غير دي لهذا دشيخينو په نزد ګنجائش شته او که دا سپرټو ګډون هم په خپله شک مندوي نو شريعت کې دشک اعتبار نشته فقط، ۲۹ ذي الحجه / ۱۳۳۰ هـ (حوادث ۱، ۲، ص ۲۳)

سوال :(۶۷) يو مشهور او معتبر عالم فتوىٰ ورکړيده چه دپوړي رنګ کوم چه دکپړي رنګ دپاره يورپ وغيره نه راځي هغه سره دګډوالي دنجاست او سپرټ وغيره نه دعموم بلویٰ په وجه پاک دي په دي وجه چه ولايتي هر قسم وړۍ والا، سوتي، او ريښمي ټولې دي رنګونو سره رنګ کيږي او دي نه احتياط ډير ګران دي، دي مسئله کې چه حضرت والاته څه تحقيق وي نو په بله پاڼه دي مونږته خبر داړۍ راوليږي آيا مونږ عوامو ته دي فتوىٰ باندي عمل کول صحيح دي يانه، جواب چه څومره زر وي دومره به شکرګزاريو؟

جواب : چونکه ضرورت سخت دي دی فتوىٰ باندي عمل صحيح دي خو هغه سړي ته چه چاته ضرورت وي او هغه زما په نزد زنانه دي - ځکه چه سړي په اساني سره دي نه بچ کيديشي اوپدی باندي دعمل کولو دجواز يو بل شرط دي هغه داچه کوم شرابونه چه داسپرټ حاصل شويدي هغه دانګورو او دکهجورو او دميوۀ (مميز) نه وي، ۹ شعبان / ۱۳۳۱ هـ (حوادث ا، ۲، ص ۱۱۱)

وجه فرق جواز استعمال پړيا براۍ زنان وعدم جواز براۍ مردمان

سوال :(۶۸) السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته :- حضرت والا ليکلي دي چه دپوړي درنګ داستعمال ضرورت زنانو ته زيات دي په وجه خاص دهغوی په حق کې عموم بلویٰ ده، زه عرض کوم چه دزنانو او دسړو دواړو يو حالت دي دپوړۍ نه مخکې هم هر قسم رنګونه رنګ کيدل خو په هغې کې دپوړۍ برابر صفائي او ځائسته والي نه وه او اوس هم هغه رنګونه ټول موجود دي اوس هم هغې کې زنانه رنګ کولی شي دپوړۍ په پريښودو کې صرف دهغه صفائي او او ځائستوالي نه حاصليدو تکليف دي، ايا داحرج او تکليف شرعاً موجب دپاکوالي دعموم بلویٰ دوجه نه کيديشي دويم داچه عموم بلویٰ مطهر دنجاست غليظه ده لکه څنګه چه د قصې دمثالونو نه ښکاره ده بيا ددې شرط معنی چه اسپرټ کوم چه دي پوړي کې اچولی شي هغه داشربه اربعونه وي که چرته دعموم بلویٰ دامحل وي نو بيا خو اشربه اربعه هم پاکيدل پکاردي ورنه دغير اشربو اربعه نجاست هم اتفاقي نه دي - بعض عالمان صرف دعدم تيقن اختلاط نجاست دوجه نه دينه پاک وائي، عموم بلویٰ نه مني دحضرت په نزد چه کومه خبره صحيح وي هغه مدلل وليکئ ؟

جواب: مخدومی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته کومی کپړي چه په خپله رنګ کړیشی په هغی کي خو دبل رنګ استعمال ممکن دي خو کومی کپړي چه رنګ کړي شوي راځی په هغی کي بچ کیدل ګران دي او داسی کپړي زنانه ډیري اغوندي په دی وجه دهغوی په حق کي ابتلاء عام ګڼلی شوي او ابتلائی عام تجاسات مختلف فیها ذاتا او قدراً کي موثر دي – په دي وجه یې د غیر اشربه اربعو قید ولګولو ځکه چه غیر اشربه اربعو نجاست مختلف فیها دي په خلاف د اشربه اربعه – چه زمونږ ټول عالمان دهغی په نجاست کي متفق دي او که چرته روایتونه د اختلاف غیر متقین او مظنون دي نو دا هم مبنی د طهارت کیدیشی. ۱۲ شوال ۱۳۳۱ھ (حوادث ۱، ۲، ص ۱۲۲)

دپونړي دپاکوالی اودپلیتی حکم

سوال: (۶۹) ډیري زنانه دپونړئ په رنګ کړوشوؤ جامو کي نمونځ کوي او دا اوریدلی شویدي چه شراب هم په پونړو کي داخلولی شی . ددی اوریدلی شوي خبرباره کي دجناب والاڅه تحقیق دي ایا صحیح یانه که چرته صحیح وي نو دعموم بلوی دوجه نه حکم دجواز دمانځه پري ورکیدیشی یا حکم دفساد او دبطلان دمانځه ؟

جواب: ډیر مشهور دي چه پونړو کي شراب اچولی شی ډیر مشهوروالی سره داګمان پیدا کیږي چه داخبره صحیح ده خو چونکه تحقیق سره دا معلوم شول چه هغه شراب کوموته چه اسپرټ ویلی شی خلاصه چه دکومو شرابو نو ده هغه دهغه اشربو محرمو مذکوره فی کتب الفقهیه نه علاوه دي کوم چه د امام محمد رحمه الله په نزد مطلقاً نجس او حرام دي – او د شیخینو په نزد پاك او نشه کي چه کم وي حلال هم دي په دی وجه عموم بلوی سره دصحت دنمونځ حکم ورکوم خو داحتیاط نه یې خلاف کڼري فقط ، ربیع الاول ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی، ص ۱۴)

ګنجائش رنګ ولایتی مرمبتلاء رابرقاعده شبهة الشبهة

سوال: (۷۰) مونږته د دستاربندي په جلسه کي حضرت حکم کړي وه چه شین پټکی مشتبه دي ځکه چه دیکي د اسپرټو جزود شرابو کیدو احتمال دي په دی وجه داسی کپړو کي دنمونځ کولو نه پرهیز کولی شی اوس دا تپوس کوم چه هغه رنګینه کپړو کي دحضرت څه حکم دي زما په ناقصی خیال کي په دیکي هم هغه خبره ده خو زه ډیر عالمان او نور کسان وینم چه

دیخنی په موسم کي رنګ شوي کرتی او کوټونه اغوندي او نمونځ پکي کوي په خپله خوزه پرهیز کوم خو دحضرت دي باره کي څه عمل دي او خپلو متنسبین ته یې څه حکم دي ؟

جواب: الحمد لله زه پخپله هم ډیر احتیاط کوم رنګ کړي شوي کپړي هم نه استعمالوم خو دیکي ګنجائش شته ځکه چه وړومبی خو دیکي د اسپرټو وجود مشکوك دي بیا د اسپرټ پلیتیدل هم مشکوك دي نو شبهة الشبهة درجه شوه ، ۱۱ رجب ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص ۵۰)

ایضاً

سوال: (۷۱) کله نه چه پته لګیدلی ده چه بعض ولایتی رنګونو کي د اسپرټو شك دي دهغه وخت نه چه کله هم کپړي اغوندم نو طبیعت کي می شك راځی چه چرته داناپاك ته وي حضرت اقدس ارشاد او فرمائی چه ولایتی رنګ دار کپړو کي لکه رنګینی ګرمی کپړي یا رنګ دار یخنی کپړي زنانو دپاره دپوخ رنګ رنګدار قمیصونه وغیره بغیر دوینځلو نه اغوستلو کي او پدیکي دنمونځ کولو څه حرج خو نشته ؟ (۲) حضرت والاداهم ارشاد او فرمائی چه زنانو دپاره ولایتی رنګونو سره ددوپټی رنګولو او دهغی د اغوستلو څه حکم دي ؟

جواب: وړومبی خو په خپله په دی رنګونو کي دنجس جزو شاملید و شبه ده بیا په دي کپړو کي د رنګونو د شاملید و شبه ده نو ددي کپړو په پلیتوالی کي شبهة الشبهة راغله . په دی وجه فتوی سره ګنجائش شته باقي که څوك تقوی اختیار کړي نو ډیره غوره ده اسانه خبره دا ده چه کوم صورت کي بغیر د تکلیف بچ کیدل راتلی شی نو خان د بچ کړیشی او کوم صورت کي چه تکلیف وي نو ګنجائش باندي دي عمل وکړیشی سړو او زنانو کي دا تفصیل قابل دعمل دي او زنانه کچه رنګونو کي کرتی دوپټی رنګ کولو سره بغیر د تکلیف نه بچ کیدیشی . شعبان ۱۳۵۰ھ (النور ص ۴ ربیع الاول ۱۳۵۱ھ)

دخوراک څکاك دحلال او حرام مکروه او مباح څیزونو بیان

دمرغو خوراك دپاره دخوټو اوینی وغیره نه کیږي اخستل

سوال: (۷۲) اگر زید برائ غذائ مرغان خود از سرگین گاؤ وغیره یا خون که در مذبح وقت ذبح گرفته در مقام نمناك می گذارند چند روز در آن کرمها پیدا می شوند آن کرمها را غذائ مرغان می کنند، حکم آن در شریعت چه خواهد شد ، بعض مردمان کدام جائ که دیمك یا مورچها باشند ، در ان جاها مرغان را می گذارند و مرغان تمام مورچها و دیمك ها را چیده می خورند حکم شریعت چیست؟

جواب : فی الهدایة وجواز اصطیاد مالا یؤکل لحمه من الحیوان ومالایؤکل الی قوله لاصیده سبب للانتفاع بجلده اوشعره اوریشه اولاستدفاع شره وکل ذلك مشروع ،ج۲/ص۴۹۹، ازین هویداشد که هردوصورت مسئوله جائزاست لانه من قبیل اصطیادمالایؤکل للانتفاع به وانتفاع الدواب کانتفاع نفسه کماقال تعالیٰ متاعاً لکم ولانعامکم، تتمه اولی/ص۳۱۳،

گرمی اوبه چه دبوتانوپه نوم باندي اومنلی شی دهغی څکل دگرمی په موسم کې اکثرهندوان ځاي په ځای په خلقواوبه څکوي دهغی باره کې مې اوریدلی دي چه هغه اوبه دبوتانوپه نوم باندي په خلقوڅکوي نوددی اوبوڅکل مسلمانانوته جائز دي یانه ؟

جواب : که چرته دایقین وي چه دادبوتانوپه نوم دي نودادمااهل به لغیرالله په حکم کې دي په دی وجه ناجائزه دي .۱۵رمضان المبارك ۱۳۳۲ه ،حوادث ثالثه /ص۱۴۸،

حقه (چیلم ،ګوړاکو) څکل

سوال :(۷۴) حقه څکل څنګه دي ،اودا په اصل کې څه شی دي ؟

جواب : ددی حقی تقریباً دري سوه کاله اوشول چه کافرانوراویستی ده بیابه تولوکې خوره شوه اوپه اصل کې دایو دوائی ده بعض مرضونوکې فائده هم ورکوي اوددی زیاتوالی نقصانی دي- کمایعلم من کتب الطب ، اوس دڅکونکومختلف غرضونه دي مختلف مزاجونه دي مختلف طریقی دي اومختلف خیالونه اومختلف عادتونه دي څوك یې مرض دپاره څښی څوك یې هسی شوق دپاره څښی څوك یې بی احتیاطی سره څوك یې بدګنړي اوڅښی یې چادپاره څه فائده ورکوي چاته نقصانی ده څوك یې اوڅښی نوخوله صفا کړي څوك یې په سخاخوله څښی اوداوائی چه دي سره روژه نه ماتیږي څوك یې ډیره زیاته څښی څوك یې کله کله څښی بعضوته که یوه ګهنټه هم ملاؤنه شی بی آرامه شی بعضوته خوخوورخوپوري هم خیال نه راځی بیاپه تمباکوکې هم بعض قسمونه ډیر تیزاونقصانی دي بعض کم درجه کې دي په چاکې بوي ډیر تیزدي چاکم دي په څه کې نشه یافرق راځی په چاکې نشته څه داسی څیزسره مرکب دي چه هغی سره ددی خباثت کمیږي څه سره مرکب نشته- دغه شان حقه اودحقی په نالوکې هم – دبعضونالو کیږي پاك دي دبعضوناپاك دچامشتبه – دبعضوحقونالی ډیري نرمی اواوږدي دي په هغی کې لږاثرراځی په چاکې زیات راځی بعض ززرتازه کولی شی اوبعضی څوڅوورځوپوري سخاپرتی وي څه عام دي

دهرچاخولی سره لګی لکه دتکیاګانوحقی څه خاص دي – غرض داچه نه ټول څکلووالابرابردي اونه تمباکوان یوشان اونه ټولی حقی اودهغی نلی یوشان ټولی مختلف دي دهریوحکم جداجدادي – نوکه چرته چاپه سخت ضرورت کې دیوسخت مرض دعلاج دپاره داحتیاط په طوریوخل نیم اوڅکله نوڅه جرم نشته- اودضرورت دختمیدونه بغیرشوقیه څکل لکه څنګه چه نن صبارواج دي چه دادمحفل یوخانست دي اوددی خاطراوتواضع پاتی شویده ددی دنه ملاویدوشکایتونه کیږي چه فلانی حقه هم رانه کړه اوپه خولی باندي کیدیشی بدورته وائی اوکیدیشی زړه کې ئې هم ګنړي خوپه ظاهره کې بی باکه هغه څکی اوزړه یې هم نه بندوي اواخرکې نقصان هم ورکوي اوپه خوله کې برابربوي هم راځی اوهروخت خوله کې یې دننه کړي وي اوپه حواسوکې هم ګندګی راځی اوتشبه یې داهل نارسره ده چه دپوزي اوخولی نه یې لوګی راوزي اوپه خپله لوګی اورهم آله دعذاب ده دي سره یوځای وي دي طریقی سره ددی عادت جوړول دوچه دجمع کیدودی امورونه بی شکه بداوسخت مکروه دي بیاددی امورسابقوتفاوت سره کراهت کې هم تفاوت راځی اوبعضی څکلووالاکوم چه ډیراحتیاط کوي اوسخاشوي حقی اوناپاکی نلی ،اوتیزوتمباکوڅکلوڅکلوسره نشه کیږي اودشراب په شان بی هوشی پیږي راځی ددی په حرمت کې خوهیڅ شك نشته – حاصل داچه څه حقه زیاته مکروه ده څه لږه ، څه حرام ،څه دسخت ضرورت دوجه نه یوخل نیم څکل روادي اوددی تقریرباندي ممکن ده تطبیق دعالمانواودفقهاؤداقوالوپه منیځ کې کوم چه مختلف دي ددي په اباحت ، حرامولی اومکروه والی کې بس چاچه کومه موقع لیدلی ده هغه شان یې ونیلی دي بهرحال څکلووالاددی[1] ګناه نه خالی نه دي اوهمیشوالی په ګناه سخته ګناه ده اواکثرداهل کشف اودرینښتنو خوبونو داقوالونه معلوم شول چه ددي څکلووالامحفل نبوي ﷺ نه شی داخلیدلی اوبعضوددی څکونکې په عذاب کې هم لیدلی دي – اعاذناالله منه –چاډیرښه ونیلی دي –

تماکونوشراسینه سیاه است   اګرباورنداری نی ګواه است

هذاماعندی والله تعالیٰ اعلم وعلمه اتم واحکم ،امداد/ص۱۳۹/ج۲،

[1] یعنی په اکثروحالتونوکې نه داچه په ټولوحالتونوکې اوداخبره هم قابل دتحقیق ده چه دیکې چه مزاج کې کوم تغیرراځی اواثردفرق راځی هغه دافیون په شان دي یادتیزومرچوپه شان ۱۲،

دغیرالله په نوم باندي دپریښودلو شوؤ څناورو حکم

سوال :(۷۵) دسائبه، هغه غوښی چه دغیرالله په نوم پریښودلی شوي وي، خوړل حلال دي یا حرام؟ ځکه چه دیکي دمقلدینو اودغیرمقلدینو په مینځ کي اختلاف دي په دی وجه تفصیل سره ولیکئ او تفسیر احمد ملاجیون وګوري اودماجعل الله من بحرة ولاسائبة الخ څه مطلب دي؟

جواب : دیکي تفصیل دي – یو صورت دادي چه یو سړي یو څناور دغیرالله په نوم کړواوپه دي نسبت یې هغه حلال کړو اګرچه دحلالو په وخت پري بسم الله هم ووائی بیاهم حرام دي – په قرآن کریم کي ددی حرمت منصوصی دي – اودفقه کتابونو درمختاروغیره کي تصریحاً ذکردي، دویم صورت دادي چه دغیرالله نوم صرف په تعبیراوعنوان کي دي په نیت کي دهغه نژدیکت اورضاکول مقصودنه دي – لکه څنګه چه حدیث کي دعقیقی په وخت کي داوئیل راغلیدی، هذا عقیقة فلان، دابی شکه حلال دي اوصاحب دتفسیراحمدی دیته حلال وائی په دی وجه دهغه منهیه ددی شاهد ده – دریم صورت دادي چه یو سړي په خراب نیت اوعقیده باندي پریښودو اوحاکم دوخت په څه وجه هغه ونیوؤاوخرخولوآوازیې پري وکړواوچاواخستلواوذبح یې کړوداحلال دي ځکه چه استیلاء موجب دملك ده هرکله چه هغه دروښی سړي ملك پاتی نه شونودهغه خراب نیت قابل داعتبارنه دي څلورم صورت دادي چه یو سړي په خراب اوبدنیت باندي داپریښودلی وه بیل سړي پټ کړواوذبح یې کړوداووؤجونه حرام دي ورومبی دمالك دهغه خراب نیت دوجه نه ځکه چه سائبه جوړیدوسره هغه دملك نه نه خارجیږي دویم دغصب اودغلادوجه نه پنځم صورت دادي چه مالك دخپل خراب نیت نه توبه وکړه اوهغه حیوان یې ذبح کړوداحلال دي ،ارتفاع علة النهی – اودماجعل الله مطلب ددی فعل نفی ده کوم چه دکفاروپه ګمان کي وه یعنی حرمة انتفاع دوجه دتعظیم اواحترام نه ، والله اعلم ،امداد/ج۱/ص۱۴۲،

<u>ایضاً</u>

سوال :(۷۶) څه فرمائی علماء دین اومفتیان شرع متین په دي مسئله کي چه هندوان دخپلو مرویادبوتانوپه نوم غواته داغ ولګوي یابغیرداغ نه یې پریږدي لکه څنګه چه بعض مشرکین دشیخ، سید ،یاپیران پیرپه نوم باندي بیزه یاچرګ پریږدي دغه شان هندوان غوادیره مبارکه ګڼري اوپریږدي یې اوس دداسی غواګانوډیربچی پیداشویدي دی طریقی سره دپریښودلو شوؤ غواګانویادهغی دبچوذبح کول اودهغی غوښه خوړل جائزدي یانه؟

جواب : کوم څناورچه دبوتانوپه نوم باندي پریښودلی شی دهغوی څخه اخستل مقصودنه دي صرف کاراخستلودپاره آزادول یې مقصودوي هغه په مااهل به لغیرالله کي داخل نه دي دیته سائبه وائی – اوددی حرمت ددی وجه نه دي چه داپه ملك دغیرکي ده اودمالك دملك نه خارج نه دي که چرته مالك چاته ددی دذبح کولواوخوړلواجازت ورکړي نوحلال ده – دداسی غواګانوبچی هم دمالك دي نودداسی غواګانواودهغوی داولادخوړل بغیرداجازت دمالك نه حلال نه دي فقط محمد کفایت الله غفرله سنهری مسجددهلی الجواب صحیح علی ماقال مولاناکفایت الله سلمه کتبه اشرف علی عفی عنه ثامن شعبان/۱۳۳۳ھ،تتمه ثالثه/ص۲۱،

دغیرالله په نوم پریښودلی شوي څناوردمرغولونه وروستو

سوال :(۷۷) کوم څناوریاشرینی وغیره چه هندوانودخپلوبوتانوپه نوم باندي مقرروي که چرته ددستورموافق منجوریادهندوانومشرپه دی قبضه وکړي اوخرڅ یې کړي نوددی اخستل اوخوړل یابله څه فائده ترینه اخستل جائزدي؟ مالك دطرفه منجوریادهندوانومشرته دهرقسم تصرف اجازت خوحاصل دي للعرف والعادة خوکتل داپکاردي چه علت دحرمت یعنی دغیرالله په نوم کیدل دمنجوروغیره دي قبضی اوتصرف سره ختمیدلی شی یانه؟

جواب : نه ختمیږي بلکه دلره مالك جوړولوسره چونکه ددی فاسدنیت تدارك داسی محل کي دمالك دقدرت نه خارج شو،په دی وجه دی محل کي ددی نیت اثرپوره طریقی سره مضبوط شواوس ددی دختمیدوداصورت دي چه دامنجورداواپس کړي اوبیاهغه ددی نیت نه توبه وکړي بیاخوبه یې ده چه خپل ملکیت کي یې ساتی یادبل چایه ملکیت کي یې کړخوي داجزئیه اوته لبدله خودقواعدونه داسی معلومیږي ،۱۷رمضان المبارك/۱۳۳۲ھ،حوادث ثالثه/ص۱۵۰،

دکافردکورپخه کړي شوي غوښه

سوال :(۷۸) زه دهندوانویومشرسره ملازم یم خوراك هم دهغوی دکوره راځی غوښه دهغوي په کور کي پخیږي خودهغی باره کي زماشك دي غوښه خویاهغوی دبنار نه راغواړي یاپه ماباندي بیزه حلالوي زماپه خیال کله چه هم غوښه پخیږي هغه زمادلاس ذبح کړي شوي پخیږي خوچونکه هغه غوښه دنظرنه پټیږي اوپه کورکي دننه پخولی شی په دی وجه زه نه خورم بعض خلق وائی چه دهغوی داوینا چه دهغی غوښی نه ده دیانت کي داخل نه دي

اودهغې خوراك جائزدي پوخ کړي شوي خوراك ورکولو په وخت هغوي هيڅ هم نه وائي که تپوس ترينه وکړي بياهم وائي چه ستاذبح کړي شوي غوښه ده ، يا ددې په شان بله څه خبره کوي بهرحال ماته څه کول پکاردي آياغالب گمان باندې يې خوراك پکاردي څکه چه معلوميږي چه زمادلاس ذبح کړي شوي پخولي شي اوهغه موټرته راوباسي قاضي خان وغيره خوداشبهات ختم کريدي يعنې که هغوی اووائي چه داغوښه دهغې نه ده نودامعامله ده اوکه اووائي چه ستايادچادمسلمان دلاس ذبيحه ده نوديانت دي خوماته تراوسه اطمينان نه دي راغلی پدې وجه تفصيلي جواب راکړي ؟

جواب : في الدرالمختارويقبل قول كافرولم مجوسياً قال اشتريت اللحم من كتابي فيحل اوقال اشتريته من مجوسي فيحرم ولايرده بقول الواحدواصله ان خبرالكافرمقبول بالاجماع في المعاملات لافي الديانات، نودکاداويناچه دادهغې ذبيحې غوښه ده دادهغه دياناتومتعلقه ص اوحرمت دي په دې وجه ددې برنو روايتونو مطابق دهغه قول مقبول نه دي لکه څنګه چه ښکاره ده .قلت هذاهوالقول المشهوروفيه سلامة العوام لكن فانت فيه دقيقه ذمي ان هذاذالم يقم علىٰ كونه ذبيحة للمسلم دليل الاقوال الكافر فيصح فيه الحكم امااذاحفت به قرائن قوية تفيدالطمانية بكونه هوفهوحلال بلاتلعثم لان العلم في هذه الصورة يكون بالدليل غيرقول الكافرنظيره ماورده في الاحاديث ان بعض من صلى مع النبي ﷺ لماحولت القبلة شهدقباء وقت الفجروشهدان القبلة تحولت فتحولوات عن اخرهم مع ان خبرا الواحدظني والقبلة السابقة كانت قطعية فكيف دأوالظني معارضاً للقطعي فذلك الذي ذكرت هوالوجه في هذاالحديث فان اكلتم في الصورة المسئولة لاباس به بشرط شهادة القلب انه هوفقط والله اعلم (امدادج۲صـ۱۴۷)

ملرم ايره حلاله ده

سوال :(۷۹)دايره کړي شوي لرم استعمال په خوراك کې جائزدي يانه هرکله چه هغه وسوزي اوايره شي نودماهيت بدليدوپه وجه جائزکيدل پکاردي، كالخمرا المخلل وغيرها؛

جواب : جائزدي لماذكرفي السوال فقط والله اعلم ۱۸ ربيع الاول/ ۱۳۲۱ هـ (امداد/ ج ۲/ ص ۱۵۰)

چه يو څناورسره بدکاري وکړي شي د هغې حکم

سوال :(۸۰) شخصى باگاؤميش حامله قيمتى تخميناً صدروپيه زناکردآن گاؤميش راچه کرده شود ، اگرچارپايه ديگرى باشدوانزال نه کرده است که اوراسيرکردن آن چارپايه راچه کرده شود حکم کشتن وبعدکشتن سوختن بعلت عاروحمل ميدهندوجائ که اين هردوعلت نباشدحکم چيست وجائ که باشندومالك چارپايه نه کشدبرائ شيرنوشى داردگنگارسته يانى ؟

جواب : في الدرالمختارولايحدبوطى بهيمة بل يعزروتذبح ثم تحرق ويكره الانتفاع بهاحية وميتة مجتبى وفي النهرالظاهرانه يطالب ندباه في الشامية قوله وتذبح ثم تقطع اى تقطع امتدادالتحديث به كلمارؤيت وليس بواجب كمافي الهداية وغيرهاوهذا اذاكانت ممالايوكل فان كانت توكل جاز اكلهاعنده وقال تحرق ايضاً فان كانت الدابة لغيرالوطى يطالب صاحبهاان يدفعهاالى الواطى ليس على طريق الجبرا اه ، ازين روايت ظاهرگشت که اين ذبح واحراق على سبيل الوجب نيست واخذمال کسى بلاطيب خاطراديااتلاف اوبلارضايش حرام است ورتکاب حرام براى اقامت مندوب ظاهراست که ناجائزست وهم ظاهرشدکه عندالامام اكل اووشرب لبن اوهمه جائزبلاکراهت هست پس درصورت مسئوله ازشان بهيمه چيزى تعرض نه کرده شودچون مالك اوگواره نمى کند- ۱۱رجب/ ۱۳۲۱هـ (امداد/ ج۲/ صـ ۱۵۴)

دخوراک په څيزونوکې چه چينجي وشي دهغې حکم

سوال :(۸۱) څه فرمائي علماء دين اومفتيان شرع متين په دې مسئله کې چه په کومه غله يااوروکې چه چينجي پيداشي دهغې خوړل ياپه انخرکې گونګټي پيداشي ياپه څه شربت يابل ترخيزکې ميږي اوغورزيږي اومړه شي خوددې خوړل څکل شرعاً حلال دي يانه ؟

جواب : چه داوباسي بيا ددې خوړل څکل حلال دي ، ۱جمادی الاول۱۳۲۲هـ (امداد/ ج۲/ صـ۱۵۸)

ايضاً

سوال :(۸۲) سرکه يادانخرپه شان ميوى کې چه چينجي پيداشي دهغې چينجوخوړل جائز دي يانه؟ داديرى په سرکه کې اوغورزيږي ګډوډشي بياترينه خان بچ کول ممکن نه وي ؟

جواب : في الشامى عن الطحطاوى ويوخذمنه ان اكل الجبن اوالخل اوالثمار كالنبق بدودة لايجوزان نفخ فيه الروح اه جلد ۵ صفحه ۲۹۹ ، دينه معلومه شوه چه دداسې چينجو خوړل

جائزنه دي اوكوم چه گډوډ شول هغه دضرورت دوجه نه معاف دي كماقالو الاترح نجره حمام وعصفورمع حرمة تناولهما - ۲۷ذي الحجه ۱۳۲۲هـ امداد ج۲ ص ۱۷۰

يو مهي چه دډيرې گرمۍ نه مړشي دهغې حکم

سوال :(۸۳) لړواوبوكې چه مهيان دګرمۍ نه مړه شي دهغوی خوړل څنګه دي ؟

جواب : جائزدي والله اعلم ،۱۷ربيع الاول ۱۳۲۲هـ امداد ج۲ ص ۱۷۰

ایضاً

سوال :(۸۴) اوبوكې دننه كه چرته دګرمۍ يادبيمارۍ دوجه نه مهيان مړه شي نودهغوی خوړل څنګه دي ؟

جواب : في الدرالمختارمامات بحرالماء الخ، دينه معلومه شوه چه دګرمۍ ددهوپ دوجه نه چه مړه شي نودهغوی خوړل جائزدي خوداڅنګه معلوم شول چه دادبيمارۍ نه مړه شول ، ۹صفرالمظفر ۱۳۳۰هـ تتمه اولیٰ ص ۱۴۲

دډيروګلاسونواوبوڅکلوپه صورت کې هويوګلاس په درې ساګانو څکل

سوال :(۸۵) كه يوسړي دومره زيات تږی دي چه هغه درې څلورګلاسه اوبه اوڅښې نوده له هريوګلاس په ريو ساګانو څکل پکاردي يادغه درې ګلاسه چه ده يوبل پسې اوڅکل ددرې ساګانوپه حکم کې به ګڼرلی شي ؟

جواب : هريوګلاس دي په دريوساګانواوڅښکې څکه كيديشي چه دويم ګلاس څکلوکې لږه فاصله راشي نوداتول بياخوخله څکل شول اوساه اخستل خوديوځل په اوبوڅکلوکې دي ، تتمه اولیٰ ص ۳۰۲

دجهينګامهی حکم

سوال :(۸۶) دجهينګامهی باره کې مشهوردي چه داحلال دي خوماته په ديكې ترددي غالباً حضرت ته به پته وي چه داخاوركه چرته حلال دي نوولې دحنفيانوپه نزدسمندري خناوروکې دمهی نه علاوه بل شی حلال نشته صرف نوم کې دمهی اطلاق خوسبب دحلت نه دي اوپه خواصوکې تغايردي څکه چه دهغې خپې وي اومړئ يې کټ کړي شوي نه وي نوداچه مهی کې

داخل ګڼرلی شي نوولې ؟ په شامي عالمګيری کې خوملاؤنه شوه ، په حماديه کې يې اختلاف نقل کړيدي کوم قول چه دحضرت په نزدمحقق وي هغه وليکئ چه داشك ختم شي ؟

جواب : په دې باندې خودټولواتفاق دي چه مهی بجميع انواعه حلال دي ،اوس صرف شبه ديکې ده چه دامهی دي يانه - نودمهی څه خاص لوازم خوپه څه دليل سره نه دي ثابت شوي چه دهغې په انتفاء سره سمکيت منتفی شي - اوس مدارصرف دکتونکوپوهی پورې پاتی دي اوکه کتونکوکې اختلاف وي نوحکم به هم اختلاف وي په دې وجه جريت کې امام محمد ﷺ مخالف دي کمانقله الشامی دی وخت کې ماسره دحيات الحيوان دميری ﷺ کوم چه دخناورحيواناتوپه ماهياتوباندې بحث کوي موجوددي په هغې کې تصريح ده الروبياهوسمك صغيرجدا - اوددې دمقبول نه کيدوڅه وجه نشته نودامقتضی دحلت دي مخزن کوم چه ددوايانودماهياتونه بحث کوي په هغې کې اګرچه دې لره دمهی نه تعبيرکول حجت نه دي مخکې ديته حلال ونيل صفاقرينه ده چه ده دادمهی په ماهيت کې داخل کړيدي نودې سره نورهم تائيدوشوبهرحال احقرخوداوخت ددې دمهی کيدوبالکل اطمينان دي ولعل الله يحدث بعد ذالك امرا ، والله اعلم ، ۱۱ذي قعده ۱۳۲۴هـ امداد ص ۱۷۷ ج۲

ایضاً

سوال :(۸۷) دلړې خوړل خومکروه قسم دي اودجينهګامهی کوم چه دلته اومدارس کې ډيرخوړلی شي څه حکم لري ؟

جواب : فقهاؤ لړی په منزلـه دغوبنې ليکلی دي كمافي ردالمحتار ج ص ۲۰۹ س ۱۰ اودرمختارکې يې تولوقسمونودمهی ته حلال وئيلی دي اومهی کيدل دادکتونکوپه خبرباندې دي اوجهينګامهی ته يې په حيات الحيوان کې مهی ليکلی دي په دې وجه لړی اوجهينګامهی دواړه حلال دي - اوپه جهينګالفظ سره شبه مه کوي څنګه چه دماء ماهی حلت مصرح دي اولفظ ماء سره په هغې کې شبه نه ده شوي ،۹رجب ۱۳۳۳هـ تتمه ثالثه ص ۵۰

اوچ مهی خوړل

سوال :(۸۸) دکوم مهی نه چه کولمی اوګندوغيره نه وي لرکړي شوي اوهغه سره دمعدی اوچ کړيشی نودهغې خوړل صحيح دي يانه ؟

جواب: هغه خيري كړي اودي وينځي چه پاك شي وينځلو سره نوبيائي خوړل صحيح دي فقط
(۸ محرم/ ۱۳۲۲ھ، تتمه اولی/ ص ۱۴۰)

دلړي حلت اودانګرد چينجو حرمت

سوال: (۸۹) يووكيل دي چه دهغه څه اسلامي خيال هم دي اګرچه بدعت ته مائل دي هغه په بهشتي زيوركي څه شكونه پيدكړل اووي خودل بهشتي زيوردريمه حصه كي چه كومي مسئلي په عنوان دحلال اوحرام څيزونوپه بيان ليكلي شويدي - په هغې كې يې لړي حلال ليكلي دي اودانګروچينجوته يې حرام وئيلي دي اوپه آئينه كې مخ كتل جائز- دی دريواړومسئلوكي هغه فقهي روايت غواړي!

جواب: دلړي حلت ځكه دي چه په ديكې څه وجه دحرمت نشته فقهاؤ حرام څيزونه شماركړيدي دادهغې نه علاوه دي داشمارددرمختارپه مسائل شتى كې ذكردي - والغدة الخصية المثانة والمرارة والدم المسفوح والذكراه ، اودانګرد چينجووغيره عدم جواز ردالمحتار ج۵ ص ۲۹۹/ س ۱۰ كې ذكردي قال ويوخذان اكل الجبن اوالخل اوالثمار كالنبق بدودة لايجوزان نفخ فيه الروح ،اودائينې مسئله خوبالكل ښكاره ده چه دسپينوزروآئينه استعمالول حرام دي اوپه هغې كې مخ كتل ديكې داخل دي ،(۱۷ جمادی الثانی/ ۱۳۲۷ھ، تتمه اولی/ ص ۱۴۲)

شاه جهان پوري چينى خوړل

سوال: (۹۰) شاه جهان پوري چينى چه هغې ته دمورسس چينى وغيره هم وائي يعني ټكري ټكري چينى وي بعض خلق وائي چه دادهډوكې نه صفاكولى شي نودادهډوكې نه صفاكولى شي يانه اوددې استعمالول جائزدي يانه ؟

جواب: تحقيق سره معلوم شول چه هډوكى سوزوي نوبس هغه ښكاره وي په دې وجه ددې داستعمال په جوازكې څه شك نشته ،(۱۸ شعبان/ ۱۳۲۷ھ، تتمه اولی/ ص ۱۴۳)

په كوم ځناورچه دخنزيرغوښه خوړلى شوي وي دهغې حكم

سوال: (۹۱) يوسړي دخرب والى دوجه نه په خپل اوښ دخنزيرغوښه خوړلى وه اوس كه دااوښ ذبح كړي نودده داغوښه خوړل جائزدي يانه ؟

جواب: دداسې اوښ غوښه حلال ده خودذبح كولونه مخكې دبعضې عالمانوپه نزدواجب دي چه ده ته څورځې حلال خوراك وركړيشي دهغه نه وروستوداذبح كړيشي كذافى الدرالمختار وردالمحتار، ج۵ / ص ۳۳۴/ عبارتهما كماحل اكل جدى غذى الى قوله الز وقوله لان لحمه الى قوله والا لا، يوم بقرعيد۱۳۲۷ھ، تتمه اولی/ ص ۱۴۳)

دچميار(موچی) دكورغوړي وغيره خوړل

سوال: (۹۲) څه فرمائي علماء دين په دې مسئله كې چه زيددجومات امام دچميار دكور غوړي په پيسوواخستل اووي خوړل اوكوچ هم كوم چه هغه وخت هغوي خپل لوښى كې راغوختى وه وي خوړل بيابې عوامو ته فتوىٰ وركړه چه بې شكه اخلى اوخوري دصحيح دي هركله په مونږ دهندوانودكورونونه اودهغوي ددوكانونونه خورونو دچميارانو دكورونو هغه ځكه ناجائزه شوه ځكه چه دوي كافردي داسې هغوي هم كافرپدي وجه دده په وينا سره بعض خلقودهغوى دكورغوړي اوخوړل بلكه هغه وائي چه كه دچميارښځه كه سوتره وي نودهغې دلاس پخه شوي ډوډې هم خوړل جائزدي اوس دې معامله كې دكلي والو لوئ شك پيداشويدي لهذا درخواست دي چه كه دشريعت داسې حكم وي ځكه چه دامام فتوىٰ وركوي نوپه اسلام كې به يوډيرلوئ طوفان پيداشي حسبة الله ددې خبرې ډيرزراوفرمائى اومونږ مطمئن كړي چه دهغې مطابق عمل وكړيشي اوداسې سړي دامامتي قابل دي يانه بينوا توجروا؟

جواب: هغه سړي صحيح والى خونيم ګړي خبره كوي چرته چه دامسئله ده هلته دويمه هم ده دواړوباندې عمل پكاردي اوهغه دويمه مسئله داده چه كوم مباح كاركې بدنامى اوجنګ جوړېږي دهغې نه پرهيزكول ضروري دي اتقوامواضع التهم - اوحديث حطيم دهغې دليل دي ، ۲۲ جمادی الثانی/ ۱۳۳۱ھ، تتمه ثانيه/ ص ۴۲)

حلت مارماهي وګوښت بوكرده وحرمت كرم

سوال: (۹۳) بام مچهي يا ګوشت كه بوكرده باشديا كرم زده باشد خوردن آن درشرح چه حكم دارد؟

جواب: فى ردالمحتار كتاب الذبائح والجريث سمك اسودمارماهي سمك فى صورة الحية وفى ردالمحتار عن الطحطاوى ويوخذمنه ان اكل الجبن اوالخل اوالثمار كالنبق بدودة لايجوز ان نفخ فيه الروح اه ،ج۵/ ص ۲۹۹/ وفى المرقاة على قوله ﷺ فكل مالم ينتن رواه مسلم مانصه قال علماؤناهذامن طريق

الاستحباب والافالثن لاثرلـه فی الحرمة اه ، روایات مذکوره چند فائده بخشید اول انکه بام مچهلی که بفارسی مارماهی گویند وآن سمك باشد بصورت مار حلال ست دوم آنکه گوشت اگر بو کند حلال ست مگر بهتر آنست که نخورند سوم آنکه کرم خوردن حرام ست تا اگر کرم دور کرده گوشت را تناول کنند گو خلاف اولیٰ است مگر حلال است (تتمه اولیٰ/ صـ۳۱۹)

دنصاراؤ تیارکړي شوي خوراك دهغوی په لوښوكي خوړل

سوال :(۹۴) دجناب خه لیکلی شوي نسخی ماسره موجود دي اوس دې وخت کې چه دکوم خیرو تپوس کوو هغه دي سره حل نه شوي لهذا په خدمت کې عرض دي چه دلاندیني امورو باره کې دشریعت مطابق خبر راکړي چه دي ماحول او واقعاتو کې اسلام تر کومه پورې اجازت ورکوي بینوا توجروا؟ (۱) دلته ددی نه خوسړې بچ کیدیشی چه دخنزیر غوښه یا دنصاراؤ ذبیحه یا ددی خناورو څه قسم وازګه استعمال نه کړي خو ددی نه بچ کیدل ګران دي چه دهغوي دلاس تیار شوي څیز هم نه خوري - لهذا دا خبره معلوموؤ چه هغه څیزونه چه په مذهب داسلام کې حلال دي خو هغه نصاراؤ په خپلو لوښو کې پاخه کړي او وي خوري نو داسی ملك کې کوم ځای چه بل انتظام ګران وي دهغوی دخوراك پخ کړي شوي اسلام اجازت دخوراك ورکوي یا نه ؟

جواب : غالب ګمان خو دا دي چه حلال څیزونه چه کوم لوښو کې پخولی شی دپخولو نه مخکې به یې هغه ونیځلی وي نو دغالب ګمان موافق هغه لوښی پاکیږي لهذا دهغوی پاخه کړي شوي څیزونه هم حلال دي البته که چرته دي واقعاتو سره ددی لوښو ناپاك کیدل یقیناً یا په غالب ګمان سره معلوم شی نو بیا یې کې ګنجائش نشته (تتمه خامسه/ صـ۴۱۷)

رساله اسکات المنکر لافات المسکر

پس دحمد او صلوة نه احقرته دجمادی الاخر ۱۳۴۴ هـ میاشت په شروع کې دمشفق مکرم جناب حاجی وجیه الدین ممبر لیجسلیټو (Legeslative) اسمبلی یو خط سره دهغه لیکلی شوي تقریر مسمٰی په بندولو دشراب نوشی راغلو چه په هغی کې یې زمانه هم رائی غوښتی وه - بناً علیه یو مختصر مضمون می ولیکلی وه چه لاندی سره دخط نه نقل شویدي

دخط نقل / دشرابو شکلو بندیز

سوال :(۹۵) مخدومی مکرمی اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
غالباً جناب ته به علم وي چه ددي ناچیز تجویز دشراب څکلو بندیز باره کې اجلاس لیجسلیټیو اسمبلی کې پیش شو دحکومت دسخت مخالفت باوجود هم دلږ غوندي ترمیم نه پس ډیر او سره پاس شویدي خو چونکه دحکومت ارکانو ته دعامی رائی ښکاره کیدل په مروجه طریقو سره تراوسه نه دي شوي په دي وجه اوس دوړومبی ورځی نه ددی ضرورت محسوسولو دوچه نه دنشه اورخیزونو بندولو پشتوني حمایت کوونکی پادري اندرسن دکلکته نه سفر اختیار کړو - او په یو خاص جلسه کې داخبره اوشوه چه ددی تجویز نافذ کولو په خاطر ضرورت دي چه په دهلی کې یو کانفرس په ۲۹ ، ۳۰ ، ۳۱ ، جنوری ۲۴ هـ کې منقعد شی چه په هغی کې دملك لوي لوي او منلي شوي مشران شریك وي تقریرونه وي لیکلی شوي مضمونونه او رسالی خوری شی او دغه شان دحکومت په ارکانو په ثابت شی چه هندوالا په اتفاق سره داغواړي چه دام الخبائث دي وپوره بندیز وکړیشی لکه څنګه چه دي عاجز په خپل قرارداد کې په تفصیل سره مطالبه کړیده او دهغی یو نقل په غرض دمعلومولو بند پروت دي دکانفراس دشرکت دعوت خو به پادری صاحب په خپله لیږي خو بنده دیوی رسالی دخورولو خدمت پخپله ذمه اخستی دي چه په هغی کې به دملك او دمذهب دلویو لویو او منلو شوو حضراتو قیمتی خیالات راجمع کړلی شی پدی وجه درخواست دي چه براه کرم ډیر زرتانیدی مضمون را ولیږي چه رساله دجلسی نه مخکې تیاره شی او خوره شی .

داحقر مضمون

جواب : حامداً ومصلیاً - په دنیا کې چه څومره ضرري کارونه کیږي که هغه دفاعل ذات پورې محدود وي او که نورو ته متعدی کیږي بیا تعدی کیدو په صورت کې برابره خبره ده چه دهغی ضرر عوامو ته رسی یا سلطنت پورې رسی دداسی ټولو افعالو سبب په دوو خبرو کې منحصر دي یو دعقل کمزوري او فرق - دویم دځه نفسانی جذبی قوت او غلبه کوم چه په عقل کې دکمزوري او فرق نه کیدو باوجود هم هغه جذبه په خپل قوت عقل سره مقابله کوي او هغه مغلوب کوي دی مقدمه کې خو دچا حکیم که هغه دیو ملت تابع وي یا نه وي کلام نه شی کیدي او دی مسئلی منلی شوي او اتفاق کړي شوي سره ددی لزوم هم ښکاره دي چه که چرته

دنیاکې داسې یوشی دی چه په هغې کې دادواړه اثره وي یعنی عقل هم ختموي اودشراب اسباب هم راپاروي دهغې په قبیح اوبدګرځیدوکې اوواجب الانسداد کیدوکې هیڅ شبه نه شی کیدي - اوس زه دعوی کوم چه نشه پیدا کونکې څیزونه که دهغې نوم شراب کیخودې شی یاتاړي «دکهجوروېو قسم دي چه دهغې نه داشراب اوزي» یادسیندهی په لقب باندي مشهورکړیشی ټول داسې دي چه دیکې دادواړه اثره شته - په دی وجه لیدلی کتلی شي چه ددی په استعمال سره عقل ختمیږي یاکمزوري کیږي خوضرور- په ښکاره نظر خوصرف دنشې پورې خوعندالتحقیق دنشی ختمیدونه پس هم - کوم خلق چه ددی عادت دي دهغوی دعقل حالت مخکې ددی عادت نه اووروستو ددی دعادت نه وګوره اوبیاني اوتله تاته په خپله معلومیدی شی اوکه چرته علی سبیل التنزل دنشی پاتی کیدو پورې دعقل کمزوري کیدل اومنی نوداسې حالت کې بعض کارونه دعقل دکمزوري دوجه نه داسې صادریږي چه دهغې نقصان ټول عمره پورې وي ددی دبندولودوجوب دپاره داهم کافی دي دغه شان ددی په استعمال سره شهوت اوغضب هم راپاریږي اودټولو مفاسدوسرا اوبنیادهم ددی دواړوقوتونو داعتدال نه وتل دي بس هرکله چه دیکې دادواړه اثره شته نوددی دبندولو په وجوب کې چاته کلام کیدیشی اودلته نه دمذهب اسلام دلوي درجی عقلی خوبی ثابتیږي چه داسې شی یې کوم ام المفاسدوابوالجرائم دي څنګه بلیغ اهتمام سره بند کړیدي اوپه دی بندولو دووطریقو سره خوبی ثابت شوه یوداچه ممانعت یې داسې شی سره وکړي چه دهغې ممانعت فطرت سلیم هم کوي اودصحیح فطرت موافق کیدل دیومذهب دهغې دلوئ درجی خوبی ده «خوهرفطرت صحیح نه وي په دي باندي داسلام منطق کیدل ضروري نه دي کماقیل.

نه انجیرناهرمیوه نه مثل زبیده است هربیوهٔ

دویم داچه تجربی سره ثابت شویدي چه اکثروطبیعتونوکې صرف فلسفه دنفسانی جذباتومقابله نه شی کولی داقوت صرف په مذهب کې امانت کیخودلی شویدي - نواګرچه دنشې نقصان فلسفی دلیلونو سره ثابت دي خواسلام ددی تجربه کاراصول رعایت کړي اومذهب په طوریې داحرام کړیدي دی دپاره چه بالکل بندشی «اوداسې چه دیومذهب عقیدت اوعظمت څوک دزړه نه اوباسي دهغې خوعلاج نشته لکه یوه دوائی اګرچه داکیسر په درجه کې وي خوڅوك یې بالکل استعمال نه کړي نودي سره ددی په خوبی کې څه کمی کیدیشی ، نودویمه خوبی اسلام داسې ثابت شوه - چه ددی حرمت یې مذهب اوګڼړلواوددي

دبندولواحترام یې کوم چه مابره بلیغ ونیلودهغې تفصیل دادي چه دهغې بندولودپاره اسلام دوه عنوانه اختیارکړیدي، یوحاکمانه دویم حکیمانه څکه چه بعض طبیعتونوباندي اتباع غالبه وي په هغوی حکیمانه عنوان زیات اثر کوي په دی وجه سوره مائده کې دي باره کې چه کوم ایتونه دي په هغې کې وړومبی ایت کې حاکمانه عنوان دي ترجمه دهغې داده چه «ای ایمان والوخبره داده چه شراب اودفلانی فلانی څیزونه داټولی ګنده خبري شیطانی کارونه دي پس ددی نه بالکل جدااوسې دی دپاره چه کامیاب شی اودویم ایت کې حکیمانه عنوان دي دهغې ترجمه داده چه شیطان خوداغواړي چه دشرابواودجواري په ذریعه دستاسوپه منیخ کې دشمنی اوزړونوکې بغض پیداکړي «ښکاره ده چه په شرابوڅکلوکې عقل نه پاتی کیږي کنځلی بدرد، فسادپیداکیږي چه هغې سره وروستوهم په طبعیت کې خیري پاتی کیږي» او«شیطان داغواړي چه» چه دالله دیادنه اونمونځ نه «کومه چه دالله دیادتولونه ښه طریقه ده» تاسوبندکړي «په دی وجه داهم ښکاره دي چه په شرابوکې هوش هم په ځای نه وي الخ هرکله چه داسې بدڅیزونه دي» پس «اوبنائی» آیااوس منع کیږي دبیان القرآن نه ترجمه ختمه شوه دی حکیمانه عنوان کې دي فلسفی طرفته اشاره ده کوم چه دتقریرپه شروع کې ذکرده - یعنی اصل عقل یادپوره عقل ختمول اودنفسانی جذبوراپاریدل او مشغولیدل کوم چه دتقریردترجمی نه ښکاره شوه - اوداښکاره خبره ده چه دداسې دوو موثرو عنوانونوجمع کول څومره لوئ بلاغت دي بیابلاغت کې یې دویمه ترقی دااوفرمائیله چه دنقصانونوپه فهرست کې ددووقسمونقصانونوذکراوفرمائیلو - ددنیوی نقصانونوهم اوهغه هم دټولونقصانونوجړ - یعنی خپل منیخ کې جنګ جګړې کول کوم چه دنیوی نقصانونوکې ټولونه لوی نقصان دي په دي وجه دټولواتفاق دي چه دټولوتمدنی اومعاشرتی اوسیاسی نقصانونو اصل الاصول په خپل مینځ کې بی اتفاقی ده - اوددینی نقصان هم یعنی دالله دیادنه اودنمونځ نه محرومی ، چه دهغې عظمت اودطاعات اصل کیدل مذهب والاپیژنی نودي فهرست کې یې دهغې جامع المضارکیدل اوخودل اودجامعیت موجب بلاغت کیدل ښکاره دي دي سره دریم ترقی طرفته هم اشاره نزدي په صراحت سره ده ، دهغې تقریردادي چه نورونصوصوکې دالله دیاد اودنمونځ خاص خاصیتونه ذکردي مثلاً یوایت ارشاددي چه کوم خلق دالله نه ویریږي هرکله چه دوي ته څه خطره دشیطان دطرفنه ، غصه یاڅه بله خبره» راشی نوهغوي «زردالله» په یادکې شروع شی «لکه پناه غوختل

اودعاكول اود الله تعالیٰ عظمت اوعذاب اوثواب یادول، پس فوراً دهغوی سترګی کولاؤشي اوحقيقت به هغوي باندي كولاؤشي چه هغې سره هغه خطره اثرنه كوي، ازبيان القرآن، يعني هغه ګناه دهغوي نه نه كيږي. اومثلاً دویم ایت کې ارشاددي چه دبلی درجې مسلمانان داسې دي چه هركله هغوي څه داسې كاروكړي چه په هغې كې (په بل چاباندي زياتي وي يا څه ګناه وكړي خاص خپل ځان باندي نقصان وكړي نو (فوراً) دالله عظمت اوعذاب) ياد كړي بيا دخپلو ګناهونو معافي غواړي يعني دی طريقي سره كومه چه معافي دپاره مقرر ده – چه نورچاباندي زياتي كولو كې دهغوي حقونو اولونه هم معافي غواړي الی قولی. اوهغه خلق په دی خپل بد) كارباندي هميشوالی نه كوي، ازبيان القرآن – اومثلاً دريم ايت كې راځي چه بې شكه نمونځ (دخپل وضع په اعتبارسره) دبی حيائی نه اوبدو كارونه بندوي (يعني دحال په ژبه وائي چه دكوم معبود ته دومره تعظيم كوي فحشاء اومنكرسره دهغې بې تعظيمی كول ډيرنامناسبه كاردي. ازبيان القران – وروميې ايت كې دالله دياد داخاصيت ذكردي چه كه چرته صحيح طريقې سره يادوي نوبيا دجرمونو صدورنه كيږي، اودويم ايت كې دالله دياد داخاصيت ذكردي چه كه شروع كې دنه يادولو دجه نه صدور اوشي نوورو ستو دصدورنه هم دغه يادددي جرم دتدراك اوبنديدو سبب جوړيږي – اودريم ايت كې دنمونځ خاصيت ذكردي چه كه دنمونځ په حقيقت كې بصيرت سره نظروكړي نوهغه دجرمونو دشروع كيدو اوپاتی كيدونه مانع ګرځي پدی وجه دحضور ﷺ ديو داسې نمونځ ګزارحال چه واوريدو چه غلا به يې هم كوله داارشاد ستنهاه ماتقول رواه احمد وابن حبان والبيهقي كذافی روح المعاني يعني دانمونځ يې ددي عيب نه بند كړي كوم چه تاسو ده كې بنائی دی بنياد باندي دي چه حضور اقدس ﷺ ته په ولی سره معلوم شول چه داسړي په دبصيرت فی الصلوة نه كاروا خلی پدی وجه په داكارپريږدي اوس ذكراونمانځه داخاصيتونه مخ ته كره نودسوره ماندي دايت حاصل داشو. چه ذكر اونمونځ كومه چه دټولو ګناهونو اوفسادونو دصادريدو دپاره تاله ده شراب يواسې شی دي – چه ددی تالی نه يې لرې كوي نوخواه مخواه داچابي شوه دټولو خرابو خلاصه داشوه چه شراب دامادة كمزوري كوي كومه چه دټولو شرونو بندونكې ده دادريسه ترقي شوه اګرچه ظاهراً يې صرف دنمانځه اوذكرنه منع كوي خوپه واسطې ټولو شرونو طرفته لاره ښائی په هغې كې دنيوی مضارهم راغلل اودينی هم نوكوم څيزته چه دماندی په ايت كې يې دينی ضرورنه خودلی دي هغه په

خپل اثرسره ددنيوی نقصانونوهم اثروګرځيدو داخواسلام په ايتونوسره ددی بنديزاوفرمائيلو – اوحديثونوخوپه دي ماده كې بې شماره دي دحديث كتابونوكې راوستلو سره معلوميدی شي چه هغې كې بعض حديثونه دحاجي وجيه الدين صاحب دتقرير كوم چه معنون دي په بندولو دشرابو څكلو كې ذكردي اوكوم عقل ضرورنه چه مااجمالاً ذكره دی تقرير كې لږتفصيلي دي په دی وجه ماپه اجمال باندي اكتفاء وكړه اوس داخپل تقريرددووسوالونوپه جواب باندي ختموم، يوسوال دادي چه مونږه وينو چه بعض خلق شراب څكې خوداسې اعتدال سره چه دهغوی نه څه شرارت نه صادريږي؟ جواب دادي چه ماده خودشرپه هغوی كې موجودده يعنی دعقل كمزورتيا هم (دهغې طرفته دتقريرپه شروع كې هم په ضمن دمشوری موازنې كې اشاره شويده، اودجذباتوراپاريدل هم (كومه چه ليدلی كتلی شي، نودانه صادريدل دشرعارضي دي كوم چه قابل داعتبارنه دي دويم تجربه شويده چه دااعتدال نه پاتي كيږي نوبياشرلازم دي، دريم داچه ده ته به څوك وګوري نوهغه به يې هم اختياركړي اوهلته به اعتدال نه وي اودشرسبب جوړيدل هم شردي نوداوبنا غلطه شوه چه دي سړي نه دشرصدورنه كيږي – دويم سوال دادي چه بعض خلق شراب نه څكي اوشرارتونه كويَ؟ جواب دادي چه هلته نوراسباب دي اوعقل اوشرع دهغې نه هم منع كړي بس مونږ دادعوی كوؤ چه ددی نه سیوابل څه سبب دشرنشته – زمونږه خودادعوای ده چه داهم لوئ سبب دشردي نودنوروسببونو وجودزمونږ دي دعوی ته نقصان نه وركوي – ولنختم الكلام بالحمد الله المنعام والسلام علی سيد الانام – ۱۲جمادی الثانی ۱۳۴۴هـ (تتمه خامسه ص ۴۱۲)

كوم سړي چه دمهی ښكارنه شي كولی هغه ته دمهی خوړلو طريقه

سوال: (۹۶) كوم سړي چه په خپله مهی نه شي نيولی هغه څه رنګ خوړلی شي؟

جواب: نيوونكی دي هغه ته په هديه كې وركړي يادي پرې خرڅ كړي. ۱۵ذی الحجه ۱۳۲۵هـ (امداد ص ۱۴۷ ج۳)

خوراك په مالګه دشروع كولو اوپه مالګه دختمولو دروايت تحقيق

سوال: (۹۷) خوراك په مالګه شروع كولو اوپه مالګه ختمولو باره كې ډيروكتابونو ليكلی دي چه دادخوراك په ادابو اوسنتوكې دي احياء العلوم، كيميائی سعادت. ردالمحتار، فتاوی عالمګيريه، دارالمنتقی عين العلم وغيره كې ددی تصريح موجودده خويوسړي دانه

منى هغه وائى چه څوپورې ددې ثبوت د رسول ﷺ يا د صحابؤ د قول يا د فعل نه نه وي ملاؤ شوى صرف د فقهاؤ حنفيه او د بعض صوفيانو په ليكلو باندي ددې ادب او مستحب كيدل قابل د منلو او د اعتماد نه دي داسى حال كي د عالمانو نه دوه سوالونه دي وړومبى دا چه ددي ويونكى داخبره صحيح ده يانه - په دويم تقرير سره آيا غلطى په خيال او قول كې ددې ويونكى ده او د هغى يې چپ كوونكى او وزره پخوونكى جواب كړي دريم كه چرته د انحضرت ﷺ يا د صحابؤ د قول يا د فعل نه ددې ثبوت د سنيت او د استحباب تاسو چرته ليدلى وي چه مالګه خوراك شروع كول ختمول سنت دي نو هغه وليكى او دده دا شك ختم كړي ؟ بينواتوجروا ؟

جواب : فى احياالعلوم ويبدابالملح ويختم به فى شرحه للزبيدى هكذانقله صاحب القوت وصاحب العوارف قال الاخيرروى عن رسول الله ﷺ انه قال ياعلى ابدا طعامك بالملح واختم بالملح فان الملح شفاء من سبعين داءً منا الجنون والجذام والبرص ووجع البطن ووجع الاضراس وذكره ابن الجوزى فى الموضوعات وسياتى الكلام عليه فى الفصل الاخيراخرجه البيهقى فى الشعب بلفظ القوت الخ وروى ابن الجوزى فى الموضوعات الخ ثم قال لايصح والمتهم عبدالله بن احمد الطائى وابوه فانهمايرويان نسخة من اهل البيت كلهاباطلة اه وفى ذيل اللآلى للسيوطى (رح) الموضوع لايراد الموضوعات من اكل الملح قبل الطعام وبعدالطعام فقدامن من ثلثمائة وستين نوعاً من الداء اهونها الجذام والبرص اه اوس د تيولوعبارتونه معلوميږي چه ددې سړي داخبره صحيح ده اوددي ثبوت چرته مانه دي ليدلى ،بل دي سره په فقهاء اوصوفياؤ باندي باندي اعتراض هم نه شى كيدلى خكه چه لكل فن رجال، او هر فقيه او صوفى د پاره محدث كيدل لازم نه دي البته فقيه د مجتهد د پاره د احكامات په حديثونو باندي خبرداري ضروري دي نو د ادب د مذهب د مجتهد نه هم نه دي نقل شوي په دى وجه په هغوي هم څه شبه نه شى كيدي بل دي سره د مذهب د كتابونو غير معتبر كيدل هم لازم نه راځى خكه چه هغه كتابونه د تدوين مذهب منقول عن المجتهد د پاره وضع شويدي .او دا امور په خپل د مجتهد نه نه دي نقل شوي او دا تول كلام په باره د عدم صحت د روايت مسئول عنها او صحت د قول ددې ويونكى په سوال كي په اعتبار ددي روايت بعينه صريح نقل كړي شوي او موضوع كيدوكي دي ،او په اعتبار دوي قول صحيح في نفسه كيدوكي دي - باقي من وجه موقوفاً صريحاً او مرفوعاً

استنباط په انضمام د بعض قواعد صحيحه سره د روايت اصل او ماخذ ثابت دي . او كه ددى قائل مقصود چرته د فقى او د تصوف د كتابونو د معتبر كيدو نفى وي نو دا قول صحيح نه دي .په دى وجه هغه روايت موقوفاً د حضرت على (رض) نه په دى لفظ سره احياء كي نقل شويدي من ابتداغذاءه بالملح اذهب الله عنه سبعين نوعا من البلاء، او زبيدى د بيهقى نه ددى تخريج كړيدي او څه كلام يې پري نه دي كړي او مرفوعا مقاصد حسنه كي به تخريج ابن ماجه وابويعلى وطبرانى،وقضاعى په روايت د حضرت انس (رض) دا الفاظ راغلى دي سيدادامكم الملح،او اصل مقتضى د سيادت داده چه هغه اول او اخر دوارو محلو كي وي او د ډيرو موقعو باندي تكويناً او تشريعاً ددى اعتبار هم كړي شويدي حضور ﷺ اول الانبياء دي په اعتبار د نور او اخر الانبياء دي په اعتبار د ظهور سره - او په خپله د خوراك نه مخكي او وروستو د الله ذكر راغليدي او د دعا په شروع او ختم دوارو باندي درود شريف مامور به دي - د دغه شان ډير احكامات دي،بس دا ماخذ كيديشى په مالګه باندي د شروع كولو او د ختمولو خو دا د عبادتونو نه دي په دي معنى باندي د استحباب حكم نه شى كولى خو چونكه عادتونه مرضيه للقواعد الشرعيه نه دي بدي وجه مستحب په معنى د محبوب او مرغوب فيه كيدو ويلى شى او ددي نه به معلومه شوي وي چه د دغه قائل مقصود كه چرته بالكل نفى يا د مذهب د كتابونو غير معتبر كيدو دعوى وي نو هغه قول صحيح نه دي ،۹صفر/۱۳۳۳ھ(تتمه ثالثه/ص۱۲)

د سيندهى د اوبو حكم (يو قسم اوبه دي چه نشه ده پكي داوني څڅه راوځي)

سوال :(۹۸) د سيندهى ونى نه چه كومى اوبه را اوزى هغى ته نيرا وائى صبائى كې په هغى كې نشه نه وي څو مره څو مره چه ورځ راخيژي البته په هغى كې تيزى او نشه راځى نو په صبائى كې د طاقت د پاره ددي استعمالول يا هسى شوق د پاره ددي استعمالول جائزدي يانه ؟

جواب : كه چرته نشه پكي نه وي او نه دافعل نورو خلقوته مفضى الى المفسده وي نو جائزدي، ۳۰ ذى قعده/۱۳۳۳ھ(تتمه ثالثه/ص۱۰۸)

د شنوى بيزى يا د غوا شودو حكم

سوال :(۹۹) يوه بيزه چه دى وخت كي د هغى عمرلس مياشتى دي د دوو مياشتونه شوده ورکوي دغه شوده څكل جائزدي يانه بينواتوجروا ؟

جواب: تجربه کارو نه تیوس کول پکار دي چه بیزه کم نه کم په څومره عمر کې بچی راوړي شی دغه عمر نه چه کم کې شوده اوزی هغه شوده نه دي دهغی استعمال جائز نه دي او چه دغه عمر ته اورسی اوبیا شوده ورکړي نو هغه حلال دي، دلیله مافی ردالمحتار تحت قول الدرالمختار ولبن بکر تسع سنین محرم والالامانصه ای وان لم تبلغ تسع سنین فتول هالبن لایحرم جوهره لانهم نصواعلیٰ ان اللبن لایتصورالالمن تتصورمنه الولادة فیحکم بانه لیس لبناً کمالونزل للبکرماء صفرلایثبت من ارضاعه تحریم کماقی شرح الوهبانية ج۲ ص ۲۷۰ ۱۳/۲۷ شعبان ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی ص ۱۴۷)

ایضاً

سوال :(۱۰۰) بعض غواګانی داسی دي چه دهغوی بچی بالکل نه دي شوي (یعنی نه بلاربی شویدي او نه یې خسی پیدا شویدي) خو چه کله یې اولشی نو دتیو نه یې شوده راوځی او بعض غواګانی داسی دي چه یو دوه بچی یې شویدي خو اوس یې بالکل نه کیږي خو چه لشلی شی نو شوده یې دتیو نه راوځی داسی شوده خوړل او څکل بلاکراهت جائز دي یا نه ؟

جواب: فی الدرالمختارهو (ای الرضاع) مص من ثدی ادمية ولوبکراومیتة اوالسنة اھ، دیکښې تصریح ده چه دبچی پیدا کیدو نه مخکښې یا هر کله چه دبچی نه نا امیدی پیداشی دواړو حالتونو کې دتیو نه چه کوم شوده راوځی هغه شرعاً شوده دي دغه شان په څناور کې هم بس دهغی خوړل څکل بغیرد کراهت نه جائز دي ۳ محرم ۱۰ ھ (النور ص ۹ شعبان ۵۰ ھ)

دهندوانو دلاس اوبه یا څه پخ کړي شوي شی خوړل

سوال :(۱۰۱) دهندوانو دلاس اوبه څکل یا څه پوخ کړي شوي شی خوړل صحیح دي یا نه دامام اعظم رحمه الله په نزد که صحیح دي نو کوم صورت کې صحیح دي کافر نجس العین دي یا کم دي ؟

جواب: انسان نجس العین نه دي اګرچه کافر او مشرك وي بعض خلقو ته ددی ایت انما المشرکون نجس فلا یقربوا المسجد الحرام نه شبه کیږي چه مشرك نجس العین دي او په دی وجه ددوي مسجد حرام ته راتلل صحیح نه دي خو انصاف دادي چه دي ایت سره هر ګز په دي مطلب باندي نه شی نیولی کیدی .لفظ دنجس مشترك دي په مابین دنجاست اصل اوعارضی کې ظاهری او باطنی کې حقیقی اوحکمی او خفیفه او غلیظه کې نو بی دلیله یوه معنی معین کول تحکم دي، بلکه لفظ دتولو معنو احتمال لری هر کله چه محتمل شو نو قابل [illegible]لال پاتی نه شو - اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال، بیا بل ځای فرمائی .انما الخمر

والمیسر والانصاب والازلام رجس، نو آیا اوس به انصاب میسر او ازلام ته نجس العین وائی - او مسجد حرام ته دداخلیدو ممانعت څه دنجس العین دوجه نه دي که چرته داوجه وی نو بیا د مسجد حرام تخصیص ولی وه تولو جوماتونو ته به یې داسی فرمائیلی وه بس خاص دمسجد حرام حکم بیانولو سره دامعلوم شول چه مراد ددی نه دحج او دعمری ممانعت دي کوم چه خاص مسجد حرام سره مخصوص دي او دمشرك جوماتونو ته داخلیدل جائز دي په خپله حضور ﷺ وفد دبنی ثقیف چه مشرکان وه او په جومات کې یې کینول او ثمامه بن اثال چه دشرك چه په حالت کې ګرفتار شوي وه هغه یې دجومات ستنی سره تړلی وه دواړه روایتونه لیکلی شویدي، روی ان النبی ﷺ انزل وفدبنی ثقیف فی المسجدو کانوامشرکین انتهی عنایة شرح هدایة وروی البخاری بعث رسول الله ﷺ خیلاقبل نجدفجاءت برجل من بنی حنیفة یقال له ثمامة بن اثال سیداهل الیمامة فربطوه لساریة من سواری المسجد، جلد اول ،صفحه ۲۷ ،باب دخول المشرك فی المسجد .اوس که چرته مشرك نجس العین وي نو حضرت ﷺ واثی په جومات کې داخلول پریخودل او دغه شان دصحابه رضی الله عنهم او دغه شان تابعینو او تبع تابعین وغیره تعامل هم وه نو معلومه شوه چه مراد دنجس نه په ایت کې نجس العین نه دي بلکه مراد نجس الباطن وخبیث الاعتقاد دي - ځکه چه شرك دزړه پلیتی ده که څنګه چه ایمان دزړه پاکی ده. هر کله چه مراد نجاست باطنی دي نو باطنی نجاست دطهارت ظاهری منافی نه شی کیدي بس څومره احکامات چه طهارت ظاهری سره متعلق دي تول به ثابتیږي دهغه دلاس دباغت او رنګ کړي شوي څرمن پاك ده یا هغه په چاو به او څښکی یا احتیاط سره څه خوراك پوخ کړي او به چاو خوروي خوراك څکاك جائز او حلال دي. هن که چرته څوك داو ګنړي چه هندوان سره ددي نه چه باطل پرست دي زمونږ نه چه اهل حق یو مونږ ذلیله او پلیت ګنړی او پرهیز کوي نو دهغې وجه مونږ هم دهغوی نه پرهیز کوو- اوس دا احتیاط ښه دي دی کې څه باك نشته ځکه چه الحق یعلو ولا یعلی وجزاء سیئة سیئة مثلها والله اعلم وعلمه اتم واحکم (امداد ص ۱۳۸ ج ۲)

دریګ مهی خوړلو حکم

سوال :(۱۰۲) ریګ مهی خوړل جائز دي یا نه طبیبان یو قسم دمهی بیانوی کوم چه دمصر نه راځی؟

جواب: جائز نه دي ځکه دا دهوام الارض نه دی صرف تشبیهاً ورته مهی وئیلی شی فقط والله اعلم (تتمه اولی ص ۱۴۲)

په شرابو کې دزمکې اجزاء ملاویدل یادنشي په حدکې نه راتلل دجواز سبب نه شي جوړیدی

سوال :(۱۰۳) دیوې ولی خیال دې چه شرابو سره بعض دزمکې مالګه وغیره یوځای شي نو دا دسرکې حکم پیداکوي بعض وائي چه دغه ذکرشوې جوهرداخل په دائرې دماخاصرالعقل کې نه دي چه په هغې دشرابو اطلاق وکړیشي آیاداخبره به صحیح منلی کیدیشي یانه ؟

جواب : اجزاء دخمرپه حکم دخمرکې دي نوداشرابدي کماصرحوا ،پدی وجه بل عذرصحیح نه دي اوکه چرته ددی استحاله کیدی نوخواص به یې هم باقی نه پاتی کیدل – وهی باقیة بس وروسبی عذرهم صحیح نه دي ،۱۰صفرالمظفر/۱۳۳۰ھ،تتمه اولی ص۲۱۳،

دتمباکوخوړلوحکم

سوال :(۱۰۴) ډیرخلق په دې خبره کلك دې چه نن صباچه کوم زیړوالی پان وغیره کې خوړلی شي هغه بغیره کراهت نه جائزدي،ددې څه صورت دجوازبلاکراهت نه معلومیږي تجربې سره معلوم دي چه کوم سړي عادت نه دي هغه که لږغوندې هم دغه زرده اوخوري نونیمې ګهنټی پورې کاله پروت وي،دعادي کس خوراك ته څه اعتباردي که چرته دکل مسکرحرام دقاعدې نه حرمت ثابت دي نوداکلې مسلك دي درجه دحرمت خونه ده خودرجه دکراهت تحریمې خوده اوکه چرته داهم نه وي نودکراهت تنزیهی نه خونه شي وتی ددی په خوراك کې څه فائده نشته یوعمل دي چه اختیاراً پیدکیږي اوهمیشه دمال اوپیسی نقصان کیږي اوزماني جاهلان کوم چه حقه وغیره څکې هغوي دپاره یوزبردست دلیل دي چه هرکله ملیان تمباکوخوري نوکه موټره یې حقه کې واچوواوويږ څکونو څه ګناه ده دعادي کس په نسبت حقه (چلیم ،ګوړاکو) هم مورث دنشې نه شي کیدي لکه څنګه چه زرده خوړونکي اوغیرعادي په نسبت دواړه برابردي مولیان دافرق راوستی شي چه په حقه څکلو کې نورهم ډیرنقصانات شته لکه بدبوداړلوګی چه دنته بدن دپاره نقصاني دي اودایهودوطریقه ده په اسلام کې ددې څه اصل نشته نوجاهلان ونیلی شي،پریږده صرف دبدبوداړلوګی فرق دي په دی وجه حقه څکل خومکروه تحریمی پاتی شوه اوزرده خوړل مکروه تنزیهی پاتی شوه ؟

جواب : بغیره دضرورت نه مکروه خوګڼم اودضرورت په وخت کې خوړل اوڅکل دواړه جائزدي اودضرورت په وخت کې نفس خوړل مکروه نه دي دنوروخارجي عوارضو وجه نه اګرکه کراهت راشي اودعوارضوکمی زیاتی سره دکراهت په کمی زیاتی کې به فرق دي

اوتمباکوکې نشه نشته صرف تیزي پکې ده خوعقل ورسره نه خرابیږي اودغه عوارضو خارجیو په اعتبارسره ددي خوړل اخف دي په نسبت سره څکلوته کماهومشاهد- ۱۲صفر/ ۱۳۳۰ھ،تتمه اولی/ص۱۴۲،

په دریوساګانواوبه څکل اوپه هری ساه باندي بسم الله ونیل

سوال :(۱۰۵) درآب نوشیدن آنچه دراحادیث آمده که بسه کرات نوشیده شودآیادراول هرمرتبه بسم الله ودرآخران الحمدالله گفته شودیانه؟

جواب : نه لان مجموع الثلث عمل واحد - ۸ذی الحجه/۱۳۳۰ھ،تتمه اولی/ص۲۱۲،

اشتهارشکرتری ولایتی

بخدمت همه مسلمانان وهندوان واضح باشد که شکرتري ولایتی ازچقندروشلغم وتاړ خرما تیار می شودوبرائ مقطریعنی صاف کردن اواستخوانهائ ترګاوان وهمه مردارجانوران وخون ترګادان استعمال می کنندبدین وجه برخلاف هندوومسلمان یعنی هردومذهب است ایمان ودهرم راغرق فی کنندنیزدررائ ډکټران وحکیمان مضرصحت ست وبیماری طاعون وهیضه پیدامی کنندعلاوه ازین کردړهاروپیه ازهندوستان،پنجاب،کشمیر،بدیګرممالك میروند مردمان مفلس شده لهذا لتماس ست که جمله صاحبان اهل اسلام وهندوان این ناپاك شکرتری رامطلقاً ترك کنندکه برائ مسلمانان وهندوان (یعنی هردومذهب) واقعی حرام است اګرسلامتی ایمان ودهرم بکاراست شکرتری دیسی بخورندولایتی ترك کنندالمشتهر:خواجه ملك محمدحسن سوداګرکشمیر-

ددی اشتهارمتعلق سوال / دولایتی چینی حکم

سوال :(۱۰۶) دانی داره چینی چه دهغی دصفائی دترکیب په دغه اشتهارکې بیان شویدي آیاپه شریعت کې داحلال اوپاك ده یاپلیت اوحرامه ده - مهربانی وکړي تفصیلی اومدلل جواب راکړي؟ المرسل:- عبدالرحمن ازګولړه شریف ضلع راولپنډي،

جواب : څومره چه تحقیق شویدي هډوکي سوزوي اوهغه استعمالیږي اوسوزولی شوي هډوکي پاك وي دهرڅناورچه وي البته دغوایانووینه کومه چه بهیدونکې ده په نص قطعی سره پلیته ده اوپه کوم شي کې چه داملاؤشي نوهغه هم پلیت کړي،اګرکه څه تدبیرسره تریته

هغه اوويستلې شي خو چيني هغه اجزاء خودي سره پليت شويدي اوپه خپل حال باقي دي کله اوره چه په شرابو کې واغږي اودهغې نه ووږي پخه کړي اګر که شراب په اورکې والوزي خو هغه باريك اونرې نرې اجزاء چه پليت شوي وه باقي دي په دي وجه ددې ډوډي پليتيه ده۔ کمامرحوا فی الکتب الفقهيه والله اعلم خو داجواب په تقدير[1] دثبوت ددې امرکې دې کنې نه ده پليتيه ۲۴ جمادی الثانی ۱۳۳۴ھ امدادج ۱ ص ۱۲ حوادث اول ص ۲۰.

کوم نبيذچه حضورﷺ څکلي وه دهغې تحقيق

سوال :(۱۰۷) زه نن صباد طبقات ابن سعد ترجمه ليکم په هغې کې بعض ځايونه داسې هم دي چه ګرانه معلوميږي مثلاً فتح مکه کې حضرتﷺ سقاية النبيذ دنبيذچه کوم لوښې وه سره تيبذ څکلي وه پياڅه زمانه وروستو ابن عباسؓ ته چاووئيل (کله چه هغه هم نبيذ څکول چه آيا ته ديکې څه بهتري ګنړي نوهغوی جواب ورکړوچه کوم شی چه حضرت رسول اللهﷺ خوښ کړيدي هغه ماته ددنيااومافيهانه زيات غوره دي دبنيذ معنی په لغت کې ماته دخمرشرابو نه علاوه ملاؤنه شوه خو مادي هغی ځاي داتوجيه وکړه چه اياچه په جاهليت کې څه مقام حقيقة دسقاية النبيذ وه اووروستو داسلام نه به ديکې زمزم کيخودي شوي دي خو دهغې نوم به نه وي بدل شوي والله اعلم.

جواب : دلغت په کتابونوکې مجازي معنی هم ليکلی کيږي دبنيذ حقيقي معنی خيساندہ ده په دي باندي محمول کولو سره څوك منع کوونکی شته بلکه څو پوري چه قرينه خلاف نه وي نوراجع دي – باقي مادلغت کتابونوطرفته رجوع نه ده کړي (النور ربيع الاول ۱۳۵۲ھ ص ۸)

داشرابه اربعونه علاوه که بوش په اوروکې

والغزلی شي نودهغې اوروډوډي حکم

سوال :(۱۰۸) دي عاجزپه خپلو سترګوليدلی دي چه يونانيانی مسلمان تاري چه يونشي ولا اوحرام شي دي په اوروکې دخميري دپاره ملاؤکړواودهغې نه يې پوډراويسکټ جوړکړل اوخرخول يې داسې قسم روټي اويسکټ خوړل جائزدي يانه ؟

[1] وروستو بيا حضرت په تحقيق سره ثابته شوه چه په کرمه چيني کې وينه ملاؤولی شي هغه هندوستان ته نه راځي ۱۲ منه

جواب : نه دي جائز- خو چرته ددی نه نه شي بچ کيدی هلته دبعض روايتونوپه بنيادباندي اجازت شته ۱۳ رمضان ۱۳۲۱ھ حوادث اول ص ۱۲۰

په حلال څناورکې حرام اجزاء

سوال :(۱۰۹) کوم څناورچه حلال دي په هغوي کوم څيزونه حرام دي؟

جواب : په څناورکې اوه څيزونه حرام دي (۱) وينه بهيدونکی (۲) ذکر (۳) خصيي (اګې) (۴) شرمګاه (۵) غدود (رسولي) (۶) مثانه (۷) پته (دجګرلاندي وړه تيلئ کومه کې چه صفرا راجمع کيږي) ومايان مايحرم اکله من اجزاء الحيوان سبعة الدم المسفوح والذکروالانثيان والقبل والغدة والمثانة والمرارة کذا فی البدائع عالمګيری ج ۴ ص ۲۰ والله اعلم ۹ ربيع الثانی ۱۳۰۱ھ.

دهديې اودعوت باره کې حکمونه

سوال :(۱۱۰) دلته کې ډيرخلق سود اخلي اوهغه خلق زمکې هم کري دبعضو نيمه امدنی حلال ده اونيمه حرام اودچا نيمې نه زياته حلال ده اودنيمې نه کمه حرام اوبعض ځايونوکې ددي په عکس دهغه خلقوپه کورونوکې پرده هم نشته اودمولود شريف محفلونه هم کوي دداسې خلقو دعوت قبلول صحيح دي يانه خو داسې محفلونوته تلوکې دبعضو خلقو اصلاح هم کيږي؟

جواب : بې پردګي ته اودمولود محفل ته په خاص هيئت سره اوتولو ګناهونوته اوبدعتونوته دمالونه په حلالوالي اوحراموالي کې څه دخل نشته نو دي بنيادباندي دعوت نه قبلول بې اصله دي که چرته نه قبلولو سره قصد درټني اوداصلاح وي نومه قبلوي اوکه په قبلولوکې دزړه مينه اواميد دقبلولو دنعمت وي نوقبلول غوره دي البته دسوګډون ته په حرمت کې اثرشته نوکه چرته نيم زيات سود دي نوټول حرام دي اوکه دنيمې نه کم دي نوحلال دي فقط، والله اعلم امدادج ۲ ص ۱۵۰.

دمړي دکوردعوت خوړل

سوال :(۱۱۱) په وړومبی ورځ دمړي کورو الاچه کوم خوراك پخوي ددي څه سند شرعی صحيح شته يانه حضرتﷺ دمړي دکوروالاخوراك خوړلی دي يانه؟

جواب : فی ردالمحتارعن الفتح ويکره اتخاذالضيافة من الطعام من اهل الميت لانه شرع فی السرور لافی الشرور وهی بدعة مستقبحة روی الامام احمدوابن ماجة باسنادصحيح عن جريربن عبدالله

قال كانعدالاجتماع الى اهل الميت وصنعهم الطعام من النياحة اه– وفى البزازية ويكره اتخاذالطعام فى اليوم الاول والثالث وبعدالاسبوع الخ.ددى روايت خدرثبيه اوفقهيه نه ددي خوراك كراهت ثابتيږي بعض خلق وائي چه حضرتﷺ دمړي دكوروالوخوراك خوړلى دي اواستدلال كي دابوداؤدداحديث پيش كوي،عن رجل من الانصارقال خرجنامع رسول اللهﷺ فى جنازة فرأيت رسول اللهﷺ وهوعلى القبريوصى الحافراوسع من قبل رجليه اوسع من قبل راسه فلمارجع استقبله داعى امرأته فجاء فجئ بالطعام فوضع يده ثم وضع القوم فاكلوا الحديث– ددى دري جوابونه خو په ردالمحتاركي دي– اقول وفيه نظرفانه واقعة حال لا عموم لها مع احتمال سبب خاص على انه بحث فى المنقول فى مذهبنا ومذهب غيرنا كالشافعية والحنابلة استدلا لا بحديث جرير المذكور على الكراهة ولاسيما اذاكان فى الورثة صغارالىٰ اخرماقال واطال. دوړومبى جواب داده چه دايوه خاص واقعه ده كيديشي چه په څه خاص سبب سره حضرتﷺ داخوراك كړي وي دي سره دنهى په دليل كي كوم چه عام څه نقصان لازم نه راځي ددويمه جواب حاصل دادي چه كوم په مذهب متقرراونقل كړي شويدي اوپه خپله مبنى هم دي په صحيح دليل باندي په هغى كي بحث اوشبه راوستل دي كومه چه دمقلدحق نه دي ددريم جواب خلاصه داده چه اوس دمړي خوراك سره ډيرمفاسدرايوځاي شويدي تواوس ددي په اجازت كي دتولومفاسدواجازت لازم راځي نودحديث په مضمون باندي دامنكرامرقياس كول قياس مع الفارق دي اوڅلورم جواب ددي احقرپه نزددادي چه دي حديث كي داخبره چرته هم ذكرشوي نه ده چه داخوراك دمړي دكوروؤاگرچه دمنيه په شرح كي يې دادعوى كړيده، دعته امراة رجل ميت لمارجع من دفنه الخ خودحديث ديوكتاب حواله ضروري ده واذليس فليس پنځم(۱)اب دادي اذاتعارض المحرم والمبيح ترجع المحرم بهرحال څنگه چه دي وخت كي رسم دي هغه بې شكه منع دي اوهغه دشارعﷺ قولاً اوفعلاً نقل شوي نه دي فقط، اول شعبان/۱۳۲۱ه،امداد/ج۲ص۱۵۵،

دداسي خلقودعوت قبلول كوم چه مخكي دحكومت ملازم وه

سوال :(۱۱۲) زه په دوره كي اوسيږم اودخپلى پيشى اومرتبى والوسره خلقوسره مى اكثر ناسته پاسته وي اوبعضوبعضوسره رشته داري هم ده هركله چه زه دوري ته لاړشم اوهغوي

(۱) ددي نه علاوه داخوراك په سبب دمړي نه وه اوكلام په ديكى دي ۱۲منه!

دخوراك وغيره ووائي نوخورم اوهركله چه هغوي زماځاي ته راشي نوهغوي هم خوراك خوري.داتعلق ډيرمخكي نه دي دافسرماتحتى تعلق هم نه دي هغه هم پټرول (دشپې چه كوم كاره گرځي)دي زه هم پټرول يم هغه اوبه خوركوي زه ضعلدارصاحب ته دمقدمى كاغذونه وړاندي كوم ماته مخكي چه كوم صاحب په دي كاروه هغه باندي هيڅاهم خوراك نه خورولوپته نشته چه ماسره ولى دومره محبت كوي چه دسختى بهانى كولونه وروستوهم ماته وائي چه ته به ډوډي نه پخوي خوتولوخلقوته نه بلكه كومو خلقوسره چه يې مخكي نه تعلق دي هغوي داسي كوي اوچونكه هغه خلق ډيرمحبت كوي په دي وجه هغوي ته صفاانكار كولوباندي ماته شرم راځي داخيال راځي چه دهغوي زړه مات نشي اودڅه قسم غيرمحبت شك هم نه كيږي اونه ظاهراً په هغوي څه بوج معلوميږي البته هغوي ته درشوت وغيره مال راځي چه هغه زه بدخوگڼم خودهغوي دمحبت اوزړه ماتيدودوجه نه چپ اوسيږم چه هغوي به خيال وكړي وكړي چه موږه ذليله گڼري لهذاعرض دي چه دي سره په دي غلام څه قسم گناه نه راځي چه دهغى به تپوس كولى شي،اودارشوت خونه دي چرته چه څه بوج اوبى تعلقى كيږي يابوشى زمامخكي مشكوك وي هغه نه خورم بهانه كوم،اوهغه خلق ډيرزيات زورهم نه كوي،

جواب : دي طريقى سره دهغوي په خوراك خوړلوكي څه گناه نشته،دارشوت نه دي البته كه چرته هغوي درشوت نه درباندي خوروي نونرمى سره عذركول پكاردي ۱۵شوال/۱۳۳۲ه،حوادث خامسه/ص۱۷،

سودخوړونكى كه داووائى چه زه په حلال مال

باندي دعوت كوم نودي قول تحري كول پكاردي

سوال :(۱۱۳) دچاچه ډيرمال يابرابرمال حرام وي اوهغه ښكاره كړي چه زه خپل حلال مال سره هديه اوميلمستياكوم نوبغيردڅه شهادت اوتصديق نه دده دابيان به منلى شي يادفسق په بنياد به نه شي منلى؟

جواب : فى الدرالمختارويتحرى فى خبرالفاسق بنجاسة الماء وخبرالمستورثم يعمل بغالب ظنه.ص ۳۰۸ ددى روايت په بنيادكه چرته زړه دده دريښتونوالى گواهى وركړي نوعمل كول جائزدي كنى نه دي جائز،۲۲ربيع الاول/۳۳۴ه،تتمه رابعه/ص۱۹،

دلباس متعلق حکمونه / دګیټو دلاندې پاجامه یا پرتوګ

زوړندول او ددې مسئلې متعلق دشبې دفع کول

سوال:(۱۱٤) زید خیال دي چه لنګ او پرتوګ تحت الکعبین هغه وخت منع دي چه کله دتکبر او خیلاء دوجه نه وي لکه څنګه چه دعربو طریقه وه چه په دې باندې به یې فخر کولو او کله چه دتبکر دوجه نه وي صرف دخائست دپاره داسې وکړي نو جائز دي او خائست صرف یو ذوقي امر دي یو امر یو خوښوي او بل یې نه خوښوي اختلاف دملک داختلاف درواج دوجه نه ډیر فرق راولي څنګه چه نیمې پنډۍ پورې چاجامه او دهغې نه هم بره ډیره بده لګي دغه شان مافوق الکعبین په نسبت دماتحت الکعبین دزمانې والو په نظر کې بدلګي صرف ددې بدلګیدو دوجه نه یې لاندې اغوندي پاتې شو تکبر او فخر نو داده څلور ګوتو زیاتیدو او کمیدو سره هرګزنه شي کیدی، بلکه داد خائست په وجه وي. په دې وجه حدیثونو کې ډیرداقید ذکر دي من اجرازاره خیلاء، وغیره کې خیلاء قید ذکر دي اوکوم حدیثونه چه مطلق دي لکه مااسفل من الکعبین ففی النار وغیره هغه هم دعربو دطریقې موافق دي قید باندې محمول دي او دمطلق په مقید باندې نه حمل کیدل هغه وخت دي چه کله مطلق او مقید دواړه په دوو واقعو باندې راغلي وي لکه کافر قتل او کفار او ظهار او کله چه واقع یوه وي نو دغه وخت دحنیفو داصولو موافق مطلق په مقید باندې حمل کیدیشي لکه کفاره دقسم په قرائت دابن مسعود ﵁ کې متتابعات سره مقید کیدل بل داچه ددې موید هغه حدیث هم دې چه حضرت ﷺ دما اسفل من الکعبین وعید بیان کړو او وې فرمائیل من جرثوبه خیلاء لن ینظر الله الیه یوم القیامه. نو حضرت ابوبکر صدیق ﵁ او فرمائیل چه یارسول الله زما لنګ خوز وړند یږي- الاان اتعاهد نو حضرت ﷺ او فرمائیل انك لست ممن تفعله خیلاء رواه البخاری کذافی المشکوة. بس که چرته مطلقاً جراز ارمنع وي نو حضرت ﷺ به اجازت نه وي ورکړي نو معلومه شوه چه داوعید دخیلاء په صورت کې دي او ددې نه بغیر جائز دي ددې شبې حل غواړو؟

جواب: فی نورالانوار بحث حمل المطلق علی المقید فی حکم واحد مانصه وفی صدقة الفطر وردنصان فی السبب ولامزاحمة فی الاسباب فوجب الجمع بینهایعنی ان ماقلنا انه یحمل المطلق علی المقید فی الحادثة الواحدة والحکم الواحد انما هو اذاوردافی الحکم للتضاد واما اذاوردافی الاسباب والشروط فلامضایقة ولاتضاد فیمکن ان یکون المطلق سببا باطلاقه والمقید سببا بتقییده. او په مانحن فیه کې

حکم معصیت دي او مطلق زوړندول او دخیلاء وجه نه زوړندول دهغې اسباب دي دلته مطلق په مقید باندې دحمل کولو هیڅ وجه نشته بس مطلق جرته به هم حرام وائي او جرلخیلاء ته هم البته دواړو حرمتونو کې که لږ څه فرق او مني نو څه ګنجائش یې شته څکه چه یو ځای دیو منهي عنه ارتکاب دي یعنې دزوړندولو او بل ځای ددوو منهي عنه ارتکاب دي یعنې دزوړندولو او دخیلاء بس داوئیل چه کوم تکه دعربو داطریقه وه چه دفخر دوجه نه یې داسې کول په دې وجه داحرام دي داخیره بې دلیله ده څکه چه خصوص دمورد سره خصوص دحکم لازم نه راځي هرکله چه په الفاظو کې عموم وي ویتفرع علیه کثیر من الاحکام الفقهیه- پاتې شوه قصه دحضرت صدیق ﵁ زما په نزد ددې حدیث معنی داده چه انك لست تفعله بالاختیار والقصد- په دې وجه الاان اتعاهد دهغې دلیل دي چه بغیر دقصد نه داسې کرل او دهغې جواب حضرت ﷺ ورکړیدي پاتې شو دللخیلاء قید دا په دې بنیاد دي چه اکثر چه کوم خلق دافعل په خپل اختیار کوي هغوي دخیلاء دوجه نه کوي نو حدیث کې اطلاق دسبب یعنی فعله بالخیلاء دمسبب یعنی فعل بالاختیار باندې شویدي وهوشائع فی الکلام ای شیوع فقط والله اعلم- ۱۸ ربیع الاول ۱۳۲۱ھ امداد ج۲ ص ۱۵۰،

جواب اشکال برکراهت اسبال بدون خیلاء

سوال: (۱۷۹) که چرته يومکان په ميراث کې حاصل شوي وي اوهغه مورث رشوت اخستې وي اوزميداري وغيره هم کوي خوذانه شي معلوميدي چه په ديکې دکومې آمدنې روپې لګيدلې وي خودومره معلوم دي چه دازميداري رشوت په نسبت زياته وه نوداسې مکان دخپلو اوسيدو ځاى جوړول شرعاً څنګه دي؟

جواب: جائزدي وروسبې خودزميداري زياتيدل په نسبت درشوت ظاهره قرينه ده دزميداري دګټې دغلبې دويم دنه معلوميدو په صورت کې داباحت اصل کيدودوجه نه حلال ته به غالب وئيلې کيږي (۱۲ذي قعده ۱۳۳۳ھ)

نا جائزخشاك سره دپخوشووخکتوبادکرم کروشواوبو استعمال

سوال: (۱۸۰) ددي کلي په جومات کې جاروکش ته داوبوګرمولودپاره اووئيلې شول نوهغه جواب ورکړو چه ماته شپږدري غله ملاويږي زه به اوه دري اخلم، ځکه چه خشاك اوچ وابنه وغيره ډيرپه ګرانه ملاويږي زميندارو ابنه نه راکوي زه په غلاراوړم نوتغ ګزاروه دري غله اومنله اوهغه جاروکش اوچ وابنه خشاك اوغورزولوداسې وبنوسره چه اوبه ګرم

شی په هغه اودس او غسل صحیح دي یانه؟ **دویم** ختنو بتو ولاړ کباري تهیکه د زمیندارنه اخلی شل روپی ورکوي چه شپږمیاشتی یا کال پوري به کباره زمونږ وي او هغه کباره د زمیندار د رعیت د مکانو نو کومی چه د کرونده کوونکو رعیت نه دي بتو والوته ورکوي داسی کباره سره ختنو یخول او خرڅول صحیح دي یانه؟ جواب راته راکړي او داسی ګټه صحیح ده یانه؟

جواب: دا ټول صورتونه جائزنه دي خو دي سره په اوبو او په ختنو کې څه حرمت نه راځی (۸ محرم ۱۳۳۴ھ حوادث رابعه ص ۲)

وارث دپاره درشوت د مال حکم

سوال: (۱۸۱) دزید پلار عمرو پنځوس روپی میاشت باندي یو عیسائی ملك کې نوکر وه خو خرچه یې مکان او جائیداد اخستی وه کوم چه زید ته په میراث کې پاتی زید د کور د خرچونه واقف دي دهغې په بنیاد باندي زید داوئیلی شی چه دا ټول مال د رشوت پیدا کړي شوي دي او که ټول نه وي نو زیات مال خو د رشوت خامخا دي، دي مکان کې او سیدل یا دهغې خرڅول وغیره فائده اخستل زید ته حلال دي یانه که چرته نه وي نو څه وکړي؟

جواب: تکلم علیه فی الدرالمختار فی مواضع قبیل باب زکوٰۃ المال وقبیل باب الفضولی وکتاب الغصب واحکام البیع من الحظر والاباحة وتنقل منها روایة واحدة وهی کالمخلص من جمیعها وهی هذه والحاصل ان علم ارباب الاموال وجب رده علیهم والا فان علم عین الحرام لایحل له ویتصدق به عنه صاحبه وان کان مالا مختلطاً مجتمعاً من الحرام ولایعلم اربابه ولاشیاًمنه بعینه حل له حکما والاحسن دیانة التنزه عنه اھ، دي روایت نه معلومه شوه چه دچا نه یې رشوت اخستی دي که چرته معلوم وي یا څه خاص شی په رشوت کې اخستی شوي بعینه معلوم دي نو بیا خو زید ته فائده اخستل جائزنه دي. کنی دفتوی په دۆ سره حلال دي اګرچه دتقوی خلاف دي. (۱۱ جمادی الاخری ۱۳۲۲ھ امداد ج ۲ ص ۱۲۱)

رشوت خورو سره یو ځای خوراك کول

سوال: (۱۸۲) زید خپلو ورونړو او پلار سره یو ځای اوسی خو داورته معلوم دي چه پلار او دونړه می رشوت اخلی د کور د شرکت په وجه دهری میاشتی په حساب سره زید برابر په

کور کې ورکوي خو دده ګټه او دورونړو د رشوت مال ټول شریك په تصرف کې راځی دا صورت ده ته جائزدي یانه؟

جواب: خلط استهلاك او استهلاك موجب دملك نو که دټولو مال یو ځای او چتیږي نو دا مملوکه شریکه ده فتوی سره جائزدي اګرچه دتقوی خلاف دي او که چرته علی سبیل التعاقب دیو مال جدا خرج کیږي نو د رشوت او چتیدو په وخت زید هم حرام خوري والله اعلم. (۱۲۱ جمادی الاخری ۱۳۲۲ھ امداد ج ۲ ص ۱۲۱)

ایضاً

سوال: (۱۸۳) دیو سړي آمدنی په مختلط وي یعنی سودي کاروبارکوي از مینداري وغیره حلال کاروبار وهم کوي دداسی سړي په کور کې خوراك څکاك کول شرعاً جائزدي یانه برتقریر جوازلم او فرمایی څکه چه ظاهراً خو عدم جوازحج دي حسب قواعداصول اذاجتمع الحلال والحرام فغلب الحرام؟

جواب: په دیکې غالب ته اعتباردي که چرته حلال غالب وي نو حلال دي او که چرته حرام غالب وي یا دواړه برابروي نو حرام دي او واقعی داذاجتمع الحلال والحرام مقتضی حرمت علی الاطلاق وه خو دحرج دفع کیدو دپاره اعتبار دغالب وکړیشی، والله اعلم (۱۲ ربیع الثانی ۱۳۲۴ھ امداد ج ۲ ص ۱۷۲)

[جائز او ناجائز مکروه افعال او استعمال]

دحاکمانو ددورهٔ دنقصان دتلافی یو صورت

سوال: (۱۸٤) ددي څه حکم دي چه کوم وړ خو کې حاکمان دوري کوي نو ددوکاندار دحاکمانو ډیري ته لاړشی نو دهغه چه څومره نقصان او شو دهغی راګرځولو دپاره ټول جمع کیږي او هغه ته څه نه څه ورکوي کله کله نقصان دهغی نه کم کیږي کله زیات کیږي که چرته بو دوکاندار په ورکولو کې جهګړه کوي نو دهغه دوکان هلته نه او چتوي او چه چرته حاکمان دوره کوي هلته یې لیږي دهغه څه فریاد نه اوري هلته دهغه ډیر ورو پو نقصان کیږي دوکان باندي یو نیمه روپی ورکوي دوکان باندي یو نیمه روپی ورکوي نو داویال ته ی او چتولی اوس ددی خبري تپوس کوؤ چه دوکان باندي څه ورکړي یا هلته یې او لیږي او هغه کسر او چت کړي او هلته چه لاړشی نو د زیات کسر سبب داوي چه دبازار د نرخ نه زیات اخلی؟

جواب: داکهیوټ یو قسم رشوت دي ددی ورکول ظلم ختمولو دپاره جائز دي خواخستل یې جائزنه دکومودوکانداراتونه چه اخستی شی هغه نه ورکول جائزدي یعنی هغوي دی ورکولو سره ګنهګار یږي (۲۱ جمادالثانی ۱۳۳۴ھ تتمه رابعه ص ۱۷۳)

دکورنالی دمنځکې نه زیاته لویول

سوال: (۱۸۵) دزید دصحن اوبه دنالی په ذریعه دبکر په صحن کې تیریږي اوزید دخپل دچوپال دچهت اوبه تراوسه پوري بلی نالی باندي کومه چه دزید په کورکې ده بهیږي اوس زید دغه چوپال نه نوي کوټه جوړوي دکوټی هغه نالی هغه نالی سره تیروي کومه چه دبکر په صحن کې ده دي دپاره چه ددغه چوپال دچهت هغه اوبه هم په هغه نالی لاړي شی دکومی اوبه چه دبکر په صحن کې تیریږي بکردغه اوبه کومی چه دنوي کوټی دي په هغه نالی باندي نه پریږدي نوآیا بکرته دهغی دبندولو حق شته شرعاً په دي بنیاد چه هرکله زید دلړو اوبو دتیرولو حق په دغه نالی باندي حاصل دي نو ددغه چوپال داوبو بهیولو حق دي هم دغه نالی باندي شرعاً حاصل شی ایادارعایت دګاونډي دحقوق واجبه نه دي چه بکر یوه کړیشی چه هغه دزید دکوټی اوبه پریږدي اوزید سره ددي نه چه په آسانی سره ددغه کوټی اوبه په دغه طرف روانولی شی کوم طرفته چه دوروسېی چوپال دچهت اوبه غورزیدي خو خامخا په دغه نالی باندي په زوره اوبه جاري کول غواړي کومه چه دبکر په صحن کې تیره شویده .فقط؟

جواب: فی الدرالمختار کتاب القسمة قسم ولاحدهم سیل ماء اوطریق فی ملك الاٰخر والحال انه لم یشترط فی القسمة صرف عنه ان امکن والافسخت القسمة وفی ردالمختار قوله لم یشترط اما لو اشترط ترکهما علیٰ حالهما فلاتفسخ ویکون له ذلك علیماکان قبل القسمة (جوهره/ج ۵/ص ۲۵۶) وفی الدالمختار فصل الشرب ولیس لاحدمن الشرکاء فی النهران یشق منه نهراً اوینصب علیه رحی الارحی وضع فی ملکه ولایضربنهرولابماء وقایة اودالیة اوجراً ویوسع فم النهرالی قوله لان القدیم یترك علی قدمه لظهورالحق فیه وردالمختار قوله لان القدیم الخ کذفی الهدایة وغیرها (ج ۵ ص ۴۳۹) دي روایتونو نه معلومه شوه چه ددغه نوي طرف زید ته هیڅ حق حاصل نه دي جبرکولو سره ګنهګار او ظالم دي او بکر ته حق شته چه زید ددی نه منع کړي .اشرف علی (۱۰ شعبان ۱۳۳۳ھ حوادث ثالثه ص ۱۴۲)

سوال: (۱۸۶) زنان ومردان رابرپالکی ومیانه سوارشدن بهرحالت خواه تندرست باشد یامریض اګرحاملان پالکی مسلمان باشندرواست ودرحالت حاملان کافرهیچ اختلاف ست یانه؟

جواب: سواری پالك حلال ست خواه حاملان مسلمان باشند یاغیرمسلمان دلیلش حمل حمالان است آن هودج راکه دروحضرت عائشه می بود کمافی الحدیث الافك، ودرمسلم وغیرمسلم وجه فرق نیست (۲۱ ربیع الاول ۱۳۳۴ھ تتمه رابعه ص ۱۸)

دنقصان دویرې نه رشوت ورکول

سوال: (۱۸۷) دکلی پټواري ته چه دهغه نه دسخت نقصان ویره ده رشوت ورکول څنګه دي اودارشوت سالانه مقررول بغیردڅه قید اودکارنه څنګه دي؟

جواب: هرکله چه په نه ورکولو کې دنقصان ویره ده نوجائزدي (۱۸ محرم ۱۳۳۴ھ حوادث ثالثه ص ۲۲)

افسرانو ته دهیئت متصارفه موافق سلام کول

سوال: (۱۸۸) ډرل (فوجی تربیت وغیره) وغیره نه وروستو دسکول هلکان افسرته په لاس کیږدي اوسلام کوي که چرته اونه کړي نوهغوي خفه کیږي اوکه کوي یې نوګناه ده دي صورت کې څه کول پکاردي؟

جواب: نقصان دفع کولو دپاره دي شکل باندي سلام کول صحیح دي اوددي دمنع صحی داده چه شرعاً داسلام نه دي اګرکه دیو قوم په عرف اوعادت کې سلام وي نو ددي سلام عرفی دپاره هغه شرعی اداب ثابت نه دي (۲۳ ربیع الاول ۱۳۳۴ھ حوادث رابعه ص ۲۲)

اهل باطل دپاره درسالو لیکل

سوال: (۱۸۹) یو کاتب کاپی لیکلو والا چه دهغه پخه عقیده داهل السنت والجماعت ده اوددی حضراتو معتقد دي هغه داتپوس کوي چه دسید احمد خان دتفسیر دکاپی په لیکلو کې خو به ما الله نه نیسی داسی حالت کې چه روزی هم صرف په دي کار ده اودا یقین دي چه دسید احمدخا عقیده داهل السنت والجماعت خلاف ده اودهغه دغلط مضمونو اثرانشاء الله په ما باندي نه شی کیدلی اوداهم بنکاره کول ضروري دي چه دي زمانه کې چه دکاروبار کسی

دي مجبوراً داي ليکائي ليکلی شي او په دي وخت کې فی صدي يو کاپی ليکونکې دغير قوم دي کنی ټول مسلمانان دي او تمام کتابونه د نورو قومونو مسلمانانو ليکي؟

جواب: الدر المختار باب الحظر والاباحة وجاز تعمير كنيسة الخ ص ۳۲۰ - دي قياس باندي دا کتابت دفتوی په رو سره جائز دي اگرچه دتقوی خلاف دي خو په مجبوري کې ګنجائش دي (۲۲ ربیع الاول ۱۳۳۴ھ حوادث رابعه ص ۲۷)

دخوراک متعارفه تواضع په شرط دصدق نیت سره جائزده

سوال: (۱۹۰) که چرته دخوراك په وخت کې يو سړي راشي نو دهغه تواضع جائزده يانه که مسافروي او که دهغه ځاي او سيدونکې وي ددي څه حکم دي؟

جواب: جائزده که چرته زړه کې هم وي چه دي اوخوري بيا خو ښکاره خبره ده او که چرته زړه کې هم نه وي نو دي نيت سره جائز معلوميږي چه ديکې دهغه اکرام دي او نه وئيلو کې بعض وخت يو قسم بی عزتی ده او ادب په طريقو کې دومره اختلاف ظاهر او باطن کې محتمل کيدېشی لکه څنګه چه حديث کې راځی چه که چرته اودس دي مات شی نو پوزه اونيسه او بهر لاړه شه. (ربیع الاول ۱۳۳۵ھ تتمه خامسه ص ۸)

دهوکه ورکول او په سوداکې ملاوټ کول

سوال: (۱۹۱) بعض مردمان درین باب گندم نمائی جو فروشی می کنند یعنی دختر خوب صورت رانشان داده وقت نکاح دختر سیاه وبدصورت رابآن حواله می کنند بعد از آمدن درمکان معلوم می شود که این دختر دیگر است وان دختر نموده شد دیگر بود درین باب حکم شرع چیست؟

جواب: جوابش مثل جواب چهاردهم [1] است (تتمه اولی ص ۳۱۹)

دبل چامارکه جوړول

سوال: (۱۹۲) زيد دخپل څه مال مارك معين کړو لکه شمشير مارکه يا مقراض مارکه يې مقرر کړو او دهغې رجستري يې وکړو په خيال دحفاظت دحق دمارك دي دپاره چه بل څوک

[1] وان جواب این است که حرمت این فعل ظاهر و در سوال هم مصرح ومسلم است ۱۲ محمد شفیع عفی عنه

زماد دي رجستري مارك په شان جوړنه کړي که چرته بکر هم خپل مال باندي ددغه مارك چاپ جوړ کړي نو صحيح دي يانه؟

جواب: زيد ته خوديکې شرعاً څه حق تلفی نشته خو دتلبيس دوجه نه جائزنه دي چه کتونکو به پري دهوکه کيږي. (۱۸ ربیع الاول ۱۳۳۱ھ حوادث اول ص ۲)

دټيکس اخستونکو نه خپل خپل مال پټول

سوال: (۱۹۳) زيد دانکم ټيکس (آمدنی باندي سرکاري محصول) اداکولو حيثيت لري بيا هم دمعافی په خيال سره خپل دتجارت مال دټيکس دتشخيص کوونکو پټوي او خپل ځان ناقابل ثابتوي آيا داکار دزيد دشريعت موافق څنګه دي؟ بينوا توجروا؟

جواب: ګناه خو نه ده خو خطره کې غورزيدل هم شرعاً ښه نه دي. (۱۸ ربیع الاول ۱۳۳۱ھ حوادث ص ۱۲)

ټيکس جائزنه دي

سوال: (۱۹٤) څه فرمائی علماء دين او مفتيان شرع متين په دي مسئله کې چه حاجيانو باندي په قرنطيه (هغه نيته چه په هغې کې په مسافرو باوبازده بيمارانو ته دتولونه جدا ساتی چه بيماري خوره نه شی)، کې يا څه بل قسم ټيکس لګول دشريعت موافق جائز دي يانه؟

جواب: شرعاً جائزنه دي بلکه داسی ټيکسونه دي حده پوري ناجائزه دي چه که چرته بغير ددي ټيکسونو اداکولو نه حج نه شی کولی نو بعض فقهاء دحج فرضيت ته ساقط وئيلی دي. ددرمختار په کتاب الحج کې راځی کوم چه دفقه معتبر کتاب دي وهل مايوخذ فی الطريق من المكس والخفارة عذر قولان اوردالمحتار کې ددي قول دلاندي راځی ومثله الی ..... (ج ۲/ ص ۴۱۹) ددي عبارت دترجمی حاصل دادي چه دحج په لاره کې چه کوم ټيکس وغيره اخستی شی ددي سره حج فرض نه پاتی کيږي دبعضو دا قول دي او دا حکم دي ددي کوم چه زمونږ په زمانه کې دبانډوو الاخلق دباداشاه نه اخلی، بلکه په اسلامی قانون کې داسی بابونه يې دي پوري ناجائزه لرلی دي چه يهود او نصاری کوم چه دبيت المقدس زيارت ته ځی دي وجه سره دهغوي نه مال اخستلو ته يې حرام وئيلی دي په دي وجه ردالمحتار چه دهغی ذکر مخکې تيرشو ليکل يې دي قال الخير الرملی اقول منه يعلم حرمة مايفعله المال اليوم من الاخذ علی راس

الحربي والذمي خارجاً عن الجزية حتى يمكن من زيارة بيت المقدس اج۲ص۳۴۲]هر کله چه دبيت المقدس دسفردوجه دغيرمسلمونه داخستواجازت نشته نودحج دسفرپه وجه به دمسلمانان داخستوڅنګه اجازت وي بلکه دقواعداسلاميه خوتردي پوري مقتضاده چه که چرته داسي مالونه غيرمسلم حاکمان دمسلمانانونه اخلي بياهم په خپل مقام حکومت کي مسلمان حاکمانوته دغيرمسلمونه ددي اخستل جائزنه دي اوددي نمونه عشردي که چرته دتجارت مال غيرمسلم تاجرسره دنصاب نه کم وي اوهغه خلق په خپل مقام حکومت کي مسلمان تاجرنه په دغه مقدارکي عشراخلي نوموږبه بياهم دغيرمسلم تاجرنه نه اخلو اوددي وجه بې داليکلی ده چه داظلم دي اوپه ظلم کي موافقت نه شي کيدي دي وجه سره صفاثابته شوه چه دکوم مال اخستل قواعداسلامي سره جائزنه دي که چرته غيرمسلم حاکم داسي مال دمسلمان نه اخلي نواسلامي حاکم به يې بياهم دغيرمسلم نه نه اخلي دي نمونه باندي دلالت کوونکي عبارت په ردالمحتارکي دادي ،ولانأخذمنهم شيئاًاذالم يبلغ مالهم نصاباً اون اخذوا منا في الاصح لانه ظلم ولامتابعة عليه]ج۲ص۴۳]بس دادليلونه صفاصفادلالت کوي چه داسي ټيکسونه دحاجيانونه اخستل په اسلام جائزنه دي ۱۸۱صفر/۱۳۳۸ه]تتمه خامسه ص۱۰۲]

دحيلي حکم

سوال :(۱۹۵) قاضي خان ج۲ص۳۴۲]رجل له على رجل عشرة دراهم فاراد ان يجعلها ثلثة عشرالى اجل قالوا يشترى من المديون شيئابتلك العشرة ويقبض المبيع ثم يبيع من المديون بثلثة عشرالى سنة فيقع التحرزعن الحرام ومثل هذاروى عن رسول الله ﷺ انه امربذلك،رجل دراهم ليقرضه بده دوازده فوضع المستقرض متاعاً بين يدى المقرض فيقول للمقرض بعت منك هذاالمتاع ثم يقول المستقرض بعنى هذا المتاع بمائة وعشرين فيبيعه ليحصل للمستقرض مائة درهم ويعوداليه متاعه ويجب للمقرض عليه مائة وعشرون درهماً والاوثق والاحوط ان يقول المستقرض للمقرض بعدماقهرالمعاملة كل مقالة وشرط كانٌ بينافقدتركت ثم يعقدان بيع المتاع وهذه المسئلة دليل على جوازالبيع الوفاء اذالم يكن الوفاء شرطاً في البيع هذا اذاكان المتاع للمستقرض فان كان المتاع للمقرض وليس للمستقرض شئ ويريدان يقرضه عشرة بثلثة عشرة الى اجل فان المقرض يبيع من المستقرض سلعة بثلثة عشرويسلم السلعة الى المستقرض ثم ان

المستقرض يبيع السلعة من اجنبى بعشرة ويدفع السلعة الى الاجنبى ثم الاجنبى يبيع السلعة من المقرض بعشرة وياخذالعشرة منه ويدفعهاالى المستقرض فيبرا الاجنبى من الثمن الذى كان عليه للمستقرض فتصل الى المقرض بعشرة وللمقرض على المستقرض ثلثة عشرالى اجل، دي نقل شوي عبارت نه علاوه نوري هم ډيري حيلي قاضي ليکلي دي تراوسه مي داسي حيلي بې اصل ګڼلي اوبل داچه «صفائي معاملات» اوبهشتي زيوروغيره کي بې په داسي معاملاتو باندي تنبيه هم ورکړيده څه موده نه مي دفتاوى قاضي خان عبارتونه وکتل نودمعلوماتوکولوخيال م وه نن دمعلوماتوپه غرض م ابتدائي عبارتونه نقل کړوپه خيال کتلوم زړه نه قبلوي که څه غلطي م په پوه کي راغلي وي نوخبرداري کړي کني تاويل راته اوښايي دحضرت سيوري دالله په موږه هميشه لري تردد صرف دادي چه داحيله سود معلوميږي؟

جواب : دجوازدوه معنى دي يوصحت يعني په څه قاعدي باندي برابروال اګرچه په هغې کي څه ګناه وي لکه چه يوسړي باندي په زوره خپلي ښځي ته طلاق ورکړي اوعدت نه وروستوهغې سره نکاح وکړي نودنکاح صحت اوګناه دواړه ښکاره دي دويم حلت يعني ګناه نه کيدل نوکه چرته ددي حيلوجوازبالمعنى الاول وي بياخوڅه شبه نشته خودامفيدنه ده اوکه چرته بالمعنى الثاني وي نوبه ديکي شرط دادي چه ددي حيلواجزااتفاقاً واقع شي مشروط اومعروف نه وي اونه په چاباندي جبروي ځکه چه جبرپه امورلازموکي په خپله حرام دي په دي وجه جمله اذالم يكن الوفاء شرطافي البيع دي طرف ته اشاره کوي اوښکاره خبره ده چه دي صورت کي دي حيلونه انتفاع اخستل غيراختياري دي اوکه چرته داشرط مسلم نه وي نوبياياخودادبعضوقول دي کوم چه داصل مذهب خلاف دي په دي وجه ددغه عبارت نه وروستوداعبارت وهذه الحيلة هى العينة التى ذكرهامحمد رحمه الله ددي دليل دي اودعينه مکروه تحريمي کيدل کوم چه حرام ته نژدي دي هدايه وغيره کي راغلي دي کمافي کتاب الكفالة چه په هغې باندي فتح القديردامام محمد رحمه الله داقول نقل کړيدي هذاالبيع في قلبي كامثال الجبال ذمهم وقدذمهم رسول الله ﷺ فقال اذاتبايعتم بالعين الخ، اودخلاف مذهب دکيدونه علاوه په اباحت اوحرمت کي دتعارض په وخت کي حرمت ته ترجيح ورکيدېشي اوياداحلت اضافي دي بلکه څنګه چه قاضي خان کي دغه عبارت نه وروستوداعبارت دهغې

دلیل دي وقال مشائخ بلخ بيع العينة في زماننا خيرمن البيع التي تجرى في اسواقنا عن فضل فيمايكون ضراراً عن الربوا. صـ۸۰-۱۴- ۱ شوال ۱۳۳۸هـ تتمه خامسه، ص ۱۵۴

ديو شناوربچي چه مرشي دهغي نه دشودو استعمال

داستعمال دپاره مصنوعي بچي جوړول

سوال :(۱۹۶) څه فرمائی علماء دین اومفتیان شرع متین په دي مسئله کي چه دیوسړي دمیخی بچی مړشواوهغه میښه بغیردبچی نه شودوه نه ورکوي که چرته ددغه مرداربچی نه څرمن اوباسی اوهغه دبوسونه ډك كړي اودغه میښي ته یې مخی ته کړي اوشودواخستلوپه غرض یې اوساتي- نوآیادامرداربچی ساتل اوشوده اخستل اوخکل جائزدي یانه؟

جواب : جائزدي. ۱محرم/۲ ۱۳۴۱ها تتمه خامسه/ص ۲۳۰

نبی بخش نوم کیښودل جائزنه دي

سوال :(۱۹۷) عرض دادي چه دحضرت په کتابونو کي لکه بهشتی زیوراوتفسیرقران شریف کي دي غلام کتلی وه. چه پیربخش محمدبخش ،مرادبخش ،عبدالنبی ، عبدالرسول، وغیره نومونه ایخودل جائزنه دي. یودووسړوتپوس وکړونوبنده په جواب کي وویل چه داسی نومونه جائزنه دي خوددي ځاي عوام کوم چه صرف په اردوفارسی کي ماهردي. په دي خبره ډيرخفه کیږي. په دي وجه یوسړي بل ځاي نه هم فتوی راغوختي ده کومه چه بجنسه دکاره سره رالیږوچه په هغی کي یې دیوایت حواله درکړیده هغه بالکل غلط دي اومعلومیږي چه دغه ملاخه قابل سړي نه دي په دي وجه دحضرت نه ګزارش دي چه حضرت ددي باره کي تفصیلی جواب راکړي چه زمونږه زړه یخ شی بل داچه داعتراض کوونکوهم پوره تسلی اوشی؟ زماعرض دادي چه داسی نومونه کیښودوباره کي که حضرت تفصیلی لیکل وکړي نوډيردتسلی سبب به وي مخکي حضرت مالك دي؟

جواب : حدیث کي راغلی لایقل احدکم عبدی. منع دپاره داکافی دي اودلاهب[1] ،نه دلیل نیول ډيرعجیبه دي دهغی جواب په انماانارسول ربك کي دي دهغی نه معلومیږي چه په دي کارکي هغه

[1] پوره ایت دادي انماانارسول ربك لاهب لك غلامازكيا ط ۱۲،

دنیابت په حیثیت سره خپل طرفته نسبت کوي لکه څنګه چه دجبرئیل (ع) دقرائت ایت کي یې خپل قرآت فرمائیلی دي دلته هبه حق ته هبه دجبرئیل وئیلی اوپه مبحث کي کوم نیابت دي دویم جواب ۹۱
دادي چه دلته دجبرئیل (ع) یوفعل نفخ (پوك وهل) ده کوم چه بناء دي داېناء مجازي الی السبب اوپه امام بخش کي دادي داسنادبناء څه ده. ۲۲شعبان ۱۳۴۲ه تتمه خامسه، ص ۲۸۸

دځان بیمه کول په شرط دکتلو دډاکټر

سوال :(۱۹۸) النوربابت ماه رجب ۱۳۴۲هـ دصفحه ۱۸ سوال. درتحقیق سودهرجز وتنخواه که وضع کرده شود» م په غوروکتلواوواقف ملګوته م هم صرف داحتیاط په وجه اوخودلوساتل په سوال کي ډيره ګډوډي کړیده خوبیاهم دي لاندیني عبارت نه دځان دبیمه کولوجوازاونه جوازباره کي تپوس کول معلومیږي اګرچه دیکي صراحتاً دلالت نشته وهوهذا ،اوس سرکاري طریقه داده چه روپی کیخودل شروع شویدي که چرته داملازم شلوکالوپوري ژوندي وه نوپه یوځل خپلی ټولی جمع شوي روپی اخلی ددي نه نشی اخستی اوکه چرته مړشوتوبغیردشرط په خپله حکومت دمړي وارثانوته دومره روپی ورکوي څومره چه ددي ملازم په شلوکالوکي جمع کیدي اګرکه داملازم ددي کاروائی نه دوه میاشت پس مړشی داخیري لفظونه کوم باندي چه بنده خطرسره نښه لګولي ده صفادلالت کوي چه داځان بیمه ده اوصرف دي دپاره چه حکومت په هرحالت کي برابره خبره ده که جمع کوونکي دوه میاشتی پس مړشی یاپه شل کاله کي مړشی حکومت ته دغه ټول مال چه دهغی درومینی وخت په دواړه فریقوکي مقرریږي اوددغی مال په لحاظ سره حکومت دتنخواه نه حصه مقرروي چه ددي نه ذکرساتل په سوال کي بالکل نه دي کړي حکومت ته ورکول راغلی دي غرض سره دډاکټري معائنی ضرورت هم راغلی چه په هغی کي دټولومتعدي مرضونوډاکټرتپوس کوي اوالف برېښوي اوپه خپله یې ګوري دي سوال نه دساتل مطلب ښکاره تپوس کول دي دځان دبیمه کولوپه باره کي چه دي دپاره دډاکټري معائنه لازمی اوضروري ده؟

جواب : که دادځان بیمه وي یاڅه بل څه وي که چرته دیکي دډاکټري معائنه په برېښوه باندي شرط وي نوحکم دادي چه جائزنه دي څکه چه داد هغه عذرونونه نه ده کوم دپاره چه پټ بدن خودل جائزدي. ۱محرم ۱۳۴۳ه تتمه خامسه ص ۳۱۲

ایضاً

سوال :(۱۹۹) څه فرمائي علماء دين اومفتيان شرع متين په دې مسئله کې چه دخان بيمه شلوکالوپورې اخستی شی بس که چرته دپنځه ديرشو کالو عمر کې زيد دشلوکالو دپاره بيمه اوکړه نوده باندې په حساب زرروپی سالانه شلو کالوپورې ورکول راځی چه دهغی مقدار درويشت روپی اتاتوپورې دزرروپو سالانه نفع په حساب سره نهه زره څلورسوه روپی اوشلوزرروپوپه مقداربيمه ټولی به يوکم ديرش زره څلورسوه روپی اداکوي يعنی په شلو کالو کې به ۲۳۴۰۰ روپی اخلی او ۲۹۴۰۰ روپی به اداکوي نودې حساب سره په شلو کالو کې بيمه کوونکې ته شپږزره روپی زياتی ملاويږي اوکه بيمه کوونکې په شلو کالو کې مړشونوچه دڅومره روپوپې بيمه کړيده مثلاً دشلوزرروپې کړي وي نوشل زره اوپه دې څومره کلونه تيرشوي وي دهغه هومره کلونه نفع چه کومه بره ليکلی شويده شلوروپونه درويشت نيمی دزرروپو سالانه په حساب سره چه څه جوړيږي نوهغه ورکوي بس چه څه ارشادوي دغه شان دزيد دابيمه کول شرعاً جائزدي يانه زيدخوڅه باك ونه ګڼلو اوبيمه يې وکړه په ده يوکال نه وه تيرشوي خوديوکال روپی چه کومی بره وليکلی شوي دغه بيمه کمپنۍ ته يې اداکړي اوبيمه دکمپنۍ قانون دې چه که چرته بيمه کوونکې دري کاله کې دننه په خپله دخپل طرفنه وعده ماته کړه اوسالانه واجب الادا مال اداته کړي نوبيمه کمپنۍ به ده ته بالکل څه نه ورکوي تردې چه دده ورکړي شوي روپی به هم ده ته واپس نه شی ملاويدې نوکه شرعاً بيمه کول جائزنه وي نواوس زيدڅه وکړي -بينواتوجروا!؟

(جواب التنقيح) بيمه کوونکې چه کوم مال داخلوي آيابيمه کمپنۍ ته قرض ورکوي ياپه کمپنۍ کې دحصه داري په طريقه شريکيږي يعنی دې هم دکمپنۍ رکن جوړيږي اوورومبنی صورت کې ددې کمپنۍ ارکان ټول کافردي ياڅوك مسلمان هم پکې شته جواب په دې تحقيقاتو باندې موقوف دې ا جواب التنقيح) په سلسله دمخکې ليږلی شوي استفتاء ددغه کارمعلومولو باره کې عرض دې چه بيمه کوونکې دحصه داري په طريقه نه شريکيږي بلکه دسوال مطابق خپلی روپی په بيمه کمپنۍ کې جمع کوي هغی لره بيمه کمپنۍ خپل ځان سره په قرض کې نه ليکي بلکه دخپل قانون مطابق عمل کوي لکه څنګه چه مخکې سوال کې عرض وکړي شو دبيمه کوونکو چه کومی روپی په بيمه کمپنۍ کې جمع کيږي هغه بيمه کمپنۍ په نوروکاروبارونو کې لګوي اودهغی نه نفع حاصلوي خوبيمه کوونکوته ددې نوروکاروبارونونقصان سره څه تعلق نشته بيمه کمپنۍ دخپل قانون مطابق هرکال بيمه

کوونکوته مقررشوي روپی اخلی اوبيمه کوونکې چه کله هم مړشی که دمعاملی کولونه يوه ورځ پس هم وي نوهغه کمپنۍ دخپل قانون مطابق شل زره روپی سره دمقررنفع څنګه چه سوال کې عرض کړي شوي وه دبيمه کوونکې دوارثانوته اداکوي خودې سره بيمه کوونکوجمع کړي شوي روپی واپس نه ملاويږي که ديوکال وي اوکه دديرووي دبيمه کمپنۍ ټول ارکان کافردي مسلمان پکې يوهم نشته ا جواب التنقيح) جواب تنقيح کې يې چه کوم حالات ليکلی دي ددې په بناء باندې داقرض دې کوم چه په سوداوجواري دواړوباندې مشتمل دې اوچونکه معامله کافرغيرذمی سره ده په دې وجه مسئله مختلف فيه ده که چرته څوك دبعض عالمانوپه قول دجوازشق اختيارکړي نوګنجائش يې شته. ۲۲۱ ذی القعده ۱۳۵۴هـ (النور ربيع الثانی ۱۳۵۴هـ ص۷)

پيربخش نوم کيښودل

سوال :(۲۰۰) حديث شريف کې راځی لاتقولن احدکم عبدی وامتی الاخ اودې حديث سره دپيربخش اوعبدالنبی وغيره نومونوايښودلو ممانعت کولی شی خوبدعتيان دقران مجيد عبادکم اواماءکم سورة نورنه دجوازسندراوړي دوې ته څه جواب ورکړو؟

جواب : جواب ښکاره دې چه دلته قران مجيدکې لغوي معنیٰ مراده کومه چه واقعی ده اوعبدالنبی وغيره کې لغوي معنیٰ مرادنه ده څکه چه خلاف واقع ده بلکه مجازي معنیٰ مراده ده کومه چه موهم ده دشرك اوددغه ايهام په بنيادباندې حديث کې کراهت راغليدې اواسماءعرفيه کې دحديث ايهام کې سخت ايهام دې نواستدلال دحديث سره استدلال بعبارة النص نه دې بلکه بدلالة النص دې چه دهغی مدلول عبارة النص نه اولیٰ بالحکم وي په دې وجه حرمت دتاقيف نه حرمت دضرب اقویٰ دې والله اعلم فقط. ۲۳ رمضان المبارك ۱۳۴۹هـ (النورجمادالثانی ۵۰هـ ص۱۵)

هنده نوم کيښودل

سوال :(۲۰۱) زمالورپيداشويده دنيك بختی حاصلولوپه خيال ماد هغی نوم دصحابی هندې په نوم کيښودلوبزرګ بيان وکړوچه دامیغوض صحابيه ده چه داسلام قبلولونه وروستوهم داسرکاردوعالم ﷺ دخپل زيارت نه حکماً منع کړي وه چه ستاپه کتوسره ماته دحمزه ﷺ يادتازه کيږي اوبعضاني بشريت ماته تکليف ملاويږي؟ داروايت که چرته

صحیح وي نو اياد داسې مبغوض صحابي په نوم کيخودو باندي څه شرعي قباحت لازم راځي او مسلمانانو ته تبركاً ددي نوم اخستل په خپلو کورونو کې روا دي؟

جواب: د رومبی خو دا روايت چه حضرت هنده حضرت ﷺ د خپل ديدار نه منع کړي وه ماته دي ليدلي البته د حضرت وحشي ﷺ باره کې ممانعت بخاري کې راغليدي د دغه بزرگ نه ددي حوالي تپوس وکړي دويم د شيخينې په روايت کې د حضرت هندې د حضرت اقدس ﷺ په خدمت کې حاضريدل او د نفقه مسئلې تپوس کول او د حضرت ﷺ جواب خذي مايكفيك وولدك بالمعروف ذكر شويدي کوم چه دي روايت معارض دي دريم د اسماء الرجال په کتابونو تقريب وغيره کې دا نوم د حضرت ام سلمه زوج النبي ﷺ ذكر دي او دهغې محبوب كيدل معلوم دي څلورم ددي ټولو نه قطع نظر د نوم مبغوض كيدل خو ثابت نه دي غرض هري طريقې سره دا دعوی بې اصل ده او په نوم کيخودو کې هيڅ قسمه بدي نشته فقط، (النوري رمضان المبارك ۱۳۵۵ هـ ص ۸)

عدم صحت قياس نام قربان علي بر علي بخش

سوال: (۲۰۲) زما والد صاحب زما نوم قربان علي کيخودو دغه وخت يو مولوي صاحب وائي چه بهشتي زيور کې بې علي بخش عبد النبي وغيره نومونه کيخودل بې شرك خودلي دي اوس په هغې باندي قياس كوي وائي قربان علي او محمد بخش وغيره نومونه ايخودل هم شرك دي عالمان ددي نوم په حق کې څه فرمائي؟

جواب: د بهشتي زيور په هغه نومونو او قربان علي کې فرق دي ددي معنی خو دا ده چه دا کس په حضرت علي ﷺ باندي ځان قربانوي بس حديث کې بابي انت وامي يا رسول الله صريح دلالت كوي په مقبولان حق باندي د خپل ځان د قربانولو او فدا كولو په جواز باندي البته محمد بخش داسې دي لکه د بهشتي زيور هغه نومونه (۴ ذي قعده ۱۳۴۰ هـ)

يو مبارك لباس اغوستل او په هغې نمونځ كول

سوال: (۲۰۳) څه موده او شوه ماته حضرت ﷺ يو واسكټ راكړي وه چه حضرت حاجي نور الله مرقده حضرت قدس سره، ته په خپلو دركړي وه او دغه شان حضرت ﷺ، ماته راكړي وه ما هم دا اچولي دي دا اوس تا ته دركوم هغه ما سره دهغه وخت نه په پوره حفاظت سره پروت دي كله كله هغه اچوم او نفل پكې هم كوم يو ځل حضرت ﷺ هم هر كله چه هغه سره ددي

تذكره اوشوه دا بې فرمائيلي وه چه دا م واغوستو او بركت م حاصل كړو او نمونځ م پكې اوكړو نن داخبره ياده شوه اوس بې انشاء الله دكوره داغواړ او نن شپې به بې اچوم او نمونځ پكې كوم؟

جواب: د نمونځ نه بهر بركت حاصلولو كې څه باك نشته باتفاق ددي داغوستلو په وخت كې د نمونځ وخت راشي او دي حالت كې وكړيشي دهغې هم څه باك نشته پاتي قصداً دي سره نمونځ كول غالباً سبب به شي ددي عقيدي چه ددي اغوستل ته خاص دخل په زيادت د قبوليت د نمانځه كې او داعقيده بدعت دي په دي وجه قابل د احتياط ده (رمضان المبارك ۱۳۴۰ هـ تتمه خامسه ص ۲۲۵)

لندن وغيره ته د سياحت حكم

سوال: (۲۰۴) ډير په ادب سره عرض دي چه حضرت د ډيرو خبرو باره كې احقر ته جواب وركړي چه دداړو جهانو ثواب وګټي بنده يو خاى كې د حضرت په نسخه كړي ولوستل دهغې مطلب دي عاجز ته دا معلوم شو چه حضرت دغه ولايت ته نقل بدنه ګنړي خو په دي شرط انسان حد شرعي كې دننه وي؟

جواب: دا واقعي ده خو حدودو كې دننه او سيدل د هر سړي په همت كې نه وي په دي وجه ضعفاء لره على الاطلاق منع كولي شي لكه كدو په وخت كې تره او ختكي هر چا ته نقصاني نه وي خو ممانعت قانوني عام وي (دسوال پاتې حصه) نو دي حالت كې څو پوري چه حدود شرعيو قائم ساتل ممكن وي او ضروري وي دي سره دي عاجز ته خبرداري وركړي؟

جواب: ماته خو دهغه خاى د حالتونو پته نشته تاسو چه څه تپوس وكړي جواب به دركړم

د لندن د سفر هدايتونه

سوال: (۲۰۵) صرف دا نه بلكه چه نوري هم څو مره بدئ وي كومې چه تراوسه زما په پوهه نه دي راغلي خو حضرت ته معلوم دي نو دهغې نه بچ كيدو د پاره هم دي بنده ته خبر وركړي؟

جواب: ډيره م عرض كړيدي البته دكليې په طورم يوه خبره ذهن ته راغليده هغه پيش كول غواړم چه بغير د سخت ضرورت نه د چا په صحبت كې مه كينه كه يو كس وي او كه ډله وي او ستر ګې او غوږونه دهغوي د خطرونو نه بچ كړه (۳۱ رجب ۱۳۴۴ هـ تتمه خامسه ص ۴۲۱)

خپلی لورته موراوخوی دپلاروئیلو حکم

سوال :(۲۰۶) بنگال کې ډیرعام اوخاص خلق خپلی لورته دمینی نه په مورسره اوازکوي دغه شان خوي ته هم په پلارسره خطاب کوي یومولوي صاحب بیان وکړوچه داجائزنه دي بلکه حرام دي شرعاً دي باره کې څه حکم دي؟

جواب : مجازدي څه شرعی ممانعت پکې نشته په دي وجه جائزدي. اتتمه خامسه ص ۳۲۰

جواب ومشوره ترک رسم بیعت په سبب وقوع مفاسدکثیره

سوال :(۲۰۷) بعض مخالفین وائی نن صباپیري مریدي پریخودل پکاردي ځکه چه دیکې مفاسدپیداشویدي لکه فاتحه ،عرس، اوقیام ته یې په دي بنیادباندي ناجائزوئیلی دي البته که چرته بعیت ارادت ته واجب ووئیلی شی نواعتراض نه راځی خوداډلیل ته محتاج دي؟

جواب : داسري په دتقلید شخصی باره کې څه وایی ایاهغی کې بعض ځایونوکې مفاسدنشته اودهغی وجوب ایامحتاج ددلیل نه دي. اتتمه خامسه ص ۳۲۰

داخباربینی رسالی په دوقولونوکې فیصله

سوال :(۲۰۸) څه فرمائی علماء دین اومفتیان شرع متین په دي مسئله کې چه زیدوایی چه نن صبا چه دامختلف قسمه اخبارراوزي چه په دیکې قسم قسم خبرونورطب ویابس نقل کولوشی په دیکې بعض بالکل بی حوصله وي اوپه بعضوکې قسماقسم شکایتونه هم لیکلی کیږي کوم چه شرعاً ممنوع معلومیږي دعمروخیال دي چه په دیکې دنیوي اودینی فائده ده ځکه چه په دیکې اخلاقی ،ادبی،تمدنی،اصلاح لسانی وغیره مضمونونه وي دي سره دترقی طریقه معلومیږي اودمختلف ځایونونودمسلمانانوحالات معلومیږي یعنی چرته خومسلمانان سختومصیبتونکې گرفتاردي چرته په مسلمانانوباندي کافران حمله کوي چه دهغی دفع کول په هرمسلمان باندي واجب ده چرته په اسلام باندي قسماقسم اعتراضونه کیږي چه دهغی ثبوت په مسلمانانوباندي ضروري دي داټولی خبري اکثرداخبارپه ذریعه معلومیږي نواوس په دي سخت حالت کې دزیدقول صحیح دي یادعمروبینواتوجروابحواله کتب؟

جواب : کوم سري چه ددي مفاسدونه ځان بچ کولی شی هغه ته دمصلحت حاصلولوډپاره اخبارکتل جائزدي کنی دمفاسدونه بچ کیدل اهم دي جلب مصالح نه ۲۵ ذی الحجه اتتمه خامسه ص ۳۷۲

افکاردینی ضمیمه اخباربینی

بعد الحمدو الصلوة احقرپه ۱۳۴۳ هـ کې یوه رسال داخبارکتلو دمفاسدوپه باره کې لیکلي وه اوډادهغی نوم وه اودهغی په ختم باندي په عنوان دتنبیه داتصریح هم شوي وه چه که چرته داخبارپه اخستونکې اوخرخونکې کې دامفاسدنه وي نوزه حلالوته حرام نه وایم خوددي مصداق ډیرلږدي چونکه دهغی تنبیه مضمون اگرچه مبهم نه وه بلکه آسان وه خومجمل اومختصر وه په دي وجه تنگ نظره خلقوهغه یاخواونه کتویاپري پوه نه شول اوبي ځایه اعتراضونه یې شروع کړل،اووي وئیل چه دي حالت کې خوبه داخباروجودبالکل والوزي ددي لازم دغلط ثابتولوډپاره زمایوتقریراویوتحریرشایع شویدي داوخت دکتونکوآسانتیادپاره مناسب معلوم شول چه ددي دوارومختصراقتباساتوسره دنفس اخبارمشروعیت اوخاص ادابوسره دهغی مشروعیت اولیکلی شی اوخلقوته اوخودي شی چه ددي ادابورعایت سره اخبارجاري پاتی کیدیشی البته دضرورت په اندازه ددینی علم ضرورت شته که چرته په خپله ایډیټرصاحب عالم نه وي نوچه کله داخبارمسوده ولیکي نوهغه یومحقق عالم په خدمت کې پیش کړي اودهغی اصلاح وکړي هغه به دامضمونونه په شرعی ادابوباندي برابرکړي اوتاسوبه په خپل بیان باندي پوه کړي لاندي ددي آدابوتفصیل دي اودي رسالی لره افکاردینی لقب سره اودهغی داجزاؤعنوان په فکرسره ملقب کوم اودي لره داخباربینی ضمیمه جوړوم اوړومبی فکرا کوم اخبارچه دحدودشرعیونه خلاف دي دهغی مذموم کیدل ددي ایت نه معلومیږي. واذاجاء هم امرمن الامن اوالخوف الی قوله یستنبطونه منهم، یعنی هرکله چه دي خلقوته دڅه امر(نوي) خبراورسی که (هغه امرموجب د) امن وي یا(موجب د) ویري وي نوهغه (خبر) دوي فوراً مشهوروي (په دیکې داسی اخباراوجلسی هم راغلی حلانکه کله هغه غلط وي کله کله دهغی مشهورول دمصلحت خلاف وي) اوپه ځاي ددي چه خپله یې مشهوروي) که چرته داخلق دا(خبر) دحضرت رسول ﷺ په (رائی) باندي اودهغه چاپه رائی) کوم چه داامورپیژنی (یعنی اکابرصحابه) حواله کړي (اوپه خپله یې پکې څه دخل نه کولی) نودي لره هغه حضرات پیژنی څوك چه په دیکې تحقیق کوي (بیاڅه رنگه چه داحضرات عمل کوي دغه شان دي خبرخورونکوته پکاروه) (نساء) ادویم فکرا اواخبارچه حدودشرعیه کې دننه وي دهغی مفید کیدل دي حدیث نه معلومیږي ،یعنی دابن ابی هاله نه (په یواوږدحدیث) کې روایت دي چه حضرت ﷺ به

دخپلو صحابو د حالاتو تلاش کولو. او د (خاص) خلقونه په بې تپوس کولو چه (عام) خلقو کې څه واقعات پیش کیږي (شمائل ترمذي) ف د اخبار هم دغه حاصل دي، ادریم فکرا دي باب کې ټولو نه مخې د اپیژندل ضروري دي چه دیوې خبرې قلم سره لیکل بعینه هغه حکم لري کوم چه په ژبې د ویلو دي د کومې خبرې چه په خوله باندې کول ثواب دي د هغې په قلم سره دلیکلو هم ثواب دي او د کومې خبرې چه ویل ګناه ده د هغې لیکل هم ګناه ده بلکه دلیکلو په صورت کې ثواب او ګناه کې یوه زیاتې نوره هم کیږي څکه چه لیکل یو پاتې کیدونکې څیز دي ډیرې مودې پورې بې خلق ګوري په دې وجه چه څو پورې هغه دنیه کیږي موجود وي او خلق د هغې دبنه او بد اثرنه متاثر کیږي هغه وخته پورې کاتب ته د هغې ثواب یا عذاب جاري وي په دې وجه د هر مضمون لیکونکې دا فرض دي چه په هر مضمون باندې د اقلم او چتولو نه مخکې هغه په دې لیکلو شوو معیار باندې وتلي او په حقیقت کې د ا معیار تول د هغه آدابو یو مختصر او لنډ تصویر دي د کوم تفصیل چه او س موثر کتونکو ته په هدیه کې وړاندې کول غواړو (۱) څلورم فکرا مضمون جوړولو او اخبار لیکلو کې د مذهبي جرمونو او د شرعي ګرفت نه دبچ کیدلو د پاره د ټولو نه بهترینه ذریعه او جامع او مانع اصول دا دي چه کوم وخت د څه شي د لیکلو اراده وکړي نو مخکې په خپل ذهن کې استفتاء او کړه چه د دې لیکل ما د پاره جائز دي یا نه که چرته جائز ثابت شي نو قدم مخکې واخله کنې د بعض خلقو خوشالولو د پاره په ګناه کې رنګ کول او زره د روغو د پاره خپله پوزه مه کټ کوه او که چرته پخپله په حدود شرعیو باندې نه پوهیږي نو چرته د پوه کس نه استفتاء کول ضروري دي دا یو شرعي اجمالي قانون دي کوم چه صرف په اخبار نویسي کې نه دي بلکه په هر قسم تحریر کې هر مسلمان ته په دې نظر کول پکار دي. دي نه وروستو موثر د دې تفصیل په نسبرو کې کتونکو ته وړاندې کوو (۱) کومه واقعه چه د چا مذمت او عیبونو باندې مشتمله وي هغه لره هغه وخته پورې هرګز مه شائع کوې څو پورې چه محبت شرعیه سره د هغې پوره ثبوت نه وي ملاؤ شوې څکه چه د دروغو الزام لګول یا تهمت لګول په یو کافر باندې هم جائز نه دي خو آه نن اهل قلم د دې نه فاضل دي او شاید چه د اخبار څه صفحه د دې نه خالي وي (۲) د اخیره هم یادلرل ضروري دي چه د دې معامله کې صحت شرعي د پاره د څه افواه عام کیدل یا د څه اخبار لیکل هرګز پوره نه دي بلکه شهادت شرعي ضروري دي څکه چه د دې د ورد ټولو اخباراتو په سوونو تجربو د اخیره ناقابل د انکار کړیده چه ډیر مضمونونه او د واقع

اخباراتو کې شائع کیږي او د کوم کس طرفته چه شائع کولی شي هغې غریب ته هډو پته هم نه وي او د اصورت کله کله قصداً کولی شي او کله کله سهواً او خطاً کولی شي په دې وجه که چرته یو اخبار کې د یو کس په حوالې سره څه مضمون یا واقعه نقل شي نو شرعاً هغه نه شي ثابتیدې. البته که چرته د ا واقعه په څه مذمت یا مضرت یا عیب جوړني باندې مشتمل نه وي نو بیا د اضعیف ثبوت هم کافي دي او د ا د نقل کړي او شائع دې کړي (۳) د یو کس د عیب یا ګناه واقعه که چرته حجت شرعیه سره هم ثابت شي بیا هم د هغې خوروَل او په اخبار کې لیکل جائز نه دي بلکه د غه وخت فرض دا دي چه خیرخواهي سره په یو ازې والي کې هغه پوه کړي او که او نه منې او ستا قدرت وي نو په زوره یې منع کړه کنې ته خپله حق خبره او رسوه او خپله فریضه ادا کړه د دې خوروَل او رسوا کول د شرعي نهي نه علاوه په تحریر هم ثابت دي چه په ځای د فائندې همیشه نقصاني دي او په دې وجه رحمت اللعلمین ﷺ په ډیرو حدیثونو کې د دې تاکید فرمائیلې دي چه که چرته د مسلمان ورور څه عیب یا ګناه ثابت وي نو هغه شرمنده او رسوا کوه مه بلکه پرده پرې واچوه او په پرده کې هغه پوه کړه څکه چه د ته طریقه زیاته موثر او مفید ثابت شوید ه (۴) البته که چرته د یو مسلمان عیب یا ګناه حجت شرعیه سره ثابت وي چه د هغې نقصان خپل ذات ته رسي او دې هغې سره مظلوم ګرځي نو بیا د هغه بدي ښکاره طور سره شائع کولی شي د دې متعلق د الله رب العزت ارشاد دي .لایحب الله الجهر بالسوء من القول الا من ظلم. (ترجمه) الله د بدي ښکاره کول نه خوښوي مګر په چا باندې چه ظلم کړې شوې وي (هغه د ظالم د ظلم اعلان کولی شي) امام تفسیر مجاهد فرمائي چه د دې ایت مراد دا دي چه الله دا نه خوښوي چه د چا مذمت وکړي یا شکایت وکړي خو که په چا باندې ظلم کیږي نو هغه د پاره جائز دي چه د ظالم شکایت وکړي او د خپلې معاملې اعلان وکړي او د هغه ظلم خلقو ته ښکاره کړي (روح المعاني) خو دې صورت کې هم بهتر دا دي چه د عام اعلان او اشاعت په ځای صرف د هغه خلقو وړاندې شکایت وکړي څوک چه د ده امداد کولی شي (۵) که چرته یو اخبار کې څه قابل تردید غلط مضمون د یو کس باره کې چاپ کړیشي نو د هغې په جواب کې صرف په دې باندې اکتفاء پکار ده چه فلانی اخبار د الیکلی دي د هغې جواب دا دي د هغې سرې په ذات د څه حمله نه کوي څکه چه تر او سه څه حجت شرعي سره دا نه دي ثابت شوي چه واقع دا مضمون د هغه سړي دي (۲) کوم خبر چه د چا په مذمت او ضرر باندې مشتمل نه وي د هغې اشاعت جائز دي

خو دې شرط سره چه دهغې اشاعت دې د مسلمان دخاص مصلحت یاعام مصلحت خلاف نه وي اوپه کوم کې چه د احتمال ضعیف هم وي نوماسیوا دهغه خلقونه چاچه دعقل اوشریعت موافق دامعامله په لاس کې اخستې ده عامو خلقو باندې دې لره نه دې ښکاره کول پکار ځکه چه ممکن ده چه ددې نقصانانو طرفته دهغه سرې نظرنه وي رسیدلې ایت واذا جاءهم امر من الامن او الخوف اذاعوبه، کې بې دداسې اخبارونو اوجلسو مضرت اومذمت بې بیان کړیدې ځکه چه بره تیرشول، خو مسلمان دپاره مناسب دې چه داهم دخبرپه حیثیت سره نقل نه کړې بلکه دې سره دڅه دیني اودینوي فائده پیدا کړې ددې نقل دلیل دادې من حسن اسلام المرء ترکه مالایعنیه. (ترجمه: دانسان دښه اسلام کید وعلامت دادې چه بې فائدې کارونه پریږدي) اوعقل دلیل دادې چه یوخبرپه خپله مقصود نه وي بلکه همیشه دڅه انشاء ذریعه جوړه شې اودمقصودضرورت اختیار کړې او اصل مقصود دڅه فصل وي کوم چه دې خبرسره متعلق وي په دې وجه بهتره ده چه داخبار نتیجې هم ذکر کړې اودهغې په فائدو کې زیاتوالې راولې مثلاً تاسو دیو کس متعلق داخبرلیکئ چه ده څوزره روپۍ په یوه مدرسه یاجومات یاپه څه نیک کار کې خرچ کړې نودهغې نه وروستو دې هغه سړې دپاره دترقي دعاګانې وکړې اونورو مسلمانانو ته دې ترغیب ذکر کړې یا د مسلمانانو دیوي ډلې دیو کس دګناه ذکر راغې نوپه خپله هم دعا وکړې اومسلمانانولره هم هغې طرفته متوجه کړې بل داچه دچانه کیدیشي نودهغه مالي امداددې هم وکړې دچادمرګ ذکر راغې نوخلقولره دې هغې طرفته متوجه کړې چه عبرت حاصل کړې اوخپل ځان دپاره دې دهغه وخت دپاره سامان تیار کړې وروميې خوڅه واقعه اوڅه خبردنیاکې داسې کم وي کوم چه نتیجه ځیزنه وي یاڅه دیني اودینوي فائده ترې متصورنه وي خوکه چرته یوخبر داسې هم بیاهم هغې لره دطبیعت تفریح دپاره په ذکر کې څه باک نشته بلکه دایو درجه کې شرعاً مطلوب دې هرکله چه اعتدال سره وي اودحضرت نبي کریم ﷺ بعض وخت مزاح (خوش طبعي) کول په دې حکمت باندې مبني وه(۷) دشریعت خلاف مضمونونه اودمحلدینو باطل عقیدې خورومې شائع کوي مه، اوکه چرته څه ضرورت سره ددې داشاعت هم نوبت راشي نوکومه پرچه باندې چه مو دا شائع کړې وي هم په هغه پرچه ددې تردید اومضبوط جواب هم ضرور شائع کړې آئنده پرچي ته هغه مه حواله کوې ځکه ډیرسړي داسې هم وي چه هغوې آئنده پرچي نه ګوري خدانخواسته که چرته هغوې دې سره په څه شبه کې ګرفتار شول نودهغې سبب به دغه شائع کوونکې وي(۸) که چرته

مسلمانانو باندې دکافرانو دظلم خبر شائع کول وي نوځو پورې چه دهغه ظلم نسبت دکافرانو دطرف ته په حجت شرعیه سره ثابت نه وي داسې طریقې سره دې شائع کړې چه دفلاني ځاي په مسلمانانو باندې ظلمونه کیږي مسلمانان ددې ظلمونو دبندولو کوشش وکړي اوپه جائز طریقه دې دهغوي جاني اومالي امداد وکړي(۹) داخبار ایډیټر دې همیشه داسې سړي جوړشي کوم چه په ټولو اسلامي علمونو باندې عبور لري یاکم نه کم عالمانوته درجوع کولو پابندې کوي اومذهب سره تعلق لرونکې وي کنې ښکاره خبره ده چه داخبار اشاعت دبې دینې اودبې قیدې یوه کامیابه آله ده(۱۰) یوداسې کتاب کوم چه دین ته نقصان ورکوي یاداسې دوائي کومه چه شرعاً حرامه وي یاداسې معامله کومه چه شرعاً فاسده وي هرګزپه اشتهار کې مه ورکوئ اونه دې اخبار کې تصویر جوړوي. دامختصر عرض وه دکوم بنیاد چه صرف په زړه خوږ اوهمدردې باندې دې اګرچه دزماني په زهریله هواکې ددې دعمل کولو امیدنشته خوپه امید چه کیدشي الله تعالی یونیک بنده ته دعمل او اصلاح کولو توفیق ورکړي داټول عرض وکړې شول والله الحمد. (پنځم فکرا سړي دنیاکې داخرت دپاره ذخیره جمع کولو دپاره راغلیدې خو اصل کار دده دیني مشغولتیاده خوپه ضرورت ددې دیني شغل امداد اوقوت دپاره ددینوي کارونو هم اجازت ورکړې شویدې خوپه شرط داعتدال اواباحت -نوداقاعده مخ ته کیږدې چه کوم ځیزونه ددې دائرې نه بهروي دهغې نه ځان بچ کړي اوددې قاعدې پیژندو دپاره دیني کتابونه اورسالې لوستل اوریدل اودعالمانو صحبت لازم وګڼړي وماعلینا الا البلاغ تمت الضمیمه. (۴شعبان ۱۳۴۹ھ النورصفر/۵۰ھ ص ۳)

هرکله چه روپۍ بغیر دعوې نه وصولیږي

نو دمقدمې دخرچې واپس لازم ده

سوال: (۲۰۹) څو ورځې اوشوې چه هندو کاریګرته دلسوور خوپه وعدې باندې زمونږ مینجر ۲۰۰ روپۍ دمخکې نه دڅه سامان جوړولو دپاره ورکړې وې خو کاریګر خپلې بدیانتۍ سره هغه روپۍ په نورو کارونو کې اولګولې اودوه میاشتې پس یې هم زمونږ مال جوړنه کړو هغه ته خبرورکړې شو چه زمونږ روپۍ سره دخرچې نه واپس کړه کنې دعوې دربانده وکړیشي په دې وجه مینجر هغه دخپل طرفته یوه کړو اودوه سو واصل روپونه علاوه نې ترینه دولس روپۍ خرچه هم واخستې اودهغې نه یې شپږ روپۍ دخپل محنت واخستې

اوشپږ وېښې بې موږته راکړې چه داستاسو حصه ده خوماهغه سود وګڼړلواودهغې داخستونه م انکاروکړونوهغه ووئیل چه داپیسې په غریبانوتقسیم کړه خوماهغه په طورد امانت کېخودلې دي ددي متعلق چه څه حکم دشریعت وي په هغې خبرداري راکړي؟

جواب : دعوی وغیره کې چه څه خرچ شویدي دبعض عالمانودفتوي موافق ته داځان سره کېخودي شي اوددي نه چه څه زیاتی وي اصل مالك دمال ته واپس کول ضروري دي که چرته ښکاره واپسي دمصلحت خلاف وي نوبلې څه ذریعې سره اوڅه عنوان سره واپس کول پکاردي قرب ۱۳۳۸ھ ا حوادث خامسه ص ۱۳۳

دزیرپانې حکم

سوال :(۲۱۰) دزیرپانې حکم دسرودپاره څه دي اوزنانودپاره څه دي ماته خودیکې دتشبه بالفساق شبه ده آیاداصحیح ده؟

جواب : زیرپانې نه خوزره کې وجداناً انکارمعلومیږي باقي وجه پوره طریقې سره په ذهن کې حاضره نه ده ۱۳۳۹ھ حوادث اول ص ۳۷

دفع شبه عدم جوازخروج ازاطاعت یزید

سوال :(۲۱۱) یوه خبره کې ماته ویره ده داحل کړي هغه داچه حدیث نه معلومیږي چه خلیفه اګرچه ظالم اوفاسق وي دهغه نه بغاوت وخروج الاطاعت جائزنه دي یزید اګرچه فاسق وه خوامورشرعیه کې دده اطاعت دلاندي اوسیدل پکاروه یانه بیادومره لوئي امام څه رنګه خلاف شرع بغاوت کولې شي ګنې خودبغاوت داغ لګي؟

جواب : ددي شبه جواب دادي چه دامسئله اجتهادي ده فاسق امام کیدیشي یانه دغه شان داچه فسق دطاري نه منعزل کیږي یانه اوبل داچه مدارد امامت اتفاق دي داهل حل اوعقداواهل حل اوعقدکیدل امراجتهادي دي بس دي ټولوامورو کې دحضرت امام همام په اجتهاد کې دهغه امامت صحیح نه وه په دي وجه دخروج شبه په هغه باندي نه شي کیدلی فقط الله اعلم. ۲۰ ذی الحجه ۱۳۲۲ھ امدادثالث ص ۱۴۵

درسول ﷺ په شان کې دګستاخی کوونکې توبه

سوال :(۲۱۲) یوځاي کې یوکافردحضوراقدس ﷺ په شان کې ګستاخانه حالات شائع کړي وه دمسلمانانوپه مواخذي باندي هغه دعالمانودیوي لوئی ډلې نه معافی اوغوښته اوآئنده داحتیاط ژلواوفی الحال یې دخپلې غلطی اومعافی درخواست ورکولوپه اخبارکې داعلان کولووعده یې وکړه په دیکې دډیرمسلمانانورائې ددي خبري دمنظورولووه اوبعضو اختلاف وکړواوموجوده حکومت کې داستغاثې کولورائې یې ورکړه اوداستغاثې دناکام کیدواحتمال باندي یې هم استغاثې ته ترجیح ورکړه اودلیل یې داپیان کړوچه داحق دالله دي. ددي دمعافی حق صرف اسلامی بادشاه ته دي دهغې متعلق داسوال راغلی وه دهغې جواب لاندینی ولیکلی شو؟

جواب : دمعافی حقیقت چه کوم صاحب شبه ګڼړلی دي هغه معنی یعنی پس دمعافی نه زړه کې خفګان نه وي دامعافی چه کومه سوال کې ذکرده صورت معافی ده په دي وجه بعض حضرانوته شبه راغله دحق الله معاف کولوهیچاته هم حق نشته خوواقع کې معافی نه ده بلکه صلح ده اودصلح نه څه امرمانع نشته اوصلحه چه څه رنګه بغیردشرط نه کیدلی شي دغه شان په شرط باندي هم کیدیشي لکه دلته چه څنګه شرط مقررولې شي چه آئنده به داسې حرکت نه کوي البته په صلح کې شرعاً داقیددي چه دمسلمانانوپه حق کې هغه مصلحت وي اودلته کې مصحلت کیدل ښکاره دي چه فی الحال داسلام اعزازاودکفراذلال اوفی المآب دیومفکرقبیح کفري بندیږدي. په خپله دي معاهد کې هم اوامید دي چه نورجرآت کوونکوپه هم شي چه ددي منکرنتیجه وګوري نوبعضی به عبرت واخلي اوبعضی به دمسلمانانو دښواخلاقونه متاثره شي اوددي امید ونودحکومت نه په استغاثه کې ګمان نه شي کیدي. بلکه په شك کې دي داموجوده فضاپه دي باندي ګواه ده بیاخداي دي نه کړي که چرته استغاثه کې کامیابی اونه شوه نوپه دي باندي چه کوم مفاسد یقیناً مرتب کیږي دهغې په بندولوباندي مسلمانانوته پوره قدرت نشته همیشه دپاره دداسې خلقو جرآت زیات شي بلکه که ترقی وکړي اووائی چه که چرته کامیابی هم وشوه نوښکاره خبره ده چه دسزائی موت خوهډواحتمال نشته صرف قید یاجرمانه کیدیشي اوډیرفساد دکوونکې داسې دي چه دقیداوجرمانې څه پرواه نه لري دوي ته به یوه نمونه په لاس راشي اواګرچه ددي صلح نه وروستوهم دداسې واقعاتواحتمال شته خودمفاسدودکموالي. کمزورالی مشکوکیت اوسخوالی کې تفاوت هم قابل دعمل دي پاتې شوه داشبه چه دمعافی حق صرف اسلامی

باشاده ته دي عام مسلمانانو ته نشته نو په شبه کي چه کوم دلیل بیان شویدي داحق دالله دي ددي مقتضاخو داده چه بادشاه هم داحق نشته ځکه چه بادشاه حقوق الله خونه شي معاف کولی باقي که چرته ددي دلیل نه قطع نظروکړي اودامعافي صلح وګنړي یادمعافي تفسیرانتقام نه اخستل واخلی اوداحکم وکړي نوورومبی دي حکم دپاره دداسي دلیل حاجت دي کوم چه بادشاه هره خاص وي بادشاه اوعامومسلمانانو کي چه مشترك وي څه دویم په خپله شریعت ډیرو حکمونو کي دضرورت په وخت کي عام مسلمانان قائم مقام دبادشاه ګرځولی دي لکه خطیب دجمع اومتولي دوقف اودرولوکي اودنوم اودلته ددي معاملی ددي مذکوره حکمونو نه زیات مهتم بالشان کیدل اوضرورت هم کیدل ښکاره دي نفقدان السلطان المسلم والله اعلم.(۲۲جمادي الاخري ۱۳۵۰ه، النورص ۱۰ ذي الحجه ۱۳۵۰ه)

په کوموتسبیحوکي چه ورو کي ځیندي فوتولګیدلي وي دهغی استعمال

سوال :(۲۱۳) په کوموتسبیحاتوکي چه دبیت الله تصویروي په هغی کي دڅه کسانوطواف کول په نظرراځي دسروشکلونو په هغی کي وي دي صورت کي داسي تسبیح په لاس کي نیول جائزدي؟

جواب : في الدرالمختارلایکره الیٰ قوله وکانت صغیرة لانبین تاصیل اعضاء هاللناظرقائماً وهي علی الارض ذکره الحسبی الخ وفي ردالمختارفي اخرهذا البحث.[تنبیه] هذا کله في اقتناء الصورة واماقعل لتصویرفهوغیرجائزمطلق لانه مضاهاة لخلق الله تعالیٰ کمامر-اج۱ص ۲۷۷، ۲۷۸، ۲۷۹)دی روایت نه دوه خبري معلومي شوي یو داچه دسي عکسی تصویرجوړول حرام دي دویم داچه داسي عکس دتصویرخان سره کیخودل ګناه نه ده .لانهاداخلة في الصغیرقیقیناً وان کانت تریٰ کبیرة لانه خاصة هي امراة المکرة (۲۰ شوال ۱۳۳۵ه) حوادث خامس ص ۱۰)

المقالة المالکة في تصورالحلیلة الهالکة

ادمري ښځی دتصورحکمونه

سوال :(۲۱۴) تیره شپه بیداریدوباندي داحتلام حالت په نظرراغی چه ګهړي م اوکته نونیمی شپی ته نژدي وخت پاتی وه دسستی دوجه نه بیااوده شوم په پرکالی کي دخپلی

وفات شوي ښځی خیال راغی چه په هغی کي قصداواختیارهم شامل وه دهغی شکل حاضریدوسره دخوندا خستلوخیال هم تلوراتلوهرکله چه غسل دپاره پاڅیدم نوورسره خیال راغی چه مرګ سره خونکاح فسخ شویده هغه خواوس ددي دنیاپه اعتبارسره اجنبیه شویده په دي وجه دهغی استحضاراجنبیه استحضارشواودهغی نه خونداومزه اخستل داجنبیی نه خونداومزه اخستل شو کومه چه غټه ګناه ده، طبیعت ډیرخفه شودغسل نه وروستوم توبه اواستغفاروکړوڅه لږه موده وروستوبیاخیال راغی چه دهغی شکل استحضارخوحالت دژوندوه کومه چه زمانه دحلت وه په دي وجه دغه استحضاراواستلذاذکي څه ګناه شوه دهغی ورځی نه وروستومی طبیعت کي شك اوترددي دغه شان ددي نه مخکي هم څوځله داسي خیال راغلیدي چه کله څه مناسبت سره هم دهغی ذکرراغلیدي نوزړه م دهغی داعضاء مرثیه مطالعه شروع کړیده چه په هغی کي اختیاراوقصدضرورشامل دي خو کله هم خبرداري نه وه راغلی اوس ناڅاپه خیال راغی په دي وجه ډیرپه ادب سره عرض دي چه په صحیح خبره باندي م پوه کړي بله داچه کومه خبره قابله دبندولوده دهغی باره کي هم اوفرمائي؟

جواب : دحالت نکاح حیثیت سره مخکي دنکاح اوختمیدلودنکاح دښځی په تصورسره دخونداوتلذذاخستوڅوصورتونه دي دبعضوحکم ښکاره دي اودبعضوحکم قابل دنظردي (۱) یوصورت دادي چه یوي ښځی سره نکاح نه ده شوي خوفرض کړه چه که دي سره م نکاح اوشوه نودغه شان فائده به حاصلوم که هغی سره دنکاح اراده وي اوکه اراده هم نه وي دیولوحکم دادي چه داتلذذحرام دي ځکه چه دغه تلذذمحل چرته هم نه دي حلال شوي چه په هغی کي تمتع بالحلال شبه اوشي اوبعض سره حلت نه کیږي بعضوخلقونه داسي دهوکه اوشوه کومه چه بي ماته بیان کړه اوزماجواب سره بفضله تعالیٰ ختم شوه .دجواب حاصل داوه دحدیث په تصریح سره تمني اواشتهاردبالقلب زناده، اګرچه په درجوکي بي څه فرق وي خوافسوس چه په ګناه کي بي اشتراك دي اوکه چرته څوك دافرض کړي چه دي ښځی سره م نکاح وشی نودغه شان به هغی سره کوروالی کوم نوکوروالی وکړي نوآیاداکاربه حلال وي؟ دغه شان هغه کارهم حلال نه دي (۲) دویم صورت دادي چه یوښځی سره نکاح شوي وه خوطلاق وغیره په وجه بي نکاح ختم شوه اوهغه ژوندي ده، که چاسره بي نکاح کړي دي یابي نه وي کړي اودهغی تصورسره بي خوندحاصل کړوچه هرکله دام په نکاح کي وه نودغه شان فائده به ترینه مااخسته داتلذذهم حرام دي اګرچه دورومبی صورت نه په دیکي دافرق

دي چه محل په څه وخت کې حلال پاتې شوېدي اوپه دې وجه د اتصور صرف تصور هم نه دي بلکه د دې يعنې ويره د فتنې چه د اتصور مفضي کيدېشي د دې په حاصلولو کې کوشش طرفته اوبيا د غلبه نفس په وخت کې په حاصلولو کې د حلال او د حرام قيد نه پاتې کيږي (۳) دريم صورت دا دې چه د ادويم صورت والابنځه چا سره نکاح وکړي او مړه شي برابره خبره ده که د ده په نکاح کې مړه شي يا د ده د طلاق يا وفات نه وروستو مړه شي د هغې په دغه تصور سره هم تلذذ اوخوند اخستل حرام دي ځکه چه بل سره نکاح کولو د وجه نه د ده نه بالکل د اسې بې علاقې شوه لکه څنګه چه دې تصور کونکې سره د نکاح کولو نه مخکې وه يعنې د ده چرته نيروخت کې محل د حلت کيدل معتبر پاتې نه شول اوپه دې وجه د اصورت د وړومبي په شان شو د دې دري واړو حکم څرګند کاره دي لکه څنګه چه وړومبي نه معلومه شوه (۴) څلورم صورت دا دې چه هغه ښځه د ده په نکاح کې مړه شوه او د دې متعلق سوال کړي شويدي څرنګه د دې حالت ذوجهتين اوبين بين دي په دې وجه د دې حکم محل د نظر دې که چرته په دې باندې نظر وکړي چه د ښځې مرګ سره نکاح پاتې نه شوه او هغه اجنبيه شوه نو د هغې تصور په شان د تصور د هغه ښځې دې چه هغې سره د سره نه نکاح هم نه وه شوې کوم چه وړومبی صورت دی يا نکاح کولو نه وروستو د منکوحې په ژوند کې هغه نکاح هم ختم شوي وه لکه څنګه چه دويم او دريم صورت کې دې د دې مقتضا داده چه د اتصور دې جائز نه شي په دې وجه فقها، د احکم دې په لمس او غسل کې د دې اعتبار کړيدې کما في الدر المختار ويمنع زوجها من غسلها ومسها، او که چرته په دې نظر وکړي چه تولو حکمونو کې د اجنبي په شان نه ده اګر خولې شوي لکه فقها، په خپله د دغه حکم نه وروستو لامن النظر اليها على الاصح زيات کړيدي او اجنبيه محضه د پاره بې د انظر هم نه دي جائز ګر خولې بل دا چه په حديثونو کې د حضور اقدس ﷺ د حضرت خديجې د هغې د وفات نه وروستو ذير په محبت سره ذکر کول او د حضرت عائشې د حضور اقدس ﷺ د تقبيل وفعلته انا ورسول الله ﷺ ذکر کول کوم چه اجنبي او اجنبي سړي د پاره نه دي جائز کړي شوي، نو د اصفا دليل د دې معلوميږي چه د اڅلورم صورت د مخکينو دريو صورتونو په شان نه دي او د خصوصيت دعوی محتاج ده مستقل دليل ته او د حضرت عائشې د فعل منشاء خولا لتنکحوا ازواجه من بعده ابدا الزه د احتمال په درجه کې هم ونيلې شي خو د حضرت اقدس ﷺ په فعل کې د ااحتمال هم نشته آياد چا فقيه نه د امنقول دي چه حضور ﷺ ته د بوې بې بې د وفات نه وروستو د هغې بې بې د خور سره نکاح

جائز نه ده نو د لته خو حضرت خديجې ته حکماً هم منکوحه نه شي ونيلی، نو د هغې ذکر يقيناً د غير منکوحې ذکر دي بيا د دې جائز کيدل دليل دي څلورم صورت کې متوفي بې بې لره په تولو حکمونو کې په شان د اجنبي محضې نه ګرځول او جزئيه فقهيه چه کومه ذکر شويده په متعلق د نظر کې اختلاف ته لکه څنګه چه على الاصح نه معلوميږي لري نه ده چه د دې تردد وجه نه وي او علامه شامي چه د دې جواز دليل بيان کړيدي واحل وجهه ان النظر اخف من المس فجاز لشبهة الاختلاف او غالباً د قائلين بالجواز نظر په عدم احتمال فتنه عادةً باندې ورغلی وي بيا د هغې نه وروستو والله اعلم ونيل دا تهول د دې تردد د وجه نه پيدا شوې دي د اخو تردد تقرير وه، خوزما په ذوق کې جواز ته ترجيح معلوميږي ځکه چه د تامل او تتبع نه معلوميږي چه علت تحريم د تصور على سبيل مانعة الخلو دوامره دي، يو تمتع غير د محل د حلت نه دويم ويره د فتنې څلورم صورت کې وړومبی علت يقيناً منتفي دي، او دويم علت کې دې تفصيل سره منتفي دي چه متصور کې خو يقيناً او غير متصور کې خو يقيناً او غير متصور کې د مفضي کيد وظناً خو که په دې باندې مفضي کيد و احتمال وي نو بيا حکم به د حرمت کولې شي لان الحکم تابع بلعة، باقي زما ذوق قابل د اعتماد نه دي نورو عالمانو ته تحقيق وکړي والله اعلم،

۸ رمضان المبارک ۱۳۵۵ هـ (النور ذي قعده ۵۲ هـ ص ۹)

د چندي د بعضي شريکانو د قرعه اندازي

په ذريعه د کېل حق نه زياتي اخستل

سوال :(۲۱۵) مهاراجه د هول پور غالباً د ده تذکره به تاسو اوريدلې وي هغه يوه کمپنې جوړه کړيده د قرعه اندازي او د ضروريا تو د پوره کولو د پاره او د خيرات د فنډ جمع کولو د پاره د هغې حاصل دا دي چه د اهل هند نه پنځه لکه روپې په د اسې طريقې سره جمع کړي چه دوه نيم لکه ټکټونه چهاپ کړي او د فې ټکټ په حساب سره يې خرڅ کړي نو نورې پنځه لکه روپې به شي بيا د هغې نه دوه نيمه لکه روپې او باسي او هغه په کار خير لکه مدرسه او هسپتال وغيره کې ولګوي او په دوه نيم لکه باندې د چندې اخستونکو نومونه وليکي او په هغوي قرعه اندازي واچوي د چانوم چه تولو نه مخکې را اووتو هغه ته به د دغه مال نه يو لک روپې ورکولې شي ديته دوې د انعام نوم ورکړيدي او بيا درجه په درجه قرعه اچوي د دغه شان نوم راوتو باندې هغه مال په دغه چنده اخستونکې کې به تقسيمولې شي او س سوال دا دې چه

ايادي چنده کې ديوسري په خپل اغراضوباندي نظراوساتي يادذاتي اغراضونه قطع نظرفاه عام دپاره صرف خيرات کې حصه اخستودپاره داسې اداکړي توايادي به ګنهګاروي؟

جواب : داخوصفاجواري ده دحرمت چه منصوص قطعي دي.[۱۵ذي قعده۱۳۲۲ه حوادث اول ص۱۵۲]

دغيرجنس نه خپل حق په څه خيلي سره اخستل

داعنوان دريم جلد کتاب الدعوی په صفحه باندي تيرشويدي

دشوکيدارپه اجازت سره بغيرد کرائي دريل سفرکول

داعنوان دريم کتاب الغصب صفحه باندي تيرشويدي

ديولوي تالاب اوبه بندول چه په هغې کې مملوک اوغيرمملوک مهيان وي

داعنوان دريم جلد کتاب الشرب صفحه باندي تيرشويدي

ديوخاص کلي دتالاب نه دنوروخلقو مهيان نيول

سوال :(۲۱۶) يولوي تالاب کوم چه په بيابان کې وي اودهغې مالك ديوخاص کلي خلق وي هغې کې په پشکال کې چه کوم مهيان داخليږي هرکله چه دسوکړي په ورخوکې څلورطرفته زمکه اوچه شي اودهغه تالاب نه چه بل تالاب پوري کوم نهرتللی دي هغه دمهيانودحفاظت دپاره هغه کلي والابندوي دغه وخت ددغه تالاب ددغه کلي والونه علاوه نوروخلقوته دمهيانونيولوحق شته يانه اوددغه کلي والونورولره بندول جائزدي يانه؟

جواب : تول بې نيولی شي چاته دبندولوحق نشته.[۸محرم۱۳۲۲ه]

زنا کارته ددعا کولوحکم

سوال :(۲۱۷) که چرته يوسړي زناکاروي اوپه هغه دزنامقدمه چليږي هغه دپاره دعاکول څنګه دي؟

جواب : که چرته هغه دعاکوونکي په مخکې توبه ويستلی وي نودعاغوختل ورته جائزدي ګني نه.[۲۵جمادي الاولی۱۳۳۷ه تتمه خامسه ص۱۸۵]

دهندوستان نه دهجرت کولوحکم

سوال :(۲۱۸) عرض دادي چه دلته په سندکې دعالمانوکانفراس خلافت کميتی کې تللوته قرض وايي اونصاراؤسره تعلق کټ کولواوهجرت کولوته فرض وايي اوبعض عالمانوچه اهل کانفراس نه وي بلکه ګوشه نشين دي هغوي وائي چه هجرت مستحب دي فرض نه دي خوتعلق کټ کول دطرفه دعدم امکان مشابه جهادنه غيرممکن دي فرض نه دي اوس تاسوحضراتولره منصف اوفيصله کوونکي ګنړي چه حکم وي بيان کړي چه داجهګړه ختم شي مهرباني وکړي تکليف معاف کړي اوزرجواب راوليږي اګرچه عوام وايي چه حضرت مولاناتهانوی صاحب جواب نه ورکوي ليکن ماعاجزداسلامی وروروالی په خاطرتاسوته تکليف درکړو؟

جواب : اسلام عليکم ورحمة الله وبركاته:- اناقائل فى جميع هذه الاموربعدم الجواب لعدم الشرائط المذكورة فى الكتب الشرعية فى هذاالحين كماكان الحال فى السابق ولم يقع بينهمافارق لكن مع هذا لاارى قولى هذا خاتمة التحقيقات.[شوال۱۳۳۸ه تتمه خامسه ص۱۵۲]

دماشوم مرکيدونه وروستوهغه نوم کټ کول

سوال :(۲۱۹) هلك چه پيداشي اونوم کټ کيدونه مخکې مړشي نوبيادمرکيدونه وروستو دهغه نوم کټ کول جائزدي يانه؟

جواب : اوس کټ کول فضول دي کټ کول خودي دپاره کيږي چه دايوزياتی څيزدي چه دايوځای وي نوژوندي ته تکليف وي لکه څنګه چه نوکونه وغيره کټ کولی شي دمرګ نه وروستو ددي څه ضرورت پاتی نه شوبلکه دقواعدوپه مقتضاء سره دامکروه اومنع دي والله اعلم.[جمادی الاول۱۲/۱۳۲۲ه امدادج۲ص۱۵۹]

تحقيق وجوب وعدم وجوب مهمانداري

سوال :(۲۲۰) آيادرملمه درملمستياحق واجب دي يانه لکه څنګه چه دفليکرم دظاهرنه معلوميږي؟

جواب : فائده :- حديثية فقهيه بحث الضيف وجوباً وندباً :فى المرقاة الجلد الرابع (۳۱۹۳۳۸۸۹) قال بعدكلام طويل مانصه قالوا وبشعربان الثلثة ليست من الصدقة فيحمل اماواجبة لكنها

تسخت بوجوب الزکوة اوجلعت کالواجب للغاية وارادوابها بعدها التبرع المباح ثم قال وعامة الفقهاء على انها من مكارم اخلاق وحجتهم قوله ﷺ جائزته يوم وليلة والجائز العطية والمنحة والصلة فذلك لايكون الامع الاختيار وقوله فليكرم يدل على هذا ايضه اذليس يستعمل مثله فى الواجب وتاولوا الاحاديث بانها كانت فى اول الاسلام اذكانت المواسات واجبة واختلف انها على الحاضر والبادى ام على البادى فذهب الشافعى رحمه الله ومن تبعه الى انها عليهما وقال مالك ومنم والله انما ذلك على اهل البوادى الان المسافريجد فى الحضرالمنازل ومايشترى الاسواق اه قلت وان رايت الوجوب من قوله ﷺ من كان يومن بالله واليوم الأخر الوارد فى اكرام الضيف فقد ورد مثل هذا اللفظ فى ماليس بواجب بالاجماع كماذكرفى المرقاة (اخرالصفحة المذكورة) برواية الطبرانى عن ابى امامة من كان يومن بالله واليوم الاخر فلايلبس خفيه حتى ينفعهما اهـ

،دي پورتنی عبارت نه داخبري معلومی شوي (۱) دجمهورومذهب دادي چه ملمستياواجب نه ده صرف دښواخلاقويو، حصه ده (۲) لفظ جائزه دليل دي چه داواجب نه ده ځکه چه ددي معنی ده عطيه اوصله (۳) پاتی شولفظ دليکرم دهٔيت نه زيات دلالت دمادي معتبردي اوهغه په عدم وجوب باندي دلالت کوي (۴) وروميی واجب وه خوبيامنسوخه شوه (۵) پاتی شوفرق په ثلاثه اوغيرثلاثه کې دعدم وجوب په صورت کې هغه فرق دادي چه دثلاثه وروستو هغه دضيافت نه بالکل خارج دي (۲) که چرته دغه مرتبه کې يې اومنی هم نودامام مالك رحمه الله په نزدداباندي خلقوپوري خاص دي چرته چه مسافرخپل څه انتظام نه شي کولی (۷) که چرته ديؤمن بالله نه دوجوب شبه وي نوداسی الفاظ دلبس خف باره کې هم راغلي دي حالانکه هلته يقيناً وجوب نشته (۸) داحکم قطع نظردعوارضونه دي په دي وجه دعوارضوذکرنه کول ددي دليل دي باقی دعوارضوپه اعتبارسره ددي پريخودل دښواخلاقومنافی هم نه دي (۱۰ ذيقعده ۱۳۳۵هـ تتمه خامسه ص ۳۸)

دظالم گرفتار دقدمي دامداد حکم

سوال :(۲۲۱) دغل دغلا دپاره کورته دننه شواويوسړي يې زخمی کړوخه مال اخستونه بغيرلاروا وس هغه سړي په شبه کې نيولی شويدي دهغه دراوستلودپاره کوشش کول اوتلاش کوونکې څه ورکول چه رضاشی داڅنگه دي که چرته داخيال وکړي چه ده خومال نه دي اوړي په دي وجه شرعی قاعدي په اعتبارسره په ده باندي صرف تعزيردي اوده ذلت اومال خرج کول تعزيردپاره کافی دي نوگنجائش پکې معلوميږي خوده يوسړي زخمی کړيدي اوشرعی قاعدي په اعتبارسره که چرته يوزخم داسی وي چه دهغی قصاص اخستې شی نودهغی دقصاص واخستی شی ديت حکومت چه دانصاف وي اوداقانون دانگريزي نه بالکل جدادي دلته صرف جرمانه ده ياجيل، دي سره خودي زخمی شوي ته هيڅ نه ملاېږي آؤ دي توبه کوي اواقرارکوي چه آئنده به چري هم داسی نه کوم ددي جواب غواړو؟

جواب : زماپه نزدددي جواب ښکاره دي چه دازخم په هرحال کې حق دبنده دي اوهغه دخپل حق مطالبه کولی شی اگرچه هغه ته اصل حق ملاؤنه شی خوهغه په دي سزاباندي کوم چه په اصل حق اودي قانون کې يومشترك امردي قناعت کولی شی نواصل حق نه ملاويدل په دي وخت کې حاکمانوطرفته منسوب دي اوتلاش کوونکې څه ورکول اورضاکول دايوچل اوپرده په مابين دصاحب حق اوددي سزاکې کومی لره چه دي په مجبوري سره بدل گنړي داصل حق نوداخوظالم امداددي اوحديث کې کلياوجزئياتولقوله عليه السلام من حال الخ، په دي باندي وعيد راغليدي په دي وجه دامداد حرام دي فقط والله اعلم (اجمادي الاول ۱۳۳۲هـ امداد ج ۲ ص ۱۵۸)

دفاسقانو سره دتعلق ساتلو حکم

سوال :(۲۲۲) ديرخله داخبره ذهن ته راځي چه دفاسق لکه دبې نمازواوگيره خرونکو عالمان هم ډيرعزت اوتعريف کوي حالانکه دامضمون هم ښکاره دي چه کله دفاسق مدحه اوتعريف کولی شی نودالله عرش خوزي اوهغه عابدډيربدترين شوځوك چه دفاسق په فسق اوفجورباندي بيزاري ښکاره نه کړي ډيري توجيهاني په زړه کې جوړوم خوصحيح توجيه په پوه کې نه راځي؟

جواب : فاسق سره په اصل کې هم دغه معامله ده کومه چه تاسونقل کړيده خودعارض دوجه احکام بدليږي اوعارض دوه دي يوجلب دمصلحت ددينيه بل دفع دمضرت دينويه مثلاً دهغه تعريف سره دهغه داصلاح اميدوي يادڅه بل څه دينی امرمضبوطوالی وي يامثلاً دهغه دشراودشمنی نه بچ کيدل وي نودي صورت کې دهغه اکرام اوتعلق جائزدي خوزړه سره دهغه په فسق باندي انکارياهم واجب دي نوحديث عابدپه هرحال کې معمول به دي البته په

قاعده الضروري يتقدربقدرالضرورة دي عوارضونه هم تجاوزعن الضرورة جائزنه دي. ۱۴ جمادی الاخر ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص ۱۳۲)

دسود دصاحب دتعليم حكم

سوال :(۲۲۳) داعاجزيواستاددي ده ته درياضي تعليم حواله شويدي دسركاري نظام ملازم دي. دي عاجزباندي په رياضي كې دسود جوابونه هم طالب علم ته خودل راځي مخكې دي عاجزدسود حساب هم طالبانوته خودل خوكله نه چه ماپه اسلامي حكمونوباندي حتى الامكان دعمل كولو كوشش شروع كريدي زره وونيل چه دسوجناب هم خودل نه دي پكار، ددي متعلق م دلته هم دډيروعالمانوته تپوس وكړوخوهغوي كې هم اختلاف وه اوهيڅ زره ته راتيره جواب ملاونه شوچونكه حضرت سره م محبت دي اودحضرت په جواب سره به م تسلي وشي په دي وجه ستاسوخدمت كې عرض دي چه زماداسودسوالونه خودل درسول الله ﷺ حكم موافق دي يانه – دي دپاره چه زه پري مستقل پاتي شم؟

جواب : كه چرته دنوكرئ پاتي كيدل په دي باندي موقوف نه وي نوم ښايه كه وي نوبياورته اوښايه نورسره وايه چه دي حساب سره په سودكې كاراخستل جائزنه دي آوكه چرته څه دقرض اداكولوپه وخت كې كوم څاى چه دهغې شرط ياعرف نه وي په خوشحالي سره اووايه چه زه ستاسواحسان په بدله كې احسان كول غوارم چه په شلوكې ددومره اندازي په حساب كې تاسوته مدددركوم ده ته ددي نه كاراخستل جائزدي. ۱۰ ربيع الاول ۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه ۱۲۵)

دكافرانودهجوي جواز

سوال :(۲۲۴) يوانگريزي خواه تپوس كړيدي چه حديث كې چه كوم راځي رسول الله ﷺ حضرت حسان ؓ ته دكافرانودهجوي باره كې وئيلي وه داچاته دكافرانودهجوي (يعني دكافروبدبيانوول اشعاروكې) وئيل داخلاق پيغمبري نه ډيرلري معلوميږي زه په جواب كې داليكونكې يم چه هجوه على الاطلاق څه بده اوعيب نه دي كه چرته څه غرض دپاره وي تودفاع دپاره هركله چه قتال پوري جائزدي بلكه بعض صورتونوكې خوواجب اوفرض دي نوهجوه خوددي نه ډيروروكې څيزدي خصوصاً هركله چه دهجومقصد دخپل ذاتي دشمنانوسره نه وي بلكه ددين دشمنانوبدله اخستل دي اوتجربې سره ددي كارموثركيدل ثابت شوي هم دي دي جواب باندي كه چرته دزياتي ضرورت وي نوپه هغې باندي هم اشاره راكړي؟

جواب : قوله ثابت شوي هم دي په دي چه دي حكمت طرفته په خپله حضرت ﷺ اشاره چه باكل وضاحت ته نږدي ده فرمائيلي ده. حيث قال اهجواقريشافانه اشدعليهامن رشق النبل وقال ﷺ ان روح القدس يؤيدك مانافحت عن الله ورسوله وقال ﷺ هجاهم حسان فشفى اشتفى (مسلم فضائل حسان) وقال النووى فيه جوازالانتصار من الكفار وقال وفيه جوازهجو الكفارمالم يكن امان وامالمره ﷺ بهجائهم الى قوله فالمقصود منه النكاية فى الكفاروقد امره الله تعالىٰ بالجهادفى الكفار ولاغلاظ عليهم وكان هذا الهجواشدعليهم من رشق النبل فكان مندوباً لذلك مع مافيه من كف اذاهم وبيان نقصهم والانتصاربهجائهم المسلمين قال العلماء وينبغى ان لا يبدوءُ المشركون بالتسب والهجاء مخافة من سبهم الاسلام واهله قال الله تعالىٰ ولاتسبّو الذين يدعون من دون الله فيسبوعدوًا بغيرعلم ولتنزيه السنة المسلمين عن الفحش الاتدعوالى ذلك ضرورة لابتدا تهم به فيكف اذاهم ونحوه كمافعل النبى ﷺ اه ، دي عبارت كې ددي حكمت شرح اوآداب اوشرطونه جمع كړي شوي دي اويو زياتي حكمت يې هم اوخودلوفى قوله مع مافيه من كف اذاهم وفى قوله فكيف اذاهم يعني دكافرانوجرآت اوزياتي بندول هم مقصود وه ځكه چه هركله هغوي وګوري چه مونږوايونودي نه زيات به واوري نوبيابه ددوي همت مات شي نودي كې دمسلمانانوحفاظت دي اودحق پرستوحفاظت دشراوتكليف نه دادلويواخلاقونه دي اوداټول حكمتونه فلسفيانه نه دي اويوحكمت صوفيانه هم ډيرباريك دي هغه داچه په خپله بدله نه اخستلوسره به په دوي دالله غضب ډيرسخت وي اوبدله اخستلوسره په هغې كې سپكوالي راځي نوپه ديكې عين دهغوي خيرخواهي ده دليل دهغه سختوالي اوسپكوالي يوحديث دي چه دحضرت عائشې نه چاغلاوكړه نوهغه بددعاوكړه حضرت ﷺ اوفرمائيل چه بددعاكولوسره دهغوي په سزاكې سپكوالي راځي اودحضرت ﷺ ددي حكمت يوه نمونه بل حديث كې ده چه دحضرت ﷺ په مرض الوفات كې كوروالودهغوي ﷺ په خوله مباركه كې دوايي واچوله اومنع كولوباندي يې هم داسې وكړل حضرت ﷺ خپل ورانډي ټولوته به خوله كې ددوائي اچولوحكم وكړو، رواه البخارى فى باب مرض النبى ﷺ ووفاته، دلته محققونه هم دغه حكمت بيان كړيدي چه كه چرته حضرت ﷺ بدله نه اخستي نوپه دوي باندي څه عذاب اووبال نازليده حضرت ﷺ دوي بچ كړل غرض داچه دحضرت ﷺ اصلي مذاق خوداوه چه په حديثونوكې راغليدي چه

حضرت ﷺ ته کافرانو ته دبدعاکولو درخواست وکړي شونو هغوي ﷺ انکاروکړ اوداصلي مذاق نه چه چرته خلاف شوي دي څه قومي عارض دوجه نه شوي دي فقط ۲۲ رجب ۱۳۵۲ھ. النور ربیع الاول ۱۳۵۳ھ / ۷

بابو وغیره ته رشوت ورکول

سوال :(۲۲۵) دمال لیږلو په وخت کښې دډاک بابو یادمال بابو څه دډاک چوړولو اخلي دغه شان دپریخودو په وخت کښې هم څه اخلي که چرته هغه ته ورنه کړیشي نو قسماقسم پریشانو کښې غورزیدل راځي لکه دډاک کټ کیدل بلتي دیر وخت پس ملاویدل یابندیدل دډاک نه پریخودل او که مقدمه کول غواړي نو څوځله کیدیشي او بیاتول خلق ورکوي ددي نو نو په مقابله کښې یو ورته کړي نو هغه هیڅ هم نه شي کولی او نه څه ثبوت تیارولی شي نو آیا دااجرت ورکول رشوت دي یانه که چرته نه دي نو ولي ځکه چه دهغوی تنخواه سرکاري مقرره ده یااجرت څنګه دي او که چرته رشوت دي نو بیاددي نه دخلاصي څه صورت کیدیشي؟

جواب : دارشوت دي خرداورکول دظلم دفع کولو دپاره دي اودظلم دفع کولو دپاره رشوت ورکول جائزدي. ۹ ۲ شوال ۱۳۳۲ھ حوادث اول ص ۱۵۴

نکاح اوکوژدن وغیره / کنډي ښځې دنکاح نه بندول

سوال :(۲۲۶) کنډي ښځې ددویمي نکاح نه بندول په شریعت کښې حلال دي یاحرام یامکروه سره ددلیل نه بیان کړي بینواتوجروافقط؟

جواب : قال الله تعالیٰ :- فلاتعضلوهن ان ينكحن ازواجهن اذاتراضوابينهم بالمعروف ذلك يوعظ به من كان منكم يومن بالله واليوم الاخرذ لكم ازكیٰ لكم واطهرالآیة وقال الله تعالیٰ :- وانكحوا الايامیٰ منكم الآیة وقال رسول الله ﷺ یاعلی لاتوخرثلاثاً وعدمنهاالایم اذاوجدت لهاكفوا (الحدیث) اودي لره شرم عیب اوننګ ګنړل دیکښې ویره دکفرده ،لقوله تعالیٰ :- فلاوربك لايومنون حتى يحكموك فيماشجربينهم ثم لايجدوافی انفسهم حرجاً مماقضيت ويسلموا تسليماالآية ولقوله ﷺ لايؤمن احدكم حتى يكون هـواه تبعالماجئت به (الحدیث). (۲۱ شعبان ۱۳۳۰ھ امدادج ۲ ص ۱۲۲)

دکنډي نکاح

دا عنوان صفحه ۱۱۲ باندي تیرشویدي

کنډي ښځې ته دوائي وغیره کول پیغله جوړول دهوکې ورکولو دپاره

سوال :(۲۲۷) بعض زنان بیوه راباکره ساخته ازقسم دواوغیره یافریب کرده بشود هرمیدهند تمام عمرشوهرآن طعن وملامت آن میکنند ازین وجه زن وشوهرناخوش وناراض باهم دیگرعداوت دارندحکم شرع درین باب چیست؟

جواب : عن ابی هریرة ﷺ ان رسول الله ﷺ قال من غش فليس منی رواه مسلم مشکوٰة باب النهی عنهامن البیوع – ازین حدیث صریح معلوم می شودحرمت این فعل مسئول عنه بمثابه که رسول ﷺ فاعلش راخارج ازجماعت خودفرمودند (تتمه اولی ص ۳۱۸)

په زنانوباندي دپردي اونظراولاس لګولو حکمونه

{دزنانودپردي حکم}

سوال :(۲۲۸) دپردي په نسبت څه حکم دي آیاپرده فرض ده یاواجب ده یاڅه ده ؟

جواب : دپردي دوه معنی دي یو ستردویم حجاب سترخوفرض دي تفصیل دهغی دادي چه سړي ته دسړي ټول بدن لیدل جائزدي خودنوم نه ترزنګونانوپوري جائزنه دي اوزنانوته هم دزناني دومره بدن لیدل جائزدي اودخپلې حلالې شرعي[1] ویښزي اودخپلې ښځې ټول بدن لیدل جائزدي اودخپلومحارمومخ اوسراوسینه اوپنډي اودواړه لاسونه ترمټوپوري جائزدي خوپه دې شرط چه شهوت نه بچ وي اوددوي ملااوخیټه کتل جائزنه دي اوغیرمملوکې هم دومره بدن لیدل جائزدي اودپردي اصیلی زنانه هیڅ هم کتل جائزنه دي خودلاسونو ورغوي کتل جائزدي په شرط ددي چه شهوت پکې نه وي اوکه چرته دشهوت ویره وي نوبغیرد سخت حاجت شرعي نه یې لیدل جائزنه دي آؤکه چرته څه حاجت وي لکه دحاکم دحکم کولو په وخت کښې اوګواه دګواهي په وخت کښې خومخ کتل جائزدي اوطبیب ته دمرض ځاي خودل جائزدي اګرچه څلقوته ویره دشهوت دوي باقي حتی الوسع خپل زړه نه شهوت لرې کړي په دي وجه داروایت دقدوري شاهد ددي مضمون دي، ولایجوزان ینظرالرجل من الاجنبیة

[1] یعني چاسره چه کوروالي حلال دي منه .

الاوجهها وكفيهاقان كان لايامن الشهوة ولاينظرالى وجهها الالحاجة ويجوزللقاضى اذا اراد ان يحكم عليها وللشاهداذا اراد الشهادة عليهاان ينظرالى وجهها وان خاف ان يشتهى ويجوز للطبيب ان ينظرالى موضع المرض منها وينظرالرجل من الرجل الى جميع بدنه الامابين سرّته الى ركبتيه ويجوزللمراة ان تنظراليه من الرجل اليه منه ويجوزان تنظرالمراة من المراة الى مايجوز للرجل ان ينظر اليه من الرجل وينظرالرجل من امته التى تحل له وطيهاوزوجته الى فرجهاوسائرجسدهاوينظرالرجل من ذوات المحارم الوجه والراس والصدروالساقين والعضدين اذا ام الشهوة ولاينظرالى ظهرها وبطنهاوينظرالرجل من مملوكة غيره الىٰ مايجوز ان ينظراليه من ذوات محارمه.پس ستريه دي تفصيل سره فرض دي دويم حجاب دي كوم چه تن صبايه شريفانوكښي معمول دي چه زنانوپردي سرپي ته بالكل خپل بدن نه ښئ الى اوغالباً غرض دسائل هم داپوس كول دي نوداخودجناب رسالت مآبﷺ ازواج مطهراتو باندي خوفرض وه لقوله تعالىٰ وقرن فى بيوتكن ولقوله تعالىٰ واذاسالتموهن متاعاً فسئلوهن من وراء حجاب ،اودامت په مؤمنانوزنانوباندي فرض نه دي په دي وجه دغه بره روايت نه معلوم شول چه دپردي زنانه مخ اوورغوي كتل جائزدي خوچه شهوت سره نه وي البته داحجاب سنت اوواجب استحساني دي اودمصلحت دوجه (١)نه اودشراوفتني لري كولودوجه نه ضروري دي لقوله تعالىٰ يايها النبى قل لازواجك وبناتك ونساء المؤمنين يدنين عليهن من جلابيبهن ذٰلك ادنىٰ ان يعرفن فلايوذين الاية تفسيرحسيني كښ راځي ،گويندندرپشان زانيان ست كه شبهابرسرراه ها نشستندی دوست تعدّی بدامن كنيزان رسانيدی- وسعدیؒ فی مايدكه دران وقت حرائراعلامت آن بودكه سرپوشيده درراه افتندی دجواری سربرهنه بودندی چون آن بدكاران ازسرپوشيدگان تحاشی نمودندلاجرم آية آمدای پيغمبربگومرزنان خوداودختران خودراوزنان مومنان راكه بوقت بيرون رفتن انتهى

دي نه معلومه شوه چه داحكم دفتني دوجه نه شويده .وفى الدرالمختار صفحه ٢٧٢ من الجلد الاول وتمنع المرآة الشابة من كشف الوجه بين الرجال لا لانه عورة بل لخوف الفتنة كمسه وان امن الشهوة لانه اغلظ ولذاثبت به حرمة المصاهرة كماياتى فى الحظرانتهى ، حضرت شاه ولى

(١) حاصل ددي وجوب بغيره دي ١٢.

اللهؒ صاحب دقل للمؤمنت يغضضن من ابصارهن الاية ،په تفسيركښ فرمائي مترجم گويدكه حاصل اين آيت آنست كه مواضع زينت دوقسم است، آنچه درستران حرج است، وآن وجه وكفين بود ،وآنچه درستران حرج نيست مانندسروگردن وعضدوذراع وساق، پس ستروجه وكفين ازاجنبيان فرض نيست بلكه سنت است وسترغيرآن ازجنبيان فرض است نه ازمحارم ،والله اعلم فتح الرحمٰن اوحضرت شاه عبدالقادرصاحبؒ دفاسئلوهن من وراء حجاب الاية په تفسيركښ فرمائي اودي روايت كښ حكم دپردي اوشوچه سري دي حضرتﷺ دازواجومخي ته نه راځي دټولو مسلمانانو په زنانوداحكم واجب نه دي كه چرته بوزنانه ديوسړي مخي ته وي اوټول بدن يي پټ وي نوگناه نشته اوكه مخي ته نه وي نوبهتره ده موضح القران بس خلاصه دجواب داشوه چه سترفرض دي اوحجاب دمصلحت په وجه واجب دي والله اعلم واتم واحكم،٢٨شعبان المعظم/ ١٣٠٠ه امدادج٢ص١١٩

په دي فتوی باندي سوال

ستاددي تحريرنه ثابته شوه چه پرده جائزده كه څوك اونه كړي گناه نشته اومصلحةً واجب څه ته وائي ددي تفصيلي حال وليكي؟

جواب : زمادتحريرنه دپردي جائزكيدل نه ثابتيږ په خپله داعبارت په هغې كښ موجوددي پس ستروكفين ازاجنيان فرض نيست بلكه سنت است بس جائزكيدل چرته هم نه ثابتيږي اوداپي چه كوم ليكلي دي چه كه څوك اونه كړي گناه نشته نه ثابتيږي څكه داعبارت ديكښ موجوددي ،دي نه معلومه شوه چه داحكم دفتني دوجه نه اوشونوچه كوم حكم دڅه علت سره كيږي هركله چه هغه علت اوموندي شي نوحكم به هم ضرورموندلي كيږي- بس هركله چه حكم دپردي په علت دويري دفتني نه اوشونوكوم ځاي چه داخطره وي لكه په خوانه زنانه كښ په هغې باندي داحكم ضروروا جب دي كه چرته ونه كړي نودواجب پريخودونكي ده اوگنهگاره ده، البته چرته چه احتمال دفتني نه وي لكه دشپيتواوياڅكالوبوډي خوپه دي باندي داحكم هم واجب نه دي اوكه چرته داپرده اونه كړي گنهگاره نه ده ،هغ دسنتوپريخودونكي ده اوواجب مصلحةً دامعنى نه ده چه خلقومصلحت اوكتونوواجب يي كړه بلكه دامعنى ده چه شريعت ددي وجوب ديومصحلت په بنياد كيخودي دي هركله چه هغه مصلحت وي نوجوب به هم وي هركله چه هغه مصلحت نه وي نووجوب به هم نه وي لكه پرده كښ محصلت ختمول

دشراودفتنې دي وجوده بوجودها وعدمه بعدمها په خلاف دنورو واجباتو مطلقه چه په هغې کې حکم قائم مقام دعلت وي. کما لا یخفی علی من له ادنی مسکة فی الفقه هذا ما عندی . والله اعلم [۸رمضان چهارشنبه/۱۳۰۰هـ امداد ج۲/ص۱۲۰]

ایضاً

سوال: (۲۲۹) دآزادې اومؤمنې زنانې پرده دپردواونامحرموسرونه دحدیث اوفقې په روسره څنګه دي؟برقعه اچول واجب دي یامخ اولاسونه که ښکاره وي بهرځي نوجائزدي اوکه چرته جائزوي نودهغه سرې باره کې څه حکم دي څوك چه زنانولره په کور کې کیناستوباندې مجبوروي اوچاردیواري نه بې بهرنه پرېږدي یابغیردبرقعې تلوراتلونه منع کوي؟

جواب: وقال الله تعالیٰ وقرن فی بیوتکن پاره ومن یقنت شروع وقال الله یایها النبی قل لازواجك وبناتك ونساء المومنین یدنین علیهن من جلابیبهن ایضا ومن یقنت قریب ربع وقال الله تعالیٰ واذاسألتموهن متاعاً فاسئلوهن من وراء حجاب ایضا پاره ومن یقنت رکوع ۳ وقال الله تعالیٰ والقواعدمن النساء اللاتی لایرجون نکاحاً فلیس علیهن جناح ان یضعن ثیابهن غیرمتبرجات بزینة وان یستعففن خیرلهن پاره قد افلح بعدثلث اربع وقال رسول الله ﷺ المرأة عورة فاذاخرجت استشرفها الشیطٰن ،رواه الترمذی وعن ام سلمة انها کانت عندرسول الله ﷺ ومیمونة اذاقبل ابن ام مکتوب فدخل علیه فقال رسول الله ﷺ احتجابه فقلت یارسول الله ﷺ الیس هواعمیٰ لا یبصرنافقال ﷺ افعمیا وان انتما وفی الدرالمختار تمنع الشابة وجوبا من کشف الوجه بین الرجال لا لانه عورة بل خوف الفتنة اه ، ددې صفحه دي وخت کې یادنه ده خوعبارت یې راته یاددي. ددې حدیثونوایتونواودفقې دروایتونوترجمه چرته یوعالم نه زده کړه اوبیاغورپکاردي چه دي نه صفامعلومیږي چه زنانه دپاره حکم اصلي داحتجاب اواستتاربجمیع اعضائها اوکانها ثابت دي ،البته چرته چه ډیرسخت ضرورت وي یاد بووالې دوجه نه احتمال دفتنې اودشهوت نه وي هلته دمخ اودلاسونوکولا کول جائزدي اودامطلب دي ددې دسترنه کیدو. دي سره دسوال جواب ښکاره شوچه دمشتهاتوزنانو راتلل پردوسرومخې ته دقران شریف اوحدیث په روسره ناجائزدي اوپه ضرورت کې به برقعه اغوندې هله به اوزي البته چرته چه تنګسیاوي یابوډاګان زیات وي هلته جائزدي نوڅوك چه زنانولره په کورکې ناسته باندې مجبوروي اوچادیواري نه یې بهرنه پرېږدي اوبغیردبرقعې

دتلوراتلونه منع کوي هغه بالکل په قران اوحدیث اوفقه باندې عمل کوونکې دي اودې سرې به دمفاسدونه دبندولولوي اجرملاویږي اودشردبندونکواودخیر دکولاوونکومصداق به وګرځي فقط والله اعلم [۱۲رمضان/۱۳۱۹هـ امدادج۲/ص۱۴۸]

تفصیل حکم پرده واقتداء کیسکه زنش بی پرده باشد،دامسئله په امدادج۲/ص۱۵۴/ جلد اول/ص۲۲۲/ باندې لیکلې شویده په دي چه هلته یې وګورئ ،

القاء السکینة فی تحقیق ابداء الزینة / دزنانودپردې حکم

سوال: (۲۳۰) بعض خلقودسورة نورلایبدین زینتهن الاماظهرمنهاکې دماظهرمنهاتفسیر چه په وجه اوکفین سره منقول دي، دي سره یې په عدم وجوب استتاروجه اوکفین باندې استدلال کړیدې، ایادااستدلال صحیح دي یانه؟

جواب: دړومبی خودماظهرمنهاداتفسیرمتعین نه دي داقول دابن عباس رضی الله عنه نه منقول دي اودحضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه ددې تفسیرپه ثیاب اوجلباب سره منقول دي،والقولان مع اقوال اخرمنقولان فی الدرالمنثور،هرکله چه داتفسیرمحتمل شونومحتمل سره استدلال صحیح نه دي څکه چه په دویم قول باندې په ایت کې دوجه کفین دااستثناء هیڅ دلیل نشته،اوکه وي منې هم بیاهم دااستدلال صحیح نه دي اومنشاء ددې جهل دي په بنځواموروباندې په خپله دجملې ماظهرمنها دمعنی نه هم (۲) او(۳) اودلایبدین دسباق بالموحده وسیاق بالتحتانیه سره هم (۴) او (۵) اوددې ایت نه چه مخکې دي په نزول کې اودبعضوایتونونه هم اودویم موخرفی التلاول غیرمعلوم التقدیم والتاخیرفی النزول ایت نه هم په دې چه دټولومتعلق عرض کوم. [دړومبی امر] ماظهرمنهافرمائیل اوماظهرن نه فرمائیل سره ددې نه چه په ټولوصحیفومذکورفی الایة کې فاعل نساء ګرځولې دي لکه یغضضن یحفظن ،لایبدین ،یضربن ،بخمرهن،لایضربن بارجلهن، دلالت کوي په دي باندې چه داظهورمن غیراظهار[1] [دویم امر] یغضضن من ابصارهن ویحفظن فروجهن [دریم ثالث] لایضربن بارجلهن، [څلورم امر] دسورة احزاب رکوع چه دسوره نورنه په نزول کې مخکې دي

[1] لوجه الدلالة ان الظهورله درجتان احدهما مابدون الاظهار حقیقة کالا ضطراری اوحکماً کالظهور الضروری المشابة بما لاضطراری کما سیاتی والاخری ما با لاظهار والمراد ههنا الاولیٰ لکونها ادنیٰ لا یحتاج الی الدلیل ولادلیل علی الزائد ولکونه مقتضی المقام من المنع عن الاظهار ۱۲منه ،

كذافى الاتقان ايټونه وقرن فى بيوتكن وقوله تعالىٰ واذاسالتموهن متاعاً وقوله تعالىٰ يدنين عليهن من جلابيبهن ،اينځم امرا اية :والقواعد من النساء اللاتى لايرجون نكاحاً ، اوچونكه په دي ينځوواړو اموروكې څه تعارض نشته كماهوامبسوط فى كتب الفقه اوپه دي وجه په ديكې دانه دي وئيلى چه دا موخرمقدم دپاره ناسخ دي په دي داينځه واړه واجب الاخذدي اوس په دي ينځوواړوياندي نظر كولوسره تقرير دمقام داشوچه ايت وقرن فى بيوتكن كې ښخوباندي استتار داشخاصو واجب كړيدي اواصل حكم اوعزيمت هم دادي خوكله كله دكورنه دوتلوحاجت هم راځى داسى حالت كې يې يدنين علهين من جلابيبهن كې په اظهار اشخاص كې رخصت وركړواودبدن استتاريې واجب وګرځولو- بيا كله كله دكورنه بهردچاچه خادمان نه وي دبعضى داسى كارونوضرورت راځى كوم چه لاس سره كيږي اوپه دي وجه دلاسونوپرده موجب حرج وي اوپكاركولوپه وخت كې دهغه كاروكتلوهم حاجت وي اوبرقعه كې په مخ پټولوكې هغه برقعه په سترګوكې پرده راولى اوپه دي وجه دمخ پټول هم موجب دحرج ګرځى داسى حالت كې الاماظهرمنهاسره دتفسيرمشهورپه بنيادباندي صرف دمخ اودلاسونودكولاوولورخصت وركړي شوديدي اودنوربدن پرده يې واجب وګرځوله اوچونكه داضرورت په وجه دخدمت داقاوينزوكې ديرزيات وي دهغوي په رخصت كې يې زيات توسيع وكړه كماهومبسوط فى كتب الفقه توجوازداظهاردوجه وكفين صرف حالت حرج فى الاستتار سره مخصوص دي اوبعضوقدمين لره هم كفين سره يوځاي كړيدي اوبعضودليس خفين صانع مشى نه كولولره په دواړوكې فارق خودلى دي اوپه دي تقييدبحالة الحرج باندي دمستقل دليلونونه علاوه په خپله صيغه دظهركې هم دلالت دي، چه دهغى توجيه داده چه زنانه دخپل څه اندام كوم چه تفسيردي دزينت ، كه بالمطابقت دي اګرچه مجازاً هم وي يابالالتزام المعتبرعند اهل العربية دغه شان چه هركه زينت كوم چه مبانى اوملابس دي اظهاريې جائزنه دي توبيادځايونودزينت كوم چه جزودي اظهاريه يې څنګه جائز وي هرګزنه ښكاره كوي ،وهذامدلول قوله تعالىٰ والايبدين زينتهن ، خوكه چرته داسى حالت وي چه په هغى كې دوجه اوكفين استتارداسى ګران وي چه كه چرته دااستتارقصدهم كوي بياهم هغه اضطراراً بلاقصداظهارپه خپله ښكاره كيږي څكه چه دي ضروري كارسره استتارنه جمع كيږي داسى حالت كې په معيارد الضروري يقتدربقدر الضروره دي عارض په وجه دومره اندازه كې ددي دښكاره كولواجازت شته بس داحكم

دعارض دوجه نه دي اواصلى حكم هغه استتاردي بس داستتارامعنى ده نه داچه اصلى حكم بالقصد دوجه اوكفين ښكاره كول دي اواستتارڅه عارض سره وي اوددي احتمال څنګه كيدلى شى هركله چه مقام خپل سياق داسباق سره په فتنى بندولوباندي دي داپه دي مبنى چه دزينتهن نه مرادعام وي هرزينت لكه خائسته لباس اوخائسته كاراوكالى اوعطروغيرهاچه ددي تولو ښكاره كول لايبدين سره حرام دي نوداعضاؤچه په هغى كې دوجه كفين هم اظهاردي څنګه به جائزشى ۱۲ ،مقصودښايې په دي وجه يغضضن اويحفظن ولايضربن بارجلهن تول ددي انسدادپه مقصوديت كې نص دي اوحديثونوخودفتنى چه كوم لري اسباب دي هغه يې هم بندكړي دي نوداسى حالت كې دوجه اوكفين اوخصوصاًدوجه ،كومه چه مبنى دتولوفتنوده اوددي انكارنه صرف په بصيرت بلكه دبصارت دوركيدوهم اقراردي قصداًښكاره كول دايت څه رنګ مدلول كيديشى كنى دايت په اجزاؤكې به تعارض راشى كوم چه دادنى عقل مندپه كلام كې هم ممتنع دي نودحكم على الاطلاق په كلام كې به څه رنګه جائزشى. اودامسئله په خپله مستقل ده چه وجوب داستتاروجه اوكفين اووجوب داستتار نوربدن ياددواړه وجوبه ديونوع نه دي ياد دووڼوعونه لكه دفرض علمى اودعملى – چه دهغى مشهورعنوان دادي چه ديكې كومه عضوه عورت فى نفسه ده اوكومه نه ده خودلته ددي نه بحث نشته كوم امرچه دلته مقصوددي يعنى مطلق وجوب استتار- په ديكې داتول برابردي لكه عورت غليظه اوغيرغليظه نفس وجوب ستركې برابردي خوغلظاوعدم غلظ كې فرق دي- اوچونكه عادةً لاس سره كاركولوكې كه چرته خاص طورسره خيال اونه ساتلى شى سراومرئ كولاوېږي په دي وجه دليضربن بخمرهن سره يې دهغى انتظام وكړوبيادااصلى وجوب استتاروجه اوكفين بنابراطلاق الفاظ عام وه،اوبوډيګانودپاره يې ايت والقواعدمن النساء الخ سره ددي وجوب نه هغه بوډيګانى زنانه مخصوص اومستثنىٰ كړي اګرچه استحباب هغوي دپاره هم ثابت دي لقوله تعالىٰ وان يستعففن خيرلهم باقى دوجه اوكفين نه علاوه دنوربدن وجوب استتاراوس هم عام دي په دي وجه سره وغيره ښكاره كول بوډيګانودپاره هم حرام دي اوايت والقواعدمن النساء الخ ته دمخصوص وئيلومبنى هغه اصولى قاعده ده چه هركه دخصوص دليل كلام مستقل موصول وي نوهغه دليل عام دپاره مخصوص ګرځى اوغيرمعلوم التزامى په حكم دموصول كې دي نوپس دتخصيص نه حاصل دحكم داشوچه داخواناو زنانو دپاره خواستتاردوجه اوكفين

ماسیوادحرج خاې نه په خپل حال واجب پاتې شواوبو دیگانو دپاره صرف مستحب .گنی که چرته خوانو دپاره دوجه اودکفین کشف جائزوي نوبیاپه ایت کې دوالقواعدتخصیص بې کاره وه دي تقریرسره داستدلال سقوط واضحه شو اوداټول حکمونو دپردوسره په اعتبارسره وه اودمحارمو وامثالهم حکم ددویمې جملې لایبدین زینتهن الالبعولتهن الخ کې ذکرشویدي دهغې تقریرپه بیان القران کې شته – دي تقریرنه وروستوبفضله تعالی نه په یومحقق باندي څه اشکال پاتې شواونه چامبطل لره دخبر وکولواحتمال پاتې شوفقط. (خبرداري) اوداټول تفصیل دجوازیاعدم جوازانکشاف للاجانب یاللاقارب دزنانې په فعل کې دي باقي دسړي چه کوم کاردي نظرکول دهغې جدا حکم دي یعنې جوازدانکشاف جوازدنظرلره مستلزم نه دي بس کوم صورت کې چه زنانې لره دیوانداندام کولاوول جائزدي هغې سره دالازم نه راځي چه سړي ته ددهغې کتل هم جائزوي بلکه هغه په محلّ اومحرم کې یاپه احتمال دشهوت کې په خپل حال دغض بصرماموردي په دي وجه په خپله ایت کې ددي عدم استلزم دلیل موجوددي یعنې دسړي بدن ماسیوادمابین السرة والرکبة نه جائز الانکشاف دي خوزنانه ته بیاهم حکم دي ،یغضضن من ابصارهم ،ځان ښه پوه کړه فقط ثاني ربیع الاول ۴۷ھ

تقریرقوله تعالیٰ لایبدین زینتهن ازمولوی حبیب احمدصاحب

قال الله تعالیٰ قل للمومنات یغضضن من ابصارهن ویحفظن فروجهن ولایبدین زینتهن الاماظهرمنها ولیضربن بخمرهن علیٰ جیوبهن ولایبدین زینتهن الالبعولتهن اوأبائهن اوابابعولتهن اوابنائهن اوابناء بعولتهن اواخوانهن اوبنی اخوانهن اوبنی اخواتهن اونساء هن اوماملکت ایمانهن اوالتابعین غیراولی الاربة من الرجال اولطفل الذین لم یظهرواعلی عورات النساء ولایضربن بارجلهن لیعلم مایخفین من زینتهن وتوبوا الی الله جمیعا ایهاالمؤمنون لعلکم تفلحون- دا یوایت [illegible] چه دي کې الله رب العزت زنانه دارتکاب نه منع کوي اودوي ته ددي خبروتعلیم ورکوي کوموسره چه دوي دزنانه محفوظ پاتې کیدیشي خودي سره الله رب العزت دي حکمونو کې ددي هم رعایت ساتي چه زنانوباندي تنگي رانشي په دي وجه فرمائي چه ای رسول ﷺ ته مسلمانانوته اوفرمایه چه هغوي خپلې سترگې بند کړي اوخپل نظرونه ازادنه کړي ځکه چه دنظرازادي وړومبی مرحله ده دزناځکه چه دي سره دیوکس خاثست معلومیدشي اودي

معلومیدوسره استحسان پیداکیږي اواستحسان سره رغبت اورغبت سره کوشش اوکوشش سره زنا، اودغه شان خپلوشرمگاهونولره (دزنانه) بچ کړي اوکه چرته دوي داسې اونه کړي نوپه زناکې دمبتلاکیدومضبوطه خطره ده، اودویم خبره کومې سره چه دوي دزنانه بچ پاتې کیدیشي داده چه ،هغوي دخپل خائست (کپړي اوکالي وغیره) نه ښکاره کوي (بلکه داپه خپله پټ ساتي) دي دپاره چه دوي دسړودانفاقي نظرنه هم بچ شي اوکه څوك په پټه وراتې سره دوي ته کتل غواړي نوهغوي هم کامیاب نه شي اوهرکله چه دنفس خائست باره کې داحکم دي نودجسم اعضاء خوبالاولیٰ قابل دپټولودي ماسیوادهغې (خائست نه) کوم چه (عادة) ښکاره دي (اودهغې په پټولوکې تنگې وي ځکه چه اگرچه ددي په کشف في نفسه کې هم خطره ده خوچونکه خطره بعیده اوضرورت شدیده دي په دي وجه دضرورت دوجه نه هغه مستثنیٰ دي لکه (۱کپړي یاهغه خائست چه دهغې تعلق وجه اوکفین سره دي لکه گوتې شوه ،غمی شول ،بنگړي ،نکریزي د ،دنداسه ،رانجه،پان،ټیکه ښکاره کول وغیره . اوهرکله چه دامستثنیٰ دي نوتبعاً اوالتزاماً (۲) ددي ځایونه یعنې وجه اوکفین هم مستثنیٰ شول خوددي (امعنی نه ده چه وجه اوکفین اوددي متعلق خائست لره دخلقوپه وړاندي کولاؤکړي بلکه مطلب صرف دومره دي چه في نفسه په دي کپړوکې دپټیدوضرورت نشته دغه شان دکوم خائست اودهغې دځایونودپټولوچه هدایت دي دهغې هم دامطلب نه دي چه دنوروخلقونه دي پټ کړي یعنې دي جمله کې سترځیزونوبیان کول مقصود دي اودي نه هیڅ بحث نشته چه چانه دي پټ کړي اودچاوړاندي دي ښکاره کړي ځکه چه ددي تفصیل مخکې راروان دي اوخپلې لوپټې په خپلوگریبانونوورواچوي (دي دپاره چه مړئ هم پټه وي اوگریبان سره سینه هم پټه وي اودتیونه هغه اوچتوالی هم پټ شي داهغه تدبیرونه دي چه دي باندي زنانوته ذاتي طورباندي عمل کول پکاردي ددي دپاره چه دزنادخطرنه بچ شي ، اودریمه خبره چه دهغې دزنانه دحفاظت دپاره ډیرسخت ضرورت دي داده چه هغو خپل خائست (۳) لره (که

---

[1] دي تفسیرباندي ټول اقول دسلفوکوم چه دماظهرپه تفسیرکې واقع دي جمع شول اومعلومه شوه چه ددي تفسیرونه په طورتمثیل دي نه په طوردحصر ۱۲.

[2] دیکې ارشاددي دي طرفته چه کوموخلقودماظهرمنهاتفسیروجه اوکفین سره کړیدي هغوي وجه اوکفین لره ددي مدلول التزامي گرځولې دي نه مدلول مطابق ۱۲.

[3] النهی عن ابداء الزینة مع کونهاغیرفقهیه یدل علی ان مبنی هذا النهی لیس کون الشئ عورة اوغیرعورة بل هو الفتنة وهویدل علی ان الوجه لیس مستثنی ۱۲.

لباس وي که کالی وي[۱] یادند اسه رانجه وغیره، دچاو راندي ښکاره نه کړي ماسیوادخپلو خاوندانو نه دخپل پلارنیکونو نه یادخپلو خاوند دپلارانو نه یادخپل سکه اولادنه خامن .نمسی[۲] یادخپلو خاوندانو دسکه اولادنه ، خامن ،نمسو، [۳] یادخپلو وروڼو نه یاد خپلو وریرونو نه یادخپلو خامنو داولادنه ،لکه خامن نمسی، ،یاددي په شان نورو محارمو نه، یادخپل هم مذهب مسلمانانو زنانو نه یادخپل ،مونث، وینځو نه یاد هغه متعلقینو[۴] ،نوکرانو چاکرانو نه، کوم چه په سرو کي ،دپوره ساده والی دوجه نه اودهیروالی دوجه نه، دزنانو حاجت نه لري یادهغه ،نامحرم، هلکانو نه کوم چه ،دنابالغ والی دوجه نه ، دزنانو په هغه پټو فائدونو وي خبر ،ځکه چه دخاوندانو دپټوالی خوځه وجه نشته پاتی شو محارم نو دهغوي نه دفتنی ویره تقریباً دنه کیدوده اودکثرت اختلاط اوضرورت دوجه دهغوي نه احتیاط ډیرګران دي خوکه چرته دهغوي نه خطره نزدي وي نو دهغوي نه به هم خطره کولی شی لعدم المنشاء الاستثناء پاتی شوي مسلمانانی زنانه – نو دهغوي نه هم خطره نشته اوضرورت دي – دغه شان په کافرو وینزو کي هم ضرورت دي اوخطره یې لږ ده پاتی شول تابعین غیراولی الاربة اونابالغ هلکان نو هغوي کي ضرورت دي اوخطره نشته په دي وجه داخلق یې مستثنی کړل داخو حکم وه دنفس زینت ،اوس پاتی شول ځایونو داظهارلره لکه وجه اوکفین نو دهغی حکم خوالتزاماً معلوم شو چه چرته دزینت ښکاره کول جائز دي هلته وجه اوکفین ښکاره کول هم جائز دي اوچرته هغه نشته داهم نشته اوس پاتی شول هغه اندامونه چه دهغی دزینت اظهار مستلزم نه دي دهغی اظهارلره لکه اعضاء مستوره تحت الثیاب بس هغی کي تفصیل دادي چه کوم کسان چه مستثنی دي ،یعنی محارم، دهغوي نه دکوموانداموڼو په سترکي چه حرج دي لکه سر ،څټ ،سینه ،مټی ،پنډي، څنګلی، داپه وجه دعلت مشترکه محلق بالزینة دي اوکوم چه داسی نه دي هغه په خپل حکم اصلی یعنی وجوب تستر باندي باقی دي لکه پټون، ګیډه وغیره په استثناء دخپل خاوند، ځکه ده دپاره څه شی قابل دتستر نشته،

---

[۱] دل علی التفهیم اطلاق اللفظ لان لفظ الزینة یعم کل ماتیزین به واللباس ایضاً منه کماقال تعالی خذوازینتکم والبرقع ایضاً من اللباس فلایوذن بالخروج فی البرقع بلاضرورة ۱۲۔

[۲] هذا بطریق عموم المجاز ۱۲۔

[۳] اعتبار الامرین فی الاستثناء اعنی التبعیة وکونه من غیراولی الاربة یدل علی ان مبنی الاستثنا مجموع الامرین الضرورة التی تدل علیه التبعیة وعدم الفتنة الذی یدل علیه کونه من غیراولی الاربة وهمامتحققان فی جمیع استثناهم الله ۱۲۔

[۴] وردفی تفسیره عن السلف الابلة والاحمق والمغفل لامخبوط الحواس ۱۲۔

اوڅلورمه خبره کومه چه دزنانه په حفاظت باندي فائده ورکوي داوه چه ، هغه دهغه خپه زمکي ته نه راځوي ددي دپاره چه ددوي هغه خائست ورسره ښکاره شی کوم چه یې پټ کړیدي ،ځکه چه دزنانو دکالواوازچه سړي واوري نو خطري طورسره به هغوي طرفته مائل شی دي سره وروسبی دهغوي په خیال باندي اثرغورزیږي اودخیال نه په فعل باندي اوهرکله چه دوي ته دخپلو کالو داوازپټولو ضروت دي نو دوي ته ددي اجازت بالاولی نه کیږي چه دوي خپله بی ضرورته نورو سړو سره خبري وکړي ځکه چه دهغوي اوازدکالو داوازنه زیاته فتنه ده اودضرورت په موقع به هم ددي احتیاط کولی شی چه فتنه نه وي کماقال تعالی

اواصل تدبیر کوم چه مانع عن الزنا دي هغه دادي چه ،ای مومنانو تاسو ټول الله ته رجوع وکړي ،ځکه چه په دي تدبیرونو هم په هغه وخت کي عمل کیدیشی هرکله چه رجوع الی الله وي کتی داټولی خبري په صرف یوه قصه اوګرځی کوم چه په صرف داوریدو په درجه کي پاتی شی اوپه دي په عمل ونه کړیشی امید دي چه ،په تدبیرونو باندي عمل کولوسره ، تاسو کامیاب شی ،اوددي په پریخودلو یاره کولو نامراداوناوانی نه شی،

فوائد متعلقه ایت مطلوبه

،۱، په دي ایت کي چه څومره حکمونه ذکرشویدي هغه ټول دزنانو په انسداددي تدبیرونو کي دمددور کولو په حیثیت ذکرشویدي،۲، چونکه هغه ټولی خبري کومه نه چه دي ځاي کي منع کړي شویده ټول په یو ځل کي مفضی الزناء بلکه ددي احتمال په بعضو کي قریب دي اوبعضو کي بعید دي اوبعضو کي ابعد- په دي وجه دنهی په مرتبو کي هم تفاوت لازم دي بس دغیرمحارمو په عدم موجودګي کي دزناني ماسیوایې دزینت ظاهره نه ښکاره کول خلاف احتیاط کیدو دوجه نه خلاف اولی ګرځی اودغیرمحارمو په موجودګي کي دزینت کولاوول دفتنی داحتمال دنږدي والی دوجه نه حرام ګرځی په دي وجه لایبدین زینتهن الاماظهرمنهاکي به نهی مطلق طلب کف دپاه شی اولایبدین زینتهن الالبعولتهن کي به تحریم دپاره- ،۳، لایبدین زینتهن الاما ظهر منها کي ابداء نه کشف اوسترفي نفسه مراددي نو چه کشف للغیروسترعن الغیرځکه چه ایت کي غیرسره هیڅ تعرض نشته اونه دتقدیرمحذوف ضرورت شته اونه په نفس حذف بالتعین محذوف باندي څه قرینه شته دي

سره په ديکې ډير مفاسد (۱) هم دي او غرض مسوق له الكلام بقدر امكان تدبير دحفاظت دزنا دي خو تبعاً دي نه دعورت او غير عورت تفصيل هم معلوميږي او معلوميږي چه دزنانو مخ او ورغوي ستر نه دي ځکه چه دا دي نه دعذر دوجه نه ستر ساقط دي او نور جسم ستر دي ځکه چه دهغې ستر في نفسه بحاله باقي دي بس دفقهاؤ استدلال د دي نه تفصيل په عورت او غير عورت باندي باشارة النص دي نه په عبارة النص خو نور د دليلونو سره وينزي د دي نه مستثنى (۲) دي او په دوي کې دستر او غير ستر تفصيل نور دي

(۴) دالاماظهر منهانه چه څوك د دي د ثابتولو كوشش كوي چه ځوانو زنانو له عام طور باندي په كولاؤ مخ باندي گرځيدل جائز دي دا دوي غلطي ده ځکه چه مونږه او خودل چه الاماظهر منهاکې صرف زنانو ته في نفسه دمخ او دلاس كولاؤ ساتلو اجازت دي دي د پاره چه دنورو اندامونه په شان د دي دپټولو اهتمام سره دوي ته تكليف نه وي او په دي کې دنورو په وراندي د دي كولاو ولو دجواز او عدم جواز سره يې كار نشته بيا د نهي دابداء زينت او ضرب ارجل نه معلوميږي چه دزنانې ټول اندامونه او متعلقات في نفسه قابل ستر دي ځکه چه په ديکې دسرې توجه لره خپل ځان ته كولو کې قدرتي اثر دي او وجه او كفين سره اسقاط دستر في نفسه دوجه دضرورت نه دي دغه شان بعض اعضاء مستوره في نفسها كالبراس والعضد (۳) وغيرها واعضاء وغير مستوره في نفسها كالوجه والكفين دمحارمو په مخکې دښكاره كولو اجازت هم دضروت په بناء دي په دي وجه وجه او كفين وغيره کې ستر اصلي دي او كشف للعارض او چونکه دځوانو زنانو په كشف وجه للاجانب کې څه داسې ضرورت نشته كومې لره چه شريعت ضرورت گڼړي ځکه چه دنن صبا تهذيب او تمدن او ترقي شرعي ضرورتونه نه دي او احتمال دفتنې پکې ډير نژدې دي په دي وجه دوي ته دكشف وجه للاجانب شرعاً اجازت نه شي كيدي، بالخصوص په داسې حالت کې چه كله الله رب العزت دفتنې په وجه زنانو له دخپلو كالو داواز اوريدلو هم منع كوي او سره د دي نه چه دسرو مخ وغيره عورت نه دي او بيا يې هم زنانو ته دستر گو ښكته كولو حكم وركړيدي بس هر كله چه هغه زنانو له دسړو دكتلو نه منع كوي چاچه زيانه حصه او بدن عورت نه دي او كوم چه عورت

---

(۱) لذا بينا بعضها فيما سياتي وتركنا بعضها خوفا من الاطناب ۱۲.

(۲) خو فقهاؤ دوي نه دي مستثنى كړي بلکه دهغوي اعضاء له هم كوم چه علاوه دوجه او كفين دي ستر نه دي ماظهر عادة کې يې داخل كړيدي.

(۳) يعني لکه دسر او دمټو ۱۲.

دي هغه پټ دي بل داچه هغه دخپلو كالو اواز هم سړو ته داورولو نه منع كوي- بل داچه هغه سړو ته دغضوا من البصارهم حكم وركوي حالانکه دهغوي نظرونه خپل اعضاؤ باندي غورزيدي شي دكومو دښكاره كولو په جواز چه زور زور كولي شي نو څوك عقل مند دا نه شي منلی چه هغه خاص د دي اهتمام په حالت کې زنانو ته په ذريعې دالاماظهر منها د دي اجازت وركړي چه هغوي خپل مخونه سړو مخکې ښكاره كړي او دزنا پاټك كولاؤ كړي بس دي نه معلومه شوه چه دالاماظهر منهانه داگنړل چه دي ځاي کې الله رب العزت زنانو له دسړو مخکې دمخ ښكاره كولو اجازت وركړيدي هرگز قابل دقبول نه دي بل داچه الله رب العزت په لايبدين کې دپټ زينت ښكاره كولو منع فرمائيلې ده نو كه چرته د دي نه دكشف للغير ممانعت دمقصود وي نو بيا دهغې څه وجه كيدل پكار دي چه الله رب العزت سر او مټو وغيره لره دپردو په مخکې دكولاوولو ولې منع فرمائيلې ده، د دي جواب كه چرته دا وركړي چه هغه عورت دي نو دي باندي سوال دا دي چه اخر دي لره دعورت گرځولو څه وجه ده نو د دي جواب به هر خاوند دپوه دا وكړي چه د دي وجه هغه احتمالي فتنه ده بس او س دسوچ كولو قابله دا خبره ده چه ايا متو وغيره كولاوولو کې دفتنې كم وه الله رب العزت د دي هغې دپټولو حكم وركړي او په كوم کې چه احتمال دفتنې زيات وه دهغې دكولاوولو دي اجازت وركړي هر كله چه يو عقل منده مداخيره نه شي منلی نو ثابته شوه چه دلته دابداء نه مراد كشف للغير نه دي بلکه كشف في نفسه دي او دمخ كولاوولو اجازت دنورو خلقو په مخکې نه دي بلکه په ديکې صرف دكشف في نفسه اجازت دي بيا كه چرته دجواز كشف منشاء صرف عورت نه كيدل دي نو په خپله داظهار زينت ممانعت ولې دي ځکه چه نفس زينت عورت اوصطلاحيه نه دي حالانکه د دي دكشف ممانعت منصوص دي ځکه چه لفظ زينت خپلې حقيقي معنى کې استعمال شويدي او زينت خايونه اخستل بلاضروت او بې قرينې دي،

(۵) لايبدين زينتهن الاماظهر منهاکې اصالة منهى عنه ابداء زينته ده - او دزينت مستوره دخايونو حكم په طريقې د (التزام) اولويت ثابت دي، او زينت ظاهره کې داتفصيل دي چه كه چرته د دي زينت ښكاره كول مستلزم دښكاره كولو دمحل وي نو هغه محل به التزاماً مستثنى وي لکه وجه او كفين او دكوم ابداء چه مستلزم دابداء دمحل نه وي هلته نه مستثنى نه وي لکه ثياب وغيره. (۲) لايبدين زينتهن الالبعولتهن کې هم چونکه زينت نه مراد حقيقي معنى ده په دي وجه اضافه به هم زينت سره متعلق وي او زينت چونکه مطلق دي په دي وجه

غیرمستثنی کسانولره دهرزینت ښکاره کول جائزنه دي که هغه مخ او کفین سره متعلق دي یادجسم څه بلی حصی سره اومستثنی کسانولره دهرزینت ابداء جائزده - اوس پاتی شول خایونه دزینت اوس هغی کښ داتفصیل دي چه چونکه غیرمستثنی کسانولره دهرزینت ښکاره کول ناجائزدي په دي وجه دهغی دځایونو ښکاره کول بالاولی ناجائزه شول او چونکه مستثنی کسانولره دهرزینت ښکاره کول جائزدي په دي وجه دهغی جوازپه دلالت مطابقی دمنطوق کلام نه ثابت شو اوس پاتی شول ځایونه پس دیکښ تفصیل دادي چه کوم ځایونه په ابداء کښ دزینت نه نه شی جداکیدي دهغی ابدا خودنص نه په دلالت التزامی ثابتیږي او کوم ځایونه چه داسی نه دي دهغی نه نص ساکت دي اوپه دي وجه دهغی حکم به دنوروودلیلونه معلومولی شی نوهغه چونکه دوه قسم دي بعض خوداسی دي چه دهغی په اخفاء کښ دمستثنی کسانونه تعذردي اوبعض داسینه دي نواوس دکومه په اخفاء چه تعذردي هغه فقهاؤ په علت مشترکه سره دزینت محلق گرخولی دي او کوم چه داسی نه دي هغه په خپل حالت باندي په سترکښ دي سیوادخپل خاوندنه ځکه چه دهغه نه خوهیڅ شی هم پټ نه دي اوس دي نه ثابته شوه چه په حکم دلایبدین زینتهن دغیرمستثنی کسانونه دمخ اودلاسونو پټول ضروري دي اوددي نه داهم ثابته شوه چه الاماظهرمنها کښ زنانوته دکشف وجه للغیراجازت نشته کنی دواړه حکمونوکښ به تعارض راشی اوددي تعارض دفع دپاره الاماظهرمنهالره په حکم دلایبدین زینتهن الالبعولتهن کښ مقدرمنل بی ضرورته اوبی قرینی دي (۷) فقهاؤ تصریح کوي چه دیرزیات بوډیگانوزنانولره دنامحرمو په وړاندي مخ پرانستل جائزدي اوس ددی وجه یاخودادہ چه دوي لره دلایبدین زینتهن نه په دي بنیادباندي خارج گنړي دي چه دلته مقصودبالخطاب هغه زنانه دي که کومی چه اهل شهوت دمحل شهوت دي کمایدل علیه قوله تعالیٰ قل للمؤمنت یغضضن من ابصارهن الخ، یاددوي دي لره دوینزوپه شان نوروودلیلونوسره خارج کړیدي- په دي وجه یودلیل دادي چه دزنانی تول بدن فی نفسه داحتمال ددفتنی دوجه نه ولوکان بعیداً قابل سترفی نفسه وعن الغیروه خوشریعت دحرج دوجه نه دمخ اولاسونونه سترفی نفسه لره دټولوزنانوپه حق کښ ساقط کړو خودځوانوزنانوپه حق کښ سترعن الغیردفتنی دوجه نه په خپل حال باقی پاتی شو او دبوډیگانونه دفتنی داحتمال دوجه نه چه ډیرکمزوردي اودفی الجملہ ضرورت نه کشف عن الغیرهم ساقط شو- اونوربدن دغیرساقط السترکیدودوجه نه په خپل حال واجب

پاتی شو او دویم دلیل دوالقواعدمن النساء التی لایرجون نکاحاً نه کیدیشی- دي تقریرسره داخبره هم معلومه شوه چه بوډیگانوزنانوته دکشف وجه په جوازکښ دعورت نه کیدودخل ضروري دي خودامستقل علت نه دي چه دي نه دانتیجه راویستل صحیح وي چه دځوانوزنانومخ هم سترنه دي په دي وجه دمخ کشف للغیرفی نفسه جائزدي خودفتنی دوجه نه منع کړي شویدي ځکه چه مونږه اوخودل چه دمخ اودکفین عورت نه کیدل په دي معنی دي چه ددي نه دتعذرپه وجه کشف فی نفسه ساقط دي ،نه په دي معنی چه ددي دغیرمحرمو په وړاندي ښکاره کول جائزوي ځکه چه سترعن الغیرپه دیکښ په خپل حال باقی دي اوپه بوډیگانوددي جوازکشف للعارض دي لکون السترا صلاً فی النساء (۸) فقهاؤ وائی چه سړي لره دغیرمحرموزنانومخ اولاسونه کتل جائزدي خوپه دي شرط چه دفتنی ویره نه وي اوددي نه دانتیجه راوزي چه زنانولره دغیرمحرمو سړوپه وړاندي مخ ښکاره کول جائزدي خودادیره سخته غلطی ده .ځکه چه وړومبی خودي زمانه کښ دجوازه شرط تحقق ډیرنادردي بیا کشف وجه للغیراورویت الی وجه المراة دادواړه جداجدا کارونه دي وړومبی فعل زنانه دي دویم دسړي اوس که چرته فرض کړي چه سړي ته په خپل نفس باندي اطمنان دي په دي وجه هغه ته گنجائش دي چه هغه ددي زنانه مخ ته وگوري نوزنانی لره دهغی په مخکښ مخ کولاوولوځنگه اجازت کیدیشی ځکه چه دي ته څه پته ده چه زمادمخ په ښکاره کولوبه دسړي په زړه اودماغوڅه اثرکیږي اوهرکله چه دي ته اجازت نه شی کیدي نوددي نه دانتیجه راویستل بالکل غلط دي ، (۹) قال ابن جریر حدثنی علی قال ثنا عبدالله قال ثنی معاویة عن علی عن ابن عباس رضی اللہ عنہما قوله ولایبدین زینتهن الاماظهرمنها ،قال والزانیة الظاهرة الوجه وکحل العین وخضاب الکف والخاتم فهذاتظهرفی بیتهالمن دخل من الناس علیها— دي روایت نه دوه خبري معلومیږي یوداچه زینت مرادځایونو دزینت نه دي بلکه ماتزین به النساء دي اودخودل دوجه ماظهرکښ لزوماً دي دویم داچه دفی بیتها دقیدنه معلومیږي چه دابداءنه مرادابداء فی نفسه ده نه کشف للغیر- اومطلب دادي چه هغوي په کورونوکښ داسی لباس واچوي چه مخ اولاسونه اودهغی متعلق زینت کولاؤوي اوهرکله چه داصورت (۱) دي نوکومو خلقولره چه په کورکښ دتلوراتلواجازت شته هغوي دپاره ددي په ښکاره کیدوکښ څه

(۱) الدفع هذا مایتوهم من قوله فهذا تظهرفی بیتها لمن دخل من الناس علیهما ان المراد من الابداء هنا الکشف للغیر ۱۲

باك نشته.(۱۰) ابن جرير د ماظهر منها په تفسير كې ډير اقوال بيان كړيدي او فرمائي چه، اولى الاقوال فى ذلك بالصواب قول من قال عنى بذلك الوجه والكفين يدخل فى ذلك الكحل والخاتم السوار والخضاب، وانما قلنا ذلك اولى الاقوال فى ذلك بالتاويل لاجماع الجميع على ان على كل مصل ان يستر عورته فى صلوته وان للمراة ان تكشف وجهها وكفيها فى صلوتها وان عليها ان تستر ماعدا ذلك من بدنها، الاماروى عن النبى ﷺ انه اباح لها ان تبدى من بدنها مالم يكن عورة كماذلك للرجال لان مالم يكن عورة معير حرام اظهاره واذاكان لها اظهار ذلك كان معلوما انه مما استثناه الله تعالىٰ لقوله الاماظهر منها لان كل ذلك ظاهر منها- (منها خو ديكې دا كلام دي چه مسلّم ده چه دي باندي اجماع ده چه زنانه خپل مخ او ورغوي په نمانځه كې كولاؤولى شى خو دينه صرف دا ثابتيږي چه د مخ او د لاسونو فى نفسه ستر ضروري نه دي او دا په دي معنى غير عورت دي او د دي نه دا نه ثابتيږي چه د دي ډيرو مخكې اظهار هم جائز دي او په سړو باندي د دي قياس، قياس مع الفارق دي ځكه چه د سړو چه د كوم اندامونو نه ستر فى نفسه ساقط دي د هغى نه ستر عن الغير هم ساقط دي د و جه د ضرورت نه ځكه چه هغوي د پاره د هغى اندامونه په ستر عن الغير كې هغه حرج او تنګى ده كومه چه زنانو لره په ستر و جه او كفين فى نفسه كې ده په خلاف د زنانو چه هغوي په كور كې پرده كې ناستى دي هغوي د پاره په ستر عن الغير كې څه حرج نشته په دي وجه د هغوي په حق كې به ستر عن الغير په خپل باقى و پاتى وي د دي نه علاوه په زنانو كې تستر اصل دي او تكشف د عارض د وجه نه دي او په سړو كې د دي په عكس، وقال النسابورى فى اثناء كلامه بدن المراة بدليل انه لايصح صلوتها مكشوفة البدن وبدن الرجل بخلافه ص ۷ ج ۱ هامش بن جرير و فى الكشاف ايضامايدل عليه حيث قال فان قلت لم سومح مطلقاً فى الزينة الظاهرة قلت لان سترها فيه حرج الخ وهذا يرشدك الى ان التستر فى المراة هو الاصل والكشف للعارض فقياس احدهما على الآخر قياس مع الفارق، او په دي بنياد باندي مالم يكن عورة فغير حرام اظهاره په دي معنى باندي مسلّم دي چه د اسى اظهار فى نفسه حرام نه دي او په دي معنى مسلّم نه دي چه د دي اظهار غير محرم د پاره جائز دي بس د دي استدلال سره دا خو ثابتيدي شى چه مخ او لاس عورت نه دي په دي معنى، چه دا اعضاء مكشوفه فى نفسه او ساقط الستر دي خو نه د دي نه دا ثابتيږي چه دا د ماظهر منها نه مراد دي او نه دا چه د دي كشف للغير جائز دي بيا د ترجيح

ضرورت هغه وخت وي چه كله تعارض وي او مونږ ته دا خو دلى دي چه مختلف احوال د هغى په تفسير كې د تمثيل په طور راغليدي نه په طور د حصر- او دا خليدل د وجه او كفين په ماظهر منها كې په دلالت التزامى كې دي نه په دلالت مطابقى نو بس نه ديكې تعارض شته او نه د ترجيح ضرروت اګرچه دا خبره بالكل ښكاره ده خو مونږ بيا قطع حجت د پاره وايو چه عبدالله بن مسعود ﷺ كله د زينت ظاهره تفسير مطلق ثياب سره كوي او كله د دي د دي په تفسير كې صرف رداء (څادر) بيانوي او ثياب په زينت كې داخليدو باندي خذوا زينتكم عند كل مسجد نه استدلال كوي او عبدالله ابن عباس ﷺ كله د دي په تفسير كې صرف الكحل والخاتم وابى او كله الكحل والخذان وانى او كله الخاتم والمسكة او كله الوجه كحل العين وخضاب الكف والخاتم دي نه صفا معلوميږي چه دا تفسيرونه د مثال په طور سره دي نه په طور د حصر- ما دا بن جرير كلام نقل كولو سره په دي ځكه كلام كړيدي چه د دي سره معلومه شى چه د مشهورو تفسير و مبنى څه ده او د هغى څه حقيقت دي (۱۱) وقال ابن النيرفى الكشاف قوله تعالىٰ ولايضربن بارجلهن ليعلم مايخفين من زينتهن محقق ان ابداء الزينة بعينه مقصود بالنهى لانه قد هى عماهو ذريعة اليه خاصة اذا لضرب بالارجل لم يعلل النهى عنه احدلعلم ان المراة ذات زينة وان لم تظهر (اى الزينة) فضلاً عن مواضعها اه - او دا صفا دليل دي د دي خبري چه لايبدين زينتهن كې تفصيل د عورة او غير عورة مقصود نه دي بلكه اصل مقصود بندول دي د ذرائعو د زنا- او زينت دلته حقيقى معنى مراده ده نه د هغى خايونه، (۱۲) وقال فى الكشاف فان قلت لم لم يذكر اليه الاعمام والاخوال قلت سئل الشعبى عن ذلك فقال لئلايصفها العم عند ابنه والخال كذلك ومعناه ان سائر القرابات يشرك الاب والابن فى الحرمية فيدانى تصوره لها بالوصف نظرة ليها وهذا ايضاً من الدلا لات البليغة على وجوب الاحتياط عليهن فى التستر، او س د سوچ كولو ځاي دي چه څوك د خداي د پردي په باره كې د دومره لري احتياط نه كار اخلى هغه به په عين د هغه احتياط په موقع باندي زنانو ته څنګه اجازت وركړي چه هغوي د عام طور باندي د نامحرمو په وړاندي مخ څرګند كړي دا هم دليل دي د دي خبر چه لايبدين زينتهن الاماظهر منها كې د ابداء نه كشف مراد نه دي بلكه كشف فى نفسه مراد دي- د دي تفصيل كتلو نه وروستو به هر يو يوه او منصف مزاج سړي ته به معلومه شى چه قران شريف په دي ايت كې زنانو د پاره څومره سخت د پردي اهتمام كوي په پرده مروّجه كې د ومره اهتمام

نښته څکه چه ورومبی څوزنانواو سروته حکم کوي چه نظرښکته کړي بیازنانوته حکم کوي چه هغوي دد خبرپه طورهم دخپل زینت اودا عضاؤپټولو اهتمام ولري اوهغه زینت اواندام دي څرګند وي دکوم چه ډېرزیات ضرورت دي بیادلایبدین زینتهن الالبعولتهن اخ حکم ورکوي چه نامحارموته خپل مخ خوپرېږده خپله لمن قدري هم اونه ښائي څکه چه لباس هم زینت کې داخل دي بیاپه دي هم نه بس کوي اولایضربن بارجلهن کې حکم ورکوي چه لمن خوپرېږده نامحرموته دخپلو کالواوازقدرته هم واونه ورڅ اوس که چرته مسلمانان دومره اهتمام باندي هم دپردي په مخالفت کې لګیاوي اومسلمانانولره په خپلو غلطو اجتهادونو ګمراه کوي نودوي ته اختیاردي، وسیعلم الذین ظلموا ای منقلب ینقلبون–والسلام [تتمه خامسه ص ۱۳۸]

ایضاً

سوال :(۲۳۱) حضرت صاحب نه ددي خبري معلوم ولو شرف حاصلوم چه په اسلام کې پرده کوم حدپوري جائزده اوکوم حده پوري اسلام زنانوته دازادي اجازت ورکوي دپردي شرعي حدود څه دي سورة النورکې چه کوم الله ﷻ فرمائیلي دي چه زنانه دي دخپل زینت ځایونه نه ښکاره کوي خوهغه کوم چه ددي نه ښکاره دي ولایبدین زینتهن الاماظهرمنهاکې دزینت دځایونوته څه مراددي آیامخ هم دزینت په ځاي کې شامل دي یاددي نه علاوه دي ایازنانې دپاره جائزدي چه هغه یوه جلسه کې خپل مخ څرګنده کړي اووعظ وکړي یامجلس کې کیني اووائي وري اودیني موضوع باندي بیان کولي شي یاپه جهادکې توره راواخلي اوددین دشمنانو سره دالله په نوم اوجنګیږي یایوه جلسه یاپارټۍ کې شرکت کولي شي که چرته داجائزوي نوپرده په کوم کوموقیدونو سره جائزده اوکه چرته نه وي جائزنوپه قران کې ددي څه سنددي؟

جواب : نقلي اوعقلي مسلمه مسئله ده چه احکام بعض اصلي وي بعضي عارضي مثلاً دوسلي اوګولي اودباروددوتجارت اصل وضع په اعتبارسره دنوروتجارتونوپه شان بغیردڅه قیدنه جائزکیدل پکاردي داحکم اصلي دي خوچه ددي مضراونقصاني نتیجوته اوکتلي شول نوپه دیکې دلائسنس قیدقانوناً اولګولي شویادفواکه یعني میوي تجارت ددي داصل مقتضي داده چه هرحال اوهروخت دي جائزوي خودوباء په زمانه کې طبي اصولوباندي داتجارت منع کولي شي اوداسي عوارض که چرته ممتدوي نوحکم هم ممتدکولي شي که چرته محدودوي نوحکم هم محدودکولئ شي لکه دوسلي په اوازتجارت کې همیشه دنقصان خطره وه نوهلته ممانعت همیشه شودمیوونقصان دموسم په ختمیدوختمیږي هلته

ممانعت هم ختم شي دغه شان دپردي هم دو(۲)درجې دي یوه اصلي کومه چه دي ایت کې ذکرشویده وقرن فی بیوتکن اوواذاسالتموهن متاعاً فاسئلوهن من وراء حجاب، ددي حکمت هم ورسره ورسره ذکردي ورومبی دایت سیاق (بالموحده) کې فلاتخضعن بالقول فیطمع الذی فی قلبه مرض اوبل دایت په سیاق (بالتحتانیه) کې ذلکم اطهر لقلوبکم وقلوبهن ددی حکمتونو اعتبارشویدي سره ددي نه چه هغوي نه دامفاسد ډېرلرې وه نو نوروزنانوکې خودقرب مفاسدوجه نه داحکمتونه زیات مؤثردي- اودویم درجه عارض چه دضرورت په موقع باندي په دیکې سپکاوي اوکړي شواودادرجه په دي ایت کې ذکرشویده یدنین علیهن من جلابیبهن یعنی وقت الخروج اوالاماظهرمنها- اګرچه ددي نه په تفسیرډیرکنراقوال دي خورددي په احکاموباندي څه اثرنښته په دي وجه داسي اختلاف نقصاني نه دي اوس مخکې مسئله تحقق دضرورت پاتې شوه نوهغه یوامراجتهادي دي اوځنګه چه دقانون په اجتهادي اجزاؤکې دهرچا اجتهادمعتبرنه دي دغه شان دلته هم صرف دشریعت دماهرینو اجتهادمعتبردي- څکه چه دهغوي اجتهادمسندالی النصوص وي اونصوصوباندي په نظرکې ددوي سره څوك برابرنښته (رائي محض نه وي چه دهغې حاصل هوائي شخص شي اودي کلیي سره به دجزئیات مذکوره فی السوال فیصله کیږي اوددي فیصلي په وخت په دي باندي هم نظرواجب دي کوم چه مایره عرض کړیدي چه هرکله په حضرات ازواج مطهرات کې الی قوله زیات مؤثردي اوکه چرته یوسړي سره دصحیح دلیلونو ثبوت قطعي اوددلالت واضحه نه حکم عارضي مذکوراصلي وګنړي بیاهم زمونږه مدعاثابت ده په دي شان سره چه دي صورت کې هم دامدعی حکم اصلي نه انکارخونه شي کولي لکونه منصوصاً غایت مافی الباب (دي ته به عارض منی اودعارض حکم بره ذکرشویدي چه داسي عوارض که چرته ممتدوي نوحکم به هم ممتدوي اودلته ددي عوارضواومفاسدوامتداداوزیاتوالي بغیردڅه کلام نه ښکاره دي بس حکم به هم ممتدوي بس مدعاپه هرحال کې محفوظ پاتې ده که دااصلي ګنړي اوکه عارض اودغه محمل دي ددي قاعدي شرعي چه دزماني بدلیدوسره احکام بدلیږي اګرچه داهرځاي نه وي بلکه په کوم محل چه په خپله شریعت دهغې اعتبارکړیدي اودي بنیادباندي فقهاء اخت رضاعیه شابه دزماني دفسادوجه نه دغیرمحارم په شان ګرځولي ده اودي بنیادباندي صحابه زنانولره جوماتونه دحاضریدونه منع کړیدي دهغې حکمت حضرت عائشي دغه شان فرمائیلي دي

لورای رسول الله ﷺ ماحدث النساء لمنعهن المسجد کمامنعت نساء بنی اسرائیل رواه الشیخان وغیرهما- خصوصاً هرکله چه تغییرطبائع سره په دغه زمانه کښې دحدود واو تعزیراتو اودرولو اودې زمانه کښې دهغې په نه اودریدوهم نظرواچوي اوددې زمانې مدعیان اجتهادخو بغیرد څه قیدنه ددې کلیې نه بې خایه کاراخلي تردې چه سود ته هم دزمانې ضرورت سره حلال وایي پس دوي باندې خوداقاعده علی الاطلاق حجت ګرځي نودوي باندې لازم دي چه زمونږهم زیات پدغه پردې متعارفې باندې قائل وي اوس اخرکښې یوخیرخواهانه عرض دې چه دې زمانه کښې یوعام عادت جوړشویدې چه هرحکم دقران مجیدنه غوختلې کیږي- ادحدیثوتقریباً تقریباً انکاردې په دې وجه دې سوال کښې هم قران مجیدنه سند غوختلې شویدې- پس ددې عادت اوخیال څه صحیح بنیادنشته اوحیرانتیاده چه داحضرات تاریخ حجت مني حالانکه اتصال سنداوصحت سنداوتوثیق رجال کښې تاریخ لره حدیث سره څه نسبت هم نشته نودې ماده کښې هم که چرته حدیث اوکتلې شي نوهیڅ قسم څه شبه هم باقي نه شي پاتې کیدې،۱۱ج/ ۱۳۵۲ /النورجمادالثانی/ص ۱۱)

فاسقوزنانولره کورته دراتللونه منعه کول

سوال :(۲۳۲) ماچه کله نه دمشکوٰة داحدیث اوریدلې دې دهغه وخت نه مې بدکارې ښځې دکورنه بندې کړیدې ، عن ام سلمة ﷺ ان النبی ﷺ کان عندها وفی البیت مخنث فقال لعبد الله بن ابن امیة اخی ام سلمة یا عبدالله ان فتح الله لکم غدا الطائف فانی ادلك علی ابنة غیلان فانها تقبل باربع وتدبر بثمان فقال النبی ﷺ لایدخلن هولاء علیکم ،متفــق علیــه-- اوس عرض دادې چه دې حدیث نه دامطلب داوتلې شي یانه ؟

جواب : ددارسې قسمه زنانوممانعت دکورنه ددې ایت نه راوزي لایبدین زینتهن الالبعولتهن الی قوله اونسائهن الایه شاولی الله صاحب تفسیرکوي بازنان خویش یعنی غیراهل قیاده ،اوبل ځاې لیکي غیرقواده وقواد بالفتح وتشدیدواو دال مهمله دالال وبمعنی مرد بی غیرت وقلتبان ازلطائف وغیره۱۲ اوشاه عبدالقادرصاحب فرمائي اوخپلې زنانه کومې چه نیکانې دې هغوې ته هم دومره ضروري دې اوبدکاروزنانونه ددې ډډه کول والله اعلم- امدادج۲ص۱۲۴)

دزنانوبازارته تلل

سوال :(۲۳۳) دمسلمانانوبازارته تلل په شریعت کښې حلال دې یاحرام یامکروه سره ددلیل نه بیان کړې بینواتوجروافقط ؟

جواب : فلقوله تعالیٰ ولاتبرجن تبرج الجاهلیة الاولیٰ الایة ولقوله تعالیٰ غیر متبرجات بزینة الایة ولقوله تعالیٰ ولایبدین زینتهن الایــة . دې نه معلومه شوه چه زینت سره دزنانوسره بازارته تلل یامجمع کښې وتلل یادمحرم مخې ته راتلل قطعاً حرام دې البته که چرته ضروري حاجت وي اوخیرنوجامو کښې سره دپردې نه اوځي نوجائزدې ولقوله تعالیٰ یدنین علیهن من جلا بیبهن ولقوله تعالیٰ الاماظهر منها،وفی الدرالمختار وتمنع المراة الشابة من کشف الوجه بین الرجال لا لانه عورة بل لخوف الفتنة ،والله اعلم- ۱۱شعبان روزچهارشنبه ۱۳۳۰ه امدادج۲ص۱۲۲)

دبرقع نه دډولې سفرغوره دې

سوال :(۲۳۴) زنانولره دورځې په برقعه کښې لرې بوتلل یاپه ډولې کښې اوړل کوم یوکښې ډیره پرده اوحیاده؟

جواب : ښکاره خبره ده چه بغیردضرورت نه دورومبي عمل انجام دمفاسدوترتب دې- اودادویم عمل هرحال کښې غوره دې دحضرات ازواج مطهرات رضی الله عنهن سفرپه ډولې کښې وه په اوښانوباندې به په کجاوکښې نه تللې(النورشعبان ۱۳۵۱ه ص۸)

دزنانوپردوسرومخکښې مخ ښکاره کول یا اواز اورول وغیره

سوال :(۲۳۵) دزنانې پرده دڅه څه شي ده یعنی اوازاورول یااوازوالاکالې اچول ځنګه دي اودبهرکورنه زنانې لره په څه طریقې سره دچاملاویدولره دچاچاسره تلل پکاردې اونابالغه هلکانونه چه پردې دې دوې کښې پرده دکوم عمردهلك نه کول پکاردې؟

جواب : اصیلې زنانې لره دټولواعضاؤپرده فرض ده ماسیوادمخ اوکفینواوقدمینونه اواوازکښې اختلاف دې خوصحیح خبره داده چه دا عورت نه دې خوځوانې زنانې لره بغیردضرورت نه غیرمستوره اعضاء پردې سرې ته ځودل اوبغیردحاجت نه هغه سره خبرې کول منع دي نه په دې وجه چه ستردې بلکه دفتنې دویرې نه وللحرة جمیع بدنها خلا الوجه

سوال :(۳۳۲) په کټ کې دکتمل ختمولودپاره که چرته په کټ کې ګرمي اوبه واچوي نوڅنګه دي؟

جواب : فی ردالمحتار کیفیة القتال من کتاب الجهاد تحت قول الدرالمختار وحرقهم مانصه لکن جواز التحریق والتغریق مقید کمافی الشرح السیر بما اذا لم یتمکنوا من الظفر بهم بدون ذلک بلامشقة عظیمة فان تمکنوا فلایجوز، دي نه معلومه شوه چه که چرته دکتمل لري کولودپاره څه بله آسانه طریقه نه وي نوبیاپري ګرمي اوبه اچول جائزدي او که وي بیامنع دي- (۱۲ رجب ۱۳۲۲ه امدادج۲ص۱۲۲)

ولدې کیرې په اورکې سوزول یا په یوڅناوورخوړول

سوال :(۳۳۳) برائ آخته کردن اسپ کرم زنده رادرآتش دودکنانیده ازدودبوئ کرم زنده رابرائ اسپ آخته می شود یاکرم زنده رامی خورانند درین فعل حکم شریعت چیست این همه صورتها درین بلادرائج است ؟

جواب : عن عبدالله بن عباس رضی الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان النار لایعذب بها الا الله رواه البخاری وعن عبدالرحمن بن عبدالله عن ابیه فی حدیث طویل قال ورأی رسول الله صلی الله علیه وسلم قریة نمل قدحرقنا هاقال من حرق هذه فقلنا نحن قال انه لاینبغی ان یعذب بالنار الارب النار ، رواه ابوداؤد ومشکوٰة باب قتل اهل الردة والبغاة بالفساد، ازین حدیث مستفاد شدکه کرم زنده رادرآتش ودودکردن حرام است، وعن ابن عباس رضی الله عنهما ان النبی صلی الله علیه وسلم قال لاتتخذواشیئا فیه الروح غرضاً رواه مسلم مشکوٰة باب الصید والذبائح قال النووی هذا النهی للتحریم وفی الدرالمختار قوله ولسقی الدواب قال بعض المشائخ لوقادالدابة الی الخمر لاباس به ولونقل الی

الدابة یکره اه ازین روایات معلوم می شود که کرم زنده جانور خورانیدن باین طور که کرم راپیش جانوربرده شوجائز نیست که هم درین تعذیب اوست بلاضرورت. لایمکن قود الدابة الیها کمافی الاصیاد والذی فیه ضرورة الانتفاع فشادة اتخاذالروح غرضاً لانها لاتقدران تحرزنفسها. دهم نقل شی محرم است بسوئ دابه فقط (تتمه اولی/ ص ۳۱۲)

تکلیف رسوونکی سپی وژل اودهغی د تاوان حکم

سوال :(۳۳۴) زمونږه محله کې دیوسړي سپی دي دهغی په وجه ډیرتکلیف دي لوښی وغیره خرابوي اودشپی هرڅوك تنګوي که دیته کچله (یوزهریلابوټی دی) ورکړي اومړي کړي نوجائزدي دسپی مالك هیڅ بندوبست نه کوي؟

جواب : ددي وژل خوجائزمعلومیږي خودي قیمت مالك ته ورکول راځي که څه بهانی سره وي (۲۴رمضان المبارك ۱۳۳۳ﻫ/ تتمه خامسه/ص ۷۸)

ددوائي ضرورت دپاره حیوانات وژل

سوال :(۳۳۵) دطلاء په نسخوکې چه لاوی اوشمشتی اووژوني اودبیروبوټی وغیرپکې هم اچوي مرض دپاره داخیز نه وژل جائزدي یانه یابوسړي خپل خرڅ دپاره طلاء تیاروي اوداخیزونه پکې اچوي نوددي وژل صحیح دي یانه ؟

جواب : چونکه شریعت کې دي ضرورتونوته اعتبارشته په دي وجه جائزدي هاضرورت نه زیات تکلیف ورکول اووژل یې جائزنه دي (۱۸ذی الحجه/ ۱۳۲۴ﻫ/ امدادج ۲/ ص ۱۷۹)

څناورکانجی هاؤس (سرکاري ځاي کوم ځاي چه لاوارث څناورساتلی شي) کې داخلول

سوال :(۳۳۶) دکانجی هاؤس نیلام نه څناوراخستل اوپه هغی قرباني کول جائزدي یانه اوڅناورکانجی هاؤس ته لیږل جائزدي یانه؟

جواب : فی الدرالمختاروان غلبوا(ای اهل الحرب) علیٰ اموالنااواحرزوها بدراهم ملکوها، اوملازمین دکانجی هاؤس نائب دي دمسؤلینو-استیلاء تملکاسره هغه څناوردسرکارپه ملك کې راغی لهذادخرڅولوپه وخت کې ددي اخستل جائزدي اوهرکله چه دابیع صحیح سره په ملك کې داخل شونوپه دي قرباني هم جائزده البته عرفاً دبدنامي موجب دي په دي وجه بغیردضرورت نه بدنامي بالخصوص مشرانودپاره ښه نه دي اوپه کانجی هاؤس کې

څناوردداخلول دیکې تفصیل دادي چه که چرته یوڅناورپه پټی کې خپله دننه شویدي نوددي څناورداخلول خوبالکل جائزنه دي ځکه چه دیکې په ملك باندي تاوان نشته – نوده نه څه اخستل یاپه اخستوکې امدادکول ظلم دي اوکه چرته چاپه قصدسره پټی وغیره کې داخل کړونوده باندي دفصل دهلاکیدوپه اندازه تاوان دي- دومره اندازی پوري په کانجی هاؤس کې یادغه شان دده نه واخلی نوجائزدي اودي نه زیات دجرماني په طورناجائزدي- ځکه چه داتعزیربالمال دي اواحنافوپه نزدمنسوخ دي- کمافی حواشی الدرالمختار اُخرباب جنایة البهیمة ادخل غنماً اوثوراً اوفرساً اوحماراً فی زرع اوکرم ان سائقا ضمن مااتلف والا لاوقیل یضمن وقال الشامی مرجعاً للقول الثانی القول ویظهر ارجحیة هذا القول لموافقته لمامر اول الباب من انه یضمن ما احدثته الدابة مطلقاً اذا ادخلها فی ملك غیره بلا اذنه لتعدیه واما لو لم یدخلها نفی الهدایة ولوارسل بهیمة فافسدت زرعاً علی فورها ضمن المرسل وان مالت یمیناً اوشمالاً ولوله طریق آخر لایضمن لمامرلمامر-(اصفر۱۳۲۳ﻫ حوادث ا- ۲/ص ۴۷)

موذی څناوردمجبوري په وخت کې اورکې سوزول

سوال :(۳۳۷) دځنګل یوځناورچه شکونږه ورته وائي هغه پټی ته ډیرنقصان رسوي دده تدبیر ددي نه بغیرنشته چه زمکې ته اورورته کړي چه زمکی ته اورورته کړي اوويي وژني جائزدي یانه؟

جواب : که چرته په څه بله طریقه نه لري کیږي نوبیادمجبوري نه اورورته کول جائزدي اوکه چرته په څه بله طریقه مري یادهغی ځاي نه بل خوالاړشي بیابې سوزول جائزنه دي (ربیع الاخری تتمه رابعه/ص ۲۱)

تشبه با لکفار/په میزاوکرسی باندي دخوراك کول حکم

سوال :(۳۳۸) کرسی اومیزباندي خوراك کول اوکرسی میزباندي ددفترانګریزي کارکول په شریعت محمدي ﷺ کې څنګه دي جواب راکړي؟

جواب : میزاوکرسی باندي خوراك کول دتشبه دوجه نه منع دي اوپه دیکې څه مجبوري هم نشته چه عذرشي- په خلاف ددفتردکارکولوچه اګرچه دقانون حکمی په وجه ضروري وي خودقانون عملی په وجه دیکې مجبوري ده- په دي وجه دیکې معذوري ده اوپه دي سبب باندي یوبل باندي نه شي قیاس کیدي (۸رمضان المبارك ۱۳۳۵ﻫ)

دلهنګې ، دزنانوتنګ قمیص ، اچولو حکم

سوال :(۳۳۹) څه فرمائي علمان ددین دي مسئله کې چه مسلمانانولره لنګا اچول شریعت کې حلال دي حرام یامکروه ، سره ددلیل نه بیان کړي؟

جواب : فلماروی ...... رواه مسلم- دي حدیث نه معلوم شوه چه حضرت ﷺ دمعصفرنه دممانعت علت دا اوفرمائیلو چه دادکافرانودلباس نه دي هغوي سره تشبه جائزنه ده نولنګاهم مخصوص لباس دي دهندوانوزنانوپه دي وجه بنه نه دي (۱۲شعبان چهارشنبه/۱۳۰۳ه امدادج۲ص۱۲۲)

دهندوانوپه شان نیم سربا ندي ویښته پریښودل

سوال :(۳۴۰) نیم سرپریښودل شریعت کې حلال دي یاحرام یامکروه سره ددلیل شرعي نه بیان کړي بینوا توجروا؟

جواب : فلماروی عن الحجاج بن حسان قال دخلناعلی انس بن مالك فحدثني اختي للمغيرة قالت يومئذ انت غلام ولك قرنان اوقصتان فمسح رأسك وبرك عليك وقال احلقوا هذين اوقصوهمافان هذازي اليهود رواه ابوداؤد ، هغه دیهودوطریقه وه اودادهندوانوطریقه ده خصوصاً چه چرته دپیرفقیرپه نوم یې پریږدي بیاخوشرك دي والله اعلم (۱۲شعبان/۱۳۰۳ه امدادج۲ص۱۲۲)

په اسلامي مدرسوکې داتوارچهټي

سوال :(۳۴۱) دلته په ټولو مدرسوکې دجمعې په ورځ چهټي وي داتوارپه ورځ چهټي کول جائزدي یانه ؟

جواب : نه په سبب دتشبه اوتعظیم دیوم نصاری (۹شعبان/۱۳۳۱ه حوادث ص۱۱۲)

په سائیکل دسوریدوحکم

سوال :(۳۴۲) په سائیکل سورلی څنګه ده یومولوي صاحب نه مې تپوس کړي وه- نو هغه ونیل جائزدي اوس ماته دمناسب اوغیرمناسب کیدوخیال دي- البته دي سورلی کې دوه څیزي دي یوه عمده اویله بده- عمده داچه لارزروهي - بده داچه په دي باندي سوریدوکې هغه عاجزي نه وي کومه چه پیاده تلوکې موندلی شي؟

جواب : دي سورلی کې اګرچه دتشبه شبه هم کیدیشي خوعندالتامل ددي عام کیدل دي شبې لره ختمونکي دي اوس دیکې صرف ددي عارض احتمال پاتې شو چه دي سره عجب پیداکیږي- نوددي مقتضی داده چه دچاعجب نه پیداکیږي هغه دپاره پکې څه باك نشته البته بعض مباح څیزونه دصالحانواودیندارو خلقوحال سره مناسب نه وي اوس موجوده حالت کې داسورلی داسې معلومیږي په دي وجه څان بچ کول غوره دي کله چه دمصلحت درجه وي دضرورت نه وي اوکه چرته ضرورت وي چه لاره زیاته ده اووخت کم دي یابلبه سورلی کې خرچه زیاته کیږي نودي صورت کې خلاف اولی هم نه ده- (۴صفر/۱۳۳۵ه حوادث خامسه ص۲)

دکافرانوپه طریقه ورزش جائزنه دي

سوال :(۳۴۳) ددي زماني انګریزي خوان خلق چه په خپوباندي پنډوس وهي په انګریزي کې ورته فټ بال وایي داجائزدي یانه ؟

جواب : في المشکوة ص۳۳۸ عن علی رضي الله عنه قال کانت بيدرسول ﷺ قوس عربية فرای رجلابيده قوس فارسية قال ماهذه القهاعليكم بهذه واشباهها : الحديث : دي حدیث نه معلومه شوه چه په ورزش کې هم تشبه دباطل پرستوسره منع ده هرکله چه نوري طریقې دورزش داسې څیزونو نه خالي اوموندی شي اودلته نوري طریقې فائده مندي هم شته - په دي وجه داعمل ممنوع دي اوپه دیکې غالباً کوم اهل دعادت اوددین نه دازاد خلق چه کوم یوځاي والي دي هغه په خپله هم مستقلاً وجه دمنع ده (۱۲جمادي الاول/۱۳۳۵ه حوادث خامسه ص۸)

عدم جواز موافقت کفاردر رسوم ایشان

سوال :(۳۴۴) څه فرمائي عالمان ددي اومفتیان دشرع متین دي مسئله کې چه لوناواره کلی کې ډیرهندوان اوسي- دوي دبشکال میاشت یوه میله جوړوي دي میلی ته په خپله اصطلاح کې پچوسن وائي- دي ورځوکې اته روژي هم دخپل مذهب نیسي - اوساه والا شی وژل اوهغې ته تکلیف ورکول ډیربدګڼري په دي وجه مسلمانانولره دتیلودجرندي چلولونه په دي بنیادمنع کوي په دي وجه چه په تیلوکې چه کوم چینچي وي هغه چنځري کیږي دي اتوورځوکې مسلمانانوته دجرندي چلولوپه بدله کې روپې هم ورکول غواړي اوس مسلمانانولره په دي ورځوکې جرنده نه چلول اوددوي نه پیسي اخستل اوپه دي کارکې

دهغوي تابعداري كول څنګه دي؟ (۲) كوم مسلمانان چه هندوانو سره په دې ميله كې شريكيږي هغوي ته څه سزاده؟ (۳) كه دكلي مشر مسلمانانو ته ووائي چه تاسو دهندوانو په ميله كې دهغوي تابعداري وكړي كنې دير سخت تكليف به درته اورسوم اوس مسلمانانو ته په دې امر كې ددې مشر تابعداري درسته ده يانه. بينوا بالكتاب توجروا في يوم الحساب؟

جواب: چونكه بنياددې درخواست دهندوانو دمذهب احترام اورعايت دې مسلمانانو لره ددې قبلول يا امداد ورسره كول حرام دي اوكفرته نزدې دي. اوكوم سړي چه ددې په خلاف باندې قدرت لري هغه ته داسې امر كې تابعداري كول حرام دي اونزدې دي كفرته (۱۸ ربيع الاول ۱۳۳۵ھ تتمه خامسه ص۲)

حكم لباس كفارد رلندن وغيره

سوال: (۳۴۵) دې ملك كې دهغوي خلقو لباس اووضع اختيارول كوم قسم ګناه ده كه چرته يو سړي په شوق سره نه بلكه دې ضرورت سره دهغوي ظاهري لباس اووضع اختيار كړي چه دعوامو په نظر كې يو ناآشنا اوبدنه معلوميږي اوخلق هغه طرفته ګوتې نه نيسي اوديهار ماشومان هم وريوري خاندي نه. نو آيا دې سره ددې ګناه اهميت كميږي څومره حده پورې اجازت دي؟

جواب: زه دې باره كې داپوهيږي چه كوم خاي داالباس قومي دي لكه هندوستان كې هلته كې ددې اچول من تشبه بقوم كې داخليږي اوكوم خاي چه ملكي دي دهغې علامه داده چه هلته ټول قومونه اودټولو مذهبونو خلق يو قسم لباس اغوندي هلته اچول څه باك نه لري - اوس دې معيارباندې دهغه خاي حالت په خپله وګوري (تتمه خامسه ص۱۴۲)

معاملات المسلمين باهل الكتاب والمشركين؛ دكافر حقونه په څنګه اداكوؤ

سوال: (۳۴۶) دكافر حقونه په څنګه اداكوؤ مالي نه بلكه چه غيبت وغيره وي؟

جواب: كه چرته هغه ملاقوشي نومعافي تري اوغواړي كنې هغه دپاره دهدايت دعاوكړئ (۲ ربيع الثاني ۱۳۳۷ھ)

دكافرانو ميلوته دتجارت په غرض تلل

سوال: (۳۴۷) يو سړي دامشوره راكوي چه جفوري كې دانګريزانو ميله كيدونكې ده هلته څه دكان دمرادآبادي لوښو يادبل څه كرلاوي كړي يا ددربار دڅه كارتهيكه واخله - احقرجواب وركړو چه ددربار دكارتهيكه دكافرانو امداددي. اودا ميله هم داسې ده. ددې جواب كې هغه ووئيل چه ددربارتهيكه امداددي اوميله خوداسې نه ده څكه چه ميله به ددربار دختميدونه وروستووي ددې نه غرض ددربار خاتست نه دي بلكه دملك دصنعت اوحرفت (لاسويامشين سره چه كوم څيزونه جوړيږي) امتحان اخستل دي څه رنګ چه نوروو ختونو كې ميلي كيږي دې باره كې دحضرت ﷺ ارشاددې كه چرته شركت په داسې خايونو كې جائزنه دي تودخپلي دواخانې اشتهارات تقسيمول جائزدي يانه؟

جواب: دكافرانو مجمع مطلقاً معصيت نه دي بلكه صرف كه چرته دڅه ګناه ياكفر په غرض جوړه كړيشي بيادامجمع كې شركت ياامدادكول ټول حرام دي اوكه څه جائزغرض دي لكه دامجمع كوم باره كې چه سوال شويدې چه صرف دخاتست اوخوشحالي په غرض جوړه شويده اودحكومت مضبوطوالي دپاره ده. زما په نزدددې داحكم نه دي هان كه چرته دير مشر دشركت نه دااحتمال وي هسې نه عوام ماډليل كې اونيسي اوداسې مجمع ته تللو باندې بيانوري ناجائز مجمع قياس كړي نوصرف ددې عارض دوجه نه داسې كړي ته خان بچ كول واجب دي اواشتهارات تقسيمول خوهرحال كې جائزدي ددې مجمع سره هيڅ تعلق نشته. والله اعلم (امدادج۲ ص۱۴۹)

دهندوانو ميلي ته تجارت دپاره تلل

سوال: (۳۴۸) دهندوانو ميلي ته لكه ميله دهردواريادګنګاده ديته دتجارت په غرض تلل جائزدي يانه اوتلونكي مرتكب دغتې ګناه ګرځي يانه

جواب: كه چرته يو څيزددې ميلي نه بغير چرته نه ملاويږي ددې اخستلو خرڅولو دپاره تلل دوجه دضرورت جائزدي. اوبغير دضرورت نه تلل جائزنه دي داسې مجموعو كې شان دمغضويت وي په ديكې شريكيدل داالله غضب كې برخه اخستل دي اګركه دمجمع والو برابر ګناه نه ده خودګناه نه خالي هم نه ده - لاينتهي الناس عن غزوهٰذا البيت حتى يغزوجيش حتى اذاكانوا بالبيداء اوبيداء من الارض خسفا باولهم واخرهم ولم ينج اوسطهم قلت

یارسول الله فمن کره منهم قال یبعثهم الله علی ماف انفسهم. ترمذی ج۲/ صـ۲۴/ نو هرکله چه سره دبدګټرلوهم عذاب کې شریکیږي نوچه څوك په خوشحالی لاړشی هغه به څنګه دعذاب نه بچ شی والله اعلم. ۳ محرم ۱۳۰۱هـ امداد ج۲ صـ۱۲۴

دکافرانو مندرونوته تلل

سوال:(۳۴۹) دهندوانو عبادت خانی ته دمیلی دپاره دمسلمانانو تلل او خصوصاً دعالم او وعظ کوونکی تلل دپاره سیل او دا جائزګڼل او دلیل کې دا ایت قل سیروفی الارض، پیش کول څنګه دي؟

جواب: دهندوانو عبادت خانی ته دمیلی دپاره دمسلمانانو خصوصاً دعالمانو تلل او دا هم نه چه څه سخت دینوي ضرورت وي صرف دسیل او تماشی دپاره تلل سخت منع دي او که چرته دایت فسیروافی الارض دامعنی وي څنګه چه دي مستدل صاحب بیان کړیدي نوبیاپکار ده چه دفانکحوا ماطاب لکم من النساء نه ترجمه یې داده چه نکاح وکړي دهغه ښځوسره کومی چه ستاسو خوښی شی- نوکه مور او خورد خوښ وي نوهسی سره دي بیاهم نکاح جائزشی څکه چه ماطاب لکم عام که چرته ددي قائل یې نومبارك شه او که چرته دا اووایې چه دمور خور حرمت بل ایت سره ثابت دي حرمت علیکم امهاتکم واخواتکم الخ- نوزمونږ دطرف نه هم دخپل دلیل داسی جواب واوره چه داسی ځاي ته دتلو ممانعت بل ایت سره ثابت دي فلاتقعدبعد الذکری مع القوم الظٰمین- یعنی دنصیحت نه وروستو ظالمانو سره مه کینه یعنی کافرانو سره مه یو ځاي کیږه فی الحدیث من کثرسواد قوم فهو منهم- او صحیح حدیث کې الی چه قیامت ته نژدي به یو لښکرپه مکه معظمه باندي دحملی کولو په اراده راشی هرکله چه نژدي راورسی نو ټول به په زمکه کې ورډننه کړیشی ازواج مطهراتو رضوان الله علیهم اجمعین کې یوي بی بی عرض وکړو چه یارسول ﷺ دیکې خو به دوکانداران هم وي دوي خو به دحملی اراده نه لري ددوي څه قصور حضرت ﷺ او فرمائیل چه دالله عذاب عام راځی دغه وخت به ښخ شی بیا دقیامت په ورځ به دخپل خپل نیت موافق راجمع کیږي انتهی- نو هرکله چه داخلق سره دضرورت دتجارت نه دوي سره شامل شی دالله دعذاب نه نه بچ کیږي نوچاته چه داضرورت نه وي نو هغه به څنګه دالله دعذاب نه چه دکافرانو په مجمع نازلیږي بچ شی اللهم فانقتنه لاتصیبن الذین ظلموا منکم خاصه- الله اعلم ۱۵ جمادی الثانی ۱۳۰۲هـ امداد ج۲ صـ۱۲۵

کوم هندوان چه مسلمانان سپک ګڼري

دهغوي دلاس خوراک دغیرت خلاف دي

سوال:(۳۵۰) دهندوانو دکور خوراك جائزدي یانه. څکه چه مسلمان دسپی نه هم بدګڼري؟

جواب: ګناه یې نشته خو بې عزتی ده. ۹ ربیع الاول ۱۳۳۴هـ تتمه رابعه صـ۲۴

دکافرګاونډي دعوت جائزدي

سوال:(۳۵۱) یومشرك خپل ګاونډي ته دعوت ورکول غواړي داسی رعایت په حق دګاونډي کې داخلیدیشی، لایتخذالمومنون الکافرین اولیاء من دون المؤمنین الایة، وعیده کې خونه داخلیږي جناب په خپل تفسیرکې دامدارات صرف دریو طریقو سره جائزګرځولی دي (۱) دهدایت امید دپاره (۲) ضرردفع کولو دپاره (۳) دمیلمه اکرام دپاره نه چه دکوربه اکرام دپاره، اودي صورت کې خودادري واړه نشته؟

جواب: اکرام چه څه رنګ دمیلمه ماموربه دي دغه شان دګاونډي هم نو داپه هغه کې باشتراك علت داخلیدیشی. تتمه ثانیه صـ۲

نهی از موا کلت با کفار

سوال:(۳۵۲) عیسائي سره خوراك کولی شی یانه- که چرته یو پیاله او یو رکیبۍ کې خوراك ورسره وکړي نو داسی حالت کې څه حکم دي آیا یو ځاي خوراك سره لازمی طورباندي اتحاد راځي او یو ځاي والی راځي- نو آیا داسی خلقو سره اتحاد کول منع دي؟

جواب: دکافرانو سره بغیر دضرورت نه ګډون او یو ځاي والی منع دي- او خوراك کول بې ضرورته ګډون او یو ځاي والی دي. ۲۰ جمادی الثانی ۱۳۲۵هـ

احکام سلام وتعظیم اکابر/ درانلونکی دعزت دپاره اودریدل

سوال:(۳۵۳) بادشاه، حاکم، پیر، استاد، امیرالمؤمنین، آقا، عالمان، نیکان، صاحبان حافظان او سیدان- هریو چه ددوي نه چرته یومسلمان ته راشی نو ددوي عزت دپاره اوریدل پکاردي یاپه ناسته پکاردي او په خپله جناب رسالت مآب ﷺ دخپل تعظیم نه ولی منع

کړیده- اوحضرت ﷺ په خپله دچادعزت اوتکریم دپاره اودریدلی یانه- په حوالی دقران سنت سره اوسره دجواز اوناجواز اواباحت اوکراهت بیان کړي بینواتوجروا؟

جواب: الحدیث الاول عن ابی سعیدالخدری ؓ فی حدیث مجی سعدبن معاذ ؓ فلمادنا من المسجدقال رسول الله ﷺ للانصارقوموالٰی سیدکم متفق علیه کذافی المشکوٰۃ قال فی المرقات قیل ای لتعظیمه ویستدل به علی عدم کراهته فیکون الامر للاباحة اولبیان الجوازوقیل قوموللاعانة فی النزول الی ان قال وماذکرفی قیامه ﷺ لعکرمة بن ابی جهل عند قدومه علیه فالوجه فیه ان یحمل علی الترخیص حیث یقتضیه الحال وقدکان عکرمة من رؤسا قریش وعدی کان سیدبنی طی فرای تالیفهما بذٰلك علی الاسلام اوعرف من جانبهما تطلعا علیه بحسب مایقتضه حب الریاسة اه مختصرا، **الحدیث الثانی** عن عائشة ؓ قالت اذادخلت علیه فاطمة ؓ قام الیها وکان اذا دخل ﷺ قامت الیه رواه بوداؤد، **الروایة الاولٰی** فی الدرالمختار یندب القیام تعظیماً للقادم کمایجوزالقیام ولوللقاری بین یدالعالم فی ردالمختار قال ابن حبان وفی عصرنا ینبغی ان یستحب ذٰلك ای القیام لما یورث ترکه من الحقدوالبغضاء والعداوة لاسیماً اذاکان فی مکان اعتیدفیه القیام وماوردمن التوعدعلیه فی حق من یحب القیام بین یدیه کمایفعله الترك والا عاجم اه قلت یؤیده مافی العنایة وغیرهاعن الشیخ عبدالحکیم ابی القاسم کان اذادخل علیه غنی یقوم له ویعظمه ولایقوم للفقراء وطلبة العلم فقیل له فی ذلك فقال الغنی یتوقع منی التعظیم فلوترکته لتضرروالفقراء وطلبة العلم انمایطمعون جواب السلام والکلام معهم فی العلم **الروایة الثانیة**: فی الدرالمختار ولوسلم علی الذمی تبجیلاً یکفروفی ردالمختار قال فی المنح قیدبه لانه لولم یکن کذلك بل کان لغرض من الاغراض الصحیحة فلاباس به ولاکفراه، ددي حدیثونواوددي روایتونودااموږمعلوم شول: **وړومبی امر** - داوریدوخوقسمه دي یورحبت دي دادهغه چادپاره جائزدي چاسره چه محبت کول جائزدي دویم حدیث کي ددي ذکردي دویم قسم اوریدل تعظیمی دي دیکي که چرته تعظیم په زړه سره دي نوهغه سړي ددي تعظیم قابل کیدل پکاردي کنی که چرته دتعظیم قابل نه وي لکه کافردي نوددي قسم اجازت نشته دویم روایت په دي دلالت کوي- اوکه چرته تعظیم صرف ظاهرسره دي اوهغه هم څه مصلحت دوجه نه دي لکه داخیال وي چه که چرته ماددي سړي تعظیم ونه کړونودشمن به شي یاداچه دده به زړه مات شي یاددي سړي

هدایت ته دراتلوامیددي یاداسړي دهغه محکوم نوکړوي یابل څه داسي مصلحت وي نوبیاجائزدي دوړومبی حدیث شرح اووړومبی روایت په دي ګواه دي اوکه چرته هغه نه قابل دتعظیم وي اونه پکي څه مصلحت اوضرورت وي نومنع دي . **دویم امر**:- داچه رسول ﷺ عکرمه ؓ بن ابوجهل دپاره کوم دقریشو سرداروه اوعدی بن حاتم دپاره کوم چه دبنی طی سرداروه دهغوي دزړه خوشحالولودپاره چه دوي مسلمانان شي یاپه دي وه چه حضرت ﷺ ددي امیدمونډلی وه په دي وجه اوریدلی وه په دي وجه دوي دواړه بیااسلام قبول کړي هم وه **دریم امر**- چه ممانعت چه کوم په احادیثوکي راغلیدي هغه په دي صورت کي دي چه یوکس ناست وي اوتول ولاړوي په عجموکي داعادت دي داممنوع اوحرام دي دي تفصیل نه وروستواستفتاء دتولواجزاؤجوابونو وشول صرف یوجزء پاتی شو- هغه داچه حضرت ﷺ خان دپاره ولی نه خوښولودهغه وجه تواضع سادګی اوبی تکلفی وه چه حضرت ﷺ کي عاجزي ډیره زیاته وه- اومرقات کي تصریح شته (۱۸ ذیقعده ۱۳۲۵ھ امدادج۲ص۱۹)

تعظیم دپاره داوریدوتحقیق

سوال:(۳۵۴) زه داخبره معلوموول غواړم فقهاء چه دراتلونکی عزت دپاره اوریدل جائزیا مستحب فرمائیلی دي نوپه دي بي څه دلیل بیان کړیدي- مشکوٰۃ شریف کي باب القیام- اوپه دهغی دشرح نه په دي مسئله باندي دجوازدڅه ګنجائش نه معلومیږي امام نووی ؒ خوداوریدو استحباب دپاره قوموالی سیدکم سره استدلال فرمائیلی دي- خوداستدلال صحیح نه دي ځکه چه ملاعلی قاری ؒ داپه معقولودلیلونه سره ردکړي هم دي- اوکه چرته دادلیل زمونږه فقهاؤ هم بیان کړیدي نوبیاداخویوتبرك محض دي. کوم عبادتونوچه الله رب العزت خپل ذات اقدس دپاره مخصوص فرمائیلی دي هغه بل چادپاره څه رنګ جائزکیدیشی قوموالله قانتین لکه سجده اورکوع چه دنمونځ دجزء کیدودوجه نه بل چاته کول حرام دي دغه شان قیام کي هم کیدل پکاردي- پدي وجه په تیته سلام کول څوپوري چه زماخیال دي دتشبه بالرکوع دوجه نه فقهاؤ مکروه لیکلی دي ماته ددي خبري دتحقیق ضرورت دمسئله دقیام میلاد مروجه دپاره دي زه تراوسه پوري شرح صدرسره دااوریدل داکرام ددي دلیلونوپه بنیادناجائزګڼم؟

جواب : دي وخت کې نه ماسره کتابونه شته نه وخت شته- څه چه ذهن کې دي دغفې په بنیاد باندې جواب لیکم قیام للقادم په عدم جواز باندې استدلال دې جدیث قوموا الی سیدکم باندې موقوف نه دې دحضرت اقدس ﷺ حضرت فاطمې رضی الله عنهاته اودریدل هم استدلال دپاره کافی دي که چرته داووائي چه داقیام للمحبت وه نوجواب دادي چه محبت اواکرام کې څه وجه ده هیڅ فرق نشته ځکه چه محبت یومباح امردي دغه شان اکرام هم اذاجاء کریم قوم فاکرموه کې داکرام اباحت دي فلیکرم الضیف کې داکرام اباحت بلکه تاکیددي. دې نه معلومه شوه چه قیام للامر المباح جائزدي- په خپله ملاعلی قاری ﷫ حدیث ممن سره ان یمتثل له الرجل باندې دقیام للخدمت په جوازتصریح کړیده اوکه چرته څوك ووائي چه خدمت موقوف دي په قیام باندې نوجواب دادي چه بعضو قومونو کې اکرام عرفاً موقوف دي په قیام باندې اوس زه ترقی کوم اووایم چه که دقوموا الی سیدکم نه هم استدلال وکړي نو څه باك نشته . اوبعض عالمانو وئیلی هم دي پاتی شوه دملاعلی قاری ﷫ شبه داسې شبهې خوتولو استدلالاتو کې کیدیشي داختلاف مسئلو په دلیلونو کې معلوم دي چه اصل مدارداستدلال دمستدل ذوق دي دبل چاذوق په دي حجت نه دي اوکه چرته قوموا لله قانتین دې قیام ته هم شامل وي- نوپه خپله صاحب مرقاة عکرمه ﷜ اوعدی دپاره دحضرت ﷺ دقیام محمل تالیف علی الاسلام یااقتضاء حال لحب الریاست ګرځولی وه یعنی چه زړه کې داسلام مینه پیداایشی آیاددې استثناء څه دلیل شته اوکه چرته عام قاعدي دلیل داستثناء وي نودلته هم جوازدمحبت یااکرام دلیل داستثناء دي پاتی شول درکوع سجدي سلام دپاره حرام کیدل دادنص دوجه نه دي- حضرت ﷺ نه تپوس وشوا ینحنی بعضنابعض حضرت ﷺ اوفرمائیل لا- اوحضرت ﷺ نه په خپله خپل ځان دپاره دسجدي کولوتپوس اوشو- حضرت ﷺ منع اوفرمائیله بل داچه رکوع اوسجده بل څه غرض دپاره نه ده مباح کړي شوي په خلاف دقیام چه خدمت یاتالیف علی الاسلام دپاره پخپله دملاعلی قاری ﷫ په نزدمباح دي- دې نه معلومه شوه چه رکوع اوسجده کې معنیٰ دعبادت زیاته ده دې سره تشبه هم ناجائزده په خلاف دقیام چه هغه مباح اغراضودپاره مباح شولکه دیرو واقعاتو کې دصحابو رضوان الله علیهم په مخکې جاثی علی الرکب په زنګونانو کیناستل، کیدل راغلیدي حالانکه دادتشهد صورت دي البته که چرته دیکې هم نهي وي نوتعارض دمبیح اومحرم کې محرمه ته ترجیح راځي .اودلته خونهي شته هم نه-

قوموا لله قانتین، عابدین، کې ددې منهی عنه نه کیدل معلوم شول پاتی شوه چه حضرت ﷺ ځان دپاره نه خوښول داکراهة طبعی دي نه کراهت شرعی- لکه څنګه چه حضرت ﷺ دټولونه مخکې تلل نه خوښول حالانکه دیته هیچامنهی عنه نه دي وئیلی -دغه شان لاتقوموا کماتقوم الاعاجم یعظم بعضهم بعضا کې هغه قیام مراددي چه معظم ناست وي اونورټول ولاړوي . اوداعادت دعجمو دتاریخ نه معلوم دي بل حدیث چه کوم بره ذکرشو یتمثل له الرجال ددې ترینه ده پاتی شو دمولودوالو استدلال دلیلونه دجوازدقیام دپاره دراتلونکی دامحض بی هوده خبري دي ځکه چه هلته قدوم چرته دي صرف ذکر دقدوم دي فاین هذا من ذاك بلکه دکوم قدوم ذکردې دهغې قدوم په وخت قیام چرته هم منقول یامتعارف نه دي دبادشاهانو په کورونو کې بچې پیدا کیږي حاضرینو چرته هم قیام نه دي کړي بس دغه صرف جواب دپاره کافی دي دقیام للقادم دنفی ضرورت نشته اوغوره سره وګوري که چرته بطوراعجازپه خپله حضور ﷺ تشریف راوړي اوروپت اویقین دواړه حاصل شی نوآیاعلی قاری ومن تبعه به نه اودریږي (النور/ذی الحجه ۱۳۴۹ھ/ صـ ۹)

دبزرګانوپه لقبونوکې قبله کعبه لیکل

سوال :(۳۵۵) جنتی کالی کې یې دبزرګانوپه لقبونوکې قبله کعبه لیکلی شویدي اوتذکرة الرشید کې یې مکروه تحریمی لیکلی دي بدلیل قوله علیه السلام لاتطرد فی الحدیث ددې تاویل دي؟

جواب : بغیردتاویل نه مکروه تحریمی دي اوپه تاویل دمعنی مجازي جائزدي اګرچه خلاف اولیٰ دي (۸ربیع الاول/۱۳۲۷ھ تتمه اولی/صـ ۱۴۲)

دفع تدافع درمیان بهشتی زیوروفتاوی رشیدیه

دربعض اداب والقاب والد وه یکرعزیزان

سوال :(۳۵۶) دجناب په کتاب جنتی کالی وروبمبی برخه صـ ۲۱ کې دخطونودلقبونو مضمون داسې راغلیدي دلویولقبونواواداب دپلارنوم جناب والدصاحب قبله وکعبه خامن ومخدوم اوتابعداران عاجزان الی آخره ایضاً جناب والدصاحب قبله کونین وکعبه دارین الی آخره ایضاً قبله وکعبه فرزندان الی اخره- اوحضرت مولاناګنګوهی ﷫ فتاویٰ رشیدیه

دریمه برخه ص ۷۹ کې داسې فرمائي استفتاء څه فرمائي عالمان د دين او مفتيان د شرع متين دې دلاندېنو مسئلو کې تفصيل سره د حوالې د کتابونو وليکئ عندالله به ماجور او عندالناس به مشکور وګرځئ. ورومبی سوال قبله وکعبه ياقبله دارين وکعبه کونين ياقبله ديني وکعبه دنيوي ياآمال وحاجات ياقبله مرادات ياقبله صوري وکعبه معنوي يانور داسې قسم لقبونو او ادابو کې والدیا عمومی یا وروړته یا پلار چاته داسې ليکل جائزدي يانه- حرام دي ياته مکروه دي نو تحريمي يا تنزيهي دعبارتونو او دليلونه هم وليکئ؟

جواب : داسې کلمات دمدح دچا په نسبت وئيل يا ليکل مکروه تحريمي وي- لقـول عليـه السلام لاتطرونی الحديث- هر کله چه دشان نبوي دحدنه زيات کلمات دحضرت ﷺ دپاره دي نو بل چادپاره څه رنګ جائز ګيديشي فقط والله اعلم- پدې وجه درفع اشتباه په بنياد عرض دي چه ظاهراً ددواړو عبارتونو کې تضاد معلوميږي ددې دختمولو څه توجيه ده؟

جواب : که چرته دمجاز اراده وکړيشي نو بيا پکې تضاد نشته خو ظاهري تضاد چه دچا په خيال کې وي هغه ته داسې حالت کې فتاوی رشيديه باندې عمل ډير احتياط دی ۱۸ شعبان ۱۳۳۵ھ

دسلام جواب اورول ضروري دي صرف وروونيل کافي نه دي

سوال :(۳۵۷) دسلام جواب که وروغوندې ورکړي چه سلام اچوونکې يې وانه وري نو جواب اداشو يا اورول ضروري دي بعض صحابو رضوان الله عليهم دحضرت ﷺ دسلام جواب ډير ورو غوندې ورکړيدې چه دنه اوريدو په وجه ددوباره سلام کولو ضرورت راغی آخر کې حضرت ﷺ واپس شوي وه اګرچه علت دلته استماع کلام او تحصيل دبرکت دې خو ظاهراً شبه دجواز معلوميږي؟

جواب : خبرداري ضروري دي که چرته نزدې وي نو اورولو سره او که لرې يا کونړوي نو اشاره سره خو سره دتلفظ نه په ژبه باندې او دصحابي فعل دعارض دوجه نه وه فلايقاس عليه غيره ۲۲ ربيع الاول ۱۳۳۴ھ تتمه رابعه ص ۱۱۹

صيغه د سلام

سوال :(۳۵۸) زيد عمرو باهم نزاع می کنند که سلام عليك بلفظ گفتن فقط مسنون ست يالفظ ديگرهم از مشتق باشد ميتوان گفتن ،پس زيد می گويد که درائ اين لفظ جناب

شارع ﷺ بران نص فرموده يعنی السلام عليكم ديگر منهی عنه وبدعت ست، عمرو خلافش ميکند وميگويد که مشتقات اين لفظ هم داخل سلام است وميتوانم گفت تسليم وتسليمات ونيز ضرورت نيست که السلام عليكم بجميع لفظه لايجزو کلامه درست نباشد بلکه داخل همين سنت آنچه وضيعان وشريفان ميگويند مثلاً سلام ميان سلام صاحب وغيره البته درائ اين ديگر الفاظ سلام که درعرف ميرزايان عجم متداول ومقرر گشته مثل آداب عرض وکورنش ومجرا وغيره بدعت است امانه بدعت مذمومه ومستقبيحه که گويندا ش مستی وبزه کار باشد بلکه ازقبيل مباحات واګرچه بندگی گفتن هم که بنابر عموم خويش که در کلام عرب عبد بمعنی مولا دمملوك هم آمده مضائقه ندارد ليکن بنظر مشترك بودن اين لفظ به عبديت معبود حقيقی وتبادر اذهان عوام وقصور افهام شان برين معنی سزا وارنيست که کس باين چنين کلمه سلام گويد - الختصر درين قوم کدام يك اززيد وعمرو صادق است آيا وضيع وشريف رلفظ سلام عليكم فقط بمخاطب خود بايد گفت يا ديگرهم از الفاظ مذکوره ميتوان گفت ،بينوا بالکتاب توجروا عندالملك الوهاب فقط؟

جواب : تحقيق درين باب آنست که رسول الله ﷺ امر فرموده که وقت لقاء مسلم سلام بايد کرد ،عن ابی هريرة ﷺ عن النبی ﷺ قال اذالقی احدكم اخاه فليسلم عليه الخ رواه ابوداؤد .وهرچند اين کلام مفيد سنيت نيست ليکن درماموربه بالمعنی الاعم بودنشت کلامی نيست پس بلاريب مخالفت آن نمودن بدعت خواهد شد ،باقی ماند کلام اندرين که کدام بدعت خواهد شد بنظر غائر چنان می نمايد که بدعت مذمومه مستقبيحه باشد چراکه مزاحم ومراغم سنت است واين چنين بدعت سيئه می باشد . فی الاحياء انما المحذور بدعة تراغم سنة مامورا بها الخ اقول ثبت کون السلام مامورا به بالحديث المذکور وقت اللقاء فاذالم يسلم وقت اللقاء بل اتی بلفظ آخر صارت السنة متروکا وغيرها مؤثرا وهی المراغمة کما لايخفی، اين تقرير مبنی براصول کليه بود واګرفروع وجزئيات تفتيش کنيم هم مويدش برمی آيد ،عن هلال بن يسار قال کنا مع سالم بن عبيد فعطس رجل من القوم فقال السلام عليكم فقال سالم وعليك وعلٰی امك فکان الرجل وجد فی نفسه فقال اما انی لم اقل الاما قال النبی ﷺ اذا عطس رجل عند النبی ﷺ فقال السلام عليكم فقال النبی ﷺ وعليك وعلٰی اُمك اذا عطس احدكم فليقل الحمدلله رب العٰلمين وليقل له من يرد عليه يرحمك الله وليقل يغفر الله لی ولكم رواه الترمذی وابوداؤد، اين حديث دلالت صريحه دارد براين

که آداب شرعیه را ترک نموده ودیگر الفاظ رابجائش استعمال نمودن امر منکر ست تاآن که رسول الله ﷺ همچنین سالم کلمه گفته موجب غیظ مخاطب گردیده فافهم اکنون باید دید که کدام لفظ رامخاطب سنت گوئیم وکدام راامثال قرار دهم پس ظاهر برآن حکم میکند که اگر اندکی زیاده یانقصان یاتقدیم یاتاخیر هم راه یابد مخالف سنت باشد ، یؤیده ماروی عن جابر ؓ قال اتیت رسول ﷺ فقلت علیك السلام علیك یارسول الله قال لاتقل علیك السلام فان علیك السلام تحیة الموتی رواه الترمذی افادالحدیث امرین احدهما ان تقدیم المؤخر وبالعکس مخالف للسنة والثانی ان ماخالفها هذه المخالفة منهی عنها حیث قال لاتقل ، اما توان گفت که تغیری یسیر جائز باشد کماورد علیه قوله تعالیٰ قالوا سلاما وقوله تعالیٰ سلام علیکم بماصبرتم الایة ویحتمل که انکار برعلیك السلام بسبب تحیة موتی ابودنش باشد پس غایة مافی الباب لفظ سلام میان وغیرآن ازتسلیم وتسلیمات شاید گنجایش دارد اما آداب وکورنش وغیره دربدعت مذموم بودنش اشتباهی نیست کمامر ولفظ بندگی اقبح جمیع است ازبعض ثقات شنید شد که بعض سلاطین جابره بجائ تحیة مقرره نمودن بود که زائر پیش پایه تخت سرنهاده لفظ بندگی گوید منشاء آن بلاریب جاهلیت قبیحه است پس علاوه دلائل مذکوره وایهام معنی عبودیت خودتشبه باهل جاهلیت وجه وجیه است برمنع آن ، عن عمران بن حصین قال کنافی الجاهلیة نقول انعم الله لك علینا وانعم صباحا فلما کان الاسلام نهینا عن ذلك رواه ابوداؤد . وآنکه درسر اکثر بجناء سودائ وضیعان وشریفان پخته منشاء اش کبراست که ارذل خصال دل است اگرفرق ضروری ست دررسوم ومعاملات دنیامضائقه ندارد وسلام ازامور دین است دران فکر فرق کردن چنان است که وضیعان راگویم که ظهر سه رکعت گذارید که درمیان ما وشما فرق بدست آید وهو کماتری واگردل گوارانه نماید بلفظ سلام وتسلیم نمایند ودیگر الفاظ واجب الترك است وفیماذکرنا کفایة لطالب الانصاف انشاء الله تعالیٰ والله اعلم امداد ج۲ ص ۱۸۲

کوم ځاي چه سلام ونیل مکروه دي هغه ځایونه

سوال :(۳۵۹) آیا دا خبره صحیح ده چه کله جومات ته راشي نو په اوچت آواز به السلام علیکم وواٸي او هرکله چه د جومات نه ځي نو هغه وخت به هم په اوچت آواز السلام علیکم وواٸي که جومات کي څوك وي او که نه وي . او نمونځ کي مشغول وي یا بعض نمونځ کوي

او بعض هسی ناست وي یا ټول نمونځ کوي یا څه بله وظیفه کي مشغول وي د هر یو صورت جواب را کړي؟

جواب : بالکل غلط دي - بلکه دا سی حالت کي چه خلق نمونځ او وظیفه وغیره کي مشغول وي نو سلام کول مکروه دي فی الدر المختار.

سلامك مکروه علیٰ من ستسمع ... ومن بعدما ابدی یسن ویشرع

مصل وتال ذاکرو محدث ... خطیب ومن یصغی الیهم ویسمع

مکرر فقه جالس لقضائه ... ومن بحثوا فی العلم دعهم لینفعوا

مؤذن ایضا ومقیم مدرس ... کذا الاجنبیات الفتیات امنع

والله اعلم ۱۸ ربیع الاول ۱۳۲۱ھ / امداد ج۲ ص۱۸۹

متکبرانو باندي سلام نه اچول

سوال :(۳۶۰) زید یو فقیر سړي دي کومی مجمع ته چه لاړشی که جومات وي که بل ځاي وي خو په سلام کي مخکي والی نه کوي هر کله چه څوك ورته سلام او کړي نو په لاس یا ژبه یاد واړو سره د سلام جواب ور کوي که چرته اتفاق سره داسی یو عزت مند سړي لکه عالم یا بزرګ ملاؤشی نو سلام کي مخکي والی کوي کنی نه کوي ظاهر حال هم وائي چه دا سړي دخپلی فقیرئ او عبادت په وجه د خلقو د سلام په انتظار کي اوسی - ایا داسی کس ته سلام کول یا سلام کي مخکي والی کول شرعاً منع خونه دي - امام غزالی ؒ احیاء العلوم کي لیکلی دي چه د متکبرینو سلام دادي چه دوي ته سلام مه کوي د امام غزالی ؒ په دي قول باندي عمل کول چرته خلاف سنت خونه دي ځکه چه بیګانه او غیر بیګانه هر چا باندي سلام اچول او مخکي والی کول په سلام کي مسلمانانو باندي د حدیثونه مسنون معلومیږي؟

جواب : تکبر حرام دي او چه څوك تکبر کوي هغه بالخصوص څوك چه همیشه تکبر کوي هغه فاسق دي او فاسق باندي په سلام مخکي والی نه کول جائز دي بلکه غوره دي - فی الدر المختار فی شرح البخاری للعینی فی حدیث ای الاسلام خیر قال تعطم الطعام وتقرء السلام علی من عرفت ومن لم تعرف الی قوله وکذا یخص منه الفاسق بدلیل اخر - هر کله چه معلومه شوه چه حدیث عام مخصوص البعض دي نو د امام غزالی ؒ په قول باندي عمل کول خلاف د سنت نه دي امداد ج۲ ص۱۸۹

داستنجاء وخت کې سلام

سوال :(۳۶۱) داستنجاء وخت کې دسلام جواب ورکول یا په خپله سلام کول پکاردي یا نه. حدیث شریف کې خوداذا یبول لفظ راغلی دي بیاخلق داستنجاء په وخت کې دسلام جواب نه ورکوي ایاداوي غلط فهمی ده یاځه اصل یې شته- دي نه علاوه حدیث شریف کې داهم راغلی دي چه حائضی به هم سلام کولو او جواب به یې هم ورکولو دي نه معلومیږي چه داخیزونو مانع دسلام نه دي؟

جواب : فی الدرالمختاراول باب مفسدات الصلوة ، سلامك مكروه علىٰ ـــ سمع الى قوله فهذاختام والزيادة تنفع، دي بیتونو کې یې دسلام دکراهت ځایونه شمیرکړیدي خودیکې یې داحالت نه دي شمیرکړي اوسوچ سره یل هم ځه دلیل دمنع نه معلومیږي نو ظاهراً دابی سنده محض رسم جوړشویدي- والله اعلم (۱۷ ذی قعده، ۱۳۲۲ھ امدادج۲ ص ۱۹۰)

دچاخپونه لاس لګول اولاس بیاپه مخ مږل

سوال :(۳۶۲) خپو سره لاس لګول اولاس بیاپه مخ مږل صاحب دخپو حالت دقیام کې یاناست وي یاملاست وي سنت دي یامستحب یامباح یابدعت دي؟

جواب : درمختارکې داجزئیه ده وكذامايفعله الجهال من تقبيل يدنفسه اذالقى غيره فهومكروه فلارخصة فيه اه ،قبيل فصل فى البيع كتاب الحظروالاباحة، بس که چرته مخ باندي مږل په شان دتقبیل (ځکلولو) وي بیاخودي روایت نه دمسئلی جواب معلوم دي چه مکروه تحریمي دي فی ردالمحتاراى تحريماً ويدل عليه قوله بعد فلارخصة فيه - او که چرته دتقبیل په شان نه دي نوداروایت دهغی نه ساکت دي او بل روایت می نه دي لیدلی او ظاهراً قواعدو سره دتفصیل نه دامعلومیږي که چرته دامسح کړي شوي سړي متبرك متقی وي اومسح کوونکی متبع دسنت اوصحیح عقیدي والاسړي وي بیاخوجائزدي کنی نه دي جائزوالله اعلم (۲۲ شوال ۱۳۲۷ھ تتمه اولی ص ۱۴۳)

خوراک کوونکې باندي سلام کول

سوال :(۳۶۳) برآکل بوقت اکل سلام کردن چه حکم دارد ،

جواب : علة کراهت سلام برآکل عجزاوازجواب نوشته اندونزدمن علت دیگراحتمال تشویش یااخصاص به لقمه هم است پس هرکجادوعلت مرتفع باشد کراهت هم نباشد واین علت ازقواعد فهمیدام نقل یادندارم. (۳ محرم ۱۳۳۲ھ تتمه ثانیه ص ۱۰۷)

دبدعتیا نوتعظیم

سوال :(۳۶۴) کوم خلق چه عرس وغیره بدعتونو کې شریکیږي ددوي چه کوم خلق تعظیم اوعزت کوي هغوي ددي حديث من وقرصاحب بدعة فقداعان على هـذا الاسلام اوکماقال مصداق ګرځی یانه؟

جواب : که چرته داتعظیم اوعزت ځه دین مصلحت اودینوي ضرورت دوجه نه وي بیابی شکه دیکې داخل دي (۱ ربیع الثانی ۱۳۳۷ھ تتمه خامسه ص ۱۸۴)

روضه مطهره وغیره ځکلول

سوال :(۳۶۵) برتصویرروضه منوره حضرت سرورعالم ﷺ ونقشه مدینه منوره زادها الله شرفاً ونقشه مکه مکرمه که دردلائل الخیرات واقع است بوسه دادن چشم مالیدن ازروی شرع جائزاست یانه؟

جواب : بوسه دادن وچشم مالیدن برین نقشها ثابت نیست واگرازغایت شوق سرزدملامت وعتاب هم برجانباشد کتبه الحقررشید احمد گنگوهی عفی عنه. الجواب صحیح اشرف علی عفیٰ عنه (۲ محرم ۱۳۲۲ھ امدادج۲ ص ۱۴۰)

درسول ﷺ تعریف په نظم اونثرکې

سوال :(۳۶۶) دحضرت ﷺ تعریف کول په طریقه مشروع ځنګه ده عام ددي نه که نظم وي اوکه نثر یودوه حدیثونه ددي باره کې پیش کوم . من انشد فینا بیتاقله الجنة، دي ته خلق حدیث وائي آیاچرته دحدیثو په یو کتاب کې داحدیث یاددي هم معنی حدیث تاسو چرته

لیدلی ده. دویم داچه قصیده بانت سعادفقلبی الیوم متبول، دحضرت ﷺ په شان کې حضرت حسان رضی الله عنه بن ثابت ویلی ده نوحضرت ﷺ سحبان هذه الامة فرمائیلی وه. اوخپل څادرمبارك یې ورته ورکړي وه ددې صحیح سندکوم کتاب کې دي ؟

جواب: (۱) نظماً اونثراً دواړوطریقوسره جائزدي خوپه دي شرط چه حدودشرعی نه بهرنه وي لکه څنګه چه عام شاعران پکې مبتلادي. مشکوة کې دبخاري شریف نه حدیث روایت کړیدي عن عائشة رضی الله عنها قالت کان رسول الله ﷺ یضع لحسان رضی الله عنه منبراً فی المسجدیقوم علیه قائماً یفاخرعن رسول الله ﷺ اوینافح ویقول رسول الله ﷺ ان الله یؤیدحسان بروح القدس مانافح اوفاخرعن رسول الله ﷺ واماالاطلاق نظماً اونثراً فعن عائشة رضی الله عنها قالت ذکرعندرسول الله ﷺ الشعرفقال رسول الله ﷺ هو کلام فحسنه حسن وقبیحه قبیح رواه الدارقطنی کذافی المشکوٰة ،اومن انشداخ:- حدیث ماچرته نه دي لیدلی (۲) دا قصیده دحضرت حسان رضی الله عنه نه ده دکعب بن زبیرده لیدلی می ده خویاده می نه ده چه کوم کتاب کې می لیدلی ده اوکتابونه راسره نشته چه وګورم اوسحبان وئیل ماچرته نه دي لیدلی والله اعلم (۲۹ رمضان ۱۳۲۳ھ امدادج ۲ ص ۱۴۵)

دتعظیمی سجدي تحقیق

سوال :(۳۶۷) سوال کې شبه کړي شویده چه شرائع من قبلنا کې ددي واقع کیدل بغیردنکیرنه په نصوص قطعیه کې منقول دي پس زمونږ په شریعت کې به هم جائزوي اوناسخ ددي قطعی کیدل پکاردي اوهغه نشته ؟

جواب : جواب داورکړي شوچه ددي په حرمت باندي اجماع ده او اجماع اګرچه ناسخ نه ده خوعلامه ده دوجوددناسخ اګرچه ناسخ معلوم نه وي اه – اودا جواب علی سبیل التنزل دي کنی که تحیه په تحقیق باندي نظروکړي نوحدیث دنهی عن السجدة التحیة ته متواتروئیلی شی اګرکه تواترمعنوي وي وهوهذا اذا اجتمعت (ای الکتب) علیٰ اخراج حدیث وتعددت طرقه تعدداً تحیل العادة تواطؤهم علی الکذب الیٰ اٰخر الشروط افادا لعلم الیقنی لصحة نسبة الیٰ قائله ومثل ذٰلك فی الکتب المشهورة کثیر.په حدیث نهی سجده تحیة دسندپه باره کې جمع الجوامع للسیوطی په عبارت کې لاندي طریقی سره ذکردي ،رواه ابوداؤدوالطبرانی

والحاکم والبیهقی عن قیس بن سعدوالترمذی عن ابی هریرة رضی الله عنه والدرامی والحاکم عن بریدة واحمدعن معاذوالطبرانی عن سراقة بن مالك وصهیب وعقبة ابن مالك وغیلان بن مسلم ورواه ابن ابی شیبة عن عائشة والبیهقی ایضاً عن ابی هریرة رضی الله عنه اوممکن ده چه داهل اجماع په نزد داحدیث لفظاً هم متواتروي (۲۵ محرم ۱۳۵۰ھ النورشعبان ۱۳۵۰ھ ص ۲)

حکم ملقب کردن بادشاه محی الملة والدین وغیره

سوال :(۳۶۸) څه فرمایې عالمان ددین متین چه یومسلمان دملك بادشاه چه خصوصیات یې دادي شراب څښی اوچه اوڅښی نوبیاپه بدمستی کې دخپلوملګروبې عزتی کوي دځلورونه زیاتی بیبیانی کوي اوښکار دشریعت اسلامیه مخالفت کوي دهغه په بادشاهی کې په شراب اوزناباندي شرعی حکمونه نه دي جاري شوي. اونه په عدالتونوکې دشریعت مطابق صفائي کیږي اونه په دي عدالتونوکې څوك دیندارمتقی اوپوه لرونکی حاکم شته ددي نه علاوه ددي زمانی دطریقی مطابق دبعضومسلمانانوانجمنونواومدرسووغیره ته څه مناسب مالی امدادهم دي بادشاه ورکړیدي بل څه کارده داسی نه دي چه ددین اسلام حقیقی خدمت ورته وئیلی شی خوبیوه دله دمسلمانانوچه بیان کړل دهندوستان مسلمانان ورته دمحی الملة الدین یاناصرالملة والدین خطاب ورکول غواړي آیادمسلمانانودافعل قابل دتحسین اولائق دتائید دي که چرته نه وي نوآیاددي مخالفت مسلمانانوباندي یاپه دوي کې په بعضوخاصوخلقوباندي فرض دي بینواتوجروا؟

جواب : فی الدرالمختارویکره تحریماً وصفه بمالیس فیه- دي نه حکم دواقعی معلوم شو. داخوخطاب ورکوونکوباره کې تحقیق دي باقی که چرته څوك خطاب ورکړي نودهغوي دمخالفت اومقابلې کولونه غوره دادي چه څه تاویل وکړي اوچپ پاتی شی،چه په خپله مسلمانانوکې څه فتنه اوفسادپیدانه شی. اوتاویل ظاهردي آخرملت اوددین دڅه شعبی احیاء اونصرت خوواقع دي (۳۰ شعبان ذی تعده ۱۳۳۲ھ)

دطاعون اووبا متعلق مسئلې / طاعون نه تښتیدل منع دي

سوال :(۳۶۹) دحدیث الطاعون دجملې فلاتخرجوافرارامنه مثال دایت ولاتمش فی الارض مرحاپه شان دي نوڅه رنګ چه مطلق مې منع نه ده دغه شان مطلق خروج هم منع نه دي په خلاف ددخول چه ظاهرحدیث کې مطلقاً منع ده. اوظاهره ده چه دفرارنه مراد مکان پریخودل

دي اوس پاتې شوه دا چه نهی دفرار که چرته مطلق غیرمخصوص او غیرمعلل ده نوبغیر دمجبورئ نه لکه بوټی ناقابل برداشت وي اودلري کولو طاقت نه وي او په قصد دبدلولو آب وهوا دیوي کوټې نه بلې کوټې کې یا دیو مکان نه بل مکان کې ښارکي دننه یابهر یابل ښارکي نه دي جائز کیدل پکاردي دپاره چه دتفویض اودتسلیم خلاف نه شي څوکه داسې ووائي چه ددویم روایت په بنیاد ارض (زمکی) نه مراد بلد (ښار) دي اوفناء دبلد په حکم دبلد کې ده نوفناء بلد پورې تختیدل به جائزوي. اوکه چرته نهی فرار دبلد مخصوص ده یعنی چه څوك دقصدي کیدوعقیده لري هغوي دپاره ده لکه څنګه چه درمختارنه معلومیږي نودوروميې تخصیص دلیل څه دي دویم شرط دفناء بلد چه څوك دمتعدي کیدوعقیده نه لري هغوي دپاره به نه وي داخلق په نهی کې داخل نه دي نوشرط څنګه شو. اوکه چرته دحضرت عمر ﷺ دقول دوجه نه معلل په علت سره تضیع مرضی اودا وه وایې اومشروط یې کړي نوډوميې خوهغوي چه کوم لښکریانو هغوي باره کې حکم فرمائیلی وه. دویم دا چه که چرته دطاعون نه مخکې دښکرقیام په اردن کې پوره طریقې سره ثابت شي نوبیاهم اردن اوجابیه دشام دوه ښارونه دي لهذا اقبیله دوپاتی ښار نه بل ښارته وتختی یا څه کسان نزدي ځایونوته وتختی اودضرورت په وخت کې ددغه مصیبت زدو شریك شي یا داسې هلکان بل ځای ته ولیږي کوم چه نه وي شریك شوي نو جائز کیدل پکاردي خلاصه دا چه فلاتخرجوا فرارمنه مذهب قوي کې مخصوص دي یا غیرمخصوص ،معلل دي یا غیرمعلل – که چرته مخصوص دي نو دلیل څه دي اومخصوص کیدوپه حالت کې چرته بل ښارته تلل جائزدي یانه اودغه شان دحضرت عمر ﷺ قول دهغه چاباره کې دي چه نه وي راغلی یادمقیم باره کې که چرته دمقیم باره کې ثابت شي نوپه صورت دنه موندي کیدودعلت لکه دي دریو صورتونو کې کوم چه ذکرشول. نوڅوك چه دتصدي متعدي کیدو عقیده لري یانه لري دوي ته بل ښارته تلل جائزدي یانه اوکه چرته جائزنه دي نوحضرت عمر ﷺ بل ښارته دتلو حکم ولې فرمائیلی وه؟

جواب : زما په نزد تحقیق دادي چه نهی عن الفرارعقیده لرونکي دمتعدي کیدو اونه متعدي کیدودواړوته خوعام دي لاطلاق الحدیث خومقیمینو سره خاص دي. یدل علیه قول ﷺ فیمکث فی بلد رواه البخاری اوپه احکاماتو کې وطن اصلي او وطن اقامت یوشان دي. دحضرت عمر ﷺ په فعل باندي هم شبه پاتې نه شوه. البته بعض محققینو دي ته معلل وئیلی دي. دګاونډیانو دحقونو ضائع کیدو سره اودي سره دصفاترورنقل جوازلازم نه راځی

څکه چه دحقونونه زره ساتل هم دي اودماشومانو په نقل کې دزړه ماتیدل یقیني دي – دسوال دتقریر چه کوم حاصل ماګنړلی دي هغه دپاره داجواب انشاء الله کافي دي اوکه څه حصه پاتې شوي وي نودوباره تپوس وکړي (۱۸شعبان/ ۱۳۲۷ھ تتمه اولیٰ/ ص ۲۱۴)

حدیث فلاتخرجوا فرارامنه باندي دڅوشبهاتو جوابونه

سوال :(۳۷۰) دحدیث تکړه فلاتخرجوا فرارامنه نه دښارنه دبهرکولو ممانعت دي لهذا ښار په حد کې فرار جائزدي (۱) خونزدي په بل ځای کې یا بل ښارکې څه حالت کې فرار جائزدي یانه (۲) اوکه چرته دمعلل کیدوپه حالت کې هم جائزنه دي نوحضرت عمر ﷺ داردن ښارنه جابیه ښارته دتلو حکم ولې کړي وه. اودحضرت عمر ﷺ دقول مخاطبینو اردن ښار دطاعون زده کیدونه مخکې وطن اقامت جوړکړي وه یا پس دطاعون کیدونه که چرته پس دشروع کیدودطاعون نه یې جوړکړي وه نودي قول نه مومعللیت دحدیث باندي استدلال صحیح دي یانه (۴) دومره نورهم زیاتي کوم چه تکړه حدیث فلاتدخلوا منه مطلق دي نومطلقاً (۵) دخول منع دي یا جائز(۲) که چرته جائزوي نودڅه مجبوري نه یابغیردمجبوري نه هم مثلاً دبل ځای نه طاعون ځایونوته تلل مریض کتل یا جمعه کول یا کفن دفن یا عبادت کول وغیره جائزدي یانه (۷) که چرته جائزدي نونه کوونکي ملامته اوګنهګاریږي یانه؟

(جواب عن السوال علی اصل) الجواب (۱) نه دي جائزلوجود الفرار (۲) څکه چه نهی خاص ده مقیمینو سره کماذکرفی الجواب السابق (۳) په دي باندي محمول کیږي چه وطن اقامت یې نه وه جوړکړي لکه څنګه چه لښکرمفازه کې اوسیدو (۴) دسوال په دي جزء پوه نه شوم دعبارت داجمال دوجه نه یادامبنی دي وطن اقامت جوړولو باندي اوهغه په خپله ثابت نه دي (الجواب الاضافه) (۵) مطلقاً منع نه دي لان الضرورة مستثناه باطلاق الدلائل (۲) دحاجت په وخت کې جائزدي اګرچه هغه دمجبوري درجه ته نه وي رسیدلی (۷) جائزدي که نوروډلیلونو سره واجب وي یانه اوکه واجب هم وي نوبیا په پریخودوه ملامتیا شته والافلا - فقط (۳رمضان ۱۳۲۷ھ تتمه اولیٰ/ ص ۱۲۵)

مخکې دوایي کول دپاره د حفاظت دطاعون دختمولو

سوال :(۳۷۱) مرض کې دمبتلاکیدونه مخکې په طوردحفظ ماتقدم دوایي کول جایز دي یانه؟

جواب : دمخکې نه هم مباح دوایي کول جائزدي (۱۲صفر ۱۳۳۰ھ تتمه اولی صـ ۲۱۲)

دطاعون دټیکې تحقیق

سوال :(۳۷۲) دډاکټري اصولومطابق دطاعون ټیکه لګول چه دهغې رس دبعضودوینا مطابق دمږکانواودخرږدبدن نه نچوړ کیږي اوبعض وائي چه دخنزیردغوښې نه هم نچوړ کیږي اوهغه هم پکې ګډولی شي په هرحال چه وي خوددي مرداروخبیثونواجزاء په جسم کې په وینه کې داخلولی شي یانه په خلاف ددي ارشادلاشفاء فی الحرام؟

جواب : که چرته دشفاء تعین وي نوبعض متاخرینوتداوي بالحرام اجازت په وخت دیقین کې ورکړي دي کذافی الدر المختار (۱۲صفر ۱۳۳۰ھ تتمه اولی وحوادث اول وثانی صـ ۱۵۰)
دطاعون په رڅوکې دیوکورنه بل کورته یابیوي محلې نه بلې ته دتلوجواز

سوال :(۳۷۳) بل طاعوني ځاي خالي کول اوبل ځاي ته تلل کوم چه دطب موافق ضروري ګڼړلی شي جائزدي یانه؟

جواب : انتقال دیدل صحیح نه دي په یوښارکې دمحلې یادکورنقل صحیح دي (۱۲صفر ۱۳۳۰ھ تتمه اولی ۲۱۲)

دطاعون نه دتښتیدوممانعت منصوص دی قیاس ته ضرورت نشته

سوال :(۳۷۴) یوه ډله دمسلمانانودطاعون نه تښتیدل دفرارعن الزحف په شان ګڼړي لکه یوسړي چه دجهادنه اوتختي دهغې په تائیدکې دقران ایت - قل لن ینفعکم الفرار ان فررتم من الموت اوالقتل واذاً تمعون الاقلیلا. پیش کوي اوبله ډله فرمان دحضرت ﷺ فرمن المجذوم کمافرمن الاسد. حجت باندې خلاف ددي ارشاددی (لاطیرة ولاعدوی) پیش کوي دي دطاعون دمرض دمتعدي کیدوسرایت قائل دي په دي وجه فرارجائزګڼړي دي دواړوکې صحیح کوم یودي؟

جواب : نهی عن الفرارمن الطاعون منصوص دي اوددي اجازت په فرارمن المجذوم، باندې مقیس دي اونص مقدم دي په قیاس باندې په دي وجه قول دنهی صحیح دي (۱۲صفر ۱۳۳۰ھ تتمه اولی صـ ۲۱۲)

دعمواس په طاعون کې دحضرت عمر رضی الله عنه دحکم
نقل دکارنه په فرارباندې استدلال صحیح نه دي

سوال :(۳۷۵) تاریخ نه ثابت دي چه دامرض مخکې زمانوکې دصحابو رضی الله عنهم په زمانه کې هم راغلیدي ایادا روایت صحت ته رسیدلی دي چه دویم خلیفهٔ حضرت عمر رضی الله عنه هغه لښکرته کوم چه دابوعبیده ابن الجراح رضی الله عنه په امارت کې دشام جهادته تلی وه په مقام دعمواس کې چه کله ددي مرض طاعون دخوریدوخبرورته اورسیدونوحکم یې و کړوچه دغه ځاي خالي کړي اوبل ځاي ته منتقل شي؟

جواب : نقل شوي خودي اودصحت دوجه تحقیق راته نشته خوکه چرته اومنلی هم شي بیاهم دفرارد جوازدلیل نه شي کیدي ځکه چه دنهی دعلت ضائع کول دحقونودمریضانواودمړودي اودهغه په انتقال دبعضوسره راځي اودلته نقل دټولوشوي وه لهذاپه دي باندې قیاس نه کیدي (۱۲صفر ۱۳۴۰ھ تتمه اولی صـ ۲۱۷)

فرارعن الطاعون سبب دنجات ګڼړونکې کافرنه دي هو فاسق دي

سوال :(۳۷۶) طاعوني ځای نه که چرته یوسړي اوتختي اودده عقیده وي چه که زه اوتختیدم نوخامخابه بچ کیږي اوکه اونه تختم نوخامخابه مرم نوداسي سړي طرفته دکفرنسبت کولی شي یانه؟

جواب : نه خوسخت ګنهګاردي (تتمه اولی صـ ۲۱۷)

بغیردعقیدی نه هم ددي بره په شان تښتیدل ګناه کبیره ده

سوال :(۳۷۷) که چرته یوسړي دطاعوني ځاي نه بغیرددغه عقیدی صرف دویرې دطاعون نه اوتختي بغیردځه بل ضرورت اوعارض نه - نوداسړي مرتکب دګناه کبیرې دي یانه وشیخ عبدالحق محدث دهلوي په اشعة اللمعات کې حدیث الفارمن الطاعون کالفارمن الزحف په شرح کې چه فرمائیلی دي (ازین حدیث معلوم می شود که ګریختن ازطاعون ګناه

کبیره است چناچه فرار از زحف واگر اعتقاد کند که اگرنه گریزد البته می میرو واگر بگریزو بسلامت می ماند آن خود کفر است ، نو داحکم صحیح او قابل دمنلو دي یانه ؟

جواب : دا سړي مرتکب دګناه کبیرې دي او دشیخ حکم په غټه ګناه باندې بغیر د تاویل نه صحیح دي او دکفر حکم دي تاویل سره صحیح دي چه کله دي الله تعالیٰ لره ددې په خلاق قادر نه ګڼي لکه څنګه چه دسائنس والو اصل مذهب دي (تتمه اولیٰ ص ۲۱۷)

داب وهوا بدلولو په غرض هم فرار جائز نه دي

سوال :(۳۷۸) که چرته یو سړي دیو ځاي نه دسخت طاعون په وخت بل ښار ته لاړشي او ووائي چه زه خو د آب وهوا بدلولو په غرض تلی وم او داسې قسم مکان بدلول جائز دي نو داسې سړي د فرار من الطاعون مصداق دي یانه او که چرته دغه شان نقل مکان جائز وي نو د فرار من الطاعون به کوم صورت وي او حدیث الفار من الطاعون کالفار من الزحف او دا رنګه نورو حدیثونه کوم چه د فرار په حرمت کې راغلیدي هغه به څه محمول کیږي بینوا توجروا؟

جواب : هر کله چه علت دتلو طاعون دي نو دا هم فرار دي (۲۲ رجب ۱۳۳۰ھ تتمه اولیٰ ص ۲۱۷)

تقریر دافع اشکال معلق از دخول مقام طاعون

سوال :(۳۷۹) ددې احقر نه یو حکیم ماهر فن تپوس وکړو چه هر کله چه په حدیثو کې دعدویٰ یعنې دمرض متعدي کیدو نفی ثابتیږي نو بیا د طاعون ځاي ته دتلو دممانعت وجه څه ده البته که چرته متعدي کیدل ثابت او منی نو بیا خو ددې نهی وجه ښکاره ده چه دمرض نه بچ کیدو دپاره ده انتهی بخلاصة؟ احقر دهغې په جواب کې یو تقریر پیش کړي وه چونکه حاضرینو ته چه په هغې کې زیات عالمان وه ددې تقریر سره شفا او شوه په دې وجه دهغې راغونډول او خورول ښه معلومیږي وهو هذا قلت:- ددې تحقیق موقوف دي په دې باندې چه دعدویٰ متعلق تحقیق وکړیشي چه ددې اصل شته یانه ددې باره کې دوه قسم حدیثونه راغلیدي وړومبی هغه چه هغې نه ظاهراً دعدویٰ نفی کیږي لکه حدیث لاعدویٰ او دویم هغه کوم سره چه ددې دوجود شبه پیدا کیږي چه عدویٰ شته - لکه حدیث فر من المجذوم کما تفر من الاسد - یعنې جذامی نه داسې تخته لکه څنګه چه دزمری نه تختې - او حضرت ﷺ په دواړو ارشادونو کې په دې وجه چه هغوي ﷺ صادق او مصدوق دي حقیقة

تعارض نه شي کیدي لان المتعارضین یستلزم صدق احدهما کذب الاخر والکذب ینافی النبوة- په دې وجه دې دواړو حدیثونو کې جمع کول ضروري شول نو دا جمع په باره کې عالمانو دوه مختلفی لارې اختیار کړیدي بعضو لاعدویٰ په خپل ظاهر پریخی دي او فر من المجذوم کې یې تاویل کړیدي او بعضو فر من المجذوم په خپل ظاهر پریخی دي او لاعدویٰ یې دخپل ظاهر نه اړولی دي وړومبی مذهب والو داونیلی دي چه عدویٰ مطلقاً منفی ده ددې په هیڅ درجه کې هم وجود نشته - او دجذامی نه یې دبچ کیدو چه کوم امر فرمائیلی دي نه احتمال دعدویٰ نه بلکه دسد ذرائعه (دلارو بندولو) په طور باندې دعدویٰ دعقیدې نه حفاظت کولو دپاره یعنې که چرته جذامی سره یو ځاي شوي او اتفاق سره ابتداءً نه هم مستقل سبب سره جذام شونودي سړي نه داشبه راتلی شي چه کیدیشي دهغه جذام راته متعدي شویدي او په دیکې فساد دعقیدې دي نو ددې نه لرې او سیدل پکار دي دي دپاره چه هیڅ حال کې هم دمتعدي کیدو احتمال پیدا نه شي او دویم مذهب والو وئیل چه عدویٰ نفی سره مطلقاً نفی کول مقصود نه دي ځکه چه ددې مشاهده شته یعنې لیدلی شي کتلی شویدي اګرچه ددې مشاهدې وړومبی مذهب والا داجواب ورکولی شي چه مشاهده که چرته ده نو دومره ده چه دیو مریض دیو ځاي والی نه وروستو دویم کس مریض شو- خو ددې تسبب اول دویم دپاره او ترتب دثانی په اول باندې داځنګه ثابت شول اقتران فی الوجود دلیل دتاثیر نه شي کیدي خو ددې دویم مذهب والو داخلاف ظاهر وګڼلو او دا یې ووئیل چه دمطلق عدویٰ نفی دي نه مقصود نه ده بلکه دهغه عدویٰ نفی مقصود ده دکوم قائل چه اهل جاهلیت وه او دهغوي معتقدین سائنسدانان اوس هم قائل دي یعنې په بعض مرضونو کې خاصیت طبعی لازمی چه ضرور متعدي کیږي ددې خلاف چرته هم نه کیږي نو ددې نفی یې اوفرمائیله او دا معنی چه څه رنګ نص سره منفی ده دغه شان مشاهدې سره هم متعی ده لکه یو ځاي کې چه طاعون خورشی نو هر کله چه دطاعون ختمیدو نه پس او کتنی شی نو دمړو شمیر دمحفوظو خلقو دشمیر نه کم وي که چرته عدویٰ ضروري کیدي نو ددې عکس به وي بلکه هیڅوک به هم بچ شوي نه وي غرض دتعدي طبعی او لازمی کیدو نفی یې اوفرمائیله او که چرته دنورو اسبابو محتملو په شان دا هم مفضی فی الجمله او موثر په څه نه څه وخت کې او منی لکه محققین اطباء چه کوم ځاي دافعالو او خواصو دقوي طبعیه او اندامونو یا دخوراکونو او دوایانو بیان کوي هلته دباذن خالقها قید هم لګوي - په دې شان سره دعدویٰ په قائل

کیدو کې څه باك نشته او دفر من المجذوم علت دري درجې احتمال دعدوی يې ګرځولی دي او حديث کې دحضور اقدس ﷺ ديو سوال کوونکي په جواب کې ،کوم سري چه ديو اوښ دخارښتی کیدو نه وروستو دنورو اوښانو دخارښتی کیدو اشکال پيش کړي وه، دا فرمائيل چه فمن اعدی الاول يعنی وروميي اوښ ته بيماري چا لګولی وه ددې مسلك سره يې څه تکراؤ نشته ځکه کیدیشی چه مقصود دهغې تعدي نفی وي دکوم قائل چه دا سوال کوونکی وه غرض دعدوی په باره کې داتحقيق دي په کوم چه جواب مقصود او موقوف دي او س دي نه وروستو به جواب داصل سوال معلوم شي يعنی دنهی عن الدخول فی مكان الطاعون علت به دې دواړو مسلكونو باندې جدا جدا اوي بس وروميي مسلك کوم چه عدوی د سرا و بنياده منفی ګڼړي داوائي چه دانهی په وجه داحتمال دعدوی نه ده بلكه ځكه ده چه کیدیشی طاعون ځاي ته تلو سره مستقل سبب سره ده نه هم طاعون شي او ده ته يا نورو خلقو ته داوسوسه پيدا شي چه دبل چا طاعون ده ته ولګيدو او عقيده يې خرابه شي په دې وجه په خپله يې دتلو نه کوم کې چه احتمال دفساد دعقيدي وه منع او فرمائيله او دويم مسلك والا کوم چه مرتبه دسبب غير لازم التاثير کې عدوی ثابت منی داوايي چه په دې وجه يې منع او فرمائيله چه کیدیشی دهغې ځاي دطاعون په ديکې هم اثر و کړي اګر چه بل احتمال هم شته چه اثر و نه کړي غرض دا چه بغير د ضرورت ن خطره دهلاکت کې ځان ولی غورزوي اګر چه يقينی نه وي خو دهلاکت اسباب لکه زهر خوړل هم قصداً بغير د ضرورت نه نقلاً او عقلاً منع وي اګر چه دينه کله کله بچ کيږي هم البته دڅه دنقصان چه ددې نه هم دکم احتمال وي لکه لړه غوندې بدپرهيزي دا داخل نه ده په نهی کې او که چرته په دې دا شبه وي چه هر کله عدوی داسباب مشکوکه نه ده نو بيا خو نهی عن الدخول متوجه شوه خو نهی عن الخروج ولی ده پکاردي چه خروج د جائزوي ځکه چه کله داسې خطروي چه احتمال دنقصان يې وي نو داسې خطره کې دغورزيدو نه پس دهغې ځاي نه وتل عقلاً او د نصوصو په دليلونو سره نقلاً هم جائز بلکه اولی دي لکه مرض چه اسباب مشکوکو د مرګ نه دي او تداوي نه غرض خروج عن المرض وي او دا اجماعاً جائز دي دغه شان دلته هم وتل جائز کيدل پکاردي نو ددې شبې جواب دادي چه بې شکه ددې مقتضاء فی نفسه هم دغه وه که څنګه چه صاحب شبه وئيلی دي خو عقل او نقل يوه بله قاعده هم مقرره کړيده چه چرته ديو سري دمشکوك نقصان نه په بچ کيدو کې دبل سړي دچا چه دده په ذمه دامداد حق وي يقينی نقصان لازم راځي هلته ده لره

دمشكوك نقصان نه بچ كيدو اجازت نشته مثلاً دچا په كور كې اوږ ولګي نو كه چرته ګاونډيان يې مرنه كړي نو دشك په وجه كې احتمال دي چه كيديشي ددغه اور نقصان دغه مركوونكو ته هم ورسی خو شك دي كيديشي هيڅ اونه رسی نو ايا دي ګاونډيانو ته دا اجازت شته چه صرف تماشې دي وكړي او مركولو كوشش دي ونه كړي غرض دامځكينی قاعده دمشكوك يې خطره نه خارج كول جائزدي مقيده شوه دې قيد سره چه هر كله دې خروج كې دبل چا ضرر او نقصان يقينی نه وي او طاعون نه په تختيدو كې نور خلق كوم چه پاتې شي دهغوي زړه مانيدل او زياته ويره او ضائع كول دي كوم چه يقينی ضرر او نقصان دي په دې وجه دا ثقل المضرتين دفع كولو دپاره اخف المضرتين برداشت كول پكاردي او خروج ته ناجائز وئيل پكاردي او دا حكم يوازې خروج سره خاص نه دې كه چرته څه طريقې سره معلومه شي چه دطاعون مقام ته زما په نه تلو كې دچا يقينی نقصان دي هلته هم ددې ضرر يقينی دفع كولو دپاره دهغې په ضرر مشكوك باندې كومه چه په دخول كې وه نظر به نه شي كولی مثلاً دطاعون په مقام كې يوه زنانه كنډه شوه او هلته ټول خلق ددې مخالف وي او دعدت دوجه نه او بل هغې ته مال او سامان اوړل دهغې ځاي نه متعذر دي هلته ددې قيام ضروري دي او بل ښار كې ددې زنانې څوك محرم دي چه هغه سره او سيدو كې ددې دجان او مال او عزت حفاظت كولی شي نو دې صورت كې ديته نهی عن الدخول نشته دي ضرورت سره دي ته دهغه ځاي نه دتلو اجازت بلكه كه څه حرج نه وي نو تاكيدبه كولی شي او څوك دې دا شبه نه كوي چه څه رنګ خروج كې دنورو نقصان يقينی دي نو دغه شان په عدم خروج كې هم دهغوي نقصان يقينی دي چه هلاك به شي نو دواړه ضرره برابر شول او حق دنفس مقدم دي په حق دغير باندې نو ددې شبې ګنجائش خو ځكه نشته چه خبره خو په دې تقدير باندې كيږي چه عدوی يقينی نه ده كومه چه بره په اوريدو او كتلو سره ثابته شويده نو دواړو مسلكونو كې په يو مسلك باندې هم څه دوره پاتې نه شوه پاتې شوه دا خبره چه دواړه كې زيات غوره كوم مسلك دي نو ديكې هرچاته دخپل مذاق او اجتهاد موافق اختيار دي كوم مسلك چه غواړي هغه دي واخلی اختلاف امتی رحمت خو داسې امورو كې راغليدي څه رنګ چه احكام فرعيو اختلاف رحمت دي دغه شان دمتفق عليه حكم دلائل او علتونو اختلاف هم رحمت دي چاته چه كوم مسلك غوره ښكاري هغه اختيار ولی شي او هر يو مسلك كې يو خاص حكمت دي په چاچه دتفويض غلبه ده دهغوي مناسب وروميي مسلك دي او په چاچه داسبابو غلبه ده دهغوي مناسب دويم مسلك دي

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

یادغلو التفویض علاج دویم مسلك دي اوغلو فی الاسباب علاج وروميی مسلك دي داخود ذوق اوحكمت په اعتبار سره دي باقي اقرب الى التحقيق ماته دويم مسلك معلوميږي ولكل جهة هوموليها، والله اعلم بالصواب وعنده ام الكتاب واليه يرجع الحائق فی كل باب
[۲۵ محرم/۱۳۲۹ھ تتمه اولی/ص۲۱۷]

حكم تمناي طاعون وعلاج آن

سوال :(۳۸۰) كه چرته څوك دا تمنا وكړي چه كله مرگ راځي نو په مرض دطاعون كې دي راشي جائز دي يا نه اوكه طاعون مرض شي نو علاج كول پكار دي يا نه ؟

جواب : بعض بزرگانو نه داسې دعا منقول ده اودغه شان دبزرگانو نه تدبير ممانعت هم منقول دي خو د محققينو په نزد خصوصيت سره دي دا دعا دي نه كوي البته دشهادت ددعا اجازت دي يا دا كه طاعون سره وي اوكه بلې څه طريقې سره وي اوطاعون كيدو باندي دعا او دوايي هرڅه جائز دي لكه قتل في سبيل الله چه داسبابو دشهادت نه دي اوسره ددي نه چه ددي نه دبچ كيدو تدبير او دهغې داسبابو دفع جائز ده فكذا هذا - [رجب ۲۲/ ۱۳۲۴ھ/ تتمه خامسه/ص۵۷۸]

دطاعون په باره كې مسائل

سوال :(۳۸۱) رساله خدمت الماعون كې ص۳ نه شروع پورې چه كومه فتوىٰ ليكلی شويده دهغې شرح په رساله خدمت اعاذه الناس كې ص۴ نه ۸ پورې او دصفحه ۲۸ نه ۳۴ پورې بيان شويده آيا دي زمانه په حيلې كې داشې قسم فتوىٰ ليكل زيدته صحيح دي يا نه بينوا توجروا؟

جواب : مادواړو رسالې سره دملحقاتو سرسري نظر سره وكتې دزياتي مويداتو نه قطع نظر اصل مقصود كې نزاع لفظي معلوميږي او اختلاف يا شرط سره تناقض حقيقي نشته داعاذه په ص۳۵ كې راځي كه چرته څوك په دي نيت اوتختې چه طاعوني مقام كې پاتې كيدو او طاعون كې مبتلا كيدو سره چرته داعقيده پيدا نه شي چه دطاعون ځاي كې اوسيدل دطاعون كيدو سبب شونو دداسې تختيد وممانعت حديث نه هرگزنه معلوميږي آه- اوصفحه ۷ كې راځي كه چرته دطاعون نه دبچ كيدو نيت وي نو منع دي اه - دي نه صفا معلومه شوه چه دكوم فرار منشاء داغرض اوعقيده وي چه داخروج به موجب دنجات وي دصاحب اعاده په نزد هم منع دي او مانعين هم دي لره منع كوي اودكوم خروج منشاء چه داغرض او اعتقاد نه

وي صاحب اعاده هغې لره جائز وايي او مانعين هم هغې لره نه منع كوي نو جائز بوشي او منهي عنه بل څيز شو نو نفس مسئله كې اختلاف پاتې نه شو او ددي تفصيل دتائيد عبادت ددرمختار اخري واقعی دمسائل شتې نه كيږي او س صرف محل دنزاع دا پاتې شو چه آيا دا تختيد و نكو غرض صحيح دي كه فاسد نو دا خو څه شرعي مسئله نه ده چه په ديكې دومره كلام وكړيشي صرف يوه واقعه جزئيه ده چه دانزاع صرف په تحقيق او تجربې او مشاهدي سره او دخلقو حالات معلومولو سره ډير په اسانيتا سره ختميدي شي نو څو پورې چه دصحيح تلاش نه كار واخستې شو دا ثابته شوه چه په ډيرو كې دجهل ارگناه په غلبې سره او بعضو كې دالحاء او دهريت اثر سره فساد دغرض يقيني دي الا نادرا والنادر كالمعدوم بل عسى ان يكون في زماننا الا المفهوم په دي وجه په مقتضاء دانتظام احكام منع عام ده كومه چه دمانعينو حاصل دكلام او خلاصه او مقصود دي والله اعلم [۱۵ ذي الحجه ۱۳۲۱ھ]

سوال :(۳۸۲) يو ځاي كې طاعون واقع شو او ډير منزكان پكې مره شول او څه خلق دكلی صرف دآب وهوا بدلولو په غرض خپل ځاي يې پريخودو او خپلې محلی سره بالكل نژدي څو كناله فاصله باندي يې يو كولاؤ ميدان كې اوسيدل شروع كړل آيا په دي نيت باندي وتل جائز دي يا نه ؟

جواب : چونكه فناء آبادي په حكم دآبادي كې ده لهذا تولی مجموعی ته به يو مكان ونيلی شی په دي وجه دي صورت كې ميدان كې اوسيدل جائز دي - والدليل عليه ما ارى نظرى ان بعض الاحاديث ذكر فيه لفظ ارض كمارواه مسلم وفى بعضها بلد كما حكاه النووى ولما كان الحديث يفسر بعضه بعضاً علم ان المراد بالارض هى البلدة ويؤيده ما فى الدر المختار اذا خرج من بلده حيث قيد الحكم بالبلدة ولما ثبت كون متعلق الحكم هى البلدة وهى بجميع اجزائها محل واحد كما اعتبر فى احكام الجمعة والعيد لم يكن الخروج الى الفناء خروجاً من البلدة فتفكر نعم نقل فى بعض الرسائل عن الفتاوى الكبرىٰ لابن حجر المكى ان المراد بالارض محل الاقامة وقع به الطاعون سواء كان بلداً ام قرية ام محلة ام غيرها لا جميع الاقليم الخ لكنه من العلماء الشافعية فلا يكون قوله حجة علينا لانا لم نلتزم اتباعه والله اعلم [۲۰ ذي الحجه/ ۱۳۲۱ھ]

برنی ځواب په باره کې شبه

طاعون مقام نه فناء دښارته دوتلودجوازدليل چه کوم حضرت ليکلی دی هغه مي مطالعه کړوخو لږغوندي تشريح دپاره نورهم مکلف دخدمت يم (۱) ددرمختارعبارت په جواب کې چه کوم ليکلی شوي دي ډيرلږدي يعنی دومره اذاخرج من البلــدة الخ نه معلوميږي دادکوم ځاي عبارت دي مادخپل خيال په ځايونوکې اوکتوخواومي نه موندودي دپاره چه ماته معلومه شوي وي چه داعبارت خروج من البلده دطاعون باره کې دي (۲) داچه اصل محاوراتودعربوکې دبلد قطعة من الارض عامرة کانت اوغامرة معنی کې استعماليږي قال الله تعالیٰ سقناه الی بلدميت،

قال الشاعر،

****

وبلــدة لــيس بهـــا انيس	الا اليعـــافير والا العـــيس

بدي وجه زماخيال راځي چه کلام نبوي کې صرف دپخوانی استعمال په موجب اراده معنی بهتره ده .فلاضرورة اذاً فی ادخال الفناء الغير المعمورفی حکم العمران (۳) دريم داچه فناء باره کې دخروج للسفراوقصرصلوة په بحث کې شامی کې راځي ،امالفناء وهوالمکان المعدلمصالح البلدکرکض الدواب ودفن الموتی والقاء التراب فان اتصل بالمصراعتبر مجاورة وان انفصل بغلوة اومزرعة فلاکماياتی بخلاف الجمعة فتصح اقامتها فی الفناء ولومنفصلا بمزارع لان الجمعــة من مصالح البلدبخلاف السفر.نووتل دکلی نه دپاره دسفراوجمعی دپاره دفناء په اعتبارکې فرق راغی اوس دي مسئله کې دکومي چه سوال شويدي کوم معتبردي زمکه متصل ده يامنفصل بمزارع هم پکې داخل دي وعلی کل حال کيف تقديرانقضاء وتحديده اوبل داهم راځي .بخلاف البساتين ولومتصلة بالبناء لانهاليست من البلدة فماحالهــافی هــذه المسئلة ؟ اجواب درومبی سوال ا درمختارکتاب الفرائض نه يوځوکرښنی مخکې داعبارت دي ادويم سوال جواب ا که چرته بلده کې تعميم واخلی بياهم پکې څه نقصان نشته ځکه چه په دي تقديرهم دزمکې په هرهرجزء خواطلاق نه شي کولی چه کورونواومحلولره دي هم شامل شي بلکه يومحدودټکړي سره يې خاص کيږي قاموس کې دقطع نه وروستودمتحيزي قيد هم راغليدي اوحدودودتعيين مبنی په عرف ده بس ښکاره خبره ده چه عرفاً دمعنی خاص په اعتبارسره حقيقة اجزائی معموره باندي اوحکماً اجزائی تابعه غيرمعموره باندي هم

اودمعنی عام په اعتبارسره حقيقةً اولغةً اجزائی معموره باندي ددي اطلاق کيږي پس دخروج عن العمارات خروج عن البلدکيدل بياهم نه ثابتيږي اوفناء چه آباده نه وي تقديراول باندي حکماً اوتقديرثانی باندي لغةً بلدکې داخل دي پس په تقديرثانی تعميم څه اندازه کې په مدعاکې مفيدشو- ادريم سوال جواب ا فناء لره حکم دجمع متصل اومنفصل دواړه عام اودوسيع منلواوپه سفرکې دوسيع نه منلوچه کوم علت بيان شويدي لان الجمعه من مصالح البلدبخلاف القرية پخپله ښائی چه خروج متکلم فيه لره حکم جمعه کې وتيل پکاردي ځکه چه سکنی هم په شان دجمع يقيناً دمصالحونه ده بس ددته اوبهر سکنی يوشان شوه- اوارض متصل اومنفصل بمزارع ټول په ديکې داخل شول اوعبارت بخلاف البساتين الخ نه دبساتينودفناء بلدنه خارجول مقصودنه دي بلکه ابنيه بلدنه خارجول مقصوددي دسباق اوسياق نه داخبره صفاښکاره ده دي نه مخکې داعبارت دي واشارالی انه يشرط مفارقة ماکان من توابع مواضع الاقامة کربض المصر وهو ماحول المدينة من بيوت ومساکن فانه فی حکم المصرو کذا القری المتصلة بالربض وهو فی الصحيح بخلاف البساتين الخ، اوددي نه وروستوداعبارت دي واماالفناء الخ بس معلومه شوه چه داماالفناء نه مخکې دغيرفناء ذکردي اووجه دهغی داده چه قصرسفرکې عمارتونه اولواحقهامعتبردي بس بساتين چونکه سکنی وغيره دپاره موضوع نه دي په دي وجه دآبادونه خارج دي- ازجمعه کې فناء معتبره داه اوپه ديکې زيات عموم اووسعت دي لکه څنګه چه په خپله سوال کې ذکردي بس دبستانونوپه قصرکې خارج عن البلدکيدل مستلزم نه دي چه جمعه ومايماثلها کالخروج المتکلم فيه،کې دي هم خارج وي اودلفظ بلده محلواومنزلونودپاره دعام کيدواودبستانونواودمزارعوونحوها دداخل بلدکيدودپاره داخبره کافی ده چه ديوکورنه دبل چاکورته دملاقات دپاره يابستانونو اومزارعودپاره کوم چه دسخت ضرورت نه کيدودوجه نه مجبورخروج عن محل الطاعون نه شي کيدلی تلل بالاتفاق جائزګڼري دي نه معلومه شوه چه داخروج عن البلد الی البلدآخرنه دي فتامل وانصف والله اعلم- ۱۱صفر۱۳۲۲ھ

سوال :(۳۸۳) چه کله طاعون ښارته داخل شوبعضي خلقوکلي پريخودو په دي کښي بعضي نوروکلوته لاړل اوبعضي د کلي نژدي په چوپانونوکښي پاتي شول دادريم ډ له هم د مريضانو تپوس اود مروجنازه اوکفن د فن کښي نشي شريکيدي مړي اوشي تود ښار نه بهرين د فن کړي په دي کښي بعضي وايئ چه مونږ د ګنګوه اوتها نه فتوی راغوښتی د ه چه

داب هوابد لید و د پاره په طاعون کښې د کلي نه وتل صحیح دي یو کس د الله ابا د نه کید
پښې د حضرت نه دلته د خپلو انو په - اشاره استفتاء کړي وی او د ښار نه بهرتردی میدان ته
تلو اجازت تپوس وه. هغوی واییٔ چه د اجازت فتوی مولانا راکړه. بهر حال د طالب علم
استفتاء حضرت ته یا ده وي یا نه وي د دی دوارو د لو چه کوم حال د حکم شرعی موافق
وي ا چه څنګه چه مخکې لیکلي شوی وه. لیکې خکه چه دلته کښې ټول عالمان د دی
جواز سخت مخالف دي او زمانه کمزوري کسانو په بوه کې دادواره ډلی ډیرې ګنهګاري
معلومیږي او سخت مجرمان محله کې چه کوم کسان مبتلا دي هلته ډیرمړي کیږي او یوورځ
کي پنځه پنځه او داواو و مړو دکفن او دفن تکلیف او چتوي او دوي دیکې نه شریکیږي
جنازې ته او د جمعې نمونځ ته سره داوریدو لو دبانګ هم محلې ته نه راځي داب
او هوا د بدلیدو بهانه کوي طاعوني مریضانو ته او طاعوني ځایونو ته بلکه خپلو ځایونو ته
دراتلو نه هم ډیرزیات ویریږي آیا داعدوي وفرار من الطاعون کې داخل نه دي؟

جواب : چونکه جواب د سوال تابع وي او په هغه سوال کې دامفاسد نه وه بیان شوي کوم چه
دي سوال کې ذکرشویدي په دي وجه دهغې جواب په جواز کې ورکړي شوي وه نقل د جواب
دادي، خو چونکه هغې سره دامفاسد هم دي کوم چه دي سوال کې ذکر شویدي - کوم کې چه
دعقیدې فساد او دفرائضو واجباتو او سنت مؤکدو پریخودل لازم راځي - دي عارض په وجه
داخروج جائزنه دي (۸ محرم ۱۳۲۲هـ)

سوال :(۳۸۴) څه فرمائي علماء دین او مفتیان شرع متین په دي مسئلو کې (۱) طاعون نه
تخیدل جائز دي یا نه - برابره خبره ده که دبیماري دلګیدو دوجه نه وي یا دمرګ دویرې نه
او داتخیدل دیو کلي نه وي یا د کلي نه باغونو طرف ته وي (۲) او که ټول مکان د منرګانو مړه
کیدو درجې ته سخاشي او هغې کښې اوسیدل ګران شي نو مکان بدلول جائز دي یا نه - که
دیو مکان نه بل ته وي یا مکان نه باغونو طرفته وي یاد یو کلي نه بل کلي ته وي (۳) که چیر
ته د ټول کلي خلق تخنید لی وی او د کلي دخالي کیدو په وجه ویره وي یادغلو نه دیوازیوالي
دوجه نه - نو بل مکان ته تلل جائز دي یا نه (۴) که چرته د کلي خالي کیدو په وجه ضروریات نه
پوره کیږي او ډیر تکلیف وي نو داسې حالت کښې بل کلي ته چرته چه دا ضروریات پوره
کیږي تلل جائز دي یا نه (۵) دطاعون مرض نه یادمرګ نه که چرته چا ته ویره وي نو دي دپاره
مکان بدلول او دغه ذکر شوو ځایونو ته تلل جائز یا نه (۲) که چرته کلي خالي نه وی او

ضروریات پوره کیږي نور هم څه تکلیف نه وی نو داسې وخت کلي پریخودل څنګه دی (۷)
که چرته دیو کلي پریخودو سره نقصان متعدی کیږي او عوام هم په دی سره د جواز دلیل
اوینې نو دوی دپاره داتختیدل جائزدي یانه (۸) که چرته څه ځای سخاشوی وی او څه نه
وی سخاشوی او پدی وجه اوسیدل ګران نه دی نو څه حکم دی (۹) که چرته ټول مکان
سخاشوی وی او په دی وجه مکان کښې اوسیدل ګران دی نو دامکان بدلول صرف دغه کلي
کښې دننه کولی شي یاد کلي نه بهر په باغونو کښې یا بل کلي ته تلی شي (۱۰) حضرت عمر
ﷺ په قصه باندی تختیدونکې دجواز دلیل نیسی کوم چه بعضی مورخینو نقل کړیدی -
الفاروق کښې مولوی شبلی ﷺ لیکلي - مصر او عراق کښې سخته وبا خوره شوه حضرت
عمر ﷺ ته چه کله وروميې خبر اورسید و نو دهغې دتدبیر او انتظام دپاره په خپله روان شو
سرغ ته چه اورسید و نو دحضرت ابوعبیده ﷺ نه چه دده استقبال ته راغلی وو معلومه شوه
چه بیماری ډیره تیزی سره خوریږي - اولین مهاجرین او انصار ئي راوغوختل او مشوره ئي
ترینه واخیسته - مختلفو خلقو مختلفي مشورې ورکړې خو دفتح مهاجرینو وویل چه
تاسو ته دلته پاتې کیدل مناسب نه دی حضرت عمر ﷺ حضرت عباس ﷺ ته حکم وکړو چه
اواز وکړه صبا به دلته نه خو - حضرت ابوعبیده ﷺ چونکه د تقریر په مسئله باندی ډیری
سختی سره عقید ه لرله هغه ته غصه راغله او په جوش کښې ئې وویل افرارمن قدرالله
حضرت عمر ﷺ دده سخت کلامی بر داشت کړه او وی فرمائیل نعم افر من قضاء الله الی
قضاء الله غرض داچه مدینې منورې ته لاړل - دامضمون الفاروق ورمیی حصه
ص۱۲۲، ۱۲۳ کښې ذکر شویدی (افرمن قضاء الله الی قضاء الله) چه مطلب څه دی او دغه
کتاب ص۱۲۴ کښې راځي - معاذ ﷺ چه کله وفات شو نو عمروبن العاص ﷺ خطبه
ولوستله او وی فرمائیل وباچه کله شروع شی نو داور په شان خوریږي په دی وجه ټول فوج
دلته نه لاړشی او په غرونو کښې اوسیږي اګرچه دده دامشوره بعض صحابو ﷺ نه کوم چه
دمعاذ ﷺ هم خیال وه خوښه رانغله - تردی چه یو بزرګ بنه په زوره ووئیل چه ته دروغ وائې
بیا هم عمرو ﷺ په خپله مشوره باندی عمل وکړو فوج دده په حکم یو خوابل خوا غرونو کښې
خورشو او دوباهغه خطره ولاړله (۱) دبخاری شریف او عندامام احمدبن حمبل ﷺ دحدیثو
نه دعدم جواز استدلال مطلقاً کوی که دیو کلي نه بل کلي ته وی او که دکلي نه باغونو طرفته
وی بخاری شریف حدیث دادی - عن النبی ﷺ قال اذا سمعتم بالطاعون بارض

فلاتدخلوها واذا وقع بارض وانتم بها فلاتخرجوا منها او مسند مطبوعه مصر ج ۵ اوص ۲۰۱ کښې د طاعون باره کښې چه کوم حدیث دی د هغه اجزې تکره داده - فاذا وقع بارض فلاتدخلوا علیه واذا وقع بارض فلاتخرجوا فرارًامنه، او هم د غه مسند کښې راځي الفارمن الطاعون کالفارمن الزحف (۱۲)، فرار من الطاعون که چرته ګناه وي نو ګناه کبیره ده که صغیره - او که تختیدل جائز ګڼي او د جواز حکم کوي نو داخنګه دی (۱۳)، که چرته تختیدل سبب د حفاظت او ګڼي د مرګ نه نو څنګه دی (۱۴)، په کوم ځای کښې طاعون وي هلته قتل منع دی یا نه که چرته منع دی نو مطلقاً منع دی یا د ضرورت په وخت کښې اجازت دی (۱۵)، حدیثونه معلومیږي چه طاعون مسلمانانو دپاره رحمت دی او شهادت دی د غه مسند کښې د حضرت ابو مسیب ﷺ روایت دی فالطاعون شهادة لامتی ورحمة لهم مروی دی - نو اوس د دینه پناغوښتل او دعا کول جائز دی یا نه؟

جواب: طاعون نه تختیدل جائز نه دی لقوله علیه السلام واذا وقع بارض وانتم بها فلاتخرجوا فرارًامنه متفق علیه کذا فی المشکوٰة، او اطلاق د حدیث هر تختیدونکي ته شامل دی که طاعون نه د مرګ د ویرې یا د بیمارۍ لګیدو د ویرې تختي البته د اخیره چه د احکم په خپله د دې کلي میدان او باغ وغیره ته هم شامل ده یا نه - د مذهب په کتابونو کښې د اخیره صراحتًا نه ده تیره شوې خو ظاهرًا د اخروج مخفي عنه کښې ی داخل نه دی څکه چه فناء مصر احکام شرعیه کښې په حکم د مصر کښې ګرځولی شویدی - کما فی الجمعه والعیدین ویؤیده ماوقع فی الحدیث من قوله علیه السلام فیمکث فی بلده الحدیث رواه البخاری کذا فی المشکوٰة حیث علق الحکم بالبلدو بالخروج الی الفناء لم ینتف مکثه فی البلدواما ماوقع من لفظ الارض فیفسر بالبلدة فان الحدیث یفسر بعضه بعضاً ویؤیده ایضاً ماروی عن انس قال رجل انا کنا فی دار کثیر فیها عددنا واموالنا فتحولنا الی دار قل فیها عددنا واموالنا فقال ذروها ذمیمة رواه ابوداؤد وکذا فی المشکوٰة باب الفال والحدیث وان حملوه علی الفال والشوم لکنه یعارض بالاحادیث الاخروالذی یمیل الیه القلب ان تلک الدارلضیق اولقربها من النتن ونحوه کانت فاسدة الهواء مورثة للامراض وهذه الامراض کثرالموت وبکثرة الموت وقلة عدو الکاسبین وکثرة الصرف الادویة والتبذیر قل الاموال والتالیدمیق علی هذا الوجه والله اعلم وان قال قائل قدورد الاذن فی مایلی ذلک الحدیث فی المشکوٰة بترک البلدة للوباء یقال قدضعف هذا الحدیث واوّل فی الشرح الفارسی للمشکوٰة

فانظر فیه والله اعلم بحقیقة الحال - (۲) کوم خروج چه د څه عارض د وجه نه وي هغه فرار من الطاعون نه دی که چرته هغه عارض قوي او معتبر وي نو خروج جائز دی - یدل علیه ما فی الدر المختار قبیل کتاب الفرائض واذا خرج من بلدة بها الطاعون فان علم ان کل شیئ بقدرالله تعالیٰ فلاباس ان یخرج اویدخل الخ: اوس خبره پاتې شوه چه کوم عارض قوي دی او که نه - نو د مرګانو د بویه کیدل په دې شان سره چه هلته او سیدل ګران وي داعارض قوي معلومیږي او دبل کلي اودې کلي د اجزاؤ حکم بره اولیکلی شو (۳) صرفی ویره اولږه ویره قوي عارض نه دی او سخته ویره قوي عارض دی یؤیده ما فی قاضیخان المعتدة اذا کانت فی منزل لیس معها احدوهی لاتخاف من اللصوص ولامن الجیران ولکنها تفزع من امر المیت ان لم یکن الخوف شدیدالیس لها ان تنتقل من ذلک الموضع لان قلیل الخوف یکون بمنزلة الوحشة وان کان الخوف شدید اکان لها ان تنتقل لانها لولم تنتقل یخاف علیها من ذهاب العقل ونحوه (ص ۲۷۲) (۴)، داعارض قوي معلومیږي (۵)، د ویرې غیر معتبر کیدل د دریم سوال په جواب کښې تیر شول (۲)، دلته عارض قوي نه دی (۷)، مباحات موهم لضرر العوام نه د بچ کیدو وجوب هغه وخت دی چه کله ضرورت شرعي یا طبعي معتبر دی مشرته نه وي پیښ شوی ګڼي دبل چادعدم تضرر دپاره دده تضرر نه شي برداشت کیدی وهذا ظاهر أجداً (۸)، دلته عارض قوي نه دی (۹)، عارض قوي دی او دبل کلي په تولو اجزاؤ کښې فرق د ورومبي سوال په جواب کښې بیان شول (۱۰)، د حضرت عمر رضی الله عنه د قصه نه هیڅ استدلال نه شي کیدی څکه چه خروج عن محل الطاعون نه دی شوی بلکه عدم الدخول فی محل الطاعون شویدی ددې په جواز بلکه وجوب لګیږي هم کلام دې حدیث شیخین لګیږي راځي فاذاسمعتم بارض فلاتقدموا علیه کذا فی المشکوٰة ومعنی الفرار الی القضاء انا لم نعتمد ذهابنا هذا علی سبب غیر قدرالله تعالیٰ بل نتوکل علی الله تعالیٰ ونمتثل فی الذهاب لامره فلیس هذا من الفرار من القضاء فی شیئ - البته حضرت عمروبن العاص په دې مسئله کښې دا رایه معلومیږي چه نهی عن الفرار من الطاعون معلل دی په علت د فساد د اعتقاد سره چه خروج طبعاً مؤثر فی النجات وګڼي لکه څنګه چه د ماشنسدانانو خیال دی او خوک نې چه صرف د اسباب عادیو نه ګڼي هغه دپاره جائز دی د ورومبي خودده اجتهاد دی کوم چه بل مجتهد باندې خوک چه په ظاهر د مرفوع حدیث تمسک کوي حجت نه دی بل دا چه اوس ډیر و تختیدونکو کښې ساننسدانانو سره د یوځای

کیدو وفساد داعتقاد یقین دی نودی کښی دهیڅ یو په نزد هم گنجائش نشته ځکه چه دیکښې مخالفت دی دشریعت کوم چه منافی دی دتاثیر طبعی لازم، ۱۱، ددی معنو تحقیق دوروستی سوال په جواب کښی تیر شول، ۱۲، شیخ عبدالحق ؒ محدث دمشکوة فارسی شرح کښی ددی حدیث دلاندی الفار من الطاعون کالفار من الزحف لیکلی دی ازین حدیث معلوم می شود که گریختن از طاعون گناه کبیره است چنانچه فرار از زحف است - او جائز کیدونکی که چرته حدیثونه رد کوی نو کفر دی او که دقوام شرعیو خلاف تاویل کوی نو بدعی دی او که چرته سره درعایت دقواعدو شرعیو نه دځه شی دوجه نه غلطی کوی. امید دی چه معذور دی ۱۳، شیخ عبدالحق ؒ ددی عبارت نه وروستو دی اعتقاد ته کفرونیلی دی خو تفصیل حق معلومیږی که چرته موثر حقیقی ئي گڼی نو کفر دی او که څوك ئي سبب عادی گڼی نو دنهی در اتلو دوجه نه گناه ده ۱۴، بره ددویم سوال په جواب کښی تیر شویدی چه ضرورت او عارض قوی دوجه نه خروج او دغه شان دخول هم جائز دی. ۱۵، سره ددی نه چه دمطلق مرضونو او مصیبتونو موجب درحمت کیدل حدیثو کښی راغلی دی بیا هم هغه دپاره دعا کول او پناه غوښتل قولاً او فعلاً حضرت اقدس ﷺ نه ثابت دی او په دیکښې راز دادی چه په حیثیت دمصیبت فی الحال کیدو دوجه نه دعا او دوائي اجازت دی او په حیثیت درحمت فی الحال کیدو دوجه نه صبر او رضا او دتسلیم امر دی فلا منافاة او چاچه منع کړیده هغه په غلطی کښی دی والله اعلم - ۲۹ محرم س ۱۳۲۲ هـ. ۱ **سوال**: د طاعون مرض نه کوم چه هندوستان کښی دنهو کالونه خورشویدی تختید ل ځنگه دی ځکه چه دی مسئله کښی دیر لوی اختلاف راغلي دی څوك دجواز او دعدم جواز د تختیدو قائل دی - څوك چه وایي تختید ل جائز دی هغوی خو دلیلونه پیش کوی وروستی داچه کله دعمواس طاعون واقع شو نو حضرت عمر ؓ حضرت ابوعبید د راوغوښتلو کوم چه د دمشق دلښکر امیر وو کوم چه دطاعون ډیر زور وو خو هر کله چه هغه رانغلو نو حضرت عمر ؓ ورته خط اولیگلو چه دا ځاي پریږدی او جابیه نومی مقام ته کوم چه ډیر اوچت دی لاړشی - دابو عبیده ؓ دوفات نه وروستو عمرو بن عاص ؓ دامیر المؤمنین دحکم تعمیل وکړو هکذا فی روضة الاحبار بس په صورت دعدم جواز کښی د دی حضراتو باره کښی څه خیال لرل پکار دی چه د دوی دا کار صحیح دی یا نه - دویم دا چه خلق دطاعون څرگندیدو په وخت کښی گیرچاپیره بیابانو ته ووځی او هلته تقسیم شی او هغه فنا دنیا رده نو گویا چه من وجه ښار دی نو کوم حدیث چه

په حرمت دتختید و کښی دعبدالرحمن بن عوف ؓ نه مروی دی او دهغه اخری جمله دا ده ((ولا تخرجوا منها فرارا یعنی دطاعون دځای نه مه تختئ)) دا فعل مخالف نه دی ځکه چه د طاعون دځا ی زمکې او تختیدونکې ځای یو دی نو بس دی ځای نه تختیدل نه دی شوی او بل دی وخت کښی علت دمخالفت په فرار کښی صرف یوه وجه ده یعنی عدم صبر او استقامت موجود دی - او که چرته هرڅه نشته لکه څنگه چه مولانا شاه عبدالعزیز ؒ رجز من السماء په تفسیر کښی فتح العزیز کښی فرمایې چه حرمت دفرار یوه دی وجه دی چه په صورت د فرار کښی علاج او تید بیر گران دی او دصحتمند و په تختیدو کښی د مریضانو د زیاتی تکلیف گما ن دی بس دا تکلیفونه زمونږ په زمانه کښی ډیر لږی دی ځکه چه باغونو او بیابان کښی علاج هم ممکن دی لکه څنگه چه اکثر کیږی او د دوی دزړه ماتیدو پوره خیال هم کولی شی - دریم چه په کور کښی اور ولگی یا دیوال راوغورزیږی هلته ودریدل دعقل نه خلاف دی - دولا تلقوا بایدیکم الی تهلکه نهی په امر سره اداکیدل راځی - نو په صورت دعدم جواز دفرار کښی ددې دلیلونو نه جواب دی عقلاً نقلاً عدم جواز ثابتول پکار دی ؟ ۲ **سوال**: په صورت دعدم جواز دتختیدو کښی چه کوم خلق تختیدل جائز گڼی او تختی عندالشرع داخلق څنگه دی؟ ۳ **سوال**: جابیه د دمشق څه محله ده یا بل ځای دی - که چرته یوه محله وی نو ایا دیوی محلی نه بلی محلی ته تختیدل جائز دی او که بل مقام وی نو دی صورت کښی خو فرار پوره ثابت دی - ددی څه جواب دی - کوم کسان چه دفرار دنا جائز کیدو دعوی کوی هغوی په خپلی دعوی داحدیثونه پیش کوی کوم چه ددی په ممانعت کښی په صحاحو کښی موندلی کیږی لکه الفار من الطاعون کالفار من الزحف، دی سره بهر حال دجائز کیدو او ناجائز کیدو باره کښی عندالشرع چه څه ثابت وی بالتفصیل والدلیل عقلاً او نقلاً بیانول پکار دی بینوا توجروا؟ ۱ **جواب**: احادیثو صحیحو کښی تنصیصاً دفرار عن الطاعون ممانعت راغلیدی او پیدی چه کوم شبهات شویدی دهغی جوابونه دادی قاعده کلیه ده چه د رسول الله ﷺ ارشاد که چرته دیوامتی دقول او فعل سره معارض وی نو د حضرت اقدس ﷺ ارشاد ته به ترجیح وی او دامتی په قول او فعل کښی که چرته هغه د مقبولینو نه وی نو تاویل به په کښی کولی شی - نو د حضرت عمر ؓ دا فعل که چرته هم معارض او منی خو حدیث مرفوع صحیح باندی نه شی مقدم کیدی ددوو وجونه وروستی سند ددی د صحاحو برابر نه دی دویم شارع او غیر شارع برابر نه دی بس خامخا به د حضرت عمر ؓ په قول

اوفعل کښې تاویل کول ضروري وي مثلاً ددې لښکر به بل ځاې ته دلیږلو ضرورت وي اودا
خبره خومنلې شوې ده چه دطاعون مقام نه بل څه ضروري کار دپاره سفر کول جائز دي - یاکه
چرته علت دا اوګڼلې شي چه دصحت مندو په تلو سره دمریضانو خرابي ده نودې صورت
کښې دې تول په تول لښکر سفر وکړي بیا خو داعلت نه شي موندلې کیدې په دې وجه به یې
دا اجازت ورکړې وي - په دې وجه بعض محققین قائل دي چه که چرته دیو کلي تول خلق بل
چرته لاړ شي نو هیڅ باك نشته یادهغوی په نزد به داهم معلل ګرځي په احتمال دفساد اعتقاد
دتختیدونکو - اودا علت هم نشته په دې وجه یې اجازت ورکړو بهر حال داامر به ددوی
اجتهادي ګڼلې شي کوم چه په نورو باندې حجت نه دې اوپه صورت دحجت ګرځیدو کښې
ددې زماني طبعتونو لره فائده مند هم نه دی ځکه به اوس خاص طاعون دوجه نه تختې
اودتول کلي خلق هم چرته ځي - اوفسا د داعتقا دهم که چرته خاص کښې نه وي بیاهم ددوی
دافعل موجب دفسا داعتقاد عامي دي په دې وجه ددوی دپاره هم منهي عنه للغير دي
داهرڅه هله دي چه کله تعارض ظاهري اومنې که چرته تعا رض نه وي نوبیا ددې
تکلفاتو ضرورت نشته په دې وجه قاموس کښې یې جابیه ددمشق یو کلي لیکلی دی
اوددمشق لوی ښار کیدل مشهوردی اودلوی ښار فنا بعض ځایونو کښې ماپه خپله کتلې دي
چه ګر چاپیره کلوپورې وي په دې وجه کان پورفوجي خلق جاجهپورې کوم چه مستقل
ابادي ده او دکانپور په ځومیله فاصله باندې پرته ده اکثره وختونو کښې دنشان دمشق دوجه
نه راځي نو که جابیه چرته په فناء دمشق کښې داخله کړې نو څه لرې ده (۲) دښار په فناء تلل
جائز دي لکه ځنګه چه نمبر (۱) کښې بیان شول - داچه کوم کښې لیکلی دي چه دې وخت
کښې دفرار دعلتونو نه یو علت دممانعت دی که چرته دا اومنې نوبیا خو دجواز احتمال هم
نشته بیاخو جواز کښې کوشش کول فضول دي ځکه چه ممانعت دپاره یو علت کافي دی لکه
ځنګه چه عالمانو ته پته ده (۳) داقیاس مع الفارق دې پریوتونکې دیوال یالګیدونکې
اورکښې عادةً هلاکیدل یقیني دي اودلته یقیني نه دي نو دیو قیاس په بل باندې صحیح نه
دې کښې قتال دکفارو یه هم تهلکه کښې داخل شوې اومنع به کړې شي اوطاعون لره زحف
سره تشبه ورکول په خپله حدیث کښې راغلیدې اومن وختر الجن هم راغلیدې : **دوويم**
سوال جواب : ناجائز جائز ګڼل ښکاره خبره ده په فساد داعتقاد دي اوددې فعلاً اختیارول

فساد دعمل دی **دوريم سوال جواب**: نه ددې جواب په رومبي سوال کښې تیرشویدې -
والله اعلم ۲۳ جمادی الاولی س۱۳۲۲ھ
سوال : دطاعون نه تختیدلو په نسبت زمونږ عالمان فرمایي چه طاعون نه تختیدل که مرګ
دویرې وي اوکه دمرض دویرې وي خوداسې دي لکه داسلامي لښکر نه تختیدل وي -
طاعون نه تختیدل دالله اورسول اکرم ﷺ نافرماني ده که داتختیدل یو سړي ګناه نه ګني
تودهغه ایمان کښې نقصان وي اوکه چرته داعقیده لري چه که اوتختیدم نو مرګ نه به بچ شم
کني مربه شم نو کافر کیږي - دې باره کښې ځرشکونه دي ددې جواب راکړی (۱) هرکله چه
داخبره منلې شویده چه علاج کول سنت دي اوهرسړي دعلاج کولو مجاز دی اوهرخاوند دعلم
پوهیږي چه فن دطب په دوومقصدونو مبني دي یو حفاظت دصحت بل واپس کول دصحت -
نوهرکله چه علاج مسنون اوعام وګرځید نوڅه وجه ده چه دصحت تدبیرونه کوم چه شامل
دي تدبیر دمکان اوآب وهوا صفايي ته اودښارنه منتقل کیدو وغیره ته داځنګه ګناه کبیره
یاکفر متصور کیږي (۲) داقتلاج قلب (دزړه درزیدل) مریض کوم چه ګرم مزاج دخرابي نه
جوړیږي دداسې سړي یخ ملك ته تلل - استشفاء مریض حجاز ته تلل دارنګه
دیخو مرضونو والو ګرم ملکونو ته تلل اوبالعکس دې ته تراوسه پورې ولې ګناه کبیره یاکفر
نه دی ونیلې شوی (۳) که چرته جنګ شروع شي اودخان دویرې ځوك هلته لاړ نشي یا هلته نه
جداشي یادمرګ دیرې سنګتیا (دزهروبوټي) اونه خوري یاسنګتیاخوړل هلا کونکې اونه
خوړل دامن باعث ګڼي نوتر اوسه پورې داسې سړي ولې کافر ونه ګڼلې شو اوطاعون غوندې
هلاکونکې مرض نه داخیال ولې کفر شو (۴) ددې حدیث شریف یعنې چه چرته وباوې هلته
مه ځی اوچه چرته راشي هلته نه مه تختي که چرته دامطلب واخلي یعنې چه چرته وباراشي
اوته پکښې مبتلا شوې نو په دې وجه هلته مځي اووبانه په تختید وباندې دبل ښار خلق په
هلاکت مه اچوي بلکې خپلې ابادي په وراني کناري باندې اوسی نوڅه عیب دی کیدیشي په
اعتبار دشریعت څه مرض متعدي یعنې یو مریض بل صحت مندلره بیمارنه کړي بلکه
دوروهغه زهریلا اجزادبل ځای هغه نه هوا په خپل بدوصفتونو سره یوځای کړي ددې په
منلو کښې څه بدي ده (۵) په داسې حال کښې چه طاعون اوخیته بهیدل دبچي دپیدائش
درد، اوبو کښې مړ کیدل یادډیوال اومکان لاندې راتلل اومړ کیدل - سوزیدل وغیره داټول
شهادتونه دي خودطاعون تخصیص ولې دې پریوتونکې دمکان یاماته شوې کشتۍ کښې

اوسیدل پکاردي – تکلیفونه تول په شوق د شهادت استعمالول پکاردي نور شهادتونه د نظر نه تیرول نه دي پکار (۲) داحدیث شریف چه طاعون دوجه مړکیدل شهادت دی . د دی نتیجه دا راوښتل چه د طاعون نه تختیدل شهادت او د اسلامي لښکر نه تختیدل دی څه ضروري دی – بلکه اکثر د کافرانو داقول بالعموم اوریدل شویدي چه وبا او پیریان او بلا ګانی دی او دغوی مړی هم دی د له کښی شامليږی او بخښلی نه شی زمونږ حضرت ﷺ د خپل امت د پاره د دی خیال نفی فرمایلې او ماجوړ یې فرما یې نه داچه طاعون حاصلولو ترغیب فرمایلې (۷) دا سی حال کښی چه هوښیار حکیم یوه حرامه دوایې ورکوی چه د دی نه علاوه بله دوایی فائده منده مرض بنه کونکې نشته نوشریعت اجازت ورکوی بس تول حکیمان دی تختیدل فائده منده بنایې نو د اکار کفر او ګناه کبیره ولي وګرځیده حالا نکه حرام شی خوړل او تختیدل دی فرق هر سړی پیژنی (۸) زمونږ حضرت ﷺ دعا کړیده چه زما د امت خلق په طاعون کښی مړشی داحدیث پوره په پوره نقل کړی (۹) دی صورت کښی چه طاعو ن نه تختیدل منع دی نو دغه آبادی دویرانی اجازت ولی ورکولی شی هر کله چه تختیدل منع دی نو پنځوس قدمه او پنځوس میله تول برابردی د دی ثبوت څه دی (۱۰) په صو رت د دی کښی چه نیکه لګول په طاعون کښی فائده منده ګڼلی شویدی مشروع ګڼلی شویدی نو تختیدل ولی ګناه کبیره او کفر وګڼلی شو حالانکه غرض یو دی – چونکه مخلوق بدن سره متعلق د ه په دی وجه امید دی چه خاص د مهربانی سره جواب راکړی اګر که قیمتی وخت خرچ شی ؟

جواب (۱) نفس معالجې اجازت سره دالازم نه راځی چه هر یو علاج دی جائز وی او دخه خاص علاج ممانعت سره دا لازم نه راځی چه مطلق علاج دی منع دی لکه څرنګه چه شراب او نورو حرامو څیزونو سره په تجربې باندی د بعض مرضونو علاج ثابت شوی او بیا هم ناجائزد ی د غه شان که تختیدل سره د علاج نه هم ناجایز شو نو څه لری ده (۲) چونکه دی مرضونو کښی د منتقل کیدو ممانعت نه دی راغلی او طاعو ن کښی راغلی ده په دی وجه دوارو کښی د جواز او ناجواز فرق راغي او که چرته دا شبه په صاحب شرع باندی وی نو دغه په دغه ضروري دی چه کله سوال کونکې غیر مسلم وی او دا جواب په دی بنیاد ورکړی شویدی چه شبه په عالمانو ده نو دی بنیاد باندی دا جواب کافی دی (۳) که چرته دا تدبیرونه موثر حقیقی ګڼی چه د دی تخلف محال دی لکه څنګه چه د دهریانو مذهب دی نو دا اعتقاد خو کفردی او فرار من الطاعون موجب سلامت ګڼل هم په دغه وخت کښی کفردی کله چه دی

لره موثر حقیقی وګڼی او که چرته اسباب عادیو نه یې ګڼی نو نه دلته کفر دی او نه هلته کفر دی البته طاعون کښی د ممانعت شرعی دوجه نه دا فرار ګناه شمیرلی شی او نور تدبیرونه د ماذون بنه کیدو دوجه نه به جائز شمیرلی شی (۴) که چرته صرف داحدیث وی نو فی نفسه د دی ګنجائش وو اګرچه په دی وجه چه د سلفو خلاف د خلفو اجتهاد جائز نه دی : انفی نه وی مقبول شوی خو صحیح مسلم کښی دا لفظ دی، عن اسامة قال قال رسول الله ﷺ ان هذا الطاعون رجز سلط علی من کان قبلکم او علی بنی اسرائیل فاذا کان بارض فلاتخرجوا منها فرارامنه الخ– دی حدیث کښی په خپله د رسول الله ﷺ د نفی نه معلومه شوه چه علت د نهی د فرار من الطاعون قصد دی بس که چرته یو سړی د بل کلی په کناره باندی ودریدو بیا هم فرار من الطاعون صا دق راغی او س دغه علت نه شی چلیدی کوم چه سوا ل کښی لیکلی شویدی چه بل ښار په هلا کت کښی مه اچوی (۵) ورمبی خو دی شبه کښی قیا س مع الفارق نه کار اخیستی شویدی کله چه مقیس د طاعون حادث د کوم هلا کت چه ظنی د ی یو خاص تدبیر نه کو ل دی او امور مقیس علیها کښی داسی آفتونه دی چه دهغی هلا کت یقینی دی دهغی تدبیر کول دی لکه غورزیدونکې کور یا ماته شوی کشتی کښی اوسیدل او بعضو کښی خپله دا فتونو احداث دی لکه د مضراتو قصداً استعمالول البته د دی دریم قسم مقیس علیه مشابه هغه صورت کیدیشی چه یو سړی د هغه څیزونو او اسبابو کوم چه محدث د طاعون ګرځی استعمال وکړی نو غایة مافی الباب هر کله چه د دی اضرار یقینی وی نو دهغی اجازت به نه شی ورکولی – دویم طاعون کښی د فرار نه نهی راغلیده او غورزیدونکې مکان کښی د اوسیدو نه نهی راغلیده بس دوارو خایونو کښی منهی عنه به منع کولی شی (۶) د دی نه چانتیجه راویستې ده د دی مضمون خو صریح حدیث راغلیدی فی المشکوة قبیل باب تمنی الموت عن جابر ان رسول الله ﷺ قال الفار من الطاعون کالفار من الزحف والصابر فیه له اجر شهید رواه احمد– مخکښی یې چه کوم لیکلی د ی هغه مبنی دی د دی حدیث په نه معلومیدو باندی په دی وجه قابل د توجه نه دی (۷) ورمبی خو دی کښی کلام دی چه شریعت د حرامی دوایې اجازت ورکړیدی – حدیث کښی خو صفا نهی راغلی ده – مخکښی امام ابو حنیفه رحمه الله مذهب هم منع دی صرف وروستو عالمانو اجازت ورکړیدی نو دی نه د شریعت اجازت ونیل په خپله واجب التسلیم نه دی – بل دا که چرته د دی عالمانو قول حجت شرعیه اومنی نو فقهاؤ په رسم المفتی او تفصیل د طبقات فقهاؤ کښی د دی خبری فیصله کړیده چه

زمونږ د زمانې خلقو ته د اجتهاد اجازت نشته نو دغوی په استنباط باندې خپل استنباط قیاس کول غلط دي (۸) د احدیث مانه دی لیدلی (۹) د بعض عالمانو په نزد خو داهم منع دی په دغوی شبه نشته بعض عالمانو چه البته اجازت ورکړیدی د دغوی دلیل تراوسه پورې مانه کوم معلوم شویدی هغه دا دی چه فناء مصریه حکم د مصر کښې ده په دلیل د احکام جمعه وغیرها او مصر بجمیع اجزاء شي واحد دی نو دی بنیاد باندې خو تبدیل د مکان ونه شو په دی وجه د افرار نه دی - د دی نه زیاته ما څه تصریح نه ده لیدلی (۱۰) که چرته د یو مرض دوه علاجه وي یو ماذون فیه وي او بل منهی عنه نو دی کښې څه محال دی او داخه ضروري دي چه که چرته یو ماذون فیه وي او بل هم ماذون فیه وي او که چرته یو منهی عنه وي بل به هم منهی عنه وي د دی مثال دورمبي سوال په جواب کښې تیر شوی آخر کښې دومره درخواست دی چه مسائل شرعیه معلومولو کښې د معاندانه عنوان نه ځان بچ کول واجب دي - د دی سوالونو کښې د دی لحاظ نه دی شوی . والله اعلم - [۱۱ جمادی الاخری س۱۳۲۲ھ]

سوال :(۳۸۷) دارد ورساله کښې مې څو حدیثونه نقل شوی او لیدل د هغه سندونو او متنو نو باره کښې چه کوم شبهات واقع شول د زړه مطمئین کولو د پاره د هغه معلومات کول نیه معلوم شول ورومبی حدیث دا دی چه مسند احمد بن حنبل ؒ کښې د حضرت ابوهریره بن قیس ؓ نه کوم چه د حضرت ابوموسی اشعری ؓ وروردی روایت کوی - چه حضرت سردار عالم ﷺ اوفرمایل چه یاالله زما د امت خاتمه په خپله لاره کښې طاعون سره وکړې دریم حدیث دادی کوم چه منتخب کنزالعمال کښې دی . حضرت معاذ ؓ فرمایي چه طاعون مونږ خلقو د پاره رحمت او ستاسو د پیغمبر ﷺ دعاده او مرګ د نیکانو دی کوم چه ستاسونه مخکښې تیر شویدی - او د اشهادت دی . دریم حدیث دادی د غه مسند کښې حضرت ﷺ فرمائلی دی چه وباد طاعون عذاب دی چه الله په دی سره مخکښې امتونه هلاک کړیدی او تحقیق موجود دی داپه زمکه کښې چه راځي کله کله او بیا ځي کله کله - پس هر کله چه داپه یو مقام باندې نازل شی نو هلته نه مه وځی او هر کله چه واورې چه داپه یو مقام باندې نازل شویده نو هلته مه ځی - څلورم حدیث دادی بخاری شریف کښې راځی چه حضرت عایشه صدیقه ؓ د حضرت ﷺ نه د طاعون د کیفیت تپوس اوکړو وی فرمایل چه دا طاعون عذاب وو چه نازلولو به الله ﷻ چه چا باندې به یې وغوښتل او اوس الله ﷻ د مؤمنانو د پاره رحمت جوړ کړیدی څوک چه دیکښې مبتلی شی هغه دی صبر وکړي او په خپل ځای دی ثابت قدم اوسی یعنې تختی دی نه او یقین لري په دی خبره چه نه به رسی ده ته هیڅ شي مګر کوم چه الله ﷻ ده د پاره لیکلی وی - ده د پاره د شهیدانو ثواب لیکې - پنځم حدیث دادی د غه مسند کښې د ابوموسی ؓ نه روایت دی چه حضرت ﷺ فرمایلی چه زما د امت خاتمه به په طعن او طاعون سره کیږي عرض وکړې شو چه طعن خو معلوم دی خو طاعون نه دی معلوم چه څه شی دی وی فرمایل چه د پیریانو نه کوم چه ستاسو دښمنان دی او تاسو سره دښمنی ساتي د هغوی نیزه ده او طعن او طاعون دواړو کښې شهادت ملاویږي ؟

د دی برنو احادیثو په باره کې سوالات

واحدیثونه د سند په اعتبار سره صحیح دی یانه (۲) ورومبی او دویم حدیث معلومیږي چه حضرت ﷺ د خپل امت د پاره د طاعون دعا کړیده حضرت ﷺ خو رحمة اللعلمین وو او مؤمنانو باندې روف رحیم وو . څو خاصو کافرانو نه علاوه خو حضرت ﷺ هیڅ یو کافر ته هم خیره نه ده کړې بلکه د رحمت دعاګانې ورته کړیدی او بیا په خپله به یې د الله رب العزت نه د دنیا او آخرت عافیت غوختو او امت ته یې هم دا خود له چه ځان د پاره د دنیا او آخرت عافیت غواړي لکه څنګه چه د صحاح په بعضو روایتونو کښې د عافیت غوختلو دعاګانې موجود دی - او د حضرت ﷺ حالت دا وو چه کله به یې ډیره تیزه سیلي ولیده نو رنګ مبارك به یې بدل شو . دی حالت باندې یې د طاعون بد دعا څنګه فرمایله - (۳) دویم حدیث کښې چه دادی چه مرګ د نیکانو دی کوم چه ستاسو نه مخکښې تیر شویدی د الفاظ د دریم حدیث د دی الفاظو خلاف دی چه وباد طاعون عذاب دی چه الله ﷻ په دی سره مخکښې امتونه هلاك کړیدی - د زمانې رسالت ﷺ او زمانې د صحابه نه ؓ مخکښې کوم صحابه تیر شوی دی چه د هغوی مرګ په طاعون سره شوی دی البته د حضرت موسی ؑ په زمانه کښې د بعضو فسقانو ظالمانو بنی اسرائیلو مرګ په طاعون سره شویدی دا خود هغوی د فسق په وجه شویدی نه چه د هغوی د دینداری په سبب - ځکه چه د انزلنا علی الذین ظلموا رجزا من السماء بما کانوا یفسقون په تفسیر کښې یې لیکلی دی- (۴) زما عقیده دا ده چه طاعون ته چه په بعضو حدیثونو کښې رحمت وئیلی شوی دی هغه په اعتبار د اجر اخروی دی نه په اعتبار د صورت دینوی که چرته دا په اعتبار د صورت دینوی رحمت وی نو بیا به د دی الفاظو هیڅ معنی نه وی کوم چه څلورم حدیث کښې ذکر شوی دی چه کوم بنده دیکې مبتلا شی هغه دی صبر کوی څکه چه رحمت باندې خو صبر نه کیږي بلکه مصیبت باندې

صبر کولی شی - دېنه علاوه په طاعون کښې دمکان دبدلولو اجازت شته رحمت پریښودل مکان بدلول دیو عقل مندکار نه وو بیا منع دی چه چرته طاعون وی هلته مه ځی رحمت نه دتلو ممانعت دعقل اونقل نه خلاف دی غرض -کومې وجه سره چه کتی شی طاعون صورت دنیوی په اعتبار سره رحمت نه دی بلکه اجراخروی په اعتبار سره به انشاء الله زی زما داعقیده دستو خلاف خونه ده (۵) د دریم حدیث د دی الفاظو نه او تحقیق موجود دی دا په زمکه کښې راځي کله کله اوځي کله کله معلومیږي چه طاعون دزمکه نه راځی خو ددغه حدیث د دی الفاظو نه اوهر کله چه یو مقام باندی نازل شی معلومیږ چه داد زمکې نه دی بلکه په زمکه باندی نازلیږی او د قران مجید دالفاظو انزلنا او رجزامن السماء نه صفا معلومیږی چه د زمکې نه نه راځی بلکه آسمان نه نازلیږی په زمکه کښې د موجودیدو او اسمان نه نازلیدو کښې د زمکه آسمان فرق دی (۲) دطب په کتابونو کښې چه طاعون کوم حقیقت اوماهیت لیکلی شویدی هغه خوبل څه رنګ داودلته په پنځم حدیث کښې څه بل رنګ ثابتیږی - حدیث مخکښې خود طبیبانو قول مردود دی خود امعلوم مول ضروری دی چه داحدیث صحیح دی طاعون ته یې دپیرانونیزی وئیلی دی اود نیزی وهلو سبب یې دشمنی اوعداوت خودلی دی نو پیرانو سره خودشمنی اوعداوت همشه نه ووا وانسانانو باندی د نیزی وهلو قدرت هم هغوی ته هر وخت حاصل دی ځکه چه هغوی انسانان وینی او انسانان دوی او د دوی نیزه نه وینی بیا خو خاص خاص وختونو کښې اوخاص خاص خا یونو کښې د طاعون نه څرګندیدو څه وجه ده چرته نه چرته بل هر ځاي هروخت طاعون موجودیدل پکار دی حالانکه داسی نه ده زما عقیده خو داده چه دا الله ﷻ د طرف نه عذاب دی په شکل د مرض د طاعون اونازلیږی په وجه د فسق اوفجور اودا عام دی مومنانو متقیانو هم په خپل غیږ کښې راګیره وی دی دپاره چه د دوی مرتبه په آخرت کښې نورهم اوچتې کړیشی د پیرانو د دشمنی او نیزه وهلو حال که د صحیح حدیث نه معلوم شی نو د دی خبری یقین او عقیده لرل ضروری ده که پوه کښې راځی اوکه نه راځی دو مره لیکونه وروستو دعلاج القحط دیر عبارتونه د دی رسالی دعبارتونو نه خلاف معلوم شول دوه خبری دنمونې په طور عرض کوم (۱) د دی رسالی د ورمبی او دویم حدیث نه معلومیږی چه طاعون د پاره حضرت ﷺ دعا کړیده او دعلاج القحط نه معلومیږی چه د طاعون یې پناه غوختی ده لکه څنګه چه د علاج القحط د دی عبارت نه معلومیږی . ابن ماجه کښې د

حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دی چه لس کسان د مهاجرینو نه د حضرت ﷺ په مجلس کښې حاضر وو په هغوی کښې یو زه هم وم حضرت ﷺ او فرمائیل چه ای مهاجرینو پنځه خبری دی او زه یې تا سو د پاره پناه د الله ﷻ نه غواړم چه تاسو دیکښې ونه غورزیږی (۱) نه ښکاره کیږی د بې حیایې خبری یو قوم کښې چه ښکاره بهره یې شروع کړی مګر مبتلا به شی په طاعون کښې او داسی بیمارو کښې چه دوی پلارانو نیکیانو کښې به هیڅری هم داسی نه وی راغلی علاج القحط ص۲،۵ کرخه ۱۷ (۲) د دی رسالی په څلورم حدیث کښې دا لفظ دی دا عذاب وو چه نازلولو به الله ﷻ په چا باندی به یې وغوښتلو او څلورم حدیث نه علاوه یو ځای د الفظ دی نورامتونو د پاره دا عذاب وو او د ی امت د پاره رحمت او شهادت دی - د وو لفظ نه صفا معلومیږی چه اوس دی زمانه کښې کوم چه څلور وارو طرفونو نه طاعون خور شویدی دا عذاب نه دی د علاج القحط دا عبارت د ی عایشه صدیقه رضی الله عنها فرمایې چه ما د رسول الله ﷺ نه د طاعون باره تپوس وکړو -حضرت ﷺ وفرمائیل چه دا یو عذاب دی چه چا باندی الله ﷻ ته منظوره وی لیږی یې ،، د لیږی یې نقط نه صفا معلومیږی چه اوس د ی زمانه کښې چه کوم طاعون خوریږی دا عذاب دی پاتی شو د دی مومنانو د پاره رحمت کیدل نو هغه په اعتبار د اجراخروی رومبی زمانه کښې هم وو اوس هم دی -د وارو کښې د فرق وجه زما پوهې ته نه راځی ؟

(الجوابات) (۱) رومبی خوسند او کنزالعمال یادی منتخب ما سره نشته په دی وجه د دی حدیثونو د صحت تحقیق نشم کولی - علی تقدیر الثبوت جواب به ولیکم البته دبخاری چه کوم حدیث د یکښې موجود دی هغه صحیح دی (۲) یو شی کښې مختلف عبارات او حیثیات کیدی شی - که چرته د رحمت کید و حیثیت د عاوی نو څه باقی دي پکښې - او د ی حیثیت سره د عافیت هم منافي نه دی لکه څنګه چه حدیثونو کښې تمنا د شهادت هم شته او سوال د عافیت هم - تیزی سیلی باندی د دی قیاس مع الفارق دی ځکه چه د دی رحمت کیدل چرته هم نه راغلی (۳) که چرته مخکښینو کښې اشرار و د پاره عذاب او نیکانو د پاره رحمت اووئیلی شی نو د وارو حدیثونو کښې تعارض نه راځی او نیکانو په مخکښې امتونو کښې هم د یر تیر شویدی اګر که په هغوی کښې د طاعون واقعه مونږ ته بالتعیین معلوم نه وی (۴) صحیح عقیده د ه خو تعبیر د پاره دا عنوان زیات واضح دی چه رحمت او مصیبت په اعتبار د صورت ظاهری دی (۵) که چرته د وارو طریقو سره وی یا

اسباب سماویه او اسباب ارضیه د وا رو ته څه نه څه دخل وی نو څه لری ده (۲) که چرته د وارو طریقو سره وي یا مجموعي ته دخل وي طبیبا نو ظاهري اسباب بیان کړیدي اورشارع ﷺ باطني سبب - یادي اسبابو کښي په خپله یو بل دپاره سبب وی - تول احتمالات ممکن دی اودفع تعارض دپاره کافي دی مثلاً دچا متاپي خوړلو سره صفراکښي تیزي راځي اودی سره تبه شوه نو دواړه سبب دتبي ګرځولی شی - لکه ددی زمانی حکیمانو دطاعون د اثراتو سبب چینجي خوړلي دي او پخوانو حکیمانو ماده خوړلي ده او دواړو کښي څه تدافع او تعارض نشته - دپیریانو په دشمني یې چه کومه شبه کړیده دهغی دامقدمه په هروخت دنیزی وهلو قدرت ورته حاصل دی مسلم نه ده - یعني نه شی مثلی کیدی - کیدی شی دالله رب العزت مانع ګرځي د دوی همیشه قدرت - او کله کله دامتحان دپاره داحفاظت اوچتوی اوددی دپاره دفسق اوفجور سبب کیدل ددی منافي نه دی کیدی شی دسزا دغه طریقه وی

اوس هغه شبهات چه متعلق وی علاج القحط سره جواب واوری

هرکله چه دمعصیت په سزاکښي عقوبت دی ددی دترتب په مرتبه کښي پناه غوختل کوم چه په حقیقت کښي دمعصیت نه پناه غوختل دی او بلا ترتب علی المعصیت رحمت دی - دی درجه کښي دعا او غواړي نو هیڅ تعارض نشته ځکه چه دخلقو حالات په معصیت اوطاعت کښي په خپله مختلف دی نو یو ځای کښي عقوبت دی او بل ځای کښي رحمت دی (۲) دکوم حدیث په ترجمه کښي چه نقطه د الیږی یې ، راغلی دی داحدیث مشکوة شریف کښي په دی الفاظو دی ، انه عذاب یبعثه الله الخ - که چرته اشرار ودپاره مخکښي هم عذاب وو او اوس هم دی دواړه صحیح شول - پاتی شوه داخبره چه بیا خودواړو امتونو کښي فرق ونه شو حالانکه ظاهراً لفظ دحدیث نه فرق دمقصود معلومیږی نو هغه فرق داکیدی شی چه ابتداء ددی دمخکښینو امتونو نه په طور دعذاب شوی وه په صحیح مسلم کښي مرفوعاً دا حدیث دی الطاعون رجز ارسل علی بنی اسرائیل الخ - په دی وجه دعذاب حیثیت یې بعضو حدیثونو کښي صرف دهغوی سره نسبت راتلو دوجه نه خاص اوونیلو سره ددی نه چه دواړه امتونه رحمت اوعذاب کیدو کښي شریك دی - ځکه چه ابتداء عرفاً محاورة لوی اسباب تخصیص ذکر سره دی یاداسی اووایه چه مخکښینو امتونو کښي حیثیت دعذاب غالب وواو حیثیت د رحمت مغلوب اودی امت کښي دهغی په عکس وعلاکثر حکم الکل - په دی وجه هلته دعذاب اودلته

رحمت تخصیص ذکر یې بعضو حدیثونو کښي کړیدی - او بعضو کښي ئي بل حیثیت سره هم دواړو امتونودپاره تصریح وکړه - والله اعلم [۱۵ جمادی الاخری س ۱۳۲۲ھ]

سوال :(۳۸۸) زید وایې چه کله طاعون کښي منږ کان وغیره خراب شی نو کوم دلان یاکوټه کښي چه خراب شی هغه پریږدی بلی ته لاړشی او بیاچه کله هغی ته هم بوی راشی دادویم کوټه هم پریږدی اوصحن وغیره کښي اوسی غرض چه هرځومره هم تاراتاوشی خوکورکښي دننه اوسی یازیات نه زیات دکور په دروازه کمره وغیره کښي اوسی ددغی محلی یادبلی محلی په کورکښي به خپل کورنه نه پریږدی کنی بیا فرارکښي داخلیږی اوددی وجه دانبایې چه آخرکور پریخود وڅه وجه ده دمرګ نه بچ کیدودپاره کور پریږدی چا نه چه مرګ نه وی راغلی هغه نه شی مړ کیدی که کورپریږدی اوکه پری نږدی - اوځان بچ کولودپاره کور پریخودل خوفراردی کنه - که دویری دفع کولودپاره پریږ دی نو ویرد څه نه - دڅه نه ویره دمرګ نه خوویره تشی کیدی - دمرګ نه مخکښي خوهیڅوك نه شی مړ کیدی اودغه عقیده ده تو بیاویره ولی ؟ کوم خلق چه طاعون دځای نه بهر دکلی باغونو یاپټو یاعیدګاه یانورو ځایونو کښي اوسیږی یاکلی کښي دننه د یوی محلی نه بلی محلی کښي یا دغی محلی کښي دننه دیو کورنه بل کور کښي اوسی زیددوی داسی ګڼی لکه دجهاد دصف نه چه اوتختی اومرتکب دګناه کبیری یې ګڼی اوپه عام مجمع کښي ملامت کوی - اودیر په زور شورسره بیان کوی چه نه کلی کښي دننه تختیدل صحیح دی نه دکلی متعلق باغونو یاپټو اوعیدګاه کښي اوسیدل صحیح دی یابل څه ځای کښي دکلی نه بهر اودکلی نه خلاف بل کلی کښي ځکه چه دطاعون نه تختیدو حدیث شریف کښي سخت ممانعت راغلی دی اودکلی اودغیرکلی قید په حدیث کښي دی نو څه رنګه چه بل کلی ته دځان بچ کولودپاره تختیدل صحیح نه دی دغه شان کلی کښي دننه اودکلی په متعلقاتو کښي هم جائزنه دی - ددی وجه داده چه هرکله طاعون نه وونو هیڅوك هم نه وو تختیدلی تول په خپلو کورونو کښي وو - هرکله چه طاعون نه راغی خلق وتختیدل نو خامخا دطاعون نه وتختید ل او ځان بچ کولودپاره وتختید ل اوخا مخاپدی خیال وتختیدل چه که چرته کلی کښي اوسو نومره به شو او چه وتختونو بچ به شو اوکه چرته الله رب العزت یې ددی اختیارمند ګڼلی نو خپل خپل کور پریخودل اودکلی نه بهر وتل به یې چرته هم نه وو براشت کړی - دتختیدونکو دظاهری حالت نه داصفا معلومیږی چه دوی داتختیدل دژوند

مدد گار کښې - هرکله چه دخلقو داحالت دی نوکلی کښې دننه اوکلی نه بهر یا ددی متعلقاتو کښې تختیدل څرنګه جائز شول - بلکه دافرار کښې داخلیږی نوکومو خلقو چه حدیث مطلق په کلی کښې دننه یا دمتعلقاتو قیدونه لګولو سره مقید کړی دی دایې په فلانکې فلانکې حالتونو باندې محمول کړیدی داټول غلط دی اوحدیث اصلاح کول دی کوم چه دهیڅ مسلمان په نزدهم نشی جائز کیدی - کوم خلق چه داقیدونه لګوی چه موثر حقیقی الله ﷻ ګڼی نو تلل صحیح دی یل دویری دفع کولو دپاره یاعلاج دپاره یاتجارت دپاره یا بل څه ضرورت دوجه نه لاړشی نوصحیح دی داټول قیدونه غلط دی اوځان نه جوړ کړی شویدی - که چرته داسی هرسړی ووایې نوبیا خوبه داتختیدل جائز شی اودیوپه تختیدلو اوتللو سره به دبل هم بهانه جوړه شی اوبه تختی اوضرراونقصان به متعدی شی پس هیڅ یوصورت هم داسی نه دی چه هغه سره ګناه نه متعدی کیږی یاکم نه کم ګناه لازم نه راځی - په دی وجه دی وخت کښې بلکه هرزمانه کښې مطلقاً دکلی نه وتل بلکه کور پریخودلو منع کول ضروری دی اوس داتپوس کوو چه دزید داعقیده اوعمل کوم چه بره لیکلی شوی موافق دشریعت دی یانه - اوزید څنګه ګڼل پکاردی او دده داخیره منل دی پکاریانه ؟

جواب : احکام شرعیه بعض معلل دی اوداعلت مجتهدین په خپل ذوق اجتهادسره پیژنی اوداجتهادهغه رایه نه ده په کوم چه مذمت راغلی دی څکه چه داجتهاد استعمال بلا نکیر دصحابو ﷺ نه ثابت دی اوهغه علت کله کله مصراًمانقل شوی وی او کله کله اشاره معلومیږی دی تمهید نه وروستو پوهید پکاردی چه راحت المخزون کښې دکنزالعمال نه داحدیث نقل شویدی . فکتب الیه (ابی عبیدة) عمر ﷺ ان الاردن الارض وبئة عمقة وان الجابية ارض نزهة فاذهب بالمهاجر اليهاهـ - سره ددی نه چه حضرت عمر ﷺ دحدیث مرفوع نهی عن الفرارباندی خبر وودی نه معلومه شوه چه علت دنهی هغوی دمریضانو اومصیبت زدووضائع کیدل ګڼلی وو دی بنیاد باندی چونکه دټولو په منتقل کیدو کښې داضائع کیدل نه وو په دی وجه حضرت عمر ﷺ اجازت ورکړو اوحضرت عمر ﷺ مجتهید دی په دی وجه داعلت معتبردی چونکه نقل عن المکان یاخروج الی الفناء کښې داعلت نشته په دی وجه نفی نه ده شوی - بل حدیث کښې بارض اوبلدة الفاظ راغلی دی اوپو حدیث دبل حدیث مفسر ګرځی - معلومه شوه چه بارض نه مراداوچتوالی دی اوفناء بلد په احکامو کښې په شان دبلددی نوقرار فی البلدته فراروتیل دحدیث په مقابله کښې خپله رایه لګول دی دی تقریرسره دټولو شبهاتو جواب وشو [۱۲شعبان س۱۳۲۲ھ]

سوال :(۳۸۹) نقل مکان کښې ماته شبه ده که چرته نقل بلدسره نه وی څکه چه حکم خوعام اومطلق دی کوم چه شامل دی ټولوافرادو دخروج اودخول لره . نومخصص کوم یوحکم دی کوم چه نقل مکان فردلره خاص دی اوکوم علت چه نقل بلد کښې محقق دی هغه په نقل مکان کښې هم - زړه پخونکې جواب سره مهربانی وکړی ؟

جواب : فی المشکوة عن البخاری عن عائشة ﷺ قال رسول الله ﷺ لیس من احدیقع الطاعون فیمکث فی بلدة الخ وفیها عن الشیخین عن اسامة قال رسول الله ﷺ اذوقع بارض وانتم بهافلاتخرجوافراراً منه ، چونکه طبقاً اوعرفاً اوشرعاًلازم دی چه ترغیب په هغه امر باندی راځی دکوم په پریخودوکښې چه ترهیب (ویره) وی - او ترغیب کښې دمکث فی البلدعنوان دی دی نه معلومه شوه چه ددغه مکث فی البلدپه پریخودوبه ترهیب وی پس داقرینه ده چه دارض تفسیر بلددی او بل احکام شرعیه فقهیه کښې ټول بلد ومایلحق به یې په حکم دموضع واحد کښې ګرځولی دی لکه اقامت جمعه کښې فناء مصر په حکم دمصر کښې دی په وجه دټولو مکانونو دبلدواحدحکم به په مکان واحد کښې شمیرلی شی داکلام خو لفرسره متعلق وو پاتی شو علت نوهغه دمحقیقینوپه نزدضائع کیدل دحقوقو دمریضانو اودمړودی اونقل مکان فی البلد الواحدکښې داعلت نشته پدې وجه معلول یعنې نهي هم نشته - والله اعلم[۱۰ذی الحجه ۱۳۲۲ھ]

سوال :(۳۹۰) دطاعون مقام نه دطاعون دویري تختیدل څنګه دي کوم مسلمان چه دطاعون نه اوتختي اوبل ځاي ته لاړشي اوبیاهلته هم دطاعون نه بچ نه شي اوطاعون کښې مبتلا شي اومړشي نودده شمیر به په شهیدانو کښې کیږي یانه ؟

جواب : داتختیدل حرام دي اوقاعده ده چه کوم سړي دمعصیت په وجه مړشي هغه شهید دي اوکوم سړي چه معصیت کښې په څه سبب دشهادت سره په دوجه شهید دي فی ردالمحتار قبیل باب الصلوة فی الکعبة من غرق فی قطع الطریق فهوشهیدوعلیه اثم معصیة وکل من مات بسبب معصیة فلیس بشهیدوان مات فی معصیة بسبب من اسباب الشهادة فله اجرشهادته وعلیه اثم معصیة وکذلك لوقاتل علی فرس مغصوب اوکان قوم فی معصیة فوقع علیهم البیت فلهم الشهادة وعلیهم اثم المعصیة اهـ[۲شعبان س۱۳۲۲ھ]

سوال :(۳۹۱) دطاعون مقام نه چه دطاعون دویري اوتختي اوګیرچاپیره یعني آبادي نه څه یومیل فاصله کښي لري لاړشي چرته چه ضروریات پوره کیږي -نوآیا دافرارعن الطاعون داخلیږ ي دکوم ممانعت او حرمت چه په حدیث دعبدالرحمن ﷺ کښي په بخاري جلدرابع باب مایذکر في الطاعون کښي ثابت دي که چرته فرارعن الطاعون کښي داخلیږي نو ولي -حالانکه مسافرچه دعمارتونونه اوځي نو په هغه کښي څلورر کعتیز لمونځ کي فوراً قصر واجبیږي څنګه چه دفقه دکتابونونه ثابت دي چه دښار اطلاق صرف په عمارتونو باندي کیږي نه په فناء عمارت باندي ؟

جواب : فناء مصریه حکم دمصر کښي ده په باب دمصالح بلد کښي اوسکنیٰ مصالحو دبلدنه ده په شان داقامت جمعی - په دي وجه فناء دښار کښي اوسیدل په شان دښار کښي داوسیدودي په خلاف دسفر - که هغه دمصالحو دبلد نه نه دي بلکه مقابل دي دمصلحت دبلد یعني دسکني - دي باره کښي فناء په حکم دبلد کښي نه ده اوهم ددغه فنانه قصر شروع کیږي - في الشامیة عن الشرنبلالی بخلاف الجمعة فتصح اقامتها في الفناء ولومنفصلا بمزارع لاالجمعة من مصالح البلد بخلاف السفر، والله اعلم (۲صفر س۱۳۲۵ھ)

سوال :(۳۹۲) دوبادفع کولودپاره بانګ وئیل جائزدي یانه کوم خلق چه دجواز په استدلادحصن حصین اذاتغلیت الغلان نادابإذان پیش کوي دا استدلاددوي صحیح دي یانه اوددي حدیث څه مطلب دي اودغه شان داچه حدیث راغلي دي چه شیطان دبانګ نه دومره لري تختي لکه مقام روحا - دشیطانانو داثرنه دي ددي څه مطلب دي ؟

جواب : دیکښي دوه حدیثونه مشهوردي یودحصن حصین مرفوع داذاتغلیت الغلان نادای باذان - دویم دصحیح مسلم موقوف د حضرت سهیل ﷺ نه قال ارسلني ابي الی بني حارثة قال ومعي غلام لنااوصاحب لنافناداه منادمن الحائط باسمه قال فاشرف الذی معي علی الحائط فلم یرشیئا الی قوله اذاسمعت صوتا فنادبالصلوة فاني سمعت رسول الله ﷺ اذانودی للصلوة ولی الشیطان وله حصاص، په حصن حصین کښي چه دمسلم کومه حواله ورکړیده هغه داحدیث دي اودواړه حدیثونه مقیددي اذاتغلیت اواذاسمعت صوتا سره اودتغول معني حرزثمین کښ ي دقایه نقل شویدي یتغول تغولاً اي یتلون تلونا - اوحاصل ددي حدیث ئي لیکلي دي اذا رای اشیاء منکرة اوتخلیت له خیالات مستنکرة اوتلونت له اجسام مکروهة اھ ، اوکوم حکم چه مقیدشو یدي په یوقید سره په هغي کښي دمفهوم مخالف دقائلینونه په نزد عدم القید

مقیدوي عدم الحکم لره - اودغیرقائلین بالمفهوم په نزداګرچه عدم الحکم ته مفید نه دی خوحکم ته هم مفیدنه دی بلکه عدم په صورت کښی حکم په خپل وجودکښی محتاج ددلیل مستقل وی اودابنکاره ده چه په طاعون کښی دواړه قیده منتفی دی ځکه په دی کښی نه دشیطانانوتشکل او تمثل شته اونه دهغوی آوازاوریدلی کیږی صرف یو اثر باطنی دی دکوم باره کښی چه داحدیث مرفوع راغلی دی فنا الطاعون قال رسول الله ﷺ وخزاعداء کم من الجن اخرجه احمدعن ابي موسی ﷺ لخداق بعض الرسائل عن فتح الباری للحافظ ابن حجر، بس هر کله چه دیکښی قیدونه منتفی کیږی نو دغه ذکر شوی حدیثونو نه دیکښی حکم دبانګ هم نه ثابتیږی - بس بل دلیل شرعی ته حاجت وی اوچونکه بانګ په حی علی الصلوة اوحی علی الفلاح باندی مشتمل دی په دی غیر دمانځه دپاره بانګ وئیلو حکم غیرقیاسی دی اوداسی حکم تعدیه قیاس سره صحیح نه ده په دی وجه هغه دلیل شرعی څه نص کیدل پکاردی صرف قیاس کافی نه دی اوطاعون کښی څه نص موجود نه دی - که چرته دا اووایي چه حدیث دمسلم کښی دصحابی سماع دشیطان دآواز په وخت کښی حکم بالاذان معلل کول علت کول شیطان بالاذان سره منتفی ده دصحت تعدي دی حکم لره په بل محل باندی هم کوم چه دشیطان ددفع کولو حاجت دی اوطاعون کښی ددی حاجت شته - نودغه علت سره به طاعون هم آواز اورید و باندی قیاس کولی شی جواب دادی چه وروسته خوپه دغه ذکرشوی دلیل یعنی چه بانګ په حی علی الصلوة اوحی علی الفلاح باندی مشتمل دی په دی وجه غیر دمانځه دپاره بانګ وئیل دا حکم مخالف دی دقیاس - اوداسی حکم تعدیه قیاس سره نه جائز کیږی بلکه موردد نص سره خاص وی دغه وجه ده چه غیر دمانځه نه چه کوم ځایونو کښی بانګ راغلی دی په هغه کښی دحدیثونونه استدلال کړی شویدی ردالمحتار کښی داسی ځایونه نقل کړیدی اوبیاوائي - لان ماصح الخبر فیه بلامعارض فهو مذهب المجتهد - اومخکښی وائي ونقل الاحادیث الواردة فی ذالك اودغه وجه ده چه کوم کښی لفرنه وو هغه عالمانورد کړیده - په دی وجه شامی په دغه ځاي وایي قیل وعندانزال المیت القبرقیاسأعلی اول خروج للدنیالکن رواه ابن حجرفی شرح للباب ، اودی برنو حدیثونو کښی کیدیشی چه صحابی دحضرت ﷺ نه بالخصوص داحکم اوریدلی وی کله غیر مدرك بالرائ کښی حدیث موقوف ته مرفوع حکمی وئیلی شي - اوحدیث قولی ذکرکول تعلیل دپاره نه وی بلکه بیان حکمت منصوص دپاره وی اوکه چرته ددی نه سترګی

پتې کړي او دا حکم قیاس او مثې بیا هم دقیاس صحت دپاره وړومبې خو مجتهد کیدل دقیاس کونکي شرط دي او طاعون کښې بانګ ونیل دهیڅ مجتهد نه هم نه دي نقل شوي - او اوس خو قیاس هم نشته بل دقیاس صحت دپاره اشتراك دعلت موثرېه مېنځ دمقیس او مقیس علیه کښې شرط دي او دلته علت موثره که چرته صرف الی دفع الشیطان وي نو لازم راځي چه څو مره امور دهغه پټو تصرفاتو شیطانیه دقسم نه دي ټولو دپاره دي بانګ مشروع شي - که داستحاضې په نسبت حدیث کښې راځي (رکضة من رکضات الشیطان) نو ددې علاج هم بانګ سره مشروع کیدل پکار دي ولاقائیل به - دینه معلومه شوه چه دلته علت موثر کښې څه بل صفت هم معتبر دي نو ممکن بلکه غالبه داده څنګه چه په هغه ځایونو کښې سوچ کولو چرته چه بانګ دمانځه راغلی دي معلومیږي چه هغه وصف دادي چه هغه حادثه ناڅاپي راشي او فوراً دهغې علاج ته حاجت وي - په دې وجه هغه ځایونه دادي - عند مزوحم الجیش وعند الحریق وعند تغول الغیلان وخلف المسافر ولمن ضل الطریق فی ارض قفر کذافی رد المحتار - دې ټولو ځایونو کښې دغه ذکر شوی وصف مشترك دي او کوم بانګ چه په هیئت دبانګ دمانځه نه وي په هغه کښې بحث نشته - کالاذان فی اذن المولود والمهموم والمصروع والغضبان ومن شاء خلقه من انسان او بهیمة کمافی رد المحتار ایضاً او ښکاره خبره ده چه په طاعون کښې داوصف نه وقوعاً شته - ددې علاج معالجه دومره اوږده ده چه په خپله ددې په دوران کښې دمانځه څو مره بانګونه کیږي - کوم چه د پیریانو داثر دفع کولو دپاره کافي دي - په خپله دې پاره دمستقل بانګ څه حاجت نشته - او دغه راز ددې ذکر شوی وصف علت موثره کیدو کښې - څکه چه کوم کار فوري نه وي هغه دپاره دمانځه بانګ کافي کیدی شو - البته کوم ځاي کښې چه غوږ کښې بانګ ویېلی شي - چونکه دمانځه بانګ غوږ سره خوله نژدې کولو سره نه کیږي - لهذا هغه کښې به داعلت نه وي - او نه په طاعون کښې داوصف عملاً شته - څکه چه کله مریض ته عین دمرض راتلو وخت وي هغه وخت هیڅوك هم بانګ نه وايي بلکه شپه او ورځ کښې چه څرنګه اتفاق راغي یادځه وخت په تعین سره دبانګ ویلو محمول دي که دمرض عارض کیدل دهغه نه مخکښې وي او که وروستو وي - بره معلوم شول چه بغیر دوصف فورنه پنځه وخته بانګ کافي دي - او دغه وجه ده چه په بانګ کښې ددې خاصیت نه علاوه چه شیطان ویره تختی نور هم خاصیتونه په حدیثو کښې ثابت شویدي - دعا قبلیدل عند الله او ګواهي دځیزونو په

ایمان مؤذن ددې دحاصلولو دپاره دمستقل بانګ اجازت چا هم نه دی ورکړی - څکه چه دمانځه بانګ دی دپاره کافي دی کنې پکاردي چه کله دعا کول وي نو مخکښې دی وته بانګ ویېل جائز شي که هر وخت وي یادغه شان چه څیزو نو لره په ایمان باندې ګواه جوړول وي ولاقائل به - او پوهیدل پکار دي چه دویم جواب کښې کوم چه علی سبیل التنزیل دی تیر عاسترګی پټې کړي شویدي - دې دپاره چه طاعون کښې داذان ثبوت په دې تقریر هم او نه شي - کنې نفس الامر کښې غیر قیاسي دي بس دي سره زلزلې وغیره په وخت کښې هم دبانګ ګنجائش نه شي کیدی - دریم په خپله دا امر په معرض دکلام کښې دی چه آیا داطاعون د پیریانو نه دی لکه څنګه چه اطلاق دحدیث د دې مرجع دی یا بعض طاعون ددې مسبب دی لکه څنګه چه دمهمله په قوت جزئیه کښې کیدل ددې مصحح دی هر کله چه په خپله مبنی یعنې اثر د پیریانو کشکوك فیه دی نو مبنی یعنې بانګ ثبوت به څه رنګه راشی - څلورم دیکښې ډیر مفاسد لازم راځي مثلاً التباس دلمونځ کونکو په وجه دغلبې دجهل دزمانو الواو ویره دکمزورو زړونو والو چه دوی دهغوی په ذهن کښې داخیال راولي او مرض پکښې رها دوباره نوی کوي او دعوامو خلقو دبانګ په اعتماد باندې داعمالو داصلاح نه او استغفار او دعا نه بې فکره کیدل او دې لره داحکام مقصودو نه ګڼل وغیره وغیره تو داسې حالت کښې خو جائز هم ناجائز کیږي په دې وجه دتفول وغیره ځایونو کښې چه کوم بانګ راغلی دي په هغه کښې عدم لزوم دمفاسدو شرط دی بس دې تقریر سره ثابته شوه چه حدیث تفیل سره استدلال دې باره کښې صحیح نه دی او دا بانګ محض یو نوی کار دی په دین کښې - او دغه وجه ده چه طاعون عمواس کښې سره دسخت احتیاج نه هم دهیڅ یو صحابي نه منقول نه دی - چه طاعون دپاره یې دبانګ حکم ورکړی وي یا په خپله یې داعمل کړی وي او دویم سوال کښې دحدیث مدلول خو ظاهر دی که چرته دې باره کښې دڅه خاص خبرې نیوس کول دی نو دهغې وضاحت او یقیني کول پکار دي او دریم سوال کښې چه کوم حدیث طرفته اشاره ده دهغه دتحقیق صورت قریب الی الفهم دا کیدی شي چه د پیریانو اثر سره دمادې سیمي حدوث کیږي چه هغې سره وینه تیزیږي پابندیږي که همیشه وي یا کله کله وي لکه څنګه چه بره تیر شول - باقي حقیقت حال الله ﷻ ته معلوم دی - ربیع الثانی س ۱۳۲۵ھ

دفع طاعون دپاره ددعا کولو جواز

سوال :(۳۹۳) ددی مسئلی معلومات کول غوارو چه آیا دطاعون مرض دفع کولو دپاره خاص طورباندی دعا کول جائز دی یانه ؟

جواب : جائز دی

متفرقه مسئلی / قرض سودا گرانه خرڅول

سوال :(۳۹۴) ډیر دوکانداران قرض سودا اخستونکې ته گرانه ورکوی – مثلاً نغدو پیسو باندی ورکونکې ته دروپی شل سیره غله ورکوی – اوکوم سړی چه سپږ میاشتی کښی قیمت ورکوی هغه ته اتلس سیره ورکوی – صفایې معاملات کښی تاسو جائزلیکلی دی ماته شك نه وو خو بعض عالمان دیته خلاف مروت وایې – ستاسو په نزدهم خلاف مروت ده یانه – ستاسو وینا سره زمازړه مطمئن کیږی – دجواب ورکولو به ډیره مهربانی وی داسی معامله کولو کښی څه نقصان شته یانه ؟

جواب : خلاف مروت هغه وخت کښی ده چه کله یې ډیره گرانه خرڅه کړی کنی خلاف مروت نه ده [۲۸ ربیع الثانی س۱۳۳۲هـ]

وعده کښی لفظ دانشاء الله ویلوسره وعده نه باطلیږی

سوال :(۳۹۵) وعده چه مشیت سره متعلق شی دی باره کښی زمازړه مطمئن شوی نه دی ددرمختارباب الانشاء روایت هم داسی معلومیږی چه تعلیق باطلوونکې دی – بس داخیال دی که دوعدی په وخت چرته دوعدی دپوره کولو مضبوط قصدوی اوبیادڅه مصلحت وجه نه وعده پوره نه شی اگرچه دتقوی خلاف به وی خو په حیثیت دفتوی سره به داخلاف دوعدی نه وی – مثلاً یو سړی قسم اوخوری چه چرته به هم وعده خلافی نه کوم اووعده معلق بالمشیه کښی قسم وی – نوقسم کونکې باندی دبنده په خیال کفاره نه واجبیږی – داخوزړه ضرورمنلی ده چه انشاء الله دوعده خلافی حیله جوړول مستقل گناه ده – خوچه کله دوعدی په وخت کښی کلکه اراده دپوره کولووی اوبیادمعمولی مصلحت دوجه نه پوره نه شی نوخلاف دوعدی کوم چه حرامه اوگناه کبیره ده داخولازم نه راځی – والله اعلم بالصواب ؟

جواب : فی الدرالمختارولوبالامروالنهی کاعتقوا عبدی بعدموتی انشاء الله لم یصح الا ستثناء ،وفی ردالمحتار والفرق ان الایجاب یقع ندباً الی قوله والامرلایقع لازماً الخ وفی ردالمحتار اذاوصل المشیة بالتلفظ بالنیة لاتبطل لانها لطلب التوفیق حموی [ج ۳ ص۱۰۹ ۱۱۰-] – دی روایتونونه یوه قاعده ثابته شوه چه کوم څیز لازم نه وی یاچرته چه انشاء الله دتوفیق غوختلو دپاره وی هلته نه باطلیږی – بس وعده نه خولازم ده ځکه چه دلازم معنی داده چه بغیردواقع کیدلودهغی نه یادمرگ نه په دنیا کښی دهغی نه خلاصی ممکن نه دی اووعده قوی عزرسره ساقط کیږی – نولازم نه شوه – اوبل په دیکښی انشاء الله محض طلب دتوفیق دپاره دی نودی بنیا دباندی وعده کښی به دانشاء الله ویلو هم هغه اثروی کوم چه بغیردویلووی – ۲۹ رمضان س۱۳۲۸هـ [تتمه اولی ص ۲۰۴]

دکافرانونومونه دضرورت دوجه نه جائزدی اګر

چه هغه دهغوی دمعبودان باطلو تعظیم وی

سوال :(۳۹۶) دلته ډیر مسلمانان دمختلفو څیزونو سوداگران دی اوددوی زیات اخستل خرڅول دهندوانو په لاس دی – کله دبیع تعاطی په شان معامله کوی – اوبغیرد سود نه – په دی وجه دهندوانو نوم په خپل رجستر کښی دیاداشت او معاملی دپاره لیکلی په هندی ژبه کښی - اوبغیردهندی نه مضر نه دی – خوددی نه بغیر کارکول گران دی ځکه چه دهندی روج دی او دډیروهندوانو نومونه داسی دی چه دهغی په سرکښی یاآخر کښی دهغوی دیوانانو یادهغوی دمشرانو نومونه لکه مهادیو ، رام ، نرائن ، پرمیشور ، لهیمن ونیره وی - مسلمانان لره په خپل رجستر کښی دهغوی نومونه په هندی یااردو کښی خصوصاً هغه سړی لره دکوم چه دینی مسئلو سره څه موافقت وی لیکل جائزدی یانه – وجه شبه داده چه جناب رسول الله ﷺ دعتمی نوم عشاء ایخی وو- نو حضرت ﷺ صحابه ﷺ لره عشاء ، ماسخوتن) ته دعتمی وئیلونه منع کړل په وجه داخطره راځی چه داهم دهغی قبیلی نه وی ؟

جواب : هلته خوضرورت نشته عشاء هم وئیلی شی – اودلته ضرورت دی ځکه چه دااعلام دی اوبل څه آسانه طریقه دامتیازراوستونشته – وقد قال النبی ﷺ انا ابن المطلب ولایجوز التسمیة بعبدالمطلب [۲۰ جمادی الثانیة ۱۳۲۲هـ / حوادث ۱۰۲ ، ص۱۴۱]

تحقیق حدیث ممانعت کتابت للنساء

سوال :(۳۹۷) یوه خبره دتحقیق په طور ستاسو نه ضروری معلومول غوارم – هغه داده چه تاسو په خپلی رسالی بهشتی زیور کښی دخط اوکتابت طرفته ډیر ترغیب ورکړیدی – حالانکه حدیث وعن عایشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ لاتعلموانساء كم سورة يوسف ولاالكتابة . ممانعت معلومیږی ، په دی وجه مهربانی وکړی هغه حدیث کوم سره چه تاسو خط اوکتابت طرفته ترغیب ورکړیدی ضرور ولیکې دی دپاره چه زمونږ خیال هم کتابت په جواز باندی مضبوط شی ؟

جواب : ابوداود کښی حضرت حفصه رضي الله عنها ته دکتابت زده کولو اجازت ضروری دی – خامخا دتطبیق دپاره به داسی اووایو چه نهی په صورت کښی دویری دفتنی دی او اجازت په صورت دامن – په خپله حدیث دنهی کښی ددی قرینه موجود ده چه په هغی کښی د سورة یوسف دتعلیم نه هم نهی ده نو آیا علی الاطلاق زنانو دپاره ددی سورت دلوستلو دناجائز کیدو حکم کولی شی – ۲۲ ربیع الاول س ۱۳۳۳هـ (تتمه ثالثه ص۲۴) (تجمل اوبذاذت (سادگی) کښی منافات نشته)

سوال :(۳۹۸) وردان البذاذة من الايمان وايضاًقال من لبس لبس شهرة فى الدنيا البسه الله ثوب مذلة يوم القيامة وفى رواية الترمذى ان الله يحب ان يرى اثرنعمته على عبده،فان كانت فى اراءة اثر النعمة شهرة فكيف التوفيقوان كان اللباس لباس شهرة ولم يرد اللابس الشهرة بل اراءة النعمه فقط فيجوز فى حقه ام لا؟

جواب : معنى قوله ﷺ ثوب شهرة اى الثوب لشهرة فمالم يقصدبه الشهرة لايدخل فى هذا الوعيد،والبذاذة مقابل للتكليف والاهتمام لا التجمل المتوسّط فقد وردان الله يحب الجمال (۲۲ ربيع الاول ۱۳۳۴هـ تتمه رابعه ص۱۹)

تحقیق معنی استکثار فال در حدیث

سوال :(۳۹۹) تعلیم دین کتاب کښی چه حضرت ﷺ فرمایلی دی چه څپلی ډیری جوړی کړی په دی نه پوهیږم چه ددی څه مطلب دی ؟

جواب : تعلیم دین کښی چه کوم لفظ دا ترجمه ده هغه استکثروا دی ددی په معنی کښی دوه احتماله دی – یوه هغه چه کومه ماګیلی ده یعنی څو څو جوړی ساتل – دویم هغه کومه چه عالمانو اخستی ده یعنی اکثر وختونو کښی څپلی اچول اوبربنډی خپی نه اوسیدل اوظاهر دادویم معنی ډیره صحیح ده (ترجیح الراجح (جلد ۵ ص۱۰۹)

ایضاً

سوال :(۴۰۰) کتاب تعلیم الدین باب (لباس اوزینت اداب ، څپلی څو څو جوړی ساتی دا ادب ماخوذ ددی حدیث دجابر رضي الله عنه نه . قال سمعت النبى ﷺ فى غزوة غزاها يقول استكثروا من النعال فان الرجل لايزال راكباً ماانتعل رواه مسلم. ددی حدیث موقع ښایي چه سفر اوجهاد کښی ګرځیدل راګرځیدل ډیروی یوه جوړه کافی نه کیږی – اوچه اوشلیږی نو بیا اخستل ډیرګران وی . په دی وجه جناب اوفرمایل چه څو څو جوړی واخلی چه اساتیاوی اوبربنډو خپو باندی ګرځیدل رانشی . نوکه چرته داسی ضرورت وی نو څو جوړی ساتل سنت دی . اوکه بغیر دضرورت نه صرف دفیشن په خیال دابنایي زما نوتقلید کوی اودومره ساتی نو ناجائز او یورپ سره تشبه ده . اوکه دبدی لحاظ وی نو بیاخو تکبر کښی داخلیږی نو حرام دی ، داسی قسم حرکت نه خان بچ کول دی پکار . او احتمال داهم دی چه من النعال نه مراد من استعمال النعال شولکه څنګه چه دفایدی دبیان نه معلومیږی نوبیاخود فرمان شریف صرف دامطلب دی چه کثرت سره څپلی اچوی ګرځی که چرته یوه جوړه کافی وی نو یوه کښی ډیری اوساتی والله اعلم بالصواب ؟

جواب : زما مرادهم دادی چه هر کله مقتضی یعنی حاجت متحقق وی اومانع هغه عوارض چه موجب دکراهت ګرځی لکه فخر کول او تشبه نه وی او دویم محمل دکثرت استعمال احتمال هم پکښی شته – ۱۲ محرم س۱۳۴۱هـ (ترجمه خامس ص۱۲۲)

دحضرت غوث اعظم رحمه الله بعض کرامتونه اوده هغی تصدیق شرط

سوال :(۴۰۱) مولانامفتی عنایت احمد صاحب په کتاب الکلام المبین کښی دامام شافعی رحمه الله کتاب مراد الشیطن نه کرامت غوث الثقلین قدس سرالعزیز کښی لیکلی دی او هغه دادی چه دیوی بوډی دخوی حضرت غوث الثقلین سره ډیره مینه وه – دهغوی خدمت بې هم ډیر کولو – ددنیا کاروبار یې ډیر کم کاوه یوه ورځ هغه بوډی دغوث اعظم رحمه الله په

خدمت کښې حاضره شوه عرض یې وکړو چه ما دا خپل بچی تاته نذر کړو- او لله مې خپل حق ددنه معاف کړو تا سو ده ته د باطن تعلیم ورکړی ځکه چه زما دکور کار خودی نه کوی هروخت دلته حاضر وی - او خپل خوی یې په خانقاه مبارك کښې پریخودو - حضرت هغه لره په ریاضت او د باطن په سبق کښې مشغول کړو کله کله به هغه بوډۍ دی خپل بچی ملاقات ته راتله - یوه ورځ راغله نو وی کتل چه هغه بچی ځنې خوری اوډی عاجز او کمزوری شویدی - بیا هغه د حضرت غوث الثقلین خواته لاړه نو وی کتل چه هغه د چرګی غوښه خوری- نو دی او وئیل چه حضرت تاسو چرګه خوری او زما خوی باندی ځنې خوروی - حضرت د چرګی په هډوکو لاس کیخودو او وی فرمائیل چه پاځی دهغه خدای ﷻ په حکم څوك به چه ریزه ریزه هډوکي ژوندی کوی - فوراً هغه چرګه ژوندی شوه او آوازونه یې شروع کړل - سبحان الله- څومره مرتبه ده د اولیائ محمدیه ﷺ - دا واقع که د جناب مفتی صاحب په نزد قابل اعتبار نه وی نو په خپل کتاب کښې به یې هرګزنه راوړه - بیا هم د حضرت والا ونه عرض دادی چه دا سند د منلو قابل دی یا نه ؟

جواب : کرامتونه د اولیاؤ نه صادر کیدیشی په دی وجه ددی قصه په منلو کښې څه شرعی خرابی نشته - خو په دی شرط چه ددی قصه نه څه بله نتیجه خلاف شریعت خپلی رایې سره مستنبطه نه کړی - (تتمه رابعه ص۳۹)

دفع اشکال وماعلمنه الشعر

سوال : (۴۰۲) د مجادلات معدلت په (۳) کښې د قران او د غنا په ضمن کښې تاسو لیکلی وو- چه د قران مجید او حدیث شریف په بعض جملو کښې د مصراعیت شان دی او بعض خو بالکل وزن برابر دی خو چونکه هغه بغیر د قصد نه دی - په دی وجه دانشی وئیلی چه دا ماعلمنه الشعر خلاف دی - شعر هغه دی چه هغه کښې قصد د وزن وی نه دا چه اتفاقاً پکښې وزن پیداشی - ستا د تقریر حاصل دادی چه وزن کړی شوی کلام بغیر د قصد نه شعر نه دی او هر کله چه شعر نه دی نو د ماعلمنه الشعر لازم نه راځی خو دفن استاذانو لیکلی دی چه شعر په اصطلاح کښې کلام موزون مناسب الالفاظ ته وایې قصد د موزونیت اګرچه داخل دی په صفت د شعر کې خو په وجود د شعر کې دي ته دخل نشته- کوم شعر چه بغیر د قصد نه دخولی نه اوځی هغی ته فی البدیهه وائي ددي واضاحت نتیجه داده چه کلام موزون بلاقصد شعر دي او کوم چه فی البدیهه راشی هغی ته په هغه شعر ترجیح ده کوم چه ته جوړ کړي - که چرته علی سبیل التنزل دا اومنی هم چه کلام موزون بلاقصد شعر نه دي بیاهم دا شبه باقی کیږي چه قصد د موزونیت نه وه نو داموزونیت د کوم ځایه راغی- قصه مختصر د الله پاك د شان نه دا لري ده چه سره د وصف اهتمام نه بل اتفاقاً داسی کلام موزون صادرشی چه اوزان متعارفه باندي بی تکلفه تقطیع وکړیشی یعنی کټ کړیشی امید دي چه تاسو ددي شبې په لري کولو کې جواب ولیکئ؟

جواب : شعر اصطلاحی هغه کلام موزون دي چه د هغی په رواړوکې د موزونیت من حیث الشعر العرفی قصد کړي شوي وي- بس دي تعریف سره داسی ایتونه او حدیثونه ووتل کوم چه اوزان شعریه باندي برابر موندلی شی حدیث خو ځکه چه په هغی کې د سره نه د موزونیت قصد هم نشته او ایتونه ځکه چه په هغی کې د موزونیت من حیث الشعریه قصد نشته- نو صرف د قصد التزام قول بالاضطرار نه بچ کیدلو د پاره مضرنه دي- او فی البدیهه شعر کې د عدم قصد شبه و نه کړیشی ځکه عدم قصد د هغی په راوړوکې دي نو دي مرتبه کې ددي په شعر هم دي او کلام نفسی باری تعالی کې په خپله د عدم قصد نه جواب شویدي ځکه چه هغه مرتبه د صفت ده کوم چه دارادي متعلق نه دي- او په دي تعریف کې د عرفی قید سره د لري هغه شبه لاړه اوس ددي جواب تائید د پاره د اهل مهارت څه نقل پیش کیږي- ف کشاف اصطلاحات الفنون للقاضی محمدعلی التهانوی،وهو(ای الشعر)الکلام الموزون المقفی الذی قصدالی وزنه وتقفیته قصداولیا الی قوله یعنی لیس مقصوده تعالیٰ ان یکون هذا الکلام شعرا علی حسب اصطلاح الشعراء، ص ۷۴۴ ،او د مجادلات په عبارت کې چه کوم بلاقصد راغلیدي مراد هغه نه د خاص قصد نفی ده یعنی د قصد د وزن من حیث الشعریه او ددي لفظ یې د اتفاق نه تعبیر کړیدي ولامشاحة فی الاصطلاح او هر کله چه ماهرینو په تعریف کې د قصد وزن تصریح کړیده نو د څه بل څه تصریح کول معارض ددي نه شی کیدي- لان الناطق یقضی علی الساکت - دي تقریر کې سوچ کولو د سوال د ټولو شبهاتو جواب وشو- ۳۰ ا جمادی الاولی ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه ص ۳۷)

داعانت علی المعصیة څو جزئیات

سوال :(۴۰۳) داعانت علی المعصیت (په گناه کې امداد کول) په نسبت جزئیات ناآشنا متعارض دي- دمکان ئباخانه وغیره جوړولو دپاره په کرایه ورکول ذمي دپاره شراب په پیسو اوړل دامام صاحبؒ په نزد جائزدي- او دهغې وجه یې په هدایه وغیره کې داليکلې ده، چه معصیت عین سره قائم نه ده بلکه په منبخ کې فعل دفاعل مختار راغلیدي په دې وجه نسبت کټ کولی شي حالانکه ددې وجه مقتضی داده چه دوسلې خرڅول دې داهل فتنه په لاس جائزشي شامي په دې مقام باندې پخپله خپل تردد ښکاره کړیدې او پریخودلې یې دې کتاب الحظروالاباحة فصل فی البیع وغیره – ددې په نسبت زما پوهې ته څه نه راځي- بحرالرائق کې یې لیکلي دي چه که څوك درنه ددبیعه یادکنیسه (دیهودو او نصاری او عبادت خانې) دلاري تپوس وکړي نو دهغې خودل جائزدنه دي ځکه چه دا اعانت علی المعصیت دي چرته داحتیاط او چرته مکان په کرایه باندې ورکول غرض داچه ددې قاعده کلیه دامام صاحب په مذهب باندې څه ده ؟ (۲) یو کس تپوس وکړو چه یو سړي دګلونو تجارت کوي یو څوبت پرستو سړي معاهده کړیده هغوي هره ورځ ګلونه اخلي او دخپلو مشرانو په قبرونو یې اچوي آیا په دوي خرڅول جائز دي یا نه علی هذا څناور په دسی سړي خرڅول چه معلوم وي چه دې یې دبوتانو په نوم ذبح کوي- داسې نور څیزونه چه قبرونو او بوتانو په نوم یې منی- دهغې څیزونو خاص دداسې خلقو په لاس خرڅول چه دهغې استعمال تقرب الی غیرالله دپاره یقیني معلوم دي- اګرچه په دې مسئلو کې دصاحبینو په نزد خو حکم ظاهر دي شبه دامام صاحب په مذهب باندې ده – قیاس علی بیع السلاح ممانعت دي او دنورو مسئلو مقتضی جوازدي- که ددې هم چرته لحاظ او ساتلې شي نو مناسب معلومیږي چه ئن صباحتی التقدوردائره داجازت فراخ کول مناسب دي؟

جواب : دې مسئله کې اصل مذهب دومره معلومیږي چه که چرته په میتخ کې دفاعل مختارفعل متخلل شي خو په دې شرط چه فائده حاصلول ددې شي نه په وجه حرامه کې منحصرنه وي نو دهغې بیع وغیره اعانت علی المعصیت نه دي اګرچه کراهت بمعنی خلاف اولی نه خالی نه دي- حاصل یې دادي چه دفتوی په روسره جائزدي خو دتقوی اخلاف دي او واقعی دې بنیاد باندې په وسله کې فراخی معلومیږي خو په دیکې جوازنه منقول کیدل غالباً داحدالامرین دوجه نه دي یا خو دامام صاحب حکم یې بکړنه خلاف اولی لره یې په

کراهت او کراهت یې په تحریم باندې محمول ګڼړلی دي او یا په جزئیاتو کې دامام صاحب او دصاحبینو اقوال ګډوډ شویدي، یازمازړه کې داسې راځي چه معصیت لازمه او معصیت متعدیه مضحره للغیرکې یې فرق کړیدي یعنی تخلل دفعل مختاریې په معصیت لازمه کې قاطع دنسبت ګرڅولی دي او معصیت متعدیه کې یې دویراهتمام دوجه قاطع نه دي ګرڅولی لکه دیاناتو کې چه هرکله دخواص فعل سبب شي دافساد عقیدې دعوامو نو خواص دپاره هم مکروه کیږي اګرچه دامام صاحب نه دا کلیه منقول نه وي خو دجزئیاتو نه کلیات مستخرج کړې شویدي وهذا اقرب الوجوه عندی – دې تقریر باندې دګلونو وغیره خرڅول په دې صورت کې جائز معلومیږي که چرته داتقریر او منلی شي نو امید دي چه څه جزئی کې اشکال پاتې نه شي (۷ رجب ۱۳۲۴ھ)

کتاب الوصایا

ردّ موصیٰ له وصیت را یا رجوع موصی ازه

سوال :(۴۰۴) زید په مرض وفات کې یوه وصیت نامه ولیکله چه زما نه چه کوم مال پاتې شي دهغې په یو ثلث کې وصیت دي چه سلورو یو کې زما کفن دفن او ایصال ثواب، او سل روپی فلانی عمروته او نوری پیسی فلانی فلانی پنځو کسانو ته کوم چه شرعی وارثان نه دي برابر برابر ورکړئ او دوه ثلثه په شرعی وارثانو باندې تقسیم کړئ او وصیت نامه یې واورو له او خلقو خپل دستخطونه وکړل خو پنځم موصی له دستخط کولو نه انکار وکړو او وې وئیل چه ماته اخستل منظور نه دي ده او ګڼړل چه کنې دا دزکوة مال دي په دې باندې زید موصی وو ئیل چه ته منظور کړه بیا واپسی یې په ما باندې ولګوه او بیل موصی له هم یوه کړو چه ته منظور کړه دا زکات نه دي تولوته ملاوشویدي او ماهم اخستی دي ایازه ستا په نزد زکات خوریم بیا یې هم او نه منل بیا زید موصی دې یو هونکی ته وو ئیل چه تاسو ولی په ده زورکوي هغه نه منظوروي نه دي اخلي- دده نوم کټ کړي او صرف دڅلورو نوم پریږدي نو بل کس وو ئیل چه نوم کټ کولو سره به کاغذ مشکوك شي نو زید موصی وو ئیل چه دده په نوم باندې (ص) جوړ کړئ بیا وو ئیلی شول چه د (ص) مطلب به هم مشکوك پاتې شي بیا زید موصی وو ئیل چه دده په نوم باندې په ده انکار ولیکئ نو زید موصی په خپله دمنکر په لاس دهغه په نوم باندې دې کاغذ باندې دا الفاظ ولیکل چه ماته اخستل منظور نه دي فلان بقلم

خود ،بیا زید موصی په هغه وصیت نامه خپل دستخط وکړو او خان سره یې کیخوده او د خپل مرګ نه څه وخت مخکې یې ، د دغه څلور وکسانو سره کوم چه یې د وصیت نامه کې مقرر کړي وه په تقسیم کې ، یو کس ته اولیکله هغه ځان سره کیخوده اوس د زید موصی د وفات نه وروستو هغه انکار کوونکی وائې چه دا کار زکات مال ګڼړلی وه په دې وجه ما انکار کړي وه اوس ماته معلومه شوه چه دا د زکات مال نه دې او ما د مولوي صاحبانو نه تپوس کړیدې او ماته اخستل جائز دي نو د عالمانو د دین نه سوال دې چه دې صورت کې وروستو انکار او بدلولو رابدلولو نه د منکر په حق کې دا وصیت صحیح دې یا کالعدم شو او دده دا عذر چه ما د زکات مال ګڼړلی وه قبلیدې شي یا نه او د مال د وصیت وروستو دا د کولو د هغه دوو سورو پونه په کفن دفن او هغه یو کس نه نوري په دې پنځو به تقسیږي یا نه. که چرته یو سړي بغیر د رضا د نورو شریکانو نه تقسیم کړي او پنځم کس ته یې ورکړي نو د ه ته حلال دې یا حرام- او داسې تقسیموونکی ګنهګار دې یا نه بینوا توجروا؟

جواب : الروایة الاولیٰ فی الهدایة صـ ۶۴۱ وقبول الوصية بعد الموت فان قبلها الموصى له فى حال حيوٰته اوردها فذلك باطل ،الرواية الثانية فى الهداية صـ ۶۴۴ ، ويجوز للموصى الرجوع عن الوصية اذا صرح بالرجوع اوفعل مايدل على الرجوع كان رجوعاً ، الرواية الثالثة فى الدرالمختار باب الوصية بثلث المال واصله المعول عليه انه متى دخل فى الوصية ثم خرج لفقد شرط لايوجب الزيادة فى حق الآخرومتى لم يدخل فى الوصية لفقد الاهلية كان الكل للاخر كذا ذكره الزيعلى - دې صورت کې که چرته موصی پس د رد د موصی له په دې باره کې څه دخل نه کولی نو دا رد د انکار یه کوم چه د موصی په ژوند کې شوي قابل د اعتبار نه وي بلکه د موصی د مرګ نه وروستو که چرته ده قبول کړي وي نو دا وصیت به په خپل حال وي خو په دې شرط چه پس د مرګ د موصی نه تو تب د انکار د موصی له نه دې راغلی تدل علیه روایة الاولی خو چه هر کله رد د انکار د موصی له نه وروستو موصی وو ئیل چه دده په نوم باندې دده نه انکار و لیکه نو موصی دغه رد منظور کړو کوم چه فعل دې چه دلالت کوي په رجوع عن الوصیة- نو ښکاره خبره ده چه دې رجوع سره حق د موصی له باطل شو- تدل علیه روایة الثانیة خو د دې سړي حصه یعنی د موصی په هغه پنځمه حصه به دې نورو څلورو ته نه ملاؤیږي بلکه دا د وارثانو حق دې البته که چرته موصی د دې نه وروستو وایې چه اوس دې دا مجموعه دې څلورو ته ملاؤ شي نو بیا دا پنځمه حصه هم دې څلورو ته برابر په برابر ملاویدې

- خو که چرته نه یې وي وئیلي نو د دې څلورو د دې حصې مستحق جوړیدل محتاج دي و حقیقه او هغه نه دي موندلی شوي- تدل علیه الروایة الثالثة - البته که چرته ټول وارثان بالغ وي او هغوي په خپلې خوښې سره دا پنځمه حصه دوي ته ورکړي یا کوم چه بالغ وي هغوي خپله حصه دې خمس نه هغوي ته ورکړي نو د دې اخستل جائز دي- او نه ورکول او اخستل د واړه ناجائز دي والله اعلم اتم، (۲۷ شوال ۱۳۲۳ھ امدادج۳ص ۸-۱۰)

وصیت للوارث

سوال :(۴۰۵) وراث د پاره یې وصیت وکړو او وارثانو د موصی د مرګ نه وروستو هغه وصیت رد کړو- بیا که چرته اجازت ورکړي نو دا وصیت صحیح کیدیشي ؟ او لازم دي یا نوي تبرع الاحسان شو- او د ورکولو نه ورکولو اختیار شته- د دغه شان موصی له وصیت قبول نه کړو نو وصیت صحیح کیدیشي ؟

جواب : د تصریح تلاشی کولو موقع ملاؤ نه شوه خو قواعدو نه معلومیږي چه وړومبی صورت کې دا یو نوي احسان او تبرع شوه- ځکه چه تصرف موقوف په قبول پاره د کولو باندې سر ته رسي- ولاحكم للشئ بعد انتهائه لکه بیع موقوف او نکاح موقوف کې چه پس د رد کولو نه هرګز اعتبار نه پاتې کیږي او دویم صورت کې هم د دغه شان دا وصیت معتبر نه دې فقط والله اعلم وعلمه اتم (۱۳ ذی الحجه ۱۳۳۳ھ امدادج۳ ص ۱۱۰)

وصیت للاجنبی وللوارث

سوال :(۴۰۶) یوې مسئلې په باره کې ډیر لوئ تردد دي د وصیت په نسبت فقهاؤ د دې تصریح کړیدې چه که چرته دوو کسانو ته دې وصیت وکړو او یو ته ملاؤ نه شي نو که چرته هغه ته د ملاویدو بالکل احتمال هم نه وي نو ټول مال به دویم موصی له ملاویږي او که چرته احتمال وي نو نیم به ملاویږي مثلاً زید او وراث د پاره وصیت وکړي او وراث ته ملاؤ نه شي نو د خو مره مال وصیت یې چه کړیدې د هغې نیمه به ملاویږي او که چرته زید او عمرو د پاره یې وصیت کړیدې او زید مړ دې نو ټول مال به عمرو ته ملاویږي سوال دا دې چه یو سړي د خپل ټول مال زید او وارث د پاره وصیت وکړو او نورو وارثانو دا نا جائزه کړو نو آیا داسې به ګڼړلی شي چه چونکه د ټول مال وصیت صحیح نه دې نو ګویا چه د دریمې حصې مال وصیت یې کړیدې زید او وارث د پاره تر دې چه زید ته به د ثلث نیمه یعنی شپږمه حصه به ملاویږي یا داسې ګڼړل

نه دي بېکار- بلکه که چرته وارثان راضي نه شول نو اجنبي ته به ثلث مال ورکولی شي دفقهاؤ د قاعدې په ظاهره د معلومېږي چه کوم ځاي کې د تنصيف (نمګړي) کولی شي هلته وجه داده چه موصي ته ټول ورکول مقصود نه وي بلکه تنصيف کول مقصود وي په دې وجه که چرته په څه وجه يو ته ملاؤ نه شي نو بل ته به د هغه حصه نه ملاوېږي ود ي صورت کې د کوم چه تپوس شوېدې دا امر نشته ځکه چه په هر حال کې اجنبي ته به نيم ټول مال يا د هغې نه هم کم ملاوېږي او که چرته وارثانو راضي نه شول نو بيا د ثلث د نيمو لو څه وجه ده ؟ په پوره ادب سره عرض دې چه د دې پن نسبت چه څه د حضرت مشوره وي هغه سره خبر دارئ را کړي او که چرته يو روايت هم وليکئ نو زړه به موډېر مطمئن شي؟

جواب: هدايه کې راځي – ومن اوصى لاجنبى ولوارثه فللا جنبى الوصية وتبطل وصية الـوارث لانه اوصى بمايملك الايصاء به وبمالايملك فصح فى الاول وبطل فى الثانى- دې روايت نه د مسئول عنها جواب ظاهر دې چه په ديکې به زيد د ثلث نيمه ملاوېږي ځکه چه د هدايې تعليل به ديکې جاري دې اوصى بمايملك وبمالايملك الخ- ځکه چه ده روايت کې مايملك مراد ظاهر دې چه اجنبي ته وصيت دې او مالايملك نه مراد وصيت للوارث دې قطع نظر د مقدار د موصى به نه ځکه چه د هغه بل د مستقل دليل نه ثابت دې چه د ثلث نه به زيات نه وي او که زيات وي نو هغه به هم په منزله د ثلث ګرځي – او وصيت مسئول عنها کې تفصيل احدهما على الاخر- مقصود نه دې بس برابري په ديکې کولی شي دې بنياد باندې صورت مسئول عنها هم د دې روايت يو جزئي شوه نو دا حکم ذکر شوې به هم دې د پاره ثابتېږي قولکم هلته وجه داده چه موصى ته ټول ورکول مقصود نه وي الى قولکم دا امر نشته- قلت د ټول نه مراد ټول مال دې يا ټول موصى به که چرته شق اول وي نو هغه نه منم وجه داده چه دې د پاره د نقل حاجت دې او که چرته دويم شق دې نو منم خو دا ونيل چه مقصود دې دا نه منم ځکه چه هر کله يې دوو د پاره وصيت وکړو نو زيد ته ټول موصى به ورکول مقصود نه دې بلکه د دواړو برابر والی مقصود دې او ټول مال په معنى کې د ثلث مال دې نو د برابر والی د لوازماتو نه زيد ته نيم ثلث ملاويدل دې تا سو بيا سوچ وکړي که چرته څه شبه وي نو بيا وليکئ والله اعلم اتم واحکم- (۲۵ محرم، ۱۳۲۴ھ، امداد ج۳ / ص ۱۱۰)

تعليق او اضافت د وصيت

سوال: (۴۰۷) دلاندېنى مسئلې مدرسي ته راغليدي او څه زړه راپوري جواب خاده ماتونه دي ليدلې په دې وجه اعلى حضرت ته تکليف ورکوؤ اميد دې چه زما د اشك وشبه لرې کړي دوريم سوال په نسبت وئيلې کيديشي چه دا حقيقت وصيت د انتفاع دې نه د عين شي او انتفاع د ژوندې پورې وصيت صحيح دې په دې وجه دا جائز دې هغه سوالونه دادي- (۱) وصيت کې څه قسم شرط د نيتي په انتقال د ذات د شي کې وکړي نو دا وصيت جائز دې يا نه؟ (۲) که چرته زيد ديو ثلث عين وصيت د اجنبي په حق کې وکړي او شرط د نيتي په دې شان سره وکړي چه زمانه وروستو به پنځو کالو پورې مثلاً دې قابض نه وي بلکه وارثان به قابض وي او د پنځو کالونه وروستو به موصى له قابض وي او دا د نيتي شرط به قابل د پابندۍ وي يا نه او وصيت جائز دي؟ (۳) که چرته زيد د اجنبي په نوم د ټول مال وصيت وکړي او شرط د نيتي تر ژونده پورې وکړي يعنى پس د مرګه د موصى له به زما وارثان د ا مال اخلي او په حالت د ژوند کې به پرې اجنبي قابض وي نو دا وصيت جائز دې يا نه ؟ او وارثان د موصى د ده د مرګ نه وروستو په دې باندې راضي شول ؟

جواب: د وصيت تفسير په درمختار کې راځي- تمليك مـضاف الى مابعـد الموت – او د هغې د شرطونو نه يې دا يان کړېدي- وكون الموصى به قابلا للتمليك بعدالموصى بعقد من العقـود مالا اونفعاً موجود اللحال ام معدوماً اى وهو قابل للتمليك بعقد من العقود قال فى النهاية ولهذا قلنا بان الوصية بماتثمر نخليه العام اوابداً تجوز وان كان الموصى به معدوماً لانه يقبـل التمليـك حال حيوٰة الموصى يعقدمن العقود الخ ، ردالمختار- دې نه معلومه شوه چه وروميې او دويم سوال کې دا شرط ګرځول ناجائز دي ځکه چه په ژوند کې د عين تمليك د غه شان ناجائز دې نو وصيت کې د مرګ د موصى نه وروستو معاً به موصى له مالك وي او هر کله چه دا نشته نو وصيت باطل دې او دريم سوال کې هغه جواب صحيح دې کوم چه تاسو ليکلی دې والله اعلم واتم واحکم (۲ ربيع الاول ۱۳۲۴ھ، امداد ج۳ / ص ۱۱۱)

سوال ۴۰۸ يرني سوال سره متعلق

وصيت په نسبت کوم چه اعلى حضرت ليکلی دي خو شبه صرف د ومره ده چه فى نفسه وصيت د ثلث جائز دې باقي شرط غايه مافى الباب فاسد دې او وصيت فاسد شرطونو سره نه

فاسد یږي ومالایبطل بالشرط الفاسدالقرض والهبة والصدقة والنکاح والایصاء والوصیة والشرکة اه درمختار مختصرالوله الوصیة کاوصیت لك بثلث مالي ان جازفلان عني وفيه نظر لانه مثال تعليقها بالشرط وليس الكلام فيه وفي البزازية وتعليقها بالشرط جائزلانها في الحقيقة اثبات الخلافة عند الموت اه، ومعنى صحة التعليق ان الشرط ان وجدكان للموصى له المال والافلاشئ له بحراج اخ شامي- دي عبارت نه معلوميږي چه وصيت شرط فاسده سره نه فاسد يږي بلکه شرط لغوګرځي اوتعليق باشرط وصيت کې صحيح دي دلته چونکه شرط فاسد دي په دي وجه لغوشواووصيت صحيح شو- مخکې درمختارکې راځي- ومالاتصح اضافة الزمان المستقبل الاجارة وفسخها والمزارعة والمعاملة والمضاربة والوكالة والكفالة والايصاء والوصية والقضاء والامارة اخ والايصاء اى جعل الشخص وصيا والوصية بالمال فانهما لايفيدان الابعدالموت فيجوز تعليقها واضافتهما رواه شامي-که چرته داصورت مسئوله په ديکې داخل اومنی اوداوګڼري چه اصل کې دلته هم اضافت الى الزمان المستقبل دي نوداضافت هم صحيح کيدل پکاردي - خلاصه دخبري داده چه دي کې زمازړه نه مطمئن کيږي په دي وجه که چرته اعلیٰ حضرت دوباره توجه وکړي نويقين دي چه چه داشبه به ختم شي؟

جواب: داضافت اودتعليق دواړوصحيح کيدل ددي عبارتونونه معلوم شول خومرادددي نه هغه صورت معلوميږي چه کوم ځاي مضاف اليه يامعلق به مخکې دمرګ دموصی نه اومونډلي شي څکه دغه وخت موصی کې قابليت دتمليك وي لکه څنګه چه اصوليينوپه تعليقاتوکې وئيلي دي چه تکلم بالجزاء تقديراً وجودشرط په وخت کې کيږي نوبس دابه وګڼروچه موصی اوس وصيت کړيدي په خلاف ددي مسئلې متکلم فيهاچه داشرط داسی وخت کې اومونډلي شو چه کله موصی کې دتمليك صلاحيت نه وه اودايصاء دوخت صيغه تمليك دپاره کافي نه ده- دافرق دي مقيس اومقيس عليه کې اوشرط فاسدنه مرادهغه دي چه پس دصحت دتمليك نه وي- مثلاً داسی ووائي چه زمادمرګ نه وروستودداخيزدفلانی شی خوپنځوکالوپوري به يي ورکوي په ديکې داشرط فاسددي اووصيت صحيح دي اوهرکله چه يي داووئيل چه داخيزبه دفلانی پنځوکالونه پس وي دلته دسرنه تمليك هم صحيح نه دي – فاتضح الفرق- تاسو ددرمختار او ردالمحتار روايتونوسره داتقريرملاؤکړي وي ګوري که چرته شبه پاتي وي نودهغه عبارتونوپته هم وليکئ چه زه يي هم وګورم کوم

عبارتونه چه تاسوليکلي دي پته نشته چه چرته به وي زيات وخت نشته چه زه يي تلاش کړم والله تعالیٰ اعلم (۲۸ ربيع الاول ۱۳۲۴هـ امدادج۳/ صـ ۱۱۲)

سوال ۴۰۹ پرنی جواب سره متعلق

دوړومبی سوال په نسبت چه کوم عبارت نقل کړي شويدي هغه دشامی دريم جلدنه دي باب السلم نه وروستوباب المتفرقات کې په عنوان مايبطل بالشرط الفاسدولايصح تعليقه په راغليدي- حضرت والادي وګوري خومره جوابونه چه اعلیٰ حضرت وليکل دټولوپه نسبت مې اطمينان وشو- البته دوړومبی سوال (وصيت) په نسبت مې تراوسه پوري پوره زړه نه دي يخ شوي؟

جواب: ماته شامی کې هغه ځاي وکتوپه هغی کې يوه جزئيه ملاؤشوه هغی سره تولـه اشتباه صفاشوه- وفي ردالمختارقوله والوصية اخ وفي الخانية لواوصى بثلثه لام ولده ان لم تتزوج فقبلت ذلك ثم تزوجت بعدانقضاء عدتهابزمان فلهاالثلث بحكم الوصية الى قوله ووجهه انه اذا مضت مدة بعدالعدة ولم تتزوج فيها تحقق الشرط اخ (ج۲/ صـ ۳۵۵) ښکاره خبره ده چه متعلق به عدم تزوج في العدة خودي نه بلکه عدم تزوج بعدالعدة دي اودي وخت کې مصی ژوندي نه دي نه معلومه شوه چه تعليق دوصيت داسی شی سرهم جائزدي کوم چه دموصی دوخت نه وروستومتحقق کيږي اوددي تائيدددي کليی نه کيږي الاضافه تصح فيمالايمکن تمليکه للحال شامی قبيل باب الصرف- دي کليه کې يي څه قيدنه دي لګولی نوددي جزئي اوددي کليی نه معلوميږي چه دموصی داووئيل به قابل دعمل وي چه زمانه وروستو پنځوکالو پوري به قابض نه وي اوبيابه موصی قابض وي اه- اوس زمادمخکې ليکلوشونه رجوع کوم والله اعلم (۲ جمادی الاول ۱۳۲۴هـ امدادج۳/صـ ۱۱۳)

وصيت برائی دفن درمکان معين

سوال: (۴۱۰) يوسړي وصيت کړي چه زه کله مړشم نوماپه دي کوټکې کوم ځای چه ماعبادت کولوښخ کړئ اوس ددي سړي دمړکيدونه وروستوپه دي عبارت خانه کې ښخول جائزدي يانه؟

جواب: في الدرالمختارولاينبغي ان يدفن الميت في الدارولوكان صغيرا الاختصاص هذه السنة بالانبياء اه وفي ردالمحتار ومقتضاه انه لايدفن في مدفن خاص كمايفعله من يبنى مدرسة ونحوهاويبنى له بقربهامدفنافتامل ، ج ۱ صـ ۹۳۵ ، وفي الدرالمختار قبيل باب الوصية بالخدمة حينئذ

وصية بالمكروهة قاله المصنف- دي روايتونو نه ثابته شوه چه دا وصيت باطل دي په دي باندي عمل جائزنه دي [۷ صفر ۱۳۲۵ھ امداد ج۳ ص ۱۱۴]

وصيت برائ وارث يا اجنبي اجازت وارث بعدرد

سوال :(۴۱۱) څه فرمائي علماء دين او مفتيان په دي مسئله کې چه که يو مورث وصيت کړي وي د مخکې د دريو ورخونه د مرګ په بې هوشي حالت کې د ټول جائداد د منقوله او غير منقوله په مينځ د دريو وارثانو او د څلورم محجوب الارث (په ميراث نه محروم وي د شريعت محمدي نه خلاف او يو وارث د دې وصيت نه انکار کړي وي خو د دې حق تلفي وروستو د مرګ د مورث نه کيدېشي او بيا د غه وارث د جبر او دباؤ د وجه نه اقرار وکړي نو داسي حالت کې چه د مخکې نه د وصيت نه انکار کړي وي وصيت منسوخ ګرځي يا نه. که چرته منسوخ شوي وي نو دوباره دي اقرار سره بيا جواز د دې کيدېشي يا نه ؟

جواب : که چرته موصي د وصيت په وخت کې بالکل بې هوشه دي او نه پوهيږي نو وصيت صحيح نه دي ځکه چه د موصي عاقل بالغ کيدل ضروري دي وشرائطها کون الموصي للتمليك درمختار- او که چرته د ومره جوش وي چه قصد وکړي او پوهيږي خبري صحيح کوي نو که چرته يو وراث د پاره څه وصيت د هغه د حق نه زيات کړي وي نو باطل دي که چرته ټول وارثان بالغ وي راضي وي نو جائزدي ولا لوارثه وقاتله مباشرة الا باجازة ورثته وهم كبار درمختار ، او که چرته بعض بالغ وي او بعض نابالغ او بالغين يې جائز او لري يا نابالغو کې يې بعض جائز کړي او بعض يې رد کړي نو د بالغو او د جائز کونکو د حصه برابر جائزدي- ولو اجاز البعض ورد البعض جاز على المجيز بقدر حصته درمختار- او که چرته اجنبي غير وارث د پاره يې وصيت کړي وي نو ثلث پوري جائزدي اګر که يو وارث راضي نه وي- او د ثلث نه زيات په اجازت د بالغو وارثانو جائزدي خو دا تفصيل به پکې وي چه بعض بالغ او بعض نابالغ او بعض قبلوي او بعض رد کوي -وتجوز بالثلث للاجنبي وان لم يجز الوراث ذلك لا الزيادة عليه الا ان يجيز ورثته بعد موته وهم كبار درمختار، او که چرته د اجازت نه وروستو يې رد کړي نو جائزنه دي بخلاف ما اذا اوصى بالزيادة على الثلث اولقاتله اولوارثه فاجازها الورثة حيث لايكون لهم المنع بعد الاجازة بل يجبر على التسليم درمختار- او که چرته رد کولو نه پس يې اجازت ورکړو لکه څنګه چه دي صورت مسئوله کې شويدي نو جائزدي-

لا المرء يو خذ باقراره- او شرعاً اکراه هغه ته وايي چه قتل يا کټ کول يا څه موده جيل يا سخت وهل ورسره دي ديکې مکره (بالفتح) د خپل اقرار نه رجوع کولی شی او د لته څه صورت د اکراه معتبر نشته - په دي وجه اقرار لازم نه دي - فلو اكره بقتل اوضرب شديد او حبس او قيد مديدين حتى باع او اشترى او اقر او اجر افسخ او امضى. درمختار- خبرداري چونکه صورت د سوال په وجه انتشار د بيان د سوال کوونکي متعين نه دي او احتمال د د يرو وجوهو لري په دي وجه جواب په شقونو کې وليکلي شو والله اعلم [۲۲ ربيع الثاني ۱۳۱۳ھ امداد ج۳ ص ۱۱۴]

د مهر د معافي نه وروستو ديو جائيداد په

نسبت دا ليکل چه دا مهر په عوض کې دي

سوال :(۴۱۲) که چرته هنده د زيد ښځه خپل خاوند ته مهر معاف کړي او بيا خاوند د هندي زيد ديو جائداد په نسبت خپله وصيت نامه وليکي چه فلاني جائيداد کوم چه ما د خپلې ښځې هندي په نوم اخستی وه هغه په عوض د مهر کې دي او په ديکې د هغی سره څوک شريك نشته -نو دي باره کې څه حکم دي حالانکه اصلي مهر پنځه سوه روپی وه او هغه تقريباً اته ويشت کاله مخکې معاف شوي وه او اوسني جائداد کوم چه د هندي په نوم اخستی شويدي هغه زيد په عوض د دين مهر ګرځوي. بينوا توجروا؟

جواب : که چرته د دې ليکلو نه دا مقصد وي چه ما دا جائداد بالفعل ښځې ته ورکړيدي نو دا هبه ده نو که چرته د مرض وفات نه مخکې وي نو د دې صحت موقوف دي په وجود د ټولو شرطونو د هبې باندي- تر دي چه هبه بالعوض کې هم هغه شرطونه ضروري دي او که چرته مرض وفات کې وي -نو په حکم د وصيت کې دي- او وصيت وارث د پاره جائزنه دي او که چرته د دې ليکلو نه مقصد دا وي چه زما د مرګ نه وروستو هندي ته دا جائداد ورکړي نو دا هم وصيت دي او وصيت وارث د پاره جائزنه دي لکه او س بيان شو- او دې ليکلو نه چه په عوض د مهر کې دي شبه د بيع دې و نه کړيشي ځکه چه د دې مطلب دادي چه چونکه ده ما سره احسان کړيدې زه هم احسان کوم دي سره بيع لازم نه راځي- ځکه چه د بيع د لوازمونه دي وجوب الثمن بعد البيع او هغه د لته نشته [۲۱ رجب ۱۳۲۷ھ تتمه اولی ص ۱۹۲]

عدم بطلان وصیت برد موصی له درحیات

موصی وباعتبار ان رد بعد موت موصی

سوال :(۴۱۳) څه فرمائي علماء دین په دي مسئله کي او مفتیان دشرع متین په دي مسئله کي چه هندي دخپل جائداد کومي دمیاشتني آمدني چه څلور دیرش روپی وه په هغي کي دي خپلی بیوي حقیقی خور اودوو ورشته دارانو دپاره یي صرف دداسي مقدار دجائداد وصیت وکړو چه هغه جائداد دموصی بهادزمکی درقبی په اعتبار سره خود ثلث نه کم دي خو دآمدني په اعتبار سره د ثلث نه زیات دي څکه چه دجائداد دموصی بهاآمدني دولس روپی ده – اودټولي آمدني څلور دیرش روپی ده ددي جائداد قیمت دزمکي درقبي په اعتبار سره کم او زیات نه کیږي بلکه دآمدني په اعتبار سره وي مثلاً هغه جائداد کوم چه پنځه گزه زمکه باندي دي او دمیاشت په کرایه باندي دي دهغي جائداد نه کوم چه پنځلس گزه په زمکه دي او دمیاشت په کرایه باندي دي دزیات قیمت دي جائید اددموصی بهایودوکان دي په لس روپی دمیاشت کرایه باندي – اودهغي په چهت یوه کمره ده دمیاشت په کرایه هندي په دیکي دلسورو پود کرایي دوکان دوؤرشته دارانو ته اوهغه دکرائي کمره یي خپلی حقیقی خورته ورکول غوختلي وه- دواړو رشته دارانو صرف په دي خیال چه حقیقی خور سره به جګړه راشي څکه چه دوکان چهت یعني کمره به خورته ملاویږي- هندی ته یي (په وخت دوصیت) ووئیل چه موږ دانه قبلوؤ هندی بیاځه اونه وئیل دمخ نه یي معلومیدل چه رددوصیت دهندی مرضی خلاف دي اومرضی داده چه وصیت دي قبول کړیشي- اوحقیقی خورهم صرف په دي خیال چه موږ ته نیم جائدا دوراثت رارسي (حالانکه دهندی نمسین محروم دي) موږه کم ولی قبول کړوبل داکه چرته قبول هم کړونوزموږ دوچه به دي دواړو رشته دارانوته هم فائده اورسي- وصیت یي قبول نه کړو دهندی دوفات نه وروستو وارث (حقیقی نمسی) ټول جائداد باندي قبضه وکړه څوورځي پس یي په پنځه زره روپی خرڅ کړو اوټولی روپی یي په خپله خرج کړي اوحقیقی خوراودواړو رشته دارانوته یي په دي خیال چه وصیت باطل شوهیڅ ورنه کړل اوهغوي هم مطالبه ونه کړه- خو صراحةً یي ردهم نه کړو البته صرف دواړو رشته دارانو کله ددي الفاظو چه موږه هندی ته وئیلی وه چه موږه وصیت نه قبلوؤ اعاده وکړه- اوحقیقی خوربالکل چپ والی اختیار کړو- ایادي صورت مسئوله کي دموصی

لهم دواړو شانودي روایت په بنیاد چه بطل قبولها وردمافی حیوة مفروض دي یادرشته دارانو دي الفاظ اعاده کول اوخوراورشته دارانو چه ددي الفاظو دهندی په مخکي اعاده وکړه هغه یي صرف په دي خیال ووئیل چه دابطلان دوصیت کي موثرشویدي کنی عدم بطلان معلومیدو باندي به یي هرګزنه کوله اواعاده یي دي دپاره وکړه چه حقیقی خورته غم اورسی اعادي سره انشاء الله ردنه وه بلکه داخبارردوه کوم چه ددوي دخیال په بنیاد دصحیح شوي وه اګرچه وروستو پیاپیښماني وه خوپه خپله ژبه یي دوصیت قبلولو ذکر صرف په دي وجه اونه کړوچه داییي ګڼړل چه وصیت باطل شویدي اوس زمونږدي وینا سره څه کیږي ماسیوا ددي نه چه په خپله به راته پیښمانتیا اورسي اووارث جائز سره به جګړه راشي-

جواب : فی الدرالمختار کتاب الوصایاوانمایصح قبولها بعدموته لان اوان ثبوت علمها بعدالموت فبطل قبولها وردها قبله وانماتلك بعدالقبول اه وفی ردالمحتارفان لم یقبل بعدالموت فهی موقوفة علیٰ قبوله لیست فی ملك الوارث ولافی الملك الموصی له حتی یقبل اویموت ثم قال بعداسطرالحاصت من جهة الموصی تماما لایلحقه الفسخ ووقف علی خیارالموصی له فصارکالبیع باالخیارللمشتری لومات فی الثلاث قبل الاجازة یتم الخ- دي روایتونو نه ثابته شوه چه وصیت ردشوي نه دي دموصی لهم حق باقی دي – البته داحق ثلث کي دننه دننه دي (۱۹ رجب ۱۳۳۱ھ تتمه ثانیه ص ۵۷)

بطلان وصیت للوارث ولغوشدن شرط دروصیت

سوال :(۴۱۴) څه فرمائي علماء دین په دي مسئله کي چه مسمی علیم الدین عرف المونی په خپل ژوند کي دوفات نه دري څلور کاله مخکي یوه وصیت نامه مرتب کړه اورجسټریي کړه په دي شان سره چه یو ثلث دخپل وروکي خوي مسمیٰ عبدالله په نوم او یو ثلث دخپلو دواړو نمسو په نوم کوم چه دعبدالله خامن دي په دي وجه عبدالله مذکوردخپلی ښځي اودخامنو دمرضی خلاف دویمه نکاح کړي وه اودواړو خامنو اودهغوي مورسره څه اسباب دکاروبارنه وه- او یو ثلث یي دخپل مشرخوي مسمی عبدالرحیم دښځي مسماة راج بی بی په نوم وصیت ولیکلو اوعلیم الدني زباني ووئیل چه ما په دي شرط باندي داوصیت دمسماة راج بی بی په نوم کړیدي چه که چرته زما کورا باساتی اودویمه نکاح ونه کړي بل خواته لاړه نشي نووصیت به دراج بی بی په نوم جاري وي کنی بیا به ساقط کیږي اوس مسمیٰ علیم الدین وفات شو

اودچادپاره یې وصیت کړي وه هغه ټول ژوندي دي شرعاً به داوصیت څه رنګ تقسیمیږي اوکوم مال چه بغیر دوصیت نه دي دمیراث هغه به څه رنګ تقسیمیږي بینوا توجروا؟

جواب : عبدالله وارث دي اوورات دپاره وصیت باطل دي اودعبدالله دوارو خامنواود عبدالرحیم ښځی دپاره اګرچه وصیت جائزدي خو دثلث نه زیات باطل دي بلکه په یوثلث کې دادري واړه په دي نسبت سره شریکیږي کوم چه موصی تجویز کړیدي دهغی تفصیل مخکې راځي - نوتقسیم به داسی شی ددي ترکی چه په یوثلث کې به نیم دعبدالرحیم ښځی ته اونیم به دعبدالله دوارو خامنونه برابرپه برابر ملاوشی - اودوه ثلث چه کوم پاتی شول هغه به په میراث کې عبدالله ته ورکړي شی - داجواب هغه صورت کې دي چه دالموتی په وصیت باندي ټول وارثان رضانه وي اوماسیوا دعبدالله نه بل وارث نه دي کنی دوباره سوال وکړي اودالموتی داشرط لغودي چه راج بی بی دي دویمه نکاح نه کوي دهغی چه دوصیت نه کوم حق دي دویمه نکاح کولوباندي هم نه ساقطیږي - فی الدرالمختار ومایصح ولایبطل بالشرط الفاسد الی قوله والایصاء والوصیة فی ردالمختار قوله الوصیة لواوصی بثلثه وام ولده ان لم تتزوج فقبلت ذلك ثم تزوجت بعدالقضاء عدتها بزمان فلها الثلث بحکم الوصیة ،صـ ۳۵۵، ۲۰ رمضان ۱۳۳۱ھ/ تتمه ثانیه /صـ ۷۳)

ایضاً

سوال :(۴۱۵) څه فرمائي علماء دین په دي مسئله کې چه مسماة زینب دخپل وفات نه دولس دیارلس کاله مخکې خپل داوسیدو ځاي اودکورسامان کوم چه خاص ددي مکتب وه دخپل لورمسماة کلثوم به موجودګي اورضامندي خپل خوي مسمی بکرته دوصیت په ذریعه منتقل کړواوس دمسماة زینب دوفات نه وروستو مسماة کلثوم خپل شرعی مکان دخپل وروړمسمی بکرنه غواړي دشریعت موافق دداسی وصیت نه وروستو مسماة کلثوم دخه شی داخستو مستحق ګرځیدلې شی یانه که ګرځیدیشی نوڅومره؟

جواب :داوصیت دپاره دوارث دي کوم چه دنورو وارثانو داجازت نه بغیرجائزنه دي اودنوروو وارثانو هغه اجازت معتبردي کوم چه وروستو دموصی نه وي اودوصیت دوخت اجازت معتبرنه دي په دي وجه داوصیت کالعدم دي - فی مجمع الانهر ولاتعتبراجازة الورثة فی حال حیوة الموصی حتی کان لهم ان یرجعوا بعدموت الموصی ،ج ۲/ صـ ۲۲۴/ اوداحکم هغه وخت دي چه کله داوصیت نامه شرعاً وي اوکه چرته صرف عرفاً وي اوشرعاً څه بل عقد وي

نو[illegible] حکم دي په دي وجه بهتره داده چه دددي وصیت نامه نقل اوښائې اوبیا سوال وکړي (۱۵ شوا[illegible] ۱۳۳[illegible]ھ/ تتمه خامسه/ صـ ۲۲)

عدم جریان میراث در وصایا

سوال :(۴۱۶) پس [illegible] سلام نه عرض دي چه زمادمورصاحبی داوصیت دي چه کومه آمدنی پنځه حصی دلکهنوپیپ[illegible]ل نه دي هغه خیرات کړئ اوزمادواړه ځامن دي نیم نیم خیرات کړي اوس زماورورعبدالح[illegible]ظ صاحب وفات شواودټولو پنځوحصوآمدنی ماته راځی اوس داخبره معلوم مول غواړوچه آیادټ[illegible]لو پنځوحصوکې زه په خپله خیرات وکړم یاپه نیمه کې اوتوري نیمی کې دمولوي صاحب [illegible] الحفیظ صاحب وارثان خیرات وکړي؟

جواب : اسلام علیکم ورحمة الله وبرکا[illegible] وصایا کې میراث نه جاري کیږي یعنی دوصی اولاداووارثان داضروري نه ده چه وصی [illegible] په دي وجه ټولی پنځمه حصي ته په خپله خیرات کولی شی (۳۰ جمادی الاولی/ ۱۳۳۲ھ/ تتمه [illegible] /صـ ۱۳۸)

صورت جوازخیرات ازترکه مش[illegible]که میان بالغ ونابالغ

وجوازخرج کردن مادررا، ازمال پ[illegible]ن نابالغ خود

سوال :(۴۱۷) څه فرمائي علماء دین اومفتیان شرع مت[illegible] په دي کې مسئله کې چه (۱) دیوښځی خاوندمړشواونابلغه اولادتري پاتی شو دخاوند [illegible] جائیدادغیرمنقوله دي اوهغه تقسیم شوي نه دي اوس دهغه ښځه ددغه جائیدادآمدنی نه [illegible] خیرات صدقه کولی شی یانه - دغه ښځه صرف ددغه یتیمانوبچوتربیت کوي که چرته د[illegible] صدقه اوخیرات نه شی کولی نوڅه داسی صورت وښائی چه هغی سره دازنانه په دي غ[illegible]سم جائدادکې صدقه اوخیرات کولی شی اودخپل خاوندروح ته بې مالی ثواب اورسو[illegible] وښائي چه دازنانه په خپل خرج کې څومره آمدنی ددي مال چه تقسیم کړي شوي نه د[illegible] شی؟ بینوا اجرکم علی الله عزوجل؟

جواب :(۱) دفرائضوپه روسره ددي زنانی اوددي داولادپه حصوکې چه کوم نسبت دي هغه ته دي وګوري چه څومره خیرات ورکوي هغه دي خپله حصه وګرځوي په هغی نسبت سره دي نوررقم جداکړي هغه دي اولاددپاره دامانت په طورمحفوظ کیږدي دبالغیدونه وروستودي

هغوي ته ورکړي مثلاً دزيدمتوفی صرف بی بی اودوه خامن دي نوکه چرته دمشترك امدنی نه دوه اني خرج کوي نوخورالس اني دي هغې دوه خامنودپاره محفوظ کيږدي (۲) خاص دهغې زنانې حصه که چرته دومره وي چه دهغې تولواخراجاتودپاره کافي کيدیشي نودخپلې حصې اندازي پورې هغې ته دخرج کولواختياردي- دي صورت کې که چرته داولادحصه ددي ضروري اخراجاتونه پس هم بچ پاتي کيږي نوهغه پاتي شوي دي دامانت په طورکيږدي اوکه چرته دزنانې هغه حصه ددوي ضروري اخراجاتودپاره نه کافي کيږي نودخپل اولاد دحصې نه هم دضرورت مختصره په اندازه اخستې شي اوخرج کولی شي (۲۱شوال ۱۳۳۲هـ) تتمه خامسه/ص ۲۷

کم برامدن مال وصيت ازدوصی ازبيان موصی

واعتبارثلث ازمجموعه مودع نه باقی بعدا لفقه ان

سوال :(۴۱۸) څه فرمائي علماء دين اومفتيان شرع متين په دي مسئله کې چه زيدمرشو اوهغه دخپل مرګ نه دوه مياشتې مخکې يوکس راوغوختواوهغه ته په تنهائي کې ووئيل چه مادومره روپۍ دخپلې ښځې سره ايخې دي دهغې باره کې مې دالاندينې وصيت کړيدي تاته هم وايم احتياطاً خيال ساته - هغه وصيت دادي هغه مال کوم چه ماخپلې بی بی سره ايخې دي په هغه کې مې ددومره مال دخپلې خوردواده دپاره اوددومره دخپلې بی بی دپاره اوددومره مال حج بدل دپاره اوددومره مال دوروکې وروردپاره اوددومره مال دخپل خوي دتعليم دپاره وصيت کړيدي دهغې نه وروستوهغه وفات شوپه دريمې ورځ يوه عام مجمع کې دهغه دښځې نه تپوس وکړي شو چه ستاخاوندتاته څه وصيت کړي وه نوهغې هم هغه تفصيل څه کمې زياتې سره بيان کړوهرکله چه مال وکتې شونوځومره مال چه دي زيدبيان کړي وه هغه هومره راونه وتوبلکه تقريباً نيم مال وه اوس دي صورت کې دوصيت په روسره خوراووروته دثلث کې دکفن دفن اوقرضونواداکولونه وروستوچه څه پاتي شي جائزدي اوس داکتل پکاردي چه ايابنځې صراحتاً داهم اقرارکړيدي چه ماسره يې دومره مال ايخې دي پاتي دااقرارنه دي کړي صرف حساب يې خودلی دي که چرته دااقراريې نه دي کړي نوښځې باندي ضمان نشته اوکه چرته دهغې اقراريې کړيدي نوبياپه هغې کې تفصيل دادي چه که چرته ښځې په حفاظت کې کمې کړيدي نوهغې باندي ضمان دي اوکه چرته يې نه دي کړي نوپه هغې ضمان نشته - اوپه هغې کې دښځې قول سره دقسم نه معتبردي غرض چه ځومره مال ښځې سره اموندلی شو- هغه که چرته دثلث نه زيات نه وه نوپه هغې کې

وروراوخوردپاره وصيت کولی شي خوکه چرته ښځه اقراروکړي چه مال زيات وه اوسره دحفاظت نه هغه ضائع شويدي نودي خاص صورت کې به هغه مجموع ته کورو چه دثلث نه کم هم دي که چرته هغه مجموعه زياته وه- نوبياپه ثلث کې وصيت کيږي- اوباقي کې به په هغه نسبت سره اخلې نودي دوارثانوحق دي مثال ددي دادي چه دچامال تول شپيته روپۍ دي اوهغه ددريرشووصيت وکړواوهغه ښځه ددي مقداراقرارکوي خوپه هغې کې پنځلس روپۍ سره داحتياط نه ضائع شوي دي سره په ښځه ضمان لازم نه راځي نواوس په ظاهره کې داپنځلس نيمه ده دهغه ديرشواوثلث ددي مجموع چونکه واقع کې دتول مال ثلث نه دي بلکه دهغې ثلث شل روپۍ دي- اوس روپۍ زياتي دوراثانووي - په دي وجه دغه ورك شوي مقدارکې به هم نهبيت سره دواړومالونوته به روك شوي اووايې يعنی پنځه روپۍ دوارثانولاړي اوس دوصيت نه لاړي نوباقي پنځلسوکې به پنځه روپۍ وارثانوته واپس ورکړي شواولسوروپوکې به وصيت جاري شي ځان ښه پوهه کړي (۲۱ربيع الاول ۱۳۳۳هـ) تتمه ثالثه/ص ۱۲۴

ابطال بعض تدا بيرافرازحقوق بعض

ورثه وتصحيح بعضی تدا بير ان ازمورث

سوال :(۴۱۹) وروميې داخط راغې ا حضرت نن صبايوانتظام پيښ شويدي په ديکې دحضرت صاحب مشوره دخپل اصلاح اودفائدي باعث ګنړم په دي وجه دالاندينې خدمت دي دنيکه جائيدادمې دشرعې حصې مطابق په لونړواوخامنوکې تقسيم شوي وه خودخويندودوفات نه وروستوزماپلارزمااوښودومره پريشان کړيدي چه وهل تکولوپورې نوبت هم راغليدي په دي وجه اوس هم اوددي نه مخکې هم ديرخلقووئيل خپلوخامنوته چه تول جائدادپه خپل نوم کړي بياخپلې خويندي په څه طريقې رضاکړي کنې تاسوبه هم په دي تکليف کې لګياشي خومابه هميشه داجواب ورکولوچه داشرعاً بالکل جائزنه دي اوقيامت کې به بړي بيانيول وي څه رنګ چه ستاسوداخيرخواهي مقتضی ده چه مونږدتکليف نه بچ کوي دغه شان زمادخيرخواهي تقاضاهم داده چه مونږ خلاف دشريعت څه کارنه کوو چه تاسوپه عذاب اخروي کې مبتلاکړو- البته داسې کيديشي چه که چرته تاسوصرف دجينکونومونه خپژول غواړي نودجينکواوورسره دموردحصوهم قيمت ولګوي اوقسط

وارث دهغې دا دا کولو وصیت وکړي او که چرته هلکان دا قیمت قسط وار ادا نه ي نو جینکی دي خپل شرعي حصه د جائداد نه واخلی۔ خودي تولو امورو د پاره قانوني کاروائي هم ضروري ده چه آئنده د پاره څه قسم خفګان او نشي لهذا د حضرت والا په خدمت کې چه ایا دا صورت کوم چه مخکې بیان کېږي شو په دیکې څه شرعي خرابي خو نشته ظاهراً خو دا معلومیږي چه هرکله د جینکو حصه اګرچه قیمتاً وي پوره پوره ادا کړي شي نو زما د پلار مواخذه به نه کیږي ځکه چه په معاوضه سره پوره حق ورکړي شو صرف دبرتي مصلحت د دي صورت د اختیارولو باعث وګرځید وکلی څه عذر هم نشته —داهم ولیکن چه د والد صاحب په ژوندکې د جینکی راضي کول او د دي خبري اطلاع کول هم د والد صاحب په ذمه ضروري دي د والد صاحب په درخواست می د دي مسئلې تپوس وکړو چه د اسې صورت اختیارولو سره به والد صاحب د مواخذه اخروي نه بچ کیږي یا نه کنې بنده خو خپلې شرعي حصې نه زیات تجاوز کول مطلقاً نه غواړي هرڅنګه مصلحت چه هم وي فقط والسلام۔

دغې دا جواب وشو

دا صورت په شرعي قاعدو باندي نه منطبق کیږي

بیادي جواب باندي دا خط راغی

که جناب ته تکلیف نه وي نو څه د اسې صورت ولیکئ چه شرعي قواعدو باندي هم منطبق کیږي او په هغې کې دغه مذکوره تکلیف هم ختم شي

بیا دا جواب وشو

وفي رد المحتار قال القهستاني واعلم ان الناطفي ذكر عن بعض اشياخه ان المريض اذا عين لواحد من الورثة شيئاً كالدار على ان لايكون له في سائر التركة حق يجوز وقيل هذا اذا رضي ذلك الوارث به بعد موته فحينئذ يكون تعيين الميت كتعيين باقي الورثة معه كما في الجواهر اه قلت وحكي القولين في جامع الفصولين فقال قيل جاز وبه افتي بعضهم وقيل لا اه ، ص ۳۴۴ ج ۵. دي روایت نه معلومه شوه چه که چرته مورث په خپل پریخودلی شوي مال کې د اسې وصیت وکړي چه فلانی وارث ته فلانی څیز ورکړي او فلانی ته فلانی څیز خو په دي شرط سره چه هغه اندازسره د هغی حصه شرعي ده کمه نه وي جائز دي او که چرته کم وي نو جایز نه دي ځکه چه وصیت د وارث

دي کوم چه ناجائزه دي۔ او په دغه ذکر کړي شوي طریقه تعین کول د اتقسیم دي او د هغی ولایت صورت نه ورکړي شویدي۔ او دغه وجه د تطبیق ده د وار و قومونو کې کوم چه د ي ذکر شوي روایتونو کې دي۔ نو د ي بیناد باندي د ي ستا والد صاحب د اسې وکړي چه تولو وارثانو د پاره د هغوي د شرعي حقونو موافق ځانله ځانله د اسې څیزي جوړ کړي چه جینکو سره د هلکانو شرکت نه وي صیت ولیکئ چه د هغې موافق تقسیم وي ۲۷۱ ربیع الاول ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه ص ۷۰)

دمرض الموت دمعنی تحقیق

سوال :(۴۲۰) صفائي معاملات کې چه د دي په تعریف کې کوم عبارت دي هغه پوره نه دي د هغې د پوره کولو ضرورت دي۔ هغه نیمګړي عبارت دا دي مرض الموت کې یعنی هغه بیماري چه هغه کې د سري د جوړید و امید نه وي ؟

جواب : نور دغه شان پکار دي چه مرض الموت یعنی په کوم حالت کې چه د سري د جوړیدو غالب امید نه وي بلکه مرګ وي۔ نو کوم مرضونه چه ډیر وخته پوري یو حالت کې وي لکه فالج وغیره هغه د دي نه خارج دي۔ کذا في الدر المختار کتاب الوصایا ۱۵ ذی قعده ۱۳۳۵ھ (ترجیح خامس ص ۱۲۴)

دغیرپه ځاي کې د خرچ کولو وصیت یعنی دیو

قرض دار قرض ادا کول یا یونیورسټی کې ورکول

سوال :(۴۲۱) (۱) یو سړي حج ته تلی وه اتفاقاً مدینې منوري ته نژدې وفات شو د وفات نه مخکې چه کومې روپی ده سره وي هغه یې خپلو ملګروته رکړي چه دا په نیک کار کې ولګوي کوم ځاي چه ستا سو زړه غواړي او شلور سوه روپی یې په کور کې بښخی کړي شوي او خودلی د هغې باره کې هم دغه شان وو نیل هر کله چه دده ملګري راغلل هغوي بیان وکړو ژه دا معلومول غواړم چه دي روپو نه د ثواب په غرض یو قرضدار ته چه د قرض نه ډیر پریشان دي بښخوس ورکول چه د قرضی نه خلاص شي نو دا شرعاً جائز دي یا نه۔ او کومې روپی چه بښخی کړي شویدي هغه بغیر د یو عهدي واله د مددنه خپل لاس ته را تلل ډیر ګران دي کوم سړي چه دي د حاصلو په مینځ کې واسطه ده هغه علی ګړه د خیال لرونکو نه دي چه روپی وصول شي

نو ضرور به هغه د علي ګړه یونیورستي دباره په هغې کې لګوارې دې صورت کې دې نه شي حصه په دې مد کې ورکول او توري په څه صدقه جاریه کې لګول جایز دي یا نه؟ (۲) او علي ګړه یونیورستي کې د چا چنده ورکول څنګه دي که چرته په صورت کې هم ناجائزوي نو زه به دیه خپل وس موافق دې کل کې په دیکې د چندې نه ورکولو کوشش د وعظ په ذریعه کووم

جواب: (۱) دې فرضدارته هم ورکول جائز دي او داسې مجبوري په حالت کې یونیورستي کې ورکول هم جائز دي. (۲) یونیورستي کې ورکول جائز نه دي خو زما په رائې کې نه خپل خان دې تکلیف کې مه غورزه -۱۰ ربیع الاول ۱۳۳۰ھ تتمه اولی ص ۲۰۹

د وصیت د یو مخصوص صورت حکم

سوال: (۴۲۲) هندي ته څه نغدي روپۍ سرکاري ملاویدې هغې دې لره د خپلې انګور مسماة زینب په نوم هبه کړې د هغې خاوند د هندي خوي مرشوي وه. اووې لیکل چه زمانه وروستو به دا روپۍ زما انګورته ملاویږي او د دې د وفات نامه وګرځیده ثلث زینب موصی لهانه ورکړې شو باقي دوه ثلثه د هندي وارثانوته. اوس موصی لها مسماة زینب وفات شوه نو اوس به دا دوه ثلث د زینب وارثانوته ملاویږي که د هندي وارثانوته؟ د بعض عالمانو رائې ده چه په موجب د شرط د هبه تملیك دي په دې وجه کوم شرط چه د دې خلاف وي هغه باطل دي نو د دې ثلث مستقل مالك زینب ده د دې وفات نه وروستو به د دې وارثانوته ملاویږي؟

جواب: چونکه وصیت یا هبه د واړه خاص دي ملك د موصی او واهب سره کوم چه شرعاً ئې کاره دي او کومې روپۍ چه هندي ته سرکاري ملاویږي هغه تبرع محض ده. مخکې د قبضې نه به دیکې ملك یا حق د تملیك هغې ته حاصل نه دي لهذا د هندي دا ویناته وصیت دي نه هبه ده بلکه تصرف دي په حق د غیر کې خو چه هر کله سرکار یو ثلث زینب ته ورکړو او دوه یې د هندي وارثانوته چونکه د ابتداء تبرع ده په دې وجه دا احتمال او ورکول دواړه جائز شول اګرچه د دوي دا بیا د چه دا یې وصیت وګرځو صحیح نه دي او س زینب د وفات نه وروستو هم بناء علی الوصیت د چا حق نشته لکه څنګه چه بیان شول بلکه سرکار چه چاته خومره ورکوي هغوي ته هغه هومره اخستل جائز دي دا یو ل تبرع مبتدا ده نو د بعضو دا ویل چه د هندي د شرط موافق به مستقل کولی شي یا د بعضو دا ویل چه وصیت تملیك دي الخ، په دې وجه صحیح نه دي چه شرط او تملیك دواړه مخصوص دي ملك او حق د ملك سره او دلته هغه نشته بلکه

څنګه چه ذکر کړې شول. او دویم قول په دې هم صحیح نه دي که چرته دا تملیك واقعي هم وي خو چونکه موصی به عین نه دي حق محض دي او په حقوقو کې د وصیت بقاء د موصی ژوندون پورې دي د هغه د مرګ نه وروستو هغه موصی به د موصی وارثانو طرفته راګرځي -فی الدر المختار وردا ختار بموت الموصی له بعد موت الموصی یعود العبد والدار ای خدمة العبد و سکنی الدار وغلتهما الی الورثة ای ورثة الموصی بحکم الملك ای ملك الموصی او ورثته فلا یعود الی ورثة الموصی له اه ملخصاً ومثله الهدایه ۳۱ ذي الحجه ۱۳۳۱ھ امداد ج۳ ص ۲۰۷

(کتاب الفرائض)

جریان میراث در اسباب خریدکرده میت

برای غرض خاص وقول ذی الیدوقت اختلاف

سوال: (۴۲۳) زما د ماما په ترکه د مړي پریخودلی شوي مال کې قسماقسم څیزونه دي یو خاص د هغه د استعمال لائق لکه د ناریتو کیږي وغیره دا خو به یقیناً د وارثانو په منیځ کې تقسیږي دویم خاص زنانه څیزونه لکه د زنانو کیږي وغیره نو دا به په بیبیانو[1] کې چه څه د چا په قبضه کې دي غالباً د هغوي په ملك کې به وګرځولی شي او وراثت به پکې نه جاري کیږي دریم د کور سامان لکه لوټه، پتیله، صندوق، تخت کټ وغیره د کور سامان د دې دریم قسم داخال دي چه بیبیانو کې چه کوم څیزچا سره دي هغوي په هغه څیزباندې قابض دي. داهم ترکه کې داخل دي یا نه. ایا داسې ویلی شي چه څه د کور سامان چه په ژوند کې بیبیانوته ورکړې شوي وه هغه ورکول د هبې په طور وه څه د زنانو تاتونه وروسته بې بې سره د دې عاجز د نکاح په غرض وه. د دې څه حکم دي د مامې صاحبې د ورکولو په صورت کې د دې اخستل جائز دي یا نه؟

جواب: فی الدر المختار باب التحالف اختلف الزوجان فی متاع فی البیت فالقول لکل واحد منهما فیما صلح له مع یمینه والقول له فی الصالح لهما وان مات احدهما واختلف وارثه مع الحی فی المشکل فالقول فیه للحی اه - امداد ج۳ ص ۱۱۵

[1] مراد دې نه یو دبی بی نه ده بلکه دواړه دي څنګه چه د مړي دوه ښځې وې ۱۲

وارث شدن ابن الزنا از مادر خود

سوال :(۴۲۴) ولد الزنانه خوبه د مور طرفنه غالباً ضرور میراث ملاویږي البته د پلار طرفنه خوبه نه ملاویږي ځکه چه نسب ثابت نه دي- او د غیر ثابت النسب کید وغالباً دغه مطلب دي چه د پلار نه نسب ثابت نه دي د مور نه خو به مثل راځي چه څه ستاسو او چته رایې وي هغه اوفرمائي؟

جواب : د مور د طرفنه یې نسب ثابت هم دي او میراث به هم اخلي- في الدر المختار ولد الزنا یرث من توأمه اخ قلت فمن الام اولى .والله اعلم. ۱۸ ربیع الاول ۱۳۲۱ھ امدادج۴ص ۱۱۲۔

تقسیم بدون امتیاز و تسلیم حصص

سوال :(۴۲۵) زید وفات شو او خالد ولید او عمرو خامن .او ساجده عابده دواړه لونړه – او یوه ښځه حامده یې پریخوډل- د زید په ترکه باندي صرف خالد قابض وه- هغه دا ترکه د شریعت موافق تقسیم کړه- خو مساة عابدي ته یې د هغې حصي نیمه اداکړه او دنیمه ورکولو وعده یې وکړه د هغې نه وروستو مساة عابده وفات شوه او یو خوي او یوه لور او خاوند یې پریخودل د دي وارثانو د خالد نه هغه باقي نیمه اوغوښته بیا خالد یوه هفته کي د اداکولو وعده وکړه د غه شان یه د خالد نه غوښتي شوه او هغه به د هفتي او لسو ورځو کي د ورکولو وعده کوله. آخر خالد ووئیل چه زمانه غلا وشوه او زما مال سره نیمه حصه د عابدي کومه چه ما سره وه هغه هم غلا کړي شوه د هغې نه وروستو خالد خان د پاره جائیداد واخستو- اوس دا خبره معلومول غواړو چه هغه نیمه حصه د مساة عابدي کومه چه خالد سره پاتي وه هغه از راه شریعت د خالد په ذمه واجب الاداده یانه؟

جواب : في الدر المختار من کتاب القسمة ورکنها هو الفعل الذی یحصل به الافراز والتمییز الانصباء ککیل ووزع وفیه ایضاعن الخانیة مکیل او موزون بین حاضر وغائب او بالغ وصغیر فاخذ الحاضر او البالغ نصیبه نفذت القسمة ان سلم حظ الآخر والا لا .دي روایتونو نه معلومه شوه چه تقسیم کي چه تر څو پورې د ټولو حصه نه وي جدا شوي هغه تقسیم معتبر نه دي بلکه مال مشترك په خپل حال مشترك دي د غه شان که چرته بعض شریکان خپله حصه جدا کړي خو بعضو ته خپله حصه نه وي سپارلې شوي هغه تقسیم نه نافذیږي نو دي صورت مسئوله کي عابدي ته چه کومه حصه نه ده سپارلې شوي هغه مشترك پاتې ده او د ټولو غلا وشوه

په دي وجه د زید د ترکه نه د ا مقدار حسابا کړي څومره ترکه کي پاتي شوه هغه بیا د سرنه تقسیم کړي او وګوري چه دي باقي کي د عابدي څومره حق دي هغه ټولو وارثانو ته چه څومره حصه رسي د هغې مقدرا پوره کولو د پاره د مطالبې کولو مستحق دي چونکه دي مسئله کي هغه وفات شویده – په دي وجه د هغې وارثان د غه شان دید مطالبې مستحق دي فقط. والله اعلم ۱۲ صفر ۱۳۰۲ھ امدادج۴ص ۱۱۲۔

توارث اخت من الزنا

سوال :(۴۲۶) زید وفات شو یو منکوحه یې بي الف دوه لونړه «ب» «ج» یوه منکوحه وینزه دا یوه لور دوینزي نه ده دي پیدائش د نکاح نه مخکښې دي او ددي وینزي نه یو ځوي زاویږو کي سکه ورور «ط» دا وارثان یې پریخودل بیا خوي د پلار نه پنځه کاله پس وفات شو- دي صورت کي به د زید ترکه په میراث کي هر یو ته څومره رسي؟

جواب : مسئله ۳۲ ,۹۲.

زوجه	زوجه	بنت	بنت	بنت مولود قبل نکاح	ابن	اخ
(الف)	(د)	(ب)	(ج)	(ه)	(ز)	(ط)
۲/۶	۲/۶	۷/۲۱	۷/۲۱	م	۱۴	م

مسئله ۶

زمف ۱۴–

ام(ز)	اخت لام (د)	اخت الاب (ب)	اخت الاب (ج)	عم (ط)
۱/۷	۱/۷	۲/۱۴	۲/۱۴	م

(۹۶) المبلغ الاحیاء

الف	د	ب	ج	ه
۶	۱۳	۳۵	۳۵	۷

السخ دي برنسي صورت کي بعد تقدیم ما یقدم علی الارث په شان د کفن دفن اداکولو د قرضونو چه په هغې کي د دواړو بیبیانو مهر هم دي او تنفیذ د وصایا په شرط د حصر د وارثانو د ترکي د زید شپږ نوي حصي به شي الف یعني د زید بي بي ته به شپږ حصي او «د» یعني دویم ښځي وینزي ته به دیارلس حصي او «ب» او «ج» یعني دواړو لونړو

دزيدته پنځه ديرش حصې هرې يوې ته ورکړې شي او((ه)) يعنې هغه لورچه دځاپيد اښې چه دنکاح نه مخکې دې هغه چونکه دزنانه پيداشويده په دې وجه شرعاً دزيدته دهغې نسب نه ثابتيږي نوددهٔ نه خوارثه نه جوړيږي خود((ز)) يعنې دزيددخوې چونکه اخيافي خورده په دې وجه دهغه وارثه جوړيږي په دې وجه دهغه دترکې نه به((ه)) ته اوه حصې ملاويږي (الذي الحجه ۱۳۲۰هـ امدادج۳ ص۱۱۷)

عدم جريان ميراث دروظيفه سرکاري تنخواه

سوال :(۴۲۷) زيد ،بکر ،عمرواوخالدهنده اوزينب سکه وروڼره خويندې دي دزيداوبکرپه موجودګې کې عمرواوخالدوفات شول ده نه اولاد نارينه اوزنانه پاتې شول- دهغې نه وروستوبکرهم وفات شواويوه ښځه ترينه پاتې شوه دهغه په نوم چه کومه وظيفه دسرکارطرفنه مقرروه دهغې په تقسيم کې جهګړه اوشوه دزيددعوئ ده چه چونکه زه حقيقي وروريم په دې وجه دښځې حق پريږدې باقي ټول زماپه نوم مقررکړئ دښځې دادعوئ ده چه خاوندټوله ترکه زماپه نوم مقررول پکارده دعمرواودخالداولاد ددې خبرې دعويداردي چه داوظيفه دسرکاردطرفنه په طوردپرورش ټول اولاد دپاره مقررشويده اوپه وخت دتقسيم داوظيفه سرکارجائيدادمملوکه نه دې ګرځولې بلکه داسې وظيفه جائيدادکسب کړې شوې ګرځولې شې داسې حالت دتنخواه موږټول اولادهم ملاويدل پکاردي ځکه چه څه زموږدموراوپلاردژوند دوجه نه دبکرپه مينځ کې وه هغه زموږدموردوفات کيدودوجه نه ختم شول اودزيدپه شان موږهم نزديکت لروآياداوظيفه دزيددخواهش موافق تقسيديشي يادهغه دښځې دخواهش موافق - اولاددعمرواودخالدددې دليل دوجه نه حصه موندلې شي يانه؟

جواب : چونکه ميراث مملوکه مالونه کې جاري کيږي اوداوظيفه دسرکارمحض تبرع اواحسان دې بغيردقبضې نه دامملوك نه ګرځي په دې وجه آئنده چه کومه وظيفه ملاويږي په هغې کې به ميراث نه جاري کيږي سرکارته اختياردې چه څه رنګ غواړي تقسيم دې کړي البته که چرته داوظيفه ديوجائيدادجائزه ګټه ده نوپه هغې کې بياميراث جاري کيږي په هغې صورت کې به دبکرپه ترکه کې دده ښځې ته څلورمه حصه ملاويږي ځکه چه اولاديې نشته باقي دزيداودهغه ددواړوخويندوحق دې - دللذکرمثل حظ الانثيين - اودوروڼرودخويندوپه موجودګې کې دعمرواودخالدداولاهيڅ حق نشته- ۹۱محرم ۱۳۲۲هـ امدادج۳ ص۱۱۷

اعتبارجهتين درميراث

سوال :(۴۲۸) وارث علي وفات شوهغه يوه بي بي مسماة امة الله اودرې دترځامن يرذوالفقارعلي دويم محمدعلي اودريم احمدعلي وارثان پريخودل او احمدعلي دتره ځوي هم دې اوابن الام هم دې دوه جهته لري نودوارث علي ترکه به په دې وارثانو څه رنګه تقسيمږي؟

جواب : پس دتقديم دحقوق متقدمه ټوله ترکه به په شپږديرش حصوباندې تقسيم کړيشې ښځې ته په نهه اواحمدعلي به ديارلس اوذوالفقارعلي اومحمدعلي ته به اوه اوه ملاوشي في الدرالمختارويأخذابن عم هواخ لام السدس بالفرض ويقتسمان الباقي بينهما نصفين بالعصوبة حيث لامانع من ارثه بهمافيرث بجهتي فرض وتعصب والتخريج هكذا

زوجة	اخ لام	ابن العم	ابن	ابن العم
امة الله	احمدعلي	احمدعلي	ذوالفقارعلي	محمدعلي
۹	۲	۷	۷	۷

(امدادج۳ ص۱۱۸)

منتهي شدن عصوبت باولادعم الجد

سوال :(۴۲۹) دشريعت محمديﷺ مسئله داده چه هرکله عصبه نه وي....نوذوي الارحام وارثان جوړيږي خواخبره ممکن نه ده چه ديومتوفي وفات کړې شوې هيڅ عصبه نه وي که چرته دحضرت ادمؑ رشته ولګولې شي مثلاً ديوعلوي ياصديقي وغيره وفات وشي يوغاصب دمتوفي په جائيدادباندې قبضه حاصل کړه بياذوي الاحارم دعوئ دمتروکې وکړه غاصب داوائي چه تاسوهغه وخت وارث جوړيدېشي چه کله عصبه نه وي دعلوي اودصديقينوپرخاندانونه په دنياکې موجوددي څوپورې چه هغوې موجوددي تاسوپه حيثيت دذوي الارحارم وارثان نه شې جوړيدې نوداسې حالت کې ذوي الارحامولره دعصبې عدم څه رنګ ثابتول پکاردي په ښکاره خبره ده چه دعصبې عدم ثابتول تقريباً محال دې نوددې دامعنې شوه چه ذوي الاحارم دمتوفي دترکې کله هم وارث نه شې جوړيدې داخبره اګرچه دعقل خلاف ده خودې دپاره دفقې ديومستند کتاب ضرورت دې مهرباني وکړې دفقې دکتابونوپه حوالې سره جواب وليکئ؟

جواب : ددي غاصب ددي باطل استدلال دا جواب کافي دي چه شريعت ذوی الاحارمو لره هم وارثان جوړ کړيدي کنی که چرته عصبې کې دومره تعميم وي نو ذوی الاحارمو دوارث کيدو به هيڅ معنی نه وي دا خو په خپله شريعت باطل کوي ددي نه به زيات څه دليل وي او کوم امامان چه د ذوی الاحارمو ميراث قائل نه دي هغوي هم دا دليل چرې نه دي بيان کړي او دهغوي نه يې وروستو مستحقينو لره ميراث ورکړيدي تردي چه په آخر کې يې بيت المال مستحق ګرځولی دي نو دا ټول حکمونه چه نصاً او اجماعاً ثابت دي ټول به باطل شی او د نص او د اجماع ابطال باطل دي او کومه دعوی چه مستلزم وي امر باطل لره هغه په خپله باطل ده معلومه شوه چه دا استدلال او دعوی د غاصب باطل ده. د ټولو کتابونو د فرائضو او فقې د تصريح موافق ټول عصبات دا دي ابن ثم ابن الابن وان سفل،اب (۲ جد (۳) صحيح وان علا حتی الی آدم ﷺ جزء الاب وان سفل ،جزء (۵) الجدیعنی عم ثم ابنه وان سفل عم (۷) الاب ثم ابنه وان سفل ،عم الجدثم ابنه اون سفل- بس دي باندي عصبات ختم شول او مفهوم د تصانيفو د عالمانو د تصريح موافق حجت دي معلومه شوه چه دي نه مخکې عصبات نشته او دريمه مرتبه کې د جد په عموم وان علا سره په نورو مرتبو کې عموم لازم نه دي بلکه عدم عموم ځکه لازم دي چه د عموم په صورت کې د جزء الجد کې جد ته عام وئيلی دي نو دهغې وجه دا ده چه بعض متونو کې يې ټول مراتب په څلورو عنوانو کې منحصر کړيدي جز(۱) اصل (۲) جزء الاب (۳) جزء الجد (۴) په دي باندي دا شبه راتله چه دا په عم الاب او عم الجد کې شامل نه دي – دهغې دفع کولو د پاره يې ورته عام ووئيل دي نه معلومه شوه چه دي عموم نه مراد مطلق عموم نه دي بلکه عموم خاص دي چه کوم تناول په عم الاب او عم الجد باندي ختميږي لکه څنګه چه شامی دا سوال په دي طريقې دفع کړيدي نو ثابته شوه چه نورو مراتبو کې د جد نه خاص اب الاب مراد دي نو کوم سړي چه د مړي د اب الاب د عم د او لادنه هم نه وي هغه عصبه نه دي او دا ډيره ښکاره خبره خو لږ غوندي پوهه پکار ده [۱] فبای حديث بعده يؤمنون والله اعلم وعلمه اتم ا۳۰ ذی قعده ۱۳۲۲ھ امداد ج۳/ ص ۱۱۸)

---

[۱] ددی نه حضرت رجوع کړيده دهغې تفصيل په کتاب کې د ليکلو نه پاتی شويدي ۱۲ / ۱۳ ختم

وضع ترکه دربيت المال ومصارف ان

سوال :(۴۳۰) زيد مړ شو په ده باندي د يو سبزي والاقرض وه او زيد دومره روپی نه پريخودی دي چه هغې سره قرض اداشی او د زيد د مرګ نه مخکې هغه سبزي والا مړ شوي وه صرف دهغه وراره پاتی وه څه موده وروستو د زيد وارثان يو مکان د زيد خرڅول او غوختل چه قرضه اداکړي خو کوم وخت چه يې اداکول غوختل دي وخت کې ددي سبزي والا هيڅ وارث نشته اوس سوال دا دي چه دا د قرض روپی به په کوم ځاي کې لګوي چه د زيد غاړه خلاصه شي؟

جواب : دا صل قرضدار و په نژدې دلري رشته دارانو او ددي وراره په نژدې دلري رشته دارانو تحقيق ضروري دي که چرته پکې څوك موجود وي نو هغه وليکئ چه مسئله وخودلی شی او که چرته هيڅوك هم موجود نه وي نو دا روپی په داسی کارونو کې لګول پکار دي د جوماتونو په مرمت او خدمت کې تيل، باتی، لوټه، ډول، رسئ، که د مؤذن او د امام په تنخواه کې اسلامی مدرسو کې د عالمانو په تنخواه کې د طالبانو د خوراك څکاك په انتظام کې او کوم خلق چه بغير د تنخواه نه د الله رضا د پاره ديني علم ښائي (والدلائل هذه) فی کتاب الفرائض من الدالمختار ثم يوضع فی بيت المال لارثابل فيئاًللمسمين وفی باب اللقطة منه الاذاعرف انها لذمی فالها توضع فی بيت المال ،فی ردالمحتار للنوائب بحرط وفيه قبيل باب المرتدوما اخذمنهم بلاحرب ومنه ترکة ذمی الی قوله صالحنا ثم قال وکفاية العلماء والمتعلمين تجنيس الی قوله وبه يدخل طلبة العلم فتح فی ردالمحتارومثله بناء مسجدوحوض الی قوله وکذا النفقة علی المساجد کمافی ذکوة الخانية فيدخل فيه الصرف علی اقامة شعائرمن وظائف الامة والاذان ونحوهم بحرو فی باب المستامن من الدرالمختار فان دانه حربی دينابيع اوقرض وبعکسه اوغصب احدهما صاحبه وخرجا الينا لم يقض لاحدبشئ ويفتی المسلم بردالمغصوب وبردالدين من ترکة هذا الرجل الکافر واجب رده ديانة سواء کان ذمياوحربيا ويکون علی کل فيسايصرف فی مصارفه فانطبق الجواب علی کلاالقولين فی الهنداهودرالسلام ام دارالحرب فافهم فقط والله تعالی اعلم وعلمه اتم، (۱۵ ذی قعده ۱۳۲۳ھ امداد ج۳/ ص ۱۱۹)

صورت تقسیم میراث واستحقاق نفع ومطالبه

دین درمیان ورثاء مختلفین اشتراکاً وانفراداً

سوال :(۴۳۱) څه فرمائي علماء دین او مفتیان شرع متین په دې مسئله کې چه شپارلس کاله وشول چه زید وفات شوېدې او اوه ځامن محمود، عبدالحمید، احمد، عبدالحلیم، محمد سلیم، عبد المجید او محمد شبلي او دوه لوڼه اقلیمه او نعیمه او بوه بي بي سکینه یې وارثان پرېښودل خو محمود د زید په ژوند کې جدا شوي وه او زید ورته یوه ټکړه ځای ورکړي وه نورو ځامنو د زید د وفات نه پس یو ځای ځپل ځپل کارونه کول دغه نه وروستو عبدالحمید هم څه دولس کاله اوشو چه جدا شو دغه نه وروستو محمد سلیم هم شپږ کاله وشول چه څه روپۍ یې په ناجائزه خرج کړې او جدا شو. عبدالحمید اوه کاله اوشول چه وفات شو باقي احمد او عبد الحلیم او محمد شبلي تر واسه پورې یو ځای دي خو عبد الحلیم د زید د ژوند نه تر واسه پورې کار کوي او احمد د لسو کالو نه کار کوي او محمد شبلي د زید د وفات په وخت کې د یو کال وه د دریو څلورو کالو نه کار کوي د یارلس کاله وشول چه اقلیمه وفات شوه او دوه کاله وشوه چه مسماة سکینه وفات شوه. د زید ترکه تر واسه نه ده تقسیم شوي د زید د ترکې نه او څه نورو مالداره خلقو نه یې روپۍ واخستي او دې هلکانو پرې کاروان کړو او ډیر مال یې حاصل کړو او س به دې حالت کې مال څه رنګ تقسیمیولی شي؟

جواب : بعد تقدیم حقوق متقدمه علی المیراث د زید ترکه به په (۱۲۸) حصو باندې تقسیم کړیشي په اوه هلکانو کې به یو یو هلك نه ده څوارلس څوارلس او داوړه جینکوته اوه اوه او ښځې ته به شپارلس ملاویږي او مجموعه چه کوم مکان زید ورکړي وه که د مرض موت نه یې مخکې ورکړي وي هغه بغیر د خالص شرکت نه دهغه مملوك دي او باقي ترکه د بر نو حصو موافق مشترك ده بیا نور هلکاچه یو ځای کار کوي که چرته داکار د ټولو حصه دارانو رضامندي سره وه نو په ګټه کې به هم ټول شریك وي او که چرته بعض وارثان رضانه وه نو دوي په ګټه کې نه شي شریکیدې البته دا ګټه په دې وجه چه مال غیر کې بې اجازته تصرف وه جائز نه ده بلکه د اصدقه کول واجب دي بیا عبدالحمید چه روپۍ اخستي دي او جدا شوي دې دغه وخت چه د زید ترکه څومره موجود وه په هغې کې د عبدالحمید حصه کتل پکار دي چه څومره وه که د واړه برابروي نو حساب برابر شو او که چرته د واړو کې غرق وه نو د کمی زیاتي

حساب به نورو وارثانو سره وي څومره چه دغه ترکه او موندی شوه دغه شرعي وارثانو کې به تقسیمولی شي دغه شان د اقلیمي او سکینې د وفات په وخت به هم دغه عمل درامدوي او شرکت في النفع د پاره د کار کولو ضرورت نشته صرف د امید خو په شرط د بلوغ ضرورت دي نو چه کوم هلکان نابالغه وه دهغوي په مال کې د تجارت کولو ورونړوته حق حاصل نه دي دغه شان چه کوم رضانه وه په دوي وجه هغوي به نه په ګټه کې شریکیږي او نه په دوي باندې د مالدارو قرضه راځي باقي وارثان به په نفع او قرضه د واړو کې شریك وي. والله تعالی اعلم.

(امداد ج۳ صـ ۱۲۰)

تقدم حق مرتهن برمهروغیره درترکه

[دامسئله په دریم کتاب الرهن صفحه کې تیره شویده]

سوال :(۴۳۲) مسماة زاهده بانو یك برادرزاده ودو دختر وارث گذاشته فوت شده دسوای زرنقد بابت مهرخود چیزی ترکه نه کرده پس درین صورت درعوض مهرمیّت مزبوره بدختران چه قدر میرسد وبربرادرزاده چندروزمهربمال متروکه محسوب است یاچگونه، بینوا توجروا؟

جواب : زرمهرهمچو دیگراموال مملوکه درمال متروکه محسوب است درترکه شما خواهد شد پس زرنقد گذاشته میت مع مهرهمه راترکه قرارداده برسه حصه منقسم خواهد شد، دوثلث بدودختر یك ثلث باقی به برادرزاده خواهد رسید پس مسئله ازسه شد وایشان را اختیار است که اززوج متوفیه تقاضا مهرکرده وصول کنند والله اعلم. (۲۳ جمادی الثانیة ۱۳۰۰ھ امداد ج۳ صـ ۱۲۲)

حکم عطائی سرکاري رابخدمت برای مددومعاش

سوال :(۴۳۳) خدمت قضاوت حسب فرمان سلطان بنام زید مقرر بود وزید چهار پسر داشت مسمیون عمرو وبکر ومحمود وازان جمله عمرو پسر کلان روبروئ زید بحصول سند سرکار برانعام خدمت مذکوره قابض گردیده بموجب وصیت زید نصف معاش خدمت مذکوره درقبضه خود داشته درباقی نصف معاش به بکر وخالد ومحمود علی السویه برائ قوت بسری آنها تقسیم کرده دادمگر اسناد سرکاری بشروط کلهم معاش بنام عمر حاصل می شود بعد فوت عمرو ابراهیم پسرش بدستور پدر بحصول اسناد سرکاری بشروط کلهم معاش برنصف حصه خودتا حالت تحریر قابض ومتصرف است پس درملك مشروط الخدمت سوائ عمرو

وابراهيم بموجب سند خود معاش منقسم ازبکروخالد ومحمود وواپس کردن خواهد دعوی ابراهيم درمعاش منقسمه درست می گردويانه وفی زماننا حکام سرکار آصفيه حصه درملك مشروط الخدمت می کنند این چه جواب موافق کتب هائ معتبروفقه هائ مسجّل زیر سطور هذا زيب ومزين خواهند فرمود ،بينوا توجروا ؟

جواب : ملك که زيد قاضي رااز سرکار عطا شد اگر سرکار زيد رامالك کرده است بعد وفات درو ميراث جاری خواهد شد وهمه وارثانش مستحق حصص خواهند شد واگر آن ملك از سرکار بمقابله هيمن خدمت است پس هرکه برآن خدمت مقرر باشد همان مستحق است بشرط اذن سرکار آصفيه ودرو ميراث جاری نخواهد شد ،والله اعلم فقط (۲۳ جمادي الثانية ۱۳۰۰هـ امداد ج ۳ صـ ۱۲۲)

حل حديث متعلقه ترکه بنويه

سوال : (۴۳۴) داحقر دمالك بن اوس حديث باره کې تپوس کوي حضرت ددي نه معلوميږي چه امير المؤمنين حضرت علي ﷺ او حضرت عباس ﷺ دوارثت دعويدار شو هرکله چه هغوي دحديث لانورث په بنياد ددي دعوی نه خارج کړو نو بيا هم دهغه تسلي ونه شوه او په دريمه خل ېي بيا دوراثت دعوی وکړه داخو ناممکن ده چه دي حضراتو شيخينو لره دحديث په روايت کې دروغژن ګڼړلی وي ځکه چه واقعي که چرته دهغوي دجلالت او عظمت شان نه نظره هم واړوي بيا هم دامير المؤمنين علي کرم الله وجهه دهغوي په نسبت چه کومه عقيده ده هغه دغه ده چه شخيين تمام امت نه افضل دي هغوي دکوفي دمنبرنه علی رؤس الاشهاد ددي اعلان کړي وه او بيو حديث کې فرمائي چه کوم سړي زما د طرفنه داحديث باندي زه دهغه نه قسم اخلم خوحدثني ابوبکر وصدق ابوبکر وصدق ابوبکر الخ- نو بيا به ضرور ده څه بله شبه وي نوزه دهغې شبې معلومات کول غواړي دي وخت کې ماته دشيعه ګانو جواب ورکول مقصود نه دي ځکه چه دشيعه ګانو دپاره هغه جوابونه موجود دي چه هغوي ترينه ساه هم نه شي اخستي بلکه مقصود صرف دحضرت علي ﷺ او عباس ﷺ دخپل زړه مطمئن کولو دپاره عذر معلومول دي ؟

ددی په جواب کې یې دااوفرمائیل

چه دصحاح په روايتونو کې ددي چرته هم تصريح نشته چه دي حضراتو صراحتاً دحضرت عمر ﷺ په اجلاس کې دوارثت دعوی وکړه په دي وجه داسي اووايه چه دوي ته دترکه دنبي عليه السلام دعدم موروثيت تصديق خود ابوبکر صديق ﷺ په زمانه کې شوي ده

اوداميرالمؤمنين عمربن الخطاب په اجلاس کې ددي ابتداءً دتوليت نهه ختلو دپاره تشريف راوړي وه خوخپل مقصود هغوي په صفا صفا لفظونو کې ښکاره نه کړو بلکه داسي يې ووئيل ادفعه الينا کمافی صحيح المسلم- چونکه دي الفاظو دعوی دميراث او توليه دغوختلو دواړو احتمال لرو او خلافت صديقي کې دي خلقو دوراثت دعوی کړي هم وه دي سره امير المومنين داوګڼړل چه اوس هم دوي دميراث دعوی کوي په دي وجه امير المومنين اوفرمائيل چه وراثت خوزه تاسوته دحديث لانورث په وجه نه شم ورکولی هن که چرته تاسو غواړي نوتوليت درکولی شم- چونکه دهغوي مقصود دعوی دميراث وه نه بلکه توليت غوختل مقصود وه اودي لره امير المومنين په خپله منظور کړو- بل داچه دوي داوګڼړل چه دي وخت کې داوئيل چه زمونږ مقصود دعوی دوراثت نه وه ځکه چه تاسوګڼړل يوقسم ته خلاف وه دادب نه ځکه چه بې ضرورته دامير المومنين خيال غلط شميرل دي په دي وجه هغوي دخپل مقصود دوضاحت ضرورت ونه ګڼړلو او توليت يې قبول کړو- او داهم ممکن ده چه دوي توليت قبلول دخپلی مدعا وضاحت دپاره کافی ګڼړلی وي په دي وجه الفاظو سره يې دوضاحت ضرورت نه وي ګڼړلی غرض داچه توليت يې قبول کړو- څوورځې پس دحضرت علي او عباس ﷺ په مينځ دتوليت باره کې جهګړه شوه او دادواړه دتوليت تقسيم غوختلو دپاره دامير المومنين په خدمت کې حاضر شول دي وخت کې هم دوي دخپل مقصد وضاحت ونه کړو بلکه حضرت عباس ﷺ په دي الفاظو کې دحضرت علي ﷺ شکايت وکړو ياامير المومنين ارضی من هذا الکاذب الاثم الغادر الخائن کمافی صحيح المسلم چونکه وړومبی دوي خلافت صديقي کې دوراثت دعوی کړي وه او دهغې نه وروستو يو ځل دوي په خپله دامير المومنين په اجلاس کې په مختصر الفاظو کې توليت غوختلی وه دي لره امير المومنين دعوی دوراثت ګڼړلی وه او ددوي دخيال غلطي په دي وجو سره نه وه ښکاره شوي په دي وجه دوي انزاع هم دعوی دوراثت سره متعلق ګڼړلی وه او چونکه دامير المومنين په خيال کې ددوي دادعوی دوراثت دوه ځله په حديث نبوي سره خارج شوي وه په دي وجه ددوي په بيا بيا دعوی کولو باندي امير المومنين ته غصه راغله او دوي دوراثت دعوی باطلولو دپاره دومره اهتمام وکړو چه چابه عوی کوله نو هغه به دمجلس په حاضرينو او په خپله دي متنازعين باندي منله- هرکله چه په خلقو دادعوی اومنله نو بيا به يې دويمه دعوی کوله ددي بيان په مينځ کې امير المومنين دغصې په اندازی کې داهم اوفرمائيل چه .

تاسو وروميي د ابوبکرصديق ؓ په اجلاس کې دوراثت دعوی کړې وه هغوی ستاسو دعوی دحديث لانورث په بنياد خارج کړې خو تاسو بيا دلته دوراثت دعوی وکړه چونکه ددې دعوی څه بله وجه زما پوهی ته نه راځي دې نه معلوميږي چه تاسو هغه لره کاذب او اثم او خائن او غادر وګڼل او هر کله چه ما ستاسو دعوی ددې حديث په بنياد باندې خارج کړه او تاسو ته مې توليت درکړو نو اوس بيا تاسو دعوی راوړه دې نه معلوميږي چه تاسو زه هم کاذب و اثم و خائن او غادر وګڼم ځکه چه دې نه علاوه زما د فيصلی نه منظورولو څه وجه نه معلوميږي نو که تاسو ابوبکرصديق ؓ لره او ما لره کاذب و اثم خائن او غادر و ګڼړي ځکه چه ستاسو بيا بيا د دې دعوي دوراثت کولو نه معلوميږي خو الله ګواه دې چه ابوبکرصديق ؓ هم رښتونی په هدايت روان او حق تابع وه او زه هم بس هر کله چه مخکې فيصلی د الله او د رسول الله ﷺ د حکم مطابق وې نو زه اوس هغې لره نه شم منسوخ کولی که تاسو ته توليت منظور دې وې ساتی که نه وې منظور زما حواله يې کړې زه به يې خپله فيصله وکړم. اميرالمومنين چونکه ذاتی طور باندې هم هيبت ناک وه او د حکومت د عب او غصی پکې نور هم زياتوالی راوستو او دې سره هغې حضراتو ته دده د ادب خيال هم وه دې وجه نه دوی ته په دې وخت کې هم دو نيلو جرائت و نه شو چه اميرالمومنين موږ دوراثت دعويدار نه يو راغلی بلکه د توليت تقسيم درخواست دپاره راغلی ي. په دې وجه حضرت عباس ؓ چه مدعی راغلی هو خپله دعوی يې پريخوده او توليت ټول د اميرالمومنين په قبضه کې راغی د اقصه ده په دې کې نه په حضرت علی او عباس ؓ په څه شرعی الزام راځي نه په شيخينو باندې بلکه حضرت عمر ؓ نه ددوی د مقصد په پوهه کې غلط فهمی شويده او ديکې او حضرت علی او عباس ؓ نه د خپلی مدعا په وضاحت کې کوتاهی او شوه دې کې دوی معذور وه انتهی ما افاده عم فيضه وطال بقائه علی رؤس المستفيدين مع توضيح. دې نه پس ما ددې روايت غضبت فاطمة وهجرته ولم تکن مهاجرته ولم تکن مهاجرة حتی توفيت اونحوه. جواب اوغوختو. نو ددې په جواب کې يې افاده او فرمائيله چه ددې په نسبت خود اخيال نه شی کيدې چه ددوی د حديث ﷺ اوريدو نه پس هم په خپلی دعوی دوراثت باندې زور کړې وې او دا غصه او هجرت په دې وجه کړې وې چه دوی ته حصه ولی ورنه کړې شوه او دا هم خيال نه شی کيدې چه دوی د هجر ممنوع شرعی ارتکاب کړې وې ځکه چه دا دواړو خبری ددوی د جلالت شان نه ډيري لرې دې. په دې وجه بر تقدير صحت واقع وعدم خطاء الناقل فی التهم

په داسی ووايو چه نازک مزاج شهزادګی وه داعتاب دهغی دنازيه طور وه کوم چه په خپلو مخلصينو باندې وې او وجه ددې دهغی دا خيال معلوميږي چه ابوبکرصديق ؓ د پير اخلاص وکړو موږ سره يې د ضابطی سلوک وکړو هغه سره دا زيات وه هر کله موږ د ترکی مستحق نه ګرځيدو نو موږ ته به يې سپور جواب راکړې وائی او په نرمی به يې فرمائيلی وه چه ترکی ورکولو نه زه په دې وجه معذور يم چه د جناب رسول الله ﷺ په مال کې ميراث نه جاری کيږي آو تاسو اطمينان ساتی زه به په نورو طريقو سره ستاسو خدمت وکړم دې وخت کې نه په فاطمه ؓ باندې څه شرعی الزام شته او نه په ابوبکرصديق ؓ باندې پاتی شوه د اخيره چه بيا ابوبکرصديق ؓ ولی داسی ونه کړل دهغی وجه دا کيدلی شی چه څو مره حضرت فاطمی ؓ درخواست کړې وه دهغه هو مره خبري جواب کافی ګڼړلی وې او ددې طرفته دهغوی ذهن نه وي رسيدلی چه ددې به دهغی په طبيعت څه اثر پريوزي دليل هم ددې نه وه چه خامخا به د اطريقه دهغی خوښه نه وي بل داچه شرعاً دهغه په ذمه واجب هم نه وه او داخيره چه معلوميدو نه وروستو هغوی معذرت ولی ونه کړو نو وروميي ددې هغه جواب دې چه شرعاً په هغه واجب نه وه بل داچه ددې څه دليل نشته چه هغوی معذرت و نه کړو کيدې شی چه هغوي معذرت اخستی وي خو د حضرت فاطمی ؓ د زړه نه داخفګان کوم چه د نازيه طور وه نه وي وتلی او دا واقعه په دې وجه نه وي منقول شوي چه سلفو صرف د واقعاتو د روايتونو دومره اهتمام نه وه کړې دهغوی همتونه داحکامو نه نقل کولو يا صرف دهغه واقعاتو په نقل کولو کې مصروف وه دکوم متعلق چه احکاماتو سره وه يا ختم شوي وي لکه ځنګه چې د شعبی د روايت نه معلوميږي - کذافی فتح الباری ج ۶ کتاب الفرائض الخمس او حضرت عائشی ؓ نه ددې اطلاع نه وي شوي والله اعلم .انتهی بزياده ما ۱۲ شعبان ۱۳۳۵ھ تتمه خامسه ص ۱۲۱

حکم کسب حرام براۓ ورثه

سوال:(۴۳۵) پلار په څه حلال يا حرام ذريعه څه مال حاصل کړې وه خامنو ته تحقيقی طور باندې معلومه شوه چه حرام ذريعی سره يې مال حاصل کړيدې دې صورت کې خامنو ته دا حال اخستل حلال دې يا حرام؟

جواب: هر څو مره چه فقهاؤ مطلقاً حرام مال وارث دپاره حلال وئيلی دې خو دا روايت صحيح نه دې مفتی به او معتمد داده چه دوي دپاره هم حرام دې نو که چرته وارثانو ته دهغه حقونو مشران معلوم وي نو که بعينه هغه شئ محفوظ وي نو هغه دې واپس کړې کنی دهغی

قیمت دې ورکړي او که چرته معلوم نه وي نو که حرام مال معین او جدا دې نو هغه دې د مالک دنیت د طرفه صدقه کړي او که مال ګډوډ دي جدا نه دي نو که چرته دهغې دقیمت مقدار معلوم وي نو هغه دې صدقه کړي کنی تخمیناً او اندازه دې ولګوي او صدقه دې کړي. انشاء الله اخرت کې به پرې څه مواخذه نه وي. لاناخذبهذه الروایة وهوحرام مطلقاً علی الورثة فتنبه درمختار. وفی الشامی بعد البحث الطویل الحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده علیه والاان علم عین الحرام لایحل له ویتصدق به صاحبه وان کان مالامختلطاً مجتمعاً من الحرام والحلال ولایعلم اربابه ولاشیئاً منه بعینه حل حکماً والاحسن دیانة التنزه عنه انتهی، فی الدرالمختار علیه دیون ومظالم جهل اربابهافعلیه التصدق بقدرهاوسقط عنه المطالبة فی العقبی. (۸صفر ۱۳۴۰ھ امداد ج۳ ص۱۲۳)

تحقیق تقسیم صنف ثالث ذوی الارحام مختلف الاصول

سوال: (۴۳۶) رمضان بیگم فوت شد ویک دختر برادر ویک پسر خواهر ویک دختر خواهر دیگر که همه ازنبی اعیان بوده اند بگذاشت اندرین صورت بچه طور ترکه میت خواهد گشت؟

جواب: مسئله ۴ رمضانی بیګم

بنت اخ	ابن خت	بنت اخت
۲	۱	۱

بل جواب

مسئله رمضانی بیګم

ابن اخت	بنت اخ	بنت اخت
۲	۱	۱

بل جواب (۱)

مسئله تصح من ۱۲ رمضانی بیګم

بنت اخ	ابن اخت		بنت اخت
۲/۲	۴	بینهما اثلاثا	۲

۱- دادرې واړه جوابونه دمختلف جواب ورکونکولیکلو شوو سوالونه سره راغلي وو دسائل مقصود ددې نه دې وصحت او غلط تحقیق وو دحقیر جواب داقول نه شروع شوی دی ۱۲ منه

(اقول) متنباً ومسلماً داوراثان دذوی الارحامو دریم قسم نه دي او نزیکت مرې ته اوپلار والی عصبه او قوت دتړدي والی کې برابر دي خواصل یې مختلف دي دې صورت کې امام ابویوسف رحمه الله فروعو ابدانو لحاظ کوي او للذکرمثل حظ الانثیین یې تقسیموي او امام محمد رحمه الله یې په اصولو تقسیموي دذکوریوه طائفه دا اناثو یوه طائفه فرض کوي دهریو فروع ته للذکرمثل حظ الانثیین ورکوي. وان کانوامن بنی الاعیان اوبنی العلات اوبنی الاخیاف یقسم علی الابدان عندابی یوسف رحمه وکذلک محمدرحمه الله ان اتفقت اصولهم والافیقسم علی الخلاف ثم یجعل الذکورطائفة والاناث طائفة علیٰ قیاس ماسبق من الشیخ والعلوی، دویم جواب دامام ابویوسف رحمه الله دمذهب په بنیاد باندې صحیح دي او دریم جواب دامام محمد رحمه الله دمذهب په بنیاد باندې صحیح دي او وړومبی جواب ددواړو خلاف دي او دواړو مذهبونو په تصحیح او ترجیح کې اختلاف دي کمایظهرلمن نظرضیاء السراج خو صاحب دسراجی دامام محمد رحمه الله قول ته ترجیح ورکړیده قول محمد رحمه الله اشهرالروایتین عن ابی حنیفة رحمه الله فی جمیع ذوی الاحارم وعلیه الفتویٰ اه قال الشیخ نالعمل به اولیٰ والله اعلم بالصواب وعنده ام الکتاب والحق فی کل -دادرې واړه جوابونه دمختلفو جواب ورکوونکو لیکلو شوو طرفته سوال راغلی وه دسوال کوونکی مقصود ددې دصحت او غلط تحقیق وه ددې عاجز جواب داقول نه شروع شویدي ۱۲ منه ، نوټ داعبارت او دحاشیې عبارت یو شی دي کتونکو حضراتو ځخه هلیه ده اعتراض ونه کړي (باب من شان رب الارباب، ۲۲ محرم ۱۳۵۰ھ امداد ج۳ ص۱۲۳)

امانت شدن متاع زوج مفوضه زوجه

سوال: (۴۳۷) علماء دین په دې صورت کې دشریعت په نزد څه فرمایي **[وړومبی سوال]** شیخ بشارت علی دوړومبی ښځی په مخکې دمقام راجګړه نه څه روپی په نوکرئ کې پیدا کړي وي او په هغې یو پوخ مکان جوړ کړو او یو بیهټک او یو دغو ایانو ګادې یې واخستو- اودې وړومبی ښځی ته دوه لونړه پیدا شوي او دواړه ژوندي دي بیا دا وړومبی ښځه وفات شوه **[دویم سوال]** بشارت علی بیا دویمه نکاح وکړه او دهغې نه یې دوه ځامن او یو لور پیدا شوه. او مقام سنده نه یې روپی حاصل کړي او هغه روپی یې دویمې ښځی ته حواله کړي ددې دویمې ښځی لور ته په هغې باندې په خپل نوم جائید اد واخستو **[دریم سوال]** ددواړو

ښځو مهر د شیخ زادګانو د رواج مطابق پنځه پنځه زره روپۍ مقرر شوي وه. **[څلورم سوال]** د شیخ بشارت علی د نیا نه هم څه جائیداد پاتې شوي وه اوس دې صورت کې د وړومبۍ ښځې وارثانو ته څومره حصه رسی او دویمې ښځې وارثانو ته څومره رسی او کوم جائیداد چه د وړومبۍ ښځې په مخکې، کوم چه وړومبی سوال کې ذکروه، پیدا شوي وه په هغې د دواړو ښځو وارثانو ته څه رسی یا نه او کوم جائیداد چه دویمې ښځې د شیخ د وفات نه وروستو اخستی وه په هغې کې هم د وړومبۍ ښځې وارثانو ته څه رسی یا نه او که چرته دویمې ښځې دا دعوی وکړه چه ماته یې دا روپۍ د هبې په طور راکړي وې نو د هغې په ذمه ګواه لازم دي یا نه؟

جواب: کومې روپۍ شیخ بشارت علی دویمې ښځې ته حواله کړي دي د عرف په حکم سره هغه امانت دي صرف حواله کولو سره د ملکیت نه راځي او که چرته هغه دعوی د هبې وغیره کوي نو ګویا چه د خاوند د ملکیت اقرار کولو سره دعوی کوي د انتقال د ملکیت نو دي باندې ګواهان راوړل لازم دي فی الشامی فی بحث اختلاف الزوجین فی متاع البیت هکذاوفی البدائع وهذا کله اذالم تقر المرأة ان هذا المتاع اشتراه فان اقرت بذلك سقط قولها لانها اقـرّت بالملك لزوجها ثم ادعت الانتقال الیها فلایثبت الانتقال الابالبنیة انتهی وکذا اذا ادعت انها اشترته منه کما فی الخانیة ولایخفی انه لوبرهن علی اشرائه کان کاقرارهابشرائه فلابد من بنیة علی الانتقال الیهما منه بهبة ونحوذلك ولایکون استمتاعهابشربه ورضاء بذلك دلیلاً علی انه ملکهاذلك کما تفهمه النساء والعوام وقدافتیت بذلك مرارابحرشامی جلد رابع ،صـ ۴۳۲/ یو هو بنیا رسره دي حکم مقرر کړي او هغه په مخکې دي خپلی دعوی باندې ګواه پیش کړي که چرته ګواه یې پیش نه کړونو کوم وارثان چه دي سره نزاع او مطالبه درولو کوي هغوي دي د دي حکم په مخکې دا قسم وخوري چه په الله قسم مونږ ته پته نشته چه خاوند دي ته دا روپۍ هبه کړي وي البینه علی المدعی الیمین علی من انکر الحدیث وفی الدرالمختار مع الشامی التحلیف علـی فعل نفسه یکون علی البتات ای القطع بانه لیس کذ لك والتحلیف علی فعل غیره یکون علی العلم ای انه کذلك لعدم علمه بمافعل به غیره انتهی جلـدرابع، صـ ۴۲۲، پس که چرته دوي قسم او خوړونو بیا به د دویمې ښځې دعوی نه شي اوریدلی کیدي او هغه به امانت ګنړلی شي او په دیکې به میراث جاري کولی شي یعنی ټول مال متروکه سره د دي روپو به میراث ګنړلی شي او ټولو وارثانو کې به چه څومره راوزي د هغې مطابق په هغه حصو تقسیمولی شي البته که

چرته هغه بې په خپل مهر کې ساتل غواړي خو په دي شرط چه شیخ بشارت علی مهر نه وي اداکړي او نه دي معاف کړي وي نو د پنځو زرو روپو په اندازه ساتلی شي په دي کې هیڅ ته هم دعوی نه شي رسیدي. او دغه شان د دویمې ښځې مهر په هم د دي مال نه اخستی شی که چرته اداشوي یا معاف شوي نه وي خو هغه چونکه د خاوند په مخکې مړه شویده په دي وجه د خاوند میراث نه اخلی څلورمه حصه یعنی په پنځو زرو روپو کې یو زر او دوه نیم سوه روپۍ نو هغه معاف شوي دري حصې پاتې شوي یعنی دري زره او اوه نیم سوه روپۍ به د دي مال متروکه نه ویستلی شي او هغه به د دي وړومبۍ ښځې په وارثانو یعنی د دي په دوارو لونړو او کوم چه د هغې شرعاً وارث جوړیږي په هغوي به از روئې فرائض تقسیمولی شي اوس کتل پکار دي چه که ترکه کې دواړه مهرونه او باسي نو که چرته حساب برابریږي یا کمی پکې پاتې کیږي نو نور وارثان بالکل محروم دي او که څه پاتې کیږي او دي باقی په کې نور وارثان د خپلی حصې موافق شریك وي د ټولو وارثانو د هغوي تخریج دا دي۔

شیخ بشارت علی مورث

مسئله ۸/۹۲

زوجه ثانیه	بنت من الاولی	بنت من الاولی	ابن من الثانیه	ابن من الثانیه	بنت من الثانیه
الف	ب	جیم	دال	هـ	واو
۱۲/۱	۱۲/۱	۱۲/۱	۲۴/۲	۲۴/۲	۱۰

مسـئلـه ۶/۱۲۱ لعـــا من الثانیه واو

لم مـیـ

ام	اخ لاب وام	اخ لاب وام	اخت لاب	اخت لاب
الف	دال	هـ	ب	جیم
۲/۱	۵/۵	۵/۵	م	م

مسئله ۹۲

المـ

الامـ

الف	ب	ج	دال	هـ
۱۴	۱۲	۱۲	۲۹	۲۹

یعنی بعد تقدم مایجب تقدیمه شرعاً من التجهیز والتکفین واداء الدین کالمهر وغیره وتنفیذ الوصیة من الثلث ترکه شیخ بشارت علی مورث اعلیٰ حصو کې به دوارو خامنو نه به تولس تولس ملاویږي والله اعلم وهو یقضی بالحق فقط (۱۴ محرم/ ۳۰۱ امداد ج۳ ص ۱۲۴)

وصیت برائ وارث یااجنبی واجازت وارث بعدہ

دا مسئله ددي جلد په صفحو باندي تیره شویده دچاپه نوم چاتید اد خر څولو سره دهغی ملك نه گرځي دا مسئله هم امداد الفتاوی دریم جلد

(اویس دمرگ نه دبلی ترکی په شان تقسیمول) صفحه ۱۸ باندي لیکلی شویده

سوال :(۴۳۸) دمور دمور (نیا) ورارهٔ محروم دي یانه؟

جواب : فی الدرالمختار توریث ذوی الارحام ثم عمات الاباء والامهات واخوالهم الیٰ قوله واولاد هؤلاء، دنیا وراره دمور دماما اولاد ددي بس څوك چه په دي باندي مقدم دي که هغوي نه وي نو دوی ته به میراث ملاویږي او که هغوي وه نو بیا به دي محروم گرځي فقط (رمضان ۹، ۱۳۲۷ھ/ تتمه اولی/ ۱۹۹)

سوال :(۴۳۹) مخکي دا داکولو د قرض نه وراث دمال مالك دي یانه فقط؟

جواب :مالك گرځي خو دده دا ملك مشغول دي په حق دغیر کې په شان داصل مورث چه هغه هم دخپل مال مالك وه خو مشغول وه په حق دغیر کې (۲ رمضان ۱۳۳۰ھ/ تتمه اولی/ ۱۹۹)

دعاریت زمکی بیع باطل کیدل اودوصیت په ثلث کې جاري کیدل

سوال :(۴۴۰) دزید دري خوبندي دي دیوې خورلور یې یعنی خورزه دزید مسماة هنده دزید نه کوم چه دهندی ماما دي یوټکړه دزمکی اوغوختنه اوپه هغی کې داوسیدو کورجوړ کړو دزید نه څلور خامن اویوه لور پاتی شوه اومړ شو اوهندی دخپل ماما زید نه دروستو وفات شوه اویوه لورترینه پاتی شوه اوس دهندی دي لورهغه مکان کوم چه هندی دخپل ماما نه اخستی وه بغیر څه قیمت نه یوغیر کس ته دغه شان ورکړو اوپس دور کولو نه هغه مړه شوه اوداوصیت یې وکړو چه زما نور څیزونو څه دخیر کار کې ولگوه اوس دهندی دماما خامن وایي چه زمونږ پلار هندی ته دامکان داوسیدو دپاره ورکړي وه دهندی لورته هیڅ حق ددي دورکولو یا په څه طریقی سره دمنتقل کولو نه وه دا دهغی ناجائزه کاردي ددي نه علاوه چه نور څه څیزونه دي دهغی تولو مالکان مونږ یو په دي وجه دا ټول څیزونه مونږ ته

ملاویدل پکاردي اوس دي کې څه کول پکاردي امید دي چه څه دالله اودرسول الله ﷺ حکم وه هغی سره خبرداري راکړي چه هغه په عمل کې راولو اوپه دي امید چه مکان ته تالا لگولی شویده اوټول څیزونه یوکس سره امانة کیخودلی شویدي فقط؟

جواب : که چرته هندی دزید نه دا زمکه دعاریت په طوراخستی وي نو هنده ددي مالکه نه ده په دي وجه ددي بل کس ته ورکول جائز نه دي البته آبادي مالکه هنده ده دهغی هبه کول جائزدي. فی ردالمحتار عن الذخیرة هبة البناء دون الارض جائزة، ج۵/ ۷۸۲ اوباقی دنورو مالونو په نسبت چه کوم وصیت یې کړیدي نو دهغی ثلث خو دوارثانو د رضامندی نه بغیرهم موافق دوصیت به نافذ کیږي باقی ددوو ثلثو مالکان صرف شرعی وارثان دي اوس دهندی دټولورشته دارانو تفصیل لیکل غواړي چه څوك دي دي دپاره چه دټولو حصه اوخودلی شي. (۱۳۳۰ھ/ ذی قعده/ تتمه اولیٰ/ ص ۱۹۹)

تقدیم خال علاتی برابن الخالة عینی

سوال :(۴۴۱) مسئله داده چه بیان شیخ محمد ته چه کوم مال متروکه ملاؤ شو هغه دده دنیا (دمورمور) دکوروه میان شیخ محمد دوفات نه وروستو هیڅ یو وارث نه دي پریخودي دتیکه یا خوي طرفنه یویې ترورخوي دي اویو ماما یعنی دمور علاتی (پلار شریك) ورور دي لهذا ده حق چاته رسی؟

جواب : فی الدرالمختار باب توریث ذوی الارحام منهم اصناف اربعة جزء المیت ثم اصله ثم جزء ابویه ثم جزء جدیه اوجدتیه الی قوله ویقدم الاقرب فی کل صنف اه، ددي روایت په بنیاد صرف ماما وراث دي اودترور (دمورخور) خوي محروم دي (۸ ذی قعده ۱۳۳۱ھ/ تتمه ثانیه ص ۹۳)

توارث سنی وشیعی

سوال :(۴۴۲) زید وفات شو کوم چه سنی المذهب وه دده صرف دوه خامن دي یو سنی بل شیعه آیا دواړه به وارثان گرځي یا صرف سنی؟

جواب :کوم اختلاف ددین چه مانع گرځي دمیراث اوړلو هغه اختلاف کفراً او اسلاماً سنةً اوبدعةً نه دي نو کوم شیعه چه ښکاره بهره دکفري عقائدو قائل نه وي هغه دسنی وارث گرځیدي شی (۸ محرم ۱۳۳۲ھ/ تتمه ثانیه/ ص ۱۱۲)

بودن امورخیربجائی بیت المال وردعلی الزوجین

سوال :(۴۴۳) دترکی په تقسیم کې لیکن چه هرکله وراث نه وي نوبیت المال کې دي داخل کړیشی نن صباپه داسی صورت کې کوم ځای خرچ کړیشی اوردعلی الزوجین نن صبا جائزدي یانه؟

جواب : دخیرپه کارونوکې خرچ کول دبیت المال قائم مقام دي اوردعلی الزوجین هغه وخت جائزدي چه کله زوجین دمصارفودبیت المال نه وي (۲۵جمادی الاول ۱۳۳۱ھ حوادث ۲۰۱)

اشتراط ردعلی الزوجین بعدم ذوی الاحارم

سوال :(۴۴۴) زیدمړشویوه ښځه اویوه خورزه یې پریخودل ښځې ته څلورمی حصې ورکولونه وروستوچه ددي ربع کړیشی نوایاښځې ته بیاردکړیشی ځکه چه ذوی الارحارم مرتبه دوارثانوپه ترتیب کې پس درد ده ۱۲ مفتی به اوس داده چه ردعلی الزوجین جائزدي یاذوی الاحارموته پس داداکولودقرض نه ورکړیشی اوښځې ته هم ورکړیشی، قول درالمختارهم ذوی الارحام طحطاوی محشي درمختار ،لیکی- یعنی اذا اعدم اصحاب الفروض النسبية والعصبات المذكورة يبدء فى التركة بذوى الارحام واتفاقيدنا اصحاب الفروض النسبية لانه اذاكان فى المسئلة احد الزوجين يعطى فرضه والباقى لذوى الارحام لانهما ليسا من اهل الرد فكما ان المال عندعدمه يقسم بين ذوى الارحام يقسم مابقى من فرضه بينهم، اوس سوچ دادي چه هرکله ردعلی الزوجین مفتی به وي اومرتبه دردپه ذوی الارحامومقدم ده نوچه ښځې باندې ردکړي اوذوی الارحامولره ولی محروم نه کړو؟

جواب : فى ردالمحتار عن القنية ويفتى بالردعلى الزوجين فى زماننا لفساد بيت المال وفيه قال المحقق احمدبن يحيىٰ بن سعدالتفتازانى افتى كثيرمن المشائخ بالردعليهمااذالم يكن من الاقارب سواهماالخ وفيه عن المستصفى والفتوى اليوم على الرد على الزوجين عندعدم المستحق لعدم بيت المال اھ(ج۵ صـ ۷۷۱) داروایتونه نص دي په دیکې چه داردعلی الزوجین په ذوي الارحامو باندې مقدم نه دي بلکه دبیت المال په درجه کې دي کوم چه دټولو مستحقینونه وروستودي اوذوی الارحاموپه موجودګۍ کې به په زوجینوردنه کیږي لانعدام العلة وهواظهرمن ان يتهم لاثباته ۲۸جمادی الثانی ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص۴۲)

عدم تمليك پسرتمام جائيدادموروث راوقته حرمان دختران

سوال :(۴۴۵) جناب والدصاحب دکوم بیان چه م مخکې کړي وه، وفات شودیارلس سوه روپی دزمکی ګانړه شوي قرضه ده اوپه ترکه کې یې استعمال کړي اولوښی کټ وغیره دکورسامان اودوه سوه جیربه زمکه کچه اوداوسید ومکان وغیره پریخودوخوددي ځای دیکاره رواج په وجه څه موانع مخی ته راځی هغه دادي چه دلته په ترکه کې جینکوته نه شی ورکولی اوبنده ورکول غواړي بلکه دانتقال په رجسترکې م دشریعت دحکم موافق لیکلی دي که چرته احکام مانع نه شول نواسان صورت دي ځکه چه زمکه به خرڅه کړم دیارلس سوه روپی قرضه به اداکړم کنی که چرته دجینکودحصی په ځای دجائیدادپه ترکه دوریرونو،دورورخامنوبولیکلی شول کوم چه شرعاً دترکی نه محروم دي نوخامخاګرانه به شی ځکه چه بیاتیمه قرضه دنیمی حصه موافق چه به ماته ملاویږي اداکولی شم-اودهلکانوته داامیدنشته چه هغوي جائیدادخرڅ کړي اوقرضه اداکړي مادپاره دواړوصورتونوکې نیمه حصه ملاویږي ځکه چه شرعاً دوه خویندي اویوبنده وارث دي چه په هغی کې نیمه حصه وي اوددي ځای په رواج هم نیمه دوراړه اونیمه دبنده ده بهرحال زماپکې نیمه حصه ده اوکوشش دادي چه دشریعت دحکم موافق ددواړوهلکانوپه ځای دواړوخویندوته حصه ملاوشی که چرته خدائ مه کړه ددي ځای دقانون اورواج موافق ترکه تقسیم شوه نومادپاره په دي نیمه حصه اخستوکې څه ګناه خونشته بغیرداداکولودقرض چه دیارلس سوه روپی دي دکورسامان یعنی لوښی وغیزه اواستعمال کړي وغیره تقسیمول څه دي ځکه چه دي سامان اوکپړووغیره سره دادیررقم نه شی اداکیدئ اوکم رقم کې ددي مقدارنه حصه دګانړي هم نه شی پاتی کیدي نوڅه وکړوعلی هذا که دیونه درزمکی اجاره اوکرایه وغیره وصول شی هغه تقسیم کړویانه؟

جواب : چونکه دجائیدادهریوجزء ستااوستاد خویندوپه مینځ کې مشترك دي اوتقسیم دغیرمالك معتبرنه دي په دي وجه دوریرونوپه نوم چه څومره هم لاړله په هغی کې هم نیمه ستااونیمه ستادخویندوده - اوڅومره چه ستاپه نوم راشی هغی کې هم نیمه ستااونیمه ستادخویندوده دغه شان ټول منقوله څیزونه اوحاصل اومنافع دجائیدادبه نیم نیم کولی شی اوڅومره چه وریرونوته لاړله په هغی کې به هغوي غاصب شمیرلی شی اوته اوستاخویندي شرعاً دحصی دواپس کولوحق لري خوقرضه چونکه ټول جائیدادسره متعلق ده په دي وجه

چه خومره جائیداد ستاد قبضې نه ووتو مثلاً نیم جائیداد ورېرونوته لاړونو هغه هومره قرضه تا پورې متعلق نه ده او نیمه قرضه به ستا د مقبوضه جائیداد نه اداکولی شې د سوال عبارت بعض بعض ځایونو کې پریشان او مبهم دی که چرته ددې جواب نه وروستو هم څه جزء د سوال بغیر د جوابه پاتې شوي وي نو بیا تپوس وکړي، (۳ ربیع الثانی ۱۳۳۳ھ / تتمه ثالثه / ص ۲۷)

صورت مسئوله کې خورذوی الفروضوکې ده

سوال :(۴۴۶) یوه مسئله کې داوارثان دي خاوند، مور، سکه خور، د پلار طرفه ورور، په دیکې دخاوند او د مور حصه خو نیمه او شپږمه ظاهره ده خو سکه خور کې تردد دی چه دا د پلار طرفه ورور سره عصبه ده یا ذوی الفروضو نه ده او د نیمې حق لري او دویم صورت کې ایا دا ورور چه د پلار طرفنه دي ساقط دي سراجي کې ذات قرانیین نه ذات قرابة واحد ساقط کړیدي خو مثال کې یې دا شرط لګولی دي چه خور عصبه وي او دلته عصبه کیدل ثابت نه دي نو ددي تردد حصه حل دي؟

جواب : دلته خور ذی فرض ده او ورور عصبه دي او دي سره نه ساقط کیږي خو مسئله عائله ده داهل فرض نه هیڅ هم نه پاتې کیږي په دې وجه ورور محروم دي د سراجي د کلیاتو نه حکم ظاهر دي خو شریفیه کې ددې جزئیه هم ذکر ده واذالم تصر (الاخت وام) عصبة بل کانت ذات فرض فلهافرضها والباقي اللاخ لاب اخ ،فقط، (ذیقعده ۲ / ۱۳۵۲ھ / النور / ص ۱۱)

تقسیم ترکه عدم جوازادائی قرضه برمیت مرامین را ازامانت او

سوال :(۴۴۷) څه فرمائي علماء دین په دې مسئله کې چه زید او عمرو دواړه حقیقي ورونړه وه زید مشرورد کورکار او د تجارت کارېې کولو دواړو کې وروړ سره یې هیڅ څه کار نه وه خوچه کومې سرمایه سره یې کاروبار کولو هغه د زید او د عمرو د پلار ملکیت وه اوس څو میاشتې اوشوي چه زید سره دخپلی بی بی وفات شوي - یو وړوکې بالغ ورور او نابالغ خوي او مور ترینه وارثان پاتې شول- اوس دا خبره معلومول غواړو چه زید څه روپې دیو غیر سړي سره امانت کیخودي وه هغه سړي د امانت داپیسې چاته چاته ورکړي هر کله چه هغوي خوي دخپل تره عمرو او دنیا په پرورش کې دي (۲)، که چرته زید د چا قرضدار وي نو ایا دي امین سړي

په ذمه داهم فرض دي چه هغه د زید متوفي دا قرضه د امانت ددي پیسو نه اداکړي هر کله چه متوفي دي باره کې ورته هیڅ هم نه وي وئیلی ؟

جواب :

مسئله	۶	زید
ام	ابن	اخ
۱	۵	-

په شپږو حصو کې یوه حصه د زید مورته ورکړي او ام ابن اخ پنځه حصې د نابالغه دي هغه کس ته دي حواله کړي ۲۵۱ دچا په پرورش کې چه داهلك دي په دي شرط چه هغه سړي دیندار وي (۲)، اداکول د قرض دده په ذمه نشته څکه چه هغه نه وصی دي نه وارث نه حاکم (۱۸ ذیقعده ۱۳۳۳ھ / تتمه ثالثه / ص ۱۰)

تحقیق براءت مورث جائزبارصلاح وارث

سوال :(۴۴۸) یو مورث مړ شو او خپلو وارثانو کې یې یو وراث د پاره دهغه دحق نه زیات وصیت وکړونو دا خو معلومه ده چه دې مورث ته به ددې حق پټولو مواخذه وي خو که چرته وارث په خپله په دې جائیداد کې هر حقدار ته د شریعت مطابق حصه ورکړي نو د قیامت په ورځ دنیولو چه ددې حق پټولو په وجه په وي ددې مورث نجات او خلاصی کیدیشی یا نه ؟

جواب : مورث باندې دوه مواخذې دي یو خو ددې فعل نه -دویم ددې فعل اثر دوجه نه چه یو کس دبل کس حق استعمالوي نو دا قابض هر حقدار ته خپل حق رسولو سره دویمه مواخذه خو به ختمه شی او وروسټی مواخذه به هغه ته د دعا او استغفار کولو سره ختمیږي خو دا دعا او استغفار به هغه وخت فائده کوي چه وروسټی دهغه ددې فعل هغه اثر ختم کړیشی یعنی هر حقدار ته خپل حق او رسولی شی کنی ددې نه بغیر صرف دعا او استغفار نه کافی کیږي (۱۷ محرم ۱۳۳۴ھ / تتمه رابعه / ص ۱۰)

حکم میراث پسري که پیداشودازنکاح دختربایدرخود بسبب لاعلمی

سوال :(۴۴۹) این خاکساریکی ازباشندضلع اکیاب پوست تنگ بازار موضع یورنچنگ برائ عقده کشائ مسئله نادره بصد نیازمندی وتمنا از دربار آن ذی اقتدار ظل الهی عرض گذاردانیکه شخصی زنی رابمطابق شرع شریف درحیطه عقد خود آورد پس از سالی ازدوختری پیدا گشت هنوز آن شیرخوار بود که مادرش رابقتل آورده بدست حکام گرفتارشده

درمزایش بجزیره اندومان که کالاپانی نیز گویند رفت. بعد منقضی ایام بست سال آن ناهنجار بد شعار از قید خلاصی یافته درملک دیگر سکونت پذیرشد. اتفاقاً آن شیرخواره بعد مرور مدت بعید از خانه آبائی سفر اختیار کرده بآواره گردی درآن شهر که آن شوم بخت خانه دار و قرار سید. آخر الامر حکم آلهی آن شد که آن بد انجام درحالت لاعلمی آن دختر را بنکاح شرعی درخانه خود آورد بعده از بطن او دو پسر متولد گشتند. اماچون آن مردار ازین واقع آگاهی گشت بخوف شماتت همسایه آن روسیاه ازین دار خودکشی کرده بجهنم رسید نعوذ بالله من ذلك - اکنون مال متروکه اش درمیان آن زن که فی الحقیقت دختروی است وآن دو پسر که از بطن آن دختر پیدا شدند چسان منقسم گردد. اگر فی الحال هردو فریق ترکه پدرانه هجویند یعنی زن می گوید که پدر من است وآن دو پسر می گویند کی پدر ماست. والاجارها صورت مسئوله را تفصیل دار حصه تقسیم نموده این همچیدان را از لاعلی رها نمایند ونیز عند الله مستاجر باشند فقط والسلام؟

جواب: جواب یې لیکلی دي خو نور وعالمانو ته یې هم اوښایې چه پوره اطمینان راشي ف الدر المختار ولاسیدبوطا اجنبیة زفت الیه وقیل هي عرسك. وفي رد المحتار عن کافي الحاکم الشهید رجل تزوج فزفت الیه اخری فوطئها لاحد علیه ولا علی قاذفه رجل فجربا مراۃ ثم قال حسبتها امرأتي کان علیه الحد ولیست هذه کالاولیٰ لان الزفاف شبهة الاتری انها اذا جاءت بولد ثبت نسبه منه وان جاءت هذه التی فجربها بولد یثبت نسبه منه الخ، ج۳، ص۳۳۹ قلت علل الحکم بالشبهة والعلة متحققة في المسئلة واصرح منه مافي الدر المختار ولاحد ایضا لشبهة العقد ای عقد النکاح عنده اه ای الامام کوطا محرم نکحها الی قوله عن الفتح انها من شبهة عقد لانه روی عن محمد انه قال سقوط الحد عنه شبهة حکمیة فیثبت النسب وهکذا ذکر في المنیة اه وهذا صریح بان الشبهة فیها یثبت النسب علی بامراه کلام النهی قلت وفي هذا زیادة تحقیق لقول الامام لمافیه من تحقیق الشبهة حتی ثبت النسب ویؤیده ماذکره الخیر الرملي في باب المهر عن العیني ومجمع الفتاویٰ انه یثبت النسب عنده خلافالهما، ج۳، ص۳۳۷. پس هرکله چه صرف وطی بالشبهه هم انفراداً مثبت د نسب گرځي الشئی اذا ثبت بلوازمه ثبوت د نسب ثابتیدو نه پس داهلك دپلار وراث دي البته دي منکوحی ته به د زوجیت میراث نه ملاویږي ځکه چه واقع کې دانکاح فاسد ده-

اونکاح فاسد کې میراث نه ملاویږي البته داهلکان نه دي ښځی ته میراث دخوي اخلی- (۱۳۳۲ھ تتمه خامسه ص۴۸)

خارج نبودن مال وراثت از ملك وارث به سبب انکاروتند بیرځروج

سوال: (۴۵۰) یو ترکه کې دمړي ښځه او دتره خامن او علاتي تره وارثان وه اوتره یې دا وویل چه زه هیڅ هم نه غوارم دهغې دالاندینی جواب ولیکلی شو (الجواب) دخط نه زه په دي پوه شوم چه دمرحوم یوتره هم دي یعني دمرحوم پلار او داتره داسی ورونړه دي چه ددوارو پلار یو او میندي دوه دي که چرته دغه شان وي نو ددوي دتره په موجودګي دتره دخامنو هیڅ حق نشته او دده په انکار کولو سره هم هغه دتره خامن حق دارنه ګرځي او ددي انکارنه پس هم تراوسه مالك دي اوس دده نه بیاتپوس کول غواړي چه ستاحصه چاته ورکړو هغه چه چاته اوښایي هغه ته دي ورکړیشي خو چونکه په هرڅه کې دهغه حصه ده په دي وجه هرڅیز مشترك دي او دمشترك داهبه جائزنه ده لهذا هغه چه چاته ورکول غواړي داسی وکړي چه خپله حصه مثلاً پنځه روپی یا سل روپی مثلاً دهغه سړي په لاس چاته چه ورکول غواړي زیاتي پري خرڅ کړي او هغه دي زیاتي قبول کړي بیادقیمت هغه پیسی دي زیاتي معاف کړي که چرته په دیکې دوي شك معلومیږي- نو دویمه طریقه ددي مقصود پوره کولو داده چه داتره دي په ترکه کې څه مختصر غوندي څیزلکه څه کېږه کتاب په ځاي دخپلی پوره حصه واخلی او بیا دي هغه څیز په خپله کیږدي یا دي ښځی ته ورکړي دي طریقه سره هم دده ښځه دهغې حصی مالکه جوړیدیشي او که چرته په دي طریقی باندي عمل کول هم بوج وي نو داهم جائزده چه تره دي ددي کار دپاره څوك زیاتي وکیل کړي او هغه ته دي دوو خبرو اختیار ورکړي یو داچه څه څیز دي د ترکی نه دداسی قسم جدا کړي دویم داچه څیز دي بیا ښځی ته هبه کړي نو دوکیل داسی کول په ځاي دهغه تره دفعل شول او یوه دریمه طریقه بله هم ده هغه داچه ترکه دي تقسیم کړي دهریو حصه دي جدا کړي بیادتره چه کوکه حصه جدا شویده هغه دي ښځی ته هبه کړي او هغه هم که اصالة کوي او که وکالة دادري طریقی دي په دیکې چه کومه اسانه معلومیږي هغه دي اختیار کړي (ربیع الاول ۱۳۳۹ھ تتمه خامسه ص۱۸۴)

دوراثت مسئله

سوال :(۴۵۱) څه فرمائي علماء دين په دي مسئله کې چه مولوي صاحب مورث خاندان وفات شو اودهغه دوه ښځې دي يو دمولوي صاحب مرحوم په ژوند کې وفات شوديده اودويمه ژوندي ده په ديوښځې په اولادکې اوه هلکان اودوه جينکې دي اوخپله ښځه هم موجود ده اوددويمه په اولادکې دوه هلکان اوڅلورجينکې موجوددي ښځه موجودنه ده مولوي صاحب په خپل ژوندکې صحرائي جائيدادپه څوروپودخپل خوي سيد په نوم تهانه بهون کې اخستی وه اووريې کرواوپه هغې باندي په حيثيت دمالك قابض دي اويوداوسيدوجائيدادېې هم دهلی کې اخستی وه اوورکړي دي په هغې باندي وخت کې مقدمه دشفعه ده په لندن کې دغه شان ددويمې ښځې ددووهلکانوپه نوم يې دهلی کې داوسيدو جائيداداخستی دي اوهغوي ته يې ورکړيدي دهغې دجسټري وغيره شويده داسې حالت کې داجائيدادکوم چه پلار ورکړيدي وراثت کې داخل دي يانه ياددي جائيدادنه علاوه نورميراث دي وارثانو کې تقسيم کړيشي اودهروارث به څه حصه وي؟

جواب : دترکې دتقسيم خوداصورت دي چه پس دتقديم حقوق متقدمه علی الميراث دمولوي صاحب ترکه به په (۱۹۲) حصوباندي تقسيم شي موجوده ښځې ت به څليرويشت اونهه هلکان کې هريوته به څوارلس اوشپږوجينکوکې به هري يوي ته اوه اوه ملاوشي اودري هلکانوپه نوم چه کوم جائيدادمولوي صاحب اخستی دي اوهغوي ته يې ورکړيدي هغه دهغې هلکانوپه ملکيت کې به وي په هغې کې يادهغې په قيمت کې دنوروورثانو هيڅ حق نشته .امااذاكان الولد صغيراً فالشراء من حيث انه ولی وينفذ البيع على الصغيرابتداءً ويكون اداء الثمن تبرعاً وان كان الولد كبيراً فالشراء من حيث انه فضولی ولما اضافه الى الكبيرواجازه هذا الكبير ينفذ عليه بالاجازة ويكون اداء الثمن تبرعاً ايضاً والدلائل هٰذه رجل اشترى لولده الصغير ثوباً اوخادماً ونقدالثمن من مال نفسه لايرجع بالثمن على ولده الاان يشهدانه اشتراه ليرجع عليه عالمگيرية ج۴ / صـــ ۹۸/ كتابه البيوع وفيها امراة اشترت ولدها الصغيرضيعة بمالها علىٰ ان لا ترجع على الولد بالثمن جازاستحساناً وتكون الام مشترية لنفسها ثم يصيرهبة منها له ويثبت هنالك احكام الهبة بخلاف الاب لكونه ولايكون شراءه نافذا على الصغير ويثبت احكام البيع كمادل عليه قوله لا يرجع بالثمن على ولده الخ لان احتمال الرجوع بالثمن يختص بـــالبيع

فمست الحاجة الى نفيه وفى فتح القديربيع الفضولى ذكرفى شرح الطحاوى ولواشـــترى رجـــل لرجل شيئاً بغيرامره كان مااشتراه لنفسه اجازالذى اشتراه له اولم يجزامااذااضافه الى اخربآن قال للبائع بع عبدك من فلان بكذافقال بعت وقبل المشترى هذا البيع لفلان فانه يتوقف اه –البته په کوم جائيدادچه دشفعه مقدمه ده که چرته په دي باندي دعبدالعزيزقبضه نه وي شوي اوشفيع کامياب نودقيمت پيسې چه څومره واپس شي هغه به دټولووارثانووي اوکه چرتـــه قبـــضه اوشوه اګرچه شفيع کامياب هم شي بياخدقيمت روپۍ خالص دعبــــدالعزيزدي فی الهدايـــه ان حضر الشفيع البائع صـــ ۳۸ كتاب الشفعه .[۱۱ربيع الثانی/۱۳۳۹ھ/تتمه خامســه/صـ۱۸۵]

دورك شوي حكم

سوال :(۴۵۲) څه فرمايي علماء دين اومفتيان شرع متين په دي مسئله کې چه زيد دپنځه پنځوس کالودي اودشلو کالونه ليونی دي داسې حالت کې هغه ورك شويدي دهغې اوس تقريباً اوه اته کاله وشول دورکيدوپه وخت زيدبوه لوردوه حقيقي وروڼه اويوه حقيقي خورپريخودي وه- خودهغې ورکيدوته نږدي دوه دري کالــه وروســتودهغه وروروفات شواوتقريباً دري نيم څلورکاله پس دهغه لوروفات شوه اوس داخبره معلومول غواړوچه دي وفات شوي وروراولورته ددي ورك شوي زيددوارثانوته څومره شرعی حصه اورسيده ؟

جواب : فى السراجية المفقودحى فى ماله حتى لايرث منه احد وميت فى مال غيره حتى لايرث مـــن احد (لان بقائه حياً باستصحاب الحال وفى توريثه من غيره اثبات مالم يكن والاستصحاب حجة لدفع لاحى للاثبات) بوقف ماله يصبح موته اويمضى عليه مدة (تفســيرلقوله حـــى فى مالـــه) وموقوف الحكم فى حق غيره حتى يوقف نصيبه من مال مورثه فاذا مضت المدة فمالـــه لورثتـــه الموجودين عند الحكم بموته (ولايرث من مات قبل قضاء القاضى بموته) وماكان موقوفاً لاجلـــه يرا الى وارث مورثه الذى وقف من ماله (تفسير لقوله ميت فى حق غيره) اه مخلـــصاً .حاصـــل ددي عبارت دادي چه په خپله دمفقودمال به دهغه په وراثانوکې هغه وخت تقسيمږي چه کله قاضی (مسلمان حاکم) دهغه دمرګ حکم وکړي باقی ددي حکم بالموت نه مخکې که دده چرته څوك مورث مرشی نودهغه په ترکه کې به ددي مفقودحصه امانت کيخودلی شی که چرته دي ژوندي راغی نوخپله حصه به واخلی اوکه چرته دحکم بالموت خبره پري راغله

نو د کو مو کو مو وارثانو حصه چه کمه شوي وه او دي مفقود د پاره يې ايخې وه هغه تول کيخو دلی شوي به دي وارثانو ته ورکړيشي نو د دي قاعدې به بنياد جواب د مسئلې ظاهر شو چه دي صورت کې به دي وفات شوي ورور او لور ته دده د ترکې نه هيڅ نه ملاويږي البته د دي وفات شوي ورور او د لور د ترکې نه به دي مفقود ته چه څومره شرعي حصه رسي هغه به کيخودې شي که چرته ژوندي راغی خپله حصه به واخلي او که چرته حکم د مرګ پرې ولګيدو نو هغه حصه به د دي ورور او د لور هغه وارثانو ته ورکړيشي د چا حصه چه يې کمه کړي وه او د دي مفقود د پاره يې ايخې وه (۲۰ محرم ۱۳۴۳ھ تتمه خامسه ص ۳۱۹)

جواب شبه بر ملک بودن ترکه مشغوله با لدين

سوال :(۴۵۳) څو روځې او شوې چه يو صاحب کوم چه د ير ياضلع سورت او سيدونکی دي او په رنګون کې پاتې کيږي يو استفتاء چه په هغې کې د جناب والاجوابات ليکلی شوي وه ماته او خودل د در مختار په عبارت باندي اتفاقاً نظر پريوتو د وجه نه ماته څه شک غوندې پيدا شوي او دا شک د شپږم سوال جواب سره متعلق دي شپږم سوال بجنسه مع جواب منقول دي سوال ۴ دا خو يقيني خبره ده چه زما د پلار چه کومه ترکه وارثانو ته رسيدلی ده هغه شرعاً ناجائزه څکه چه هغوي د قرضي اداکولو نه مخکې تقسيم کړيده او د قرضي اداکولو اراده هم نه لري هغه خلق بې اوس خپل ملک ګڼړي د هغوي نه که چرته زه د دي ګډوډ کړې شوي مال نه څه شی اخستل غواړم نو د هغې اخستل شرعاً جائزدي که ناجائز، د غه شان که د هغې نه څه څيز هغه خلق ماته د هبې په طور راکول غواړي نو ماته اخستل جايزدي يانه د دي جواب جناب والا په دواړو صورتونو کې (جائزدي) ليکلی دي در مختار شپږم جلد ص ۵۲۷ ولاية بيع التركة المستغرقة بالدين للقاضي ولا للورثة لعدم ملكهم ،لاللورثة ،دلاندي صاحب ردالمختار فرمائي :لا للورثة اى الابرضاء الغرماء حق لوباع الوارث اى بدون رضاء الغرماء لاينفذ،دي عبارت د وجه څه شک پيدا شويدي ديوبل عالم نه مې هم دي باره کې تپوس وکړو هغوي هم وايي چه جائزنه دي اميد دي چه ښه زره يخوونکی جواب راکړې

جواب : ماته نه خپل جواب دي ياد دي نه مې مخکې دي چه هغې ته مې کتلي وي بهرحال که چرته زما جواب د در مختار خلاف وي نو صحيح نه دي در مختار باندي به عمل کولی شي (۹ جمادی الثاني ۱۳۴۳ھ ترجيح خامسه ص ۱۵۳)

جواب شبه بر تقديم اولاد اخت عينيه بر اولاد بنت العم در ميراث

سوال :(۴۵۴) زيد ژوندي دي د هغه څوک وارث د ذوی الفروضو نه نشته خو د هغه د حقيقي خور اولاد او د حقيقي تره لور اولاد هلکان او جينکۍ شته که چرته زيد مړ شو او دوي ترينه پاتې شول نو د حقيقي خور اولاد به يې وارثان ګرځي يا د تره د لور اولاد يعنی ذوی الارحام کوم چه عصبه يعنی د تره په ذريعه دي يا ذوی الارحام کوم چه د حقيقي خور په ذريعه سره دي؟

جواب : دا خو هم عصبه يعني د پلار په ذريعه دي بيا په دي دواړو عصباتو کې پلار ته ترجيح ده- د دي سوال په تقرير کې غلطي ده اصل دا دي چه د دي دواړو قسمونو کې د عصبه اولاد يو هم نشته دواړه اولاده د خور دي- يو د حقيقي خور د بل د تره د لور نو ورومبی جزء اصل نزدې دي هغه به مقدم وي دويم باندي څکه چه جزء اصل لري دي (۲۷ جمادی الثاني ۱۳۳۳ھ تتمه ثالثه ص ۴۵)

لفظ څه وئيلو سره د ښځې د کورنه وتل او ډيري موده نه

پس د خاوند په مرګ باندي راتلل دا مستحقه د ميراث ګرځي يانه

سوال :(۴۵۵) يو سړي خپله ښځه د خپل کورنه اوويسته او ورته يې ووئيل چه څه – او لس کاله يې او شول چه هغه ښځه د خاوند د کورنه وتلی ده او دي لس کاله کې د هغې خاوند دي سره هيڅ قسم تعلق نه وه لرلی- اوس د هغه سړي تقريباً څلور کاله او شول وفات شويدي- د هغه د وفات کيدو نه وروستو هغه ښځه په شريعت کې د خپل خاوند د ميراث او رلو حق لري يانه؟ او صرف د و مره موده کورته په ويستلو باندي طلاق راځي يانه؟

جواب : دا وئيل چه څه- د هغه کناياتو نه دي چه په هغې کې هر حال کې نيت د طلاق شرط دي او نيت پته اوس نه شي لګيدي ،لهذا طلاق نه دي واقع شوي او هغه ښځه د ميراث او رلو حق لري (۱۱ ربيع الاول ۱۳۲۹ھ تتمه اولی ص ۱۱)

څوي عاق ، د پلار نافرمان ، کول

سوال :(۴۵۶) يو سړي خپل څوي عاق کړو اوس د هغې نه رجوع کول غواړي هغه څه وکړي؟

جواب : عاق په دوو معنو کې استعماليږي يو معنی شرعي دويمه عرفي شرعي معنی خو داده چه اولاد د مور نافرماني وکړي د دي معنی په تحقيق کې خود چا کولو يانه کولو ته څه دخل

نشته څوك چه دمور پلار نافرماني وكړي هغه عندالله عاق دي ددي اثر صرف دا دي چه دي دخداي په نزد ګنهګار او مرتكب دغتي ګناه دي باقي دميراث نه محروم كيدل په دي نه مرتب كيږي دويم عرفي داده چه يو سړي خپل اولاد دناراضګي په وجه بې حقه دميراث نه محروم كړي نوداكار شرعاً بې اصل دي – دي سره دهغوي دميراث حق نه شي باطل كيدئ ځكه چه وراثت اضطراري ملكيت اوشرعي حق دي بغير دقصد دمورث اودوارث نه ددي ثبوت كيږي قال الله تعالیٰ يوصيكم الله فى اولادكم للذكرمثل حظ الانثيين الايه اولام استحقاق دپاره دي پس هركله چه الله رب العزت حق دوراثت مقرر كړو نوداڅوك باطلولی شي اوبل دحضرت بريره ﷺ قصه ددي شاهد ده چه حضرت عائشې ﷺ هغه واخستو اودهغه دازادولو اراده يې كړې وه دهغه موالي دا شرط ولګولو چه ولاء به زمونږ وي دي باندي رسول ﷺ اوفرمائيل چه دهغوي شرط باطل دي اولاد دمتعق (ازادونكي) ده كماروى النسائي عن عائشة ﷺ انها ارادت ان تشترى بريرة للعتق وانهم اشترطوا ولاءها فذكرت ذلك لرسول الله ﷺ فقال رسول الله ﷺ اشتريها واعتقيها فان الولاء لمن اعتق الحديث. هركله چه ولاء حق ضعيف دي موافق دحضرت ﷺ ددي فرمان الولاء لحمة كلحمة النسب الحديث: ضعف ددي دكاف تشبيه نه معلوميږي دانفي كولو سره نفي كيږي نوحق دنسب چه اقوىٰ دي څه رنګ نفي قبلولی شي بيا هركله چه واضحه شوه چه ددي معنى شرعاً څه ثبوت نشته نو دوي درجوع هم څه حاجت اوضرورت نشته. دپلار دمرګ نه وروستو به هغه وارث وي البته دميراث نه دمحروم كولو داطريقه كيديشي چه دخپل ژوند اودصحت په حالت كې خپل ټول مال چاته هبه كړي يادخير په مصرفونو كې يې وقف كړي اودخپل ملكيت نه يې خارج كړي بيا دي وخت كې داخوي دهيڅ څيز مالك نه شي جوړيدي كما فى العالمكيرية لوكان ولده فاسقا واراد ان يصرف ماله الى وجوه الخير ويحرمه عن الميراث هذا خير من تركه، كذا فى الخلاصة، ج۳/ص۲۵، والله اعلم۲۲ربيع الثانى يوم پنجشنبه/۱۳۰۳ه/امدادج۲/ص۱۵۱)

مختلفي مسئلې / دكنځلوبدل كې كنځل كول جائزنه دي

سوال :(۴۵۷) زيد وائي چه دكنځل په بدله كې كنځل كول جائز دي اوثابت دي دكتاب الله نه اوسنت رسول ﷺ نه اوبكر وائي چه دكنځلو بدله كې كنځل كول دځلورو واړو امامانو دعقائدو خلاف دي هرګز جائزنه دي بلكه حرام دي كه چرته جائز وي نوفقهاؤ تعزير ولې

مقرر ولو اوزيد كه چرته دخپلي توبې اظهار ونه كړي نو هغه پس نمونځ كول هم جائز نه دي ايا دشريعت موافق دي دواړو كې دچا قول معتبر دي اوچا باندي توبه واجب ده؟

[redacted] : حديث كې دمنافقينو په علامتونو كې فحش كنځلی فرمائيلی دي واذا خاصم فجر دې نه دفحش كنځلو غيرمشروع كيدل ثابت شول اوغيرمشروع باندي هميشوالی كول فسق دي اودفاسق امامت مكروه دي دغه شان غيرمشروع ته مشروع ويونكی بدعتی دي اوبدعتی پسې نمونځ مكروه دي البته كه چرته توبه اوباسي نو فسق اوبدعت به ختم شي اوكه چرته چاته ددي ايت جزاء سيئة سيئة مثلها نه شبه وي نو پوهيدل پكار دي چه دي عموم نه اموروغيرمشروع مخصوص اومستثنى دي په دي وجه ښكاره خبره دي كه چرته څوك چاسره بدكاري اوكړي نو په بدله كې بدكاري دچا په نزد هم جائزنه ده. دغه شان داسې بدء ويناهم مستثنى ده. (۲۷جمادى الثانى/۱۳۲۲ه/تتمه اولى/ص۲۰۰)

قرضه جنګ كې مېل چاته مرووو داخلولو يو صورت

[redacted] :(۴۵۸) زمانه په قرضه جنګ كې دوه سوه روپۍ غوختې شې يو سبزي والا دلته كې داسې ګرځيدي چه په سلو كې شل روپۍ اخلي دوركوونكي طرفته روپۍ په سركاري داخلوي اوهلته نه به يې په خپله وصولوي يعنې سركاري كاغذونه په خپل نوم اخلي دي باره كې څه حكم دي كه داعقد وكړم اودي سره روپۍ داخلې كړم نو څه باك خو به كې نشته؟

[redacted] : داعقد يو تاويل سره تاپاره جائز دي ،وذالك التاويل ان هذا النفع وان كان ربواً صورة لكنه رهوة معنى ويجوز دفعها للعرض عن مثل هذا الاستقراض، الذى هو الزام لما لايلزم والجواب للعره ۳شعبان/۱۳۳۵ه/حوادث خامسه/ص۹)

رساله جمع العطاء والرضايا للقضاء

[redacted] :(۴۵۹) دي عاجزته ددعا باره كې لاندينو وجوهاتو په بنياد باندي څه شبه او غلط فهمي هريده حضرت والا ورته خپل كرم اوعنايت سره دالرې كړي وجوهات دادي (۱) غلام ته ترحالته كې هروخت هرطريقي سره دمالك په رضا راضي اوسيدل پكار دي (۲) داسې احسان كونكي نه څه دخپل طرفته وئيلو كې شرم راځي كوم چه هروخت په كرورونو مهرباني راباندي كوي (دغلام كار صرف اطاعت اوخاموش اوسيدل دي. غوختل

دغلامی شان نه دي، ظاهري مصيبت کې، کوم چه په حقيقت کې راحت دی؛ اونوروختونوکې څه خواهش کول ياغوختل مند دي په رضاء مالك رضاکيدوباندي اوپوه ګستاخي ده چه دخپل طرف نه رابې ورکول دي دي برنودريووجوهاتوپه بنياد باندي داعاجزداګتري چه ځان دپاره يابل دپاره دعاکول دغلامی دشان نه خلاف دي- خوچه هرکله په سنت نبوي باندي نظر پريوزي نومعلوميږي چه دخپل دين اودنيوي کارونودپاره اونورودپاره دعاکول سنت دي اوسنتونه دي کمالاتونه خالي نه دي- خودي عاجزته دبې علمی دوجه څه خلاف غندي معلوميږي اوتطبيق ذهن ته نه راځي په دي سنت پرېښودل مې هم زړه نه غواړي اونه دغلامی شان دلاس نه ورکول غواړم اميددي چه حضوروالازمازړه يخ کړي في الحال داعاجزبين بين کارکوي هغه داچه صرف دقران مجيد دعاګانی غواړم اودخپل په اردو کې دخپل زړه ارمان کې هيڅ هم نه غواړم؟

جواب: درضابالقضاء دوه تفسيره دي- هرتفسيرباندي جداجواب دي يوتفسيرعرفي دي هغه داچه رضابالقضاء نه مراد هغه واقعه باندي رضا اوسيدل دي کوم سره چه قضامتعلق ده لکه مرض باندي راضي اوسيدل غريبي باندي رضا اوسيدل وعلى هذا- دويم تفسير اصطلاحي دادي چه کومه واقعه دالله واقع کړيده دهغه په هغه فعل يعني واقعه کولوباندي رضا اوسيدل- وړومبی تفسيرباندي خوپه هري واقعه باندي درضاحکم نشته مثلاً کوم امورچه الله په خپله ناخوښه کړيدي لکه کفراونافرماني په ديکې بنده ته هم دغه حکم دي چه په دي به راضي نه يې – مثلاً داحکم دي چه کفرمه خوښوه- بلکه ددي دختمولوچه کوشش کوه دعاهم کوه نوروپاره هم ځان دپاره هم نودي ماده کې خوددعااورضا دمعارضي شبه نه راځي ځکه چه ديکې خوصرف دعامامورېه ده رضاخوهدوماموبه نه ده بلکه منهي عنه ده- البته چه کوم اموردالله په نزدناخوښه نه دي لکه دچامرض دچاغريبي په ديکې رضااودعاجمع کولوباندي ظاهري نظرسره اشکال کيديشي لکه څنګه چه دي سوال کوونکي ته شويدي بعض اهل حال حضراتوته هم شويدي- په ديکې هغوي دغلبه حال دوجه نه معذوردي- خودشرع په کلياتوکې ژورنظرکولوسره هيڅ اشکال نه پادتي کيږي ځکه چه داسې اموروکې ددوارودجمع کولوصورت دادي چه بنده تودا حکم دي چه چونکه نه مرض ځان دپاره نقصاني اوصحت ځان دپاره فائده مندګڼري تاته ستادعلم موافق اجازت دي بلکه يوه درجه کې حکم دي چه ته دادعاوکړه اوبيا په عاجزي اوقصد سره دعاوکړه چه اى الله

ماته صحت راکړي اومرض رانه لرې کړې خودحقيقي نقصان اوفائدي علم خوالله رب العزت ته دي په دي وجه عين ددي دعاپه وخت کې داعقيده اوقصد هم زړه کې مضبوط لره چه که چرته زماداخواست حاصل نه شو يعني صحت مندنه شوم اومرض باقي پاتې شونوزه به داخير ګڼړم اوپه دي به راضي اوسيږم اوچونکه داهم معلومه نه ده- چه دالله خوښه دمرض بقاء سره يقيناً متعلق شويده په دي وجه دعين رضاپه حالت کې ددعاجاري ساتلوهم حکم دي نودغه شان دعااورضادواړه بې تکلفه جمع شوي داکلام خووړومبی تفسيرباندي وه- اودويم تفسيرباندي په څه ماده کې ترددي چه په څه اموړغيرمرضيه کې هم دسرنه څه اشکال نه واقع کيږي- ځکه چه دعاخوواقعه مقضيه سره متعلق ده اورضا ايقاع اوقضا سره متعلق ده علماء دکلام الرضاء بالکفرد کفرپه سوال کې دغه جواب ورکړيدي چه الکفرمقضي لاقضاء- مولانارومي هم په دريم دفترکې په دووصفحوباندي دسرخی دلاندي موافقت په مابين ددي دووحديثونودا جواب خاص عنوان سره ذکرکړيدي دهغې بعض شعرونه نقل کولی شي-

عاشق صنع توام درشکروصبر ‌ ‌ ‌ ‌ عاشق مصنوع کی هاشم چوګبر
درميان اين دوفرقی بس خفی ست ‌ ‌ ‌ ‌ خودشناسدآن که درروبت صفی ست
پس قضا راخواجه ازمقضی بدان ‌ ‌ ‌ ‌ تاشکالت حل شود اندجهان
کفرجهل ست وقضائ کفروعلم ‌ ‌ ‌ ‌ هردويك باشدآخرحلم وخلم
زشتی خط زشتی نقاش نيست ‌ ‌ ‌ ‌ بلکه ازدی زشت رابنمودنيست
قوت نقاش باشد آن که او ‌ ‌ ‌ ‌ هم تواندزشت کردن هم نکو الخ

خودي تقريربندي هرڅوك نه پوهيږي طالبانودپاره مې ليکلی دي نورحضرات په ديکې ځان نه مشغولوي والله اعلم وسميت هذا المکتوب بجمع الدعاء والرضابالقضاء (۲۲ شوال ۱۳۵۴ھ النور ذيقعده ۱۳۵۵ھ ص ۱۷)

دبعضو دعاگانو تاثیرکوم چه په عدم اصابت کي

تکلیف راغلیدي دهغي معنی سره دجواب شبه

سوال :(۴۶۰) حدیث بسم الله لایضرمع اسمه دوړو کوالی نه اکثرداد عاسحراومابنام لولم دډیرو تکلیفونو مصیبتونونه بچ اوسیږم خوکله کله څه تکلیف لکه زخم وغیره ددي دعاوئیلونه پس هم رسی نوطبیعت کې م څه شك غندی پیداشی نوددي ډیرتاویلونه کوم زړه ته تسکین ورکوم اوداشك ددي وجه نه راځی چه حدیث شریف کې ددي دعاویونکی په نسبت دتکلیف نه رسیدووعده راغلیده مخکې ورخوکې ماستاسوهغه رساله کوم کې چه دسودوغیره بحثونه وه اویوبحث دتعویذوغیره هم دي اوکتله په هغی کې څه مضمون ددي په نسبت دالیکلی شوي وه چه ددعاګانو ،دوایانواوتعویذونووغیره تاثیرات یقینی اوضروري نه دي چه ددي نه په خلاف راتلوکې بدګمانی راشی اوس عرض دادي چه ددي برنی حدیث په نسبت هم داسی خیال پکاردي یانه که چرته ارشادنبوي باندي خیال وکړي نودسړي زړه اوخوزي دنبی ﷺ وعده نه مخالف کیدئ خوهرکله چه داخیال کولی شی چه ارشادنبوي ﷺ خوډیرودوایانولکه دسناوغیره په نسبت هم داسی راغلیدي حالانکه دوایانی کله کله خپل تاثیرنه کوي اخرداونیل راځی چه ارشاد نبوي ﷺ صرف دومره دي چه دعاګانواودوایانوکې خاص خاص تاثیرات کوم چه الله په دیکې ایخی دي هغه موجوددي خوهرځاي کې ددي ظهورکلی طورباندي وي دانشته اوس عرض دادي چه کوم څه چه ماستاسورسالی نه ګڼلی دي غلط خونه دي ارشاداوفرمائی۔

جواب : معنی دحدیث دعدم مضرت داده چه فی نفسه ددي دعاداثردي اودموثرتاثیرهمیشه مقیدوي عدم مانع سره نوڅه مانع سره ترتب نه راتلل نه ددي په مقتضی کیدوکې څه نقصان راولی اونه دمخبرصادق په خبره کې څه شبه پیداکوي اوماچه څه لیکلی دي هغه م دعاملینو ددعاګانوباره کې لیکلی دي دنیوي دعاګانوباره کې م نه دي لیکلی اوهغه دوایانی چه په حدیث کې راغلیدي په هغی باندي ددي قیاس صحیح نه دي ځکه چه هغه خبردمخلوق نه نقل شویدي په خلاف دهغه خبرچه متعلق دي دعاګانوسره ځکه چه دامستندي ولی نه (۲۳رمضان ۱۳۲۷ھ/تتمه اولی/ص۲۰۲)

معنیٰ حدیث من لم یعرف امام زمانه مات میتة جاهلیة

سوال :(۴۶۱) ماقولکم اندرین که سلطان روم درین وقت امام اندیانه سلطان اگرامام اند شرائط امام چیست بیان فرموده تسلی بخشند اگرامام نیست بمطابق حدیث که اگربلانصب امام بمیردآن میتة میت زمان جاهلیة است میتة جاهلیت لازم آیدیانه الحاصل درین زمان امام ست یانه ،برتقدیراول شرائط امام چیست وبرتقدیرثانی درمیتة این زمان متیت جاهلیت لازم آید یانه، جواب بتوضیح عنایت فرموده شکوك رادفع فرمایندوجواب مسئله عنایت فرمایند؟

جواب : مسئله مختلف فیه بین العلماء است بنابرآن که شرط قریشیت دربعض حالات قابل سقوط است یانه وانچه درسوال نوشته اند که مطابق حدیث اگربلانصب امام بمیردالخ، پس درین حدیث نصب امام نیست لفظ حدیث این است من لم یعرف امام زمانه، ومعنیش نزدبنده آنست که عدم عرفان کنایه است ازعدم اطاعت بروقت موجود بودن اطلاقاً للملزوم علی اللازم لان عدم العرفان یستلزم عدم الاطاعة ،البته نصب امام خودبدلیل دیگرواجب است ووجوب همه واجبات مشروط می باشد بقدرت وچون ازشرائط قدرت علی النصب اتفاق مسلمین ست وآن نظرًا الی الحالة الحاضره کبریت احمراست لهذا نه معصیت لازم می آیدونه میتة جاهلیة والله اعلم، هذامأعندی ولعل عندغیراحسن من هذا- (۲۷شوال ۱۳۲۷ھ/تتمه اولی/ص۲۰۲)

تنقیددرباره رساله سوانح عمری حضورفخرعالم علیه الصلوٰة والسلام

مرتبه سردهی پرکاش دیوجی

سوال :(۴۶۲) درباره رساله سوانح حضور سرورعالم ﷺ مرتبه سردهی پرکاش دیوجی پرچارگ برامهه دهرم ،بجواب استفسارعزیزالحق سب اورسیرکهاله پارسهانپور؟

جواب : السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته دپوره کتاب لیکلوخوخت ملاؤنه شومختلف ځایونوکې م وکتلو په صفحه ۲۸ او۲۹ باندي روحی په حقیقت کې اوصفحه ۵۵، ۵۲باندي په معراج کې یې چه کوم کلام کړیدي هغه بالکل دتحقیق نه خلاف دي اوددي نه مخکې صفحه ۳ کې یې حضور ﷺ دهندوانواودپارسیانو(دمذهب زردشت تابع دار) دمشرانو په شان ګرځولی دي بیاځاي په ځاي یې نوم مبارك بغیردخاص تعظیمی القابونه اوبعضوځایونوکې دصحابوؓ صرف نوم نه یې ورسره حضرت نه یې ورسره صاحب لیکلی

دي دهغې اثرپه لوستونکوباندي خصوصاً چه ناپوه وي داکيږي چه دهغه په زړه کښې دحضرت ﷺ عظمت نه پيداکيږي اوداداسلام يولوئ مقصودفوت کول دي اصل داده هرکله مصنف په خپله معتقدنه دي نوځومره اثرچه دهغه په زړه دي هغه هومره دکتونکوپه زړه وګرزلی شي نوکه چرته څه وخت هغه په خپل تقريرياتحرير کښې داسلام خلاف هم څه ووائي نودده غه انصاف اوتحقيق په خيال سره به هغه هم حق ګنړلی شي بلکه بعضوته به داپته هم نه لګي چه کوم امرموافق داسلام دي اوکوم امرخلاف داسلام دي لهذا داکتاب اوکوم چه ددي په شان وي دتدريس قابل نه دي اونه دناپوه خلقودمطالع قابل البته دغيرقومونوپه مقابله کښې په مناظره په دي غرض پيش کيديشي چه مخالفين هم دحضرت ﷺ په نسبت ددي خوبيانوقائل دي ايا تدريس يامطالعې دپاره دمسلمانانوتصنيفونه کم دي [اول رمضان/۱۳۲۸ھ/ تتمه اولی/ص۲۰۳]

په يوجائزامرکښې چه دموريلارپه حکم کښې تعارض وي نوچاپه اطاعت پکاردي

سوال :(۴۶۳) يوجائزکاردپاره پلاريچې منع کوي اوموريې دکولوحکم کوي يابالعکس نودي به دچاپه حکم عمل کوي؟

جواب : چونکه ښځه شرعاً په خپله دخاوندمحکومه ده ددي حکم کول خلاف دخاوندپه خپله ګناه ده اوپه ګناه کښې خواطاعت نشته نه په دي وجه دموروينادي نه منی [۱۹ رجب/۱۳۲۸ھ/ تتمه اولی/ص۲۰۳]

دشيخ عطارپندنامه کښې چه په هغې کښې دشپې په ائينه کښې کتلواوجارو وهلواوديوالونه په کيږي باندي دصفاکولوممانعت دي ددي څه اصل دي

سوال :(۴۶۴) پندنامه کښې چه کوم شيخ رحمه الله مصرعه ليکلې ده، ع شب درآئينه نظرکردن خطا ست دامما نعت شرعی دي يادڅه مصلحت دوجه نه دي، اوکه چرته مصلحت دوجه نه دي نوڅه مصحلت دي دغه شان دشپې جارووهل خواري راولی اوديوالونه په کيږه صفاکول خواري راولی داڅنګه دي اوپه څه وجه دي اويوه داخبره مشهوره ده چه دشپې دکټ پخه راکخه راخکل سپيره دي داڅه رنګ دي ؟

جواب : ددي اموروپه شريعت کښې هيڅ اصل نشته کوم چه صرف په عوامو کښې مشهوردي دهغې اصل تلاش کولونه خوهيڅ ضرورت نشته البته کوم چه دبزرګانوپه کلام کښې موندلی شي نوهغه دقبيلې دحکمت اودلهب نه دي کنې دابه ووايوچه بعض بزرګانوکښې بنه ګمان کول غالب وه په دي وجه بعض روايتونه چه يې واوريدل نودراوي تنقيداونه کړوهغه يې صحيح وګنړل اووي ليکل نوهغوي معذوردي اوقابل دعمل نه دي [تتمه اولی/ص۲۰۵]

صرف په يولاس مصافحه کول

سوال :(۴۶۵) التزام اوپابندي سره صرف يولاس سره مصافحه کول دکوم امام مذهب دي که چرته دواړولاسوباندي مصافحه وکړي بياهم يولاس سره کول څنګه دي ؟

جواب : دهيڅ يوخاص امام مذهب نه دي ديکښې وسعت دي چه څه رنګ غواړي نوهغه شان وکړه [۲۳ محرم/۱۳۲۹ھ/ تتمه اولی/ص۲۰۵]

په اس کښې دعيب شرعي کيدوڅه معنی ده

سوال :(٤٦٦) داخبره چه مشهوره ده چه په اس کښې پنځه شرعی عيبونه دي ددي څه اصل دي که چرته صحيح دي نوهغه پنځه شرعی عيبونه کوم کوم دي يواسپه ده چه دهغې تالوتوردي دي ته وائي داعيب شرعی دي؟

جواب : دعيب دوه معنی دي يوداچه هسې داسپه سپيره وي ددي خوشريعت کښې هيڅ اصل نشته بلکه ددي نفي راغليده لاطيرة اويوه معنی داده چه هسې اسپه په کارکولوکښې ښه نه وي داخودتجربې خبره ده شريعت ددي نفي نه ده کړي بلکه يوخاص قسم بندي ددي هم راغليده عن ابي هريرةؓ قال كان رسول ﷺ يكره الشكال في الخيل رواه مسلم، يعنی حضور ﷺ شکال په اسپه کښې نه خوښولو يعنی چه دهغې ښي لاس اوکسې خپه کښې ياګس لاس اوښي خپه کښې سپينوالی وي ياپه دريوکښې سپينوالی وي اويوه وره شوي وي ياپه يوه کښې سپينوالی وي اودري وړي شوي وي اوباقي چه کوم تجربې سره داسې قسم عيبونه ثابت شي دهغې هم نفي نشته اوسپيره والی تجربې سره نه ثابتيږي اوکوم واقعات چه داسې قسم مشهوردي ددي خلاف واقعات ددي نه زيات شميرکښې دي [۱۹ صفر/۱۳۲۹ھ/ تتمه اولی/ص۲۰۵]

مذاکرینو په مجمع کې په زوره قران لوستل

:(٤٦٧) څه خلق په ذکراواذکارکې مشغول وي داسې وخت کې قران لوستونکې په اوچت آواز سره ولولي یا په ورو- بل هم په اوچت اوازسره قران ولولي یا نه ؟

: بهتره داده چه نزدې دې نه کیني. خوکه نزدې کیني اوپه زوره لولي هم جائزدي لان الامربالانصات خارج الصلوٰۃ للاستحباب صرحوابه۔ (تتمه اولیٰ/ ص۲۰۲)

زاني لره دمزني په خاوند معاف کول ضروري دي یا نه

:(٤٦٨) زیدهندي سره چه دعمروښځه ده دعمروپه ژوندکې زناوکړه ایازیددالله دحق نه علاوه دعمرودهم خطاوارشو یاداحق الله اوحق العبددواړه توبې سره معاف کیږي یانه یالتوبې سره دعمرونه هم معافي اخستل ضروري دي اوایادغه شان پرې هم څه ګناه باقي پاتې کیږي

:چرته مې خوځه تصریح نه ده لیدلې خوقواعدشرعیه ددې مقتضي دي چه چونکه دې صورت کې دافعل موجب دبې عزتۍ دخاوندشویدې په دیکې ګناه زیاته ده لکه څنګه چه حدیث کې دې بنیادباندې دګاوندي دښځې تخصیص راغلیدې باقي داچه ایاخاوندنه هم معافي اخستل ضروري دي نودقواعدومقتضي داهم معلومیږي چه دتوبې قبلیدوپاره داشرط نشته څکه چه دا بې عزتې عرض لازم راغلیده ددې قصدنه دې کړي شوي وشتان بین لازم والمقصود. والله اعلم- (۲۳ جمادی الاول ۱۳۲۹ھ/ تتمه اولیٰ/ ۲۰۲)

دبزرګانو په توسل سره یادالله په نوم نوسره دعا غوښتل

:(٤٦٩) دالله نه دعاغوختل په حرمت دشیخ عبدالقادرباعث دقبولیت ده عبادي اودآدابودعا نه دي اودیره افضله طریقه ده او اسماء حسنی سره دعاغوښتل دادواړه برابردي یاڅه فرق پکې شته- اوددې بزرګانو ددین نه امیدساتل پکارمې چه ددوی په عزت اوحرمت سره الله باندې قبلول ضروري کیږي څکه چه دې بزرګانو په دین کې لوړلوړ مرتبې حاصل کړیدي څه لرې ده چه دعاکې په دوی سهاره وي موجب دثواب دې اودعاورسره قبلیږي ؟

: توسل په دعاکې دمقبولان حق که مړي وي اوکه ژوندوي صحیح دي داستسقاء په ... دحضرت ﷺ توسل دحضرت عباس ؓ نه اوقصه کې توسل دجناب رسول ﷺ نه ... ات دنبي ﷺ نه هم راغلیدي په دې وجه جوازکې يې څه شبه نشته هان که چرته

عوامو کې ددې دیره زیاته غلووي اوهغوي هم بالکل منع کړي داهم جائزدي خوالله تعالی باندې قبول ضروري ګڼل یاددې بزرګانوڅه سهاري امیدلرل یادهغوي نومونه داسماء الهیه برابرګڼل په زیاتې دې په شرعي باندې فقط (۱۴ رمضان ۱۳۲۹ھ/ تتمه اولیٰ/ ص۲۰۷)

جولا خېل خان ته شیخ ویل

:(٤٧٠) که چرته دقوم جولاخان ته شیخ ووائي نودیکې څه ګناه شته څکه چه دشیخ لفظ خوعام دې هرقوم خان ته شیخ وایې څکه عراقي وغیره- یاپه دې خیال چه مونږ خوټول خلق دیرکمزوري اوسپک ګڼري قوم جولاخېل خان ته شیخ وئیلی شي ؟

: دشیخ دوئیلوکې تلبیس اودهوکه ده په دې وجه جائزنه دي اوکوم غیرشیخ چه خان ته شیخ وایې هغه هم دتلبیس دوجه نه وائي دې سره ددې دمفهوم عام کیدل لازم نه راځي (۲۰ رجب/ ۱۳۲۹ھ/ تتمه اولیٰ/ ص۲۰۷)

ګناه باندې جرمانه مقررول

:(٤٧١) بکرګناه وکړه خپلوانوورسره تعلق پرېخودواوبکردتولوخپلوانوپه وړاندې معافي غوښتې نودبکرنه دتاوان په طوریعنې جرمانه دڅه کارخیرد پاره دفاسقانو اوګنهګارانودعبرت دپاره، اخستل جائزدي یانه ؟

: بل چاته اخستل جائزنه دي البته دجائزدي چه بغیردجبرنه بکرته ووئیلی شي چه ته په خپل لاس سره فلاني کارکې دومره ولګوه (۲۲ رمضان المبارک ۱۳۲۹ھ/ تتمه اولیٰ/ ۲۰۷)

دهره شپې شب قدر ګڼل دقران خلاف نه ده

:(٤٧٢) شعرای خواجه چه جوني زشب قدرنشاني هرشب شب قدراست اګرقدر بداني. داشعردجاخبره ده بعضې وائي چه داشعردقران مجید خلاف دې ددې وئیل نه دي پکارځکه چه هري شپې ته شب قدروئیل غلط دې؟

: داتحقیق نشته چه دچادې خودقران مجید خلاف نه دې کلام مبني دې په تشبیه باندې اوزیادیه شان یعني هره شپه مثل شب قدراست ،ای درنفس مهتم بالشان بودن اګرچه درجات اهتمام متفاوت باشند ،مقصودازاله غفلت ست ازقدرداني قیام لیل فقط (۱ شوال ۱۳۲۹ھ/ تتمه اولیٰ/ ص۲۰۸)

معنی شعرادم زحسن روئ توگربهره داشتی الخ

سوال :(۴۷۳) اکثرپه دي شعرباندي بحث کوي خوتسلی نه کیږي معنیٰ شعردادي

آدم زحسن روی توگربهره داشتی ******* ازدید بسجده پرداختی ملك

دخپلی راتې مطابق څه ولیکئ چه زړه مو خوشحاله شي؟

جواب : یاخودي شعرمحمول دي په مبالغی باندي ځکه چه ددیوان په غزلوکي بعض بیتونه دشاعرانومضمونوهم شته اوکه چرته داهم عارضانه مضمون وګنړي نداتوجیه کیدیشي چه داشعرنعت کي دي دجناب رسول ﷺ حسن کمال بیانوي دي تقریرنه مخکي په څومقدماتو باندي خان پوهه کړي وړومبی داچه دالله تعالیٰ احکام موافق دحکمت دي دویم داچه فرشتي دالله دحکم نه بغیرهیڅ هم نه شي کولی دریم مقصدد سجدي دي آدم ﷺ ته نزدیکت وه الله ﷺ ته ددي سجدي په ذریعی سره څلورم دنزدیکت لاري محصورنه دي پنځم بعض وعدي دعارفینو برهانی نه وي ظنی اوقناعی وي اوس تقریرد مدعااوریدل پکاردي چه دحضرت ﷺ حسن اکمل څنګه دي که چرته دآدم ﷺ په مخ کي وه نوپه ځاي ددي چه دآدم ﷺ په مخکي دسجدي حکم اوشوداحکم به شوي وه چه آدم ﷺ ته ګوري ځکه چه دهغوي جمال ته کتل دغه شان طاعت دي دي سره هغه نزدیکت ملاویږي کوم چه دسجدي سره دي ځکه چه دنزیکت داهم یوه لاره وه، (په حکم دمقدمی څلورمی) اواصلی مقصودهم دغه نزدیکت وه- (په حکم ددریمی مقدمی) اودیته به په سجده باندي ترجیح ځکه وي چه کمال نزیکت جنسی دي په کمال مشاهده باندي - کمال مشاهده موقوف دي په دي باندي چه غیرحق طرفته هیڅ نظرهم نه وي نودآدم ﷺ حسن ددي درجی نه وه چه هغه ته په کتوسره دغیرحق طرفته پټوالی راشي په دي وجه دلته سجده مناسب وه ځکه چه هلته دغه حالت وه اودحضور ﷺ حسن داکمل کیدو دوجه نه په دي وجه دسجدي حاجت رانغی بس صرف کتلوباندي اکتفا قرین حکمت وګرځیده- په دي وجه ددي حکم وشو، (په حکم دوړومبی مقدمی) اوچونکه دي حالت کي یې دزیارت جمال وشوپه دي وجه قرینی په سجده کي مشغولی نه کړي شوي (په حکم ددریمی مقدمی) اودامطلب نه دي چه سره دامر بالسجودنه په سجده کي مشغول نه شوي البته فعلی حق کلام کي نه دي ذکرشوي خوفعل دفرشتو کوم چه دي فعل حق دپاره لازم وه په ځاي ددي ذکر شویدي کوم چه ملزم باندي دلالت دپاره

کافی دي اودادعویٰ چه دي حالت کي یې دسجدي حکم اونه کړیوظني دعویٰ ده خوتولی دعوي دفن برهانی نه دي په دیکي څه نقصان پکي نشته (په حکم دمقدمی پنځمی) والله اعلم (۵ذی الحجه / ۱۳۲۹هـ/ تتمه اولیٰ/ ص۲۰۸)

دمدرسی مهره نعل مبارک دنقشی په شان جوړول

سوال :(۴۷۴) دنعل مبارک دنقشی په شان دمدرسی مهرجوړول کوم چه هرځاي بی ځایه لګولی شي لکه لفافه وغیره باندي څنګه دي نمونی دپاره دلفافی مهردرلیږو؟

جواب : دنقشی هم بی ادبی ده اودي نقشه کي چه کوم الفاظ لیکلی شي لکه لفظ الله وغیره دهغه هم بی ادبی ده- چه توبه توبه ګویاچه په نعل (پڼړي) باندي لیکلی شویدي فقط والله اعلم (تتمه اولیٰ/ ص۲۰۹)

دحضرت علی ﷺ نوم سره دکرم الله وجهه ونیلووجه

سوال :(۴۷۵) دحضرت علی ﷺ نوم سره دکرم الله وجهه څه وجه ده ؟

جواب : بعض علمانونه م اوریدلی دي چه خوارجودحضرت علی ﷺ نه نوم نه پس دالله وجهه زیات کړي وه دهغی جواب دپاره دکرم الله وجهه عادت وګرځیدو- اویوبزرګ نه م دااوریدلی وه چه ده ډیرپه ماشوموالی کي اسلام رواړي وه دده مخ مبارك چرته هم بوتانوته نه دي ټیټ شوي په دي وجه ونیلی شي فقط (۲۱ذی الحجه/ ۱۳۲۹هـ/ تتمه اولیٰ/ ص۲۰۹)

پیرا فضل دي یاپلار

سوال :(۴۷۶) په مرتبه کي پلارغوره دي یاپیردطریقت؟

جواب : دخدمت په حقوقوکي خوپلارمخکي دي اودواجباتوپه اطاعت پیرمخکي دي (تتمه اولیٰ ص ۲۱۰)

اصلاح معامله بامثال نعل شریف

سوال :(۴۷۷) تمهیدي نوټ دنعل شریف نقشی باره کي مولاناکفایت الله صاحب دبعض خلقوپه سوال باندي دوه جوابونه لیږلی دي په هغی باندي دلته نه دالاندینی لیکل وشول اوداليکل په دهغه مضمون تتمه وګنړلی شي کوم چه النورمحرم ۴۲هـ په عنوان تنبیه په

اصلاح معدلـه باتمثـال نعـل شريف شائع شويدي – تـصحيح الجـوب دتوثيقـه مـن الاحقرالافقراشرف علي تهانوي عفيٰ عنه پس دحمد اودصلوة نه احقر دواړه جوابونه ولوستل كوم چه بالكل حق وه اودمعنيٰ صحت سره لفظي ادب هم خاص طورباندي قابل دشاباش دي دكوم چه داسي نازك مسئله كي ډيرسخت ضرورت دي اوس ددي مضمونو متعلق دوضاحت په غرض بعض ضروري معروضات پيش كوم (۱) دليلونو سره ثابت شول چه دااعمال شرعيه نه دي اوداسي اعمالو دپاره دكوم منشاء چه محبت اوشوق طبعي اوادب وي دمستقل دليل حاجت نشته خلاف دليـل نـه كيـدل كـافي دي كماقـال عثمان ﷺ لامست ذكري بيميني منذبايعت رسول ﷺ رواه ابن ماجه ظاهره خبره ده چه دارعايت دحكم شرعي په بنيادنه دي كنى دپليتى كيږي به هم مرلوسره ياپه لاس سره نڅورلوسره جائزنه وي (۲) هركله چه ددي اعمالو بنياد ادب اومحبت اوشوق طبعي دي اوكله كله صرف شكل جوړول اومشابهت كول هم ددي جذباتو په شان جوړيږي نوهلته به هم اجازت وركړي شي- كماف الجلد الاول مـن مجموعـة الفتاوىٰ للعلامة عبدالحى صــ ۳۲۲ نقل عياض عن احمدابن فضلويه الزاهدالغازى قولـه مامـت القوس بيدى الاعلىٰ طهارة مذبلغنى ان رسول الله ﷺ اخذالقوس بيده، ښكاره خبره ده چه مبني ددي ماسيوا دواړوقوسونو تورڅه دي بيا تشابه كل عام دي ناقص وي كه تام اوكه دڅه عين وي اوكه دتمثال حضرت گنگوهي رحمه الله دتصويردروضى مدينى منوري اودنقشى دمدينى منوري اومكى معظمى ددلائل الخيرات دواقعي به باره كي جواب وركړيدي چه «بوسه دادن وچشم ماليدن برين نقشه هاثابت نيست واگرازغايت شوق سرزدملامت وعتاب هم برجانباشداه من الفتاوىٰ الامداديه جلد ثالث صـ ۱۴۰ اودنعل شريف نقشه كه چرته پوره مطابق هم نه وي خوپه څه درجه كي خو مشابه ضروري ده لكه دروضى شريفي نقشه كوم چه دلائل الخيرات كي ده بس غاية مافى الباب دپوره مطلقت دعوىٰ اعتقاداً ناجائزده اومحتاج ده نقل صحيح ته اوواجب الكف ده- باقي مطلق تشابه خومجملاً داحاديثو نه ثابت ده- (۳) داسي احكام حُبيه اوشوقيه كي تعدي نه كيږي په دي وجه ضروري نه دي چه دنعل مبارك تمثال سره څه معامله كول مستلزم وي دنورو تبركاتو تماثيلو سره دغه شان معامله كولو ته كماقال بعض العشاق:

امـــر علـى الديار ديار ليلىٰ اقبـل ذالجدار وذالجدارا

وما هذى الـديـار شغفـن قلبـى ولـكن حب من سكن الديارا

ولم يقـل اقبـل وذى الثمار

اومثلاً په جوماتونو كي استعمال شوي پاكه څپلي اچول نه تلل ددي بنياد صرف په ادب طبعي عرفي باندي دي. داديته مستلزم نه دي چه جرابي واچوي هم نوجومات ته تلل قياساً به خلاف ادب گڼرلي شي اومثلاً ښكلول دروضى شريفي دنقش كوم چه نمبر ۲ كي ذكرشوه دي ته مستلزم نه دي چه داصل قبرشريف اجازت دي وركړيشي- بلكه ددي مدارداهل ادبو په ذوق اوعـادت بانـدي دي، بـاقي دتمثـال شريف تخصيص ورومبي خوپـه وجـه دذوقـي كيـدومحل دسـوال تـه دي خوممكن ده چه دعـوىٰ كـوونكي ددي تخـصيص عـادي طلـب كوونكي خپل خان دپاره ډيره عاجزي اختياروي چه ددي نه دزيات درجي څيزونوته به زماڅه رسيدل وشي كماقيل:

نسبت خودبسگت كردم وبس منفعلم زانكه نسبت بسگ كوئ توشدبي ادبي

والله اعلم باسراره عباده، (۴) داتول تفصيل دحكم في نفسه دي كنى چرته چه غالب احتمال دمفاسدو وي هلته دنقشي خوڅه په خپل اصل تبركاتوانعدام هم په شرط دعدم اهانت وعدم لزوم ابقاء مطلوب اوماموربه دي- لكه څنگه چي دحضرت عمر ﷺ قصه دونى دكټ كولونقل شويدي (۵) ماچه كله رساله نيل الشفاء بنعل المصطفىٰ ليكلى وه- دهغى تقريباً شپږديرش كاله اوشول اگرچه په هغى كي هم ډيراحتياطونه كړي شوي وه منشاء كي هم چه دتفاتونـه نقـل شـوي وه اوناشـى كـي هـم چـه اخركـي دغلونـه اهتمـام سـره بنـد كړي شـوي وه خوبياهم ددي مفاسد محتمله نه ذهن خالي وه خودپنځلس كالونه زيات وخت تيرشوچه داسي قسم شبهات په زړه كي پيداشول چه هسى نه عوام غلوشروع كړي دي نه خوورځي پس يوصاحب توفيق دي باره كي استفتاء وكړه دهغى جواب ليكلوسره زه مطمئن شوم داجواب النور محرم ۴۲هـ كي په نهمه صفحه په عنوان تنبيه براصلاح معامله باتمثال نعل شريف شائع شويدي- بيادنوراحتياط دپاره مى النورشوال ۴۴هـ په شلمه صفحه ددي تنبيه تجديددي عبارت سره وكړو......چه دنيل الشفاء متعلق النورنمبر۹ دريم جلدكي وشو- بس هيچاته هم دغلوگنجائش پاتى نه شو- اوددي مفصل اومكمل تحقيق نه وروستوداحقرپه تحريراتوكي په خپلوكي هم اودنورواهل تحقيق حضراتوتحريرسره هم دتعارض احتمال پاتى نه شو- خوكه چرته اوس هم دچاپه خيال كي دتعارض شبه وي- نوهغوي دپاره زه اعلان كوم چه دنوروحضراتوپه تحقيق دي عمل وكړي اوزماتحريردي مرجوح بلكه مجروح اوممنوع عنه بلكه مرجوع عنه وگڼري فقط- (۲۲ربيع الثانى ۵۲هـ)

بیاد هغې نه پل خط راغی کوم چه لاندینی جواب سره نقل کولی شی

حضرت مخدوم محترم دام فیضهم: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته: مکرمت نامی معززاومفتخرکړم جزاء کم الله تعالی زمادوه خبري عرض کول دي- امید دي چه تسلی بخش جواب راکړي- دحضرت عثمان ﷺ دحدیث په ابن ماجه کې داالفاظ دي، ماتغنیت ولاتمنیت ولامست ذکری منذبایعت بها رسول الله ﷺ دیکې دري خبري ذکردي- اودریواره په اسلام کې منع شویدي-نوایاددي قول دامطلب کیدیشي یانه چه کله ماحضور ﷺ سره بیعت کړیدئ یعنی اسلام مې راوړیدي داکارونه مې نه دي کړي لکه حضرت عمر ﷺ قول .مابلت قائما منذاسلمت ،رواه البزارورجاله ثقات کذافی مجمع الزوائد- دي که چرته دامطلب وي نوذکرته دښی لاس نه لګولوچه به اسلام وي نه داچه دحضرت ﷺ لاس مبارك سره کولودوچه نه مې مسه ذکربالیمین پریخی دي- دویمه خبره داچه داحمدبن فضلویه داقول مامست القوس بیدی الاعلی طهارة الخ هریوقوس سره متعلق دي یاالقوس کې الف لام دعهددي اودینه یوخاص قوس مراددي چه هغې باره کې دوي ته پته وه چه دي قوس ته دحضور ﷺ لاس مبارك دتلوشرف حاصل شویدي- زماپه خیال کې قوس معهوداختل راجح دي- ځکه چه عام قوس اختل اوصرف په دي خیال سره چه داکمان حضور ﷺ لاس کې اخستی دي په دي وجه تولوکمانونوته صرف دمشاکلت دوجه نه بې اودس لاس نه لګول څه وجه نشته حضور ﷺ خوصرف کمان په لاس مبارك کې نه دي نیولی توره چاره ،لنګ، څادر، پټکی، قیمص، اوداسی نوروډیروخیزونوته یې لاس مبارك لګولی دي نوکه چرته صرف مشاکلت مرادوي نوددوي داجذبه به صرف په قوس کې نه موندلی کیدي- که چرته بل احتمال مراددي- نومعقول خبره ده-نوکه څه داسی څیزونه دوي ته ملاویدل دکومه چه دحضور ﷺ لاس مبارك ته راغلی دي هغې سره به یې هم داسی معامله کولو- خوبل څه داسی څیزملاؤنه شوصرف یوکمان ته داسی لاس ولګیدودهغې متعلق دامعلومه شوه چه دیته دحضور ﷺ دلاس لګولوشرف حاصل شویدي نودهغوي دمحبت جذبی دي کمان لره لاس لګول بې اودسه منع کړل- جناب ددي عبارت حواله مجموعة الفتاوی دمولانا عبدالحی دصـ ۳۲۲ ورکړیده- ماسره چه کومه فتاوی ده دهغې په ورومبی اودویم جلدصـ ۳۲۲ کې داعبارت ملاؤنه شواودریم جلدصفحه خودومره نه دي بره کرام دجلدتعین سره څه له نخښه هم ولیکئ دي دواړوخبرونه علاوه یوه بله خبره هم عرض کول دي چه دمحبت

دجذبی دوجه نه چه کوم افعال سرزدشی هغه اختیاري دي که اضطراري که چرته اختیاري وي نواحکام شرعیه (واجب ،سنت،مستحب،مباح،مکروه، اوحرمت)نه به دي سره څه حکم ضرورمتعلق وي هن که چرته اضطراري وي نودي احکاماتونه به څه حکم دي پوري متعلق نه وي نوتصویراونقشه ښکلول په سرکیخودل که چرته اختیاري وي نوکم نه کم مستحب یامباح خوبه ضروري یابل صورت سره کم نه کم مکروه خوبه ورته ونیلی شی یاداامورشرعیونه دخارجولوڅه صورت دي استحباب په صورت کې ددي تشریع اوعمل طرفته ترغیب ورکول هم صحیح دي خوکه چرته داضطراري کیدوپه صورت کې دیته جائزونیلی شی نوداونیل خوصحیح دي چه داامور شرعیونه دي،دشرع تعلق اختیارسره دي نه اضطرارسره- خودي صورت کې به مضطردافعل (ښکلول،سرپریخودل،توسل کول،جوازیااستحباب یااباحت یاکراهت سره نه شی متصف کیدي بلکه زیات نه زیات مسکوت عنه به وي اوددي تشریع اوترغیب په جائزنه وي ځکه چه دامور اضطراریوتشریع اوترغیب غیرمعقول دي هغه خواضطرار اوغلبه دشوق نه په خپله سرزدکیږي- نه دچاپه ونیلواوترغیب ورکولوسره زماداجرآت معاف کړي اوتسلی بخش جواب راکړي؟

جواب :مولانا السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته:خط راورسید وفبارك الله فی صوتکم للدین، کوم احتمال چه منذبایعت بهاالخ کې اودغه شان دمامست القوس په الف لام کې ښکاره کړي شویدي اګرچه ذوق ددي نه مخکې دي خصوصاً چه لفظ بهاته وګوري، خوحفاظت ددین عواموډپاره فائده منددي باقی تخصیص دقوس -نوړومبی خوداسی احکامات ابی کې تعدي نه وي کماذکرته فی نمبر ۲ من تحریری السابق- دویم داستعمال زیاتوالی فی عبادة الغروفی ذلك الزمان- ددي تخصیص یوه وجه داهم کیدیشي چه قوس ته دیني تلبس زیات کیدیشي اوداعبارت دمجموعه فتاوی ورومبی جلدمطبوعه شوکت اسلام ۱۳۰۴هـ صـ ۳۲۲کې دي صـ ۳۱۸نه دکتاب النوادردلاندي شروع کیږي اوصـ ۳۲۷پوري راغلیدي جواب کوونکی مولانا محمداسمٰعیل صاحب دي اومولاناعبدالحی صاحب یې تصحیح کوونکی دي اودامورشرعیونه دخارجولومتعلق چه دکوم صورت تپوس کړي شویدي دلته افعال مقصوده فی الشرع مراددي نه احکام شرعیه -ماداعنوان ستاسودرعایت دوجه نه اختیارکړي وه چه ستاسوعبارت په مخکې خط کې دي اوس هغه دمقاصدوشرعیه په عنوان سره بدلوم،اواستحباب یاکراهت لغیره بالتسبب للمقاصداوللمافسددي داخوطالب علماءنه

کلام دي ديکې دواړو جانبوته ډير وسعت دي هر جواب باندي شبه اودهري شبې جواب کيدېشي خو دشيخ شيرازي ارشادراته يادېږي:

نداني که مارا سرجنگ نيست — دگرنه مجال سخن نيست

په دي وجه مناظرانه کلام بندوم ناظرانه عرض کوم چه زه اگرچه احتياطي تحريرات هميشه شائع کوم - چونکه دمکتوبات خيردريمه حصه ۳۲ هـ صـ ۱ باندي هم يو خاص مضمون دي خو مسئله کې مي ترددنه وه خو اوس ماته دخواصو دآراؤ داختلاف دوجه نه په نفس مسئله کې ترددپيدا شويدي بيا هغې سره دعوامو دخواهشاتو دوجه نه دکوم نه چه زما ذهن خالي وه مصالح دنييه ددي مقتضي دي چه په حکم دع مايريبك الى مالايريبك الحديث،زه دخپلې رسالي نيل الشفاء نه رجوع کوم اوکه چرته څه درجه چه دنقصان سبب ګرځي هغه پيدا شوي وي دهغې نه استغفار کوم اوچاعاشق صادق ددي فيصلې استحضار او تکرار کوم

على انني راضٍ بان احمل الهوىٰ — واخلص منه لاعلى ولاليا

والسلام (نوټ) که چرته ممکن وي دامضمون مکمل يا ددي خلاصه زرترزره شائع کړي بياکه مستقلاً ووهو اولى يا په اخبارکې وي اشرف على ۴۱ جمادى الاولىٰ ۱۳۵۲هـ النور جمادى الاولىٰ ۵۷هـ صـ ۱۷

ديونوي مضمون مکاره سلسلې جاري کولو تحقيق

سوال :(۴۷۸) نحمده ونصلى على رسوله الكريم. څه فرمائي دي باره کې چه دسوال کوونکې يو دوست يو خط ليږلې دي زما په نوم دهغې مضمون بجنسه لاندي ليکلې شي دعاء اى الله زه ستانه سوال کوم چه ټول مخلوق باندي رحم وکړي او مونږ ټول دګناهونو نه بچ کړې اوته مونږ دخپل رحمت په سيوري کې اوساتې، دادعا په ټوله دنيا کې خورول پکاردي دانقل کړه وګوره چه څه نتيجه راوزي دادعا ډيره پخواني ده چاچه داليکلې ده دهغوي لرې لوې مصيبتونه لري شوي دي اوکومو خلقو چه نه ده ليکلې هغوي په سختو مصيبتونو کې راګير شويدي- دا په دوه ورځې کې دنته ليکل پکاردي کوم خلق چه داهانهوه وستانوته وليږي هغوي ته به په څلورمه ورځ چه زيري ملاؤشي خپل نوم مه ليکه صرف دملاويدو تاريخ وليکه- دخط مضمون ختم شو- اوس تاسو خبرراکړي چه دشريعت موافقت داسې عايه اردوژبه کې کومه چه دغه څلورو په ورځ کې ليکلې شويده- آيا په دغه ورځ کې

سره موثر ګڼړل اودغه نتائجو چه کوم ذکرشول خيال کول صحيح دي يانه- اوبل داچه دعاخاص په دووورځوکې دننه دننه ليکل اوخصوصاً نهه دوستانوته ليږل اوهغوي ددي دعا په خواصو باندي خبرول او په څلورمه ورځ دزيري اميدلرل اودليکونکې نوم نه ليکل پټه دخط په ذريعه يا په څه نورو طريقو سره نهه دوستانوته دعا رسول نوصرف تاريخ ليکل ضروري ګڼړل غرض داچه کومې طريقې سره يې دخط په مضمون کې ددعا اشاعت ليکلې دي داسې ګڼړل اودټولونه مخکې اوضروري ددي خبري تپوس کوؤ- چه ددعا ليکوونکې په نسبت داعقيده لرل چه (دليکونکو ډيرلوئ لوئ مصيبتونه لري شويدي اوکومو خلقو چه دليکلو نه انکارکړيدي هغوي په سختو مصيبتونو کې راګيرشويدي) صحيح دي يانه ددي خبرو څه وجود په قران اوحديث يا په اقوالو دمجتهدينو کې موندلې شي يانه- بينوا توجروا؟

جواب : په دي فعل کې شرعاً څوخرابياني دي – ورومبې بغير ددليل شرعي نه دنفع اونقصان عقيده لرل- دويم دغيرضروري امرالتزام ضروري ګڼړل وکول دريمه نوروته هم ددي عقيدي التزام طرفته دعوت سکول، څلورم اسراف ، پنځم مسلمانانو په ويره اوحرانيتا کې اچول چه داهم يو قسم ويرول اوتکليف ورکول دي کوم چه ناجائزدي په دي وجه دافعل پريښودل واجب دي اوددي بندول هم واجب دي فقط (ذيقعده ۱۳۳۰هـ تتمه اولىٰ صـ ۲۱۰)

دچندي دهلال احمر دضرورت اثبات

سوال :(۴۷۹) دهلال الحمر دچندي په فرضيت کې يوه شبه ده هغه داچه زياتوالي دبادشاهي خزانې ضرب المثل دي دنوابانو ،بادشاهانو خزانې خودکرورونو بلکه ددي نه هم زياتې وي غټ غټ بادشاهان خوپريږده په دي وجه زه نه پوهيږم چه بادشاهي خزانه دي ختميدوته نزدي اوناکامې وي حالانکه دجنګ بلقان شروع کيدو څه دومره وخت نه دي شوي اودطرابلس جنګ يو معمولي جنګ وه اوهلته نه چه کومو حاکمانو اظهار دضرورت کړي هم وه دهغې نه دانه شي ګڼړلې چه خزانه ناکافي ده ځکه چه داسې وخت کې داخيال راځي چه خداځ خبر داجنګ به ترکومه پورې وي اوخزانه دلښکراوحکومت دپاره ډيره ضروري اوپه منزله دبنياد ده دي وخت کې چه دوي څومره هم مدداوقوت ورسولې شي رسول پکاردي نه وداچه خزانه کافي نه ده کني بادشاهان ددنيا په داسې وخت کې دچندو محتاج وي دداسې واقعاتو څوهغوي ته هر وخت خطره وي- دهغې دپاره انتظام دي پوره خزانې اودلښکر ساتې-

نوداضرورت په معنی دعرفي ضرورت وي نه فرض عين شرعي چه دهغې پريخودونکی دي گنهگاروگرځی بل ددي فرضيت دپاره دخزانې ناكافي كيدل يقيني دليل سره ثابتيدل پكاردي نه تاريقيني نه درعيت وبناليقيني- اوكه چرته فرض دي نوڅومره مقدارفرض دي اوكوم بې وسه ته چه زكات وركول جائزدي ياماشومان بچې په هغوي باندي فرضيت شته يانه كوم سړي چه مثلاً پنځه روپې وركولی شي هغه يوه روپې يايوه پيسې وركولوسره اوكوم چه بالكل محتاج وي هغه يوه پيسه وركولوسره خلاصيدلی شي؟

جواب: دسوالونوزياته حصه خوهمونه دي دهغې تولوجواب دادي چه مونږته واقعاتو معلومولوزيات ضرورت نشته- دالله تعالیٰ صريح ارشاددي- اون استنصروكم في الدين فعليكم النصر- اواستنصارتواترسره محقق دي بس ممكن امدادفرض دي اوامدادبه مالونوممكن دي اودداسې فرائضومقدارنه شي معين كيدي ددي ځاي په وسعت اودهغه ځاي په كفايت باندي هركس دپاره دهغه فرض دي (تتمه اولیٰ/ ص ۲۱۱)

چنده گرفتن ازطوائف

سوال: (۴۸۰) څه فرمائي عالمان دين په دې مسئله كې چه كومه چنده تركوته ليږلی شي دهغې دوه مده دي وروميې مدد زخميانويتيمانانو اوكندوامداددريم مدقرض حسنه كسب كوونكې زنانه په دواړومددونوكې چنده وركول غواړي اوښكاره خبره ده چه روپې هغوي سره حرام فعل په ذريعه حاصل شويدي حاصلوونكوامهتميمنودچنده ته دداسې زنانوته په دغه برتومدونوكې دڅه مددپاره چنده اخستل جائزدي يانه تفصيلي اومدلل جواب وليكئ؟

جواب: كوم صورت چه دگنجائش دي په هغې خوعوام نه پوهيږي په دي وجه داسې كول موجب دتوحش دي البته يوي طريقې سره دهغې اصلاح كيديشي هغه داچه زنانه دي دچامالدارنه قرضه واخلي اوددي مدونوكې دي وركړي بيادي هغه قرضه خپل طرفنه اداكړي (۱۸ربيع الثاني/ ۱۳۲۱هـ/ تتمه ثانيه/ ص ۲۴)

حل اشكال برتعلق وعيدبه بُخل مروة

سوال: (۴۸۱) دبخل تعريف وليكئ چه كوم صرف شرعاً اومروةً ضروري دي هغه كوم كوم دي هغې باره كې څه قاعده كليه چه هغې سره ټول جزئيات معلوم شي وليكئ دويم چه كوم

سړي صرف شرعي مصرفونه ضروريه په ځاي رواړي هغه بخل دي يانه چه كوم وعيداومذمت په قران اوحديث كې راغليدي دهغې مستحق گرځی يانه كه چرته دي بخيل اومستحق دوعيددي نوولې كوم خرچ چه مباح يامستحب وي دهغې په پريخودوڅه وعيداومذمت نشته اوكه چرته مصرفونه مروةً شرعاً هم ضرورت دي؟

جواب: اسلام عليكم ورحمة الله وبركاته- مصرفونه كوم چه مروة ضروري دي دهغې مدارپه عرف اوطبع سليم باندي دي ددي نه سيواڅه ضابطه معلومه نه ده- اودداسې مصرفونو پريخودونكی بخيل خودي خوداهغه بخل نه دي په كوم چه وعيدراغليدي البته دسخاوت دبركتونونه داسړي يقيناً محروم دي (۲۵جمادي الاولیٰ/ ۱۳۳۱هـ/ تتمه ثانيه/ ص ۳۱)

دبعضو مدرسو مفاسد

سوال: (۴۸۲) ديوي مدرسې مهتمم رپوږټ سره ددي لاندينې مضمون راليږلی وه هغه مضمون سره دجواب نه نقل كولی شي يورپوټ دمدرسې .... په خدمت كې درليږو- كه يونظرددي مضمونونه وگوري نومادپاره به باعث دهدايت ي قابل اصلاح ځايونوباندي دغه كتاب كې په دغه ځايونوهدايت وليكئ دي دپاره چه آئنده دپاره فائده مندوگرځی -دكتونه وروستوچه كله پكې څه اصلاح وكړي نوبيادا كتاب ماته واپس راوليږئ-

جواب: دمدرسې رپوټ باره كې چه كوم ارشادشويدي ماآخره پوري اگرچه په ژورنظرسره نه خوبالكل سرسري هم نه ،درميانه نظرمې سره وكتو- كه چرته ستاسوپه اخلاص اواوچت خيال باندي مې اعتمادنه وي نوزمامعمول په داسې موقعوكې دادي چه زه وروستووالی كوم خپله رائي نه ښكاره كوم څكه چه دي زمانه كې ډيرطبيعتونه ددي برداشت قابل نه دي خوچونكه ومن اتفاق سره زمامخاطب مكرم دي داموانع نشته په دي وجه ماته په حكم باندي دعمل كولو گنجائش كيديشي- دي بنيادباندي ډيرمختصرعرض كوم- كوم خيال ددي مدرسې په شروع كې چه زماداذهن كې وه هغه ډيربدل شو شروع كولوكې خوشحالي داوه چه دابه دبچودينې حالت صحيح كړي اواوس داذهن كې راځي چه كه چرته دين دغه وي چه په هغې كې بدعاتوته بدونه وئيلې شي نوبې شكه داسې دين ته ممكن دي چه صحيح يې كړي خوكه چرته په دين كې بدعات مذموم وي نوبيادي مدرسې نه په ځاي داصلاح ددين دافساددين خطره ده -دكوم انتظام اونصاب انتخاب چه دبدعتيانوپه لاس كې وي (ص ۲۱)، اوديكې څلوروڅې چهتې بدعاتو كې

دشرکت دپاره ورکړیشي (صفحه ۲۷) په دیکي دشیعه ګانومذهبي رعایت وي (صفحه ۲۷) په دي دشرعي مسئلي چه دنابالغ تبرع قبلول جائزنه دي خیال نشته (صفحه ۲۲) په دیکي بچوته دسرنه دحال اوقال دپنځوایتونو مخترعه طریقه اوخودلی شي (صفحه ۸۹) اوداغیرمشروع دیکي جمع وي اوصرف په خوبونو او اتفاقي واقعاتوباندي دي ددي دمقبولیت استدلال وکړیشي آیادي مدرسه کې داصلاح منهاج السنة اثرکیدیشي – که چرته داتقریرتفصیل زمامحل دنزاع وشي نویوه مختصره خبره شهادت دپاره کافي ده ایاکه حضرت مولاناقد سره ژوندوي اوهغه سرې تعلق وي نودمدرسي داسي رنګ کیدي شو - (۲ شعبان/ ۱۳۳۱ هـ/ تتمه ثانیه/ ص ۲۱)

سفربخیال حصول زربسبب وعظ

سوال :(۴۸۳) که چرته یوسړي دخپل ځاي نه لري سفروکړي اوپه خپل ځاي کې یې داخیال کړي وي چه مونږ په سفرځواووعظ وغیره په کوؤ اوخلق به زمونږخدمت کوي روپی پیسی به راکوي نومونږبه یې اخلوخوداسی به نه کوؤ چه دومره پیسي راکړئ چه کله مونږوعظ وکړو کنی نه- نودي صورت کې دي خیال سره روپی اخستل جائزدي یانه؟

جواب : زماتحقیق دي خبره کې دادي چه چاوعظ کړیدي که چرته هغه خلق ددین یادقرائنونه معلوم شي چه دوعظ په وجه یې ماته رکړیدي نوددي اخستل بیاښه نه دي اوکوم ځاي چه یقین وي چه که وعظ ونه کړم بیاهم فلاني سړي ماته راکوي نوددي اخستل صحیح دي اګرچه دانیت چه دسفرکولوباعث دروپوملاویدوخیال دي داخلاص خلاف دي فقط (۳ شعبان ۱۳۳۱ هـ/ تتمه ثانیه/ ص ۲۲)

کشف تلبیس بعض غیرمقلدین درنقل

عبارت صاحب فتاوی بتائیدخویش

سوال :(۴۸۴) اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته: یوه غټه پاڼره دمرادآبادي داهل حدیث انجمن والودکلام المحققین په نوم شائع کړیدي دي پرچي سر یې په خدمت کې درلیږم په هغه کې دالاقتصاداوامدادالفتاوی مولفه انجناب اومکاتیب رشیدیه مرتبه مولوي عاشق علي صاحب میرتهي نه داخودلی شویدي چه جناب والاتقلیدشخصي ښه نه ګنړي ایادجناب

دتحریراتودغه مقصد دي کوم چه دمرادابادي غیرمقلدینوګنړلی دي کومه خبره چه دجناب په نزدصحیح اوقابل دعمل وي هغه ولیکئ فقط والسلام؟

جواب : هغه غټه پاڼره مي وکتله- دنوورحضراتودتحریراتومفصل تحقیق دهغه حضراتونه کول مناسب دي چه دهغوي دتحریراتوپه نقل کې څه څه کمي زیاتي شویدي باقي خپل تحریرات مي اصل سره اوکتل نودنقل کوونکي خوخیانتونه راته معلوم شول اوحیرانتیامي وشوه چه داصاحب دعمل بالحدیث دعوی کوي اوبیادروغ تړل اودهوکه کول څه رنګه جائزګنړي په دي چه سرسري نظرسره خاص زماطرفته منسوب کړي شوي تحریرکې دري خبري قابل دتنبیه معلومي شوي- ورومبی دتذکرة الرشیدنه زمادخط چه کوم مضمون نقل شویدي هغه ماپه طوردتحقیق اودرایې نه دي لیکلی بلکه داشکال په طورمي پیش کړیدي یعني په بعض اعمالومتکلم فیها کې په کوم باندي چه دبدعت کیدوحکم لګی اوتقلید کې دفرق تپوس کول مقصد دي- په دي وجه څوپوري چه نقل کوونکي زماعبارت نقل کړیدي اوڅه یې پریښی دي دهغی نه یوه کرخه پس داعبارت دي چه سره ددي تولوامورونه دتقلیدشخصي استحسان وجوب مشهوراومعمول به دي. نوددي قبح به څه رنګه لري کولی شي اه- صریح دلیل ددي خبري دي چه مقصدددي نه لري کول دشبې دي سره دمنلووجوب دتقلید شخصي کنی که چرته ددي وجوب یې نه منلی نوبیا اشکال دڅه وه- اوسوال کولوته به ضرورت نه وه نویوخیانت یې خوداوکروچه زماسوال یې زماتحقیق وګرځولو- بیازمادي خط په جواب کې مولاناداليکلی دي کوم صفحه ۱۳۳ باندي دي- په هغی کې فرق خودلی دي اوکوم چه مامنلی دي په هغی باندي ناقل صاحب نظرنه دي کړي یایې قصداً پټ کړیدي آیادادهوکه اوغش نه دي. دویم اقتصادنه یې چه کوم عبارت نقل کړیدي هغه هم پوره نه دي دامضمون یوجزي وي داوم مقصد- دهغه په اول کې داتصریح ده چه که چرته یوعالم متبحرته په خپله یادهغه دقول نه بل چاته دمجتهددقول مرجوح کیدل هم معلوم شي نوکه چرته په هغی کې دلیل شرعي سره دعمل کولوګنجاتش وي اوراجح باندي دعمل کولو سره احتمال دفتني اودتشویش وي نویه مرجوح دي عمل وکړي اوحدیثونوسره یې په ده باندي استدلال کړیدي ،دي نه پس یې دالیکلی دي اوکه چرته ګنجائش دعمل نه وي بلکه پریخودل یې واجب یاارتکاب دامرناجائزلازم راځي اوماسیوادقیاس نه پري څه دلیل نه شي موندي کیدي اوجانب دراجح کې حدیث صریح صحیح موجودوي دي نه وروستوعبارت

ختم شويدي- کوم چه ناقل ليکلی دي بيامخکښې يې تصريح کړيده صفحه ۲۹ کښې چه داسې مقلدته په وجه ددي چه هغه هم په دليل شرعی باندي منګولی لګوي اودااتباع شرعی قصد کوي بدوئيل جائزنه دي اودادي پوره مضمون مخلصا- اوس داوګوري اوناقل صاحب چه څه ددي نه ثابتول غوختل هغه هم وګوري چه دهغه دي عبارت سره څه تعلق دي دريم دامدادالفتاوی نه يې چه کوم عبارت نقل کړيدي دهغې سياق اوسباق يې هم ځان دپاره نقصانی ګڼرلونوحذف کړي يې دي ددي نه برده دفقهاؤ اومحدثينو دمسلك مفصل تاريخ يې ليکلی دي اووئيلی يې دي چه تردي پوري چه ددي نه هم زيات دفتنووخت راغی اودداړودلوکښې تشددزيات شو دي نه وروستودبعض مقلدينو تشددبيان دي اوناقل صاحب صرف هغه نقل کړيدي اودهغې نه وروستوداعبارت دي- اوبعض اهل حديثوقياس اوتقليدخومطلقاً حرام اواقوال دصحابؓ اودتابعينوغيرمستند ګرځولی دي اواما مان دمجتهدينويې خطاکونکی دهوکه بازاوتولومقلدينوته يې مشرکين اومبتدعين وئيلی دي اوسلفوباندي يې بدوئيل اودخلفوباندي يې لعنت وئيل اودهغوي ته جاهل ګمراه اوبی قوف اوفاسق وئيل يې شروع کړل- حالانکه ددي تقليدپه جوازباندي دامت اجماع ده اوداخل دي په عموم ددي ايت کښې واتبع سبيل من اناب الی اوايت فاسئلوااهل الذكران كنتم لاتعلمون الخ- دادي پوره مضمون مخلصا- اوس دناقل صاحب نه تپوس وکړي چه په ديکښې دتقليد شخصی حرمت اومذمت علی الاطلاق چرته دي که چرته تقليد غيرمشروع باندي کلام دي نودغيرمقلدينوهم مذمت دي اوملامتياده پري- نودواړوجزونوباندي عمل وکړي- اوکه چرته موږ انصاف دارګڼړي اودعمل تتمه داهم ده چه يواشتهاربل چاپ کړي چه دهغې داسرخی وي چه دغيرمقلدينوپه مذمت کښې داشرف علی تقريراودبعضوغيرمقلدينوداتباع دمدعيانودهوکه اوبی انصافی زموږ په ژونده کښې په موږ باندي دادروغ ترل الله دا اصلاح اوفرمائي (۲۰ جمادی الثانی/ ۱۳۳۲ھ/ تتمه ثانيه/ ص ۱۴۵)

جواب شبه تنافی درحديث شش عيدوقول امام

سوال:(۴۸۵) شپږروځي په شوال کښې په حکم دحديث دمسلم من صام رمضان ثم اتبعه ستا من شوال کان کصيام الدهرانتهی ،مسنون اومستحب ده خوامام ابوحنيفه ؒ ورته مکروه وايي که يوبل پسې وي اوکه جداجداوي دوړوکی اخترنه پس – عالمګيري

معتبرداحنافوکتاب دفقی هغی کښې راځی ويکره صوم ستة من شوال عندابی حنيفة ؒ متفرقاکان اومتتابعاً انتهی -لهذا امام نووی ؒ ددغه حديث په شرح کښې فرمائي هذاالحديث الصحيح القريح واذاثبت السنة لاتترك لترك بعض الناس واکثرهم اوكلهم لها الحق ،نووی جلد اول ص ۳۶۹، لهذا په دي وجه عرض دي چه موږ مقلدينوته دخپل امام اعظم ؒ دارشادمطابق داروژی مکروه ګڼړل ښکارده ياپه حديث باندي عمل کول ښکاردي خوداسی صورت کښې چه مطابق حديث صحيح راغليدي دامام صاحب قول پريخودوکښې خوترك تقليدلازم نه راځی ځکه چه تقليدخومسائل اجتهاديه کښې کيږي نه منصوصی کښې اوبل دمجتهدينووصيت مطابق اذاصح الحديث مهرمذهبی اتركوااقولی بقول الرسول ﷺ ترك دتقليدهم لازم نه راځی ځکه چه مسائل منصوصه خومحل دتقليدنه دي دحديث اتباع دمحدثينودتصريح مطابق واجب ده – اوکه چرته ديته هم تقليداووئيلی شی نوموافق دمقولی داما مانوکښې تقليدپريخودل راغلل اوعمل بالسنة مکروه اوناجائزګڼرل خوخطره ده چه داما مانواودعالمانودتصريح مطابق چرته موردد سزا ونه ګرځی – په دي وجه امام ابن حجر ؒ فتح الباري دريالسم جلدص ۲۸۲ مطبوعه مصرکښې فرمائي ويستفادمن ذلك ان امرصعلم اذاثبت لم يكن لاحديخالفه ولايتحيل فی مخالفته بل يجعله الاصل الذی يردعليه ماخالفه لابالعكس كمايفعله بعض المقلدين ويغفل عن قوله تعالیٰ فليحذر الذين يخالفون عن امره الاية– انتهی اووروورويه شرك فی الرسالت کښې مبتلانه شی معاذالله منه- داعرض دفقيرحقيرپه نظردتحقيق اواخلاص باندي مبنی وګڼړي اوجواب راکړي فقط والسلام؟

جواب: فی الدرالمختاروندب تفريق صوم الست من شوال ولايكره التتابع علی المختارخلافا للثانی حاوی والاتباع المكروه ان يصوم الفطروخمسة بعده فلوافطرالفطرلم يكره بل يستحب ويسن ابن الكمال وفی ردالمحتارقوله علی المختارقال صاحب الهداية فی كتابه التجنيس ان صوم الستة بعد الفطرمنهم من كرهه والمختارانه لاباس به الیٰ اخرماقال واطال وقال وتمام ذلك فی رسالة تحريرالاقوال فی يوم الست من شوال للعلامة قاسم وقدرد فيها علی مافی منظومة التباني وشرحهامن غروة الكراهة مطلقاً الیٰ ابی حنيفة ؒ وانه الاصح بانه علی غيررواية الاصول وانه صحح مالم يسبقه احدالی تصحيحه وانه صحح الضعيف وعمدالی تعطيل مافيه الثواب الجزيل بدعوایٰ كاذبة ثم ساق كثيرمن نصوص كتب المذهب فراجعهافافهم .ج۲ ص ۲۰۱.

مصرية، وفى العالمگيرية بعدنقل قول الكراهة والاصح انه لاباس به كذافى محيط السرخسى ج۱ص۱۲۹. فعلم بهذه النصوص المذهبية ان القول بالكراهة لم يصح نسبتها الى الامام وانه دعوى بلادليل فلايلزم اشكال ترك الحديث ولاترك قول الامام لانه يوافق (الحديث) (۷شوال ۱۳۳۲ھ/ تتمه ثانيه/ ص۱۷۴)

بعیت غائبانه

سوال:(۴۸۶) آیابعیت غائبانه درست دي یانه؟

جواب: درست دي په دلیل دبیعت دعثمان ﷺ اوهغه غائب وه (۱۵ذیقعده/ ۱۳۳۲ھ/ تتمه ثانیه/ ص۱۸۵)

متن دفع اللحج فى شناعة فلم الحج/ دحج دفلم حکم

سوال:(۴۸۷) اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته: نن ددیري مجبوري ن دخپلی پریشانی اطلاع عرض کوم چه دوه څلورو ورځو نه امرتسرته یوفلم راغلیدي په هغی کې دحج دارکانو افعالو تصویرونه اودهغی معائنه کولی شی دامرتسرتولو عالمانو دافتوی ورکړه چه داتماشه کتل منع دي اوډپټی کمشنرته یې درخواست ورکړو داتماشه یې منع کړه: دښاربعض مسلمانانو بیادرخواست ورکړو اوهغه یې جاري کړو- او اشتهاریې ورکړو چه عالمانو غلطی کړیده چه ددي دکتلو نه یې منع کړیده- دیکې دحج شوق پیدا کیږي دیکې دحاجیانو دتصویرونو اوحرکاتو عبادتونه بغیربل څه نشته – اوددي اموروکتل مباح اوثواب دي ددي اطلاع نه داعرض دي چه حضرت والایې څه داسی موثرعنوان یاایت یاحدیث ولیکي چه په هغی ددي فلم اودتماشی حرمت وي؟

جواب: اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته: اوس خودداسی غم اودخفګان وخت دي په څه څه باندي اوژاړو بیاداچه دخپلو ورونړو دلاسو دغم سامان جمع وي زماحالت خودرته معلوم دي چه اوس دمحنت کار نه شی کیدي خوڅه متفرق اموراجمالاً په ذهن کې راغلل داخو ك صاحب دعلم سره دهغه احناقو کوم چه دهغه په ذهن کې راشی یوځاي دي کړي (۱) فقهاء تصریح کړیده چه تعریف یعنی دمیدان عرفات داوریدونکو نقل کول بدعت دي حلانکه هلته نورمنکرات نشته (۲) دفلم دکمپنی اله دلهولعب کیدل ښکاره خبره ده- اودلهوالات ددین

دمقاصدنه کنټرل ډیره بی ادبی اوسپکوالی دي په حدیث کې دهغی ګانی ویونکی جینی داوینا وفینانبی یعلم مافی غد منهی عنه –وګرځولی شوپه دي وجه بعض شارحینوداوجه هم لیکلی ده اګرکه دیکې به بل احتمال هم وي خوپه دي توجیه باندي هم نکیرنه دي کړي نوددي وجه په موثرکیدو باندي اجماع ده اګرچه دي محل کې متحقق نه وي اودغه مبنی دي په ګرامو فون باندي دتلاوت اوریدو دممانعت اوقران مجید دکافرانو مذمت په دي باندي کړي شوي دي چه اتخذوادینهم لعباولهوا، اوددین نه اسلام مراددي کماصرحوا- حالانکه هغه ددوي دین بالقوه وه په اعتبار دوجوب دقبول نوچه دچادین بالعقل اسلام وي دهغوي دي پوري لوبی اوټوقی کول به څومره بدترین وي (۳) بیادحج اکثرافعال تعبدي غیرمدرك بالقیاس دي اوداسلام مخالفین به هم په کتونکوکې شامل شی هغوي به په ټوقواومسخرو سره پیش کیږي- اوداخلق به ددي سبب وګرځی (۴) په دیکې دتصویرونو استعمال اودهغی نه خوندا خستل هم وي اوددي بدوالی کې دهیچا کلام نشته اګرکه دعبادت کوونکو تصویرونه وي - حضوراقدس ﷺ دحضرت ابراهیم ﷺ او اسمٰعیل ﷺ دتصویرونو کوم چه بیت الله کې دننه جوړکړي شوي وه هغی سره چه کومه معامله کړي ده هغه معلومه ده (۵) بل داچه دي نه به خواهش پرست ددي رسم په جوازباندي دلیل ونیسی کوم چه دڅوورځونه جوړشویدي چه په یوخاص ځاي کې به جمع کیږي اودحج نقل به کوي کیدیشی چه په ابتداء کې دحج دتحریك نیت وي خواوس به یې یوخاص حج وګنړي اوددي په مفاسدوکې دټولو اتفاق دي نوهغی کې اودیکې به یې بیابه فرق څنګه پوهوي اوهرکله چه دي عمل کې اباحت هم نشته نوپه دیکې عقیده دثواب لرل خوکفرته نژدي کیږي بل فقهاء جرس وهونکی دپاره په لاالٰه الا الله باندي اوازوچتول دویخولودپاره استعمالولوته یې معصیت وئیلی دي حالانکه طاعت اواباحت کې دومره لرې والی نشته څومره چه معصیت اوطاعت کې دي اومعصیت کې یعنی فلم لره دحج دترغیب جوړولو ذریعه به څومره ډیره بدترینه وي (النوررجب/ ۵۸ھ/ ص۱۰)

جواب شبه برقول فقهاء کرام که ازیدکُل مراد ګرفته نمی شود

سوال:(۴۸۸) یوصاحب دوایې چه ولاتلقوا الخ دامعنیٰ ده چه تاسو باعث دهلاکت مه جوړیږي دا په هغه موقع باندي دي چه صاحب دکنزالدقائق دافرمائي چه ید (لاس) رجل (خپه، اودبراشا) چه ووائي نودي نه ټول بدن مرادنه شی اخستی دي باندي داسوال کیدیشی چه ولاتلقوا الخ کې یې بدوئیلی دي اوټول جسم یې ترینه مراداخستی دي نوددي جواب

داورکولی شی چه ددي معنی ولاتلقوا بایدیکم پوري داده چه باعث مه جوړیږي اودالی التهلکه معنیٰ خوښکاره ده دټول ایت معنی داشوه باعث دهلاکت مه جوړیږي اوس داخبره معلوموؤ چه ایادامعنیٰ صحیح ده یاصحیح نه ده اطلاع راکړي؟

جواب : دایت داتفسیرنه دي اوه ددي سوال جواب په دي باندي موقوف دي بلکه جواب دادي چه دفقهاؤ داتفصیل په دي قاعده کې په اعتباردلسان (ژبې) نه دي چه داهل لسان په کلام کې واقع کیدوکي اشکال راشی بلکه په اعتباردعرف دکلی دمتکلم دي نوداوینا چه یدنه مرادذات نه دي مراددي نه دادي چه داپه عام کې متعارف نه دي که چرته په عام کې متعارف وي نومعتبربه وي کذافی الشامی- جلدثانی ص ۷۱۵ [۵جمادی الثانی/ ۱۳۳۱هـ/ تتمه ثانیه/ ص ۳۸]

نذرانه بعوض نوکرکنا لیدن

سوال :(۴۸۹) سورلنړ کوم چه دخپل خان طرفنه اس واخلی اوسرکاري نوکري کوي دوي ته سحلداروانې دنوکري نه وروستوبعض خوخپله نوکري کوي- اودبعض دخپل خان په ځاي خوك ساتی- هغوي ته بارگیروائې اکثرسحلداردتقرري په وخت کې دبارگیرونه سل روپی یاڅه ددي نه زیاتی اوکمی اخلی اوبارگیرپه سرکارکې پیش کوي اونوکري نیسی داندرانه سلحدارانولره اخستل حرام دي یاحلال؟

جواب : نذرانه که چرته په عوض دنوکر کولوده نوحرام ده اوکه دخپل اس کرایه ده نوصحیح ده خوکرایه کې بیان دمودي شرط دي که چرته داشرط اوموندي شی نوجائزدي فقط [۲۳جمادی الثانی/ ۱۳۳۱هـ/ حوادث اول/ ص ۱۰۱]

احکا م ازجهل اسلام

سوال :(۴۹۰) دي ملك برهماکې چه څومره مسلمانانودبرهمن زنانوسره ودونه کړیدي اوس په هغی کې چرته بعض بعض کلمه طیبه اودمسلمان څه خبري پیژنی تول په تول نه کلمه طیبه پیژنی نه مسلمانی چه مسلماني څه شی دي اودمرگ په وخت کې امین امین یاپهیا پهیاچغی وهی دي حال کې مري دي برهووالونه چه څوك ښځه مره شی هغه مسلمانه ښځه گنړل اودهغی جنازه لوستل پکاردي یانه ؟

جواب : که چرته هغه زنانه دتپوس کولوپه وخت کې خان ته مسلمان وائې اوکه چرته دهغوي مخکې داسلام اصول (بلکه الله یودي رسول ﷺ ریشتونی پیغمردي قیامت راتلونکی دي)

بیان کړي اوبیاترینه تپوس وکړي چه ته دي خبرباندي گویایې اوهغه ووائې چه آؤ- نودي ته به مسلمان وئیلی شی اودهغی جنازه به هم لوستی کیږي اوکه دومره هم نه وي نوبیا مسلمانانی نه دي اومسلمان سره ددوي نکاح جائزنه ده- [۸شعبان/ ۱۳۳۱هـ/ حوادث اول/ ص ۱۱۰]

تحقیق وجوب اقطاب درهرقریه

سوال :(۴۹۱) فتوحات مکیه کې داعبارت دي مامن قریة مومنة کانت اوکافرة الاوفیهاقطب – ددي نه واضح مطلب ولیکن یعنی دقریه نه به دکلی معنیٰ اخلوکه دباراودقطب کیدل دسړونه که دغیرجنس نه اوکه دکلی معنیٰ واخلونوپه ظاهره خوداسی ډیرکلی موندلی شی چه هلته هیڅوك هم هدایت کولووالانه معلومیږي یادامطلب به وي چه خوالوشاکې به داسی سړي وي چه هغه ته به قطب وئیلی شی اوهغه به دخواوشا تولوکلوخبراخلی غرض داچه دقریې اوقطب چه کومه معنی مرادده هغه تشریح سره ولیکئ-

جواب :که چرته داعبارت فتوحات کې وي نوظاهراً دقریې نه مرادعام اوفیهانه ظاهراً ظرفیت دي نه صرف تعلق اوقطب دپاره انسان کیدل ضروري دي خوهادي کیدل ضروري نه دي البته مهدی کیدل ضروري دي داسی خلقوته قطب التکوین وائې کله کله ظاهردهغوي خراب وي خوباطناً هغه دمجذوب کیدودجه نه معذوروي اوکله کله دهغه مجذوب کیدل هم عام طورباندي نه محسوسیږي امیدذي چه دي تعمیماتونه وروستوڅه شبه نه وي پاتی شوي کنی دوباره ولیکه – [ربیع الاول/ ۱۳۳۳هـ/ تتمه ثانیه/ ص ۲۳]

تحقیق افضلیت دعاء برترک دعاء وجواب شبهات متعلقه ان

سوال :(۴۹۲) هرکله چه داخبره مُسلمه ده چه دیوي دعادوجه نه دتقدیرنه زیات نشی ملاویدي اودعاغوختلوکې خپل انتخاب لره دالله په انتخاب هم ترجیح لازم راځی ځکه چه دهغه دطرفنه چه کوم راځی ظاهره خیره ده چه هغه به ډیرزیات ښه اوموافق به وي اوته چه څه غواړي ممکن بلکه غالبه ده چه هغی کې به خیرنه وي لکه ځکه چه دعسیٰ ان تحبواشیئاوهوالخ نه معلومیږي نودعاپریخودل عزیمت نه دي بلکه ضرورت معلومیږي- اوصرف خپله عاجزي ښکاره کول ددي شبې لري کوونکی نه ده ځکه چه ددعانه مقصددهغی خیزغوختل دي هنّ تبعاً عاجزي هم ښکاره شوه دانه چه دعانه مقصودبالذات عاجزي ده خصوصاً هرکله چه داحدیث کې راځی ادعوالله وانتم موقنون بالاجابة دي نه

معلومیږي چه مطلوب خپله حاجت پوره کول او حصول دخیز مدعوله دي او هغه هم یقین بالاجابه سره ترلی شویدي - کوم چه بظاهر دشان تسلیم معارض او د الله په مصلحت باندي خپل انتخاب لره ترجیح ورکول دي او دامر مقرر د سوال په صورت کښ عبث او د غیر مقدر د طلب په صورت کښ طلب او ممتنع بالغیر دي کنی کم نه کم وغیر اصلح لنفسه طلب لره شامل دي؟

جواب: اصل وجه دافضلیت ددعا د عاجزي ښکاره کول نکته نه ده بلکه نصوص صریحه دي باقی رفع شبې داده چه کله داپه مقدر کښ وي چه که او دغو ختل فعلاً به شي او دعا کښ هم چونکه په دي باندي مضبوطه عقیده وي چه که چرته ملاؤنه شو نو دانه ملاویدل به خیروي په دي وجه دخپل دتجویز ترجیح د الله په تجویز باندي لازم نه راځي بس تفویض او تسلیم چه په خپل ځاي باقی پاتې شو کنی ددعا څه تخصیص دي داسی شبهات خو تولو اسبابو او مسبباتو کښ لازم راځي نو ایا علی الاطلاق د اسبابو د پریخودلو د فضلیت التزام کیدیشی - ۱۴ جمادی الاول ۱۳۳۳ھ / تتمه ثالثه / ص ۳۲)

تحقیق تفاضل در تلاوت قران وتعلم احکام

سوال: (۴۹۳) څنګه چه د قران په لوستو ثواب ملاویږي نو دغه شان د قران اردو ترجمې لوستلو باندي هم ثواب ملاویږي یا نه ددي عاجز داسی اراده ده چه یو خل د قران اردو ترجمه ښه ولولم بیا څه رنګ د قران شریف تلاوت کوم هغه شان به کوم دیکښ د حضرت دحکم امیدواریم؟

جواب: د قران دلوستلو ثواب خو زیات دي خو دزده کولو ثواب د ترجمې زیات دي پس دزده کولو د فرض مقدار د قران - ۲۸ جمادی الثانی / ۱۳۳۳ھ / تتمه ثالثه / ص ۴۵)

تحقیق حکم ندا یاسمه ﷺ

سوال: (۴۹۴) ماقولکم ایهاالعماء المحققین دام فیضکم، الی یوم الدین فی مسئلة ندائه ﷺ باسمه الشریف یامحمدویااحمدهل هوحرام ام لا،واذاقلتم بالاول فهل هومختص بزمنه علیه السلام ام عام بجمیع الازمنة واذا اقرن بذلك النداء مایقتضی التعظیم مثل یامحمدالوسیلة ویامحمدالشفاعة فهل تنتفی الحرمة ام لا، بینواباالادلة التفصیلیة علی وجه یندفع الشبهات والاوهام الواقعة فی هذه البلاد لبعض الانام توجروامن الله الملك العلام؟

جواب: فی ندائه ﷺ باسمه بعدوفاته جهتان الاول نداء من حیث انه نداء الغائب فهولایهامه اعتقادعلم الغیب واعتقادحضورالغائب ینهی عنه سواء الادب ینهی عنه وینتفی هذا النهی لانتفاء

العلة اذااقرن به مایقتضی التعظیم کماوردفی الحدیث من تعلیمه ﷺ ضریراً قوله یامحمدالخ والله اعلم ۸۱ شعبان / ۱۳۳۳ھ / تتمه ثالثه / ص ۲۰)

تحقیق تبرک شدن طعام که بروح بزرگان رسا نیده شود

سوال: (۴۹۵) دکوم خوراك ثواب دچا بزرګ روح ته ولیږلی شی نو هغه خوراك متبرك ګرځی یانه که نه متبرك کیږي نو ولی حالانکه حدیث شریف کښ راځی دصدقی باره کښ غسالة الناس داوساخ الناس . الناس نه مراد صدقه کوونکی دي او دچا روح ته چه یې ثواب اولیږلو هغه حکماً متصدق دي او دبزرګانو خو دظاهر بدن خیري هم برکتی وي نو باطن دهغوي کوم چه دبدن نه هم ډیرپاك دي دهغی خیري خوبهٔ دظاهر دبدن دخیري نه هم ډیرزیات قابل دتبرك وي؟

جواب: (۱) وروسبی خوچه چاته ایصال ثواب وکړي شو هغه متصدق نه دي متصدق عنه دي (۲) دویم داودس داوبو متبرك کیدل که چرته ددي عموم او منی نو په وجه دمس دبدن دي اګر که اودس ونه کړي هلته روح سره څه شی نه مس کیږي او دمطلق تلبس موجب دتبرك کیدل ثابت نه دي او که چرته عموم یې اونه منی لکه څنګه چه دفقهاء داختلاف فی النجاسة والطهارة نه دغه معلومیږي او دحدیثونه صرف دحضور ﷺ داودس داوبو تبرك کیدل ثابت دي دي صورت کښ خو سوال دبیخ نه منقطع دي (۲۸ شعبان / ۱۳۳۳ھ / تتمه ثالثه / ص ۲۵)

تحقیق ایمان وکفر فرعون

سوال: (۴۹۶) څه فرمائي علماء دین په جواب ددي مسئله کښ چه دمصر بادشاه فرعون ددوبیدو په وخت کښ وئیلی وه چه انا من المسلمین په دي وجه محی الدین ابن عربی داخبره په خپل تصنیف کښ لیکلی ده چه فرعون دمرګ په وختکښې دایمان اظهار کړی وو څه لری ده کیدیشی هغه ایمان قبول شوی وی - حالانکه وروستو ایت کښې دهغی نفی په خپله موجود ده - چه الان وقد عصیت قبل وکنت من المفسدین او فالیوم ننجیك ببدنك ، دفرعون په نسبت راغلي دی چه د هغه خاتمه خرابه شوه او هغه ایمان قبول نه شو . خو دفلانکي پیروکار تقریر کوی چه دادواړه ایتونه صرف په زورنه رټنه او توبیخ باندی دلالت کوی نه په نفی دایمان باندی - څکه چه مجرم باندی چه کومه سزا وی هغه تنبیهاً وی او داولـه دبدعتیانو او قبرپرستو وایې چه بل ایت یا حدیث تحریف یا دفع روایتو نه چه دهغی راوی

ثقه وی په تقریر کښې پیش کړی- چه بالکل یقیني تقریروی - چه دده ایمان نه دی قبول شوی -نوعرض دی چه عالمان ددی جواب دلیلونو سره اولیکي بینوا توجروفقط ؟

جواب : دعقایدو په کتابونو کښې داتصریح ده چه نصوص په ظاهر باندی محمول کیږی او ښکاره خبره ده چه کوم نصوص اوقرانی ایتونه چه دفرعون باره کښې راغلی دی که چرته دیته یو ژبه پوهید ونکې دیوعالم په وړاندی کو م چه دابن العربی ﷫ ددی مشهور قول نه خالی الذهن وی اولولی نو هغه به بغیردڅه شك اوشبې نه دفرعون په کفرباندی دادلالت صریح اوګڼی -بس دعقایدودکتابونوددی قاعدی په بنیاد - ددی موافق عقیده لرل واجب وی - اوکه چرته دیو ... به نه ددی خلاف منقول وی نو هغه به نصوصو ته راجع کوواودنصوصو تابع به یې جوړوو نه داچه بالعکس - اوکه چرته نه شی راجع کیدی نوددغه نقل به تکذیب کولی شی - نو دشیخ عبارت که چرته پوره اوکتلی شی نومعلومه به شی- چه ددی موول کول ممکن دی یانه - که چرته ممکن نه وی نودده دنسبت به تغلیط کوو چه دی غلط شویدی اودآحاد امت په کلام کښې داخبره څه لری نه ده - په دی وجه شیخ عبدالوهاب شعرانی ﷫ په خپل کتاب الیواقیت الجواهر کښې دغه خبره اختیار کړیده او ددی قرینه یې ذکر کړیده چه د شیخ اخري تصنیف فتوحات دی او په فتوحاتو کښې دفرعون مخلد فی النار کیدل مصرح دی - نو که چرته ورمبی قول دشیخ واقع کښې هم وی دهغه نه درجوع قائل کیدل ضروری دی - اودا احتمال چه دادواړه ایتونه صرف په راویانو رتنه اوتوبیخ باندی دلالت کوی الخ - داخوبالکل دقوعدشرعیوقطعیو خلاف دی - ځکه چه هرکله داتوبه دکفر نه وه اوداسلام اثر دادی چه انه یهدم ما کان قبله نو زورنه اورتنه په څه خبره باندی بیا پاتی ده - اوکه چرته هم دغسی احتمال غیر ناشی عن دلیل معتبر اوګڼی نوکه چرته بل نص هم پیش کړی شی په هغی کښې هم داسی احتمالات راوتلی شی بیاخوهیڅ یو کافرکفر هم دنص نه نه ثابتیږی -په خپله په قران مجید کښې دابلیس خشیت من الله کوم چه په نص قرانی دخواصو دعلم اودایمان ذکرشویدی- قال الله تعالیٰ فی الانفال حاکیاً عنه انی اریٰ مالاترون انی اخاف الله وفی سورة الحشرانی اخــاف الله رب العٰلمــين ، اودهغی نه وروستو دهغه دخلود مضمون دی په دی کښې به دا احتمال واخستلی شی چه خلود په معنی دابدیت په معنی دطول مکث یعنی ډیر ځ مودی سره دی- اوزجراً اوتوبیخاً ویلی شویدی نوآیادابلیس دایمان څوك التزام کولی شی ؟ تبرعانور ایاتونه اوروایتونه هم تائیددپاره

نقل کوم ، قال الله تعالیٰ واستکبرهم هووجنوده فی الارض بغیرالحق وظنوا انهم الینا لایرجعون ، فاخذنٰه وجنوده فنبذنٰهم فی الیم فانظر کیف کان عاقبة الظٰلمین ویوم القیمة هم من المقبوحین، دی ایتونو کښې دفرعون عقیده کفریه الینا لایرجعون اودهغه لقب ظالم- کوم په وخت دعدم معارض په قران کښې په معنی دکافر راځی- اوبیادده کفر لزوم اخری وخته پوری دی اودی باندی لفظ دعاقبت دلالت کوی- اودده جهنمی کیدل کوم چه موت علی الایمان منافی دی دده غیر متصورپه قیامت کښې کیدل کوم چه عام دی عدم نصرت من الله ته هم کوم چه مستلزم دی عدم مغفرت ته . اودده ملعون او مقبوح کیدل کوم چه موت علی الایمان سره نه جمع کیږی داټول مضمونونه منصوص دی . دی نه وروستو دمرت علی الایمان څه احتمال پاتی شو ایا څوك دفرعون دایمان مدعی داسی ایت یاروایت دبل مؤمن په شان کښې چه دهغه خاتمه په ایمان باندی شوی وی یادمرګ په وخت کښې هغه ایمان راوړی وی خودلی شی ایمان راوړلو سره خوهغه ممدوح محمود اومقبول اومرحوم ګرځی . بیاددوی داضدادوحکم په هغه باندی څنګه کیدی شی . وقال الله تعالیٰ وحاق بٰال فرعون سوء العذاب ، النار یعرضون علیها غدواً وعشیا، ویوم تقوم الساعة ادخلوا اٰل فرعون اشد العذاب، آیادیو مؤمن عند الموت دپاره دسخت عذاب وعیدراغلیدی اواحمد دارامی اوبیهقی دبی نمازه باره کښې رسول الله ﷺ حدیث روایت کړیدی چه هغه به دفرعون هامان قارون اوابی بن خلف سره وي . دی روایت کې فرعون دنورکافرانو چه په کفرمړه شویدی په فهرست کښې شمیرل اوسره وعید سختول ایادده په موت علی الکفر باندی متبادراً دلالت نه کوی ایاداسی یو وعید کښې څوك دیو مسلمان سره تشبه او الحاق خودلی شی نو خبره خو بالکل ښکاره ده باقی ګج روی څه علاج نشته . ۱۲ رمضان المبارك س۱۳۳۳ھ (تتمه خامسه ص۲۴)

ایضاً

سوال :(۴۹۷) یوه شبه ده چه رسالة نهایت الرشاد کښې مولانا دشیخ محی الدین ابن العربی په کلام اودقران په نص کښې چه کوم بظاهر تعارض معلو میده ، ځکه چه دنصوص الحکم دعبارت نه دفرعون ایمان معلومیده ، عبارة ، فقبضة طاهراًمطهراًلیس فیه شيء من الخبث لانه قبضه عندایمانه قبل ان یکتسب شیئا من الأ ثام والاسلام یجب ماقبله ، اوقران مجید کښې الاٰن قد عصیت قبل استفهام انکاری وو بل داچه دځنکدن دوخت په بل ایت کښې چه لیست التوبة الایه آخری جز دی دایمان نفی معلومیږی ، مولانا موصوف ددی

تعارض متعلق لیکلی دی چه عالم شهادت عالم غیب یاعالم مثال کښې دیو ثبوت دی اوبل عالم کښې ددی نفی ده وحدت دمکان اوزمان کوم چه شرط دتناقض دی متحقق نه شو په دی وجه تعارض نشته داتطبیق دهغه په ذهن کښې نه راځي ځکه دظاهری عبارت دنصوصو چه انکار کوی. دجناب نه په دی تطبیق باندی ځان پوهول غوارم. خو واقعی شبه داکیږی چه تعارض معلومیږی بعض شارحینو دنصوص الحکم تطبیق داکړیدی چه دفرعون ایمان راوړل دبعضو امورو داخرت په وخت دځنکدن کښې عیاناً ښکاره ګنډیدو دوجه نه دی . ددی امت سره خبر ورکوی په دی وجه ایمان معتبر نه دی خو دنصوصو عبارت داهم نه قبلوی په دی وجه قبضه طاهراً مطهراً الخ دلالت کونکې دی آیا واقعی څه صورت دتطبیق شته ؟

جواب : (برنی جواب سره پیوسته) که چرته داعبارت دشیخ وی نومعنی داده چه مقصود دایمان حکم کول نه دی بلکه دهغه داحتمال حکم کول دی مطلب داچه بعض الفاظو نه داسی معلومیږی. خوتعبیر کښې تسامح ده چه محتمل یې په صیغه دواقع کښې بیان کړ ګویاددی جملو په آخر کښې دظاهراً قید مراددی .قرینه داده په دغه ځاي کښې داسی هم عبارت شته وامره موکول الله تعالیٰ. که چرته صحت دایمان یقینی دی نو ددی جملی څه معنی. نمونه ددی حکم په ایمان دنکیانودنبی ﷺ دی سره دضعف ددلیلونو نه اوته په دی قیصه کښې ولی ځان غورزوی آیاڅه ضروری خبره ددی موقوف علیه ده که چرته مونږ دنصوصو په مقابله دنصوصوانکار وکړونو څه خبره منع کوونکې ده . غایة مافی الباب دشیخ په شان کښې ګستاخی مه کوی اودقران په فهم کښې دغلطی قاتل ا وګرځی .شعبان س۱۳۳۸هـ (تتمه خامسه ص۱۵۳)

معنیٰ عدم تکفیر دریک (۱) وجه اسلام ونوه(۹۹) ونه وجوه کفر

سوال :(۴۹۸) مشهوره ده چه که چرته یو سړی کښې یو کم سل وجه دکفروی اویوه وجه داسلام وی نو په هغه باندی دکفرفتوی ورکول نه دی پکار. نوشارع ﷺ خودیر کلمات دکفر دپاره وضع کړیدی نوبیادکفردکلماتو کفردپاره دوضع کولو څه معنی شوه .که چرته صرف زجراً ورته مقصودوی نومونږه ګورو چه زمونږ په زمانه کښې لوی لوی عالمان بعض خلقولره په فره ذره خبره باندی بلکه حقیقت کښې دکفر په کلماتو باندی دکفر فتوی ورکوی داقتوی په څه باندی محمول کول پکاردی ؟

جواب : ددی دا مطلب نه دی چه که چاکښې دیو کم سل خبری دکفر فتوی نه ورکوی. یو کم سل خودیری وی که چرته یوه خبره هم موجب دکفر یقینی اوموندی شوه بیابه هم فتوی ورکوی بلکه دامطلب دادی چه په خپله دی امر کښې ډیرشی احتمالات وی. بعضو احتمالاتو باندی خوهم موجب دکفردی اوهغه احتمالات یو کم سل دی اوبعضواحتمالاتو باندی هغه موجب دکفرنه دی اوهغه یوه ده .نودی صورت کښې به دا امرپه دی احتمال باندی محمول کوو کوم چه موجب دکفرنه دی اودتکفیرنه به احتیاط کوو. (۱۲شوال ۱۳۳۲هـ تتمه ثالثه صد۹۰)

ابطال تاویل جسد مثالی درمعراج

سوال :(۴۹۹) دیو مسئلی باره کښې عرض دی جناب والا ارشاد وفرمائي چه زړه می مطمئن شی. دعالم برزخ دعذاب اوثواب باره کښې جناب غالباً زبانی هم ارشادفرمائیلی وواو بعضو کتابونو کښې یې هم لیکلی دی چه جسدمثالی سره دامعامله کیږی په دی وجه که چرته په جسد حسی باندی څه اثرات ښکاره نه شی نودشبې ګنجائش نشته. په دی وجه چه که چرته دمنکرینو یادمخالفینو په مقابله کښې دمعراج په نسبت هم دغه توجیه وکړی نوڅه دنص مخالفت خولازم نه راځی اوددی توجیه څه ګنجائش شته یانه اګرچه توجیه دظاهرنصوصو خلاف معلومیږی ځکه چه اسری بعبده اودحدیث دالفاظونه متبادر جسد حسی سره تلل راځی. خودسره داهم خیال راځی چه د معراج واقع داسی ده چه ددی عالم برزخ سره زیات تعلق دی غرض داچه بفضله تعالی اوپه برکت دصحت دجناب جسد حسی سره دمعراج کیدو کښې ددی عاجز هیڅ شبه نشته .صرف دزړه مطمئن کولودپاره تپوس کوم چه داتوجیه هم کیدی شی یانه ؟

جواب : عقایدو کښې مقرراومسلم دی چه نصوص په ظاهرباندی محمول کول واجب دی خوپوری چه څه صارف عقلی یانقلی نه وی نودبرزخ دمعاملاتو باره کښې خو حامل علی التاویل متحقق دی چه مونږ بدن مضربدهغه اثراتونه خالی وینو په خلاف دخبر دمعراج چه دلته څه صاف عقلی یانقلی موجودنه دی پدی وجه دلته صرف کول بدعت اومنکرده (۴ذی العقده ۱۳۳۲هـ تتمه ثالثه ص۱۹۷)

عدم تکفیر بقول که رسول الله ﷺ امام نبود

سوال :(۵۰۰) وارث دین متین ایّده الله بنصره السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته درینجا یك واقعه عظیمه افتاده که درمقامی بحث درین سخن افتاد که هرگاه قوم برائ جماعت تیارشده وامام آن قوم تیارنبود ، انتظار امام کندیانه ، بعض گفتند انتظار کند وبعض گفتند انتظار نه کند ، زیراکه درنماز صبح عبدالرحمن بن عوف ﷺ امامت کرد ورسول خدا ﷺ برکعت دوم رسید ادائ صلوٰة فرمود اصبتم احسنتم ، درین ولا مردیکه امام آن مقام بود گفت که رسول خدا امام نبود ، واین حادثه بعد صلوٰة عصر بود که هنوز قوم جمله نشسته بوند ، حالا مقدمه عظیمه درین امر هست که این لفظ سب هست یانه بعض علماء گویند که امامت صغریٰ وکبریٰ برائ رسول خدا ﷺ متواتر هست وانکار متواتر کفر ، وخصوصاً امری که منسوب بذات مطهر وباشد سب است ، زیراکه لفظ امامت قطع نظر از امور دیگر بلحاظ معنوی لغوی نیز وصفی از اوصاف عالیه هست که انکار او کفر هست ونیز قرینه ودلالت الحال شاهد حال ست زیراکه این مرد قائل قدری سست وقوم چست بود این امام خود را فوقیت معنوی ثابت کرده که ما امام انتظار ما می شود ورسول خدا امام نبود ازین وجه انتظار او نمی شد ، فرقه دوم گوید این لفظ سبّ نیست زیراکه مراد او از امامت امامت زمانه حال است که درجه او وعزت او معلوم هست ، ونیز قائل می گوید که ما قصد تخفیف واهانت نداشتم بلکه از کسی شنیده بودم وقصد در معامله سبّ شرط هست ونیز قائل از امامت رسول خدا ﷺ خبر نبود اگرچه بروایت ضعیفه عمل باشد یا غیر مذاهب اربعه باشد ، کما صرّح به فی الحموی والشامی وغیرهما من کتب الفقه ، جواب فرقه اولیٰ مراد از امامت امامت زمانه ماضی بود زیرا که بود ماضی هست نه زمانه حال انصراف لفظ از حقیقت بلا قرینه خلاف قواعد علم هست وقائل مذکور لفظ امام نبود گفته وقصد اهانت وتخفیف شرط نیست چناچه فاضل چلپی وغیره گفته در مسائل سبّ وان ظهر بدلیل حاله ان لم یتعمد ذمة ولم یقصد سبّه وبر حاکی حینیکه اسم محکي عنه یاد نه کند وتقریر خود تمام کند همان حکم است که حکم قائل هست کما صرح به الملا علی قاری رحمه الله وغیره ، واین امام روز دیگر گفته که از وسوال شد که این سخن در کدام کتاب دیده یا از کسی شنیده گفت از کسی شنیده ام ودران وقت بلکه دران روز هم نگفته وجهل در عقائدی که رجع او به سبّ وکفر باشد عذر نیست چناچه فاضل چلپی وغیره می فرماید ، لایعذر احد فی الکفر بالجهالة ولابك دعویٰ رجل اللسان اذا کان عقله فی اصل

فطرته سلیما الامن اکره وقلبه مطمئن بالایمان ، پس هرچه آن والاجاه مهتمم دین رسول الله راحق وثواب معلوم می شود این سائلین را بر جواب مستطاب ممنون فرمایند که این لفظ سبّ هست یانه ، اجرکم علی الله ووصلکم الی یاحب ویرضاه ، تاکه حسب الارشاد وتعمیل کرده شود ، نیز اگر حضور عالی فتویٰ چند علماء محققین همراه افتاء خویش مقارن فرمایند ، احسان فوق الاحسان باشد ، والسلام علیٰ من اهتم فی الاسلام؟

جواب : کلام محتمل وجه صحیح اگرچه باحتمال بعید باشد موجب کفر نمی شود ، ودرین جا کلام مذکور محتمل این معنی است که امامت حضور ﷺ اگرچه واقع بود مگر مقصود وملتزم نبود بلکه تابع نبوت ولازم چون تقدم کسی در حضور ﷺ خلاف ادب بود بدین وجه حضور ﷺ مقدم می بودند ودعویٰ ثانیه اش این ست که وجوب انتظار مقتضائ امامت مقصوده وملتزمه است نه مقتضائ امامت لازمه وتابعه ، پس این هر دو مقدمه خواه محل کلام باشند لیکن در منع از کفر کافی ست ۲۱ذی الحجه ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص۱۱۴)

تحقق حکم بعض مغلوبین

سوال :(۵۰۱) لاندنی حکایتونو(۳) باندی چه لیکلی شوی و والامداد جهای الاخری س۳۲ھ الزام(۴) په واجب کنبی هغه کس ته فقهی حکم سره دتعرض نه کولو دوجه نه چه ذکروه دعالمانو حضراتو نه می دفتاوی دخلاصی نقل کولو وعده کړی وه چه په یوه موقع باندی به بعینها هغی له سره دیو تفصیل تحریر نه دعالم چه مرتب کړی وی که څوك یې شائع کولو دپاره غواړی نو وربه یې کړم اه ص۲۳ . اوس دهغی موقع راورسیده دی فصل کښی دهغی وعدی پوره کول دی او دا په څو حصو باندی شاملده . وړومبی جزء سوال متعلق واقع سره دویم جزء دسهارنپور جواب ، دریم جزء ددیوبند جواب ، څلورم جزء جواب چه متعلق دی دسوال داصل دجواب ددیوبند سره ، پنځم جزء جواب ددهلی سره دضمیمی نه شپږم جزء تحریر دهغی برنی صاحب علم موصوف . (نوټ) دی مقام باندی دحکایت مذکوره دختمید و هغه عبارت له دکوم حاصل چه خپلی رایې له په دی فتوو کښی دخل[1] ، نه ورکول او دغه فتاوی له باعیانها نقل کول دی دهغی نه خان فارغوم دالامداد نه دوباره نقل کوم وهی هذا .

[1] البته جرته جرته یوی پهلو سره می دبلی پهلو نه حاشیه باندی څکه ورکړیده چه دعالمانو په دواړو باندی نظروی او تنقیح کښی ورته اسانی وی دهغه نه بغیر چه یوی پهلو ته په بلی پهلو باندی ترجح ورکړی ۱۲

اوس زه دی بارہ کښی دعالمانو تحقیقاتو لره (چه په هغی کښی بعض زما دغه کس لره معذور ګڼلو په بنیاد باندی حکم فقهی ته تعرض ضروری نه ګڼلو من کل الوجوه تائید کوی ښکاره کوم چه زه فارغ شم اوس عالمان د په خپل تحقیق سره او عوام دخپل معتقدفیه عالمانو په تقلید سره او دغه شان صاحب دواقع دهم ددغه فتوو[1]) تنقیح سره حکم فقهی معلوم کری.

رومبی سوال متعلق دواقع سره

یو سری وایی چه زه خوب ګورم چه کلمه طیبه لولم خو د محمد رسول ﷺ په ځای د زیدنوم اخلم په دی کښی می چه زړه کښی خیال راغی چه تا نه دکلمی په لوستلو کښی غلطی وشوه دا صحیح ویېل پکاردی. دی خیال سره دوباره کلمه وایم زړه باندی خو دادی چه صحیح ووایم خو په ژبه بی اختیاره په ځای د رسول الله ﷺ د زیدنوم اوزی حالانکه ما ته ددی خبره پته ده چه دغه شان صحیح نه ده خو بی اختیاره د ژبی نه دغه شان راووزی. دوه دری ځله چه کله دغه شان وشول نو زید خپلی مخی ته وینم نو رهم څه کسان هغه سره وو خو دیکښی زما داسی حالت شو چه په ولاړه ولاړه په دی وجه چه ویره راباندی راغله راوغورزیدم او ډیره په زوره چیغه وویسته او ما ته معلومیده چه ما کښی څه طاقت نه دی پاتی شوی. پدیکښی بنده د خوب نه راپاسیده خو په بدن کښی هغه شان بی حسی وه او هغه دبی زوری اثر اکښی وو. خو د خوب او بیداری دواړه و حالاتونو کښی د زید خیال و وخو حالت دبیداری کښی د کلمی په غلطی چه هر کله خیال راغی نو ددی خبری اراده می وکړه چه دا خیال دزړه نه لری کړم ددی د پاره چه بیا داسی ونه شی په دی خیال بنده کښیناستو بیا به په بل طرف څملاستم او د کلمی دغلطی په تدارک کښی رسول الله ﷺ باندی درود شریف لولم. خو بیاهم دا وایم چه اللهم صل علی سیدنا ونبینا ومولانا زید حالانکه اوس ویخ یم خوب نه دی خو بی اختیاره یم مجبور یم ژبه په خپل قابو کښی نه ده دی ورځ باندی دغه شان چل وو خو بله ورځ بیداری کښی راباندی سخته ویره وه او ښه می وژړل. انتهی. دی واقع باره کښی د خوامورو تپوس

---

[1] دی مقام باندی دهغی حاشی اراده ضروری ده کومه چه دالامداد جمادی الاخری س ۳۹ هـ په اخری ګرځه باندی ده وهی هذا او اصل مدعا کښی دا ټولی فتوی متحدی دی یعنی نمبر ۱ عدم حکم بالارتداد. نمبر ۲ بقاء نکاح زوجه یعنی عدم بینونت زوجه نمبر ۳ عدم جواز نکاح زوجه از زوج ثانی. او کوم امور چه د اصل مدعی زیاتی وی لکه امر په تازه کولو د ایمان او د نکاح احتیاطاً دی کښی لږ اختلاف دا څه معتدبه اختلاف نه دی. ددی فتوو د یو پل سره د متخالف کېدو شبه مه کوی ۱۲

کوم ددی متعلق چه څه حکم د شریعت مصطفویه علی صاحبها الصلوة والتسلیم وی صفا او مدلل یې بیان کړی. نمبر ۱ د صاحب دواقع د بیان نه دا بالکل صفا معلومیږی چه هغه په خوب کښی د صحیح کلمی لوستلو قصد کولو خو د هغه ژبی نه بغیر د قصد او اختیار نه غلطه کلمه وتله بل دا چه د هغه الفاظ (په دیکښی می خیال راغی چه ستا نه د کلمی په لوستلو کښی غلطی وشوه انتهی) ښکاره کوی چه د غلطی کلمی ویلو په وخت کښی هغه ته ددی غلطی احساس نه وه بیا سره ددی نه چه دا حالت د خوب وو او هغه که څرته دی حالت کښی په اختیار متخیل هم غلطی کوله لکه یو سری په خوب کښی په خپل اختیار متخیل زنا وکړی نو هم دا په حکم د رفع القلم عن ثلثه الخ معذور وو خو هغه د خپلی عقیدی په بنیاد بلا شعور او بی اختیارهم دا غلطی بنه نه ګڼله. او د شعور او د غلطی د احساس نه وروستو په خوب کښی د هغی غلطی تدارک کول غواړی او د صحیح کلمی لوستلو قصد کوی خو د هغه دا خیالی شعور او اختیار بیا فنا کیږی او بغیر د اختیار او شعور نه دوباره دده نه دا مخکښی غلطی کیږی. او هر کله چه دی بیداره کیږی نو دی د خپلی بنی عقیدی په بنیاد باندی دا هم بنه نه ګڼی چه په خوب کښی هم او بلا شعور او اختیار هم زما د ژبی نه خلاف شریعت الفاظ ووتل دی د پاره هغه بیا ددی غلطی تدارک کول غواړی خو دی بیا بی اختیاره کیږی او بغیر د قصد او اختیار نه دده نه دا غلطی بیا کیږی. غرض دا چه هغه خپله صحیح عقیده په صفا صفا الفاظو کښی ښکاری کوی دده د هیڅ یو لفظ نه دا نه معلومیږی چه دده په عقیده کښی څه نقصان وو بلکه د هغه د بیان نه د هغه کمال خاښته عقیده کیدل او په خپلی غیراختیاری عقیده باندی هم سخت ویریدل او پښیمانه کیدل معلومیږی او د کومی غلطی چه هغه اقرار کوی د هغه په نسبت هغه وایی چه دا ما نه بغیر د قصد او اختیار نه صادره شویده داسی حالت کښی راغلل. دی به په دعوی د بطلان د قصد او اختیار کښی رښتونی ګڼلی کیږی یا دروغژن. که دروغژن ګڼلی شی نو ولی؟ آیا په دی وجه چه عقلاً یا شرعاً داسی کیدل ناممکن دی یا څه بله وجه ده چه کوم صورت وی د هغی توجیه دی وفرمائیلی شی. او که څرته رښتونی ګڼلی شی نو بیا به دده دا سقوط د قصد او د اختیار او سقوط ([1]) به عذر شرعی ګڼلی شی یا نه

---

[1] د سقوط شعور حکم اصالت د خوب د حالت په اعتبار سره دی او د بیداروالی د حالت په اعتبار سره دلالت. په دی شان سره چه صاحب واقع وائی چه زه خوب کښی وینم چه کلمه طیبه لولم خو محمد رسول الله ﷺ په ځای د زیدنوم اخلم په دیکښې زړه کښې خیال پیدا کیږي چه تا نه د کلمی شریفی په ویلو کښې غلطی وشوه او دده ددې الفاظو نه چه په دیکښې می خیال پیدا شو چه تا نه غلطی وشوه معلومیږي چه په ورومبی ځل ده ته ددي غلطي احساس نه وه او دورو ستو غلطو منشا هم د ورومبی حالت په شان حالتونه دي په دي وجه ظاهره هم دغه ده. چه په دیکښې هم ده ته ددي غلطي احساس نه وه او ددي نفي د شعور نه هغه

-که چیرته عذر شرعي نه شي ګڼلی نوځه وجه ده- حالانکه په اصولو دامام فخر الاسلام بزدوي صفحه ۱۴۷۴ کې راځي، ان سكران اذاتكلم بكلمة الكفر لم تبن منه امرأته استحسانا. اوصاحب کشف ددي په شرح کښي ليکلي دي. وجه الاستحسان ان الردة تبتنى على القصد والاعتقاد ونحن نعلم ان السكران غير معتقدلما يقول بدليل انه لايذكره بعدالصحو وماكان عن عقد القلب لاتنسى خصوصاً المذاهب فانها تختار عن فكر وروية وعماهوالاحق من الامور عنده واذاكان كذلك كان هذا عمل اللسان دون القلب فلايكون اللسان معبراعمافي الضمير فجعل كانه لم ينطق به كمالوجرى على لسان الصاحي كلمة الكفر خطاء كيف ولاينجو سكران من التكلم بكلمة الكفر عادة وهذا بخلاف مااذاتكلم بالكفر هازلاً لانه بنفسه استخفاف بالدين وهو كفر وقدصدرعن قصد صحيح فيعبر وتمسك بعضهم بماروى اوواحد امن كبار الصحابة سكرحين كان الشرب حلالاً فقال لرسول ﷺ هل انتم الاعبيدي وعبيدي ابائي ولم يجعل ذلك منه كفراً وقرأ سكران سورة قل يٰأَيُّهَا ٱلْكَٰفِرُونَ في صلوٰة المغرب وترك اللا ت فنزل قوله تعالىٰ يايها الذين امنوا لاتقربو الصلوة ولم يحكم النبي ﷺ بكفره ولابالتفريق بينه وبين امرأته ولابتجديدالايمان فدل ان بالتكلم بكلمة الكفر في حال السكرلايحكم بالردة كمالايحكم بهافي حالة الخطاء والجنون فلاتبين منه امرأته ولقائل ان يقول هذا التمسك غيره مستقيم ههنالان كلامنافي السكر المحظوروكان ذلك السكرمباحالان الشرب كان حلالاً فصيرورته عذراً في عدم اعتبار الردة لايدل علىٰ صيرورة المحظورعذرا فيه . انتهی ، ددي عبارت نه صراحتاً معلوم شول چه که چرته دچاد ژبې نه کلمه دکفر اوده ته خونه هغه دزړه نه ددي عقيده لري . اونه ده په خپل قصداواختيار داکلمه ووئيله نوپه دي سرې دردت حکم نه شي کيدلي. برابره خبره ده که منشا دده دحالت دنشي وي ياخطاوي يااليوتوب وي ياڅه بل څه .ځکه چه مدار دحکم عدم مواطات قلب باللسان وعدم قصداواختيار

شعور مراددي کوم چه مقصد به دي -کني في الجمله شعور خوليونواونشي کوونکوته هم کيږي چه ناقابل داعتبار کيږي- اصل خبره داده چه داسائل دبيان داند ازنه معلوميږي چه ددهٔ داحالت کوم چه منشاء دغلطي وه هميشه نه وه بلکه دده وری په طوربانديطارى شوي وه دغه وخت دده اختيار اوشعور باطليږي اوهر کله چه دغه حالت ختم شي نودغه وخت شعور وغيره بياواپس راځي- خوچونکه طاريه کې شعور بلکل باطل نه کيده په دي وجه پس دافاقه کيدو ده هم ته خيال راتلو چه مانه غلطي وشوه کله ځکه چه دبيداري نه وروستوسري دخوب واقعې رايادبيږي- اوديادبدونه وروستو هغه بيادهغه غلطوتدارک کول غواړي خوپه ده باندي بيادوره راتله اوبيامجبوره کيده پاتې شوه داخبره چه ددي دوری سبب څه وه اياجسماني ياخارجي- [illegible] تعين نه شي کيدی- والله اعلم ۱۲ منه-

صحيح ګرځولي شويدي . نه خصوص سبب . خوابعضو په نزد صرف دومره ديو قيد بل هم لحاظ شته چه سبب دلري کولو داختيار محظور شرعي نه وي ددي تحقيق نه وروستودصاحب واقع معذوري ښکاره ده ځکه چه هغه په خپله ددي اختياري نه وو نوداسي حالت کښي ده ته دمعذورنه وئيلو څه وجه ده هر کله چه سكران معذور ګڼلي شي حالانکه ده خپل اختيار ديو اختياري سبب په ذريع سره باطل کړيدي نوداسري به ولي معذوره نه وي دچااختيار ته چه داختيار په ختمولو کښي هم دخل نه وي اوهر کله چه دسكران دعدم مواطات قلب ثابته بدلالت حال اعتبار کولي شي نوداسي سړي دعدم مواطات قلب څنګه انکار کيدي شي کوم چه په زوروزېو سره ددي کلمي دکفرنه بيزاري ښکاره کوي اوهر کله چه خاطي معذور ګڼلی شي حالانکه که هغه ددی فعل خطاقصد نه کوی نوددی نه دبچ کيدوهم اهتمام نه کوی . نوبيادا صاحب دواقع ولی معذورنه شی ګڼلی کيدی . هر کله چه دی ددی نه بچ کيدوامکانی اهتمام هم کوی بل داچه مکره معذور ګڼلی کيدی شی اګر چه هغه کلمه دکفر په خپل اختيار سره اووايې خو چونکه دهغه دا اختيار معتبر عندالشرع وو په دی وجه دهغه دا اختيار كالعدم وګرځولو اوپه ده باندی دکفر حکم ونه لګولو پدی وجه درمختار جلد خامس ص۱۳۳ کې راځی. ولاردة بلسانه وقلبه مطمئن بالايمان فلاتبين ذوجته لانه لايكفربه والقول له استحساناً وفي ردالمختار تحت قوله لايكفربه قال في الهداية لان الردة تعلق بالاعتقاد الاترىٰ لوكان قلبه مطمئناً بالايمان لايكفروفي اعتقاده الكفرشك فلايثبت البينونة بالشك انتهى وقال تحت قوله استحساناً ووجه الاستحسان ان هذه اللفظة غيرموضوعة للفرقة وانما تقع الفرقة باعتبارتغيرالاعتقادوالاكراه دليل علىٰ عدم تغيره فلاتقع الفرقة ولهذالايحكم عليه بالكفر، زيلعي انتهى. کوم سړی چه بالکل مسلوب الاختيار وی هغه په دی خاص امر کې کوم کې ناقص اختيار به نقصان معتبر عندالشرع كالعدم ګڼلی شی ولی معذورنه شی ګرځيدلی اوولی دی دليونی يامسحور په حد کې نه شی داخلولی . اوکه چرته داعذرشرعی و ګڼلی شی نوپه دی باندی رټنه ورکول ياملامته کول ياده ته دايمان اودنکاح دتازه کولوحکم کول شرعاً څه حکم لری که چرته داسی ووئيلی شی چه احتياطاً ده ته ايمان اونکاح تازه کول پکار ده نوبيا داسوال دی چه ايا دا احتياط واجب دی يامستحب . که چرته واجب دی نوددی څه دليل دی . اودی وخت کې به دده دمعذور کيدو څه معنی وی بل داچه که چرته دی صورت کې دابی بی دنکاح تازه کولوپه قبلولوباندراضی نه وی اوبل چاسره نکاح وکړی نوددی نکاح څه حکم دی اوکه چرته مستحب دی نوددی خبری صفاطريقی سره تصريح کول پکاردی چه روميی به نکاح په خپل باقی ده . اودی ښځی ته بل چاسره نکاح کول جائز نه دی . دی دپاره چه هغه لنډو الفاظو سره په

غلطي کې ونه غورزیږي اوبل چاسره نکاح کولو جرأت ونه کړي نمبر ۲: که چرته ددې سوال جواب دې تفصیل سره ورکړی شي چه صاحب واقع که چرته واقع کې بې اختیاره وو نوبیاخو معذوردی اودې صورت کې ایمان اونکاح تازه کول صرف دعوا مود تهمت لرکولو دپاره محض مستحب دی اوکه چرته هغه په واقع کې بې اختیاره نه و وبلکه هغه په حقیقت کې تکلم بکلمة حقه باندې قادر وو خو هغه دا پریخوده اوکلمه دکفر په ژبه راوړه نو معذورنه دی اودې صورت کې ایمان اونکاح تازه کول په ده باندې واجب دی او معیار دده درښتیا اودروغو په دده دیانتداری اوصلاح ګرځولی شي نوایا ددې واقع داجواب دشرعي قاعدو په روسره صحیح دی یانه؟

دویم جزوجواب سهارنپور

صورت مسئوله کې دخوب لیدونکې باره کې سوال کوونکې په سوال کې ددوو خبرو ذکر کړیدی رومبی داچه دصاحب خوب نه په خوب کې دکلمې طیبې په ځای غلطي سره په ځای دنوم دحضور ﷺ دزیدنوم اوزی اګرچه هغه پوهیږي چه زه کلمه غلطه لولم اودصحیح ویلو اراده کوم خو مجبوراً بې اختیاره په ځای دنوم مبارک درسول الله ﷺ دزیدنوم اوزی: دویم داچه وروستو دبیداری نه هم دکلمې په غلطي باندې چه کله خیال راغی نواراده مې وکړه چه داخیال دزړه نه لرې کړم اوبیاداسې څه غلطي اونه شي دکلمې شریفې دغلطي په تدارک کې رسول الله ﷺ باندې درود شریف لولم اللهم صل علی سیدنانبینا ومولانامحمد ﷺ کې دحضرت ﷺ دنوم مبارک په ځای دزیدنوم اخلم اووایم چه په دې کې بې اختیاره یم مجبوریم ژبه مې په قابو کې نه ده داخبره خوښکاره ده چه دواړو حالتونو کې دده دژبې نه چه کوم کلمه اوزی هغه کلمه دکفرده غیرنبي ته نبي یارسول وئیل صریح کفر دی خو رومبی خبره دخوب یوحکایت دی اوکوم دکفر کلمه چه حکایت ووئیل شي برابره خبره ده که هغه حکایت دچا دکافر دقول وي یا دخپل قول حکایت وي کوم چه داسې حالت کې چه هغه کې شرعاً معذوروي نوهغه تکلم بکلمة الکفرباندې دلالت کوونکې نه وي. اونه موجب دارتداد ګرځي نه دیانتاً نه قضاً. لهذا ده چه دکوم خوب حکایت کړیدی اوتکلم بکلمة الکفر یې حکایت کړیدی ده باندې په دیکې څه شرعاً موخذه نشته. البته دبیداری نه وروستو چه داوایې اللهم صل علی سیدناومولاناونبینازید کومه چه دویمه خبره ده داکلمه دکفرپه داسې حالت کې د ایې کوم چه حالت دمعذوری نه دی خو هغه وایي چه زه بې اختیاره یم مجبوریم ژبه مې په خپل قابو کې نه ده بالجملة دده دې ټول کلام نه دامعلومیږي چه داکومه کلمه دکفر چه وایې اعتقادنه یې نه وایې بلکه بد یې ګڼي اوددې تدارک کول غواړي خو چونکه ژبه قابو کې نه ګڼي په دې وجه دې

دغه شان درودشریف غلط وایې. لهذادی به دیانتاً فیمابینه وبین الله کافرنه شي ګڼلی کیدی خو ظاهراعتبارسره هرکله چه دهغه په عذر کې په غورسره نظرو کړیشي نودده داعذر دهغه شرعي عذرونونه نه معلومیږي کوموته چه فقهاؤرحمهم الله معتبرعذرویلی دی درمختار کې راځي شرائط صحتهاالعقل والصحو والطوع فلاتصح ردة مجنون ومعتوه وموسوس وصبي لایعقل وسکران ومکره علیها، داسړی دعاقل صاحي اوطائع کیدو باوجودهم متکلم بکلمة الکفر کیږي نودده داعذر په هغه شرعي عذرونو کې داخل نه دی دده دادعوی چه زه بې اختیاره اومجبوره یم اوژبه مې قابونه ده په هغه وخت کې به شرعاً معتبروه چه هرکله دده دمجبوری اوبې اختیاری سبب مجمله دهغه عامواسبابونه وه کوم چه عامة سالب داختیاروی لکه لیونتوب، نشه، اکراه، عته اوموجوده حالت کې چه ده ته کوم حالت مخې ته راغلی دی ده دپاره څه داسې سبب نشته کوم چه اسباب عامه سالب اختیارنه وي ځکه چه دده دبې اختیاری څه سبب دده په کلام کې نه شي موندې کیدی کوم چه سالب اختیار وګڼلی شي که چرته دې نوهغه غلبه دمحبت دزید دی اوغلبه دمحبت داختیاردسوالبونه نه ده غلبه دمحبت کې داطراء تحقیق کیدی شي کوم چه شارح ﷺ منع فرمائیلی دی لا لطرونی کمااطرت الیهودوالنصاری ولکن قولوا عبدالله ورسوله اوکه چرته غلبه دمحبت اودهغه شغف سالب داختیاروي نونهي عن الاطراء به نه متوجه کیدی بلکه معذور به ګڼلی شوی نهي عن الاطراء په خپله دلالت کوي چه شغف دمحبت سالب اختیارنه دی په دې وجه داطراء نه حضور ﷺ نهي فرمایې په دې وجه دده دادعوی شرعاً معتبرنه ده دې نه علاوه داسړی که چرته دده ژبه دتکلم په وخت کې قابو کې نه وونودا خودده په اختیار کې وه چه هرکله ده داپیژندل چه زه بې اختیاره یم مجبوره یم اوصحیح تکلم نه شم کولی نوتکلم بکلمة الکفرباندې به یې سکوت کړی وو لهذا داسې حالت کې به ددې کلمې د تکلم داحکم وي چه ده لره به دې کې شرعاًمعذورنه شي ګڼل کیدی علامه شامي حاشیه ردالمحتار باب المرتد کې لیکلی دی، وقوله لایفتیٰ بکفرمسلم امکن حمل کلامه علی محل حسن) ظاهره انه لا یفتی من حیث استحقاقه للقتل ولامن حیث الحکم ببینونة زوجته وقدیقال المراد الاوّل فقط لان تاویل کلامه للتباعد عن قتل المسلم بان یکون قصد ذٰلک التاویل وهذا لاینافی معاملته بظاهر کلامه فیماهوحق العبدوهوطلاق الزوجة بدلیل ماصرحوابه من انه اذا ارادان یتکلم بکلمة مباحة فجریٰ علیٰ لسانه کلمة الکفر خطاء بلاقصد لایصدقه القاضي وان کان لایکفر فیما بینه وبین ربه تعالیٰ فتامل ذٰلک، اوعلامه شامي په بل ځای کې هم په دغه باب المرتد کې لیکي، وفی البحر عن الجامع

الصغیر اذا اطلق الرجل کلمة الکفر عمداً لکنه لم یعتقد الکفر قال بعض اصحابنا لایکفر لان الکفر یتعلق بالضمیر علی الکفر وقال بعضهم یکفر وهو الصحیح عندی لانه استخف بدینه اه ماء، علی هذا په اعتبار د بعض ظاهري احکامو دا قائل به په دعوی د بطلان د قصد او د اختیار کې ظاهرا رښتونی نه شي ګڼل کیدی او د بطلان د شعور او د ادراك هغه په خپله هم قائل نه دی بلکه د اختیار د بطلان اوژبه په قابو کې د نه کیدو مدعی دی پته نشته چه سائل بطلان د شعور ده د کوم لفظ نه اخستی دی دې برنی تقریر نه وضحه شوه چه کوم عبارت سائل د اصول فخر الاسلام بزدوی نه نقل کریدی د دې مسئول عنه محبت سره هیڅ تعلق نشته محل مسئول عنه کې نه سکر دی نه د اقیاسا په سکر کې داخلیدی شي نه د لته خطا ده او خطا کې هم مخکې ذکر کړی شول چه د خاطی عذر هم قاضی نه شي قبلولی لهذا عبارت د بزدوی کې د حقیقي ردت حکم ذکر کړی شویدی د هغه حاصل دا دی چه که چرته د چا ژبې نه کلمه د کفر اوزې خو د زړه د هغه اعتقاد نه لري نو د اسې سړی باندې به د ردت حقیقي حکم نه شي کیدی او ټول حکمونه د مرتد به په ده باندې نه شي جاري کیدی ځکه چه څو پورې موافقت د زړه د ژبې سره نه وي او صدور د قصد او اختیار صحیح نه وي نو هغه وخته پورې د ته دیاتاً او قضاً مرتد نه شي ویل کیدی او دا د دې منافي نه ده چه په اعتبار د بعضو احکامو ظاهراً د ده ته احتیاطا د ایمان او د نکاح تازه کولو او د استغفار او د توبې حکم وکړی شي او دغه شان په سوال کې چه کوم عبارت د درمختار پنځم جلد کتاب الاکراه نه نقل شوی دی ولا ردة بلسان وقلبه مطمئن بالایمان فلاتبین زوجته د دې عبارت هم هغه جواب دی کوم جواب د اصول بزدوی د عبارت وکړی شو. درمختار باب نکاح الکافر کې راځي، مایکون کفراً اتفاقاً یبطل العمل والنکاح واولاده اولاد زنا ومافیه خلاف یومر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح ، دې باندې علامه شامي فرمایي، قوله وتجدید النکاح ای احتیاطاً وقوله احتیاطاً ای یامره المفتی بالتجدید لیکون وطؤه حلالاً بالاتفاق وظاهره انه لایحکم القاضی بالفرقة بینهما وتقدم ان المراد بالاختلاف ولو روایة ضعیفة ولو فی غیر المذاهب اه ، صورت موجوده کې چه کوم کلام صاحب واقع د ژبې نه ویستی دی د دې کلمې د کفر کیدل په اعتبار د ظاهر مختلف فیه نه دی او د دې ذکر شوو روایتونو په بنیاد د یته مقتضی دی چه ده ته دې ضرور د ایمان او د نکاح تازه کولو حکم وکړی شي او وجه د دې هم هغه ده کومه چه مخکې ذکر شوه چه تکلم بکلمة الکفر کیدل مختلف فیه نه دی او سلب د اختیار د کوم قائل چه مدعی دی د هغه سبب څه د اسې نشته چه هغه دې شرعا سبب د سلب اختیار وګرځولی شي او که چرته بالفرض دی مسلوب الاختیار هم او منلی شو د هغه سبب په موجوده

حالت کې سوادغلبی د محبت د زید نه بل څه نشته او دا سبب شرعاً سالب د اختیار نه شي ګرځیدلی شرعاً نو دار مدار د حکم نه شي ګرځیدل کیدی کما مر. تیر شوی تقریر نه معلومه شوی ده چه د صاحب واقع حادثه ذو جهتین ده یو جهت هغه دی چه هغه سره دی فیمابینه وبین الله دې مؤمن ګڼلی شي. دویم جهت ظاهراً اطلاق د کلمة الکفر دی د دې سره به دې مامور بتجدید الایمان والنکاح کولی شي د لته فقهاؤ رحمهم الله تصریح کړې علامه شامي لیکلی دی: وفی الخلاصة وغیرها اذا کان فی المسئلة وجوه توجب التکفیر ووجه واحد یمنعه فعلی المفتی ان یمیل الی الوجه الذی یمنع التکفیر تحسیناً للظن بالمسلم زاد فی البزازیة الا اذا صرح بارادة موجب الکفر فلاینفعه التاویل ، د غه وجه ده چه دی مامور بتجدید النکاح احتیاطا کولی شي د دې صورت کې فیمابینه وبین الله ورسره نکاح په خپل حال باقي ده په دې وجه د ده ښځې ته جائز نه دی هغه بل چا سره نکاح وکړي یا د نکاح تازه کولو نه انکار وکړي فقط. کتبه احقر خلیل احمد وفقه الله.

دریم جز ۳ جواب دیوبند

بسم الله الرحمن الرحیم

دې واقع کې دا خبره ښکاره ده چه د صاحب واقع د ژبې د کفر کلمه ووتله او که چرته هغه په خپل اختیار سره بغیر د څه صبر او د اکراه نه د اسې کلمه ویلې ده نو ده ده په کافر کیدو کې هیڅ شك نه وو او په ده باندې د کفر احکام جاري کیدل یقیني وو خو په حالت د خوب کې چه هغه خپل ځان په کلمه د کفر ونیلو لیدلی دی او ورسره خپیمانتیا او د خپلې غلطۍ احساس هم دی نو په ده باندې د کفر حکم نه کول ښکاره دی چه دې حالت کې هغه مکلف نه دی او مرفوع القلم دی باقي پس د بیداری نه چه ده د غلطۍ د تدارك د پاره کلمه شریف او درود شریف وونیلو او په هغه کې په ځای د نوم مبارك د حضور ﷺ د زید نوم ووتلو دې باره کې د صاحب واقع دا بیان دی چه بغیر د اختیار او قصد نه مې دا کلمه د ژبې نه ووتله نو د ده د بیان موافق په ده باندې نه حکم د کفر لګیدی شي او نه د ښځې د بائن کیدو ځکه چه ارتداد د پاره په اختیار سره کلمه د کفر د ژبې نه ویستل شرط کړی شویدی درمختار کې راځي: وفی الفتح من هزل بلفظ کفر ارتد الخ قوله من هزل بلفظ کفر ای تکلم به باختیاره الخ شامي وشرائط صحتها العقل والصحوا والطوع درمختار قوله والطوع ای الاختیار، شامي ، او بغیر د اختیار او د قصد نه که چرته د چا د ژبې نه خطاء کلمه د کفر ووتله نو هغه نه مرتد او کافر نه دی

ونیلی شوی قال فی شامی ومن تکلم بها مخطئا اومکرهاً لایکفر عنــد الکل الخ ، اوهرکله چه دفقهاؤ دتصریح موافق متحمل کښې هم حکم دکفر نه شی کولی اودضعیف تاویل دامکان په صورت کښې هم حکم دکفرمنفی کړی شویدی نودچاباره کښې چه فقهاؤ دالیکلی، ومــن تکلــم بها مخطئا اومکرهــاً لایکفرعند الکل ،نوهلته حکم دکفر اودښځی دبائن ځه رنګه کیدی شی اوهرکله چه قائل دعوی دخطاکوی اوداوایې چه بلاارادہ هغه داسې نه دی وئیلی بلکه ارادہ یې دهغې خلاف کړیده نودده داقول به ربښتونی ګرځولی شی لکه ځنګه چه دخلاصه وغیرهانه علامه شامی نقل کړیدی، اذاکان فی مسئلة وجوه توجب التکفیرووجه واحدیمنعه فعلی المفتی ان یمیل الی الوجه الذی یمنع التکفیر تحســینا للظن بالمسلم ،زادفی البزازیة الا اذا صرح بارادة موجب الکفر فلاینفعه التاویل ، بس هرکله چه معنی په خپله بغیر دبیان دمتکلم بکلمة الکفر دهغه په کلام کښې حتی الوسع دتاویل کولواوپه مسلمان باندی دښــه ګمــان کولومــاموردی نوهرکلــه چــه مــتکلم پــه خپلــه دصــدورکلمة الکفــرعن الخطــااقرارکوونکې دی نوخامخاهغــه بــه دی بــاره کښې ربښتونی منلی کیږی لکــه ځنګــه چــه الا اذاصرح بارادة موجب الکفر بهم ددی مقتضی دی بلکه هغه خلاف دارادی دموجب کفر تصریح کوی لهذا دده په معذورګڼلو اوپه دباندی دکفر اوارتدادحکم نه کولوکښې څه شک نشته اوهرکله چه حکم دکفر اوارتدادپه ده باندی صحیح نه دی نوپه ده باندی حکم دبائن کیدو دښځی هم نه متفرع کیږی استحبابا تازه کول دنکاح ددی مستحب نه خارج دی خوضروری ورته وئیل خلاف دظاهر دی باقی دعلامه شامی قول درمختارلایفتی بکفرمسلم الخ په شرح کښې داوئیلی چه وقدیقال المرادالاول فقط .داپه خپله علامه موصوف قابل دتامل ګڼلی اوددی دتصریح چرته هم دنه لیدلو اقرار کوی کله ځنګه اخرکښې وایې فتامل ذالك وحرره نقلا فانی لم ارالتصریح به اوددی وروستونې چه کوم نعم سیذکر الشارح نقل کړیدی هغه دی واقع سره متعلق نه دی ځکه چه ددی واقع کښې دعدم کفر حکم اتفاقی دی اوددی موقع باندی کوم ځای چه درمختارکښې داتفصیل ذکرشویدی مایکون کفرا اتفاقا الخ په خپله علامه موصوف دصاحب فصول حمادیه نه نقل کوونکې قوله تجدید النکاح ای احیاطاً کمافی الفصول العمادیة وزادفیها قسماً ثالثاً فقــال وماکــان خطاءً من الالفاظ ولایوجب الکفر فقائله یقرعلی حاله ولایومر بتجدیدالنکاح ولکن یومر بالاســتغفار والرجوع عن ذ لك .. دی روایت فصول حمادیه کښې تصریح ده چه خطاءً چه کوم دکفر صادرشی هغه په وجه دصدور عن الخطا موجب دکفر نه دی نوقائل به په خپل حال باندی پریخودلی شی

اوامرپه تازه کولودنکاح به ورته نه شی کولی بس داحقرپه نزدسوال کښې چه کوم روایت داصول بزدوی اودهغه دشرح نه یې استدلال کړیدی اوصاحب واقع کښې معذورګرځولی دی اوحکم دکفراوبائن کیدودښځی یې نه دی کړی اونکاح تازه کولوته یې واجب نه دی وئیلی داحق دی اوکوم جواب ددی سوال چه په ضمن دسوال کښې درج کړی شوی دی بقوله که چرته دهغه سوال جواب پــه دی تفصیل ســره ورکړی شی الخ هغه جواب صحیح دی فقط والله اعلم .کتبه احقرعزیزالرحمن عفی عنه ۲۲ ج س ۳۲ھ الجواب صحیح شبیر احمد عفی عنه،

جواب : حاصل دجواب دادی چه کله څوکلمه دکفر ده خوچونکه موافق دبیان دسائل بی اختیاره می دژبې نه وتـه اوددی دتکذیب مفتی ته څه حق نشته خوقائل بالاتفاق کافرنه دی اونه په ده باندی څه حکم دکفر جاری کیدی شی اوپه دی دواړوصورتونوکښې چه څوك کلمه دکفر ووائې اوبیاوروستودعوی دعدم اختیار وکړی یاداچه هغه قائل دخپلې ژبې نه حکایت کوی چه زمانه کلمه دکفر خطابلا قصدصادر شوه وړمبی صورت کښې به قاضی دده تصدیق نه کوی اګرچه دیانتا مصدق وی اودویم صورت کښې قاضی ته تکذیب حق نشته صحیح فرق معلومیږی اودردالمحتار دالاندینی عبارت څخه ، ماصرحوا به من انه اذا اراد ان یتکلم بکلمة مباحة فجــری علــی لســانه کلمة الکفر خطاءً بلاقصد لایصدقه القاضی وان کان له لایکفر فیما بینه وبین ربــه تعــالیٰ اه ، ددی معارض بل عبارت دده موجوددی، ومافیه اختلاف یومربالاستغفار والتوبة وتجدیدالنکاح اه درمختــار قوله وتجدید النکاح ای احتیاطاً کمافی الفصول العمادیة وقوله احتیاطاً ای یامره المفتی بالتجدیــدلیکون وطؤه حلالا بالاتفاق وظاهره انه لایحکم القاضی بالفرقة بینهمااه، رداَلمحتار، الحاصل عدم تکفیرددی قائل موافق دده دبیان چه بلا اختیاره زمادژبې کلمه دکفروتـه دیانتامتفق علیه دی البته که چرته ښځه دده تصدیق نه کوی نواخری داچه خاوند دقسم ورکړی .والله اعلم ، محمد انورعفاالله عنه

جزء چهارم جواب سوال متعلق اصل جواب ازدیوبند

بسم الله الرحمٰن الرحیم

والصلوة و السلام علی رسوله الکریم ۔ د عالمان ددین اومفتیان دشرع مبین دی حضورت کښې څه لیکلی چه زیدپه حالت دخوب کښې کلمه طیبه کښې په ځای دمحمد ﷺ دیومولوی صاحب واخستلو اوپه حالت دبیداری کښې هم دغه شان درودشریف کښې دهغه په الفاظو کښې .اللهم صل علی سیدنا ونبینا ومولانا پوری شامل دی دهغه نوم یې واخستو اوبیانې مولوی صاحب ته داواقع ولیږله هغه

مولوی صاحب زید ته په دی باندی څه تنبه ورنه کړه او نه یې ورته ددی خیال دبدلولو څه صورت وخودلو موجوده حالت کې سوال دادی چه: (۱) دزید دغه شان کلمه طیبه او درود شریف کې ادلوالی بدلوالی کول کفردی یانه؟ (۲) دکوم مولوی صاحب مخی ته چه داواقع پیښ شوه دهغه په دی باندی خفگان او ناراضګی نه ښکاره کول کفردی یانه؟ (۳) دزید داخوب په اضغاث احلام (شیطانی وسوسی) کې شماریږی یارویای صادقه (رښتونی خوبونو) کې؟ (۴) زید او هغه مولوی صاحب چه څو پوری دهغه کلماتو نه ځان بچ نه کړی نودوی مسلمان ګڼل یادوی پسی امونځ کول یا دمولوی صاحب پیرجوړول جائزدی یانه؟ بینوا توجروا؟ جزاکم الله خیرالجـزاء خـادم العلماء والطلباء ۲۱ جمادی الاخری س۱۳۰۱هـ

جواب: دی واقع کې دزید دابیان دی چه داکلمه می بغیرد اختیار او بغیر دارادی دژبی نه وتی ده او دی غلطی باندی پښیمانه یم. اوددی دتدارك او دصحیح کولو قصد می دی دی خیال سره می ددی غلطی په تدارك کې په حضور ﷺ درود شریف لوستل وغوښتل خوبی اختیاره می دژبی نه په ځای دنوم مبارك دحضرت ﷺ هم هغه بل نوم ووتلو دی حالت کې موافق دکتاب الله او سنت رسول الله ﷺ او دمعتبرو کتابونو روایتونو دی سری باندی اتفاقاً حکم دکفرنشته. قال الله تعالیٰ ربنالاتؤاخذنا ان نسینا او اخطانا، وقال علیه الصلوة والسلام رفع عن امتی الخطاء والنسیان، قال فی الدرالمختار وفی الفتح ومن هزل بلفظ کفرارتداخ قوله ومن هزل ای تکلم باختیاره اخ شامی وفی الدرالمختار باب المرتدایضاً ومـن تکلـم بها مخطئـاً اومکرهـا لایکفرعـندالکل، صـ ۲۸۵ . الحاصل زید باندی دی حالت کې هرکله چه هغه وایې چه بلا اختیاره می کلمه دکفر دژبی نه ووته حکم دکفرپه اتفاق دفقهاؤ نشته. کما مر عن الشامی لایکفر عندالکل. او هرکله چه قائل خاطی باندی حکم دکفرنشته نوکه چرته دی مولوی صاحب په وجه دده دمجبور اومعذور کیدو ده لره ملامتیم اوخبرداره نه کړونو موجب دملامت او اعتراض نه دی بیا غیرکافرته کوم ته چه فقهاؤ کافرنه دی وئیلی او کوم سری چه عندالله کافرنه دی اورسول الله ﷺ هغه مرفوع القلم ګرځولی دی کافرنه وئیل ځکه موجب دکفرکیدیشی. صحیح احادیثو کې راځی، وعن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اشدفرحا بتوبة عبده حین یتوب علیه من احدکم کان راحلته بارض فلاة فانفلتت منه وعلیها طعامه وشرابه فایس منها فاتی شجرة فاضطجع فی ظلها وقد ایس من راحلته فبینهما هو کـذلك اذهوقائمة

عنده فاخذبخطامهاثم قال من شدة الفرح اللهم انت عبدی وانا ربك اخطأ من شدة الفـرح رواه مسلم، دی حدیث نه واضحه ده چه که چرته خطاء بلا اختیاره کلمه دکفراوزی نو هغه باندی حکم دکفرنشته او په هغه باندی څه طعن او ملامتیا نشته لکه څنګه چه حضرت ﷺ دهغه په دی کلمه دکفرباندی ددی سیوا هیڅ ونه فرمائیل اخطا من شدة الفرح او دامخکې معلومه شوه چه خطاء او نسیان ددی امت نه مرفوع ده. دفع عن امتی الخطاء والنسیان فقط و الله اعلم. کتبه عزیزالرحمن عفی عنه مفتی مدرسه دیوبند ۲۶ جمادی الثانی س۳۲ هـ. او داخوب دده (۱) بې شکه شیطانی اثر او خیال وو او بیداری کې چه څه دده دژبی نه ووتل هغه هم شیطانی اثروو خو چونکه بلا اختیاره او شو په دی وجه په ده څه مواخذه نشته او نه د مولوی صاحب باندی په پریخودلو دملامتیا ددی معذوردوجه نه څه مواخذه شته فقط والله اعلم. کتبه عزیزالرحمن عفی عنه مفتی مدرسه دیوبند

پنځم جزء (۵) جواب دهلی

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سوال کې دصاحب واقع ددوو حالتونو دوه واقع ذکرشویدی یو حالت دخوب بل حالت دبیداری دخوب دحالت دواقع حکم خو دشرعی اصولو موافق صفادی چه دارشاد مطابق رفع القلم عن ثلاثة الخ او دمرفوع القلم دی او دخوب دحالت هیڅ فعل او کلام شرعاً معتبرنه دی بل دخوب دحالت کلام دمرغانو دکلام سره مشابه دی او دهغی په حکم کې دی وفی التحریر وتبطل عباراته من الاسلام والردة والطلاق ولم توصف بخبرولا انشاء وصدق وکـذب کالحـان الطیوراه ومثله فی التلویح وهذا صریح فی ان کلام النائم لایسمی کلاماً لغة ولاشـرعاً بمنزلـة المهمل، (ردالمحتار) بیاددی جواب دواقع حکایت دیوی داسی واقع حکایت دی چه هغه کفرنه وو اګرچه الفاظ کفر په دی خود الفاظ کفریو صرف نقل څوك کافرنه جوړوی که چرته څوك اووائي چه نصاری وایې چه خدایان دری دی نو دی ویونکې باندی څه ګناه نشته ځکه چه دالفاظو کفریو نقل په قران مجید کې موجوددی قال الله تعالیٰ وقالت الیهودعزیرابن الله وقالت

(۱) او ګوره رسالة الامدادیه جمادی الاخری س۳۲هـ ص۱۹ قوله دویم احتمال وص۲۰ قوله یاداچه شیطانی تصرف دی الی نه ګنهګاردی ۱۲

النصاریٰ المسیح ابن اللہ، دا الفاظ چه عزیر ﷺ دالله ﷻ خوی دی او عیسیٰ ﷺ دالله ﷻ خوی دی یقیناً دکفر کلمات دی او مسلمانان ئې شپه اوورځ دقران مجید په تلاوت اولمونځ کې لولی اودا یهود ونصاری دا کلمات نقل کوی نوهر کله چه ددی کلماتو نقل کول سره ددی نه چه منقول عنهم ددی تکلم په حالت داختیار کړی وو او په هغوی باندی ددی کلماتو دتکلم دوجه نه دکفر حکم وکړی شو. کماقال تعالیٰ وقالوا اتخذالرحمٰن ولدا لقد جئتم شیئاً الآیة ، نقل کوونکی ته موجب دکفر نه شول نو دخوب دحالت هغه کلمات چه نه دهغی قائل کافر دی اون دخوب په حالت کې دی کلماتو ته کلمات دکفروئیلی کیدیشی. نقل کولو سره دکفر حکم په طریقه اولیٰ نه شی ورکیدی پاتی شوه بله واقع کومه چه دبیداری دحالت ده دهغه باره کې دصاحب واقع بیان دادی چه هغه دخپل خوب دحالت په غلطی پښیمانه دی او غواړی چه درود شریف ولولم او ددی تدارك وکړم او هغه درود شریف لولی خو هغې کې په ځای دنوم مبارك دحضرت ﷺ دزیدنوم دهغه دژبی نه اوزی هغه ته ددی غلطی احساس وو خو وایې چه ژبه می قابو کې نه وه بی اختیاره مجبوره وم. دی واقع باره کې دوه خبری دصفایې قابلی دی ړومبی داچه په حالت دبیداری کې داسی بی اختیاری او مجبوری چه ژبه قابو کې نه وه بغیر ددی چه نشه وی لیونتوب وی زور او اکراه وی یا عته وی ممکن او متصور ده یا نه ځکه چه ددی څیزونو نه دیو هم موجودیدل په سوال کې نه دی ذکر شوی نو ظاهره هم دغه ده چه دی سببونو نه څه سبب دبی اختیاری پیدا کولو والا نه وو دویم داچه که چرته بی اختیاری او مجبوری ممکن او متصوروی نو دصاحب واقع تصدیق به هم کولی شی یا نه. وړومبی خبری جواب دادی چه دبی اختیاری دیر سببونه دی صرف سکر وجنون او اکراه او عته کې منحصر نه دی دفقه او اصول فقه په کتابونو کې دی سببونو ذکر کولو باندی اختصار کول تحدید او حصر باندی مبنی نه دی بلکه اکثری داسبابو په طور باندی ذکر شوی. ددی دلیل دادی چه دیر کتابونو دفقی کې دهغی تصریح موجود ده چه که چرته دڅه وجه نه عقل مغلوبه شی هغه مغلوبیت موجب درفع قلم کیږی الا فی بعض المواقع حیث یکون الزجر مقصوداً. فتاویٰ عالمگیری کې راځی. من اصابه برسام او اطعم شیئا فذهب عقله فهذی فارتد لم یکن ذلك ارتداداً وکذا لو کان معتوهاً او موسوسا او مغلوباً علی عقله بوجه من الوجوه فهو علی هذا کذا فی السراج الوهاج (هندیه مطبوعه مصر، ج۲، ص ۳۸۲). دی عبارت کې لفظ موسوس او لفظ بوجه من الوجوه قابل غور دی خو واقع مسئول عنها کې نه خو دزوال شعور او زوال

عقل تصریح شته او نه زه ددی واقع په بنیاد باندی زوال دشعور کیدل صحیح گڼم ځکه چه صاحب واقع په حالت دتکلم دخپلی غلطی ادراك بیانوی او په عذر کې صرف بی اختیاری، مجبوری، ژبه په قابو کې نه کیدل ذکر کیږی په دی وجه صرف دغه خبره صحیح گڼم چه هغه سره دشعور او ادراك نه کلمه دکفر وایې خو دبی اختیاری نه مجبوری ده او دعین تکلم په حالت کې هم دا غلط او خلاف عقیده گڼم او بعد الفراغ من التکلم هم په هغه باندی پښیمانه کیږی خفه کیږی ژاړی داسباب معلومه (سکر جنون اکراه او عته) نه علاوه بوډاوالی مرض مصیبت غلبه دخوشحالی غلبه دغم زیاتوالی دمحبت وغیره هم دزوال عقل یا دزوال اختیار سبب جوړیدیشی او چرته چه زوال د عقل یا زوال داختیار وی هلته حکم دردت نه شی ثابتدی درمختار کې راځی ، وماظهر منه کلمات کفریة یغتفر فی حقه ویعامل معاملة موتی المسلمین حملاً علیٰ انه فی حال زوال عقله ،انتهی، یعنی دځنکدن او مرگ په وخت کې که چرته څه لږ غوندې کلمات دکفر ظاهر شول نو هغه به معاف گڼلی شی او ده سره به دمسلمانانو دمړو په شان معامله کولی شی او دکلمات کفریو ظهور به په زوال عقل او اختیار باندی حمل کولی شی. دی عبارت نه صرف دا عرض دی چه دهغه ذکر شوو او معلومو اسبابو نه دلته یو سبب هم نشته. بیا هم یو بل څیز یعنی سختی دمومن یا سختی دځنکدن زوال عقل دپاره معتبر وگرځولی شو. او مړی سره یې دمرتد معامله کول جائز ونه گرځول. اگرچه دځنکدن دسخت تکلیف د وجه نه داسی وخت کې زوال عقل متصور دی خو بیا هم یقینی نه دی صرف تحسینا للظن المسلم یې احتمال دزوال عقل قائم مقام دزوال عقل وگرځولو دصحیح مسلم په روایت کې دحضرت ﷺ نه روایت دی چه الله تعالی دخپل گنهگار بنده په توبې کولو باندی ددی نه زیات خوشحالیږی چه دیو مسافر په ځنگل کې دسامان نه ډك اوښ ورك شی او هغه په تلاشی کولو باندی نا امیده شی او مرگ ته تیار شی څملی او دی حالت کې ده ته خوب راشی لږ ساعت وروستو دی ویښ شی نو وگوری چه دده هغه اوښ ده سره سره دسامانه ولاړ دی. روایت کې حضرت ﷺ فرمایې چه ددی سړی دژبې نه ډیری خوشحالی دوجه نه دا لفظ اوزی. انت عبدی وانا ربك. یعنی هغه دالله ﷻ په جانب کې داوایې چه ته زما بنده یې او زه دتا خدای یم. رسول الله ﷺ فرمایې اخطاء من شدة الفرح یعنی دډیری خوشحالی نه خطا دهغه دژبی نه دا لفظ اووتو. دی حدیث نه صراحتا ثابت شول چه غلبه دخوشحالی هم دزوال سبب جوړیږی او چونکه حضرت ﷺ دی نه وروستو او نه

فرمايېل چه د االفاظ کفر په دا تکلم چه کوم خطاء شوی وو موجب د کفر او ختمونکي دايمان وو په دی وجه د حضرت ﷺ دسکوت نه دا معلومه شوه چه د کفر د الفاظو تلفظ چه په خطايي سره وی هغه ردت نه ثابتوی. دصلح حديبی په قصه کې کوم چه صحيح بخاری وغيره کې مروی ذکر شويدی چه هر کله صلح مکمل شوه او حضرت ﷺ حکم وفرمائيلو چه سرونه وخروی او قربانی وکړی. نو صحابو د وجه دسخت غم نه چه د خپلې تمنا او آرزو خلاف خانه کعبې ته ونه رسيدل شول داسې بې خوده شول چه د حضرت ﷺ دوباره او دری باره فرمائيلو باوجود يې هم د فرمان عالی تعميل ونه کړو حضرت ﷺ غمژن شو او د حضرت ام سلمه ؓ خواته يې تشريف يوړو هغې د خفګان د سبب تپوس وکړ او عرض يې وکړ چه تاسو بهر تشريف يوسی خپل سر مبارك وخريې او هيچاته هم څه مه فرمائي. حضرت ﷺ لاړو او خپل سر يې وخريلو هر کله چه صحابه کرامو ؓ وکتلو نو د هغوی هوش او حواس په ځای راغلو او يو دم يې ديو بل سر خرئيل شروع کړل دی روايت نه ثابتيږی چه غلبه د غم هم سبب موجب د زوال اختيار ګرځی ځکه چه قصد او اختيار سره د حضرت ﷺ د حکم تعميل نه کول د صحابو ؓ طرفه وهم هم نه شی کيدی تقريری امتحان په وخت کې د کومو طالبانو طبيعت چه زيات مرعوب کيږی هغه بنه پيژنی چه د هغوی دژبې نه سره د ادراك او شعور نه بې قصده غلط الفاظ وزی حالانکه صحيح جواب د هغوی په ذهن کې وی خو د سخت رعب د وجه نه ژبه د هغوی قابو کې نه وی رسول الله ﷺ په ازواج مطهرات کې د عدل پوره خيال ساتلو او فرمائيل به يې اللهم هٰذه قسمی فيما املك فلاتؤاخذنی فيما تملك ولااملك، يعنی ای الله ﷻ ما اختياری امورو کې برابر تقسيم وکړو او س که چرته د غلبې د محبت د عائيشې ؓ د وجه نه زړه عائشې ؓ طرف ته زيات ميلان وکړی نو هغې کې ما مه نيسه. ځکه چه هغه زما په اختيار کې نه دی. دی نه معلومه شوه چه که چرته د محبت د غلبې د وجه نه څه امر بې اختياری سره صادر شی هغه قابل موخذه نه دی پاتی شوه اطراء ممنوع کومه چه د غلبې د محبت نه پيدا کيږی هغه اختياری حده پوری منع کړی شويده که چرته هغه هم غير اختياری حد ته ورسی نو يقينا مرفوع القلم دی بل دا چه حديث لاتطرونی الخ کې ضرور د اطراء نهی ده خو دا ضروری نه دی چه د اطراء سبب د خاص غلبې د محبت نه وی بلکه جهالت، تعصب غلط فهمی وغيره اسباب هم موجب د اطراء کيديشی. پس نهی عن الاطراء مستلزم د نهی عن غلبة المحبت نه شی ګرځيدی دا ذکر شوی حديث په دی امر باندی

صفا دلالت کوی چه غلبه د محبت کله کله غير اختياری طور باندی محبوب طرف ته ميلان پيدا کوی او دا ميلان قابل مواخذه نه دی ولی؟ ځکه چه غير اختياری دی او دا غير اختياری چاجوړ کړو، غلبه د محبت د بخاری شريف هغه حديث وګوری کوم کې چه د پخوانی امتونو کې نه ديو کس حال ذکر کړی شويدی چه هغه خپلو خامنو ته د مرګ په وخت کې ويېلی وو چه ما وسوزی او زما ايره په تيزه سيلی کې والوزوی فوالله لکن قدرالله علی الخ د دی الفاظو (دی تقدير باندی چه که قدر د قدرت نه مشتق ومنی، د الفاظو کفر کيدو کې څه شبه نشته خو د هغه جواب رب خشيتك هغه د کفر نه بچ کړو او د الله د ببښنی مستحق وګرځولی شو دی نه صفا معلوميږی چه د الله دويری د ده دژبې نه بې اختياره دا الفاظ وويستل او د بې اختياری د وجه نه هغه د مواخذی نه بچ شو بهر حال د دغه ذکر شوو وجونه صفا ثابته شوه چه د اسباب معلومه (سکر، جنون، اکراه، عته) نه علاوه هم ډيرشی اسباب دی چه هغه سره شعور او ادراك يا اراده او اختيار ختميږی. بس اګرچه دی واقع کې سکر، جنون، اکراه، او عته نشته خو دا ضروری نه دی چه صرف د دی اسباب اربعه د عدم د وجه نه لازم کړه چه هغه دا الفاظ مذکوره ضرور ارادی او اختيار سره وئيلی وو دی نه وروستو دويم خبره د صفايې قابله داده چه که چرته بې اختياری او مجبوری ممکن وی نو صاحب واقع به هم تصديق کولی شی يا نه؟ دی باره کې عرض دی چه هغه نه مخکې چه د تصديق او عدم تصديق بحث وکړيشی رومبی دا ښودل ضروری دی چه صاحب واقع خپله بې اختياری کوم قسم ظاهر وی او د هغې سبب څه کيدی شی. بس پوه شه چه د صاحب واقع قول دادی (خو د بيداری په حالت کې د کلمې په غلطی چه هر کله خيال راغی نو د دی خبری اراده می وشوه چه دا خيال د زړه نه لری کړم دی د پاره چه بيا چرته داسې غلطی ونه شی په دی خيال بنده کښيناستو او بيا په بل اړخ څملاستم د کلمې د غلطی په تدارك کې په رسول الله ﷺ باندی درود شريف لولم خو بيا هم دا وايم اللهم صلی علی سيدنا ونبينا ومولانا زيد. حالانکه اوس بيدار يم خوب نه دی خو بې اختياره يم مجبوره يم ژبه په خپل قابو کې نه ده) دی کلام نه صفا ښکاره ده چه هغه ته د خپل خوب په حالت کې د غلطی کولو افسوس او غم په بيداری کې وراندی وو او ددی غلطی په تدارك کې هغه درود شريف وئيل غوښتل د هغه قصد دا وو چه عام طور باندی هغه په حضور ﷺ باندی درود شريف ولولی او د خپل خوب د غلطی تدارك وکړی خو اوس هم د هغه نه بې اختيار طور باندی هم هغه غلطی ورنه کيږی او د هغه ژبه د هغه د ارادی او اعتقاد سره موافقت

نه کوی دی ته صفابنکاره ده چه داغلطی دده نه خطاء سرزده شوه یعنی هغه خپله غلطی
خطا سرزده کیدل بیانوی ځکه چه دخطامعنی هم دغه ده چه دانسان قصد څه بل څه وی
او دجوارحونه فعل دهغه قصد خلاف صادرشی مثلا څوك اراده وکړی چه الله واحد او وایم
دی ارادی سره ژبه اوخوزی خوډژبی نه بی اختیاره الله عابد اوزی دخطادامعنی د
لاندنیو عبارتونو نه صراحتا ثابتیږی. الخاطی من یجری علی لسانه من غیر قصد کلمة مکان
کلمة (فتاوی قاضی خان) الخاطی اذاجری علی لسانه کلمة الکفر خطاءً بان کان یرید ان یتکلم
بما لیس بکفر فجری علیٰ کلمة الکفر خطاءً (قاضیخان) اما اذا اراد ان یتکلم بکلمة مباحة فجری
علیٰ لسانه کلمة خطاء بلاقصد(بزازیة) دی عبارتونو نه صفا معلومه شوه چه دخطامعنی هم
دغه ده چه بغیر دقصد نه دشعور او ادراك حالت کښ چه کومه کلمه دژبی نه اوزی هغه خطاده
نو صفا ښکاره ده چه دصاحب واقع دی الفاظ کفریه سره تکلم کول خطادی ځکه چه دهغه
قصد ددی خلاف دمباح الفاظو دوئیلو وو او بغیر دقصد نه دده دژبی نه داالفاظ ووتل او هرکله
چه ددی الفاظو خطاءً صادرکیدل ثابت شول نو اوس داکتل پکاردی چه که چرته الفاظ
دکفر خطاد چادژبی نه اوزی نو دهغه حکم څه دی. هغه دپاره دفقه په کتابونو کښ مختلف
عبارتونه ملاویږی رومبی داچه الفاظ کفریه خطادژبی نه وتل موجب دکفرنه دی، .رجل قال
عبدالعزیز عبدالخالق عبدالغفار عبدالرحمٰن بالحاق الکاف فی اٰخر الاسم قالوا ان قصدذ لك
یکفروان جریٰ علیٰ لسانه من غیر الخاطئ اذاجری علی لسانه کلمة الکفر خطاءً لم یکن ذ لك
کفراً عند الکل (کذا فی العالمگیریة نقلاً عن الخانیة) دویم داچه دالفاظ کفریو خطاتکلم
اگرچه دیانتا بالاتفاق موجب دکفرنه دی خو قضاءً به ددی تصدیق نه شی کولی ،امااذا اراد ان
یتکلم مباحة مجری علی لسانه کلمة الکفر خطاءً والعیاذبالله لایکفر لکن القاضی لایصدقه علیٰ ذ
لك (بزازیة) بدلیل ماصرحوابه من انه اذا اراد ان یتکلم بکلمة مباحة فجریٰ علی لسانه کلمة
خطاءً بلاقصد لایصدقه القاضی وان کان لایکفر فیما بینه وبین الله تعالیٰ فتامل ذ لك اه.
(ردالمحتار) که چرته ووایې ممکنه ده چه دقاضی خان دواړه عبارتونه صرف حکم ددیانت
بنایې. ځکه چه دبزازیی او دردالمختار په عبارتونو کښ هم حکم ددیانت ښودلی شویدی چه
کافرنه گرځی خو دهغه نه وروستویې حکم قضاءً دا ونبودله چه قاضی دی تصدیق نه کوی
او دقضاد حکم دقاضی خان په عبارتونو کښ نفی نشته. بلکه هغه دحکم قضاء نه ساکت دی

دی باره کښ عرض دی چه آو بی شکه دااحتمال شته خو رومبی خو دنفی منصب صرف دادی
چه حکم ددیانت اوښایې. په دی وجه صورت مسؤله کښ مفتی ته دغه فتوی ورکول لازم دی
چه قائل مرتد نه شو. دویم داهم کتل دی چه هرکله په شرطونو دصحت دردت کښ طوع
او اختیار هم داخل دی او بی اختیاره ردت معتبرنه دی نو داعدم اعتبار صرف دمفتی په
اعتبار سره دی یا قاضی به هم غیراختیاری ردت معتبرنه گڼی دهغه جواب دادی چه دبی
اختیاری اسباب که چرته ظاهروی نو په هغه کښ به قاضی او مفتی دواړو بی اختیاری منله
او ردت به یې غیر معتبر گر ځولو لکه معروف لیونتوب یا سکر ثابت عند القاضی یا طفولیت
مشاهده وغیره. نو دی صورت مسؤله کښ که چرته دده دبی خودی او بی اختیاری حالت که
نورو خلقو هم محسوس کړی وی بیا خو ښکاره ده چه قاضی ته به ددی اعتبار کول راځی کنی
زیات نه زیات قاضی ته دصاحب واقع نه دده بی خودی او بی اختیاری دحالت باره کښ دقسم
اخستلو حق به وی دریم داچه که چرته دقاضی مخی ته داواقع دغه شان روانه وه چه دی سړی
دفلانی لفظونو کفریو تکلم کړی دی او بیا دی سړی دقاضی مخکښ عذر دبی اختیاری پیش
کولو نو ضروری وه چه قاضی به دده نه دبی اختیاری ثبوت غوښتلو او صرف دده په وینا به یې
دده نه حکم دردت نه وچتولو خو دلته داواقع نشته بلکه دقاضی مخکښ که چرته ددی قائل
بیان څی نو داسی به څی چه ما په حالت دبی خودی او بی اختیاری چه ژبه می قابو نه ده
داالفاظ وئیلی دی او ظاهره ده چه دی صورت کښ داالفاظ په دی حیثیت چه بی خودی او بی
اختیاری سره سرزدشی موجب دکفرنه دی. څلورم داچه ردت خاص دالله دحقونو نه دی
او اگرچه پس دثابتید و دردت نه بعضو بنده گانو حقونه متعلق کیږی خو هغی ته په نفس ثبوت
او اثبات ردت کښ نشته بلکه هغه ثبوت دردت مرتب کیږی. لکه څنگه چه بزازیه کښ دهغی
تصریح ده بس دیو متکلم ددعوی دخطاکولو سره څه حق دبنده نه زائل کیږی او په دی وجه
قاضی ته دده دتصدیق کول راجع دی لکه څنگه چه دحدیث اخطاء من شدة الفرح او حدیث
والله لئن قدرالله علی اودلې غوندی کلمات کفریو اعتبار نه کولو نه ثابتیږی. دی نه پس
داخبره پاتی شوه چه آیا دصاحب واقع په دی قول کښ چه ددی الفاظو صدور بی اختیاری سره
وشو تصدیق به یې کولی شی یا نه. ددی جواب ضمنا خو راغی خو زیات وضاحت په غرض
پیش کولی شی که چرته دچا په کلام کښ گڼی وجه دکفروی او یوه وجه داسلام وی نو مفتی
دی داوجه اختیار کړی کوم چه حکم دکفرنه واپس کیږی ځکه چه جهت داسلام راجح دی

اومسلمان سره حسن ظن لازم دی دابله خبره ده چه که دمفتی تاویل فی الواقع صحیح نه وی نو دهغه فتوی قائل لره دحقیقی کفرنه نه شی بچ کولی. نودی صورت مسؤله کښ هرکله چه قائل په خپله دخپلی کلمی دکفرنه ویریدل خفه کیدل اوبیاتدارك په خیال سره درودشریف ویل اوپه هغه کښ بی اختیاری سره غلطی کول اوبیاپه هغه افسوس کول اوژړل بیانوی نوبیادی بدگمانی هیڅ وجه نشته چه ده داالفاظ کفریه په خپلی ارادی او اختیارسره وئیلی ووداخیال چه هرکله ده ته معلومه وه چه زماژبه په قابو کښ نه وه نوسکوت کول پکاروو خوده سکوت ونه کړو اوکلمی دکفریې ژبی نه وویستی نوگویاقصدا کلمه دکفرسره تکلم وکړوصحیح نه دی ځکه چه ده خوقصدد درودشریف صحیح وئیلوکړی ووخودتلفظ په وخت کښ دژبی نه نورالفاظ ووتل بیایې قصدوکړوچه صحیح لولم بیاغلط ووتل. گویا په هرځل کښ په قصدداصلاح سره تکلم وکړ نه په قصدداالفاظ کفریه. اوسکوت محض دتکلم بقصدالاصلاح والتدارك نه افضل نه شی کیدی بس ممکنه ده اواقرب الی القیاس هم دغه ده چه دده په زړه څه داسی حالت طاری شوچه دهغی په وجه دده دجوارحوافعال مختل شول په خپله دده په بیان کښ موجوددی چه بیداری نه پس می هم بدن کښ هغه بی حسی اواثردبی زوری په خپل حال ووپه دی وجه دمفتی په ذمه دی صورت دواقع کښ لازم دی چه داسی چه هرکله صاحب واقع په خپل اختیاراوارادی سره الفاظ کفریه نه دی وئیلی نوهغه بالاتفاق نه دی مرتدشوی اوچونکه ددی الفاظو دده دژبی نه صدورخطاء شویدی اودی صورت کښ اتفاقاکفرنه واپس کیږی لکه څنگه چه دقاضی خان دعبارت نه معلومه شوه په دی وجه ده ته به دنکاح اوایمان تازه کولوحکم هم نه شی کیدی احتیاطاتازه کول دمحبت نه خارج دی دده منکوحه بالکل دده په نکاح کښ ده اوهغی ته هرگزبل چاسره نکاح جائزنه ده اوکه چرته دده داحالت دبی خودی اوبی اختیاری معروف وو بیاخوپه حکم دقضااودیانت کښ څه فرق هم نشته اوکه چرته داحالت معروف نه وی بیاهم په دغه ذکرشوو وجوقضاء هم یازیات نه زیات قسم سره دده تصدیق به کولی شی

کتبه کفایت الله عفاعنه مدرس مدرسه امینه دهلی ۳۰ جمادی الاخری س۳۲ھ

ضمیمه ددهلی دفتوی

کومه چه یوخط سره وروستوراغی. خط: پس دسلام مسنونی نه عرض دی چه دمسئلی معلومی باره کښ می مضمونونه په ذهن کښ ووکوم می چه هغه وخت دتلواروالی دوجه نه ونه لیکلی شول اووروستو دهغه سوال دعبارت دنه موجودوالی دوجه ماپه بل طرزسوال جوړ کړواودهغه جواب می اولیکلو. زماپه خیال کښ ددغه واقع هم دغه په خطاباندی حمل کول متعین دی په دی وجه صرف دخطاباره کښ چه کوم مضمون می ذهن کښ وه هغه می ولیکلو ددی خط په ذریعه یې پیش کوم محمد کفایت الله عفاعنه مدرس مدرسه امینه

دهلی ۲۰ رجب س۳۲ھ،

سوال: زیدخپلی ښځی ته وویل چه که مانن دمابنام لمونځ اداء نه کړونو په تادری طلاقه بیاهغه دمابنام لمونځ وکړوخوپه قراءت کښ یې غلطی وکړه چه په ځای دعضی ادم ربه په میم یې زبراوربه په بایې پیښ ولوست. دهغی ښځی داغلطی اوریدلی وه. ښځی دقاضی په دربارکښ دعوی وکړه چه زماخاوندزماطلاق دمابنام لمونځ په نه اداء کولوباندی معلق کړی وواوده لمونځ نه دی اداکړی ځکه چه دابرنی غلطی ده کړیده دی سره دده لمونځ فاسد شویدی په دی وجه دشرط دموجوددیدودوجه نه زه طلاقه شوې یم قاضی دزیدنه تپوس وکړهغه دغلطی اقراروکړوخوووئیل چه داغلطی زمانه خطاشویده قصدا ماغلطه نه دی وئیلی په دی وجه زمالمونځ صحیح شویدی اوشرط نه دی موجودشوی. قاضی دخاوند اقرار بالخطا ومنلواودهغه دلمونځ حکم ئې وکړ چه صحیح شویدی اودښځی دعوی دطلاق په دی وجه چه شرط دطلاق نه دی موجودشوی خارج کړ هغه نه وروستوښځی دادعوی وکړه چه چونکه دغه ذکرشوی کلمه یوه کفریه کلمه شویده اوزیددکلمی کفریی تکلم کړیدی په دی وجه هغه مرتدشویدی اودارتداد دوجه نه ماته ددعوی دفسخ نکاح حق حاصل شویدی زمانکاح فسخ کړی یعنی دفسخ نکاح حکم وکړی سوال دادی چه دقاضی ړومبی حکم په باره صحت دلمونځ کښ صحیح دی یانه. اوایااوس قاضی په زیدباندی دارتدادحکم کولی شی اودنکاح دفسخ کولوحکم ورکولی شی یانه. بینواتوجروا؟

جواب: دزیددعوی په باره دکیدو دغلطی په خطاسره اوعدم داختیارمقبول دی ځکه چه لمونځ اودهغه ارکان اوشرائط خالص دحقوق الله نه دی. اوخالص حقوق الله کښ دعوی

دخطا دیانتا او قضاء مقبول ده والخطا وهو عذر صالح لسقوط حق الله تعالیٰ ویصیر شبهة فی دفع العقوبة
حق لایاثم الخاطی ولایؤخذ بحد اوقصاص (کذا فی نورالانوار) فان زفت الیه غیر امرأته فظنها انها امرأته
فوطئها لایحدولایصیر اثما (نورالانوار). لکه خطا پردی ښځی سره وطی کول یا یوشی ښکاروګنی
او سړی پې وویشتی او ووژلو نو دی صورتونو دعوی او خطا قضاء هم مقبول ده او حد د قصاص نه
واجبیږی ځکه چه حدود خالص د حقوق الله ﷻ نه دی او په دی کې دعوی خطاء مقبول ده بس
هر کله چه دعوی خطاء مقبول شوه نو اوس کتل دادی چه د قراءت په اعرابو کې غلطی کول څه
حکم لری نو متقدمین اګرچه په داسی غلطی کې چه په هغه کې تغیر فاحش راشی د لمونځ
د فساد قائل دی. خو په متاخرینو کې ډیر جلیل القدر فقها فرمایي چه لمونځ صحیح کیږی
فاسد نه ګرځی او دا قول مفتی به دی. واما المتاخرون کابن مقاتل وابن سلام واسماعیل الزاهد وابی
بکر البلخی والهندوانی وابن الفضل والحلوانی فاتفقوا علی ان الخطاء فی الاعراب لایفسد مطلقاً
ولو اعتقاده کفرا (درالمختار) وکذا وعصیٰ ادم ربه بنصب الاول ورفع الثانی یفسد عند العامة وکذا فساء
مطر المنذرین بکسر الذال وایاك نعبد بکسر الکاف والمصور بفتح الواو وفی النوازل لاتفسد فی الکل وبه
یفتی بزازیة وخلاصة (ردالمحتار) وهو الاشبه کذا فی المحیط وبه یفتی کذا فی العنایة وهکذا فی الظهیریة
(عالمګیری) نو اوس د دی مفتی به قول موافق قضاء رومبی یعنی د لمونځ د حکم و شو چه
صحیح دی او هر کله چه لمونځ صحیح شو نو شرط موجود نه شو او طلاق معلق واقع نه
شو. دی نه وروستو د ښځی دعوی به نه شی اوریدل کیدی چه خاوند می مرتد شو زما نکاح
فسخ کړی ځکه چه قاضی په دی صورت کې د زید د ارتداد حکم نه شی کولی او دری وجی
لاندی دی (۱) اوس که چرته حکم د ارتداد وکړی نو دوه حالونه خالی نه دی رومبی دا چه
قضاء اول په خپل حال باقی ده او که قضا بالارتداد هم وکړی شی نو په دی کې صریح
طور باندی اجتماع د ضدینو بلکه د نقیضینو ده ځکه چه د قضاء اول مقتضی د صحت د لمانځه
ده او د قضاء ثانی بطلان د لمانځه. د قضا اول مقتضی بقاء د نکاح ده او د قضا ثانی بطلان
د نکاح. د قضاء اول مقتضی اسلام د زید دی (ځکه چه د صحت د لمانځه د حکم د پاره اسلام
د مصلی شرط دی) او د قضاء ثانی مقتضی کفر د زید. او مبنی د دی دواړو متناقض حکمونو هم
هغه کلام واحد دی دویم دا چه قضاء اول د باطل کړیشی او قضاء ثانی د واجب النفاذ وګرځولی
شی خو دا دواړه صورتونه باطل دی رومبی خو د وجه د لازم کیدو د اجتماع د نقیضینو او دویم

د دی وجه نه چه قضاء اول هر کله چه مسئله مجتهد فیه کې واقع کړی شی نو بیا واجب العمل
والتنفیذ ګرځی او په خپله دی قاضی ته یا بل قاضی ته د دی د ابطال اختیار نه پاتی کیږی
واذا رفع الیه حکم قاضٍ افاقی الاحکم نفسه مثل ذٰلك (ای الرفع) تنفیذه (ردالمحتار) اعلم انهم قسموا
الحکم ثلثة اقسام یرد بکل حال وهو ماخالف النص اوالاجماع وقسم یمضی بکل حال وهو الحکم فی محل
الاجتهاد الخ (ردالمحتار) (۲) حکم د مرتد خالص د حقوق الله نه دی او خالص حقوق الله کې
دعوی د خطا قضاء مقبول ده کنی وطی بالشبه کې به دعوی د خطا نه قبلیږی او حد زنا به لازمی
راتله رمی الانسان بالخطاء کې به دعوی خطا نه قبلیدی قصاص به لازم راتلی حالانکه لازم
باطل دی یعنی قضاء د حد او د قصاص دواجب کیدو حکم نه کیږی ځکه چه حدود د حقوق الله
نه دی او قصاص کې اګرچه حق عبد هم دی خو هغه بدل دیت په صورت کې ادا کړیشو
او هغه د زړه ماتیدو پتی و شوه اخلاء عالم من الفساد چه هر کله موجب د قصاص په وجه
د دعوی د خطا کې خو د هغې حکم وچت کړی شو. دا خبره چه حکم بالردت د حقوق الله نه دی
دی عبارت نه ثابت دی بخلاف الارتداد لانه معنی یتفرد به المرتد لاحق فیه لغیره من
الادمیین (بزازیه) بس هر کله چه صورت مسؤله کې زید د تکلم بالخطا مدعی دی نو هیڅوجه
نشته چه د هغه دا قول دی قضاء قبول نه کړی شی (۳) د ردت حقیقت فقهاؤ په دی شان سره
بیان کړی دی اجراء کلمة الکفر علی اللسان یعنی کلمه د کفر قصدا په ژبه جاری کول
قصدا قید د لفظ اجرا نه معلومیږی کنی جریان کلمة الکفر به یې بیاو یبلی وی بیا چرته چه یې
شرطونه د صحت د ردت بیان کړیدی هلته یې طوع یعنی اختیاری هم په شرطونو د صحت کې
ذکر کړیدی بس هر کله چه قصد او اختیار نه وی متحقق شوی د ردت تحقق نه شی کیدی
او دیو شی د تحقق نه مخکې د هغه حکم کول ضرور باطل دی مثلاً او دس د لمانځه د شرطونو نه
دی څو کوم لمونځ چه بی او دسه وکړی شی هغه لمونځ نه دی صحیح. نو مخکې د تحقق
د اودس نه د لمانځه د صحت حکم کول یقینا غلط او باطل دی او دا خبره ښکاره ده چه
د قصد او د اختیار تعلق زړه سره دی د امور قلبیه دی په دی باندی د صاحب معاملی نه علاوه
بل چاته هیڅ معامله د اقرار چه ما قصدا په دی الفاظو کفر یو تلفظ کړیدی ضروریدی
او چونکه دده د اقرار نه علاوه څه بله لاره نشته چه دده معلومات پری وشی په دی وجه دده
د اقرار او د انکار تصدیق ضروری دی او که کله دده عدم انکار قصد قائم مقام
د اقرار قصد په حکم قضاء کې وکړی نو ممکن دی خو دده د صریح انکار چه د قصد او تعمد نه

صراحتاً منکروی د تصدیق نه کولو څه وجه نشته بل داچه اقرار صرف د تلفظ بالاختیار د ردت ثبوت د پاره کافی دی دهغی د معنی قصد کول او مراد اخستل شرط نه دی ځکه چه دهازل اولاعب دارتداد حکم په فتح القدیر او بحر وغیره کتابونو کښ راغلی دی او ددی دواړو د کفر وجه دهغوی دا کلمه کفر په غیر مقصود المعنی نه ده بلکه استخفاف فی الدین دی پس داقول چه دخطایی د دعوی په صورت کښ دا تداد حکم نه کول پکاردی یقیناً راجح بلکه حق او صواب دی، قال فی البحر الحاصل ان من تکلم بکلمة الکفر هازلاً ولاعباً کفر عندالکل ولااعتبار باعتقاد کماصرح به فی الخانیة ومن تکلم بها مخطئاً اومکرهاً ل یکفر عندالکل الخ (رد المحتار) ددی عبارت ظاهره مفهوم هم دغه دی چه دخطا او اکراه په صورت کښ دیانتاً او قضاءً بالاتفاق نه کافر کیږی ځکه چه خطا او اکراه یې په یو حد کښ شامل کړیدی او په اکراه کښ قضاءً نه کافر کیدل مسلم دی فکذا فی الخطا. که چرته داشبه وکړی چه د خاوند د ردت سره د ښځی حق د فسخ او خروج عن الملک متعلق دی نو ممکن ده چه دخطا دعوی سره په ده باندی فیمابینه وبین الله حکم د کفر نه راځی نو که چرته قاضی دخطا د دعوی تصدیق وکړی نو د ښځی حق باطل دی او په دغه وجه یې بزازي او شامی کښ لیکلی دی چه خطا کښ اګرچه دیانتاً نه کافر کیږی خو قاضی به یې تصدیق نه کوی نو ددی جواب دادی چه مونږ په خپله د بزازی نه په نمبر ۲ کښ نقل کړیدی چه ردت حکم کولو کښ د چا حق متعلق نه دی نو دهغی دا عبارت به خپله ددی حکم د عدم تصدیق منافی دی شامی دا قول صرف په لفظ د بدلیل ما صرحوا بیان کړیدی او تصریح کوونکو نوم یې نه دی ښودلی په دی وجه دا نقل څه د اعتماد قابل نه دی بیا مونږ وایو چه د ښځی حق نفس تکلم بکلمة الکفر سره متعلق نه دی بلکه د ردت د آثار و مترتب علیه نه دی او ترتب د آثار و پس د وجود نه حقیقت وی او څو پوری چه طوع او اختیار ثابت نه شی حقیقت د ردت هیڅ متحقق شوی نه دی نو دی باندی به د آثار و ترتب څه رنګه وشی بیا په خپله شامی د جامع الفصولین، نور العین، خیریه، او بحریه نه نقل کړیدی چه داسی الفاظ کفریو خطا باندی په کوم کښ چه څه بعید تاویل هم کیدلی شی دی هم حکم د کفر نه کړیشی او علامه شامی فرمایی: ومفهومه انه لایحکم بفسخ النکاح. یعنی د جامع الفصولین، او د نور العین د عبارتو نو مفهوم دادی چه د فسخ د نکاح حکم دی و نه کړیشی. بس د جامع الفصولین او نور العین او د خیریه په نقلونه د شامی د بحث نه بدرجه اولی بالعمل والقبول دی او بیا دا دهغه صورت حکم دی چه قائل د کلمی کفر په یقیناً کفر کړی وی او په

خپله یې څه صورت د بچ کیدو نه وی پیش کړی حالانکه صورت مسؤله کښ قائل په خپله خپله معذوری او بی اختیاری بیان کړیدی نو دلته خو په درجه اولی حکم د ردت نه شی کیدی (۴) د تعلیقات طلاق لان دخلت دلدار فانت طالق) په کوم کښ چه د ښځی حق متعلق بالذات وی حکم دادی چه که چرته خاوند د تعلیق یا د شرط د وجود نه انکار وکړی او ښځه د تعلیق یا د وجود شرط دعوه داره وی نو بینه د ښځی په ذمه ده کنی د خاوند قول معتبر وی وان اختلفا فی وجود الشرط فالقول له الا اذا برهنت ومالایعلم الا منها فالقول لها فی حقها (عالمگیری) فان اختلفا وجود الشرط فالقول له مع الیمین لانکار الطلاق (درمختار قوله فی وجود الشرط ای اصلاً او تحققاً کمافی شرح المجمع ای اختلفا فی وجود اصل التعلیق بالشرط اوفی الشرط بعد التعلیق وفی البزازیة ادعی الاستثناء اوالشرط والقول له الخ (رد المحتار) بس په دعوی د فسخ د نکاح کښ ګویا ښځه د وجود شرط مدعی ده او هغه تکلم بکلمة الکفر طوعاً او اختیاراً دی خاوند دهغه منکر دی لهذا ددی قاعدی په بنیاد خاوند قول قضاءً هم معتبر کول پکاردی بلکه دلته به په درجه اولی د خاوند قول اعتبار کیږی ځکه چه د ښځی حق بالذات د ردت ثبوت سره متعلق نه دی بلکه د احکامو د ردت نه دی. وحکم الشیء ثمرته واثره المترتب علیه (رد المحتار) (الحاصل) د چا د ژبی نه چه حکم د کفر وزی او هغه په خطایی سره د وتلو مدعی وی لکه چه اکثر په لمانځه کښ خطا داسی الفاظ کوم چه په قصد سره وئیل کفر دی وزی دیانتاً حکم د ارتداد نه کول متفق علیه دی قضاءً به هم ددی قول سره د قسم تصدیق کولی شی او قاضی ته هیڅ حق نشته چه په ده ارتداد حکم ولګوی او د ده د قسم اعتبار و نه کړی یا د ده د ښځی نکاح فسخ کړی بل داچه خطا د څه کلمی د ژبی نه وتلو د پاره دا ضروری نه ده چه متکلم بی هوش وی یا لیونی وی بلکه د هوش او حواس د صحیح والی او د ادراک او شعور قائم والی په حالت کښ هم بغیر د قصد نه الفاظ د ژبی نه وزی انت طالق وئیلو نه وروستو قضاءً تاویل چه زما مراد طلاق عن وثاق وو په دی وجه معتبر نه دی الفاظ طلاق په خپله موجب د حکم دی او ددی صدور سره بالذات حق د ښځی متعلق کیږی په خلاف د کلمی د کفر چه دا بالذات موجب د ردت نه دی بلکه طوع او اختیار د شرطونو د صحت د ردت نه دی او ددی سره د چا حق بالذات متعلق نه دی ب س انکار د اختیار حقیقت کښ انکار سبب دی نه د انکار حکم مع الاقرار بالسبب هذا والله اعلم بالصواب محمد کفایت الله غفر الله مدرس مدرسه امینه دهلی ۲۰ رجب س ۱۳۳۲ھ

جزوشتم تحریر صاحب موصوف بالا درتمهید

مُلقّب بہ القول المحبوب فی حکم المغلوبؔ

بسم الله الرحمٰن الرحیم

حامدا و مصلیا و مسلما . امابعد عرض دی چه دکوم وخت واقعه دخوب په الامداد کښ شائع شویدی هغه وخت نه په خلقو کښ یو شور پیدا شویدی په دی وجه مناسب معلومه شوه چه دی واقع باندی یو تفصیلی بحث ولیکلی شو نو مونږ دی باندی یو تفصیلی بحث کوو اووایو چه دی واقع باندی انکار کوونکښ دوه قسم خلق دی یو خو هغه خلق دی چه صرف خپل اختلاف نفس واقع پوری محدود کوی او حضرت مولانا مدظلهم العالی ته څه بدردنه وایښ ځکه چه هغوی پیژنی چه مولانا دی واقع کښ دمداهنت او سستی نه کار نه دی اخستی بلکه هغه صاحب واقع معذورګنی دی بنیاد باندی هغوی دی واقع باندی څه اعتراض نه دی کړی لهذا هغوی معذوردی او په هغوی باندی ملامت نه شی کیدی دویم هغه خلق دی چه په خپله مولاناصاحب ته هم بدرد وایښ داسی خلق هم دوه قسم دی یو هغه چه دهغوی داعتراض منشا خلوص او محبت دی او هغوی خیرخواهان اعتراض کوی او دویم هغه چه دهغوی داعتراض منشاء حسد او دښمنی ده او قسما قسم تکلیفونه رسولو باندی مولاناته یښ ملا تړلی ده او هغوی تردی پوری دایمان او دانصاف نه سترګی پټی کړیدی چه هغوی دی واقعی صورت بدل کړو او په هغی کښ تحریف وکړو او عوامو وړاندی یښ پیش کړه او ددروغو او تهمت لګولونه هم ځان بچ کوی بس معاندینو او حاسدینو سره خطاب کول بی کاره دی او دهغوی په نسبت خو مونږ صرف دومره عرض کړیدی

آنکه اوباشد حسود آفتاب	کورمیگرود زبود آفتاب
اینت دردبی دواکورست آه	کی بزآید این درقعرچاه
نفی خورشید ازل بایست او	کی بزآید این مراد اوبگو
تو بخشابرکسی کاندرجهان	شد حسود آفتاب کامران
تاندش پوشید هیچ ازدیدها	داز طراوت دادن بوسیدها
یازنوربیحدش تانندکاست	یابدفع جاه اوتانندخاست

تابرآرایدهنرراتاروپود	چشم درخورشیدنتواندکشود
توحسودی کزفلان من کمترم	می فزایدکمتریی دراخترم
خودحسدنقصان وعیبی دیگرست	بلکه ازجمله کمیهابدتراست
آن بلیس ازننگ عارکمتری	خویشتن افگندی درصدابتری
آزحسدمی خواست تابالابود	خودچه بالابلکه خون پالابود
آن ابوجهل ازمحمدننگ داشت	دزحسدخودرابیالامی فراست
بوالحکم نامش بدوبوجهل شد	ای بسااهل ازحسدنااهل شد
درگذرازفضل درچشتی وفن	کارخدمت داردوخلق حسن
صدازینها گربگویم توکری	بشنوی وناشنوده آوری

پاتی شول هغه خلق کوم چه بغیر دعناد او دحسدنه صرف خلوص او حجت سره نفس واقع یا د مولانا په فعل باندی اعتراض کوی دهغوی مخی ته ضرورزړه غواړی چه دواقع پوره تفصیل پیش کړیشی او چونکه هغوی دهمدردی او دلسوزی نه کار واخستو او حضرت مولاناصاحب یښ په یو داسی لغزش باندی خبر کړو کوم چه هغوی په خپله پوه کښ لغزش ګنی نو زمونږ ددلسوزی مقتضا داده چه مونږ ددی واقع په ټولو اړخونو باندی بحث وکړو کوم چه زمونږ په نظر کښ منشاء دانکار ګرځیدلی شی (برابره خبره ده که هغه په خپله زمونږ دغور او دخوض نتیجه وی یا دنورو حضراتو دفکرونو) اصل حقیقت دهغوی وړاندی خیرخواهانه پیش کړو. والله المستعان وهو الموفق بالصواب . دی نه پس معروض دی چه دی واقع باره کښ چه څومره اعتراضونه دی دهغی ټولو حاصل دری اعتراضونه دی (۱) واقع قابل داعترض ده (۲) مولاناپه هغه اعتراض ونه کړ (۳) دایښ شائع کړه کومه چه دعوامو دفتنی باعث وه بس دمولاناعذر خو دادی چه نه دواقع کتو سره زمونږ په ذهن کښ اعترض راغی او نه مونږته ددی په اشاعت کښ دڅه فساد پیدا کیدو احتمال راغی بلکه مونږته ددی په اشاعت کښ دینی فائده په نظر راغله چه که چرته چاته داواقعه پیښه شی نو هغه دی دی واقع سره پریشانه نه شی او نه دی خپله عقیده خرابه کړی په دی وجه مونږ داشائع کړه پس دمولانامعذوری خوښکاره ده پاتی شوه داخبره چه په خپله داواقع قابل

داعتراض وړ یانه. ددې فیصله دېولوی بحث نه پس کیدلی شي په دې وجه مونږ په دې باندې بحث کوو او وایو چه کوم خلق واقع ته قابل داعتراض وایي دهغوی مقصود دادې چه صاحب واقع ته ایمان او نکاح تازه کول پکاردي اوس مونږ ته ددې واقع شرعي حکم معلومول پکاردي نو دهغې تحقیق دادې

تحقیق حکم واقعه زیربحث

دایمان او دنکاح تازه ګي موقوفه ده په تحقیق دارتداد باندې او حقیقت دردت دادې چه یو مسلمان خپله عقیده بدله کړي او داسلام خلاف عقیده ولري یاهغه په څه صحیح قصد سره داسې فعل وکړي کوم چه موجب دکفروي. کماقال الامام فخرالاسلام فی اصوله (الردة تبنی علی القصد ولاعتقاد) بس هرکله چه داحقیقت واقع کې هم متحقق شي. اوقاضي ته هم ددې دتحقق علم معتبر عند الشرع وونو هغه سړي کوم سره چه ددې حقیقت تحقق شويدې دیانتاهم مرتددې اوقضاء هم او که چرته واقع کې ددې تحقق وشو او قاضي ته ددې علم ونه شو نو هغه به دیانتا مرتد وي خو قضاءبه مرتد نه وي او که چرته واقع کې ددې تحقق نه دې شوی خو قاضي په نزد د دې حقیقت دتحقق ثبوت په طریقه معتبره عند الشرع شویدې نو داسړي به دیانتا مرتد نه وي خو قضاء مرتددې هرکله چه داامر معلوم شو نو اوس دې واقع کې دوه خبرې معلومول غواړو. رومبی داچه دې واقع کې حقیقت دردت متحقق شوی دې یانه. دویم داچه موجوده صورت کې قاضي ته دردت دحقیقت تحقق علم معتبر عند الشرع کیدې شي یانه او هغه په ده باندې دارتداد او دښځې دطلاق قید وحکم لګولی شي یانه نو رومبی امر باره کې خو څه فیصله نه شي کیدې ځکه چه دهغه علم الله تعالی دې یاصاحب معاملې ته چه آیا هغه الفاظ په حقیقت کې بالاضطرار دهغه ژبې نه وتي یاهغه قصدا ویېلي دې مونږ ته دې باره کې هیڅ علم نشته لهذا دیانت باره کې خو دده معامله الله ته ﷻ سپارو پاتې شو دویم امر نو دهغه معلومات خو کیدې شي. مونږ دهغه باره کې بحث کوو او وایو چه صاحب واقع بیان کوي چه زما دژبې نه بالاضطرار داکلمات وایې دیکې دوه جزوه دې یو داچه زما دژبې نه کلمات دکفراوتي. دویم داچه زه دې وخت کې مجبوراوبې اختیاره وم او ما په قصد داالفاظ نه دې ویلې دویم جزوه توضح ده درومبی جزو کوم چه ددې متصل دې. او ددې دقبلولو اونه قبلولو حق اصالةً دوو کسانو ته کیدې شي رومبی قاضي ته کوم چه خلیفة الله دې دویم ښځې ته ځکه چه دردت تعلق فی الجمله بیتونت سره هم دې اوالمراة کالقاضی هم شته بس

دقاضي باره کې خو داتفصیل دې چه فقهاؤ کې دوه ډلې دې یو هغه خلق کوم چه نفس معامله دارتداد او تکفیر ته اهمیت نه ورکوي بلکه دمسلمان قتل ته اهمیت ورکوي په دې وجه هغوی دشبې په حالت کې دقتل په حق کې دارتداد حکم نه کوي او په حق دبیتونت دښځې کې دارتداد حکم کوي او په هغې باندې بیتونت مرتب کوي بله ډله داحتیاط کوونکو فقهاؤ ده کوم چه نفس حکم دارتداد ته هم اهمیت ورکوي او هغه لره دحدونو او قصاص نه کم نه ګرځوي داسې خلق دلرغوندې شبې په موجودګي کې هم دردت حکم نه کوي او کوم ځای چه لږه غوندې شبه هم راشي هلته نه دقتل حکم کوي او نه دبیتونت په دې وجه درمختار کې راځي، الکفر لغة الستر وشرعاً تکذیبه ﷺ فی شیء مماجاء من الدین ضرورة اتفق تعرف فی الفتاویٰ بل افردت بالتالیف مع انه لایفتی بالکفربشیء منها الافیما اتفق المشائخ علیه کماسیجیء قال فی الحبر وقدالزمت نفسی ان لاافتی بشیء منهاانتهیٰ، او ردالمختار کې راځي. سبب ذلك ماذکره قبله بقوله وفی جامع الفصولین روی الطحاوی عن اصحابنالایخرج من الرجل من الایمان الاحجودمادخله فیه ثم مایتقن انه ردة یحکم بهاومایشك انه ردة لایحکم بهااذالاسلام الثابت ولایزول بالشك مع انه الاسلام یعلوو ینبغی للعالم اذارفع الیه هذا ان لایبادربتکفیراهل الاسلام مع انه یقضی بصحة اسلام المکره اقول قد قدمت هذالیصیرمیزاناً فیمانقلته فی هذا الفصل من المسائل فانه قدذکرفی بعضهاانه کفرمع انه لایکفرعلیٰ قیاس هذه المقدمة فلیتامل انتهیٰ مافی جامع الفصولین وفی الفتاویٰ الصغریٰ الکفرشیء عظیم فلااجعل المومن کافراً امتی وجدت انه لایکفرانتهیٰ، وفی الخلاصة وغیرهااذکان فی المسالة وجوه توجب التکفیروو جه واحد التکفیروو جه واحدیمنعه فعلیٰ المفتی ان یمیل الی الوجه الذی یمنع التکفیرتحسیناً للظن بالمسلم زادفی البزازیة الااذاصرح بارادة موجب الکفر فلاینفعه التاویل حینئذوفی التارخانیة لایکفربالمحتمل لان الکفرنهایة فی العقوبة فیستدعی نهایة فی الجنایة ومع الاحتمال لانهایة انتهیٰ، والذی تحررلایفتیٰ بکفرمسلم امکن حمل کلامه علی محمل حسن اوکان فی کفره اختلاف ولوروایة ضعیفة هذا اکثرالفاظالتکفیرالمذکورة لایفتی بالتکفیرفیهاوقد الزمت نفسی ان لاافتی بشیء منها انتهیٰ کلام البحرباختصارانتهی کلام (ردالمحتار) دې روایتونو نه صفا معلومیږي چه فقهاؤ نفس تکفیر مهتم بالشان ګڼي او دهغوی داحتیاط منشا حرف تباعدعن قتل المسلم نه دې بلکه دهغوی

منشاء په خپله اهمیت دتکفیردی اودهغی لازمی نتیجه داده چه محل دشبی باندی نه تکفیرمن حیث استحقاق القتل کولی شی اونه من حیث بطلان النکاح ځکه که چرته تکفیرمن حیث البینونت حکم وکړیشونوپه دی کې به صرف دقتل نه اجتناب وی دنفس تکفیرنه به نه وی حالانکه فقهاؤدنفس تکفیرنه احتیاط کوی بل داچه دغه وخت دفقهاؤ محتاطین فی التکفیراومشددینوپه مسلک کې هیڅ فرق به نه وی ځکه چه په قتل دمسلمان کې خومشددین هم خامخا احتیاط نه کاراخلی اوپه محل دشبی کې به دقتل حکم نه کوی نوبیادواړومسلکونوکې فرق څه شودی نه معلومه شوه چه دفقهاؤ محتاطین فی التکفیرمطلب هم دغه دی چه محل دشبی باندی به نه تکفیرمن حیث القتل کولی شی اونه من حیث النکاح. کیدی شی چاته ددی په منلوکې په دی وجه سوچ کول وی چه دعلامه شامی په دیکې ترددی په دی وجه مونږدی مضمون باندی نورهم بحث کوواوایوچه صاحب درمختارلیکلی دی لایفتی بکفرمسلم امکن حمل کلام علی محمل حسن الخ اوبیان ودفقهاؤمحتاطینودمسلك. دی باندی علامه شامی دالاندی بیان کړی دی: قوله لایفتی بکفرمسلم امکن حمل کلامه علی محمل حسن الخ ظاهره انه لا یفتی به من حیث استحقاقه للقتل ولامن حیث الحکم ببینونة زوجته وقدیقال المراد،فقط لان تاویل کلامه للتباعد عن قتل المسلم بان یکون قصد ذلك التاویل وهذا لاینافی معاملته بظاهر کلامه فیما هوحق العبدوهوطلاق الزوجة وملکهالنفسهابدلیل ماصرحوابه من انه اراد ان یتکلم بکلمته مباحة فجری علی لسانه کلمة الکفر خطاءً بلاقصدلایصدقه القاضی وان کان لایکفرفیمابینه وبین ربه تعالیٰ فتامل ذلك وحرره نقلاقانی لم اراالتصریح به نعم سیذکرالشارح ان مایکون کفراً اتفاقاً یبطل العمل والنکاح ومافیه خلاف یومربالاستغفاروالتوبة وتجدیدالنکاح اه وظاهره انه امراحتیاطاً الیٰ اخر ماقال رحمه الله، حاصل ددی عبارت دادی چه قوله لایفتی بکفرمسلم الخ ظاهری مطلب خودغه دی چه نه په داسی موقع کې من حیث استحقاق القتل حکم کیدی شی اونه من حیث البینونت. خوداسی هم وئیلی کیدی شی چه ددوی مرادصرف دتکفیرمن حیث القتل ممانعت دی اودتکفیرمن حیث البینونت ممانعت مقصودنه دی اودهغی وجه داده چه دقائل دکلام د تاویل منشاء دهغی دقتل نه خان بچ کول دی اوداحکم بالبینونت منافی نه دی په دی وجه بینونت باره کې دهغی تاویل نه شی کولی اودلیل دهغی دادی چه فقهاؤتصریح کړیده چه که چرته

یوسړی کلمه مباحه وئیل غواړی اوبغیردقصدنه دهغه دژبی کلمه دکفروزی نوفیمابینه بین الله نه کافرکیږی خوکه چرته دقاضی په مخکې هغه داغذروکړی چه داکلمه بغیردقصدنه اوخطاءً زمادژبی نه وتلی وه نوقاضی به دانه منی اوبینونت حکم به کوی دی نه وروستوعلامه په فتاحل الخ کې دی طرفته اشاره فرمائیلی ده چه دمحتاطین فقهاؤدکلام مذکورفی المتن دادوه محمله کیدیشی. تاسوپه دیکې غوروکړی. ماته دهغه په کلام کې څه محمل واضح نه دی ملاوشوی. اودهغه دنوروتصریحاتونه پته لګی چه دهغه مرادهم دغه دی چه داسی موقع باندی به نه ده من حیث القتل فتوی ورکولی کیدیشی اونه من حیث البینونت دغه وجه شارح وونیل چه کوم کفراتفاقی وی هغه سره عمل اونکاح باطلیږی. اوپه کوم کې چه اختلاف وی په هغی کې به دتوبی استغفاراودنکاح تازه کولوحکم کولی شی ددی نه معلومیږی چه کفراختلافی کې به دبطلان دنکاح حکم نه شی کیدی. بلکه احتیاطا به دنکاح تازه کولواودتوبی استغفارحکم کولی شی. الی اخرماقال. دی نه معلومیږی چه دی مقام کې شامی ته شرح صدرنه دی شوی اوهغه څه محمل متعین نه کړی شو. اوهغه څه محمل متعین نه کړی شواوس مونږهغه وجه دترددختمودی د پاره چه رومبی محمل کوم چه علامه موصوف دهغه دمحمل ظاهراوتصریحاتوسره مویّدفرمایې متعین شی اوپه هغی کې څه سوچ پاتی نه شی بس مونږوایوچه دمحتاطین فقهاؤداحتیاط منشاء صرف دانه ده چه مسلمان ددی قتل نه بچ کړیشی. بلکه دهغه اصل منشاء داده چه هغه دااصل کفرنه بچ کړی شی ځکه چه کفریوداسی جرم دی چه ددی نه بل لوئ جرم نشته کمافی التتارخانیه الکفرنهایة فی العقوبة فیستدعی نهایة فی الجنایة الی غیر ذالك. بس څوپوری چه واقع کې دبچ کولوطرف وی هغه وخت پوری دیومسلمان ددومره لوی جرم مرتکب ګرځول جائزنه دی بیاخصوصاداسی حالت کې چه مکفرمسلمان دپاره حدیث کې دومره سخت وعیدراغلی دی چه که چرته په هغه کې تاویل ونه کړی نوپه خپله مکفربه کافرشی. اودی بنیادباندی هغوی په تکفیرکې احتیاط فرمائیلی دی مجمله دنورودلیلونونه یودلیل دنفس تکفیرقطع نظرعن استحقاق القتل دواجب الاختیار کیدوداهم دی چه که چرته تکفیرکې احتیاط صرف دتباعدعن القتل دوجه نه وی نونن صبابه په څه خاص واقع کې احتیاط فی التکفیرلازم نه راتلی ځکه چه دی زمانه کې دقتل ویره نشته. حالانکه ددی هیڅوك هم قائل نه شی کیدی. بس معلومه شوه چه نفس تکفیرپه خپله قابل داحتیاط دی اوهرکله چه دنفس تکفیرنه

احتیاط وکړیشو نو دحکم بالبینونت نه اجتناب لازم شو ځکه چه بینونت متکلم فیها اثر دی دکفر هرکله چه کفر ثابت شي بینونت به ثابتیږي. بس بینونت ثابتول نفس کفر لره به ثابتول راځي او داو تیل به کافي نه وي چه مونږ ده ته کافر وایو یا کافر نه ګڼو بس حکم بالبینونت احتیاط فی التکفیر سره به نه شي جمع کیدی لهذا دفقهاؤ په کلام کې هغه محمل نه شي کیدی کوم چه عبارت مذکوره کې معترض ګرځولی دی پاتې شو دمعترض هذا الاینافی معاملة بظاهر کلامه وتیل نو که ددی چرته دا مطلب دی چه مونږ ده دکلام نه کفر نه ثابتوو او بینونت ثابتوو نو ددی بی معنی کیدل ظاهر دی ځکه چه ددی کلام اثر بالذات بینونت نه دی بلکه کفر دی. دی نه اولاً کفر ثابتیږي ،بیا کفر سره لزوماً بینونت ثابتیږي ،بس ددې نه کفر نه ثابتول او بینونت ثابتول څه معنی لري- او که چرته دا مطلب دي چه مونږ دي نه ابتداءً کفر ثابتوؤ ،او بیا دهغې نه بینونت ثابتوؤ نو بیا احتیاط چرته لاړو- بس خلاصه دغه شوه چه بینونت اثر دي دارتداد- که چرته بینونت دي ثابت کړو نو دارتداد ثابتول لازم شول او احتیاط ختم شو او که چرته احتیاط په کار کې راولی نو دبینونت حکم نه شي کیدی. او فقهاء داحتیاط نه کار اخلی نو عدم حکم بینونت لازم دي پاتې شو دمعترض په عبارت مذکوره کې استدلال په روایت دلا یصدقه القاضی – حاصل یې دادي چه داخو دمسلمانو نه ده چه قول مثلاً الفاظ خاصه او فعل مثلاً تکلم بالعمد بالخطاء ددواړو حکم یو شان دي پس که چرته قول محتمل الوجوه قابل دتاویل وي نو فعل محتمل الوجوه به هم قابل دتاویل وي- حالانکه خاطی دخپل فعل تاویل محتمل بیانوي خو فقهاء وائي چه دښځی دبینونت باره کې به قاضی دا نه منی او هرکله چه تاویل دفعل به نه منی نو لازم دي چه تاویل دقول به هم نه منی ځکه چه ددواړو حکم یو شان دي بس ثابته شوه چه دفقهاؤ دقول مطلب هم دغه دي چه په باره داستحقاق قتل به قول او فعل دمسلمان په ښه محمل به باندي حمل کولی شی او په باره دبینونت به تاویل نه شي کیدئ انتهی حاصل استدلال – اوس ددي جواب دادي چه دا استدلال هغه وخت صحیح کیدیشی چه کله دا ثابت کړیشي چه دا دهغه فقهاؤ قول دي کوم چه په تکفیر کې دومره احتیاط کوي چه لا یکفر بالمحتمل وائي او ځو پوري چه دا ثابت نه وي هغه وخته پوري دي نه استدلال صحیح نه دي او مونږ ته ددلیلو نو نه دغه ثابتیږي چه دا جزئیه مصرحه دمحتاطین فقهاؤ نه ده بلکه دهغوي مصرح ده کوم چه تکفیر کې تشدد کوي- نو دهغوي قول سره دمحتاطین فقهاؤ دقول معنی نه شي متعین کیدی- او یوه قرینه ددي

داهم ده چه دمحتاطین فقهاؤ بعض جزئیات کوم چه مونږ د شامی نه نقل کړیدي ددي خلاف دي- **الحاصل** دي برنی بیان نه معلومه شوه چه دمحتاطین فقهاؤ مسلك هم دغه دي چه که دیو مسلمان په قول یا فعل څه داسی پهلووي چه ده لره دکفر نه بچ کولی شی نو ده لره به نه من حیث استحقاق القتل کافر ونیلی شی او نه من حیث بطلان النکاح- او هرکله چه هغه سړي په خپل قول یا فعل کې څه داسی احتمال بیان کړي نو هغه به قبلولی شی اګرکه خلاف ظاهر ولی نه وي بس که چرته قاضی دفقهاؤ ددي ډلی نه دي نو بیا خو ظاهره ده چه ده لره دصاحب واقعی دمعقول عذر او داحتمال رد کولو هیڅ حق نشته او که چرته قاضی دفقهاؤ دهغه ډلی نه دي کوم چه معاملی دردت ته اهمیت نه ورکوي نو صرف دي شق باندي داخبره قابل تحقیق پاتی شوه چه آیا دي به عذر قبلوي یا به یې رد کوي او ده ته څه کول پکار دي دهغې تفصیل دادي. قاضی خان دویم جلد ۲۴۳ صفحه کې راځي – قال فی السیر الکبیر اذا اختلف الزوجان فقال الرجل قلت المسیح ابن الله فی قول النصاری وقالت المرأة لم تقل قول النصاریٰ کان القول قول الزوج مع یمینه فان جاءت المرأة بشهود فقالوا سمعنا یقول المسیح ابن الله ولم یقل شیئاً اٰخر وقال الزوج قلت قول النصاریٰ الا انهم لم یسمعوا فان القاضی یجیز شهادتهم ویفرق بینه وبین المرأة وان قال الشهود لا تدری قال ذلك ام لا، الا انا لم نسمع منه شیئاً غیر قوله المسیح ابن الله لا یقبل القاضی شهادتهم حتی یشهدوا انه لم یقل معها غیرها وجعلوا دعوی الاستثناء فی الطلاق کذلك اه- دي نه معلومه شوه چه کله دخاوند او دښځی په تحقق دردت کې اختلاف وي او خاوند کلمه دکفر صادریدل او منی خو هغې سره هغه ددي کلمه په موجب دکفر کیدو انکار و کړي نو بار د ثابتولو دښځی په ذمه دي او که چرته ښځه ددي کلمی صدور په شهادت سره هم ثابت کړي خو ګواهان دخاوند دعذر په انتفاء باندي ګواهی ورنه کړي بیا به هم قاضی دښځی دعوی خارجوي او دخاوند عذر به منی نو اوس دي واقعی کې هرکله چه ظاهر ښځه اختلاف کوونکی هم نه ده او که چرته وي هم خو هغې کلماتو دکفر صدور ده په شهادت سره ثابت نه کړل بلکه دهغې صدور صرف دخاوند په اقرار سره ثابت دي او که چرته ښځه یې په شهادت سره هم ثابت کړي خو خاوند یو داسی عذر یعنی عدم دقصد او داختیار بیانوي کوم سره چه دا معلوم کلمات موجب دکفر نه پاتی کیږي او ښځه دهغې انتفاء په شهادت هم نه شی ثابتولی- نو بیا دقاضی دهغه عذر کوم دلیل سره رد کوي او کله چه قاضی دي روایت قاضی خان کې دخاوند نه ګواه هم نه غواړي حالانکه دهغه عذر په وجه ددي چه قابل داوریدو دي- یو داسی امر دي په هغې

باندي شهادت اوريدی شي. نو بيا د صاحب واقعی داسی عذر به چه په هغی کې شهادت هم نه شي غوختلی کيدی، څه رنګه به رد کوي بس ثابته شوه چه کوم قاضی د فقهاؤ د دي ډلی نه وه کوم چه معاملی دردت لره اهميت نه ورکوي هغه ته هم ګنجائش نشته چه هغه د دهٔ عذر قبول نه کړي ځکه چه دده ارتداد د پاره ماسيوا د دهٔ د بيان نه بل څه دليل نشته. او هغه د خپل ارتداد نه صراحتاً اقرار کوي او نه دلالةً ځکه چه هغه د صدور يا الاضطرار اقرار کوي او دا اقرار نه صراحتاً اقرار د کفر دي او نه دلالةً. خو که چرته څوك دا اووائی چه د روايت لايصدقه القاضی نه معلوميږي چه قاضی به د صاحب واقعی عذر قبلوي نو د هغی جواب دادي چه دي روايت نه دا نه ثابتيږي ځکه چه د دي معنی داده چه قاضی به د خاطی تر هغه وخته پوري تصديق نه کوي هر کله چه هغه دي لره اهتمام کوونکی ګنړي اودي واقعی کې صاحب واقعی لره اهتمام کوونکي ګنړلو هيڅ وجه نشته لهذا قاضی د دهٔ عذر نه شی رد کولی. او س مونږ دا ثابتوؤ چه روايت لايصدقه القاضی مطلق نه دي بلکه مقيد په شرط اهتمام دي په دي وجه واقعی دردت هم مقيد په شرط د اهتمام شوه تفصيل د هغی دادي چه قاضی خان کې راځی. لوقال الزوج طلقتك امس وقلت انشاء الله فی ظاهر الرواية يكون القول قول الزوج وذكر فی النوادر خلافاً بين ابي يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله فقال على قول ابي يوسف يقبل قول الزوج ولايقع الطلاق وعلى قول محمد يقع الطلاق ولايقبل قوله وعليه الاعتماد والفتوىٰ احتياطاً الامر الرفع فی زمان غلب فساد الناس. انتهىٰ جلد ثانی ص ۲۴۳. دي نه معلوميږي چه که چرته خاوند د طلاق اقرار وکړي او هغی سره دا هم اووايي چه ما انشاء الله وئيلی وه نو اصل مذهب خو دغه دي چه دي صورت کې به د خاوند قول قبليږي خو د نوادر نه معلوميږي چه امام محمد رحمه الله دي مسئله کې امام ابو يوسف رحمه الله سره اختلاف کړيدي او دايي وئيلی دي چه د خاوند قول به بغير د شهادت نه نه قبليږي بس چونکه روايت د نوادر دي په دي وجه د ظاهر روايت په مقابله کې متروك کيدل پکار دي. خو هر کله چه فقهاؤ د زمانی رنګ بدليدونکی وليدو او پوه شول چه بی دينی خوره شويده دي امر کې د ډير احتياط ضرورت دي دي باندي غالباً بعض فقهاؤ دردت واقع قياس کړيده او هغوي په ديکې هم لايصدق القاضی وئيلی دي. او س دا کتل دي چه کوم فقهاؤ د نوادر په روايت باندي فتوىٰ ورکوي د هغوي څهٔ مطلب دي. بس د هغوي مطلب هم دغه دي. هر کله په ظاهر حال باندي نظر کولو سره خاوند په خپل بيان کې اهتمام کوونکی معلوميده هغه وخت به د هغه قول بغير د ګواه نه نه شی قبليدي

او که چرته د ظاهر حال په بنياد باندي اهتمام کوونکی نه معلوميده هغه وخت به د هغه قول اصلی مذهب په بنياد باندي قبلولی شی - ځکه چه هغه خلق د خاوند د قول د رد کولو بنياد خلاف د ظاهر حال او د زمانی فساد بنائی - بس که چرته ظاهر حال مخالف نه وه نو هغه وخت به اصل مذهب نه شی پريخودلی کيدی، ځکه چه عدول عن اصل المذهب د ضرورت د بنياد وه - والضرور يا تتقدر بقدر الضرورة - بس هر کله چه مقيس عليه په حقيقت کې مقيد دي نو مقيس به خامخا مقيد ګرځی - او معنی به دا شی چه لايصدقه اذا اتهمه خو چونکه دي واقعه کې صاحب واقع مهتمنه دي ځکه چه د اتهام څه معقول وجه نشته په دي وجه د دي جزئی دي واقع سره هيڅ تعلق نشته او هغه روايت به رسير کبير په مقابله کې نه شی پيش کيدی دا بيان په هغه وخت کې دي چه هر کله دا اومنلی شی چه دردت واقع په طلاق باندي قياس کول صحيح دي خو مونږ وايو چه دردت په طلاق باندي قياس د سرنه صحيح نه دي او هر کله چه د سرنه قياس صحيح نه دي کوم چه بنياد وه د دي جزئی نو په خپله دا جزئيه هم نه صحيح نه شوه او هر کله چه جزئيه صحيح نه شوه نو دي سره معارضه هم نه شی کيدي او س د قياس د نه صحيح کيدو وجه وا اورئ د دي وجی ډيري دي ور و مبی دا چه الفاظ د طلاق موضوع دي بينونت د پاره په خلاف د الفاظو د کفر - قال الدر المختار ولا ردة بلسانه وقلبه مطمئن بالايمان فلاتبين زوجته لانه لايكفر به والقول له استحساناً وفی ردالمحتار والقياس ان يكون القول قولها حتی يفرق بينهما لان كلمة الكفر سبب لحصول الفرقة فيستوی فيه الطائع والمكره كلفظة الطلاق ووجه الاستحسان ان هذا اللفظة غير موضوعة للفرقة وانما تقع الفرقة باعتبار تغير الاعتقاد والاكراه دليل على عدم تغيره فلاتقع الفرقة ولهذا لايحكم عليه بالكفراه دي نه ثابته شوه چه د طلاق تعلق نفس الفاظو سره دي اعتقاد سره نه دي او د کفر تعلق د قصد او اعتقاد سره دي نفس الفاظو سره نه دي بس هر کله چه خاوند د طلاق د الفاظو د وئيلو اقرار کوي، خو د هغی په بنياد باندي تفريق او نه کړائ شو بلکه کفر چه د کوم شی نه ثابتولی شی يعنی قصد - خاوند په خپله د هغی اقرار کوي خو هغی سره ديوي واقع هم دعوای خو هغی سره دا هم وائي چه ما انشاء الله وئيلی وه - نو هغه دي وخت کې په ظاهره مدعی دي او په حقيقت کې منکر په ظاهره مدعی ځکه دي چه دده د تکلم بطلاق اقرار کول اقرار دي په واقع کيدو د طلاق او په زوال د ملك نکاح. بس هر کله چه هغه دا وائی چه ما انشاء الله وئيلی وه نو او س هغه د دي اقرار موجب لره باطلوي او دغه شان هغه ګويا چه مستقلاً په ښخه باندي د وجود د ملك دعوی

کوي- بس هر کله چه ښځه کوي، بس خاوند باندي لازم دي چه هغه خپله دعوی بینه سره ثابته کړي - او ښځی دپاره انکار کافی دي- او په حقیقت کښ منکر خکه دي چه هر کله هغه داوائی چه ماطلقت سره انشاء الله هم وئیلی وه نو ددي حاصل دادي چه ماددي طلقت تکلم کړیدي کوم چه مقید وه په انشاء الله سره زما ملك نه دي ختم شوي- ددي مقابله کښ دښځی داوینا چه تاانشاء الله نه وه وئیلی – ددي مطلب دا شو چه تا د طلقت تکم کړي وه کوم چه مزیل دملك وه- ستا ملك ختم شواوس دي وخت کښ ښځه دملك دزوال دعوی کوي- او خاوند انکار کوي- لهذا بار دثبوت دښځی په ذمه دي – او خاوند دپاره انکار کافی دي- ظاهر روایت کښ په حقیقت نظروکړائ شی او وئیلی شویدي چه کله خاوند دا ستثناء دعوی وکړي او ښځه هغی لره ونه منی نو بار دثبوت دښځی په ذمه دي او نوادر روایت کښ دفرج داحتیاط او دفساد دزمانی دضرورت دوجه نه په ظاهر باندي نظر کړي شویدي- او وئیلی شویدي چه بینه دخاوند په ذمه ده او هر کله چه خاوند دتکلم بکلمة الکفر اقرار کوي او دي سره هغه دیو داسی امر هم دعوی کوي کوم چه مانع دکفر ده نو دي وخت کښ هغه صرف منکر دي او هیڅ حیثیت سره هم مدعی نه دي خکه چه دکوم امر هغه اقرار کړیدي یعنی نفس تکلم هغه بنفسه موجب دکفر نه دي بلکه موجب دکفر هغه قصد دي- کوم چه کلمه دکفر سره متعلق وي او قصد نه هغه حقیقةً اقرار کوي او نه ظاهراً بس هغه هیڅ حیثیت سره هم مدعی نه دي دي حالت کښ دښځی دهغه عذر نه قبلول او دارتداد ملك دعوی کول به یو داسی دعوی شی کوم چه خاوند نه صراحةً منی دلالةً – لهذا بار دثبوت به سراسر دښځی په ذمه وي – او خاوند دپاره انکار کافی دي فافترقاً بس ردت په طلاق باندي قیاس کول صحیح نه شول او که چرته بعضو احکاماتو کښ طلاق په ردت باندي قیاس کړي لکه څنګه چه فقهاؤ دتنازع زوجین فی انه قال فی قول النصاری ام لا باندي دعوی استثناء دقیاس کړیده کما یظهر من روایة قاضی خان السابعة. نو دا قیاس قیاس اولویت دي او دا مقبول دي خکه چه کله په طلاق کښ خاوند یو طرف نه مقر بالبینونت دي کما مر- په دي وجه دهغه قول بغیر دبینی مقبول ګرځیدلی شی نو ردت کښ کوم ځاي چه هغه د طرفنه هم دبینونت اقرار نه کوي دهغه قول بالاولی مقبول دي- زمونږ ددي بیان تائید ددي نه هم کیږي چه امام محمد ﷺ خو واقع دطلاق کښ اختلاف او فرمائیلو او په خاوند یې بینه لازم کړه خو واقع دردت کښ یې په خاوند بینه لازم نه کړه بلکه صرف دښځی نه ګواهی اوغوخته او وي وئیل چه که چرته ښځه شهادت او نه دوړولی شی

نو دعوی به خارج کړلی شی سرسري نظر سره کیدیشی چاته په دي بیان شبه وي چه سیر کبیر کښ راځی چه که چرته ښځه شهادت سره ثابت کړي چه خاوند فی قو النصاری نه دي وئیلی نو جدائی به رواستلی شی حالانکه دي شهادت سره صرف تکلم بالکفر ثابت شو او صرف دتکلم ثابتیدلو سره دکفر ثبوت نه راځی لکه څنګه چه تا بره وئیلی دي بس شهادت سره کفر ثابت نه شو. نو دي شهادت په بنیاد به ولی تفریق رواستلی شی ددي جواب دادي چه دي واقعه کښ کوي یعنی حکایت عن النصاری او دا امر متعلق دشهادت کیدیشی او هر کله چه ښځی ددي واقعی .....شهادت سره ثابته کړه- او دتکلم بکلمة الکفر قصد په خپله دخاوند اقرار سره ثابت وه. دي شان سره کفر ثابت شو لهذا قاضی دپاره دتفریق حکم لازم شو دویم وجه دعدم صحت قیاس داده چه واقع دطلاق کښ دظاهر روایت خلاف دامام محمد ﷺ روایت موجود وه فقهاؤ دضرورت دوجه نه هغه اختیار کړو- او واقع دطلاق کښ دظاهر روایت خلاف زمونږ په علمکښ داصحاب مذهب هیڅ روایت نشته چه په هغی باندي مصرحین دلا یصدقه القاضی اعتماد وکړیشی بس دهغوي واقع ردت په واقع دطلاق باندي قیاس کول صحیح نه شول دریمه وجه ددي عدم صحت داده چه واقع دطلاق کښ امر دفرج اهم وه او دهغی څه معارض موجود نه وه. لهذا هغوي په ابتدائي روایت دنوادر باندي اعتماد وکړو او ظاهر روایت یې پریخودو خو واقع دردت کښ امر دایمان خود امر دفرج نه هم اهم دي په دي وجه دا په معاملی دفرج باندي نشی قیاس کیدلی خکه چه که چرته هلته فرج قابل دحفاظت دی نو واقع دردت کښ ایمان دهغی نه هم زیات قابل دحفاظت دی او هلته که چرته په حفاظت دفرج کښ احتیاط دي نو دلته په حفاظت دایمان کښ احتیاط دي په دي وجه هم واقع دردت په واقع دطلاق باندي نشی قیاس کیدی. دا بیان خو هغه وخت کښ دی چه هر کله د روایت لا یصدقه القاضی مبنی قیاس بر طلاق دی. لکه څنګه چه دقرائنو نه معلومیږي خو که چرته دهغی مبنی څه بل څه وي نو دهغه بیا بیان دادي چه دغه وخت یا مطلق دی یا مقید بشرط اتهام بس که چرته مقید دی نو واقع سره متعلق نه دی او که چرته مطلق دی نو دهغی جواب دادی چه هغه دروایت دسیر کبیر معارضه او مقابله کولی شی- خکه چه روایت سیر کبیر ظاالروایت او اصل مذهب دی او دهغی بنیاد معلوم نه دی. خلاصه دکلام داده چه ددي روایت لا یصدقه القاضی مبنی دغالب ګمان په بنیاد سره یو قیاس غیر صحیحه ،دی لهذا جزئیه قابل اعتماد نه شی کیدلی. او دي بیناد باندي اصل مذهب یعنی روایت

سیر کبیر نه شی پریخودلی کیدی- او که چرته داذکرشوي روایت پریږدي هم اودی جزئیه باندي اعتمادهم وکړي بیاهم دي واقع کې دی سره زمونږ مقصود ته څه تکلیف نه رسی ځکه چه دهغی حاصل دادی چه کوم وخت قاضی خاطی لره متهم وګنړي لکه څنګه چه بره ص ۴۰۸ کې بقولنا اوس کتل دادی الخ بیان کړي شویدی. دغه وخت به دهغه تصدیق نه کوي اودي واقع کې دصاحب واقع مهتم ګنړلو هیڅ وجه څه معقولی نشته اوتش احتمالات ناشی عن غیردلیل وجه داتهام نه شی کیدای. حاصل دکلام دادی چه روایت لایصدقه القاضی دسیر کبیرپه معارضه کې هغه وخت پیش کیدیشی چه کله دامعلومه وی چه ددي مبنی قیاس برطلاق نه دی بلکه دروایت سیر کبیرخلاف دمذهب والوکې نه دچاروایت دی. بیادامعلومه وی چه دی روایت مخالفه باندي اعتماددی بیادامعلوم وی دامقیدبشرط اتهام نه دی بلکه مطلق دی اوځوپوری چه داامورمعلوم شوی نه وی هغه وخته پوری داروایت دسیر کبیر په مقابله کې نه شی پیش کیدی. اودا امورتراوسه پوری نه دی معلوم شوي لهذادی روایت سره معارضه نه شی کیدی.- نه قبلول دقاضی دعذردصاحب واقع بیان خوختم شوه چه نه قاضی محتاط ته ددهٔ دعذرنه قبلولو ګنجائش شته اونه قاضی مشددته. اوس مونږ ګوروچه ښځې ته هم حق نشته چه هغی دده عذرقبول نه کړي ځکه چه ښځې سره ددي دانتفاء هیڅ ثبوت نشته یعنی نه هغی سره ددی دانتفا، څه شهادت شته اونه ذاتی طورباندی هغی ته ددی انتفاء معلومه ده، اونه خاوندپه څه درجه کې دهغی دانتفاء اقرارکوي بس داپه زبردستی سره په هغه باندي دردت الزام څنګه لګولی شی ،بس حاصل دکلام دادی چه دي واقع کې عذرعدم اختیارعند القاضی هم مقبول دی اوعند الزوجه هم بس هیچاته ګنجائش نشته چه هغوي په ده باندي دردت الزام قائم کړي. اوددهٔ ښځې ته باته دي تحقیق نه وروستومونږهغه شهادت په تفصیل سره نقل کوؤ اودهغی حقیقت ښکاره کوؤ کوم چه دی واقع کې کیدلی شی- **[دوهمه شبه]** مونږنه منوهغه غیرمختاروه ځکه په دهغی ژبی باندي قابونه وه نوسکوت (چپ والی) یې خواختیارکې وه- انتهی -ددی جواب دادی چه دي سره دهغه قصد په تکلم دکلمة الکفرنه ثابتیږي کوم چه رکن دردت دی زیات نه زیات دالازم راځی هغه داحتیاط نه کاروانخستوبس که چرته څوك داحتیاط نه کاروانخلی اودبې احتیاطی په وجه بغیرد قصدنه دهغه نه کلمه دکفرصادره شی نوهغه ته به دانشی وئیلی چه هغی په قصداواختیارسره کلمی دکفرباندي تکلم وکړولکه نشه بازدنشی

نه مخکې داپیژنی چه دنشی نه وروستوبه زماژبه زماپه قابوکې نه وي. اوکیدیشی کیدیشی چه داسی حالت کې زمادژبی نه کلمه دکفراوزی اوس که چرته په حالت دنشه کې دهغه دژبی نه کلمه دکفراووته نودهغه په نسبت داوئیلی شی چه هغه قصداً کلمه کفرژبی نه اوویسته ځکه چه که چرته دده په ژبه قابونه وه نودنشی په پریخودوخونی قابووه بیاده ولی دانه پریخودل- هرکله چه نشه بازباره کې داسی نه شی وئیلی کیدي اګرچه ده ددي نشی ارتکاب کړي وي دکوم چه شریعت هم منع کړیده نودصاحب واقع باره کې څنګه داسی وئیلی کیدیشی چه ده داتکلم ولی نه پریخودوحالانکه صاحب واقع په څووجوسره دنشه بازنه هم زیات معذوردي (۱) ځکه چه نشه بازپه قصدسره دداسی شی ارتکاب کوي کوم چه سبب دي داختیاردزائل کیدواودصاحب واقع قصداواختیارلره په سبب دمزیل داختیارکې هیڅ دخل نه وه (۲) دویم ځکه چه نشه بازچه دکوم امرارتکاب کوي هغی دپاره زوال داختیارلازم دي یعنی څکل دنشی اوصاحب واقع چه دڅه قصدکوی هغی دپاره زوال داختیارلازم نه دی یعنی تکلم په کلمه صحیحه (وبین الوجهین فرق فلینبه) (۳) دریم ځکه چه نشه بازدنشی کولوپه وخت داخیال نه کوي چه دده دخولی نه به څه اوزی اوصاحب واقعی دتکلم په وخت کې حتی الوسع ددي اهتمام کولوچه زمادخولی نه صحیح کلمه اوزی اوغلطه اونه اوزی بس هرکله چه سره ددي وجودفرق نشه بازته دنشی په بیناد مختار نه شی وئیلی کیدی. نوصاحب واقع ته دسکوت پریخودوپه بیناد باندی څنګه مختاروئیلی کیدیشی پاتی شوه داخبره چه ده سکوت ونه کړونودهغی وجه داوه چه هغه کوم وخت دتکلم قصد کولوهغه وخت وه داګنړل چه زه به صحیح تکلم وکړائ شم خودکلماتودصدورپه وخت کې په هغه باندي سبب دمزیل اختیارطاری کیدواوهغه نه غلطی کیده پاتی شوه داخبره چه هرکله هغه یودوه ځله ازمینبت کړی وه بیاهغه ته داشبه ولی ونه شو چه کیدیشی مانه بیاغلطی وشی نودهغی مقتضاخودادہ چه هغه بی چاره همیشه دپاره غلی شی ځکه چه داخطره هغه ته دخپل تکلم په وخت کې کیدییشی. خلاصه داده چه دامحض احتمالات عقلیه دي اودردت اثبات دپاره احتمالات عقلیه نه شی کافی کیدی، اوکوم حالت چه په هغه جاری شوي وه دهغی اندازه بل چاته نه شی کیدی، اوهغه نه شی معلومولی چه داعی الی التکلم څه شی وه.بلکه هغه په خپله هغی لره معلومولی شی **[دوهمه شبه]** مونږنه منوچه هغه ته اختیارنه وه ځکه چه هلته څه سبب مزیل داختیارنه وه ددی جواب دادي چه اخرددي دعوی دلیل څه دي دي باندي

ونیلی کیدیشی چه که چرته هغه وي نو هغه به یې لیکلی وه حالانکه هغه هیڅ سبب ونه لیکلو ددی جواب دادی چه دهغه نه لیکل خو پریږده په خپله دهغی نه پیژندل هم دهغی دعدم دلیل نه دی ځکه چه ډیر اثار سړی کې دښه داسی پیدا کیږي چه دهغی داسبابو هغه ته علم نه وي **[دوهمه شبه]** که چرته فی الواقع دلته څه سبب وه نو هغه به محبت دزید وي او محبت سړی لره درجه داضطرار او سقوط اختیارپورې نه شی رسولی. ځکه چه که چرته محبت سړي لره درجې داضطرارپورې رسولی نو حدیث کې به داطراء نه ممانعت نه کیدی. ددی جواب وروستبی دادی چه احتمال په سبب دمحبت دزید محض ناشی غیردلیل دی. او دصاحب واقع په کلام کې څه داسی لفظ نشته چه دهغی نه دامعلوم شی بلکه دا احتمال دوووجونه خلاف واقعی دی. وروستبی ځکه چه صاحب واقع واقعات مذکوره فی مکتوبه لره دخپل محبت مبنی نښائی او محبت لره دواقعات مذکورو سبب نه وائی دویم ځکه چه محبت وروستبی بالذات په زړه باندی اثر کوي په ژبه باندې نه – بس که چرته محبت ددي سبب وی نو خیالات او عقیدې باندې ددی اثر غورزیدل پکاروه- محبت سره دژبې بی قابو کیدل او په زړه باندي څه اثر نه کیدل یعنی دعقائیدو دتغیر نه محفوظ پاتی کیدل محض بی معنی دي ثانیاً داوټیل چه محبت سړی لره مرتبه دسقوط اختیارپورې نه رسوي یو داسی دعوی ده چه دانه عاشقان منی او نه طبیبان –

چون بکوشم تا سرش پنهان کنم سربرآرد چون علم کاینك منم
رغم القم گیردم تاگه دوگوش کائ مدمّغ چون همی پوشی بپوش

دارنګه داسی۔

عشق آمد عقل او آواره شد صبح آمد شمع او بیچاره شد
عقل چون شحنه است چون سلطان رسید شحنه بیچاره درکنجی خزید

او طبیبان عشق دلیونتوب یو قسم ګنړی بل داچه دعوی مذکور باندی نهی داطراء سره استدلال نه شی صحیح کیدی. ځکه چه دمحبت په درجو کې فرق دي بعض درجی مزیل داختیار وی او بعض غیرمزیل وی بس ددي مخاطب خاوندان دهوش او داختیار دي نه عشاق مسلوب العقل او مجانین غیرمکلف- [څلورمه شبه] که چرته بالفرض محبت سړی لره حداضطرار او سلب اختیارپوري رسولی شی نو هغه نادر دی او دهغه اسباب عامو نه ته دي دکوم چه فقهاؤ اعتبار کړیدی ددی جواب وروستبی دادی چه مونږه ظاهر کړیدی چه ددي

سبب محبت دزید نه دي بلکه بل څه دی چه هغې لره مونږه نه شو متعین کولی- او نه مونږ په ذمه دهغی تعیین لازم دي مونږته دومره پوه کافی ده چه ددي سبب یو داسی سبب دی کوم چه مزیل داختیار دي بل داچه که چرته بالفرض هم دغه محبت ددي سبب وی نو دی ته نادر وئیل ډیره عجیبه خبره ده او ددي نه زیات دی لره داسباب عامو معتبره عند الفقهاؤ نه خارج ګنړل عجیبه دي ځکه چه اسباب معتبره الفقهاء کې جنون هم داخل دي او عشق دجنون یو قسم دی کماصرح به الاطباء ویعرفه من جربه اوعرف احوال العشاق – **[پنځمه شبه]** که چرته محبت ددی سبب نه وی بلکه بل څه سبب وی نو چونکه هغی یو داسی سبب دی چه دهغی فقهاء اعتبار نه دی کړي په دي وجه دی ته اعتبار نشته – او هغه سلب اختیار کوم چه ددي سبب مذکور نتیجه ده دا به کالعدم ګنړلی شی بس اګرچه صاحب واقعی حقیقةً مختار نه دی خو دده نه به حکماً مختار وئیلی شی- ددی جواب دادی چه دی واقعی کې حکم دعدم ردت منشاء دانه ده چه رکن دردت موندلی کیږی خو دمانع خارجي دوجه نه دهغی حکم نه شی ثابتیدی چه په دی داسوال وکړیشی. چه دامانع فقهاؤ هم مانع ګرځولی دی یا نه- بلکه ددی وجه داده چه دی واقع کې نه قصد دفعل موجب دکفر متحقق دی او نه داعتقاد کوم چه رکن دردت دی. بس دلته درکن دنشتوالی دوجه نه حقیقت دردت هم متحقق نه دی په دی وجه صاحب واقع ته کافر او مرتد نه شی وئیلی مثلاً روایت سیر کبیر منقوله عن قاضی خان کې خاوند کلمه دکفر مسیح ابن عبد الله وئیلی دی – خو هغه داهم وائي چه ما فی قول النصاریٰ هم وئیلی وه نو داعذر به قبلولی شی ددی وجه دانه ده چه هلته څه سبب داسباب عامو لکه لیونتوب نشته مباح یا خوب وغیره نه متحقق دی بلکه دهغی وجه صرف داده چه لته حقیقت دردت یعنی داعتقاد یا قصد دفعل موجب دکفر نه شی موندلی کیدی. مثلاً یو سړي دسکر محرم ارتکاب وکړو او دی حالت کې هغه کلمه دکفر په ژبه او وئیله نو فقهاء وائي چه نه دی مرتد دی او نه یې نکاح ماته ده، حالانکه سکر محرم عذر شرعی نه دی خو چونکه دلته تبدل داعتقاد یا قصد دفعل موجب دکفر نه دی موندلی شوی په دی وجه ده ته مرتد نه شی وئیلی کیدی. په دی وجه کشف الاسرار شرح داصول نبردوی کې راځي، قوله لان السکر جعل عذر اشارة الی الجواب عمایقال عذراً فی غیرها ایضاً فقال عدم صحة الردة الفوات رکنها وهو تبدل الاعتقاد لا لان السکر جعل عذرافیها بخلاف مایبتنیٰ علی العبارة من الاحکام مثل الطلاق والعتاق والعقود لان رکن التصرف قدتحقق فیها من الاهل مضافاً الی المحل فوجب القول

بــــصحتها ، بس دی وخت کې داتپوس صحیح نه دی چه وښائی چه عذردصاحب واقع داعذرمعتبرو عند الفقهاء کوم عذرکې داخل دی داجوابونه خوددی اعتراضونوتفصیل دار وه- اوس مونږیو لنډغندی جواب درکوهغه دادی چه ددیٓ ټولوشبهاتوٓحاصل دادی چه صاحب واقع مجبورنه وه بلکه مختاروه اوددی نتیجه پکارده- چه ددی دیانةً هم مرتدشی اوقضاءً هم- اوپه ده دی دمرتد ټول حکمونه جاری کړی شی ځکه چه ده په حالت دصحت دعقل اوصحیح هوش اوحواس بغیرد جبراوزورنه صرف په خپلی خوشی یوداسی کاروکړوکوم چه موجب دکفروه اوهم داسی سړي ته مرتدحقیقی وئیلی شی بس ده باندی دمرتدحقیقی حکمونه ولی جاری نه کړوحالانکه دواقع که ټول طرفونه مخ ته کیږدی نوهیڅ یومفتی دداسی فتوی جرات نه شی کولی بس لازم ده چه داټول خطرات بی ځایه دی [شبه صحیح ده مونږه منوچه صاحب واقع حقیقت کې مجبوره وه خوقاضی دانه شی منلی ځکه چه کله هلته سبب دمجبوری ظاهرنه دی نوداده بیان دخلاف ظاهر کیدوپه وجه نه شی اوریدلی کیدی ددی جواب ورومبی خودادی چه داوینایوحده پوری هغه وخت صحیح کیدیشی چه کله واقع دصدورد کلماتودقاضی په نزدځه بل دلیل نه ثابت وی- ورمبی هغه اقراردصدورد کلماتووکړی اوبل وخت هغه عذروکړی خودلته نه واقع دځه بل دلیل نه ثابت ده اونه صاحب واقع یووخت اقرارکوی اوبل وخت عذربیانوی بلکه هغه اقراردعذرسره کوی په دی و چه دانشی وئیلی کیدی چه دهغی عذرنامقبول دی- ثانیادی ته خلاف ظاهرصرف دومره خبره باندی نه شی وئیلی کیدی چه ددی سبب ظاهرنه دی بلکه دی دپاره به نورامورهم مخی ته کیخودل راځی – مثلاً داچه داصل واقع ثبوت دهغه په بیان وشویاځه بل ځه دلیل سره که چرته دهغه په بیان وشونوهغه اقراروئی وکړواوپه کومو الفاظوچې اقراروکړواوکوم عذرچه هغه بیانوی اقرارنه ځه ساعت وروستوکوی یااقرارسره یوځایی یاپه خپله هغه اقرارکې هغه عذرموجوددی .اواقرارکوونکی څنګه سړی دی ایادیندارده دی که بی دینه ، چالاك دی که ساده وغیره هرکله چه په دی ټولوطرفونوباندی نظروکړی اوهغی نه وروستوهم هغه متهم معلوم شی هغه وخت وئیلی شی چه ددی تاویل خلاف ظاهردی ثالثاً دابیان چه خلاف ظاهردی آیاداپه طلاق اوخلع وغیره حقوق العبادکې کیږي اوپه ردت کې داتلاش نه شی کیدی .اوګوری واقع سیرکبیرکې سره ددی نه چه ګواه وائې چه مونږواوریدل چه خاوندالمسیح ابن الله ووئیل اوداهم وائی چه مونږفی قول النصاریٰ نه دی اوریدل

حالانکه فی قول النصاریٰ یوه داسی فقره ده چه اوریدلی کیدیشی خوچونکه خاوندوائې چه مادا الفاظ وئیلی وه په دی وجه صرف دی بیان باندی قاضی دښځی بیان خارجوی اودردت یادبینونت حکم نه کوی اودانه وائی چه ، دخاوند بیان خلاف ظاهردی ځکه چه کرموخلقومسیح ابن الله واوریدل – هغوی فی قول النصاریٰ ولی وانه وریدل – بس معلومیږي چه ده الفاظ نه دی وئیلی په حقیقت کې اودی وخت کې چه دادعویٰ کوی چه مادا الفاظ وئیلی وه نودادثبوت دردت اوبینونت نه خان بچ کوی بس ضرورښځی لره دادعویٰ قبلول پکاردی، بس هرکله چه قاضی دی قائل باندی دانه وائی نوهغه بی چاره دصاحب واقع بیان لره څه رنګه خلاف ظاروئیلی شی . [اوومه شبه] فقهاء وائې چه کوم وخت یوسړي یوه مباحه کلمه وئیل غواړي اودهغه دژبی نه کلمه دکفرنه اوزی نوهغه به فیمابینه وبین الله کافرنه وی خوقاضی به ددی تصدیق نه کوی ددی تصریح په بیناد باندی دصاحب واقع تصدیق نه دی کول پکار- ددی جواب اولاً دادی چه داروایت دمحتاطین فقهاؤدمسلك نه خلاف دی کمامر- ثانیاً دسیرکبیرروایت ددی مخالف دی اوداروایت دسیرکبیردروایت معارضه هم نه شی کولی- ددی مقابله کې راجح کیدل خوپریږده – ثانیاً بره معلوم شول چه ددی جزئی مبنی په غالب ګمان یوقیاس وغیره صحیح دی یاکم نه کم ددی مبنی معلومه نه ده- رابعاً فقهاء خوداوائې چه که چرته ځه روایت ضعیف اودغیرمذهب هم ملاؤشی نودمسلمان تکفیراوحکم بالبینونت نه دی کول پکار، کماسبق – خودانه وائې چه که چرته تکفیراوبینونت دپاره ځه ضعیف روایت هم ملاؤشی دکوم مبنی چه معلومه نه وی یادهغی مبنی یوقیاس غیرصحیحه وی بیا هم دهغه تکفیرکول پکاردی اودبینونت حکم کول پکاردی بس ددی وجونه داجزئیه قابل دالتفات نه ده اوکه چرته دا اومنی هم نودهغی معنی داده چه هرکله قاضی خاطی لره متهمٔ وګڼړی هغه وخت به ددی تصدیق نه کوی اودی واقع کې دصاحب واقع داتهام هیڅ ځه معقول وجه نشته اواحتمالات ناشی عن غیردلیل دانه شی متهم کولی بس داجزئیه قابل دالتفات نه ده یادی واقع سره یې تعلق نشته- په دی وجه دادی واقع کې نه شی پیش کیدی. [اتمه شبه] نه که چرته ضابطی سره په ده باندی ایمان اونکاح تازه کول لازم نه دي نوبنابراحتیاط خودافتویٰ ورکولی شی ددی جواب دادی چه احتیاطاً به هم دایمان اودنکاح تازه کولوفتویٰ نه شی ورکولی ځکه چه بیاخوددی فتوی معنی داشوه چه اګرچه ته کافرنه شوی خومونږتاته احتیاطاً کافروایو- لهذا تاسوایمان

اونکاح تازه کړی وهو کماتری- بیامونږداامام محمد ﷺ نه زیات داحتیاط دعوی نه شو کولی کوم چه سیر کبیر کې دمعاملی دردت فیصله فرمائې او وائې چه که چرته گواه دا ونه وائې چه خاوندفی قول النصاریٰ نه دی وئیلی - نودښځی دعوی به خارجولی شی اودبینونت حکم به نه شی کولی او احتیاطاً هم دایمان اودنکاح تازه کولو حکم نه ورکوی [لسمه شبه] فقهاء وایې - مایکون کفراً اتفاقاً یبطل العمل والنکاح ومافیه خلاف یومر بالتوبة والاستغفار وتجدید النکاح . اوصاحب واقع چه کوم کلمات وئیلی هغه بالاتفاق کلمات دکفردی نوبیادایمان اودنکاح دتازه کولو حکم ولی نه ورکوی ددی جواب دادی چه ددی معنی دانه ده چه که چرته دچادژبی نه داسی کلمه اوزی کومه چه بالاتفاق کلمه دکفروی بیاخوهغی سره نکاح یقیناً باطله گرځی - برابره خبره ده که هغه داکلمه بالقصد وئیلی وی اوکه بلاقصد - اوکه چرته چادژبی نه داسی کلمه اوزی چه دهغی کلمه دکفرکیدل مختلف فیه وی بیابه هغه ته احتیاطاً دتوبی استغفاراودنکاح تازه کولو حکم کولی شی اه - بلکه ددی معنی داده چه کله دچانه قصداً څه داسی فعل صادرشی چه دهغی په کفرکیدوکې اختلاف وه نوهلته به دبطلان نکاح حکم نه شی کیدی بلکه احتیاطاً به هغه ته او وئیلی شی چه نه توبه استغفاراونکاح تازه کړه دی دپاره چه ستاښځه بالاتفاق حلاله شی دقصداً قیدمونږځکه ولگولی چه بغیردقصدنه ردت دسره نه متحقق کیدی نه شی نه بالاتفاق نه بالاختلاف - ځکه چه قصدرکن ردت دی- [لسمه شبه] عالمگیری کې راځی ،رجل اقرانه کان اقرو هوصبی لفلان بالف درهم وقال الطالب بل اقررت بهالی بعد البلوغ فالقول قول المقرمع یمینه وکذلك لوقال اقررت له بها فی حالة نومی وکذلك لوقال اقررت بهاقبل ان اخلق ولوقال اقررت له واناذاهب العقل من برسام اولمم فان کان عرف انه کان اصابه لم یلزمه شئ وان کان لایعرف ان ذلك اصابه کان ضامناً للمال ، کذافی المبسوط، دی نه معلومیږي چه که چرته مقرداسی عذربیان کړي چه دهغی وجودمعلوم وی نوهغه عذرمقبول دی اوکه چرته څه داسی عذربیان کړی چه دهغی وجودمعلوم نه وی نوهغه مقبول نه دی اگرچه اقرارسره پیوست وی بس چونکه دصاحب واقع عذرهم دی چه دهغی وجودمعلوم نه دی په دی وجه ددی عذرهم مقبول نه دی- ددی جواب دادی چه داقیاس دی دردت په اقرارباندی اوڅه رنگ چه دردت په طلاق قیاس صحیح نه دی کمامر- دغه شان دهغی قیاس په اقرارهم صحیح نه دی ځکه چه څه رنگه الفاظ دطلاق بینونت دپاره وضع شویدی دغه شان اقراردثبوت حق

دغیردپاره وضع شویدی- بس هرکله چه هغه داقراراقرارکوی نوگویاچه هغه دثبوت حق دغیرکوی بس هرکله چه هغه وایې چه ماپه حالت دتکلیف کې اقرارکړی وه نواوس گویاچه هغه حق ثابت دفع کوی په دی وجه دده بیان بغیرددلیل نه مقبول نه دی په خلاف دصاحب واقع چه هغه دالفاظودصدوراقرارکوی اونفس صدوردالفاظونه موجب دردت دی اونه دهغی تعلق بالذات حق دغیریعنی بینونت دښځی سره شته- ځکه چه دردت تعلق خوقصد اوارادی سره دی نه چه الفاظوسره اودبینونت تعلق دلزوم په طورباندی ردت سره دی نه چه الفاظودکفرسره ځکه چه دابینونت دپاره نه دی وضع شوی بس دصاحب واقع دالفاظ معلومو اقرارکول نه اقراردردت دی اونه اقراردبینونت - بس دهغه عذربیانول دموجب اقرارابطال شو فافترقا- هرکله چه دامعلوم شول نواوس پوه شه چه کفردصاحب واقع نه اتفاقی دی اونه اختلافی - لعدم تحقق حقیقة الردة کماسبق تفصیله- نوده ته وجوباً یااستحباباً دنکاح دتازه کولو فتویٰ خونه شی ورکولی خوکه څوك تنزهاًنکاح تازه کړی نوهغه ته اختیاردی- حاصل دتحقیق اوددغه برنی تنقیدنه دادی چه داواقع مخ ته کیږده دی سره نه په صاحب واقع دکفراودارتداداودبطلان نکاح حکم دیانةً کیدیشی اونه قضاً اونه داحتیاط په بنیاددایمان اودنکاح دتازه کولوفتویٰ ورکولی کیدیشی آؤدومره وئیلی شی چه صاحب واقع دا الفاظ په حالت دصحت اوعقل اوهوش اوحواس سره اواختیاراً اوبالقصدوئیلی دی نوبیاخوپه ده باندی ایمان اونکاح تازه کول لازم دی اوکه چرته په حقیقت کې هغه معذوراومجبوروه- اودا الفاظ دده نه بلاقصد او اختیار صادرشول نوهغه معذوردی- اونه ده ته دایمان دتازه کولوضرورت دی اونه دنکاح دتازه کولو- اوس دی هغه په خپله فیصله وکړي چه څه صورت وه هذاماعندناوالله اعلم بالصواب.

دووضروری خبروباندی عامومسلمانانوته خبرداری

داخودواقع فقهی تحقیق وه اوس مونږعامومسلمانانوته په دووخبروباندی خبرداری ورکوؤ وروميی داچه فقهاؤچه دمسلمان په دتکفیرکې دډیراحتیاط نه کاراخستی دي دکوم چه برنی تحقیق کې تفصیلی بیان شویدی دی باندی مسلمانانوته جرآت مندکیدل نه دی پکاردی ځکه چه کله محتاط فقهاء مسلمان طرفته دکفرنسبت دومره بدگڼری چه څوپوری هغوی ته گنجائش ملاویږي هغه وخته پوری هغوی هیڅ یومسلمان طرفته هم ددی نسبت نه کوی نودی نه معلومیدی شی چه په خپله دکفرارتکاب په څومره بدوی - بس مسلمانانوته

يکاردی چه په کوم قول اوفعل کې چه دکفر احتمال بعيد ياوهم هم وی هغی نه دی ثابت دی
چه الله ﷻ به ټول جرمونه معاف کړی خوکفرنه معاف کوی دی نه اندازه کيديشی چه
داڅومره سخت جرم دی اودی بچ کيدل څومره ضروری دی دويم داچه اهل الله سره (هرڅوك
چه دی) دشمنی اوکينه مه ساتی اوپه هغوی بدګمانی اوطعن مه کوی ځکه چه حديث شريف
کې هغوی سره ددشمنی کولودير سخت وعيدراغليدی اوفرمائيلی دی چه الله ﷻ فرمائي
چه څوك زمايودوست سره دشمنی کوی زمادطرف نه هغه ته اعلان دجنګ دی۔

تذييب متضمن توضيح بعض اجزائی اصل واقع ازصاحب واقع

احقردشوال په اخرکې ۳۶ھ کې کانپورته تلی وه ۳ ذی قعده ته چه زه زطن ته واپس راغللم
نويوناآشناغندی سړی چه دشکل اوخبرونه ديندار اوهوښيار معلوميده ماته يې داخط
راکړوهغی نه معلومه شوه چه هغه واقع دکوم باره کې چه دی رسالی کې فتاوی ذکرشويده
دډغه صاحب ده - چونکه دی خط سره دهغه معذوری نوره هم پته لګی اوخصوصاً ددی شبې
چه هرکله هغه داګتړل چه زه بی اختياره يم اومجبوريم اوصحيح تکلم نه شم کولی نودتکلم
بکلمة الکفرنه به يې سکوت کړي وی الخ اوزی فی قوله هذه الواقعة کلمه يې وليدله چه
ددی تصحيح اوس دی وخت کې دقدرت نه خارج ده الی قوله سکوت لازمی فاء کوم چه دغه
وخت دغه اختياری امروه فقط- په دی وجه ددی خط دی رسالی سره پيوست کول مناسب
معلوم شول وهی هذا (پس دالقاب اوادابو) احقرغالباً په دوهمه ذی قعده خانقاه امداديه ته
حاضرشو- حضورکانپورته تشريف وړی وه زمادخوش قسمتی نه بله ورځ حضرت تشريف
راوړو- په کومه ورځ چه يې تشريف راوړوپه هغه ورځ خودحال دبيانولوموقع ملاؤنه شوه
اوپه بله ورځ موقع ملاؤشوه خودځوعوارضوپيش کيدونه مې سکوت اختيارکړوآخرداچه
بغيردعرض کولونه زمامطلب حل کيږي اونه حضورته زمادحال واقفيت کيديشي-
دامسکين خوددی لايق دی نه - چه په ژبه عرض وکړی اونه په خط کې دهغی وجه داده چه
ددی ناچيزدوجه نه فسادکوونکوپه حضورباندی ناجائزحملی وکړي کوم چه محض باندی
بی بينااونفس پرستی کې ملوّث وه افسوس چه داسی خوب دی ګنهګارته نه وی راغلی-
نوحضورباندی ظالمانوته دزبان درازی موقع نه وی ملاؤشوی په دی وجه حضورته مخ نه شم
خودلی۔ چه حضورباندی کوم تکليفونه ددنيادارودزبان درازی راغليدی دهغی سبب
داعاجزدی خوځه وکړم په خوب ددی دراتللوبندول خوزماپه اختيارکې نه وه په دې وجه

معذوريم خودداسی خوب صدورددی نالائقه نه کيدل موجب دپښيمانيتادی- په داسی حال
کې چه دی مسکين په حالت دبيداری کې په خپل داسی حالت باندی پښيمانتياهم کړيده
اوپه زړه کې مې داخيال پيداشوچه دحضرت ﷺ په شان کې رانه ډيره لويه ګستاخی شويده
په دی وجه مې ارادهٔ په حضرت ﷺ باندی درودشريف ووئيل خوهلته هم هغه غلطی وشوه
ګوياچه دکومې ګناه نه توبه کوم اوارادهٔ لری تختم هم هغه صورت مجبوراً مخی ته راځی
هرکله چه مې وليدل چه ددی تصحيح کول اوس زمادقدرت نه بهردی نومحض سکوت مې
اختيارکړوپه داسی حال کې چه دګناه په صادريدوباندی دتوبی نه توقف په خپله ګناه ده-
خوهرکله چه هم دغه توبه معصيت شونومعصيت اوتوبه (ګناه باندی ګناه) دواړونه سکوت
لازمی وه په دی وجه چپ والی مې اختيارکړوکوم چه دغه وخت هم اختياری امروه دی واقع
باندی فسادکوونکوشورجوړکړوددی ظالمانوپه پوه اوادراك باندي ډيرافسوس دی چه څه
دهغوی په خوله راغلل ښه کولاؤيې ووئيل حالانکه زه په خپله خپل داسی حالت معيوب
اوقابل دپښيمانتياګڼړم افسوس چه نه خوزه ددداسی خوب ارادهٔ خواهشمنداوم اوپه خوب
ليدوباندی خوشحاله شوم اونه مې دازميښت په طورددداسی الفاظوتکرارکړوچه اوس
ګوزم هم دغه دزبی نه اوزی ياڅه بل څه اونه مې شوقيه دی طرفته شوق وه صرف غلطی
اوشوه چه ماداخوب دحضورپه خدمت کې وليګلوبس داحرکت ځکه چه نه زماپه نيت کې
فساد وه اونه راته علم غيب وه. چه دی ته البته ګڼړونکی هم موجوددی خپل ځای کې ترڅنه
پوری دداسی بی بنيادفسادعلم هم راته اونه شوصرف ديودوست مې معمولی غندی خبره
اوريدلی وه چه چرته يوه پرچه کې دی خوب باندی دمولاناصاحب خلاف مضمون شائع
شويدی بياهم دغه دوست دلدهيانه نه ماته دکاروپه ذريعی سره وليکل چه دمولاناصاحب
خلاف ډيرلوئ فسادشوی اودهغی سبب ته يې په دی وجه مناسبه ده چه ته په څه پرچه کې
داشك ختم کړی کوم چه مولاناصاحب په نسبت خلقوکې پيداشويدی- مادهغی په جواب کې
په حوالـه ددی ايـت جعلنالکـل نبـی عـدوا ، داوليـکـل چـه هرکلـه دهرنبـی دشـمنان وه
نومولاناصاحب خووارث الانبياء دی نوکه چرته مولاناصاحب پسی په ناحقه ولګی نوڅه
لری ده بلکه دخلقوناحقه ورپسی کيدل خومولاناصاحب دپاره موجب دترقی ددرجاتودی
دغه خيال مې وکړوپه دی وجه مې په پرچه کې دمخالفين خلاف مضمون شائع کولونه مې
ځان بچ کړو- اونه ماکې دومره لياقت شته چه زمامضمونونه دی په پرچه کې دشائع

کولو قابل شی اوس د حضور په خدمت کې حاضریدو دپاره په ګاډی کې سور شوم لدهیانه کې چونکه زما مور او پلار دی دهغوی په خدمت کې حاضریدل ضروری وه په دی وجه لدهیانه کې څو ورځی پاتی شوم نو معلومه شوه چه فساد کوونکو دا واقعه ترلری پوری خوره کړیده آخر تهانه بهون کې حاضر شوم نو اتفاقاً الامداد کې هم دغه مضمونونه وه جومات کې ذاکر صاحب سره الامداد جمادی الثانی ۲۲هـ رساله می وکتله په هغی کې هم هغه مضمونونه وه یو ذاکر صاحب سره می ملاقات وشو کوم چه د ریاست رامپور او سدونکې وه او دهغه په جومات کې دا واقعه په ما باندی تیره شوې وه څه هغه واقع تازه کړه په دی وجه طبیعت می دغم نه ډک وه او د حضور نه زبانی تپوس کولو باندی شرم راتلو بل دا چه حالت هم زمانیه نه وه واقعی زمانه حضور ته ډیر تکلیف رسیدلی دی دباقی نور حالات به بیا چرته په پرچه کې عرض کړم او څه به زبانی دامی دمعذرت نامی په طور عرض کړل (زیاده حده ادب)

جواب: کوم چه هغه ته زبانی ورکړی شول دهغی حاصل دادی ته غمژن او شرمنده کیږه مه، لاتزر وازرة اخری، ستا په دیکې څه جرم دی او که چرته زما په غم باندی غم دی نو په خپله ما ته په دیکې خکه زیات غم او نه شو چه ما ته دهغوی نه هیڅ تکلیف ملاؤنه شو - ته مطمئن او سیږه او کوم حالات چه ته خپل بیانوی بی تکلفه بیانوه کوم خدمت چه زما لائق وی په هغی کې به کمی نه وی دی سره هغه ته تسلی وشوه- په دی وجه دهغه په جواب کې دهغه دکلام نه ظاهر شو لکه څنګه چه بلکل دهغه دوړومبی خط په جواب کې هم په پریشانی کې دهغه تسلی کړای شوي وه اوس زه په خاتمه باندی خپل خان دپاره او هغه دینی وروڼو دپاره دموسیٰ ﷺ په الفاظو دعا کوم رب اغفرلی ولاخی وادخلنا فی رحمتك وانت ارحم الراحمين[1]
[ترجیح خامس/ صـ ۲۲]

عدم کفایت لفظ سلام در اسلام

سوال: (۵۰۲) ولاتقولوا لمن القیٰ الیکم السلام لست مؤمنا الآیة (پ ۵- س نساء- ع ۱۲) نو آیا که چرته یو سړي ته هم مسلمانانو ته سلام علیکم بالفظ یابالمعنیٰ لکه په تا دسلام وی یا په تا باندی سلامتی غواړم او وائي نو هغه ته به بی ایمان نه وایي؟

[1] دادی نه مخکې مضمون دکتاب په آخر کې دضمیمی په عنوان سره لګیدلی دی،

جواب: مراد هغه سلام دی چه دهغې معارض نور دلیلونه دکفر نه وی بس هر کله چه نورو دلیلونو سره دهغه کفر معلوم وی هغه په دی ایت کې داخل نه دی [تتمه ثالثه/ صـ ۱۳۳]

روپیه دادن هندو وراث میت رابغرض اهتمام ایصال ثواب

سوال: (۵۰۳) زما ورور مړ شویدی دهغه یو شاګرد هندو دی هغه پنځه سوه روپی ورکړیدی چه خپل ورور ته قران ولولی او دهغې ثواب رسیدو دپاره دي عمل باندی وړومبی عامل ته ثواب ملاویدل شرط دی او ثواب ملاویدو دپاره ایمان شرط دی بس دغیر مومن ددی عمل یعنی دورکړی او خرچ کولو ثواب خو نه شی رسیدی او که چرته دقران دلوستلو ثواب رسول محتمل وی نو داخبره هم شویده چه کوم قران په اجرت باندی ولوستی شی دهغې ثواب هم نه ملاویږي بس دی صورت کې که چرته دا شاګرد ډیر اصرار کوي نو صرف دا صورت کیدیشی چه هغه سړي دا پنځه سوه روپی دیو مسلمان په ملك کې کړي او هغه که چرته غواړی هغه روپی دیو مستحق ته ورکړی او دهغی ثواب دی دي مړي ته اوبښی خو پس دملك کیدو نه هغه ته دا اختیار هم شته چه هغه دا روپی چاته ورنکړی - [۲۷ جمادی الثانی/ ۱۳۳۳هـ/ تتمه ثالثه/ صـ ۱۴۱]

دفع تعارض درمیان تخییر بین الموت والحیات وعدم امهال سلیمان ﷺ

سوال: (۵۰۴) احقر ته یو تردد دی هغه ظاهرول غواړی هغه دادی چه حضور په دعوات عبدیت څلورمه حصه ملقب به اصلاح النفس صـ ۸۱ کې لیکلی دی چه سلیمان ﷺ دبیت المقدس تیاریدو پوری مهلت او غوختو خو قبول نه شو - ظاهراً دا دحدیث مامن بنی یمرض الاخیر بین الدنیا والاخرة خلاف معلومیږي - دا تردد ډیر وخت نه دی امید دی چه تسکین راتلونکی حال ولیکی؟

جواب: دا ونیلی شی چه تخییر په مابین دمکث فی الدین لا الی مدة معلومة او سفر داخرت شویدی او دمکث الی مدة معلومة اختیار نه ورکولی کیږي هغوی یو معلوم مودی پوری مهلت او غوختو او منظور نه شو - او بیا دا ونیلی شوي وی چه یا خو لا الی مدة مکث فی الدنیا اختیار کړه کنی سفر داخرت وکړه- هغوی دلته مکث غوره نه کړو او سفر داخرت یې

قبول کړو اودی قبول او اختیار نه پس مرګ راغی غایت مافی الحدیث کې تفصیل نه دی ذکر شوی خو ددی څه منافی هم نشته [۲ جمادی الاول/ ۳۴ھ/ تتمه رابعه/ ص ۳۰]

دفع شبهات متعلق دست غیب

سوال :(۵۰۵) حضور د دست غیب عمل نه منع فرمائیلی ده- لهذا بنده د کولو خو نه ، خو که څرته غیر مناسب نه وی نو بنده ته چه دیکې کومه کم فهمی ده هغه لری کړي - مسئله د دست غیب عمل کوم چه بغیر د قواعدو د مسخر کولو د پیریانو نه وی د الله ﷻ په نومونو او د کلام الله ﷻ په ذریعه بغیر د یو خای کولو د بل څه کلام نه جائز دي یا نه و رومبی تقدیر سره مخالفت د ظاهر لازم راځی دی د پاره یو مثبت دلیل کیدل پکاردی- وظهور الثانی ظاهر مؤید بان للاوراد دخلاف وجود مالم یکن موجوداً من الله تعالیٰ کالحب والبغض فانه لم یقل بواسطة الاجنة فیهما احد ولافرق بین الحبّ وبین النقود باعتبار الموجد حتی یقدر الواسطة فی احدهما دون الأخر لاعتبار القدرة لاباعتبار العادة لانه کلاهما خلاف العادة ولاسماء الله تعالیٰ دخل فی ظهور خوارق العادة وایضه یوید جوازه ماجاء فی بعض الأثار دعوة جابر ﷺ فی غزوة خندق وعدم نقصان الطعام باکلهم لان البرکة تکون باقامة مثل مانقص مقامه بالتسلسل وماشاع فی کرامات الاولیاء مثل قصّة وضع التعوید فی الشعیر لشیخ الشاه ابی المعالی رحمه الله وعدم وقوع النقصان فی الشعیر حتی اخرجت عنه وان هذا الالکون لاولیاء وصنعهم سبباً وجود الاشیاء من الله تعالیٰ فلایستبعدان یکون کلامه کذالك- بنده ته یادیږي چه حدیث شریف کې راغلیدی چه احق مااخذتم بنه اجراً کتاب الله - او دا دیکې داخل دی او دی ته ماسیق له الکلام سره مناسبت لطیفه ده څکه چه دا ارشاد د حضور ﷺ په هغه قصه کې راغلی دی چه هغه سړی مار چیچلی وه او د سورة فاتحه په ذریعه ښه شوي وه نو دینه معلومه شوه چه کلام الهی نه چه کوم خوارق ظاهر شی هغه ذریعه د معاش جوړول صحیح دی او بل دا چه وجود او غیر موجود کې د واړه شریك دی - وهو الشفاء ههنا-

جواب : دا ټول په دی باندی مبنی دی چه دی عمل کې د کوم نفی کړی شویده بس دفن دوا قفانو په نزد دا امر تجربی سره ثابت دی دیکې ذره شبه نشته [۲۳ جمادی الاول/ ۱۳۳۴ھ/ تتمه رابعه/ ص ۳۲]

د متعلق نفس نار

سوال :(۵۰۶) حدیث شریف کې راغلیدی ، چه اشتکت النار الی ربها فقالت یارب اکل بعضی بعضاً فاذن لها بنفسین فی کل عدم نفس فی الشتاء ونفس فی الصیف، اکثر عالمانو دا حدیث په حقیقت باندی حمل کړیدی دی بنیاد باندی دا شبه پیدا کیږي چه څه وجه ده چه د زمکی په بعضو ټکړوکې (کوم ځای چه همیشه یخنی وی) د نفس فی الصیف اثر نه ښکاره کیږي ؟

جواب : حدیث کې امکنه کوم ځای راغلیدي چه اشکال پری لازم راشی اصل دا دی چه د نفس فی الصیف اثر د نمر په ذریعی سره خاص ځایونو ته رسی بس چرته چه اوضاع خاصه د نمر نه وی هغه اثر به هم نه رسی [۹ شوال/ ۳۴ھ/ تتمه رابعه/ ص ۵۲]

متعلق کفار هندوستان

سوال :(۵۰۷) زمونږ په هندوستان کې چه کوم کافران دی ذمی یا حربی - مسلمانانو ته په امور دینیه کې د وی سره څه رنګ معامله کول پکاردی؟

جواب :لا ذمی لعدم دخولهم تحت حمایة وال مسلم ولاحربی محارب بل حربی مسالم ومستامن واکثر احکامهم کالذمیین [۱۴ شوال/ ۳۴ھ/ تتمه رابعه/ ص ۵۲]

اعدل الاقاویل درباب شیخ ابن العربی

سوال :(۵۰۸) دی ورځو کې یوه پخوانی کتب خانه کې د دی ښاریو کتاب رد الفصوص قلمی ګونه کرمه خورد ما وکتو په هغی کې بعض اقتباسات ما ولیکل - که چرته دا کتاب حضرت کتلی وی او چاپ شوی وی نو دا عام کړی چه هر څوك یې را اوغوختلی شی او که چرته غیر طبع وی او کتب خانو کې موجود نه وی نو زمونږ په زمانه کې چه جاهل صوفیان ډیره غلو کوی د دا سی رسالی ترجمی سره شایع کول د ضروریاتو نه معلومیږي زما مید دی چه عالی حضرت دی ته د عزت په نظر وګوری دا کتاب د حضرت خدمت ته رسول خو ګران دی خو عالی حضرت که چرته د مولوی عاشق الهی صاحب میرتهی وغیره توجه دی ته کړی او دا سره د متن نه د ترجمی کولو کوشش وکړی نو دا نا چیز به یې نقل کړی او ډیر زر به یې ستاسو خدمت کې پیش کړی اقتباس رد الفصوص بسم الله الرحمٰن الرحیم ، الحمدلله المتعال عمایقول الظلمون علواً کبیراً ، والصلوٰة والسلام المتولی علی نبینا الصادع بالحق بشیرا ونذیرا، وعلیٰ اله وعترته

الحافظین الشریعة، وصحابته الناصرین لدینه وبعدفیقول الفقیرالی الله الغنی مسعودبن عمرالمدعو بسعدالتفتازنی هداه الله الی سواء الطریق واذاقه حلاوة التحقیق لمارایت اباطیل کتاب الفصوص انطقنی الحق علی هذا النسق ،

شعر

کتاب اذا رمت ذماله **** ومدك بحرطمی وانس

وکان نبات الثری یابس **** ورطب جمیعاً لدیك القلم

وعمرت ماعمر الاولو **** والاخرون وهزالهم

عجزت عن العشر من ذمه **** وعشر عشیر وما ذاك ذم

ثم ص ۱۲ علم ان صاحب الفصوص لقد تجاهربالوقاحة العظمی وجاوزفی الحماقة الامدالاقصی حیث فضل نفسه الدینه بفرط شقاله علی الذی أدم ومن دونه تحت لوائه بان جعل فی تکمیل الدین لبنه اللذهب نفسه الغویٰ المبین ولبنة الفضة خاتم النبیین بل کذب المخلد رب العٰلمین ،حیث زعم ان الدین لم یکمل بسیدالبشرالمبعوث الی کافة العجم والعرب بل کان بقی منه موضع یسده لبنتان فضة وذهب فلبنة الفضة النبی الذی ختم به النبوة، ولبنة اللذهب الولی الذی ختم الولایة یعنی نفسه الباطل المبطل المرتاب الاوقح من مسیلمة الکذاب حیث لم یرض ذلك الواقع الغاوی بمارضی به مسیلمة من ادعاء رتبة التساوی ولذا تسمیة الملاحده من الاشقیاء بخاتم الاولیاء ویفضلونه لعنهم الله علی خاتم الرسل والنبیاء ، ثم ان خیال الحشیش وخباط السوداء علی ترویج هذه الزندقه الشنعاء باختلاط رویالایصدقهاالا الاغبیاء من الاغویاء ، وهی مااودعهافی دیباجة الفصوص انه رای النبی ﷺ فی المنام وقداعطاه الفصوص وامره باشاعته بین الانام، هل سمعت عاقلایروج الزندقة المخالفة للعقل والشرع الباطلة باسرهامن الاصل والفرع بان النبی ﷺ بعدمضی ست مائة عام من وفاته ﷺ امرفی المنام باظهارمایهدم الملة التی مهدهافی مدة ثلاث وعشرین سنة الی أخرحیاته الخ،فقد ص۱۴ صح عن صاحب المواقف عضدالملة والدین اعلی الله درجته فی علیین انه لماسئل عن کتاب الفتوحات لصاحب الفصوص حین وصل هنالك قال اتطمعون عن مغربی یابس المزاج بحرمکة ویاکل حشیشا غیرالکفروقدتبعه فی ذلك ابن الفارض حیث یقول امرنی النبی ﷺ فی المنام بتسمیة الثانیة نظم السلوك الخ، ص۲۹ وقبل الشروع فی

تفصیل طاماتهم وابطال شکوکهم وشبهاتهم نمهد مقدمة ترشدالی بطلان اوهامهم وزعماتهم فنقول وبالله التوفیق سائلاً منه الهدایة الی سواء الطریق الخ، ص۷۲ فیکف یحل لمسلم ان یسمّی بالتصوّف هذه الزندقة واولئك الکفرة الزنادقة بالمتصوفة بل التصوف فی لسان لاقوم عبارة عن التخلق بالاخلاق النبویة والتمسك بقوایم الشریعة المظهرة الاحمدیة فی العلمیة والعملیة لاعن عقیدة المعطلة والسوفسطائیة والدهریة وممایزیدلضلال اولئك الملحدین کشفاً وایضاحاً ومحال اولئك المبطلین هتکاً وافتضاحاًانهم یجمعون فی اثبات تلك الزندقة الملعونة بین اقامة الحجة والبرهان وبین ادعاء ظهورهاعلیهم بالکشف والعیان الخ، ص۱۳۱ أخر،فهذه جملة ماهدم به صاحب الفصوص بنیان الدین المرصوص وجحدبماثبت بدیهة العقل وقواطع النصوص وزعم ان الزندقة الملعونة الباطلة بدیهة العقل والشرع ذریعة الی التعرف ولذلك سول له الشیطان ان سماهاعلم التصوف وصدقة فی ذلك الجهلة الملحدون وقلده الزنادقة المهاجرون وسیعلم الذین ظلموا ای منقلب ینقلبون الخ، قدتمت الرسالة بعون الله الملك المنان فی یوم الاحدمن تسع وعشرین بشهرذی القعدة قبل الزوال لستة وستین بعدالمامة الواقعة علی الالف؟

رواقعي دمصالحودیوطرف اقتضاء هم دغه ده چه دارساله دی شائع شی خوبل طرف ددی مانع دی هغه داچه بعض اکابردتصریح فرمائیلی ده چه داپه شیخ باندی افتراء ده.بعض په دی کلماتوکې تاویل کړیدی بس ددی احتمالاتوپه موجودګۍ کې دیومدعی داسلام تکفیریاتضلیل شرعاً هم جائزنه دی دویم ددی باب په توسیع کې شایدیوامام مجتهدیاولی یاعالم بچ شی بیابه شیطان هغه لره دباطل پرستودپاره دهغې یوه ذریعه جوړه کړی چه هرکله داسی خلق ګمراه وه نوروڅه اعتباردی بیاهرکله چه دعلومودحاملینونه اعتباراوچت شونونه احکام نقلیه صحیح النقل پاتی شول اونه احکام اجتهادیه معبرپاتی شول . لفقد الشرائط فی النقلة والمستنبطین وفسادهذا الایخفیٰ ،که چرته شیخ ته عام مقبولیت نه وی نودادویمه مفسده به بیانه وی .اګرچه ورومبی مفسده بیاهم وه په دی وجه عاموخلقولره دومره ونیل کافی دی چه نه دی .ددی اقوالودظواهرومعتقدشی اونه ددی ویونکی ته څه اووائی ، قال الله تعالیٰ ولاتقف مالیس لك به علم ، وفی الدرالمختار ان من قال عن فصوص الحکم الی قوله فعلیك وبالله التوفیق وانظرمافی هوامش ردالمحتار علی تلك العبارة، ج ۳ / ص ۴۵۴– ددی تحریرنه پس یوکتاب تحفة الاخوان ص ۳۲،۳۳، علامه سعدالدین تفتازانی لره

سره دډیرو اکابرو نه ابن حجر هیثمی دشیخ ابن العربی مداحیینو او معتقدینو نه لیکلی دی
او دخو کرخونه وروستو دا عبارت هم دی - منهاماذکره شیخنافی شرح الروض نقلاً عن العلامة
التفتازی بانه مدح ابن العربی مدحاً لامزیدعلیه اه - دی نه معلومیږي چه ددی کرم خورده
رسالی نسبت تفتازانی طرفته صحیح نه دی ځکه چه دبل معبر او معروف کتاب معارض دی ۔
۲۲جمادی الاخر/ ۱۳۳۵ھ/ تتمه خامسه/ص ۱۱)

توجیه زیارت کعبه حسناء بعضی اولیاء را

سوال :(۵۰۹) په باره داستقبال قبله شامی بحرالرائق طحطاوی برمراقی الفلاح او په باب
دثبوت النسب درمختار او شامی وغیره دفقهی معتبرو کتابونو نه دجواز راتلو دبیت الله
شریف دپاره دزیارت داولیاء الله بلکه دطواف داولیاء ممکن اود کراماتو نه کیدل یې لیکلی
دی- او روض الریاحین کې امام یام شافعی ؒ وغیره کې ددی واقع کیدل اولیدل
دثقاتو امامانو او دعالمانو ددی کرامتونو نقل شویدی. دیته غیرمقلدین لغو او غلط وایي
دهغوی قول او خیال دادی چه کعبه داسی معظمه رسول الله ﷺ داشرف المخلوقاتو نه وه
ددی تعظیم طواف سره وکړو- او دویم داچه دځپل ځان نه دکم درجی زیارت او طواف دپاره
تلل داقلب موضوع ده او یونا ممکن امر دی آو که چرته دقران او حدیث نه داامر مدلل کړیشی
نو قابل تسلیم کیدیشی لهذا داحنافو عالمانو په خدمت کې عرض دی چه ددی عقیدی لره دقران
او سنت په نصوصو سره یا په استنباط دایاتونو او حدیثونو سره مدلل ثابت کړي او د احنافو دفقی
کتابونه او روض الریاحین وغیره تالیفات دسلفو امامانو دغیرمعتمد داغ لګیدو نه بچ کړي
او خوپوری چه زرمسکن وی جواب راولیږی دی باره کې سخته نزاع راپیښه شویده ؟

جواب : حدیث نمبر(۱) عن ابن عمر ؓ انه نظر یوماً الی الکعبة فقال ماعظمك وماعظم
حرمتك المومن اعظم حرمة عندالله تعالیٰ منك ،اخرجه الترمذی وحسنه (ص ۲۴/ ج۲/
مطبوعه مجتبائی) رواه ابن ماجة مرفوعاً عن ابن عمر ؓ ولفظه قال رایت رسول الله ﷺ
یطوف بالکعبة ویقول ماطیبك ریحك واعظم حرمتك والذی نفس محمدبیده لحرمة المومن اعظم
عندالله حرمة منك الخ (ص ۲۰۹ اصح المطابع) حدیث نمبر۲: عن جابران رسول الله ﷺ قال
رایت الجنة فرایت امراة ابی طلحة وسمعت خشخشة امامی فاذابلال رواه مسلم (مشکوٰة ص

۵۷۴) حدیث نمبر۳: عن جابر قال سمعت النبی ﷺ یقول اهتزالعرش لموت سعدبن معاذوفی
روایة قال اهتزعرش الرحمٰن لموت سعدبن معاذ وفی روایته قال اهتزعرش الرحمٰن لموت سعدبن
معاذ متفق علیه (مشکوٰة ص ۵۶۷) حدیث نمبر۴: عن انس ؓ قال رسول الله ﷺ ان
الجنة تشتاق الیٰ ثلثة علی ؓ وعمار ؓ وسلمان ؓ رواه الترمذی (مشکوٰة ص
۵۷۰) حدیث نمبر۵: عن انس ؓ قال قال ابوبکر لعمر بعدوفاة رسول الله ﷺ انطلق بنا الی
امایمن نزورها کماکان رسول الله ﷺ یزورها الحدیث رواه مسلم (مشکوٰة ص ۵۴۰)
حدیث نمبر۶: عن جابر ؓ فی حدیث طویل فلمارای ﷺ مایصنعون طاف حول اعظمها
بیدراً ثلث مرات الحدیث (رواه البخاری (مشکوٰة ص ۵۲۹) حدیث نمبر۷: عن جابر ؓ
انه سمع رسول الله ﷺ یقول لم کذبنی قریش قمت فی الحجر فجعل الله لی بیت المقدس الحدیث
متفق علیه (مشکوٰة ص ۵۲۲) وفی اللمعات جاء فی حدیث ابن عباس ؓ فجئ بالمسجد
حتی وضع عند دار عقیل وانا انظرالیه، پس دنقل کولو ددی حدیثونو نه جواب عرض کوم په
سوال کې دمعترض دوه خبری نقل شویدی یو داچه داقلب موضوع دی دویم داچه داناممکن
دی دوړومبی قول دلیل دابیان شویدی چه رسول الله ﷺ ددی تعظیم طواف سره کړیدی
او ددویم قول یې څه دلیل نه دی بیان کړی دقلب موضوع جواب خو دوړومبی حدیث نه
معلومیږي چه ابن عمر ؓ هرمومن دکعبی نه غوره ښایې او وړومبی خو دا امر مدرك بالرائی
نه دی په دی وجه حکماً مرفوع دی او که چرته ددی نه قطع نظر وکړیشی بیاهم دهیڅ
یو صحابی نه په دی باندی نکیر نه دی نقل شوی بیاددی په صحت کې څه شك پاتی شو بیا په
ابن ماجه کې خو ددی رفع تصریح ده او سندیې هم ښه دی اوس ددی کلام هم څه حاجت پاتی
نه شو پاتی شو طواف کول د رسول الله ﷺ ددی او دددی تعظیم کول نو دا یو امر تعبدی دی لکه
څنګه چه حضرت ﷺ دجومات احترام کولو نو آیا جومات دحضرت ﷺ نه افضل او اعظم
کیدل لازم شول- دغه شان بیت معظم هم دحضرت ﷺ نه افضل نه دی بیا هرکله چه حضرت
ﷺ دی نه افضل شو او بیا حضرت ﷺ دهغی طواف وکړو نو دی نه ثابته شوه چه دمفضول
طواف افضل کولی شی نو که چرته مومن دبیت معظم نه مفضول هم وی بیا به هم دافضل
طواف کول مفضول دپاره جائزوی چه جائیکه چه مومن افضل کیدل هم ثابت شول بیاخو هیڅ
استبعاد پاتی نه شو باقی داخو ښکاره خبره ده چه دافضلیت جزئی دی دی نه دا هم لازم نه

راځي چه انسان دې د سجدې جهت هم جوړ کړيشي يا دانسان دې څوك طواف شروع كړي او داتول هغه وخت كې دې چه طواف د تعظيم په طوروي او كه چرته دا طواف لغوي وي په معنى د تلو راتلو كوم چه مقارب د زيارت دې نو هغه د خپل منقول د پاره بې تكلفه كيدېشي لكه څنګه چه حديث نمبر ۵، ۲ كې راغليدي او صرف د داسې امورو نه د افضليت لزوم څه رنګ ضروري ګرځي هر كله چه حديث نمبر ۲ كې تقدم د بلال ﷺ په حضور ﷺ باندې نقل شويدې په دې وجه دې تقدم ته شارحينو د حديثو تقدم الخادم على المخدوم سره مفسر كړيدې بس دغه شان د لته هم ممكن دې بل داچه عرش كومه چه خاص ځاى د تجلى حق دې او ددې په صعنت كې هيڅ يو بشر ته څه دخل نشته ظاهراً د بيت معظم نه افضل دې سره ددې نه ددې حركت يو امتي د پاره حديث نمبر ۳ كې ذكر شويدې شوق لري جنت كوم چه الله د خاص تجلى كوردې حديث نمبر ۴ كې د هغې شوق مند كيدل بعض مقبول امتيانو طرف ته كيدل راغليدي نو د كعبې شوق مند كيدل هم ديو مقبول امتي طرفته څه لرې دې بس دې حديثونو سره په خپله د زيارت او د طواف استبعاد خو دفع شو كوم چه نقلي بحث وه اوس صرف د اعقلي بحث پاتې شو چه خانه كعبه دومره د روند جسم دې دا څه رنګه منتقل كيديشي ورومبى خو ان الله على كل شئى قدير، كې ددې عام جواب موجود دې دويم د حديث نمبر ۷ په ضميمه كې ددې خاص جواب هم شته كوم خصائص كسرى ورومبى جلد صـ ۱۲۰ كې نقل شويدې بتخريج احمد وابن ابي شيبة والنسائي والبزاز والطبراني وابي نعيم بسند صحيح، داتوله خبره د ورومبى قول باره كې وه پاتې شو دويم قول چه دا ناممكن دې اوس داتپوس كوو چه ايا عقلاً ناممكن دې يا شرعاً يا عادةً د ورومبى انتفاء خو ښكاره ده كه چرته دويم شوق دې نو ددې ثبوت د معترض په ذمه دې واني له ذالك – او كه چرته دريم شق دې نو مسلم دې بلكه مفيد دې څكه چه كرامت هم دغه شان واقع كې دې كوم چه عادةً ممتنع وي كني بيا كرامت نه راځي اوس يوه شبه پاتې شوه هغه داچه حس ددې مكذب دې څكه چه تاريخ كې چرته هم نه دې نقل شوې چه كعبه د خپل ځاى نه غيبه شوې وي هم دغه شبه داووم حديث په ضميمه كې كيږي نو د هغې چه كوم جواب دې هغه ددې جواب دې او هغه دا كيدلى شي چه دغه وخت اتفاق سره د كعبې ليدونكې څوك هم نه وي – اذا اراد الله شيئاً هيا اسبابه – او دا وخت كيږي چه كله دغه جسم منتقل شوې وي كني ديره نزدې داده چه د كعبې حقيقت مثاليه ددې حكم محكوم عليه دې لكه څنګه چه مثال نمبر ۲ كې حضرت ﷺ د بلال ﷺ مثال ليدلى وه كني

بلال يقيناً هغه وخت په زمكه وه اوس صرف يو عاصيانه شبه پاتې شوه چه ددې سند خو پوري چه د محديثنو د شرائطو مطابق صحيح نه دې ددې قائل كيدل صحيح نه دې نو ددې جواب دادې چه په خپله محديثنو د غير احكامو په حديثونو كې د سند باره كې داسې تنقيد نه دې كړې دا خو ددې نه هم كم دې دلته صرف دومره كافي دې چه رواى ظاهراً ثقه وي او ددې واقع څوك مكذب نه وي دې تقرير سره د هغې جواب هم راووتو كوم چه دې سوال كې دې كه چرته د قران د حديث نه مدلل كيديشي الخ : هغه جواب دادې چه كه چرته د مدلل كولو نه د امراد وي چه بعينه هم هغه واقع يا د هغې نمونه په قران او حديث كې وي بيا خو د هغې د ضروري كيدو دليل مونږ د قران او حديث نه غواړو بل داچه د حديث د اماما نو كرامتونه (۱) ايا دغه رنګ ثابتيدې شي او كه چرته د امراد وي چه په كومو اصولو هغه مبني دې هغه د قران او حديث نه خلاف نه دې نو بحمد الله دا امر خو حاصل دې (تنبيه) داتوله اصلاح وه د غلو في الانكار- باقي كوم چه غالي في الاثبات دې علماً يا عملاً د هغوى اصلاح هم واجب ده والله اعلم- ۸۱ رجب/ ۱۳۳۵هـ/ تتمه خامسه/ صـ ۱۴]

دفع درخواست فاتحه مروجه بحيله

سوال :(۵۱۰) ډير خلق جومات ته د نذر او نياز د پاره څه شيريني وغيره راوړي لكه يو ولسمه وغيره او د نياز په وجه وائي چه ور كړي نو اوس داسې موقع باندې څه كول پكار دي نيازور كړو كه صفا جواب وكړو؟

جواب :داسې ورته اووايه چه مونږ ته د انيازوركول نه راځي ۱۰۱ رجب/ ۱۳۳۵هـ/ تتمه خامسه/ صـ ۱۹]

حل بعض عبارات مكتوبات قدوسيه موهمه مقدوريت ممتنع لذاته

سوال :(۵۱۱) نن صبا په اتفاق سره د شيخ عبد القدوس د مكتوباتو مطالعه كله كله كوم ديكې مې دوه ځايه قابل د معلومات كولو وګنړل فرض دې كه چرته جواب كول فضول خيال كړې شي نو د تكليف كولو ضرورت نشته – مكتوب يو سل او واوياكې فرمايې ، ممكن الوجود اين نيز بر سه قسم است يكى ممكن لغيره و ممتنع لذاته وآن از جمله محالات ست كه وجود آن بنظر حس وعقل ممتنع است واما بنظر قدرت حق ممكن ست ،عرض دادې چه

(۱) اصل كې هم دغه شان دي خو بظاهر څه عبارت پاتې ښكاري ۱۲ محمد شفيع-

دممتنع اودواجب خو البته عاقلانو دوه قسم بالذات اوبالغیر کړیدی خو ممکن مې بالذات اوبالعرض ترا وسه پورې نه دی اوریدلی بلکه اهل فن عموماً لاامکان بالغیر فرمایي اګرچه داحتمال عقلي په طور د امکان هم دوه قسم کیدیشی خولاطائل تحته – اوبیا ممتنعات عقلیه اوذاتیه لاندې دقدرت باري تعالی داخلول خو دعقل نه بالکل بهردی دی دشیخ رحمه الله څه مطلب دی؟

جواب: داسې قسم مضمون مادنورو اکابرینو په کلام کې هم لیدلی دی کوم چه مې دې وخت کې ذهن کې نشته زما په نزد دې توجیه داده چه مراددې نه هغه محالات عادیه دی کوم چه دعقل متوسط په نزد محال دی خو دعقول عالیه قدسیه په نزد ممکن دی ددې اقرار په خپله دحکماء هم شته چه بعض حقائق واقع دعقول متوسط داحاطه اوادارك نه بهردې پاتې شوددې لقب ممکن لغیره اوممتنع لذاته وئیل دادهغوی خاص اصطلاح ده- برخلاف داصطلاح دجمهور ولامشاحة فیه – اووجه دتصحیح ددې داده چه غیر نه مراد قدرت دحق دی یعني دقدرت دحق په اعتبار سره ممکن دی خو په خپله ددې په ذات باندې که چرته نظر وکړی یعني عقل متوسط نظر وکړی نو په دې به دامتناع حکم وکړی اودشیخ په کلام کې چه کوم دادی چه وجود آن بنظر حسن وتعلی الخ دی ته دمحالات قید واقعي نه وائي بلکه قید احترازي وئیلی شي نو په خپله به تفسیر .... وکړیشي دمراد مذکور یعني ټول محالات ددې مصداق نه دی بلکه هغه محالات کوم چه په نظر دحست اوعقل متوسط کې محال وی کتبه اشرف علی ۲۲۱ رمضان/ ۱۳۳۵ھ/ تتمه خامسه/ص ۲۷

توضیح بعض عبارات مکتوبات قدوسیه درباره جوازاعراس کو

سوال :(۵۱۲) اومکتوبات یو سل دوه اتیا کې شیخ جلال الدین لیکي واعراس پیران بسماع وصفائی جاري دارند انتهی- نو بیا جناب والا او نوره یر اکابرین ولی دامنع فرمائي؟

جواب :ښکاره خبره ده چه دادواړه امره قبیح بالغیر دی دشیخ په وخت کې یادهغوی په مجالسو کې به هغه غیر متحقق نه وه اودافضاء فیمایستقبل طرفته به یې توجه نه وی بس دشیخ معذور دی خو متبوع به نه ګرځي اوس زمونږ په زمانه کې هغه مفاسد متحقق هم وی اوکه چرته یو مجلس کې نه هم وی خو مفضي یقیناً دی اودافضاء مشاهد دی په دې وجه منع یې واجب ده فلاتعارض کتبه اشرف علی ۲۲۱۰ رمضان/ ۱۳۳۵ھ/ تتمه خامسه/ص ۲۷

پیاندې باره کې داسوال راغی کوم چه لاندې سره دجواب نه نقل شویدی

سوال :(۵۱۳) دبنده دخط جواب په رمضان کې راغلی وه بالکل زړه مې مطمئن شو- آودشیخ رحمه الله دعبارت اعراس پیران برسنت پیران بسماع وصفائی جاري دارید، وصفائی نه معلومیږي چه دشیخ نظر په قباحت عارض باندې وه خو عرس وسماع خالي عن العوارض ډیر مهتم بالشان ګڼړی ددې دجاري کیدو ډیر تاکید فرمائي اوداد خپلو پیرانو طریقه ښائي – اودعوارضو لاحقو دوجه نه داقابل دپریخودو نه ګڼړی بلکه دامور عارضو دختمولو حکم فرمائي اودامرینو مذکورینو فی حد ذاتهما جاري کولو تاکید فرمائي دشیخ رحمه الله دارایې معلومیږي چه عرس اوسماع فی نفسه داسې محمود اومفید دی چه دقباحت عارضه په وجه قابل دپریخودو نه دی بلکه دادواړه دې وکړیشي اوقباحت عارضه دپریخودلی شي اودجناب والا اودنورو حضراتو دامسلك دی چه که چرته مستحب یامباح ته قباحت عارض شي نو دې وجه سره نفس شي هم واجب دپریخودو ګرځي- اوس تراوسه پورې زما په دې ناقص پوه کې تعارض دی والله اعلم بالصواب – اوبل داچه برنی عبارت نه معلومیږي چه دشیخ رحمه الله په وخت کې خو دشیخ بزرګانو دااجماعي مسئله وه چه قباحت عارضه ختم کړی اوعرس اوسماع جاري اوساتي- نه داچه دې قباحت عارضه په وجه سره دادواړه کارونه پریخودلی شي دفقهاء حنفیه خو واقعي هم دغه مسلك دی کوم چه دجناب والا دی – خو غالباً دصوفیاء کرامو دامسلك نه معلومیږي والعلم عند الله – اودجناب شاه ......صاحب دبعضو تحریراتو نه کوم چه دفلان مفتي...... مرحوم کوم چه ددې طعن په واجب کې یې لیکلی دی – کوم چه حضرت شاه صاحب باندې دعرس کولو باره کې کړی وه دغه معلومیږي چه عرس فی نفسه محمود امردی – دڅه عارض دوجه نه به دانه شي پریخودلی کیدی بلکه اصل شی به باقي ساتلی شي اوامور لاحقه به ختمولی شي طعن اوجواب دواړه لاندې دی طعن :عرس بزرګان خود برخود مثل فرض دانسته سال بسال برمقبره اجتماع کرده طعام وشیرینی درانجا تقسیم نموده مقابررا وثنا یعبد می کنند - جواب :قوله عرس بزرګان خود الخ این طعن مبنی ست برجهل باحوال مطعون علیه زیراکه غیراز فرائض شرعیه مقرره راهیچ کس فرض نمی داند آری زیارت وتبرك بقبور صالحین وامداد ایشان بامداد ثواب وتلاوت قران دعائ خیر وتقسیم طعام وشیرینی امر مستحسن وخوب ست باجماع علماء وتعیین روز عرس برای آنست که آن روز مذکر انتقال ایشان میباشد ازدار العمل بدار الثوب والآهروز

که این عمل واقع شود بموجب فلاح ونجات ست وخلف رالازم ست که سلف خود را باین نوع بر واحسان نمایند چنانچه در احادیث مذکور ست ولده صالح یدعوله وتلاوت قرآن واهدای ثواب راعبادت قبردادن مبنی بر کمال بلادت وافراط جهل است، اگر کسی سجده طواف ودعانحوها فلان افعل کذا بعمل آرد البته مشابهت بعبدة الاوثان کرده باشد وچون چنین نیست پس چرا محل طعن باشد ودر درمنثور وسیوطی مرقوم است: واخرج ابن المنذروابن المنذروابن مردویه عن انس ؓ ان رسول الله ﷺ کان یاتی احداً کل عام فاذالقوه الشعب سلم علی قبورالشهداء فقال سلام علیکم بماصبرتم فنعم عقبی الدار،واخرج ابن جریر عن محمدبن ابراهیم قال کان النبی ﷺ یاتی قبورالشهداء علی راس کل حول فیقول سلام علیکم بماصبرتم فنعم عقبی الدار،وابوبکرصدیق ؓ وعمر ؓ وعثمان ؓ وفی التفسیر الکبیرعن رسول الله ﷺ انه کان یاتی قبورالشهداء راس کل حول فیقول السلام علیکم بماصبرتم فنعم عقبی الدار،والخلفاء الاربعة هکذا یفعلون انتهیٰ (زبدة النصائح فی مسائل الذبائح ،مطبوعه مطبع محمدی کانپور ۱۲۲۷هـ صفحه ۴۱-۲۴)، خلاصه داچه دبنده شبه صرف دومره ده چه فقهاء اوصوفیه په دی قاعده کلیه کې مختلف دی چه کله یو امرشرعی غیرضروری ته فی الحال امرقبیح عارض شی یاد افضاء فیمایستقبل خطره وی نودغه امرشرعی قابل دپریخودودی فقهاء ددی قائل دی اوصوفیان دانه منی بلکه خذماصفاودع ماکدر. موافق معروض من حیث هوقطع عن العوارض باندی عمل کوی اوعارض قبیح بریږدی اوخطری دافضاء فیمایستقبل حین العمل پرواه نه کوی او دوخت عروض عارض پریږدی اومعروض باندی عمل کوی ددی اصل دمختلف فیمابنیهما کیدو په وجه ددواړو په تعامل کې ډیر تفاوت پیداشو- څه چه می عرض کړل دصوفیانو اوفقهاء داقوالونه می دخپل بدفهمی په وجه وګڼړل ان کان من ومن الشیطان فنعوذبالله منه – اوس جناب والانه عرض دی چه څه غلطی وي په هغی خبرداری راکړی؟

جواب: لفظ صفائي خودی دلالت کې نص نه دی دی نه صفادنیت کوم ته چه خلوص وائي مراد کیدیشی یعنی ریااوشهرت مقصودنه وی یاکه چرته دادلالت اومنی هم یاسره عدم دلالت په خپله ابتداء ددی مفاسد وتحقق دی وخت کې اومنی بیاهم ورومبی جواب کې داقول افضاء فیمایستقبل طرفته به توجه نه وی جواب کې کافی دی – وضاحت ددی دادی

چه دوی ته به دی طرفته توجه نه وی چه مونږ څوك معتقد وګڼړي اوزمونږ فعل سند وګرځی اوخپل فعل تنزیه کافی وګڼړی اوعدم توجه په حالت کې هرکله چه څوك خبرورکوونکی نه وی هغه دمحذورتسبب معلوم نه شی بس معذوردی بس ددومره عبارت نه فقهاؤ اوصوفیاء کې ددی فرق استنباط کول کوم چه تالیکلی دی بی دلیله دی باقی دحضرت شاه صاحب فتویٰ ورومبی خوددی ثبوت اوصحت دپاره دسندصحیح یادتواترضرورت دی وانی لناذالك – دویم داتحریرمجتهدانه دی نودشاه صاحب اجتهاد دفقهاؤ داجتهاد خلاف حجت نه ګرځی اودغه شان که چرته هغه مسلك دصوفیانوهم ثابت شی بیاهم مسائل ظاهره کې فقهاؤ متبوع دی فقط (۲۲شوال ۱۳۳۵هـ/تتمه خامسه اص۲۸)

دفع تعارض کلام امام شعرانی وکلام فقهاء درباب انکارعلی السائل بغیرحق

سوال: (۵۱۴) علامه الوهاب شعرانی په البحرالمورد کې لیکی (اخذعلینا العهد) ان لاندع احدامن اخوتنا ینکرعلی احدمن الفقراء ربما یریدون ان یحملو اعنهم انواعاً من البلاء یطفؤ اعنهم بحارا من الخطایاوفی الحدیث هدیة الله للمومن وقوف السائل علیٰ بابه وکان محمدبن الحسین ؓ اذارأی سائلاعلیٰ بابه یتبسم فی وجهه ویقول له مرحبالمن یحمل زادی الی الآخرة بغیراجرة وکذلك لایمکن اصحابنا من قولهم هؤلاء قادرون علی الکسب فیحرم علیهم السؤال لان ذلك حجة فی البخل وقدکان رسول الله ﷺ یعطی السائل وان کان غنیاً ویقول للسائل حق وان جاء علی فرس وربماکان هذاالسائل من لم یقسم الله عزوجل له حرفة فی دارالدنیا غیرالسؤال تعالیٰ والعبادة الخ) دشیخ داعبارت زمونږ دمشایخورحمهم الله نه بالکل خلاف معلومیږي خوددلائلو په اعتبارسره کلام دشیخ قوی معلومیږي – اوداهم بالکل صحیح دی چه فقیرته داوئیل اووروستو کول چه ته غټ پټ یې خان ته ګټه اکثروختونو کې حجت دبخل ګرځی فماقولکم رحکم الله فی ذالك جزاکم الله خیرالجزاء؟

جواب: دشیخ ؒ په کلام کې اوزمونږ دفقهاؤ اومشایخو په کلام کې څه تعارض نشته اوددواړو دعوی صحیح دی اوهریو سره قوی دلیلونه دی دشیخ ددلیل قوت خو په خپله سوال کې مسلم دی اودفقهاؤ ددلیل دوه مقدمی دی چه سوال داسی کس ته حرام دی للاحادیث الصحیحه – اوپه حرام باندی انکارمشروع دی اوعدم تعارض څکه دی چه دتناقض دشرطونو وحدات ثمانیه هم وی په هغی کې یووحدت شرط هم دی اوهغه دلته نشته شیخ

خاص په هغه صورت کې منه کوی چه کله دا انکاریو مفسدی او ارتکاب د منهی عنه طرفته مفضی وی لکه تکبر علی السائل وتفریت بخل- نو د تکبر یې داعلاج خودلی دی چه ده لره خپل محسن وګڼړي اګرچه د سائل قصد د احسان نه وی احسان خو په خپل حقیقت کې هم دغه احسان دی اګرچه د عدم قصد په وجه ملاؤته شی او د بخل یې داعلاج خودلی دی چه دی سائل کې استحقاق وګڼړي په دی وجه د هغوی قول ربما کان الخ کې نص دی او د استحقاق په احتمال باندی د دی سائل حدیث للسائل الخ په عموم کې داخل کیدل محتمل دی اګرچه په دی احتمال باندی عمل واجب یا جائز نه وی خو د احتمال علی الاطلاق د سائل د حرمان د جز خوانند ادکوی او داعلاج دی د بخل او چونکه حرمت د سوال غیر مستحق مسئله مشهوره ده په دی وجه د دی مرتکب نهی کول واجب خو نه دی غایت مافی الباب مستحب دی – او په خپله فقهاؤ لیکلی دی چه دا مستحب مفضی الی المفسده وي نو د هغی پریخودل واجب دی او دا مستحب غیر کامل د پاره مفضی دی تکبر او بخل طرفته په دی وجه د دی پریخودل واجب دی داشرح ده د کلام د شیخ – او فقهاء دی صورت کې انکار ته مشروع وایې هر کله چه دا مفاسد نه وی او اګرچه فقهاؤ دا قید نه وی لګولی لکه څنګه چه شیخ قید نه لګولی دی – خو د فقهاء قاعده افضاء الی المفسده د دی دلیل دی باقی چونکه د هغوی نظر دا سی مفاسد و طرفته کم ځی په دی وجه تعرض جزئی یې نه دی کړی فافهم- ۲۵ شوال ۱۳۳۵ھ (تتمه خامسه ص ۳۲)

رساله ملاحة البیان فی فصاحة القران

سوال :(۵۱۵) د اهل حدیثو د پرچی یوه تکره خدمت کې درلیږود خپل فرصت موافق د دی مضمون باره کې خپله اجمالی رائې پیش کړی د اصرف د خپل زړه د مطمئن کولو د پاره غوارم څه اخباری بحث و مباحثی سره می هیڅ تعلق نشته-

نقل د مضمون د تعاقب جواب

عملی مضمونونو کې اختلاف کیدل او علمی طریقی سره په هغی باندی خبره کول مستحسن او علمی طریقه ده د اهل حدیثو په اخبارونو کې د دی سلسله د ابتداء نه جاری ده مخالف مضمونونو ته هم ځای ورکولی شی نن هم د هغی نمونه پیش کیږي اهل حدیث ۱۸ رجب ۱۹۳۷ھ کې یوه فتوی لیکلی شوی وه کوم چه اصل د ضلع اعظم ګړه د یو عالم په حق کې وه

هغه لیکلی وه چه قران مجید کې بعض الفاظ غیر مناسب صرف د سجع په لحاظ سره راغلی وه د موصوف په حق کې ولیکلی شول چه دا د هغه علمی غلطی ده کفر فسق نه دی معاصر ((محمد)) دهلی په هغه باندی تعاقب وکړو د تعاقب الفاظ دا دی (مدیر) د ۱۸ جون اهل حدیث کې په صفحه نمبر ۱۳ سوال نمبر ۱۷۵ په جواب کې یې چه څه لیکلی دی زمونږ په خیال دیکې تسامح شویده لهذا فاضل مفتی صاحب که نظر ثانی وکړی نو ښه به وی د اصول زبان حیثیت سره بعض الفاظ قرانی لره وئیل د سور تونو نومونو ته په ځای د رهبری غلط خیال پیدا کولو او الاوئیل سیوا د دهریت د رهنمائی نه او د خپل د پخیریت (د سر سید احمد خان مقلد) د اظهار نه او د خلقو د زړونو نه تعظیم د قران لری کولو نه په څه نیک نیتی باندی نه شی حمل کیدی بیا د نسبت علم خو هیڅ ته هم نشته شرعی فتوی خو په ظاهر خبره کوی بس د دغه کس علمی غلطی سره د هغه فسق او فجور هم په دیکې داخل دی والله اعلم (جواب مرحوم اهلحدیث) اخبار اهلحدیث ۱۸ جون صفحه ۱۳ کې په سوال نمبر ۱۷۵ کې په قران کې د سجع د پاره د غیر النسب لفظ مستعمل کیدل او د سور تونو د نومونو د مضمون سوء طرفته د رهبری نه کولو چه کوم جواب ورکړی شویدی په هغی اخبار محمدی دهلی یکم جولائی ص ۱۲ کې تعاقب کړی شویدی چه داسی خیال د دهریت او پخیریت او د فسق او فجور دی الله تعالیٰ دی معافی وکړی فاضل متعاقب نه په دیکې سخته تسامح شویده دلویو صحابو نه ﷺ نه صرف په سجع او خواصو کې بلکه د ایتونو د حوائجو او د اوساطو د بعضو الفاظو باره کې داسی قسم قول نقل شویدی ابن عباس ﷺ فرمائې چه ایت د سوره رعد افلم یئس الذین امنوا کې د افلم یئس په ځای افلم یتبین مناسب وه وقفی ربك (الاسراء) په ځای ووحی ربك بهتر وه حضرت عائشه ﷺ فرمائې ه د سوره نساء ایت والمقیمن الصلوة والموتون الزکوة کې اصل زبان په زور سره المقیمون ډیر مناسب وه د مائدی ایت والصائبون کې الصابیئن به وه ځکه چه دان په اسم باندی د عطف کیدو وجه نه ددی مرفوع کیدل غیر مناسب دی د دوی حوالو د پاره وګوری الکلمات الحسان فی الحروف السبعة للقران (طبع مصر) د حضرت اسماعیل ﷺ په شان کې راغلیدی وکان رسولا نبیا. چونکه د هر رسول نبی کیدل لازمی دی په دی وجه د نبی لفظ دلته زیاتی دی صرف د سجع د پاره راغلیدی ص ۲۹ (المثل السائر) حافظ سیوطی په الاتقان کې د ایت لا تجد لك علینا تبیعا په باره کې نقل کوی الاحسن الفصل بینهما الخ (ج ۲/ ص ۱۱۵) یعنی زیات ښه وه

چه دواړو مجرورونه لك او علينا جدا جدا كړيشي خو د سجع او د فاصلې د رعايت د وجه نه يې دواړه مجرورونه يو خاى جمع كړيدى او تبيعاً يې وروستو ذكر كړيدى بيا يې شلويښت مثالونه په قران كې داسې ليكلي دى چه په هغې كې يې د قافيه رعايت د پاره د اصول زبان خلاف ورزى كړيده د سوره طه ايت لايخرجنكمامن الجنة فتشقى راغليدى د اصول زبان په روسره فتشيقان مناسب وه د سورة فرقان ايت واجعلنا للمتقين اماما په ځاى ائمة مناسب وه خو د فاصلې د رعايت په وجه دواړه ځايه د واحد صيغې او صورت كې يې بيان كړيدى (الاتقان ص ۲ ص ۱۱۴) په حديثونو كې هم ددى ډير مثالونه دى د حسين ﷺ د دعا كلمه اعيذ كما بكلمت الله التامات من كل شيطان وهامة كې د اصول زبان په روسره د لامه په ځاى ملمه ډير مناسب وه خو د سجع لحاظ كولو سره دغه لامه ډير مناسب دى فتح البارى كې راځي ، قال لامه ليوافق لفظ هامه لكونه اخف على اللسان ، يو حديث كې راځي ژنانو ته حضر ﷺ او فرمائيل او جعن مازورات غير ماجورات (او كما قال) د اصل زبان په روسره مازورات په ځاى موزورات ډير مناسب وه (الفائق) يو حديث كې راځي خير المال سكة مابورة ومهرة مامورة د اصول زبان په اعتبار سره مامورة مومرة كيدل پكار وه (الفائق للزمخشرى) صرف د سجع د رعايت د وجه نه يې اصول زبان پريخود و بس د سجع په لحاظ سره هم دغه ډير مناسب دى اګرچه د اصول زبان په روسره غير مناسب دى دغه شان د سورتونو د نومونو باره كې د صحابه ﷺ نه د ګڼرو نومونو ثبوت ملاويږي هغوى به فرمائيل چه سورة نساء په قران كې درې دى (۱) سورة بقره د اسورة نساء كبرى ده (۲) سورة نساء د اسورة نساء وسطى ده (۳) سورة طلاق د اسورة نساء قصرى يا صغرى ده ددى نه ښكاره ده چه د هغوى په نزد د سورة بقرى نوم د هغې پوره مضمونونو طرفته رهبرى نه كوى حضرت ابن عباس ﷺ به سورة انفال ته سوره بدره وئيلو سورع حشر ته به يې سورة بنى نضير وئيلى يې سورة توبى ته به يې سورة فاضحه وئيليه بلكه د سورة توبى د لسو نومونو نه زيات نومونه نقل شويدى (فتح البارى) او د سورة فاتحه خو ډير نومونه دى ددى ديوويشو نومونو فهرست مولانا سيالكوټى په خپل تفسير واضح البيان كې وركړيدى ددى نه علاوه نور هم ډير نومونه ليكلي شويدى د اګڼرو نومونه يې ددى مختلف مضمونونه يې مخ اينبى دى نو مقرر كړى دى په جلالين كې د بعض سورتونو نومونه څه بل شان ليكلي شويدى د هندى مطابع په مصحفونو كې څه نور او مصرى چاپونو كې څه نور او اتقان كې راځي يسمون الجملة من الكلام والقصدة

بما هو اشهر فيها وعلى ذلك جرت اسماء سور القران (ص ۱۲۹) يعنى عرب د نثر او د قصيدو نوم په هغې كې يو مشهور نوم سره كيږدي دى اصول باندى د قران كريم د سورتونو نومونه هم دى بلكه د بائبل د صحيفو او اسفارو نومونه هم دې طريقې سره كيخودلى شويدى د ګلستان ، بوستان ، كريما ، مامقيمان نومونه هم د امضمون علمى دى او ډير وضاحت غوارى اخبارى ګنجائش او د هغې د كتونكو د طبيعت سترې والى دوېرى نه دى اندازه باندى اكتفاء كوم ولعل فيه كفاية لمن له دراية (د اخبار مضمون ختم شو)

جواب : (من المدرسة) قال تعالىٰ فى الكهف انزل علىٰ عبده الكتب ولم يجعل له عوجاً ، عوج مقابل دى د استقامت ديوشى استقامت دادى چه په هغې كې څه قسم نقصان نه وى بس عوج عام دى هر نقصان له او د انكره ده لاندى د نفى بس هر قسم عوج منفى شو او دى بنياد باندى روح المعانى كې ددى د اتفسير كړيدى اى شيئامن العوج باختلال اللفظ من جهة الاعراب ومخالفة الفصاحة وتناقض المعنى وكونه مشتملاً على ماليس بحق اوداعيا لغيرالله اهـ وقال تعالىٰ متحدياوان كنتم فى ريب ممانزلنا علىٰ عبدنافاتوابسورة من مثله ، دى نصوص قطعيونه د قران مجيد د هر قسم نقصان نه پاك كيدل او دى پاكوالى كې دى معجز كيدل ( ) غليدى بل داچه په دى باندى د ټول امت داسې اجماع ده چه د عقيده د داسې درجې د ضروريات د دين نه ګڼرلى شي چه ددى په انكار باندى بالاتفاق د كفر حكم كولى شي او ايمان والا خو په خپل ځاى پاتې شول - د قران مجيد ددى اعجازى كمال اقرار هميشه د كافرانو هم كړيدى كه چرته نعوذ بالله ديكې ذره قسم هم نقصان وى نو ايا دوى به غلى پاتې شوى وي او څه رنګ چه ددى په اعجاز باندى د انصوص دليل نقلى قعطى دى ثبوتاً هم دلالةً هم دغه شان ديو يو د اساطين كلام عجزددى دليل عقلى قطعى هم دى ثبوتاً هم دلالةً هم او قاعده متفقه عليه په مابين د اهل ملت او په مابين د اهل عقل ده چه د داسې قطعى معارض داسې قطعى خو كيدلى نه شى لاستلزامه الجمع بين النقيضين كه چرته ظنى وى نو كه چرته د معصوم نه نقل شوى وى خو ثبوت انكار د روايا تو غلطى سره واجب دى او د دلالت تاويل واجب دى او كه چرته د غير معصوم نه وى كه چرته هغه محل د ښه ګمان نه وى نو رد او ابطال يې واجب دى او كه چرته محل د ښه ګمان دى نو سند كې جرح يا تاويل غوره دى ددى مقدمې د تمهيد نه وروستو چه څو مره روايتونه او قولونه موهم د تعارض او موندلى شى يا خو هغه معارض دى نه - لكه د بعض كلماتو د اصولونه خلاف كيدل ځكه چه حقيقت كې هغه د مطلق اصولو خلاف نه

دی صرف دمشهوراصولو خلاف دی نوداصولو انحصار کول په مشهوره کې داپه خپله غلط دی اکثر خو ددی مقابل نوراصول هم موندی کیږي او که چرته بالفرض مطلقاً داصولو خلاف هم ثابت شی اګرچه دافرض تقریباً باطل دی خو دی ته دفرض کولو نه وروستو هم داصولو تدوین ته به ناقص اووئیلی شی داصولو مخالفت سره اعتراض نه شی کیدی ځکه چه اصول په خپله دفصحائی اهل لسان دکلام په تتبع او کوشش سره جمع کولی شی فصحائی اهل لسان دهغی تابع نه وی اوددی په منلو کې هیچاته کلام نه شی کیدی لکه څنګه چه اصول فقه دمجتهدینو فروعاتو نه مستنبط کیږي مجتهدین خپل فروعات په دی باندی نه منی کوی یاکه چرته معارض وي نو واجب الردیا ماول دی دی تحقیق کلی سره دتولو جزئیاتو فیصله کیږي بعضی جزئیات دمثال په طور هم ذکر کولی شی مثلاً دفاصلو رعایت سره اصولو مخالفت لکه صرف دبعضو اصولو مخالفت دی دمطلق اصولو مخالفت نه دی ځکه چه دیو رعایت تقدیم داهم دی یو صحیح اصل دی کما صرح به الاتقان نوع ۵۹ فصل ۲ . اودا په هغه وخت کې دی چه کله صرف دغه رعایت موجب وی خو په خپله هم دغه کې کلام دی قران مجید کې بی شمیره ځایونه داسی دی چه په فاصلو کې دسجع سلسله شروع کړی اویوایت کې سلسله ماته شی اودهغی نه پس بیادوباره شروع شی دي نه معلومه شوه چه صرف رعایت دفاصلو ددی مخالفت داعی نه دی بلکه دیکې نورهم ډیر اسباب شته په دی وجه داتقان نوع نه پنځوس کې دداسی مثالونو نه لس په عنوان دتنبیه ابن الصائغ قول یې نقل کړیدی لاتمنع فی توجیه الخروج عن الاصل فی الأیات المذکورة امور اخری مع وجه المناسبة فان القران کماجاء فی الاثر لاتنقضی عجائبه . اومثلاً دابن عباس ؓ نه هم یو داسی روایت نقل شویدی دهغی په نسبت ابوحیان وائي ،من روی عن ابن عباس ؓ انه قال ذلك فهوطاعون عن فی الاسلام ملحدفی الدین وابن عباس ؓ بری من ذلك القول (کذافی روح المعانی تحت قوله تعالیٰ حتی تستانسوا مع کلام علی بن حیان والذی تکلم اختار توجیهاًاخر . اومثلاً هم ددغه شان روایت متعلق روح المعانی کې دافلم ییئس الذین امنوا دلاندی وای اماقول من قال انماکتبه الکاتب وهوناعس فسوی اسنان السین فهو قول زندیق ابن ملحد علی مافی البحروعلیه فروایة ذلك کمافی الدرالمنثور عن ابن عباس ؓ غیر صحیحة .اودی دغیر صحیح کیدو یوه قرینه داهم ده چه اتقان نوع

شپږ دیرشمه اودریم فصل دلسم سوال په جواب کې په خپله ابن عباس ؓ نه ددی خلاف نقل شویدی دغه شان دهرمقام متعلق خاص خاص تحقیقات دی دهغی ذکر موجب داوږدوالی اوداجمال مطلوب فی السوال خلاف دی اویو دهغه ټولو روایتونو مشترک جواب دی هغه خپل تفسیر بیان القران عربی حاشیې متعلقه ایت حتی تستانسوا انه نقل کوم ،والذی تحرر عندی فیه وفیما اوردمن امثاله علی تقدیر ثبوت هذه الروایات ان هؤلاء ؓ سمعوا القرأت التی اختاروها من رسول الله ﷺ ولم یستمعو االقرأت الموجودة ثم ان تلك القرأت التی نسخت ولم یبلغهم الخبر فداوموا علیها وانکروا غیرهما لمخالفة ظاهر القواعد وعدم سماعه کماکان ابوالدرداء یقرء والذکر والانثیٰ وکانت عائشة ؓ تقرأ خمس رضعات اهـ ، اودسورتونو دنومونو دشمیر خوپه دی بحث کې څه دخل نشته- دیکې تعارض څه دی خو په دی نومونو کې کوم یو ته غیر مناسب وئیل بدعت شنیعه دی ځکه بعض نومونه په خپله صحیح مرفوع احادیثو کې راغلیدی لهذا داحادیثو دداسی ځایونو جواب هم ددغه اصولو نه معلومیدی شی لکه موزورات په ځای مازورات فرمائیل داهم په یو اصل کې داخل دی ددی اصل اصطلاحی نوم دی ازدواج کذافی القاموس ولنسم هذا المجموع ملاحة البیان فی فصاحة القران (اشرف علی .للسادس والعشرین ذی تعدہ ۵۲ھ)

ضمیمه موضوعه ازمفتی مدرسه

بهرحال چه څومره روایتونه دتعاقب په جواب کې ذکر شویدی چونکه هغه ظاهراً دالله دارشاد انزل علی عبده الکتاب ولم یجعل له عوجا معارض او په قران کې نقصان لره مستلزم دی په دی وجه اصول حدیث دمقتضا موافق دی ټولو باندی رد کول واجب دی لکه دبعضو روایتونو غلط او موضوع کیدل تفسیر روح المعانی نه یې هم نقل کړل دغه شان ښکاره خبره داده چه نورو روایتونه په هم غلط او مخترع وی که چرته دهغی درجالو اوراویانو نه بحث وکړیشی نو امید دی چه داحقیقت واضح شی بس کوم سړی چه ددی روایتونو په بیناد باندی دتعاقب جواب ورکوی دهغه په ذمه ددی روایتونو صحت ثابتول لازم دی .ودونه خرط القتاد ، بغیر ددی نه دی روایتونو نه داسی مضمونونو باندی استدلال کول دکوم نفی چه په خپله دقرا اوداجماع اوتواتر عقلی اونقلی نه ثابت شویده هرګز جائز نه دی او پس دثابتولو دصحت نه دهغی جواب هغه دی کوم چه بره مفصلاً بیان شوبس

دچاداوېناچه بعض ځايونو کې صرف قافيه اوبندش دپاره قران کې غيرالنسب لفظ مستعمل کېږي يقيناً ډېره سخته خبره ده ددې اوريدل هم سړی نه شي برداشت کولی اوځومره عبارتونه چه دتعاقب په جواب کې نقل کړی شويدی ديوهم دايقيني مدلول نه دی چه صرف قافيې اوبندش دپاره په قران کې غيرالنسب لفظ استعمال کړی شويدی دغه شان دسورتونودنومونودشميرنه چاته انکارشته خوداوئيل چه موجوده نومونه دسورتونودقران په ځای درهبری غلط خيال پيداکوی ډېره زياته بده اوشنيعه خبره ده ددې اوريدل هم سړی نه شي برداشت کولی اويقيناًدقران دعظمت اودحرمت حفاظت دزيداوعمرو راويانودعظمت اودحرمت ډېرزيات لازم دی اودداسې بدواوشنيعوکلماتودحمايت دپاره که چرته په موضوع اوضعيفورواياتوباندی اعتمادوکړيشي نودزنديقت اودالحاددروازه به کولاؤ شي ځکه چه زنديقانووضّاعينواوکذابينوډېرروايتونه اوحديثونه جوړکړيدی بل داچه کافران به مسلمانانومقابله کې داحجت وګرځوی په دی وجه روايتونوکې تحقيق دسنداوتنقيح درجالودامت عالمانوواجب فرمائيلی ده انتهت الضميمه ا النور ذی الحجه / ۵۷ھ / صـ ۱۷

دمرګ نه وروستوداولياء الله دکرامتونواثبات

سوال :(۵۱۶) داولياء الله دمرګ نه وروستوکرامت دشريعت نه ثابت دی يانه زه ددی قائل ځکه نه يم چه په ژوندکې چه داولياء الله کوم کرامتونه صادريږی هغی نه مخالفين نيغه لاره اختياروی اودمرګ نه وروستودامنشاء فوت ده څوك چه دکرامت قائل نه وی ګنهګاردی يانه ؟

جواب : حديث کې دحضرت نجاشیؓ په قبرباندی دنوربنکاره کيدل راغليدی داصفاکرامت دی اوکوم دليل بې چه دنفی ليکلی دی په خپله داقابل دنفی دی ځکه چه وړومبی خودی حکمت کې دانحصارڅه دليل نشته دويم دهغوی کرامت کې هم داحکمت دی چه دی سره به هدايت اوموصی اودژوندونه به نيغه لاره تلاش کړی اومنکرکرامتونه بدعات دی ا تتمه خامسه / صـ ۱۴۵

رفع شبه درشبهات امام حسينؓ

سوال :(۵۱۷) دامام حسينؓ شهادت صرف تقليد اللشيعه حضرات اهل السنت والجماعت منی يادی څه دليل شرعی هم شته زماناقص خيال کې خوپه دی باندی څه دليل شرعی نشته اوصرف دشيعه ګانودتقليدوجه نه داخبره منلی کيږي ځکه چه صرف خان ورکول شهادت نه دی بلکه خان ورکول دپاره داعلاء کلمة الله شهادت دی ،کماقال ﷺ من

قال فی سبيل الله لتکون کلمة الله هی العليا ،اودکربلاپه جنګ کې داخبره چرته موندلی شي هلته خوصرف داخبره وه چه ديزيدلښکرديزيدپه حکم دااوغوختل چه تاسوپه يزيدی سلطنت کې داخل شی اويزيدبادشاه دوخت اومنی خوحسينؓ يزيددوخت بادشاه اونه منلواوصفاانکاريې وکړواودايې اوفرمائيل اماعندی لهذاجواب، نوداسې صورت کې ديزيدلښکر که چرته دسياست نه کارنه اخستی نوڅه به يې کول ځکه چه اسلام کې هم سياسی حکمونه موجوددی اوسياست اقتضاء خوهم دغه ده چه څوك دوخت دبادشاه دسلطنت نه انکاروکړی اودبادشاه مقابل جوړيدل غواړی نوهغه اووژنی په صحاح ستة کې تقريباً ددی الفاظوحديث موجودی ،اذا اجتمع امرکم علی احدثم جاء الاخريدعی الامر فاضربوا عنقه ،يعنی هرکله چه امرسلطنت په يوکس باندی جمع شی اوسلطنت هغه اختيارديوپه قبضه کې راشی اودهغی نه وروستويوبل سړی دهغی مقابل جوړيدل اوغواړی نودهغه څټ اووهی اوديکې شك نشته چه احکام دشريعت عام دی اهل بيت وغيره ټول په ديکې يوشان شامل دی بس که چرته ديزيدلښکردی حديث باندی عمل وکړواوامام حسينؓ کوم چه دهغه مقابل جوړيدل غوختل نوهغوی چه څه وکړل بې ځايه يې وکړل ځکه چه امام حسينؓ دمکې معظمې نه دی خيال باندی تلی وه چه تخت به راته نصيب شي سره ددی نه چه ابن عباسؓ وغيره تجربه کارصحابه کرامو هغه منع کولواووئيل يې چه ته دکوفې والوپه خطونوباندی اعتماد مکوه – خوامام حسينؓ اونه منل اوکوفې والوچه ډېرخطونه هغه ته ليکلی وه چه تاسوراشی هرکله چه تاسوتشريف راوړی نومونږټول به تاسره شواويزيديان به اوباسواوتابه دبادشاهی په تخت باندی کينوؤپه دی وجه هغه دهغوی په خطونوباندی اعتمادوکړوخوکوفې والووفاونه کړه اوهيڅ هم ورسره ملګرتيارونه کړه په دی وجه کوفه لايعنی مشهوره شوه چونکه يزيديانوته پته ولګيده چه امام حسينؓ زمونږمقابلې ته راځی په دی وجه هغوی داچالاکی وکړه چه هغه يې کوفې راتلوته پرې نه خودوبلکه په لاره کې دفرات په درياب يې هغه پوری طرفته منع کړو- قسم قسم کوششونه يې وکړل چه امام حسينؓ يزيدلره دوخت بادشاه اومنی اودجنګ نوبت رانشی په دی وجه اوبه يې بندی کړی اوقسماقسم تکليفونه يې ورکړل دی دپاره چه امام صاحب په څه طريقه اومنی اودجنګ موقع مينځ کې رانشی هرکله چه يزيديان مجبوره شول نوهغوی عملاً بالحديث دغه سياست نه کارواخستونواوس شهادت څه رنګه راغی اوداهم نه شي وئيلی

کیدی، چه یزید دوخت بادشاه منل جائزنه وه په دې وجه امام حسینؓ اونه منل اوخان یې ورکړوځکه چه یزید ډیروصحابه کرامو دوخت بادشاه منلی وه اوپه هغې کې ډیرداسې هم وه کوم چه په مرتبه کې په حکم دقران دامام حسینؓ نه لوې وه قال الله تعالیٰ لایستوی منکم من انفق من قبل الفتح وقاتل اولئك اعظم درجة من الذین انفقوامن بعدوقاتلوا، یعنی فتح مکه نه مخکې چه چامالی اونفسی جهاد کړیدې دهغوی مرتبه ډیره لویه ده دهغه خلقونه کوموچه دفتح مکه نه وروستونفسی اومالی جهاد کړیدی اودیکې هیڅ شك نشته چه امام حسینؓ اوحسنؓ دفتح مکه نه مخکې نه جهادمالی کړیدی اونه نفسی – ځکه چه دادواړه دفتح مکه نه مخکې ډیرواړه وه نوهغه صحابه کرام چاچه دفتح مکه نه وړاندې جهادمالی اونفسی کړې وه په حکم دقران مرتبه کې ډیراوچت دی اودیکې شك نشته چه ددغه صحابه کرامؓ نه ډیرد یزید په سلطنت کې شامل وه اوهغه یې بادشاه دوخت منلی وه. په دې وجه داوېناهم غیرممکن ده چه یزید بادشاه دوخت منل گناه کبیره وه اودی حدیث باندې (لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق) امام حسینؓ امام حسینؓ عمل وکړواوخان یې ورکړوځکه که چرته داسې اومنلی شی نوپه دغه صحابوؓ به دفسق الزام ولګولی شی داخبره هیڅ یوسنی نه شی کولی بس معلومه شوه چه یزید دوخت بادشاه منل گناه نه وه ځکه چه دادووخبرونه خالی نه ده یاخوبه یې فاسق مسلمان منی یابه یې کافر منی که چرته کافریې هم اومنی نودکافراطاعت هم فی غیرمعصیة الله په وخت دمجبوری کې جائزدی قال الله تعالیٰ لایتخذالمومنون الکفافرین اولیاء من دون المومنین ومن یفعل ذلك فلیس من الله فی شئ الاان تتقوامنهم تقٰه ،اودیکې هیڅ شك نشته چه دکربلاواقعې کې دیزید غلطی ته چه وګوری نوضروردا وئیل صحیح دی چه امام حسینؓ ته په دې ایت باندې عمل کول ضرورجائزوه خوهغه ولی عمل ونه کړودابله خبره ده چه دده باره کې راغلیدی سید شباب اهل الجنه ځکه چه ددې دشهادت سره هیڅ تعلق نشته اوداحدیث هم برتقدیردصحت په طوردعموم قابل نه دی ځکه چه صحابه کراموؓ کې ډیرزیات شباب وه کوم چه من انفق من قبل الفتح وقاتل کې داخل دی نودهغوی مرتبه یقیناً دامام حسینؓ نه اوچته ده اوداهم نشته چه شهادت باندې اجماع ده ځکه چه اجماع دپاره سند پکاردې (واین هو) داالبته ممکن دی چه ووئیلی شی چه دامام حسینؓ نه اجتهادی غلطی شویده په دې وجه هغه خان ورکړو- خودیکې زماکلام نشته زماکلام خودیکې دی چه مونږیه په کوم بیناد باندې دی شهید ګڼوځکه چه

دمجتهد غلطی صرف دهغه په حق کې کارراتلونکې دی چه کم نه کم یواجرهغه ته ملاؤشو- نوروډپاره حجت نشی جوړیدی فقط دجناب عادت شریعه دادی چه ضرورجواب ورکوی خوپته نشته چه په څه وجه باندې تاسوماته جواب نه راکوی بهرحال درخواست کوم چه جواب راکړې (بیرنګه یې راولیږه) جواب تفصیلی راکړې چه دوباره دتکلیف ورکولونوبت رانه شی-

کومه چه سائل نقل کړیده اوس په هغه بعضو کښ که هغه مقدس هستیانی هم داخل وی د کوموذکرچه سائل کړیدی یانه وی داخل - وروسټی صورت کښ عذردهغوی یاغلبه دحال ده په درجه دخروج التکلیف یااجتهاد اوقیاس علی مواضع الاستثناء دی - کمافی الدرالمختار،فلوللتنبه فلا باس به کمااذا ضرب فی ثلثة اوقات لتذکیر ثلث نفخات الصور الخ، وفی ردالمختار ، وهٰذا یفیدان آلة اللهولیست محرمة لعینهابل لقصد اللهو الیٰ قوله وفیه دلیل لساداتنا الصوفیة الخ (ج۵ ،صـ ۳۴۳، اودویم باندی تواترنسبت الیهم نه شی منلی کیدی بلکه دهغوی تقدس به ثابت بالتواتراودافعل منافی دتقدس کیدل بالدلیل به منواودی نه به نفی کوؤ اودغیرمقدس عوامو دفعل تاویل ضروری نه دی خصوصاً هغه عوام چه په هغوی کښ دقبیح لغیره کیدو په تقدیرباندی علت دتحریم هم متحقق دی دهغوی فعل نه به یقیناً فسق وایو ولعل ماحررته هومصداق ماقل ودل والحمد الله عزوجل (۱۹ذی قعده، ۱۳۴۳ھ، تتمه خامسه، صـ ۳۷۲)

جواز اطلاق لفظ خدائی برحق تعالیٰ

سوال :(۵۷۵) بسم الله الرحمٰن الرحیم: الحمدلله وکفٰی وسلام علی عباده الذین اصطفیٰ ،وبستر شدکم ایهاالعلماء بکتاب ربنافعلّموناعلمکم الله اجرکم الله ، قال الله فی القران المجید ولله الاسماء الحسنیٰ فادعوه بها وذروالذین یلحدون فی اسمائه سیجزون ماکانوا یعملون (ای عراف جزو۹ رکوع ۲۲) ای یمیلون فی شانها عن الحق الی الباطل امابان یسموه بمایوهم معنی فاسداً قاله ابوالسعود، **الوجه الثانی**- وهوقول اهل المعانی ان الالحاد فی اسماء الله تعالیٰ هوتسمیة بمالم یسمه به نفسه ولم یردفیه نص من کتاب ولاسنة وان اسماء الله تعالیٰ کلها توقیفیة کماتقدم فلایجوزفیهاغیرماوردفی الشرع بل ندع باسمائه التی وردت فی الکتاب والسنة علیٰ وجه التعظیم اه خازن وفتح البیان وترکوا تسمیة الذین یمیلون علی الحق ، والصواب فیها یتسمونه بغیرالاسماء الحسنیٰ وذٰ لك ان یسموه بما لایجوز علیه وان یقوله ایاسخی یارقیق لانه لم یسم نفسه بذلك، مملوك، وقال اهل المعانی الالحادفی اسماء الله تعالیٰ تسمیة بمالم یسم به لم ینطق به کتاب الله ولاسنة رسول الله ﷺ وجملة ان اسماء الله تعالیٰ علی التوقیف فانه یسمی جواداولایسمی سخیا وان کان فی معنی الجواد ویسمی رحیما رفیقاً ویسمی عالماً ولایسمی عاقلاً ،وقال الله تعالیٰ یخادعون الله

وهو خادعهم وقال عزمن قائل ومكروا ومكرالله ولايقال فى الدعاء يامخادع يامكاربل يدعى باسماء الله التى وردها التوقيف على وجه التعظيم فيقال ياالله يارحمٰن يارحيم ياعزيزياكريم نحوه ذلك معالم التنزيل وجمل حاشيه جلالين، اماقوله فادعوه بهافقيه دليل على ان الانسان لايجوز ان يدعوا ربه الابتلك الاسماء الحسنىٰ بعدان عرف معانيها اه قاله النيسابورى رحمه الله فى تفسيره ۱۲ المسئلة الرابع ،قوله تعالىٰ ولله الاسماء الحسنىٰ فادعوه بها يدل على انه تعالىٰ حصلت له اسماء حسنة وانه يجب على الانسان ان يدعوالله بهاوهذا يدل على ان اسماء الله توقيفية لا الاصطلاحية ممايؤكد هذا انه يجوز ان يقال ياجواد ولايجوز ان يقال ياسخى ولا ان يقال ياعاقل ياطيب يافقيه وذلك يدل ان اسماء الله تعالىٰ توقيفية لااصطلاحية ۱۲ تفسير كبير ، روح البيان ،فاطلاق لفظ (خدای پروردگار) ونحوه على الله تعالىٰ ودعائه بها جائزام لا ، ومامعنى قول المفسرين اسماء الله تعالىٰ توقيفية لااصطلاحية فلايجوزفيها غيرماوردفى الكتاب والسنة ، بينواتوجروا؟

جواب : من الاسماء التوقيفية علم ومنها القاب واوصاف وترجمة اللفظ بمنزلة فالاسماء العجمية ترجمة تلك الالقاب والاوصاف ولذا انعقد الاجماع على اطلاقهانعم لايجوز ترجمة العلم فالله علم والباقى القاب واوصاف بخلاف المرادف العربى للاسماء العربية لانها لاضرورة الى اطلاقها فلايوذن فيها اما العجم فيحتاجون الى الترجمة للسهولة فى الفهم هذا ماعندى ولعل عندغيرى ماهواحسن من هذا ا ذى الحجه/ ۱۳۴۳ھ/ تتمه خامسه/ ص ۳۷۳

بيان فرق دربيان انحناء للمخلوق وتقبيل يد

سوال :(۵۷۶) مخلوق ته دټيټيدو ته منع كړى شويدى اودلاسو او خپو ښكلولو اجازت وركړى شويدى حالانكه دواړه فرددى دتعظيم وجه دفرق څه ده؟

جواب : ورومبى دتقبيل تعظيم كيدل نه منو بلكه داتبرك دي يا انعام .اودادواړه مستلزم دتعظيم نه دى دزيتون ونى ته مباركه وئيلى شويده حالانكه معظم نه ده دميلمه يادقوم دكريم اكرام ماموربه دى كوم چه په خپل اطلاق سره كافرته هم شامل دى كوم چه معظم نه دى دويم داكه چرته تعظيم هم شي نومطلق تعظيم منهى عنه نه دى بلكه هغه تعظيم منهى عنه دى كوم چه شارع دمعظم عبارت تجويز كړيدى لكه سجود لله چه دالله دعبادت يوه طريقه يې گرځولى ده اودغه شان انحناءٌ لله يعنى ركوع اوقيام الله،بس داافعال يې دغيرحق تعظيم

دپاره ناجائزو گرځول اگرچه په قصد دعبادت نه وى ځكه چه صورت دعبادت دى په خلاف دتقبيل چه په ديكې هيڅ يوفرد دمقبل عبادت نه دى ځكه چه تقبيل دمعبود حق محال دى نوددى وقوع دسرنه ممكن نه ده اودغيرمعبود څه تقبيل كه چرته په طريقى ددیانت اوعبادت وى لكه تقبيل دحجراسود ياتقبيل دقران - نوداد مقبّل عبادت نه دى بلكه تقبيل غيرالمعبود للمعبود دى نودمخلوق په تقبيل كې دعبادت صورت رانغى بس په دى وجه دقيام ركوع اوسجد للمخلوق نه نهى كړى شويده اودمخلوق دتقبيل ولوللتعظيم اجازت يې وكړواواوريدل دپاره دراتلونكى الى وقت قيامه سره ; چه حقيقت ددى موافقت فى فعله دى دكوم بيناددمخالفت فى الفعل چه عرفاً ترك ادب كيدل دى وذالك الفعل كون القادم على حالة غيرمستقرة ; دى اشكال ونه كړيشى ځكه چه دى قيد سره دهغى هم څه فرددعبادت نشته البته بغيرددى قيدنه عبادت دى. په دى وجه قيام فى الصلوة كې داقيد يقيناً منفى دى ددى اجازت غيرالله دپاره نشته لكه قيام داعاجمو كې دامعمول وه ۲۳ ذى الحجه/ ۱۳۴۳ھ/ تتمه خامسه/ ۳۷۴

جواب شبه برقول موسىٰ عليه السلام رب ارنى الخ

سوال :(۵۷۷) دحضرت موسىٰ عليه السلام قول رب ارنى انظر اليك متعلق داسول پيداشو چه حضرت عليه السلام سوال ولى كړى وه حالانكه كلمه ربه سره هرقسم اطمينان كيده شارح تعرف داجواب كړيدى چه كلمه ربه سره بى خوده شود مقام غيبت نه يې داسوال كړيدى گوياچه دغلبه حال تاويل كړيدى كنى دمقدورد ناقابليت مسئله په هغه باندى ښكاره شوى وه اوس حضرت دخپل مذاق مطابق جواب راكوى يادغه جواب كافى دى كوم چه دابراهيم عليه السلام دسوال رب ارنى كيف تحى الموتىٰ كې وركړى شويدى،

جواب : حصول داطمينان خومبنى ددى مطلب گرځول بى دليله دي اونه دغلبه حال دتاويل څه ضرورت شته بلكه كلام سره يې انبساط وشوانبساط سره يې شوق پيداشواوشوق سبب ددى طلب شو- اودتاويل ضرورت طرفته كوم ته چه دى قول يې اشاره كړيده چه دمقدورد قابليت مسئله په هغه باندى ښكاره شوى وه .كيديشى مراد ددى نه داوى چه ممكن دپاره درويت امتناع هغه ته معلومه وه كه چرته دغه مراددى نوسوال دادى چه امتناع عقلى ده كه شرعى- كه چرته داووائي چه عقلى ده نونه منو بلكه باطل ده ځكه چه اخرت كې رويت ثابت دى اوامتناع عقلى اختلاف دموطن سره نه مرتفع كيږى كه چرته شرعى ورته اووائي نوددى علم دورود په شرع باندى

موقوف دی موسیٰ باندی دغه وخته پوری دلیل شرعی نه وه راغلی په دی وجه سوال جائزوه باقی داچه په جواب کې دلیل شرعی یعنی لن ترانی کافی وه دتعلیق باستقرار الجبل څه ضرورت وه زماپه تفسیر کې ددی جواب موجوددی (تتمه خامسه/ص ۳۹۲)

ایضاً

سوال :(۵۷۸) یوسوال می تیرشوی خط کې دموسیٰ علیه السلام ددرخواست درویت باره کې کړی وه دهغی شافی اوزړه راپوری جواب دحضرت طرفنه راغلی وه کوم چه په نسبت دنورو جواب ورکوونکو غوره وه – دکتابونو دمطالع نه معلومه شوه چه بعینه دغه سوال شیخ عبدالوهاب شعرانی دخپل شیخ سیدعلی خواص نه کړی وه اودشیخ اکبرنه هم چاکړیدی وه جواب اوسوال دادی – سالت رضی الله تعالیٰ عن قوله تعالیٰ عن موسیٰ قال رب ارنی انظر الیك قال لن ترانی . کیف سال الرویة فی الدنیا ورسول الله ﷺ یقول لن یراحدربه حتی یموت فهل علم مقام فی الرسالة یطلب الرویة فی الدنیاام لا واذالم یطلبها فهل قوله لن یراحد ربه نفی عام اوخاص ، فقال رضی الله عنه قدسئل الشیخ محی الدین رحمه الله عن مثل ذلك فقال هذا لا موسیٰ مارأی ربه حتی خر صعقامیتاً فراه فی صعقه قلت موتاقال موتا کمااخبربذلك ﷺ حین اجتمع به من طریق الکشف الروحانی- دخط کشیده عبارت څه مطلب دی اوایادا صحیح دی؟

جواب : مطلب دادی چه اګرچه نفی درویت فی الحیوة الدنیا کومه چه حدیث کې راغلیده عام ده ددی خلاف چرته هم نه کیږی خودرسالت پ مقاماتو کې یومقام داسی دی ، اګرچه هغه بعض رسولانوته ورکولی کیږی، چه په هغی کې درویت تقاضاکیږی ، نه بالمعنی المنفی فی الحدیث بلکه په دی طریقی باندی چه کوم ددی شرطونه دی هغه شرطونوسره درویت طلب کیږی ، په دی وجه موسیٰ علیه السلام هم دی شرط سره ولیده کوم چه حدیث کې ذکرشویدی یعنی پس دمرګ نه ، نوهغه په ژوندددنیاکې اونه شو، اوداصعقه دمرګ وه اودی لره هغه په خپله دموسیٰ علیه السلام نه روایت کوی، هرکله چه هغه سره یې روحانی اوکشفی ملاقات شوی وه داخودعبارت حل دی باقی داچه داصحیح دی یانه قران خوددی نه چپ دی اودڅه شرعی قاعدی خلاف نه دی خوکشف حجت قطعیه نه دی- په دی وجه دواړه احتماله شته صحت هم غلط هم (تتمه خامسه/ص ۳۹۳)

رداء کبرائی مانع ازرویت ذات حق نیست

سوال :(۵۷۹) عالمان داهل السنت والجماعت اودجناب په یووعظ کې می لیدلی وه چه هلته به هم رویت دپاره رداء کبرائی حائل کیږی کومه چه پرده ده دمانع عن الرویة للذات، محقیقن معتزله هم دغه وائي اوس زموږ دطرف نه څه جواب وی؟

جواب : رداء کبرائی مانع عن رویة الذات په اهل سنت کې چاونیلی وه داخودمعتزلومذهب دی اهل سنت دی رداء نه مانع ادراك کنه للذات وائي نه مانع عن الرویة- وشتان بین الرویة وادراك الکنه فنحن نری الشمس ولاندرك کنهه- (۲۸جمادی الاولیٰ/ ۱۳۴۴ه/ تتمه خامسه/ص ۳۹۴)

نه بودن تعطل صفات مبنی تجدد امثال

سوال :(ص۵۸۰) دامثالو دتجدد بنیاد دکشفی کیدونه علاوه په دی باندی دی چه تعطل دصفاتو ددی په نه منلو لازم راځی شبه مخکې دوجود کائنات نه به دتعطل څه جواب کوی الاداچه دقدم بالغیر قائل وی پل داچه قیامت کبریٰ کې چه کله هرشی فانی شی نوددی به څه تاویل وی؟

جواب : لزوم دتعطل بنیادګرځول ددی قول ددی هیڅ دلیل نشته که چرته چاداسی ونیلی دی یامحض غلط دی یاموؤل دی- فارتفعت الاشکالات کلها ، دادتعطل صفاتو محذور خوفلاسفو منتسبین الی الاسلام دقدم داثبات دپاره اختراع کړیده کوم چه بالکل باطل دی (۱۷ صفر/ ۱۳۴۴ه/ تتمه خامسه/ص ۳۹۴)

دملت بیضاء دشیرازه بندی په خاطرخپل اختلافات ختمول

سوال :(۵۸۱) دصدرمجلس داستقبالیی په حیثیت سره چه کومه خطبه دصدارت ماهغه وخت ونیلی وه- دعلماء کرامو په سرخی سره چه کوم مضمون ماپه هغی کې لیکلی دی غوارم چه حضرت خاص باندی هغه وګوری اوماته خبراکړی چه زما رائی کومه حده پوری صحیح ده؟

جواب : ذیرضروری دی خولږتفصیل غواړی یعنی په کومه عقایدوکې چه شرعاً ګنجائش دی په هغی کې نوروسره مطلق تعرض مه کوی لکه حنفی اوشافعی اختلاف اوپه کوموکې چه ګنجائش نشته لکه دشیعه ګانو اختلاف – دیکې خوچپ والی جائزنه دی خصوصاً چه کله سنی خلق هلته روان شی یاسنی خلق هلته څوك بوزی دغه وخت بیاتعرض ضروری دی

خوشفقت محبت خیرخواهي اونرمي سره- لکه څنګه چه خپل خوان خوی چه مریض وي بدپرهیزي کړي په کومه طریقه چه هغه دبدپرهیزي کې نه بدولي بس دغه شان طرز پکاردی هسي نه چه خپله کې دشمني پیداشي – اونوروداسلام مخالفینوپه مقابله کې کمزوري نه شو- توټ- خلاصه دمضمون دسرخي چه کومه سوال کې ذکرشویده زمامقصدصرف دادی چه دملت بیضاء دسلسلي قائم ساتلوپه خاطرخپل اختلاف ختم کړواومسلمانان ددی خطری نه بچ کړوکوم چه په موجوده کشمکش په صورت کې پیش کیدل ناګزیروي (النور شوال/ ۱۳۵۸ھ/ صـ ۱۸

جواب شبه تناقض دردوقول ابن همام

سوال:(۵۸۲) شیخ ابن اهمام په فتح کې بحث تسمیه في ابتداء الوضوء کې «لا» راوړی دی اودایي فرمائیلي دی چه لنفي الکمال مجازولنفي الاصل حقیقة ،اوبحث قرات فاتحه کې «لا» دنفي کمال (١)اونفي اصل کې مشترك فرمائیلي ده دواړوکلامونوکې تناقض دی،

جواب: تناقض باره کې که چرته فتح (٢)کې داسي وي صحیح خبره خودا ده چه مقصد داصلي دیومدعاتوجیه کیږي- یووخت یوه طریقه ذهن کې راشي بل وخت بله طریقه – اوداسي په ډیروتصنیفاتوکې شائع شویدی –خوطالب علم داجواب ولي خوښ کړو- په دی وجه دویم جواب داکیدلي شي چه دحقیقت اومجازفرق په اعتبارحقیقت لغویه دی –اواشتراك په اعتباردحقیقت شرعیه دی یعني په خپله نفي کمال دپاره په نصوصوکې دومره ډیره راغلي ده چه ګویاهغه هم په اصطلاح دشرعي کې په شان دحقیقت شو- بس دواړه حکمونه په مختلفواعتباراتوسره صحیح دی (٣١ربیع الاول/ ۱۳۴۴ھ/ تتمه خامسه/ صـ ۴۰۱)

---

(١) سائل دفتح القد یرپه عبارت باندی نه دی پوه شوی في الفتح وفیه انه مشترك الد الالة لان النفي لایرد الاعلی النسب لانفس المفرد والخبر الذی هومتعلق الجارمحذوف فیمکن تقدیره صحیحة فیوافق رایه اوکاملة فیخالفه، وفیه نظرلان متعلق المجرورالواقع خبراً استقرارعام فالحاصل لاصلوٰة کائنة وعدم الوجود شرعاً هوعدم الصحة اه – ابن همام په نظرسره اشتراك ردفرمائیلي دی نه داچه دهغي قائل شویدی ۱۲ لطف رسول-

(٢) داقیدیې څکه ولګولوچه مجیب دفتح عبارت نه دی کتلي ۱۲منه ختم

حکم عدم استحضار نیت ثواب درعمل

سوال:(۵۸۳) عرض دادی چه حضرت مونږه ډیرکارونه کوو په هغي کې هیڅ نیت هم نه وي صرف دکارارادہ وي آیاپه هغي کې به ثواب وي یانه نه دثواب دنیت خیال وي که چرته نه وي نوخیال ساتلودپاره څه تدبیرکول پکاردي-

جواب: اګرچه جزئیاً اراده دثواب نه وي مګرکلیاً خووي هغه کافي ده دویم مراد دثواب په نیت دعمل باندی دی مع عدم ارادة الدنیا- اګرچه هغي سره دثواب بالاستقلال اراده نه وي دانما الاعمال بالنیات هم دغه معنی ده البته که چرته دعمل نیت هم نه وي لکه په باران کې بدن لوندشویاغوپي وهلوسره لوندشو- نواودس وشوخوثواب یې ونه شو اوکه چرته قصداً یې اودس وکړواګرچه دثواب په نیت یې نه دی کړی خوشرط دادی چه ددنیاپه څه غرض یې نه دی کړی نوثواب یې کیږي (۱۲رجب/ ۱۳۴۴ھ/ تتمه خامسه/ صـ ۴۲۲)

دوعدی پوره کولوتحقیق

سوال:(۵۸۴) دوعدی پوره کولوباره کې راشبه پیداشویده چه آیاداواجب ده که مستحب -قران شریف اواحادیثوکې یې ډیرتاکید دی یوځای کې اوفوابالعهدان العهد کان مسئولا ،یوځای کې کبرامقتاعندالله ان تقولوامالاتفعلون ،راغلیدی چرته اوفوا بالعقود دی اودغه شان په احادیثوکې دوعدی دمخالفت ډیرسخت مذمت رغلیدی حتیٰ چه ایت المنافقین ثلث اذاحدث کذب واذاوعداخلف الحدیث موجوددی خوامام نووی اذکارصـ ۱۳۹ کې لیکي وقداجمعاالعلماء علیٰ ان من وعدانساناشیئالیس بمنهي عنه فینبغي ان یفي بوعده وهل ذلك واجب ام مستحب فیه خلاف بینهم ذهب الشافعي رحمه الله وابوحنیفة رحمه الله والجمهورالی انه مستحب فلوترکه فاته الفضل وارتکب المکروه کراهة تنزیهیة شدیدة ولاکن لایاثم وذهب جماعة الی انه واجب قال الامام ابوبکرالعربي المالکي رحمه الله رجل من ذهب الی هذا المذهب عمربن عبدالعزیزاه بقدالضرورة، دی نه معلومه شوه چه دجمهوراودامام ابوحنیفه رحمه الله اوامام شافعي رحمه الله په نزدوعدی مخالفت کولوسره نه ګنهګاریږي بیاداایت ان العهد کان مسئولاڅه مطلب دی اوایة المنافق څه رنګه خلاف وعده کیدیشي ، بینواتوجروا-

جواب: کوم حضرات چه دا مستحب ګڼړی هغوی مو همه د وجوب په هغه عهد وعقود باندې حمل کوی چه حقوق الهیه وی یاهغه حقوق العبادوی دکوم دعوض چه بل چا التزام کړیدی نو دعاقدینو حق بدلین سره متعلق شویعنی مبادلات یاهغه حقوق العباد دکوم نقصان سره چه دبل چانقصان وی یعنی دجنګ او دصلح معاملات او دایت کبرمقتامحمل دعوی دعمل او کذب عند الامتحان دی او دحدیث اذاوعد اخلف محمل نیت دی نه پوره کولو دوقت الوعد دی- والله اعلم ایوم سه شنبه / ۷شوال / ۱۳۴۴ھ / تتمه خامسه / ص ۴۲۳]

تحقیق متعلق رویت اسم محمد ﷺ درافق اسمان

سوال: (۵۸۵) حضرت مخدومنا ومعظمنا ومقتدانا مدظله العالی، پس دسلام مسنون نه عرض دی په ۲ فروری په کال د ۱۹۲۲م چه دهغی دوه میاشتی اوشپږ ورځی اوشوی زه په آله بادکې اوم – هلته داخبره مشهوره شوه چه کلی څه خلقو او دښار څه خلقو د ماښام نه وروستو په اسمان باندې مغرب طرفته لفظ «محمد» لیکلی شوی اولیدو، داخبره ډېره مشهوره شوچه اخبارو الو په پرچوکې شائع کړو ماته ددې خبر د صحیح کیدو خونه پوره طورباندې یقین وشو او نه می قطعاً په زړه کې انکاروه څکه چه دزمانې چه کوم حالت دی هغه ښکاره دی نن څلورمه پنځه ورځی وشوی دستامقام نه یوسړی راغی هغه په خپله ماته ددی واقعی تذکره داسی صراحت سره وکړه چه دغه برننی ذکرشوی تاریخ باندی دنمر پریوتو نه وروستو یونیغی خط پرقیدونکی ډیر تیزی سره دبجلی په شان ښکاره شو- هغی نه وروستو په هغی کې حرکت پیدا شودی حرکت نه مخکې میم دی نه وروستوح دی نه وروستومیم دی نه وروستو د دال لفظ پیدا شو- او په عربی خط کې د «محمد» ﷺ پوره نوم مبارك منقش شو تقریباً لس پنځلس منټه دا صورت قائم وه – مخکوان، ستنا، جیلپور، کتنی، مرواره وغیره ځایونوکې هندوانو عیسایانو، دنمر عبادت کوونکو غرض دهرقوم خلقو دومره کثرت سره ولید وچه ددی نه هیچاته هم انکارنشته لهذا امیدواریم چه ددی معامله کې حضورته چه څه تحقیق وی هغی باندې خبرداری راکړی چه زړه می مطمئن شی- او دانورخلق پری هم خبرکړم- چونکه داواقع یوډیره عظیم الشان او بالکل نوی ده په دی وجه خلق دخپل خپل خیال موافق په دی کې خبری کوی، خادم محمد عمر از چاټل ضلع آله اباد-

جواب: شعر "بشری فقد انجز الاقبال ماوعدا **** وکوکب المجدموافق العلیٰ صعدا

معنی باندې دڅه دلیل شرعی نه خوثابت نه دی- په دی وجه یو خاص مدلول باندې استدلال جازم نه شی کیدلی- لقوله تعالیٰ ولاتقف مالیس لك به علم الایة- خود قرائنو او اشاراتو سره کوم چه په نصوصو کې راغلیدی ددی دلالت دعلوشان ورفعت مکان حالا یامالا پرمظنون ضروری دی بعض نصوص مذکوره فی المواهب نشرالطیب نه نقل کیږی (۱) حاکم په خپل صحیح کې روایت کړیدی چه حضرت ادم ﷺ دمحمد ﷺ نوم مبارك په عرش باندې لیکلی شوی ولیدو والله رب العزت حضرت ادم ﷺ ته اوفرمائیل چه که چرته محمد ﷺ نه وی نو ما به ته نه وی پیدا کړی (۲) حضرت عمربن الخطاب ﷺ نه روایت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه آدم ﷺ نه خطایې وشوه هغوی دالله په دربار کې عرض وکړو چه ای زما پروردیګاره زه تاته دمحمد ﷺ په واسطه درخواست کوم چه ما معاف کړه- بس الله رب العزت اوفرمائیل چه ای ادام ﷺ تامحمد ﷺ څنګه اوپیژند وحالانکه تراوسه خو ماهغه پیدا کړی هم نه دی عرض یې وکړو چه ای ربه ماداسی اوپیژند وچه هرکله تازه په خپل لاس پیدا کړم او خپل (شرف ورکړی شوی) روح دی په ماکې پوك وهو نو ماچه سراوچت کړونو په عرش باندی دالیکلی شوی وه، لااله الاالله محمد رسول الله اخرالحدیث، روایت کړیدی دابیهقی په خپلو دلائلو کې دحضرت عبدالرحمٰن بن زیدبن اسلم په روایت او وی وئیل چه دی سره عبدالرحمٰن متفرددی او روایت کړیدی داحاکم او ددی تصریح یې کړیدی (دویم فصل) او داسمان فضاء اګرچه په درجه کې دعرش برابرنه ده خوپه اوچتوالی کې یوبل سره متشارك دی نو دی فضاکې ښکاره کیدل دحضور ﷺ دنوم مبارك دلائل مذکوره کې که چرته مماثل نه وی نو متقارب ضروری دی او ددی نه اخف آثار مخالفینو پوری هم په دلالت کې کافی ګڼړلی دی په دی وجه نشرالطیب کې دمواهب نه په روایت بیهقی او ابونعیم دحضرت حسان بن ثابت ﷺ نه نقل کړیدی - چه دحضرت ﷺ دپیدائش په شپه دسحرنه یو یهودی چغې شروع کړی خلقو او وئیل چه په تاڅه دی ویل چه داحمد ﷺ هغه ستوری نن شپه راختلی دی په کوم ساعت چه حضرت ﷺ پیدا کیدونکی وه (شپږم فصل) دغه شان دبعض واقعاتو دحضرت ﷺ ددشمنانو فنائی او غورزید وطرفته اشاره تولو موافقینو او مخالفینو ګڼړلی ده لکه دکسریٰ په محلاتو کې زلزله او دخوارلسو ښنګلو غورزیدل او دبحیره طبریه په یو ځل وچیدل او دفارس آتش کده مړه کیدل – کمارواه البیهقی وابونعیم والخرائطی وابن عساکر کذافی المواهب – دروس او دفارس دسلطنت ختمید وطرفته اشاره یې ګڼړلی ده (شپږم فصل

نشر الطیب، بس د اصول په غالب گمان سره دادی چه د اشاره وی د حضور اقدس ﷺ د دین د ښکاره کیدو او چتوالی طرفته. او غالبه دغه ده چه مقصود دی نشان نه د حضور ﷺ نوم مبارك دی او دی صورت کښې په ځای د اسماني نوم احمد ﷺ د زمکې نوم محمد ﷺ، کما ورد فی الحدیث، ښکاره کیدل د علو فی الارض طرفته اشاره ده او احتمال مرجوح داهم دی چه ددی نه د امام مهدی ﷺ نوم مرادوی کما فی الحدیث یواطی اسم والله اعلم باسراره وما اوتیتم من العلم الا قلیلا، ۱۱ شوال ۱۳۴۵ھ.

تصدیق مزید و توثیق اکید واقعه مذکوره سوال

بالا از خط مولوی حکیم محمد مصطفیٰ صاحب

بسم الله الرحمن الرحیم

بعد حمد وصلوٰة واحقر محمد مصطفی بجنوری میرٹھ محله کرم علی عرض کوی چه فروری کال ۱۹۲۷ھ م کښې د اخبر په اخبار کښې شائع شو چه مختلفو ځایونو باندی د ماښام نه وروستو په اسمان باندی د حضور ﷺ نوم مبارك ډیر په صفا حروفو کښې ولیدی شو. او ټولو اخباراتو کښې په دی شان شائع شو چه په یو وخت کښې یو شان طریقی سره داواقعه ولیدی شو- داواقعه په ۸ فروری ۱۹۲۸ مطابق ۵ شعبان ۱۳۴۵ھ پس د ماښام ده. ټولو اخبارونو تقریباً متفق اللفظ روایت کړیده، د دی اخباراتو نوم او نمبراو پتې نه وروستو لیکلی شی د لته مونږ هغه تحریر شائع کوو کوم چه مونږ ته ډیری معتبری ذریعې سره رارسیدلی دی بیان د هغی دادی چه زما یو دوست چه زه یې د ډیری مودی نه پیژنم او هغه سره می خط او کتابت کیږی په خپله د خپلو سترګو لیدلی شوی واقعه ماته ولیکله د هغې په جواب کښې ما ولیکل چه داواقعه د اسې نه ده چه صرف تالیدلی. ده اسمانی شهادت دی دا به په سوونو سرو هندوانو او مسلمانانو لیدلی. وی مهربانی وکړی ځو مره کسانو لیدونکی چه تاته معلوم وی د هغوی نه دستخط او ګوتی نخښه ولګوه او د لته رااولیږه نو هغه د پنځه ځلویښت کسانو چه چالیدلی وه تصدیق سره د نوم پته د پلار نوم او د ځای نوم وغیره سره رااولیږلو هغه ټولو کتونکو ته ښایو ددی مخلص دوست نوم اوپته داده ،غلام مرتضیٰ بن محمد علی صاحب مستاجر موضع مرهتی تحصیل دیوری ګورنمنټ بهوپال ، داصاحب ډیر دیندار او ذاکر شاغل سړی دی [illegible]ارونو مونه ددی په اخر کښې لیکو محمد مصطفیٰ مورخه ۱۵ شوال ۱۳۴۹ھ ، ۱۸ اپریل

۱۹۲۷م / روز دوشنبه ،خط نقل / واقعه ۱۵ شوال ۱۳۴۵ھ / یوم سه شنبه یعنی د پنځم ورځ ۸ فروری پس د ماښام نه مونږه په ځنګل کلی پراسیا پرګند جتهاری تحصیل دیوری ګورنمنټ بهوپال کښې داواقعه ولیده- مغرب طرفته کوم ځای چه یو ځلیدونکی ستوری راخیژی د غې ستوری سره نژدی یو ډیر روښانه ستوری مات شو او دغه ستوری نه لږلری یا شمال طرفته غائب شو کوم ځای چه د اروښانه ستوری مات شوی وه او کوم ځای چه غائب شوی وه هلته وروسته یو روښانه کرخه جوړه شوه د مار په شان پیاوړو وروهغه کرخه غځیده نو د هغې نوم مبارك ، محمد، ﷺ تقریباً د دغه صورت کوم چه ما جوړ کړیدی جوړ شو. هغه ډیر لوی وه په کاغذ کښې ورو کښې جوړ شویدی او د محمد ﷺ د میم نه یوه ډیره نری کرخه هغه ځای پوری لاړه کوم ځای چه ستوری مات شوی وه تقریباً نیمه ګهنټه یعنی دیرش منټو پوری دا نوم مبارك قائم وه بیا کمید و کمید و نو غائب شو ، او که موحضراتو چه داواقعه د ښکاره کیدو د نوم د حضور ﷺ لیدلی وه هغه دی لاندینی نقشه کښې خپل تصدیقی دستخط وکړی دی د پاره چه نورو ځایونو ته هم د اخبرورکړو فقط- المرقوم یکم ماه رمضان المبارك ۱۳۴۵ھ یوم یکشنبه راقم غلام مرتضی مستاجر کلی مرهتی تحصیل دیوری ګورنمنټ بهوپال، دی نه وروستو نقشه وه په هغې کښې د لیدونکو نوم د پلار نوم د کلی نوم او دستخط تصدیق وغیره لیکلی شوی وه اختصار د پاره په ځای د نقشې فهرست مو مسلسل عبارت کښې ولیکلو هغه فهرست دادی (مدیر)

[۱] غلام مرتضیٰ ولد محمد علی مستاجر موضع مرهتی تحصیل دیوری ،نمبردار-
[۲] انذر محمد ولد شیخ ننهی پتواری موضع پرتاب ګړه- دستخط هندی کښې
[۳] سید ناظم حسین ولد سید شاه فدا حسین صاحب پرتاب ګړه تحصیل دیوری-
[۴] صبیح الدین ولد مسیح الدین صدیقی موضع مرهتی تحصیل دیوری- دستخط طغری کښې
[۵] محمد مصطفیٰ ولد غلام مرتضیٰ شیخ صدیقی- موضع مرهتی تحصیل دیوری ،بهوپال-
[۶] سعید محمد ولد نظر محمد موضع پرتاب ګړه تحصیل دیوری بهوپال
[۷] مظفر علی پنشنر واصل باقی نویس ولد اصغر علی مرهتی تحصیل دیوری بهوپال-
[۸] محمد زمان خان صاحب ولد هومن خان، پرتاب ګړه دیوری بهوپال- دستخط په انګریزی-
[۹] حسن یار خان ولد محمد یار خان ناکیدار ساتر پرتاب ګړه دیوری بهوپال-
[۱۰] پنډت رګهونندن پرشاد ولد جودهیا پرشاد نائب مدرس مدرسه پرتاب ګړه مرهتی دیوری بهوپال

[۱۱] کنچهیدی لعل ولد چهتکی قوم بقال ،مرتهی دیوری بهوپال (دستخط په ناګری کې)
[۱۲] عبدالعلیم ولد عبدالکریم پرتاب ګرهـ دیوری بهوپال-
[۱۳] کنچهیدی لعل ولد راتهیا قوم کتوار ،مرتهی دیوری ،بهوپال (نشان دګوتی)
[۱۴] محمد بشیر ولد محمد اسماعیل طالب علم درجه ششم پرتاب ګرهـ دیوری بهوپال-
[۱۵] نهتو ولد سنګهـ چوکیدار موضع پرتاب ګرهـ مرهتی دیوری علاقه بهوپال (دستخط هندی)
[۱۶] احسان علی صاحب ولد یٰسین علی صاحب سائر متعینه پرتاب ګرهـ دیوری علاقه بهوپال-
[۱۷] جګت عبدالحمید خان صاحب ولد علی دادخان مارسټ کاره متعینه پرتاب ګرهـ-
[۱۸] جګت سنګهـ ولد ګجرام سنګهـ مستاجر یعنی نمبردار موضع پرتاب ګرهـ دیوری بهوپال (دستخط هندی)
[۱۹] محمد اسماعیل ولد شیخ امیر پرتاب ګرهـ دیوری بهوپال (نشان دګوتی)
[۲۰] سید حامد حسین صاحب ولد سید شاه فدا حسین صاحب کاشت کار پرتاب ګرهـ دیوری بهوپال-
[۲۱] امراؤ ولد نندارم قم لوهار مرهتی دیوری بهوپال (نشان دګوتی)
[۲۲] کاشی ولد بهورا قوم کمهار ،مرهتی دیوری بهوپال (نشان دګوتی)
[۲۳] هیرلعل ولد اندر قوم لوهار ،مرهتی دیوری بهوپال (نشاد ګوتی)
[۲۴] شیخ کلو ولد شیخ امیر پرتاب ګرهـ دیوری بهوپال-
[۲۵] ستیل پرشاد ولد میخی قوم بقال مرهتی دیوری بهوپال (دستخط هندی)
[۲۶] سکندر ولد کلا سنګهـ موضع پرتاب ګرهـ تحصیل دیوری بهوپال شهر ساګر سی پی علاقه انګریزی – (نشان دګوتی او دستخط)
[۲۷] منشی احمد حسن صاحب ولد سید شاه فدا حسین صاحب محرر انسپکټر سائر دیو لاپور سکنه پرتاب ګرهـ دیوری بهوپال
[۲۸] عبدالشکور ولد امام بخش سکنه موضع پرتاب ګرهـ دیوری بهوپال موضع دیوری تحصیل کیلی ضلع ساګر ،علاقه انګریزی –
[۲۹] چمن ولد امام بخش سکنه علاقه انګریزی وارد حال پرتاب ګرهـ تحصیل دیوری علاقه بهوپال موضع نیره متصل شهر ساګر علاقه انګریزی (دستخط هندی)
[۳۰] منو ولد پیربخش سکنه موضع پرتاب ګرهـ بهوپال مرهتی دیوری-

[۳۱] محب الله خان ولد عبدالله خان مستاجر بیکل پور تحصیل دیوری بهوپال (دستخط هندی)
[۳۲] شیو بخش صاحب ولد صاحب سنګهـ مستاجر موضع نګپوره تحصیل دیوری بهوپال (دستخط هندی)
[۳۳] سلیمان خان پوسټ ماسټر ولد مصاحب خان سکنه جتهاری-
[۳۴] عبدالجبار مدرس اول جتهاری سکنه جتهاری- ۱
[۳۵] شیخ دهنو ولد شیخ کالی کاشتکار جتهاری-
[۳۶] عبدالرحیم خان ولد مصطفیٰ خان کاشتکار جتهاری بریلی –
[۳۷] منشی اکرام الدین ولد محمد عبدالباقی سکنه بهوپال حال جتهاری-
[۳۸] اسماعیل خان ولد رسول خان مؤذن مسجد جتهاری (نشان دګوتی)
[۳۹] محمد شکور خان ولد نور خان سکنه جتهاری
[۴۰] شهزاد علی ولد اکبر علی سکنه جتهاری –
[۴۱] زین الدین ولد منوّ کاشتکار جتهاری-
[۴۲] شیخ جان محمد ولد شیخ ابونابینا جتهاری (نشان دګوتی)
[۴۳] رادی لال بلب بقال سکنه جتهاری (دستخط هندی)
[۴۴] پیاری لال سنار سکنه جتهاری (دستخط هندی کې
[۴۵] نرندا پرشاد ولید منشی ګیا پرشاد قوم کائستهـ سکنه چنوتیا ،مستقر جاګیر

زه هم ددی خبری تصدیق کوم چه دا برنی مضمون بالکل صحیح دی ما هم په دغه ورځ باندی په خپلو سترګو لیدلی. دی بلکه د شروع کیدو نه ترختمید و پوری می بنه په غور وکتو- هراکوم چه علامت دانوم د (حضرتﷺ) خو دلی شویدی او تقریباً یوی ګهنټه پوری حروف په خپله زیاتیدل د هغی نه چه کوم شکل پیدا شوی وه. هغه داوه (محمد) ماپه خپل قرائن علقی سره دا (محشر) ولوستلو- اګرچه د (س) نه ښکاره کیدو د وجه نه ددی نه بل لفظ هم جوړیدی شو خو بامعنی لفظ ددی نه بهتر زما په ناقص خیال کې نه راتلو او س کتونکی که چرته د بل لفظ بامعنی تصور کولی شی ډیره مناسب ده. دی عاجز د خپل خیال اظهار کړیدی دی نه چه کوم نتیجه اخستلی کیدیشی هغه دی دپوه خاوندان واخلی فقط [۱۳ مارچ/ ۱۳۲۷ه]
نوټ: که چرته داسی شوی وی تو ظاهره خو دغه ده چه وروغائب کیدو د پاره داسی تغیرات لازم دی خو که چرته داهئیت مقصد دهم وګڼړی نو دا محسر دی سین مهمله سره تحسیر بمعنی

الایقاع فی الحسرة- بس دا اشاره کیدیشی دی طرفته چه دانشان ستا بدخواوی چه په حسرت کې دی واچوی ۱۲ (اخبارات) ددی واقع خبروته «آئینه» دمیرتو اخبار، مورخه ۲۴ فروری ۱۹۲۹ء / کې څه اندازې سره جمع شوی چهاپ شویدی دجبلپوری ښار خبر په حواله دسیټهـ احمد علی رجب علی جنرل مرچنټ کمانیه گیټ جبلپوری دی او دبریلی په حواله دمنظور حسین اسپیشل ماستر بریلی- او دساگرنه په حواله محمد عباس خان محمد ابراهیم خان، مهتاب خان، دفعدار صاحب، فیاض خان، محمد شکور خان، عبدالحکیم صاحب، محمد اسحاق خان، عبدالله، بل دساگرنه په حواله داوسیدونکو دکلی کهوتی اوراحت گرهـ او میناجنگشن «ومره» او دمختلفو قومونو دسکهانو او هندوانو- اورانې پورته په حواله دنو محمد، عبدالشکور استیټ کنوره او ضلع رائی پورسی پی، او دبهوپال نه په حواله دمحمد لطیف کریم میډیکل افسر راشتن گورنمنټ بهوپال هغه په موټر کې په خپله لاړو او شلو میلو پروی یې تحقیق وکړو- بل دساگرنه یې په حواله دخورشید علی صاحب هم نقل کړیدی «مدینه» اخبار کې په ۱۳ فروری ۲۷ء په پرچه کې داخبر چهاپ شویدی او په ډیرو اخبارونو کې دکوم چه نومونه په دی وخت کې محفوظ نه دی داواقعه موجوده، تصدیقی مضمون ختم شو- ضمیمه:- تقریباً لس کاله وشول چه یو خای کې دیو مهی ښکاره شوی وه دهغې په روستو حصه باندی یو طرفته لااله الا الله او بل طرفته شان الله نقش شوی وه ددی تفصیلی واقعه په حسن العزیز څلورم جلد دمکتوباتو په حصی کې نمبر ۴۷۲ قومه ۱۲ محرم ۱۳۳۲هـ کې شائع شوی ده په هغې کې دشان الله څه توجیه نه ده ذکر شوی دی وخت کې ذهن کې راغې چه لری نه ده چه دحضور ﷺ لقب وی په دی معنی چه شان په معنی دقصد مصدر یعنی اسم مفعول مقصود دی دحضرت ﷺ مقصود ده حق کیدل ثابت دی تو هغه پخوانی واقعه هم ددی نوی واقعی په دی اعتبار سره نمونه وه چه دواړو نقشونو کې دبنده دکاریگری هیڅ دخل نشته او ددی مهی واقعی سره یو خای داسی واقع یوی اگی باندی دنوم مبارك نقش دضمیمی په طور په دغه رساله کې ذکر کړی شویدی – فسبحان الذی اقام الحجج التکوینیة مع الحجج التشریعیة من آیاته علی توحیدذاته رسالته محمد ﷺ مظهر صفاته والله (تتمه خامسه / ص ۵۰۸)

واقعات عجیبه درتصدیق رسالت نبویه

دشوال په میاشت ۴۵هـ کې دیو خط په ذریعه دنوم مبارك محمد مصطفیٰ ﷺ اسمان کې په پرقیدونکی حروفو کې لیکلی شوی معلوم شوی وه کوم چه دی تتمه کې ص ۵۰۸ باندی معنون په عنوان دایت ورفعنالك ذكرك، یو تازه او شاندار ظهور شائع شویدی او ددغه دوو تصویرو دمهی بله داگی حواله هم دضمیمه په طور ذکر ده کوم چه ددی نمونه ده چونکه والاندیشی دوه واقعی هم ددقبیلی نه دی لهذا داهم ددی مضمون دویمه ضمیمه جوړوه- (۱) مهاجر دیوبند ۷ جون ۲۸ء) دیو مهی بسم الله اور سورة فاتحی، دنابهه نه سید محمود صاحب افسر انچارج تارگهر نابهه اطلاع ورکوی چه ضعیف العمر سید صاحب درگاه پتم نه هلتی یو مهی راوړی دهغه په ملا باندی بسم الله او سورة فاتحه په عربی خط کې لیکلی شوی وه دنابهه تول (او سیدونکی او دنورو طرفونو نه په سوونو خلق دهغې کتوته راغی سید صاحب هغه مهی لره داعلیٰ حضرت شاه افغانستان په خدمت کې پیش کوونکی دی هغه په شمال هند بعض مقاماتو او دهلی طرفته هم تشریف اوړی (۲) ایضاً مهاجر دیوبند ۱۷ اکتوبر کال ۱۹۲۸ء. ټانمیز آف انډیا لیکلی چه داتو کالو خبره ده چه په زنجبار (افریقه) کې یو ناشنا مهی نیولی شوی وه دهغه په لکی باندی یو طرفته لااله الا الله او بل طرفته شان الله لیکلی شوی وه هغه یو هندوستانی په ډیر ارزان قیمت واخستو خو په کله داحقیقت ښکاره شو چه ددی مهی په لکی باندی داکلمات قدرتی طور باندی نقش کړی شویدی- نو خلقو کې ددی داخستو شوق پیدا شو- په وروستو ورځ دهغې قیمت دری زره پیش کړی شو په دویمه ورځ پنځو زروته او رسیده اخر دا فیصله وشوه دادی محفوظ او ساتلی شی زنجبار گزټ لیکی چه اوس ددغه قسم یو بل مهی ښکار کوونکی نیولی دی هغې لره هغه دبادشاه په خدمت کې دتحفی په طور پیش کړو بادشاه هغه لره پیش میموریل میوزیم (هغه عجائب گهر) کوم چه دصلح په یاد کې دژوندی ساتلو دپاره جوړ کړی شوی وه، کې ددا خلولو اراده وکړه ددی مهی په لکی باندی یو طرفته لا اله الا الله او دویم باندی شان الله لیکلی شویدی (تتمه خامسه / ص ۲۲۵)

ثبوت نفخ فی الماء بعدتلاوت ایات قرانیه برای شفاء

سوال :(٥٨٦) اوبو یامریض باندی چه دشفاحاصلو دپاره دقران ایتونه چف کولی شی داچف کول جائزدی یانه ، په کوم حدیث کښ چه دساه اخستلو ممانعت دی دی سره شبه دعدم جوازراځی ،

جواب : ابوداؤدعن ابن عباس ﷺ قا نهیٰ رسول الله ﷺ ان یتنفس فی الاناء اوینفخ فیه فی شرحه ای خوف بروزشئ من ریقه فیقع فی الماء وفیه فانه لایخلوا النفخ غالباً من بزاق یستقدرمنه، وفی المشکوٰة عن مسلم قالت (عائشة) کان اذا مرض احدمن اهل بیته نفث علیه بالمعوذات وفی الحاشیة عن المرقات فی النهایة النفث بالفم وهوشبیه بالنفخ وهواقل من التفل لان التفل لایکون الاومعه شئی من الریق، دابوداؤدشرح نه معلومه شوه چه نهی عن النفخ تعبدی نه ده بلکه معلل ده تحرزعن وقوع الریق نه ،اوبرکت دپاره چه کوم دم اچوی هلته ددی نه تحرزمقصودنه وی بلکه هغه برداشت کولی شی اودی غرض سره هغه برداشت کول دمسلم دحدیث نه معلومیږی بل دحدیث بسم الله تبرتنه ارضنابریقة بعضنا نه هم - بل دهغه حدیثونونه هم کوم کښ چه دحضور ﷺ دمضمضه اوبوبرکت دپاره اخستلی شوی وي اوبدن اوابو کښ څه فرق نشته هرکله چه په یومحل کښ بلاکراهت جائزدی په بل محل کښ بلاکراهت جائزدی ۔ ۲۹ ربیع الثانی/ ۴۷ ھ/ تتمه خامسه / صـ ۲۵۸]

جوازواپس گرفتن زربیمه موت بهرطریق که ممکن باشد

سوال :(٥٨٧) یوسړی دخپلی خوانبی بیمه دمرگ په فنډکښ کړی وه وروستومعلومه شوه چه داجائزنه دی باره کښ څه حکم دی ددی بیمی پنځه کاله شویدی تقریباً دولس روپی سالانه ورکولی شی .

جواب : واقعی دادسوداودجواری دجمع کیدودوجه نه حرام دی خوخومره روپی چه داخلی شوی دی دهغی وصولول په کومی حیلی اوعنوان سره چه ممکن وی جائز دی [۳۲۱ھ/ حوادث خامسه / صـ ۱۱]

تحقیق بعض عبارات متعلقه باخباراسلام حضرت زینب ﷺ

سوال :(٥٨٨) جنتی کالی اتمه حصه کښ صـ ۴۲ ذکردحضرت زینب ﷺ په دریمه کرخه کښ هرکله چه دامسلمانه شوه ددی اصلاح کول پکاردی څکه چه داجمله په دی دلالت کوی چه دامعصومه مخکښ نه مسلمانه نه وه والحال لیس کذالك کماهو - کم علمه دځه ناځه خیال کوی دادقلم دناسخ نه ده ماستادمشوری اواجازت نه بغیرد الفظ کټ کړیدی ددعاامیدواریم؟

جواب : ورومبی روایتونه وګوره ورومبی روایت . فصل فی حکمه ﷺ فی الزوجین یسلم احدهما قبل الاخرقال ابن عباس ﷺ لردرسول الله ﷺ زینب ابنته علی ابی العاص ابن الربیع بالنکاح الاول ولم یحدث شیئا رواه احمد ﷺ وابوداؤد والترمذی وفی لفظ بعدست سنین لم یحدث نکاحاً قال الترمذی لیس باسناده باس وفی لفظ کان اسلامهاقبل اسلامه بست سنین ولم یحدث شهادة ولاصداقاه شاق زادالمعاد بلفظ – روایت ثانیه : کان الاسلام قدفرق زینب بنت رسول الله ﷺ کان لایقدران یفرق بینهما فاقامت معه علی اسلامهاوهوعلی شرکة حتی هاجررسول الله ﷺ سیرة ابن هشام ،جلداول صـ ۳۷۷، روایت ثالثه : قال ابن اسحاق فاما القاسم والطیب والطاهرفهلکوا فی الجاهلیة (بناته فکلهن ادرکن الاسلام فاسلمن وهاجرن معه ﷺ سیرة ابن هشام جلداول صـ ۱۰۱ – روایت رابعه : قال بعضهم واشاصح اسلامه علیٰ مااجمعوا علیٰ انه لم یکن یبلغ الحلم لان الصبیان کانوا اذا ذاك مکلفین لان القلم انمارفع عن الصبی عام خیبروعن البیهقی ان الاحکام تعلقت بالبلوغ فی عام الخندق وفی لفظ وفی عام الحدیبیة وکانت قبل ذلك منوطة بالتمیزاه محلض مافی السیرة الحلبیة – روایت خامسه: وفی الکلام الحافظ ابن کثیر الظاهران اهل بیته ﷺ امنوا قبل کل احدخدیجة وزیدوزوجه زیدوام یمن وعلی رضی الله تعالیٰ عنهم ادرکن الاسلام فاسلمن اه مافی سیرة الحلبیة – نقل لی هذه الروایات کلها حی المولوی حبیب احمدالکیرانو - ددی روایتونونه ورومبی دویم دریم روایت کښ وکان اسلامها قبل اسلامه لیست سنین اوحین اسلمت اوفاسلمن دجنتی کالی په مضمون کښ نص دی اوکه چرته دبعثت په وخت کښ ددی عدم بلوغ ثابت شی نوددی داسلام دحکم استعباد څلورم روایت سره ختم شویدی باقی ددی مقابل څه روایت می نه دی لیدلی

ماسیوا ددی نه چه پنځم روایت کې دی حکم کې کذا یقال یې وئیلی دی. دې سره یې حرل یوه شپه راوستی ده کومه چه په مقابله رنص کې موثر نه ده والله اعلم [ترجیح خامسه / ص ۱۸]

تحقیق دبعض دحکایتونو

سوال :(۵۸۹) حضرت مولانا محمد صدیق صاحب مدظله فرمائیلی وه چه کله نه دحضرت په خدمت کې خط لیکی نو زما سلام هم ولیکه. او دا چه ما څوځله اراده وکړه چه ددی قصه باره کې ولیکم کومه دمرزا بیدل او ایرانی ده چه یو ایرانی فاضل دمرزا دتصوف مضامین وکتل او دهغه نه دفائدی حاصلولو دپاره راغلی وه او هغه یې ولیدو چه ږیره یې خرئیله نو رته یې ووئیل چه آغا ریش می تراشی الخ دا قصه می دحضرت دژبې په یو وعظ کې اوریدلی وه چه قتیل طرفته یې منسوب کړی وه. حالانکه دا دمرزا بې دل قصه ده قتیل خو هندو بچی وه مسلمان شو او بیا رافضی جوړ شوی وه دهغه خو تصوف سره هیڅ تعلق نه وه دا مضمون می دهغه دارشاد موافق ولیکلو.

جواب :زما سلام او دقصی دتصحیح شکر په ورته پیش کړه [ترجیح خامس / ص ۸۳]

تحقیق مضمون تظلیل غمام

سوال :(۵۹۰) خط دمولوی اسحاق بردوانی : دالامداد ربیع الثانی / ۳۲ھ / ص ۳۰ / مضمون دعدم انطل التظلیل الغمام متعلق عرض دی سید احمد وحلان رحمه الله فی السیرة النبوية والآثار المحمدیه کې [ص ۱۹۳] کې دحدیث هجرت ددی جملی دلاندی: حتی اصابت الشمس رسول الله ﷺ واقبل ابوبکر رضي الله عنه حتى ظل عليه بردائه الخ لیکلی دی ولا يرد ان تظلل الغمام يغني عن تظليل ابي بكر رضي الله عنه لان ذلك كان قبل البعثة ارهاصا للنبوة ﷺ ولم ينقل احد وقوع ذلك بعد البعثة اه ، ددی نه دحضرت دورومبی زمانی دیوه تائید کیږی او حدیث دزکوان که چرته ثابت هم وی نو ارهاص قبل النبوة باندی محمول کول ظاهراً څه لری نه دی؟

جواب : واقعی دیکې دا هم احتمال شته او دویمه توجیه هم کوم چه رساله کې ذکر شویدی محتمل دی دهغی حاصل دا دی چه سره ددی نه وریخ نه وه بیا هم دسیوری نه ښکاره کیدل او دنمر گرمی محسوس کیدل دهغی نه دبچ کیدو دپاره دابوبکر رضي الله عنه دسیوری حاجت راغی فقط - قرب [۱۳۳۲ھ / ترجیح الراجح خامس / ص ۹۵]

تحقیق بعض مقامات الاقتصاد

سوال :(۵۹۱) دیو صاحب علم خط، درساله الاقتصاد جواب دشلمی شبې باره کې ماددی شبې دجواب په باره کې دلیکلی وه چه غنیه ماته ملاؤ نه شوه هغه صاحب غنیه او کتله دجواب دپاره یې دالاندینی تقریر لیکلی دی وهو هذا.

جواب : شلمه شبه : فرقه ضاله مرجیه حنفیه نه مراد دلته دفرقه مرجیه نه یو داسی ډله ده چه خپل خان یې په طریقه دافتراء جناب امام ابوحنیفه رحمه الله منسوب کولو لکه څنګه چه دشرح مواقف دعبارت نه هم معلومیږی. کنی جناب امام ابوحنیفه رحمه الله خو جناب پیرصاحب په خپل دغه کتاب غنیة الطالبین کې امام منلی او دهغه اجتهاد دعوامو فائده ورسولو دپاره بیانوی لکه څنګه چه ص ۷۱۷ کې غنیة الطالبین مطبع اسلامیه لاهور فی باب الصلوة خطرها عظیم امرها جسیم کې فرمائی وقال الامام ابوحنيفة لايقتل الخ – نه معلومیږی (ترجمه او او فرمائیل امام ابوحنیفه رحمه الله چه هغه (یعنی پریخودونکی دمانځه) به نه شی قتل کولی بلکه قید کولی به شی الخ او دامام ابوحنیفه رحمه الله په مقلدین فقهاؤ باندی او دهغوی په مختلف فیه اجتهاد باندی دخپل یعنی دامام احمد بن حنبل مذهب والوا او دامام شافعی مذهب والو له انکار کولو نه منع کوی. چه انکار مه کوی او خپل مذهب نه په هغوی باندی ترجیح نه ورکوی ګویا چه په خپله کې یې یو ګڼړی (کما هو فی الحقیقة) څنګه چه ص ۱۱۹ / ۱۲۰ / باندی فی باب بالمعروف فصل والذی یومر به نه معلومیږی عبارت داسی شروع کیږی واما اذا كان الشيء مما اختلف الفقهاء فيه الخ (ترجمه، خو هر کله چه هغه څیز بیان دامرو غیره) دهغی څیزونو نه په کومو کې چه فقهاء اختلاف کړیدی او په هغی کې داجتهاد ګنجائش شته لکه څکل دنبیذ چه امام صاحب تقلید کوی او نکاح کول بغیر داذن دولی نه لکه څنګه چه مشهور دی دهغوی په مذهب کې خو نشته چاته هم چه کوم امام احمد او دامام شافعی په مذهب دی ددی (یعنی دغه ذکر شوی اجتهاد دامام ابوحنیفه رحمه الله او دمختلف فیه مسئلو) انکار کول – څکه چه امام احمد رحمه الله فرمائیلی دی دمرزوی په روایت کې نه دی جائز فقیه لره چه دی او چت کړی خلق خپل مذهب باندی او نه سختی وکړی په هغوی باندی الخ – ۱۲۰ بل مخکې بیان سره ددی نو رمی تصدیق کیږی مرجیه حنیفه سره مخکې پیرصاحب لیکی والمعاذیه دی نه دفرقه مرجیه داسی ډله مراد ده کوم چه خپل خان دافتراء په طور حضرت معاذ رضي الله عنه ته منسوب کوی (یوه وجه تسمیه دمرجیه کومه چه جناب

پیرصاحب لیکي چه لانهازعمت الخ – هغوی زعم وکړو چه تحقیق یو تکلیف ورکړو شو نه چه کله ووایي لااله الا الله محمدرسول الله او وکړی ددی نه پس گناه ونه په داخلیږی په دوزخ هرگز ۱۲ دادحضرت معاذ ﷺ نه روایت کړی شوی حدیث نه استدلال په غلط طریقه چه مرجیه کې کړیدی کوم چه حضرت معاذ ﷺ دوفات په وخت داقرارشهادتین باره کې فرمائیلی وه ددی دنسبت وجه حضرت معاذ ﷺ طرفته ظاهره کنی معاذ ﷺ دحضرت ﷺ دصحابو ﷺ نه دی اودهغوی اقتداء موافق ددی حدیث شریف بایهم اقتدتیم اهتدتیم عین هدایت دی اودهغوی مقتدی (صحیح) اهل سنت والجماعت- داخوواضحه شوه چه جناب پیرصاحب ددی دواړواصحابواقتداء کوونکی (نعوذبالله) مرجیه نه شمیرېږی بلکه دمرجیه داسی ډله بیانوی کوم چه بطریقه افتراء خپل خان دی حضراتوطرفته منسوب کوی اوخپل نوم مرجیه حنفیه معاذیه گرځوی فقط – [قرب ۳۷هـ / ترجیح خامس/ صـ۹۵]

تصحیح بعض حکایات مندرجه بعض مواعظ منقوله الامداد

سوال :(۵۹۲) مانن دالامداد متعلقه محرم ۱۳۳۲هـ نه فایده اخسته صـ۱۹ باندی دحضرت قطب عالم قدس سره العزیزپیدائش دحضرت مخدوم احمدعبدالحق ردولوی قدس سره العزیز دوفات نه دیرش کاله وروستوشوی وه اوریدلی می هم وه اوخه اوشوه انوارالعیون مصنفه حضرت قطب عالم قدس سره کې می لیدلی هم وه دجناب تحقیق احق الی الحق دی که چرته جناب ته داامرچه حضرت ممدوح یوه زمانه موندلی ده محقق دی نوماته هم خبرراکړی –

جواب :کومه قصه چه دی پرچه کې نقل شویده واقع کې تحقیق سره صحیح نه ثابت شوی ماخه موده اوشوه یادراته نه دی دچاڅېی نه می اوریدلی وه غالباً دروای غلطی ده یازماپه ذهن خلط راغلیدی ماددی نه رجوع کړی اودخپلو افلاطوپه فهرست کې می لیکلی ده کومه چه وخت په شکل دیورسالی مسمی به ترجیح الراجح په حصوکې شائع کیږی – جزاکم الله تعالیٰ علی اصلاحکم [ترجیح خامسه / صـ۱۰۲]

تحقیق بعض مقامات امواج طلب

سوال :(۵۹۳) درساله امواج طلب یدباغ طرب تمهید صـ۵ دویمه کرخه کې راخی اودابن عباس ﷺ قوال الخ – ددی باره کې عرض دی فی البخاری صـ۴۵۰ وقال عمر اذاقال مترس فقد امنه ان الله یعلم الا لسنة کلها اه – بس داثردعمربن الخطاب ﷺ دی اطلاعاً عرض دی

جواب : جزاکم الله دللتمونی علی الصواب [ترجیح الرجح خامس/ ۱۰۴]

تصحیح بعض حوالجات تفسیر

سوال :(۵۹۴) بیان القران نهم جلد صـ۱۵ اتلسمه کرخه کې یې دالیکلی دی ....ف سوره قصص اخری رکوع نه لړ بره الخ – حالانکه هغه ایت په سورة نمل کې دی اووصمت نامه کې می وکتل هلته هم تصحیح نه وه په دی وجه اطلاعاً عرض دی یازماپه ذهن کې عبادت نشته –

جواب : زمادلیکلو غلطی ده – جزاك الله تعالیٰ هذا التبیه [ترجیح خامس/ صـ۱۰۸]

تحقیق بعض حوالجات

سوال :(۵۹۵) الامدادپه باره دمیاشت ذی قعده ۱۳۳۸هـ امدادالفتاوی صـ۲۳ کې لاندینی مضمون «په باجوباندی دتحقیق یوزبررست گوزاردرج دی مولوی وحیدالزمان خودیرغصه شویدی خپل کتاب نزول الابرابرکوم چه په اهتمام دمولوی ابوالقاسم بنارس کې چاپ شوی دی دهغی په دیرشمه صفحه کې یې صفالیکلی دی چه په ودونو کې هرقسم باجه اوگاناصرف بهترهم نه بلکه واجب اوضروری دی اوڅوك چه ورته حرام وایې هغه گمراه دی انتهی- واقعی ډیردتعجب نه ډك اوافسوس ناك دی نزول الابرابردریمه صفحه می وکتله په عنوان دکتاب الایمان مضمون صفادباری تعالیٰ لیکلی شویدی حواله کې غالباً سهوه شویده دهغه کتاب مختلف مقامات می وکتل مضمون دحوالی می په نظرړانغله براه کرم دحوالی تصحیح وکړی کوم مضمون چه امدادالفتاویٰ دی هغه چرته اوگورو امیددی چه صحیح جواب سره خبرداری کړی ؟

جواب :من المولوی حبیب احمدصاحب برضاء صاحب الفتاوی کیدیشی چه جناب امداد الفتاویٰ په غورسره نه وی کتلی «مضمون» په باجوباندی تحقیق یوزبردست گوزار امرتسردااخبارالفقهیه دضمیمی نه ماخوذدی حضرت مولانادخپل ذاتی تحقیق په

بنیادباندې نه دی لیکلی اوحضرت مولاناپه دغه فتوی کښې ددې تصحیح هم کړېدې هغه فرمایي لږه زمانه شوه چه یو مضمون کوم چه داخبار الفقهیه امرتسر دضمیمې نه په ۵نومبر ۱۹۱۹ء کښې په عنوان په باجود تحقیق یوزبردست گوزار شائع شویدی دنظرنه مې تیره شوه الخ الامداد صـ ۲۲ موافق دمیاشت ذی قعده ۳۸هـ بس جناب داسوال داخبار الفقهیه نه اوفرمائي ماداصل مضمون لیکونکی ابواسحاق انصاری محمدآبادی نه والسلام ا ترجیح خامس / صـ ۱۱۰

دفع اشکال نسبت زمانه حج نبوی ووفات نبوی ﷺ

سوال: (۵۹۶) دنشرالطیب اتمه صفحه کښې یې لیکلی دی چه حضور ﷺ حجة الوداع ته تشریف یوړو اوددغه کتاب په صـ ۲۰۲ کښې یې لیکلی دی چه دحضرت ﷺ وفات دربیع الاول په شروع ۱۰هـ سنه کښې شویدی اوس ددې خبری تپوس کوو- هرکله چه حضور ﷺ اخری حج ذی الحجه ۱۰هـ کښې وکړو او ۱۰هـ ختم شوه بیادمحرم میاشت نه ۱۱هـ شروع کیږی نودوفات کال دحضرت ﷺ ۱۰هـ څه رنګه کیدیشی؟

جواب: دحجة الوداع دکال نه مراد صطلاحی دی دهغی ابتداء ددې محرم نه اوشوه کومه چه دزمانې دهجرت نه دوه میاشتې مخکښې وه اوکوم چه اوس هم متعارف دی اودوفات دکال نه مرادحقیقی دی دکوم ابتداء چه په خپله دزمانې دهجرت نه شوی. داخوداشکال جواب دی باقی دیکښې شك نشته چه دواړوځایونوکښې یې هم دغه اصطلاحی حساب اخستې دی اودلسویه ځای یوولس لیکلی دی دی دپاره چه ابهام نه راځی ۸۱ ربیع الاول / ۱۳۳۹هـ / ترجیح خامس / صـ ۱۱۲

تنقیدبعض حکایات مندرجه ذکرمحمودخلاصه سوال

سوال: (۵۹۷) پرچه النورجمادی الثانی ۱۳۳۹هـ کومه هره میاشت شائع کیږی په دی بغیردلحاظ اودتصحیح دخبرنه جناب دمرادآبادنمبر ۱۷ دیوواقع کومه چه دمولانا محمودالحسن صاحب مرحوم رحمه الله اومغفورپه سوانح عمری کښې لیکلی شویده اودیکښې یې بعض بزرگان داسی تلفظ سر یادکړیدی کوم چه دهغوی دشان نه بالکل لرې دی کومه واقع چه لیکلی ده په هغه جلسه کښې جناب شریك نه وه اوکوم حضرات چه هغه وخت موجوده اوس هم یکښې بعض ثقات ژوندی دی - جناب مولوی عبدالعلی صاحب مدرس مدرسه عبدالرب دهلی جناب مولوی عبدالدائم صاحب مراد ابادی جناب مولوی ظهورالحسن

صاحب رامپور جناب مولوی منورعلی صاحب محدث رامپورو غیرهم دی حضراتونه دی باره کښې نه تحقیق کیدیشی مناسبه ده چه تحقیق وکړی اوانصاف سره تصحیح اوفرمایې؟

جواب: دراوی په ثقه کیدوکښې دروایت په وخت ماته شبه نه ده شوی دنقل بنیاد خوداشوا وسره ددې نه دااحتیاط وکړی شوچه دصاحب قصه په تعبیرکښې موابهام اوساتلواوس دسوال په عبارت باندې خبرشوم زه دمعنون اوعنوان دواړونه رجوع کوم څوك که دمعنون تحقیق کول غواړی نوددغه مذکورین فی السوال دبزرگانونه دی تحقیق وکړی اوکوصاحبانوته چه دی عنوان سره په دی وجه چه ددوی په ذهنونوکښې هغه ابهام نشته گرانې شوی ده الله دپاره دی ماته معافی وکړی وائي استغفرالله تعالی منها - اذی قعده ۱۳۳۹هـ / ترجیح خامس / صـ ۱۲۱

تنبیه براصلاح معامله باتمثال

سوال: (۵۹۸) دنعل مبارك نقشه کومه دحضرت په خدمت کښې رالیږو- یورنګونی مالداره سیټ صاحب داډیرزیات چاپ کړل اولته په رنګون کښې مسلمانانوکښې تقسیم کړل دی غرض سره چه ددی تعظیم اوادب اوساتی اوددواړوجهانوفائدی حاصلی کړی غیرمقلدینواوبعض مقلدینوچه کله دااولیدل نوډیرزیات شور اوچیرچاړیې شروع کړو اوبعضوخوغلووکړه تردی پورې یې ووئیل چه یوخودغه شان هم دخلقوپه ایمانونوکښې کمزوری وه صرف داوری دداتی برابرایمان پاتې شوی وه اواوس ددی نقشې چه په مختلفورنګونوسره خاشته کړی شویده- ددی په وجه هغه لږایمان هم ختم شو په دی کښې چه کوم هدایات لیکلی شویدی دهغه په وجه یې په سر کیږدی اوښکلوی یې اوددی نه زیات معظم اومکرم څیزونه ښکته اوغورزول- تردی چه قران پاك اودحدیثو کتابونوسره چه کومه معامله کولې شی دهغې نه ډیرزیات په آثاروعلامتونووقعت اوعظمت ددی باندی عمل کول شروع شول کوم مسلمانان چه دغه شان عزت اوعظمت نه ساتي هغوی ته سپك گوری هغوی سره چیرچاړکوی هغوي ته بې ادبه اوگستاخه وائي التزام مالایلزم اوحدودشرعیونه دتجاوزپوره منظرپیش کوی - بیاتعجب دپاسه تعجب دی چه داخلق ځان ته متبع دسنت اواهل حق وائی اوډیرامور کوم ته بدعتیان حسنه یاشعائرداظهاردمحنت درسول الله ﷺ گرځوی - اومفاسدوعینیه په بنیادورته حرام شرك اوبدعت قبیحه وایي اودانقشه داسی په زورچهاپ کوی اوداذریعه دنجات گڼړی سره ددی نه چه دعوام کالانعام حالت اودهغوی په سوونوامثالواونظائروکښې دهغوی افراط

وتفریط په خپله لیدلی شی اوکوی هم – ددی نقشی دلاندی کیرچاپیره شعرونه
اوعبارتونه اوفضیلتونه هم دی ددی دوجه نه داعذرکول چه مونږ ددی نقشی دلاندی داهم چاپ
کړیدی. خوخلاف شرعی غلومه کوی الخ بالکل بی هوده خبره ده. دخواهشات نفسانیوپه
غلبه کښ اودنیوی حاجتونو اوچتولوداسانی نسخی په لاس راتلوکښ دعوامو په
حدودشرعیو باندی قایم پاتی کیدل ډیرګران دی ددمره عبادت لیکل هرګزکافی نه دی اوڼه
ددی شائع کوونکی مسلمانانولره په یوه نوی فتنه کښ داخلولو په وجه دمواخذی اخروی نه
بری ذمه کیدلی شی دادتعلینومبارکونقشی لره زادالسعید حضرت مولانااشرف علی تهانوی
سره دملاوولودوجه نه داخبره معلومیږی چه ددی ماخذ دغه کتاب دی په دیکښ یې څه
شرعی دلیل نه دی قائم کړی دکتاب فتح المتعال فی مدح النعال حواله یې هم دیکښ
ورکړیده داکتاب هم دمطلوب اثبات دپاره کافی نه دی – انتهی بتقریر المخالفین وفق
ماصدرمنهم بلسان القال واقله بلسان الحال – بس دجناب والا په خدمت کښ دالاندینی
اموریپش کوو (۱) دمخالفینوبیان ترکومه پوری صحیح دی کومه پوری غلط ؟ (۲) ددی
نقشی دوجه نه دعوامو په مفاسدوکښ اخته کیدل محتمل قوی دی یانه ؟ (۳) دانقشه ښکلول
په سرکیخودل وغیره باندی دمشروع کیدو شرعی دلیل څه دی ؟ که چرته دعمل په
طوریادخیراوبرکت دحاصلودپاره ورته جائزاووایې نوڅه وجه ده چه دمولودفاتحه اوتعزیه
اودارنګه نوری نقشی دویختومبارکواوجبی اوپټکی وغیره ډیریی شمار اعمال دی دی باره
کښ ولی داوجه کافی نه شی ګنړی بلکه په دیکښ بعض اعمالولره په درجه اولیٰ ولی جائزنه
شی ګرخولی. که چه نه شی ګرځیدلی نومابه الفرق څه دی ؟ (۴) قرون ثلثه مشهود
لهابالخیراوپه زمانی دمجتهدینوکښ دغه شان دښکلولو. په سر باندی دکیخودلووغیره
دستوروه یانه که چرته وه نودهغی تصریح نقل کړی خاص په ویختومبارکواوملبوسات
شریفه نبویه علی صاحبها الصلوۃ والسلام سره فیض وبرکت حاصلول بله خبره ده اوشیبه بل
شی دی په دی چه داخبره قابل دخیال ده چه اصل سره دیوی معاملی خودل هغه معامله نقل
دپاره ثابتول قیاس مع الفارق دی؟ (۵) هرکله چه دانقشه ددی وجه واجب التعظیم وګرځولی
شی چه په سرېې کیږدی اوددي په وسیله دعاغواړی داباعث دبرکت اودحصول خیردی نوبل
صورت کښ که چرته څوك دخرمنی یادلرګی دنعل نقشه جوړه کړی اواتباعاً یې اغوستل
غواړی اوددی خوپاك اوناپاك خای ته دتلوراتلوملوث کیدل هم ظاهره دی څه حکم لری (۲)

اياصل تعلینوسره دیوصحابی داسی معامله کول ثابت دی کوم چه ددی نقل سره تجویزکړی
شویدی په وخت دجواب ددی خط دکتاب امدادالفتاویٰ دریم جلد ص ۱۴۰ مسائل شتیٰ مطبع
مجتبائی دهلی اودزادالسعید دکتاب مضمون دنعل مبارك باره کښ تعارض هم وګوری فقط؟

جواب: دی مسئله کښ دوومقاموباندی کلام دی یوداچه فی نفسه قطع نظردعوارضونه دی
تمثال سره دداسی معاملی کولوڅه حکم دی دویمه داچه دعوامومفاسدحالیه یامالیه
محتمله داحتمال غالب په اعتبارسره څه حکم دی بس وروستی خبره کښ داتفصیل دی چه که
چرته دین اوعبادت یې ګنړی اودامعامله ورسره کوی بیاخوبدعت دی څکه چه ددی څه دلیل
نه دی راغلی اوکه چرته ادب اوطبعی شوق سره یې کوی نوڅه حرج نشته دداسی امورطبعیه
جوازدپاره ددلیل ضرورت نشته خلاف دلیل نه کیدل کافی دی اوکوم چه دسلفونه ددی
نمونه نقل شویده ددی هغه محل هم ادب اوحب طبعی دی لکه څنګه چه دحضرت عثمان
قول دی ولامست ذکری بیمینی منذبايعت بهارسول الله ﷺ رواه ابن ماجة فی باب
کراهة الذکرباليمين، ص ۳۲۳ .ظاهره خبره ده چه مبنی ددی ماسیواپه دوارو قولونوکښ
دتشابه کیدوبل څه شی وه دی تقریر سره دامدادالفتاویٰ اوزادالسعید تعارض هم دفع
شوکوم چه په شپږم سوال کښ سائل لیکلی دی چه وروستی کښ دحکم شرعی بیان دی ا
ودویم کښ دشوق طبعی په دی وجه دامدادالفتاویٰ په دی عبارت کښ دشوق په بنیادباندی
دداسی فعل صادریدوپه وجه دملامت نفی راغلیده داخوتفصیل وه دحکم فی نفسه
اوددویمه خبری تحقیق دادی چه چرته احتمال دمفاسدوغالب وی هلته به بندولی شی
اوواقعی دی وخت کښ دعوامو په حالت باندی نظرکولوسره احتیاط مناسب دی په دی وجه
دی بنیادپه وجه می خیال راتلوچه دزادالسعید د مضمون متعلق په دی خبرداری ورکړم
الحمدالله اوس دهغی توفیق ملاؤشو خودی سره بل طرف کښ هم اصلاح ضروری دی مثلاً
دی تمثال سره قصداً دبی عزتی معامله کول ښکاره علامت دی دبدبختی څکه چه اګرچه
دااصل نه دی خودتشاکل اوتشابه په وجه یې ورسره مناسبت شته ددی مانعیت دپاره
داکافی دي – ددی انکارخومانعین هم نه شی کولی چه څه رنګ اصل نعل شریف باندی سره
دهغی دپاك کیدونه کلمات طیبه اونوم مبارك لیکل بی ادبی ده دغه شان په تمثال دهغی
لیکل هم بی ادبی ده څنګه چه دی تمثال کښ دهغی ذکرشویدی کوم چه په زړه باندی
ډیرزروند معلومیږی څه رنګی چه دانقشه زماپه رائی کښ قابل ددفن شوه څکه چه ددی په

باقی پاتی کیدوکې جائزساتل دی بی عزتی دنوم مبارك نعوذبالله منه یاڅه رنګه چه داصل نعل شریف قرآن شریف سره په یوغلاف کې کیخودل جائزنه دی دغه شان نقشه دنعل هم نوددی احکامو مبنی که چرته تشابه نه ده نوځه ده صفامعلومه شوه چه من وجه اصل اونقل لره بعض اثاروکې تشارك شته نودتمثال قصداً بی عزتی کول هم نېه نه دی اوڅه رنګ چه ددی کلماتولیکلو لره وجوب داجتناب دحجت دی په مانعینوباندی اومثبت دی من وجه تشارك اصل دنقل دبعض اثارو - دغه شان ددی کتاب وجود دارتکاب دحجت دی مجوزینوباندی اونافی دی من کل الوجوه دتشارك اصل نقل دفی کل الاثار کنی که چرته داتشارك منفی نه وی نوڅه وجه ده چه اصل باندی دی داکتابت ناجائزوی اونقل باندی دی جایزوی دی تحقیق سره دضروری حکمونه وضاحت اودافراط اوتفریط ددواړوجانبواصلاح دواړه امره حاصل شول اودی سره دټولو سوالونوجواب هم راووتو والله اعلم ۱۸ رمضان ۱۳۴۱ھ / ترجیح خامس / ص ۱۳۸

دمزیدتحقیق متعلق تعیین ابراهیم درنسب هائی فاروقیان

سوال :(۵۹۹) حضرت سلامت ، سلام مسنون - یوه ورځ می زبدة المقامات مطالعه کولو دهغی په ص ۸۸ باندی می دحضرت مجدد الف ثانی رحمه الله نسب نامه ولیده - وهوهذا حضرت ممدوح ابن شیخ عبدالاحد،ابن شیخ زین العابدین، ابن شیخ عبدالحی، ابن شیخ محمد،ابن شیخ حبیب الله ،ابن شیخ امام رفیع الدین، ابن شیخ نصرالدین ، ابن سلیمان ابن یوسف ،ابن اسحاق، ابن عبدالله ، ابن شعیب ،ابن احمد، ابن یوسف ابن فرخ شاه کابلی ،ابن نصیرالدین بن محمودبن سلیمان بن مسعود، ابن عبدالله الواعظ الاصغر،ابن عبدالله الواعظ الاکبر،ابن ابوالفتح بن اسحاق بن ابراهیم ،ابن ناصربن عبدالله بن عمربن الخطاب رضی الله عنه ددی په لوستلوکې می خیال راغی چه دحضرت په نسب نامه کې هم دغه فرخ شاه کابلی شته دوجوه المثانی اخرچه می وکتل اوملاؤمی کړونودغه شان صحیح می اوموندل بعض نومونوکې لږغندی اختلاف شته وهوهذا .فرخ شاه کابلی ،ابن محمدشاه ،ابن نصیرالدین شاه بن محمودبن سلیمان شاه بن مسعودشاه ابن شاه عبدالله بن شاه واعظ الاصغر ابن شاه واعظ الاکبرابن شاه ابوالفتح ابن شاه محمداسحاق (ابن سلطان محمود) ابن السلطان ابراهیم بن ادهم ددی دواړونسب ناموکې چه په غوروګوری نودپته لګی چه فرخ شاه ستاسو دحضرت

مجدد صاحب جد اعلیٰ دی دحضرت مجدد صاحب په نسب نامه کې چه مخکې ابراهیم دی هغه ابراهیم ادهم نه دی څوك بل ابراهیم دی په دی وجه جد دمجدد صاحب په فاروقی کیدوکې څه کلام نشته تول ارباب دسیراوتذکره مجدد صاحب ته فاروقی لیکی بیاپه دغه زبدة المقامات کې یې لیکلی دی چه دشیخ فریدالدین ګنج شکرنسب هم فرخ شاه سره لګی اوبابافرید ته هم تول فاروقی لیکی غرض ددی دواړوصاحبانوفاروقیت مسلم دی بیاستاسوپه فاروقیت کې څه رنګه کلام کیدیشی آوکه چرته داابراهیم ،ابراهیم ادهم اومنی نوالبته دکلام اواختلاف ګنجائش شته خواکثرداغیرابراهیم بن ادهم منلی دی په دی وجه ده ته ابراهیم ادهم ویل غلط دی که چرته داشبه وی نوتاریخ فرشته کې چه کوم فاروقیانونسب نامه ذکرشوی ده په هغی کې ابراهیم ادهم ذکرشویدی نوداصحیح دی خودتاریخ فرشته والی نسب نامه کې فرخ شاه نشته اوپه حقیقت کې دی دواړونسب ناموکې اودی سره هیڅ تعلق هم نشته اوس ضرورت ددی خبری دی چه حضرت ددی دری واړونسب ناموباندی غوروکړی اودادی شائع کړی چه داابراهیم ادهم نه دی څنګه چه زه دی وخت پوری ګنړم اګرچه زمالیکل دګستاخی نه خالی نه دی خودتاریخی حیثیت په بنیاد باندی لیکلوډپاره مجبوریم۔ امید دی چه جواب نه به می محروم نه کړی دجناب دتحریراتونه لرزماً اودبعضو نورو اکابرینودتحریراتونه صریحاً معلومیږی چه تحفظ دنسب هم دضروریاتوشرع نه دی په دی وجه ددی تحفظ کول بهتردی کوم چه دخدای یوخاص نعمت دی (۸ رمضان ۴۳ھ)

جواب :مکرمی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ستاسوخط سره می شك لری شو جزاکم الله تعالیٰ علی هذه الافاده - اوس ستاسوتائید بعضونسب ناموکتلوسره پوه ته راځی کومی چه مایووخت کې جمع کړی وی خوهغه وخت می هغی طرفته ذهن نه ووتلی اوس می بیاوکتل نودی شان سره تائیدوشو چه په کوم کې فرخ شاه ذکرشویدی په هغه کې خوابراهیم ته ابن ادهم نه دی لیکلی اوپه کوم کې چه یې ابراهیم ته بن ادهم لیکلی دی په هغی کې یې دفرخ شاه ذکرنه دی کړی په دی وجه دمشفقی شاه محمدحلیم پوری په نسب نامه کې دغه شان وی فرخ شاه ابن مسعودابن عبدالله ابن واعظ اصغرابن واعظ اکبرابن ابوفتح ابن اسحاق ابن ابراهیم ابن سالم ابن عبدالله بن عمر رضی الله عنه اومولوی ابوبکرصاحب جونپوری دنسب نامه کې داشان دی شهاب الدین علی الملقب فرخ شاه کابلی ابن نصیرالدین بن محمودبن سلیمان بن مسعود بن عبدالله واعظ اصغرواعظ اکبرابن ابوالفتح بن اسحاق بن ابراهیم بن ناصربن عبدالله

ابن عمر ﷺ اوقاضي محمد مصطفیٰ صاحب دمچهلی شهراوبهدوني دفاروقيانومورث اعلی شاه ابوالحسن مقلب به شاه عبدالملك يادهغه نسب يې دغه شان ليکلی دی ابو الحسن بن زين العابدين بخلي ابن شمس الدين بلخي ابن عبدالله بلخي حميدالدين بلخي ابن راج الدين بلخي ابن ابراهيم بن ادهم بن سليمان بن منصوربن عبدالله بن عمر ﷺ - دی اخيری نسب نامه کې فرخ شاه نشته دی سره دفرخ شاه فاروقي اوغيرادهې کيدل متفق عليه معلوميږي - اوستادمدعادا ثبات دپاره داکافي دی اودتهانه بهون په نسب نامه کې کوم چه دفرخ شاه نه ابراهيم پوری سلسله ده دغه شان ليکلی ده فرخ شاه بن محمدشاه بن نصيرالدين بن محمودبن مسعودبن عبدالله بن واعظ اصغرواعظ اکبرابن ابوالفتح بن اسحاق بن ابراهيم. داخودمجددصاحب اوشاه محمد حليم اومولوی ابوبکرصاحب په نسب نامو کې تقريباً تقريباً موافق دی اوهسې خولږلږفرق دنومونوپه نومونوپه کمې زياتی ياتقديم اوتاخيرکې په تولوکې شته کوم چه اصل مقصودته نقصان نه ورکوی باقي مخکې يې چه کوم دبراهيم سلسله بيان کريده ابن ادهم بن سليمان بن ناصرالدين ابن حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ ديکې خوناصرنوم دمجددصاحب اومولوی ابوبکرصاحب په نسب نامه کې مشترك دی اودغه شان سليمان هم- اگرچه دابراهيم نه مخکې دی خودکاتب دسهوی نه داسې تقديم اوتاخيرمستبعدنه دی صرف دادهم نوم زياتي دی بس داکثرونومونواشتراك قرينه ددی ده چه ابراهيم خودی کومه چه په نورونسب نامو کې دی ادهم کې څه خلط شويدی نولری نه ده چه دانوم سالم وی لکه څنگه چه دشاه محمد حليم په نسب نامه کې دابراهيم نه وروستوسالم دی کتابت غيرمستنبيه کې چاغيرمحقق ادهم اولوستو-پاتي شودمچهلی شهرپه نسب نامه کې دابراهيم نه بره دمنصورنوم کيدل اودابراهيم نه لاندی نومونوسره بخلي کيدل اوپه هغې کې دبعضودبلخ نه هندته دمنتقل کيدلومنقول کيدل بظاهرمرجع ددی دهغوی دابن ادهم کيدو- په دی وجه تهذيب کې يې ادهم ته ابن منصورليکلی دی باقي ددی نسبت حضرت عمر ﷺ طرفته ممکن دی چه دهغوی په امهاتو کې څوك فاروقي وی لکه څنگه چه بعضوئيلی هم وی والله اعلم- اعلان- ددی نه مخکې چه څه ددی تحقيق خلاف زماتحريروی دهغې نه رجوع کوم لکه څنگه چه يوخل مختصراً مي ددی نه مخکې هم ضميمه تتمه سادسه کې په مياشت نصف اخر۱۳۳۲ھ کې ديويل دليل په بنيادباندی مي دغه شان رجوع کريده اوس بياهغه رجوع موکدکوم (نصف رمضان ۱۳۴۳ھ ترجيح خامس ص ۱۴۵)

تحقيق کلمات واقعه مناجات مقبول

سوال: (۶۰۰) مناجات مقبول کوم چه اوس مولاناشبيرعلی صاحب مع اضافه وترميم جديدچاپ کريدی ديکې بعض الفاظو کې شبه معلوميږي. اوترجمې سره توره هم پخه شوه کې غلطي په کاتب باندی محمول کيديشی لکه قربات عندالله - ص ۴۹ په اخری کرخه کې ان تشرکنافی صالح ماندعوك فيه يې ليکلی دی کوم چه په حيثيت دمعنی هم مرتبط نه معلوميږي اوغالباً حزب الاعظم کې هم دغه شان ليکلی دی فی صالح مايدعونك فيه ، وقربات په ترجمه کې هم ددغه الفاظوپابندی کړی شويده په دی وجه عرض دی چه کوم عبارت صحيح دی؟

جواب: غالباً صحيح يدعونك معلوميږي که چرته حزب کې دغه شان دی اگرچه يدعونك هم په اعتباردمعنی سره دی طرف ته راجع کيديشی - کيديشی په ابتداء کې دحزب اعظم څه نسخه غلطه ملاؤ شوی وی (۱۹ ذی قعده ۱۳۴۴ھ ترجيح الراجح ص ۱۲۵)

تغافربنا، حجية شرائع سابقه وبناء حجية حديث

تقريری متعلق مضمون غرائب الرغائب

سوال: (۶۰۱) النورماه جمادی الاول والثانيه ۱۳۴۴ھ مضمون دغرائب الرغائب ،غريبه هفتادوهشتم درتنبيه متعلق به قاعده حجيه دشرائع من قبلنا دلاندی په تفريعاتودقصی دموسی ﷺ باره کې ذکرشويدی هغې لره بعينه نقل کوم ،وفی المقام تفريعان لطفيان يتعلقان بقصة موسیٰ ﷺ مبنيان علیٰ کون ماقص الله ورسوله علينامن غيرنکيرحجة لنا احدهما اباحة مال الحنفية والثانی کون المعاهدة التی تحرم دم الحربی عاماً للقالی وللحالی فان موسیٰ ﷺ لم يعاهدهم قالا فلولاينعقد العهد بالحال کان دم القطبی مباحاً فلايصح تسمية قتله عمل الشيطان واستغفاره منه، هذا انتهیٰ ، وروميی تفريع باره کې داشبه ده چه بيان القران کې دی باره کې حضرت ليکلی دی وهوهذا ، دريم جواب داحقرپه نزدادی چه دغه وخت کې ديوشريعت جودهم په خپل متحقق نه وه راتې سره يې داسې کړی وه کوم چه مخکې دشرع نه موجب دملامت نه دی نوهرکله چه دغه وخت دشريعت دوجودنه وه، نوشرائع من قبلنا سره ددی مسئلی په جوازباندی څه رنگه استدلال کيدلی شی- ددويمی تفريع باره کې داشبه ده چه

دادنبوت نه مخکې واقعه ده څنګه چه ددې ایت نه معلومیږي قال فعلتها اذا وانا من الضالين، ففرت منكم لما خفتكم فوهب لي ربي حكما وجعلني من المرسلين، نو هر کله چه د رسالت اوحکم ملاویدو نه مخکې دا واقعه ده نو ددې مسئلې تفریع څه رنګه درست کیدېشي دا مي دخپل ناقص پوه موافق عرض کړه که چرته صحیح نه وي نو د جواب ضرورت نشته.

جواب: ددې تفریعاتو اصل بنیاد دحدیث تقریري حجیت دی او دحق تعالیٰ دچا دقول یا فعل بلانکیر نقل کول د سکوت نه هم ابلغ دی، بس ددې حجیت نور هم کامل دی. زما مخکې داخیال وه چه حجیت شرائع من قبلنا اذا قصها الله ورسوله علینا هم دی اصل باندې مبنی دی په دې وجه عبارت عربیه کې دمبنیان علی کوم ماقص الله ورسوله علینا من غیر نکیر عنوان سره دتعبیر کولو منشا هم دغه ده په دې وجه داتنبیه یې دحجیه شرائع من قبلنا متعلق وګرځوله. لکه څنګه چه د سرخي دتنبیه دعبارت منشاهم دغه ده خو دکتب اصول دمراجعت نه معلومه شوه چه مسئله دحجیت دشرائع من قبلنا مسئله دمستقله ده، اوددې بنیاد بل دی او حدیث تقریري بنیاد بل دی کوم چه غیر شرائع هم عام دی خو داتغایر بنیادونه زما په مقصود کې مضر نه دی. ځکه چه دیو دلیل په نشتوالي سره دبل دلیل نشتوالی او په هغې سره دمطلوب ورانیدل لازم نه راځي که چرته دحجیت دیوه بناء مقصود ده نو بله بناء موجود ده. بس سوال دیوې بناء فقدان سره وه او جواب دبلې بناء وجدان سره اوشو. فزال الاشکال. البته دحدیث کتابونو کې یې په حدیث تقریري کې دی قول یا فعل مسکوت علیه کې دا شرط لګولی دی چه ددش ثبوت منقاد للشرع سره وي، او دا قید اګرچه مشهور نه دی خو ضروري دی ځکه چه عدم انقیاد په خپله درفع ابهام دپاره کافی دی او دموسیٰ ؑ انقیاد خو ظاهر دی اګرچه په وجه دعدم تحقق دیو شریعت دغه وخت ددې ظهور نه وه بس دی باندې سکوت ضرور حجت دی خصوصاً هر کله چه ساق نه دقائل او فاعل مدح هم معلومیږي والله اعلم. ۱

۲۷ محرم / ۱۳۴۵هـ / ترجیح خامس/ ص ۱۲۲

اصلاح وتبدیل بعض عبارات رساله یادیاران

سوال: (۶۰۲) ددیار سلمی تذکرې په نیمه کې دا عبارت دی چه څو خله ددواړو طرفونه لیکل وشول او هغه لیکل په سوانحو کې چاپ شوې دی بالجمله نتیجه دا شوه ددې عبارت یو جزء بدل شوی دی او هغه جزء دلاندنیي عبارت دی او هغه لیکل په سوانحو کې چاپ

شویدی یعنی هغه عبارت حذف کړې او خارج کړې او دهغې په ځای دلاندینی عبارت ولیکل شي دهغې نقل دوه څلور ځایه محفوظ هم دی او ددې عبارت باندې لاندینی حاشیه ولیکلی شي بیاپس دتالیف ددې رسالې نه هغه تحریرات، دکوم لقب چه ضیاء الافهام من علوم بعض الاعلام تجویز کړې شوی دی التابعة للسابعه نمبر ۳ درسائلو په فهرست کې نمبر ۱۸۲ کې شائع هم دی، سوانح ملقب به تذکره الرشید هم چاپ شویدی ۱۲ منه، ۴۶هـ ا ترجیح خامس ص ۱۲۹

دخضر ؑ دژوند تحقیق

سوال: (۶۰۳) خواجه خضر ؑ ژوندی دی یانه- پنځم مذهب والا وائي چه نه دی ژوندی که چرته ژوندی وي نو سرور کائنات ﷺ سره یې ملاقات ولی نه کولو ددې جواب ولیکی؟

جواب: دحضرت خواجه خضر ؑ ژوندی او سیدل دجناب سرور کائنات ﷺ نه بعد پورې ثابت دی پدې وجه دنبي ﷺ دوفات نه وروستو یې تشریف راوړی وه او تعزیت یې کړی وه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او حضرت علي رضی الله عنه او فرمائیل چه دا حضرت خضر ؑ وه ددې لاندینی روایت نه معلومیږي- ودخل رجل اشهب اللحية جسيم صبيح فتخطى رقابهم فبكى ثم التفت الى الصحابة رضی الله عنهم فقال ان في الله عزاء من كل مصيبة وعضاً من كل فائت وخلفا من كل هالك فالى الله انيبوا واليه فارغبوا ونظره اليكم في البلاء فانظروا فانما المصاب من لم يجبر وانصرف فقال ابوبكر وعلي رضی الله عنهما هذا الخضر ؑ ۱۲ مس بعن مستدرك حاكم، ظفر جليل ترجمة حصن حصين حامل متن حزب پنجم ص ۱۲۲، او تر اوسه پورې دژوند دتولو اهل باطل[1]، او دمسلمانو اتفاق دی او همیشه داسې خلقو سره ملاقات کوی مولانا نظامی فرمائی «مرا خضر تعلیم گو بود دوش» او ډیر بزرګانو نه حکایتونه په منزله دخبر متواتر دهغوی دژوند منقول او مشهور دی فقط والله اعلم، (امداد ج ۳/ ص ۱۲۲) جواب تنګی از دوستی عوام (خط هدایات نمط نزد عزیزی که شکایت عوام از بی طاقتی کرد) اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ستاسو خط راورسید و بیا الیکم چه کوم کار تا اختیار کړیدی یعنی امر المعروف دوو حالو نه خالی نه دی یا دهغې تحمل شته یا نه که چرته تحمل شته نو دعوامو شکایتونه بې معنیٰ دی څو مره وخت کې چه دعوامو په حکایتونو او شکایتونو کې خرج کیږي دا په خپل

[1] تر اوسه خو داسې معلومه وه وروستو چه مې مکتوبات دمجدد وکتل نو معلومه شوه چه دټولو اتفاق نشته ۱۲

کارکې ولی نه خرج کوی اوکه چرته تحمل نشته نوداکاریرېخودل پکاردی چه صرل مستحب دپاره دومره تکلیف برداشت کول ضروری نه دی ،

سرمد گله احتصار می باید کرد — یك کارازین دوکار می باید کرد
یاتـــن برضائی دوست می باید داد — یاقطـــع نظر زیار می باید کرد

فقط کتبه اشرف علی ، ازتهانه بهون (امدادج۳/صـ۱۲۷)

تحقیق معنیٰ مولیٰ


سوال :(۶۰۴) لفظ مولیٰ بمعنیٰ اولیٰ بالتصرف درکلام عرب منقول است یانه ونیزدرکتب لغت معنی مولیٰ محبوب هم آمده است یابااین مساسی ندارد اگرآمده است درکدام لغت بایدجست. بینواتوجرا، الجوب – درمنتهی الارب است مولیٰ خداوندوبنده آزادکننده وآزادکرده همنشین وقرب ونزدیك دوست وهمسایه وهم سوگندوپسروبرادروبه مهمان فرودآئنده وانبازوپسرخواهر یارومددگاروصاحب وپرورنده ونعمت وهنده ونعمت داده شدومهربانی وپیرودامادوشوئی خواهر مردوخسرانتهیٰ مختصراً اومعنی اولیٰ بالتصرف اونظرنگذشته ومعنی دوست ازمنهتیٰ مذکورشدوالله اعلم، (امدادج۳/صـ۱۲۷)

صورت متعدده درادای حق

سوال :(۶۰۵) دمرحوم دترکی ماحاجی ......صاحب خاوندمسماۃ..... لوردمرحوم حاصل کړو اوخپلې رضامندی سره یې بغیردڅه شرط نه مسماه .....ته سرکاری دزمکې کرایه واخسته اودغه مسماۃ ته یې ورکړه ایادابه دهغه په حق کې حساب کولی شی یاپه دمرحوم به دهغه په ذمه قرض پاتې وی یابل به څه صورت وی؟

جواب : یوصاحب حق ته دڅه ورکولو څوصورتونه دی یوداچه دهغه جنس حق یې ورکړواودحق نه زیات نه – دی کې دهغه حق اداشودویم داچه جنس حق یې ورکړه اوزیاتی یې ورکړواوتصریح وکړه چه زیاتی قرض دی- دیکې په قدردواجب حق اداشو اوزیاتی قرضه پاتې شوه- دریم داچه جنس حق یې ورکړه اوزیاتی یې ورکړه اوتصریح دقرضی یې ونه کړو نوپه قدردواجب حق اداشو اوزیاتی احسان شوڅلورم داچه غیرجنس حق یې ورکړو اوداتصریح یې وکړه چه ستادحق واجب په عوض کې دادرکولی شی نودیکې دهغه حق اداشوڅومره چه دمقدارحق په عوض کې دورکولوتصریح شویده اودواړه رضاشوی وی پنځم داچه غیرجنس حق یې ورکړو اوداتصریح ونه

کړه نودیکې دادورکوونکی احسان شواهل حق باقی پاتې شو- بس دی صورتونوکې چه کوم واقع شوی وی هغه سی حکم به وی –دصورتونواستیعاب دپاره دالاندینی شجره ده (امدادج۳/صـ۱۲۸)



تحقیق معنی تبدل ملک

سوال :(۶۰۶) داسې مشهوردی چه تبدل دملك سره اوقیمت ورکولو سره حرمت ختمیږی داصحیح دی یانه ؟

جواب :تبدل دملك سره تبدل دعین کیدل ددی دامعنی نه ده کومه چه عوام گنړی بلکه مطلب دادی چه یوخاص سړی سره یوی خاص طریقی سره یوڅیزراغی کومه چه دی سړی دپاره داطریقه حلال وه خودی طریقی سره که چرته بل سړی سره داڅیزراغلی دی نوهغه دپاره حلال نه وی اوس دی سړی دی بل سړی ته په بلی طریقی سره هغه څیزورکړوکوم چه دی بل سړی دپاره هم حلال ده.بس دی کې به دی وروستی طریقی باندی لحاظ نه کیږی اودهغې اثربه باقی پاتې کیږی مثلاً مالداره ته صدقه اخستل حرام دی خویوفقیرته څه شی صدقه کې ملاؤشو نوده هدیة دی مالداره ته ورکړو اوس ده دپاره حلال دی. گویاچه دابل شی شو دامطلب دی ددی قاعدی دی شان سره چه کوم مشهوردی چه قیمت ورکولو سره حرمت ختمیږی داخوبالکل غلط دی فقط (امداد ج۳/صـ۱۲۹)

تحقیق محشورشدن حامله

سوال:(۶۰۷) اگرزنی حامله انتقال نماید پس بوقت قیام قیامت حشرش بچه صورت خواهد شد درین امر اختلاف فضلاست بعضی گویند که حشرش بلاتجرید حمل خواهد شد ووضعش عند الصراط خواهد شد وبعضی می گویند که ازحملش تجرید گشته حشرش خواهد شد ووضعش درقبرش خواهد شد؟

جواب: درین باب دلیلی صریح ازکتاب وسنت بنظر نیامده لیکن ظاهرایت تضع کل ذات حمل حملها علی التفسیر الراجح وظاهرحدیث کماتموتون تحشرون مشعربان ست که زنان حامله درقیامت حامله محشورخواهند شدوازهول قیامت وضع خواهند ، والله اعلم باحوال عباده.(۲۰جمادی الاخری/ ۱۳۲۱ھ/ امدادج۳/صـ۱۳)

توجیه بعض مضامین منسوب به شیخ عبدالقادرجیلانی رحمه الله

سوال:(۶۰۸) دی ورځوکې یوکتاب دشیخ عبدالقادر رحمه الله په حالاتوکې درکهپورنه شائع شویدی ددی کتاب روایتونه می وکتل نوماته ددی ویناجرات اوشو چه داکتاب دیوپیرپرست جاهل تصنیف دی چه ده خپلی دبدبی قائمولودپاره لویوخلقوطرفته منسوب کړیدی. داکتاب زه په خدمت کې درلیږم ددی پوره لغویت خوددی دکتلونه معلومیږی خوبه طوردمشت نمونه ازخرواری یوروایت لیکم .قطب یونینی په مختصرالمراة کې دشیخ ابوسعید قلیوی رحمه الله نه روایت کړیدی فرمائی چه ماحضرت په مجلس عالی کې انبیاء علیهم السلام دیوځل نه ډیرزیات کتلی دی دانبیاؤ مبارك روحونه می داسمان اوزمکی په مینځ کې ګرځیدونکی اولیدل څه رنګ چه دکائنات په فضاکې هواچلیږی دغیبوسری می هم ولیدل چه په منده باندی مجلس عالی کې حاضریدل خضر علیه السلام اکثرحاضری ورکوی ماددی سبب تپوس وکړونووی وئیل چه څوك کامیابی غواړی هغه ددی حضرت ملازمت اختیارکړی په صفحه ۲۹ کې وینم چه جلاهان خوجاهلان دی بعض ساده مزاج عالمان هم داکتاب لویوخلقوطرفته منسوب کوی اوداروایتونه صحیح ګنړی په دی وجه دخیرخواهی په نظرعرض کوم چه څه رنګ مواصلاح دترجمی ددهلوی اواصلاح دترجمی دمرزاحیرت مو ولیکله اودجاهلان اوعالمانو دمذهب موحفاظت وکړونوددی هم اصلاح وکړی دعالمانو اودجاهلانو دمذهب حفاظت وکړی؟

جواب: ماسیوادحدیثونونه په دیکې بالوضع ظنًا دپاره کافی دی دویم په قصواوحکایتونوك کې خوپوری چه امتناع عقلی یاامتناع شرعی باندی دلیل قائم نه وی یقیناً تکذیب اوانکارکول مشکل دی اوددی امتناع حکم پس دتجرددمهارت دعلوم شرعیه اوفنون علقیه نه کیدیشی کنی اکثری په ظاهری کې مستعبدات مستحیلات ګڼلی شی اودبعضی نه انکارکولی شی داقاعده کلیه معیارکافی ده باقی ماته دمتن اودحاشیودتفصیلی کتلو وخت نشته کوم ځای کې چه می یونیم ځای کتلی دی هلته ماځه داسی خبره نه ده لیدلې چه په هغې کې دصحت توجیه نه شی کیدلی اوشبهات ضعیف معلوم شی اوکه چرته یومضمون داسی وی هم تومفصل مواخذه په هغې کې کول فرصت ته محتاج دی اوترجمه دقران خوبله خبره ده په هغی دایمان مداردی اوکه چرته دهررسالی تحقیق کوونوسری به دهیڅ کارپاتی نه شی دحق طلب دپاره قاعده معیاریه کافی ده (امدادج۳/صـ۱۳)

شبهات مستفتی متعلقه جواب مندرجه بالامعه جواب

په خط کې چه کومه قاعده کلیه معیاریه لیکلی شویده ددی په عمده کیدوکې څه کلام کیدلی شی خوبه تقاضایې بشریت دی خادم ته چه کوم شبهات واقع شویدی هغه به وروستولیکم وړومبی داعرض کوم چه دی کتاب باندی چه کوم شبهات وکړی شول دهغی منشاځه وه خوکاله وشول په هندوستان کې یواشتهارشائع شوی وه دهغی خلاصه داوه چه شیخ عبدالله مجاورروضه رسول صلی الله علیه وسلم په خوب کې وکتل چه حضرت فرمائی چه ای عبدالله سږکال زماپه امت کې اولس لکه خلق مړه شول په دیکې صرف اوولس ایمانداروه نوربی ایمانه وه په دی وجه امت ته خبروکړه چه دنیکواعمالوکوشش وکړی دی اشتهارسره دوه خبری نوری هم شائع شوی وی چه دسورت دنباردبعضی خلقوعقیده ده چه حضرت عبدالقادر دجیلانی په عالم ارواح کې درسول الله صلی الله علیه وسلم دزوجه مطهری حضرت عائشی رضی الله عنها شوده څکلی دی اوده دملك الموت نه دروحونه هغه توکری هم چه په زوره اخستی ده انتهی مختصراً- ددی دری واړه خبروجواب دی وخت کې (چه کله کانپورکې مقیم وه) غالباً جناب لیکلی وه اوداجواب دمولوی صادق الیقین صاحب په نوم سره داشتهارپه صورت کې شائع شوی وه دوړومبی خبری دجواب خلاصه داده چه اوس لکوخلقو کې به نابالغه ماشومان هم وی کوم چه مکلف شرعی نه دی دهغوی دبی ایمانه مړکیدو هیڅ معنی نشته دبل خبری دجواب خلاصه داوه چه دروح خوله نه وی اودحضرت عائشی رضی الله عنها شوده نه وه ددریمی خبری

خلاصه داوه چه دملك الموت نه دروحودتوكړى اخستوځه ضرورت وه كه چرته حضرت عبدالقادرد‌ته دروحونودتوكړى اخستواوملك الموت ته دوركولوحكم،نوهغه به په خپله وركړى دى په زوره داخستوضرورت نه وه اوكه چرته دوركولوحكم نه وه شوى نونه ده ته داخستواختياروه اونه هغه ته دوركولو- دى درى واړوخبرونه چه كومه نتيجه احقراوويسته هغه داده چه كومه خبره عقلاً اوشرعاً مستعبدوى هغه مستحيل وګڼړى نودهغى تكذيب كول صحيح دى دى كښې دتوجيه كولوځه ضرورت نشته كه چرته دتوجيه ضرورت وى نوجناب والا دهريوعمده نه عمده توجيه كولى شى اودى نه بې داتنيجه هم راويسته چه دقصواوحكايتونو ځ پورى چه عقلاً ياشرعاً قوى دليلونوسره ثبوت نه وى هغه وخته پورى دهغى تكذيب كول صحيح دى ممكنه ده چه دوړومبى خبرى داتوجيه وكړيشى چه شيخ عبدالله مجاور روضه رسول الله ﷺ چه كوم خوب ليدلى دى هغه صحيح دى- ځكه چه ددې په امتناع باندى دليل عقلى ياشرعى قائم نه دى پاتى شوه داخبره چه اولس لكوكې ډيرنابالغه بچي هم وه كوم چه مكلف نه وه دهغوى دبې ايمانه مړكيدوهيڅ معنى نشته- ددى جواب ددى حديث نه رواتى شى عن عائشة رضي الله عنها قالت : دعى رسول الله ﷺ الىٰ جنازة صبى من الانصارفقلت يارسول الله ﷺ طوبى هذاعصفورمن عصافيرالجنة لم يعمل السوء ولم يدركه فقال اوغيرذلك ياعائشة رضي الله عنها ان الله خلق للجنة اهلاخلقهم لها وهم فى اصلاب ابائهم وخلق للنار اهلا خلقهم لها وهم فى اصلاب ابائهم رواه مسلم مشكوٰة باب الايمان بالقدر الفصل الاول ، اوروح نه دفيض حاصول صوفيانو په نزدمجرب دى مطلب داشوچه حضرت عبدالقادر دحضرت عائشى دروح نه فيوض علميه حاصل كړل ددريمى خبرى توجيه داكيديشى چه حضرت عبدالقادر دملك الموت نه دروحونوتوكړى واخست پاتى شوه داخبره چه هغه ته داخستوځه ضرورت وه الى اخره ددى جواب ددى تقريرنه رواتى شى چه بعض مومنان دالله په نزددفرښتونه هم اكرم دى لكه ځنګه چه حديث كښې راغليدى كله كله دااكرميت الله رب العزت په ملائكوباندى دې عنوان سره ظاهره وى ددى تفسيرپه حديث كښې موجودى . وعنه قال قال: رسول الله ﷺ جاء ملك الموت الىٰ موسىٰ بن عمران فقال له اجب ربك قال فلطم موسىٰ عين ملك الموت ففقاعين الىٰ آخره متفق عليه، مشكوة باب بدء الخلق وذكرانبياء عليهم الصلوٰة والسلام الفصل الاول ،حضرت موسىٰ عليه السلام چونكه اولوالعزم بنى وه په دى وجه هغه

ورته پړك وركړو اوسترګه يې ترينه اوويسته حضرت عبدالقادر رحمه الله چونكه ولى وه دنبى برابركرامت يې خونه لرلو په دى وجه درحونوتوكړى ترينه واخسته نوريې ځه اونه كړل وړومبى استفتاءكښې مى ددى كتاب يوروايت ليكلى وه جناب والادهغى ځه توجيه اوفرمائيله اګرچه دقاعده معياريه دليكلونه وروستوجزئياتو طرفته دتوجه كولوضرورت نه وه خوتوجيه كتلوسره خادم ته ددى موقع ملاويده چه داسى قسم توجيهات يې په نورورواياتونوكښې هم كړي وى وړومبى استفتاء كښې خادم صرف يوروايت نقل كړى وه په هغى مى خپل شبهات نه وه پيش ككړى اوس دى پرچه كښې مى هغه روايت اوخپل ځه شبهات وليكل دلفظ قال نه وروستودروايت الفاظ دى اودلفظ اقول نه وروستودخادم شبهه – كه چرته جناب والا توجه وكړه نوخادم ته به دتوجيه كولوعمده اندازمعلوم شى – اوس قاعده كليه معياريه باندى چه كوم شبهات دى اوددى په وجه دوه هغتى ډيرسختى كښې تيرى شوى هغه عرض كوم دقاعده كليه الفاظ دادى دويم قصواوحكايتونوكښې چه ځوپورى امتناع عقلى ياشرعى باندى دليل قائم نه وى يقيناً تكذيب اوانكاركول مشكل دى- شبه :- ټول قصص اوحكايت په منزله ددعاوى دى اودهرى دعوى نه په اثبات باندى ددليل شرعى ياعقلى دقائمولوضرورت شته اونه دهغى په امتناع باندى بياديقيناً تكذيب اوانكاركولو ضرورت نشته ظناً كافى دى لكه ځنګه چه په ټولودعووكښې كيږى كه چرته په امتناع باندى ددليل عقلى ياشرعى قائمولوضرورت وګڼړلى شى نودصحيح خبرى معلومول به قيامت شى اودزرګونولكونوغلطوخبروبه صحيح منل راشى مثلاً خادم يوه غلطه قصه بيان كړى اواووائى چه امام غزالى په خپلوبعضوتصنيفاتوكښې نهايت صحيح سندسره ليكلى ده چه ديوسف عليه السلام په زمانه حكومت كښې دمصرپه ټولوښاروكښې ريل اوبرقى تارجارى شوى وه يااووائى چه دحضرت عبدالقادر رحمه الله دامام ابوحنيفه رحمه الله سره په عالم برزخ كښې مناظره اوشوه چه قرآت خلف الامام كښې حق مذهب ځه دى مناظره كښې حضرت عبدالقادر رحمه الله غالب شواوده ثابته كړه چه دى باره كښې دامام احمدبن حنبل رحمه الله مذهب حق دى دغه شان په لكونواوكروړونوقصى تصنيف كيديشى كومى چه فى نفسه غلط وى خونه ددى په امتناع باندى دليل عقلى قائميدى شى اونه دليل شرعى – دى نه وروستوپه قاعده كليه معياريه كښې داالفاظ دى اوددى امتناع حكم پس دتبحراودمهارت دعلوم شرعيه اوفنون عقليه نه كيديشى دى باندى داشبه ده چه زمونږ په زمانه كښې تبحرخوصفت دعنقادى اوداسى

حضرات هم تقریباً تقریباً اوه اته دی کوم چه په علوم شرعیه اوفنون عقلیه کې مهارت لری
مثلاً جناب والا دی مولوی رشید احمد صاحب دی جناب مولوی محمود الحسن صاحب دی
جناب مولوی احمد احسن صاحب امروهوی دی جناب مولوی لطف الله صاحب علیګرهی دی
جناب مولوی عبدالحق کابلی قاضی بهوپال دی جناب مولوی عین القضاة دی دی
حضراتو نه علاوه شاید دوه څلور حضراتو نور هم راوځی - باقی عالمان داسی وی چه چاپه
علوم شرعیه کې مهارت دی فنون عقلیه کې نشته کله جناب مولوی صاحب محمدیحی
مفتی بهوپال ، جناب مولوی حافظ عبدالعزیز صاحب نائب مفتی بهوپال وغیره - چاته صرف
په فنون تهلیه کې مهارت دی علوم شرعیه کې نشته لکه مولوی فاروق صاحب چریاکوتی
، جناب مولوی احمدحسن صاحب پنجابی کانپوری وغیره اودنن صبا ناولوته چه بالکل
عقل دعادت موافق وی په دی کې څه خبره مستحیل څه مستبعدهم نه وی دکل بکاولی
قصی لره دامیرحمزه قصه دطلسم هوشربا قصی لره دنورتن حکایتونو لره دګلفام قصی لره
اودی نه علاوه نورو ډیرو قصولره دغه ټول عالمان څه معمولی فارسی پوهیدونکی ښه خلق
دی حیثیت سره نه چه دامخرب داخلاقودی لکه دغلط کیدو حیثیت سره منع کوی اودانه
دی اوریدلی شوی چه یو کس هم دی منع کولو لره دانکارپه نظرباندی کتلی وی. دمعمولی
عربی فارسی پوهیدونکو نه هم قطع نظر وکړه- دجاهلانو ډله لکه دلکهنو دافیونونه
بازو غیره هم دی ټولو قصولره غلط ګڼری خو چونکه دزړه یومشغولا ده په دی وجه یې اوری
حالانکه ددی قاعده کلیی معیاریه په روسره دی ته هیڅوک هم غلط نه شی وئیلی یا به یې
صحیح ګڼری یا به ددی دصحیح کیدونه سکوت کوی څکه چه دی قصو اوحکایتونو کې (به
استثناء دبعض واقعاتو) ټول واقعات داسی دی چه ددی په امتناع باندی نه دلیل عقلی
قائمیدی شی نه دلیل شرعی خادم هم تراوسه پوری دخپل کورسړی اوبنځی ددی
قصو اوحکایتونو نه منع کول اواوس هم که چرته څوک تپوس کوی چه داقصی اوحکایتونه
څنګه دی نو دغه رنګ ورته وئیلی شی چه ټولی دروغ اوفرضی دی که چرته واقعی داقصی
دروغ اوفرضی نه دی نو دیته دروغو اوفرضی وئیلو کې یقیناً کذب اومعصیت دی الله تعالی
دی معافی وکړی دی باره کې الله دپاره دخادم زړه یخ کړی کله نه چه دجناب والاخط راغی
دخپلی کم علمی دوجه ډیر پریشان یم-

جواب : دی قاعدی کلیه معیاریه کې یو قید بناء علی الظهور والشهرة پریخودلی شوی وه
دهغی په عدم استحضارد ټول شبهات پیدا شول هغه قید دادی چه ددی قصو اوحکایتونو نقل
کوونکی داسی خلق وی چه دهغوی صدق اودینداری مشاهدةً یادثقاتو په شهادت سره
اودهغوی دمجموعی حالتونو نه مظنون وی خو چونکه قران اوحدیث سره دسوء ظن
اوامر مسلم اوتکذیب دصادق نه ممانعت راغلیدی ددی حکمونو دواجب العمل کیدو دوجه نه
ضرورت دی چه که چرته داسی خلق څه خبره خلاف دظاهر نقل کړی نو دیکې تاویل پکاردی که
لری تاویل وی اوکه قریب - اودا ښکاره خبره ده چه دتاویل حقیقت هم دغه وی چه ظاهر سره
کلام متصرف کول خو ددی ارتکاب دضرورت دوجه نه کیږی اودلته ضرورت دادی چه
نصوص شرعیه واقع کې متعارض کیدی نه شی نو چرته چه ددی په مقتضیاتو کې صورت
دتعارض وی دهغی ختمول واجب دی مثلاً داهم ثابت بالنص دی چه کل ماجاء به الرسول حق
اوداهم ثابت دی چه انتم شهداء الله فی الارض اوشهادت دثقاتو دچا په صدق باندی مشاهده
سره ثابت دی پس مقتضی دنص دهغوی تصدیق شو بس داصدق دصادق ثابت په دلیل شرعی
خو بوری چه په یقینی دلیل سره نه وی ختم شوی دی حکم شرعی باندی دعمل کولو ضرورت
سره ددی حفاظت به کوو اوددی حفاظت دغه طریقه ده چه ددی اقوالو دلیل شرعی سره معارض
نه کیدل به حتی الوسع ثابتوو ددی تائید دپاره قصه دحضرت موسیٰ ﷺ اودحضرت خضر ﷺ
کافی ده - چه حضور ﷺ داقصه بیان کړه نو تمنائی اوفرمائیله لوصبر موسیٰ ﷺ الخ حالانکه
بظاهر افعال خضریه معارض وو دنصوص شرعیو اوددی بنیاد باندی حضرت موسیٰ ﷺ
انکارکړی وه خو په اخرکې ښکاره شول چه معارض نه وه اوپه دی وجه حضور ﷺ
لوصبر اوفرمائیلو پس ثابته شوه چه دکوم کس فی الدین یقیناً یاظناً ثابت شی هغه ته به
بغیر دیقین کامل نه ناقص الدین نه شی وئیلی اودچاچه دسرنه کمال فی الدین ثابت نه وی
بلکه یا یې ناقص الدین کیدل معلوم وی یامجهول محض وی هلته چونکه مدار داضطرار صرف
عن الظاهر نه شی موندلی کیدې لهذا دداسی خبر کوم چه موافق دظاهر اوعادت وی دهغی به
تصدیق کولی شی که داسی نه وی نو بیابه تکذیب کولی شی که قطعاوی اوکه ظناڅه چه
مقتضادمقام وی دی تقریر سره دشیخ عبدالله مجاور تکذیب اواهل کمال دمشائخو دتصدیق
وجه معلومه شوه اودمجاور دقول تاویل نه کول اوددی حضراتو دقول تاویل هم ثابت شول- بس
قصه دشودود څکلو که چرته دیو معتبر راوی نه وی نو بیا شکه تاویل به کوو کنی رد کوو به یې -

اوددوجونودتوکری قصه چه کوم هیئت سره نقل شویده ورومبی یې الله ته وونیل هرکله چه
هغه اونه منل نوبیایې دعزرائیل ؑ نه واخسته دیکښې صریح معارضه ده قضا اوقدرسره په
دی وجه یقیناً خلاف دنصوصوده اودایره ذکرشویدی چه تاویل په صورت دعدم تعارض
یقینی دعین کښې دی لهذا دلته به تاویل نه کوو. دی سره شبه داهل کذب اواهل باطل
دخبرونواوفرضی حکایتونودمحل الصدق هم دفع شوه خوداسره داهم دی چه دداسی اقوالو
خلاف ظاهرواعتقاد دواجب نه دی ځکه چه دادحجج شرعیونه نه دی خوده ته کاذب مفتری
اومخالفت سنت وئیل حرام دی یاداسی اووایه چه دوی طرفته نسبت ثابت نه دی یاداسی
اووایه چه لاتصدق ولاتکذب اوکوم سړی ته چه تبحرعلمی حاصل نه وی هغه دپاره داطریقه
اسلم ده ددی ټولوجزئیاتوفیصله آسان ده شبهات مشارالیها۔ قال قطب یونینی مختصرالمرأة
کښې دشیخ ابوسعید قیلوی نه روایت کړیدی چه مادحضرت په مجلس عالی کښې انبیاء علیهم
السلام دیوخال نه زیات لیدلی دی - اقول انبیاء علیهم السلام طرفته دی وخته پوری څه خبره
نه شی منسوب کیدی څوپوری دهغې ثبوت دحدیث نه وی څوپوری چه دحدیث نه داخبره ثابت
نه شی چه انبیاء علیهم السلام وروستودوفات نه دژوندوپه مجلس کښې شریکیږی – دی وخته
پوری دیوکس دکشف اودالهام په بهروسه باندی څه رنګ دوی خبری یقین کیدیشی چه انبیاء
علیهم السلام پس دوفات نه دژوندوپه مجلس کښې شریکیږی اوددی وجه داده چه دچاکشف
یاالهام په شریعت کښې حجت نه دی دی نه علاوه هرکله چه مونږه ویتوچه درسول الله ﷺ
مجلس عالی دشیخ عبدالقادر ؒ جیلانی دمجلس نه په کرورونودرجی اوچت دی
اوحضرات صحابه کرام ؓ دشیخ ابوسعید قیلوی ؒ نه په کرورونودرجی اوچت دی
اودحضرات صحابه کرام نه چرته هم ثابت نه دی هغه فرمائی چه مونږ درسول الله ﷺ په مجلس
عالی کښې انبیاء علیهم السلام دیوخل نه زیات لیدلی وه نومونږته داروایت موضوع معلومیږی
ددی وجه داده چه مونږ دحفظ دمراتبوزیات خیال ساتو۔

جواب :دجناب رسول الله ﷺ په مجلس کښې تشریف نه راوړل مستلزم نه دی نفی دتشریف
راوړومجلس داولیاؤ ته نه شرعاً نه عقلاً په دی وجه تکذیب مشکل دی اګرچه تصدیق هم
واجب نه دی لکه څنګه چه دقاعده معیاریه په تفصیل کښې بیان شول – اواحتیاج دثبوت
بالحدیث دی نسبت کښې دی کوم چه عالم شهادت سره متعلق وی ځکه چه دی سره احتجاج
کیږی په خلاف دواقع دعالم مثال چونکه داحجت شرعیه نه دی لهذا دیکښې توسع اوتسامح

ده. قال دپیغمبرانو دمبارک روحونه دعامومسلمانانودروحونوپه شان نه دی چه دهغوی باره
کښې دچادکشف اوالهام سره که کومه خبره ثابت شی هغه اوونیلی شی بلکه دهغوی دروحونونه
کرورونودرجی اوچت دی اوشیهدانودروحونوداحال دی چه هغوی دشنومرغانوپه حجروکښې
اوسی اوهغه شنه مارغان په شیشوکښې اوسی کوم چه په عرش کښې زوړند دی لکه څنګه چه
دصحاح دحدیثونه ثابتیږی دکائنات په فضاکښې دروحونوګرځیدل روحونودپاره موجب دذلت
داحالت خودعامومسلمانانو دروحونوهم نه دی لکه دامام نووی ؒ دکلام نه کوم چه په
شرح دمسلم کښې دشهیدانواوانبیاؤ اوصالحینودروحونوباره کښې دی معلومیږی۔ نه داچه
خاص دانبیاء علیهم السلام روحونه دی کوم چه ټولونه زیات دالله په نزدقابل داکرام دی
اوداویناچه دشیخ عبدالقادرپه مجلس عالی کښې دپیغمبرانوروحونه دهواپه شان ګرځیدل
نودرسول الله ﷺ مجلس عالی ددی خبری زیات مستحق وه چه په هغې کښې دپیغمبرانوروحونه
ګرځیدلی وای خودلته روحونه خوڅه کوی یوروح هم یوصحابی چرته هم نه دی لیدلی
داعجیب التبه معامله ده چه دپیغمبرانوروحونه دخپل سردارعالم ﷺ دمجلس عالی خوچرته
هم دا اکرام نه کوی اودیوولی دمجلس عالی کوم چه دهغه په مرتبه کښې په کرورونودرجی کم
دی دا اکرام کوی داداحفظ دمراتبوهم قابل دکتودی.

جواب : تحت العرش مسکن دی اوقوالب ملبس دی اودیومسکن اوملبس ثبوت مستلزم نه دی
نفی دسیل اوتبدیل دملبس بس ممکنه ده چه په طریقه سیل یې نورانی لباس کښې کوم چه ددغه
ذکرشوقالبونه نه هم افضل دی تشریف راوړی دیکښې مفضولیت دشهیدانودروحونونه لازم نه
راځی اودمجلس عالی نبوی ﷺ متعلق دشبی جواب برنې جواب کښې تیرشو۔ قال خضر ؑ
اکثرحاضری درکوله مادسبب تپوس وکړو نووی وئیل چه څوك کامیابی حاصلول غواړی نوهغه
ددی حضرت ملازمت اختیارکړی۔اقول : ددی قول داندازبیان نه معلومیږی چه قائل خضر ؑ
دشیخ عبدالقادر ؒ جیلانی نه کم ګڼړی داهغه خضر ؑ دی کوم سره چه دحاضری ورکولو
اودکوم نه چه دکامیابی حاصلولواودچادملازمت اختیارولوچه حضرت موسیٰ ؑ اولوالعزم
پیغمبرته حکم شوی وه اوس هغه داسی شوچه هغه دشیخ عبدالقادر جیلانی ؒ په مجلس
کښې حاضری ورکوی دهغه نه به کامیابی حاصلوی دهغه ملازمت به اختیاروی پیغمبرکه
هرڅومره هم کم درجی والاوی خودولی نه په لکونوکرورونودرجی اوچت دی دهغه علوم دولی
دعلوم په کرورونودرجی زیات دی اوبیاخضر ؑ دهغه حقائقواواسرارباندی پوه شایدچه

یوپیغمبروی اودیوولی څه حقیقت دی که دهغه عشرعشیرهم وی دشیخ عبدالقادر جیلانی رحمه الله ملازمت په شرط دامکان که چرته اختیارکړی نوپه ځای وه هغه ته دده دملازمت اختیارولو څه ضرورت وه آوکه که چرته داسی اووائی چه حضرت خضر علیه السلام شیخ عبدالقادر جیلانی رحمه الله سره په اذن دالله ملاؤشوی وه اوهغه ته یې څه حقائق اومعارف اوخودل اوشیخ عبدالقادر جیلانی رحمه الله دهغه نه کامیابی حاصله کړه نوداخبره بې ځایه نه وه بزرگانوخوحفظ دمراتب نه کولوته زندیقیت وئیلی دی داکوم حفظ مراتب دی چه اولوالعزم پیغمبردولی نه ښکته اوغورزوی –ع دوستی بیخردالخ

جواب: حاضری ورکول داخودترجمی خرابی ده مونږددی یحضر په عنوان دتشریف می آوردندن ترجمه کولی شو. پاتی شوه دکامیابی اوملازمت قصه نوپه خپله ددی نسبت حضرت خضر علیه السلام طرفته نشته –بلکه دترغیب په نسبت دی بس دیکښ څه اشکال نشته ددی دامطلب کیدیشی چه داسی مقبول دی چه مونږپه اذن دالله خپل تشریف اوری سره هغه ته شرف ورکوو بس تاته پکاردی چه دی سره دهغه په مقبولیت باندی استدلال وکړی اوملازمت اوکامیابی حاصل کړی اوحضرت خضر علیه السلام نبی کیدل مختلف فیه دی اودتولوانبیاء علیهم السلام نه دهغه اعلم بالاسرار کیدل بی دلیله بلکه خلاف دلیل دی اوپه قصه مشهوره کښ داسرارکونیه ثبوت دی نه داسرارالهیه کوم چه کمال دمقصوددی خودی اموروته زمونږ په جواب کښ دخل نشته محض تبرعاً می ذکرکړیدی والله اعلم –[۱۸رجب/۱۳۲۱ھ/امدادج۳/ص۱۳۱]

تحقیق حق الله یاحق العبد بودن زنا

سوال: (۶۰۹)که چرته یوسړی واده کړی ښځی سره زناوکړی نوداگناه صرف توبی ویستلوسره معاف کیږی یاداچه دخاوندمعاف کولوسره معاف کیږی زناحق العبددی که حق الله دی دلته دی باره کښ اختلاف دی بعض وائی چه خاوندنه معافی ضروری نه ده توبی سره معاف کیږی اودلیل کښ داحدیث پیش کوی التائب من الذنب کمن لاذنب له دی حدیث دی باره کښ قابل دسندی دی یانه. بعض وائی چه بغیردخاونددمعافی نه معاف کیږی اودلیل کښ دحضرت سیدناداؤد علیه السلام اواوریا رضی الله عنه قصه پیش کوی دی دواړه کښ په حقه څوك دی؟

جواب: اخرج الستة عن ابی هریرة رضی الله عنه وزیدبن خالدالجهنی رضی الله عنه ، ان اعرابیااتی النبی صلی الله علیه وسلم فقال یارسول الله صلی الله علیه وسلم انشدك بالله الاقضیت لی بکتاب الله الی ان قال ان ابنی کان عسیفاعلی هذا

فزنی بامرائه وفیه قال صلی الله علیه وسلم لاقضین بینکمابکتاب الله تعالیٰ الولیدة والغلم ردعلیك ولی ابنك جلدمائه وتغریب عام الحدیث واخرج مالك وابوداؤد وعن ابن المسیب ان رجلامن اسلم یقال له هزال اشکی رجلاالی رسول الله صلی الله علیه وسلم الی قوله فقال النبی صلی الله علیه وسلم یاهزال لوسترته بردائك لکان خیرالك کذافی التیسرروایة اولیٰ ، دال است برآن که حضور صلی الله علیه وسلم بجزحدشرعی جیری نفرموده پس اگرعفوکنانیدن اززوج ضروری بودی لامحاله برآن تنبیه فرمودی وروایت ثانیه دلالت می کندبراجیت ستراین چنین امروظاهراست که ازعفو کنانیدن اززوج مستلزم ست افشاراپس غیرمحبوب خواهدبود واجب بودن شی باغیرمحبوب بودنش جمع نمیتوان شدپس مقتضائ هردودلیل برآن برآمدکه عفوکنانیدن بجزحق تعالیٰ ازکسی ضروری نیست بلکه گونه خلاف حیاست وسترافضل است وسردرین انست که این امرشنیع ازحقوق الله است زیراکه اگرازحقوق العباد بودی پس بائستی باذن مستحق جائزبودی واین باطل محض است وقصه اوریااولاً ثابت نیست ثانیاً ازابتناع فیه مس نیست زیراکه برتقدیرثبوت حق اوریا آن بود که مقصودازفر ستادنش امری بودکه ازراخیرنبود ، ثالثاً شرائع من قبلناهرگاه خلاف قواعدشرع ماباشدحجت نیست وحق آنست که آن قصه بی اصل محض است وحدیث التائب من الذنب کمن لاذنب له دلیل کافی ست ودرین باب فقط [جمادی الاخریٰ/۱۳۲۱ھ/ امدادج۳/ص۱۳۸]

دکل اجازت درخواندن دلائل الخیرات

سوال: (۶۱۰)دلائل الخیرات وئیلوخودلودپاره اجازت اخستل ضروری دی یانه اوڅوك چه بې بغیرداجازت نه لولی اوښایې هغه باره کښ څه ارشاد دی؟

جواب: جائزدی خوهغه فقط به نه کیږی کومه چه اجازت سره کیږی که چرته بغیراجازت یې څوك لولی اوښایې نوهغه هم دفائدی نه محروم نه پاتی کیږی فقط والله اعلم – بنده رشیداحمدگنگوهی. برنی جواب تشریح: دفائدی دوه قسمه دی یواجراوثواب دویم کیفیت باطنی بس بغیرداجازت نه وئیلوسره اجراوثواب کښ زره هم کمی نه کیږی البته کیفیت باطنی کښ تفاوت شته داتفصیل دی دحضرت مولانادجواب والله اعلم کتبه اشرف علی عفی عنه [۲محرم/۱۳۲۳ھ/ امدادج۳/ص۱۴۰]

تحقیق مالک زمین که زمیندار است یاگورنمنټ

سوال :(۶۱۲)شرعاً مونږ دزمکی مالکان یویاته ،حالانکه گورنمنټ قانونا فیصله کریده مالک دزمکی انگریزی سرکاردی مونږصرف یوه واسطه یو دیوزمیندار اودسرکاریه مینځ کې؟

جواب :صرف قانون جوړول خروج عن الملك دپاره کافی نه دی څوپوری چه استیلانه وی راغلی یعنی گورنمنټ دازمکی دزمیندارنه په زوره واخلی اوخپل طرفنه یې کرونده کوونکوته ورکړی بس تراوسه پوری زمیندار یقیناً دزمکی مالك دی .والله اعلم ، (۲۴جمادی الاولیٰ ۱۳۲۲ھ /امدادج۳/ص ۱۴۰)

تحقیق تفاضل نبی ﷺ وقران مجید

سوال :(۶۱۳)محمد ﷺ بهتراوافضل دی دقران نه یاقران افضل اواشرف دمحمد ﷺ نه دویم داچه فضلیت دجناب محمد ﷺ ددی قران محدمکتوب متلوباندی یاهغه کلام قدیم باندی دی کوم چه کلام نفسی دی ؟

جواب : فی الدرالمختار قبیل باب المیاه وعنه علیه الصلوة والسلام احب الی الله تعالیٰ من السمٰوات والارض ومن فیهن فی ردالمحتار قوله من فیهن ظاهره یعم النبی ﷺ والمسئلة ذات خلاف والاحوط الوقف ، دی روایت نه معلومه شوه چه مسئله مختلف فیه ده اوداهم معلومه شوه چه دیکښې توقف بهتردی زه وایم چه وجه ددی ښکاره ده چه دامسئله دضروریاتو ددین نه نه ده اونص ددی څه فیصله نه ده کړی قال الله تعالیٰ ولاتقف مالیس لك به علم وقال الله تعالیٰ ان الظن لایغنی من الحق شیئاً – په حدیث کښې په متکلمین فی القدرباندی غصه کول درسول الله ﷺ نه راغلیدی دی نه معلومیږی چه داسی فضول اموروکښې کلام کول ممنوع دی والله اعلم (۲۱شعبان/ ۱۳۲۲ھ/ امدادالفتاویٰ ج۳/ ص ۱۴۰)

حکم اعمال مستعمله برائ دفع وبا

سوال :(۶۱۴) پس دسلام مسنون نه عرض دی چه څوورځی اوشوی دی جسوئ کلی کښې دوبامرض خورشویدی – دهغی دفعی کولودپاره موځوطریقی اوریدلی دی – اوکتابونو نه معلوم شویدی خوپوره طریقی سره اطمینان نه کیږی نه دعمل پوره طریقه معلومیدی شی ددی ځای اکثره اوسیدونکوداکاردجناب په رائی کښې منحصرکړیدی چه کومه طریقه آسانه

ده ددی افت لری کولودپاره اوحصول دام اوامان په جائزطریقی سره منع کریشی چنده هم دی دی دپاره راغونډیږی خوتراوسه په یوکال کښې نه ده خرج شوی اوددوو ورځونه اکثر اوسیدونکښې دکلی بهرپه عیدگاه کښې راجمع کیږی څه لږ ساعت پوری توبه اواستغفار کوی اواوه څله اذان کوی بیادوه رکعته نمونځ کوی اوالله رب العزت نه ددی مرض دفع کولودپاره دعاغواړی داعمل یابله څه طریقه وی هغه ولیکی – کتاب شرح محمدی کښې کوم چه دفقی کتاب دی په اردوکښې منظوم دی په هغی کښې یې داسی طریقه لیکلی ده که چرته داجائزوی اوراتی عالی کښې مناسب معلومیږی هغه هم پوره طریقی سره حامل دخط ته وښایې په خادمانوبه بې اندازی احسان وی نقل ازکتاب شرح محمدی -

ترجمه دشعرونو: دوبانه یې هغه ساتی څوك ښکاره باره ددی دبچ کولوداسی ترتیب کوی – دښارپه څلوروواړوکښې غواګانی حلالی کړی- اودازره سره دالله نیازکړی- بیادهغی غوښه صفاکړی – بیایوه یوه تیکه دهغی په مومنانو اوخوره وی- بیادهغی نه ورووستوقران مجید را واخلی اوپاکیزه مومنان ورته راجمع شی- بیادهغی دلاندی اوه څله تیرشی اوقبلی طرفته مخ کړی بیادهغی نه ورووستودوه رکعته نمونځ وکړی- اوپه عاجزی سره اوه بانگونه ووایې – وایې چه اوه ورځی به دابانگونه وایې – اواوه څله به هره ورځ وایې – ای مومنانوداد بانگ اثردی – دی سره به ټول طرفونه صفا شی.

جواب : مهربانی وکړی په بنده سلمهم الله تعالیٰ السلام علیکم ورحمة وبرکاته : الله تعالیٰ دی دامرض دهرځای نه ختم کړی کوم عمل چه تادشرعی محمدی نه نقل کړیدی ددی هیڅ اصل نشته اونه دبانگ ونیلوڅه اصل شته اونه په جمع نقل کول ثابت دی په دی وجه داټول اعمال دی بند کړیشی دی دپاره اصل دوه خبری دی. دصدقی زیاتوالی اودگناهونونه توبه کول اوصدقی دپاره چنده جمع کول مناسب نه دی اکثرکتلی شویدی چه ورکولوکښې اخلاص نه وی بلکه هرچاته پکاردی چه په خپله دتوفیق موافق ورکړی کومه چه شویده دټولوورکوونکونه اجازت واخلی اوداسی خلقوته نقد یاغله پری واخلی ورته ورکړی کوم چه دیرحاجت منددی اوچانه هم سوال نه کوی اوعیدگاه کښې جمع کیدل هلته دعاکولوکښې څه باك نشته – خومه بانگ وایې اومه جمع سره نفلونه کوی لکه ژاړی اوځان ته نفلونه کوی اوبهتره ده چه کورکښې نفلونه وکړی اوبل داضروری دی چه حقوق العباد دچاپه ذمه وی دهغی نه غاړه خلاصه کړی چاچه دچاحق دباؤ کړیدی هغه ته یې واپس کړی ظلم ،غیبت ،

دروغ، بدنظري، وغيره ګناهونه پريږدي اوهروخت استغفار په ژبه اوزړه سره جاري کړي اوچاته چه سورة تغابن کوم چه داته ويشتمي سيپاري په دريم پاؤکي دی يادوي- سحراوماښام پس دنمانځه نه يې لولي اوپه خپل ځان اوکوروالوباندي يې دم کوي اوکوم شي چه خوري اوڅکي وروميې په هغې سورة قدردري ځله دم کوي بلکه څوك چه مبتلاشوي وي هغوی ته يې هم په اوبودم کړي وي څکوي يې- اوداتعويذوليکي اوتولوته يې په ډيه وتړي (تعويذ) بسم الله الرحمن الرحيم بحرمت حضرت شيخ مجدد الف ثانی رحمه الله وحضرت خواجه محمدصادق رحمه الله ازشروآفت وباوطاعون نګاه دارصلى الله تعالىٰ على خيرخلقه وآله واصحابه اجمعين ، اوداوليکي اوپه کوهي کښې يې په اوبوکې واچوي دټولونه لوی شي دګناهونوپريخودل دي اوظاهري علاج معالجه هم ضروري ده والسلام - ۳۱ذي الحجه ۱۳۲۲ه (امداد ج۳/ ص ۱۴۱)

تحقيق وصيت نامه که چندباربنام مجاورروضه شيوع يافته

سوال :(۶۱۵) څه فرمائي علماء دين په اومفتيان شرع متين په دې مسئله کې چه يو وصيت نامه دجناب رسول الله ﷺ طرفته شائع شويده کومه چه دشيخ عبدالله خادم مجاورروضه اطهرته ارشادشويده - ددې څه اصل دی مستفتي دټولي وصيت نامي- نقل ليکلي وو داختصاروجه نه اوبناء على الشهرة مي پريښود؟

جواب : داسې وصيت نامه ډيرځله شائع شويده هميشه په دې نوم اولقب شائع کيږي ومبي خوداتعجب دی چه يوسړی دومره اوږدعمرموسی .دويم داتعجب دی چه ديوکس نه علاوه بل يوخادم يادنوروملکونوبزرګانوته دادولت دزيارت اودخبروکولونه نصيب کيږي .دريم که چرته هم دغه شان قصه کيږي نوهم په دغه مدينه منوره کې دهغه زيارت مشهوريدل پکاردي حالانکه دهغه ځای دتلونکوراتلونکونه يادخطونونه ددې اموروتام اونښان هم نه معلوميږي بياصرف داسې بې سنده څه مضمون قابل د اعتبارنه شي کيدی .اونه هغه چه داپه زړه کي څه راشي اومشهورئي کړي شريعت کی حکم دی چه کومه خبره وی دهغې تحقيق نه وروستوهغه معتبروګڼی ددې نه علاوه په دېکې بعض مضامين داسې دي چه دشريعت اودعقل خلاف دي مثلا اولس لکه مسلمانان کلمه ويونکی مړه شول اوپه هغه کی صرف اولس مسلمانان ووروميې خودالله ﷻ رحمت غالب دی په غضب باندې .دويم موښ‌په ځله وينوچه ډيرمسلمانان توبه ويستونکی اوکلمه ويونکی مري کوم چه علامه دخاتمه بالخير

پيادې مضمون ګنجائش چرته دی دغه شان په دې کې ئې ليکلی دې چه په تارك الصلوة دجنازې لمونځ مه کوی داحکم صفاحديث خلاف دی صلواعلى کل بروفاجرداهم قرينه ده ددې وصيت نامي دغلط کيدو .دغه شان دکومو څيزونوبدعت کيدل چه دليل شرعي سره ثابت شويدي لکه تخصيص دشربت دکربلادشهيدانودپاره اوکيردحضرت خاتون دپاره اوپلاودحضرت غوث الاعظم رحمه الله دپاره دغه شان دنن اوصباغوندې مولودشريف ددې تولوڅيزونوپه دې کې ترغيب دی داټولې خبرې په دې کې دعقل اوشرع خلاف دي په دې وجه داوصيت نامه هسې چاجوړه کړيده محدثينوددې نه په سپکوقرينوباندې حديث ته موضوع وئيلی وی اودموضوع اشاعت اوروايت نصااواجماعاحرام دی بلکه دبعض محدثينوپه نزدکفردی هرګزددې تول مضمون صحيح مه ګڼې البته چه کومې خبرې په قرآن اوحديث اودينی کتابونوکې ليکلی دی دهغې موافق په نيکه لاره باندې ځې اوبدې لارې نه ځان بچ کوی اوددروغژنې خبرې نسبت کول حضرت پيغمبر ﷺ ته ډيرلويه درنه ګناه ده په دې وجه ددې مضمون رواج ورکونکی ګنهګاردی ۱۲ذي الحجه س۱۳۲۲ه (امدادج۳ ص۱۴۲)

څناورسره بدکاری کول

څه فرمائي عالمان ددين اومفتيان دشرع متين په دې مسئله کې چه يوسړی که عبدالله دشيطاني وسوسودوجه نه دزيدغواسره زناوکړه نعوذبالله خوداعبدالله په دې خپل فعل باندې ډيرپښيمانه دی اوخالص توبه ئې وکړه لکه ديوعالم په لاس ئې هم توبه اوبيعت وکړه اودغه توبې باندې تراوسه کلك ولاړدی اودغه عالم حکم وکړوچه دا غوا عبرة په اورکې وسوزي خوعبدالله ودغوامالك ته پيسې ورکړې اوهغه ئې ترينه واخسته بياخوورځې پس ئې هغه غواچرته لرې بوتله اوخرڅه ئې کړه اوس دهغې غوانام اونښان هم نشته چه چرته ده اوعبدالله دهغې غواقيمت په خپلوضرورياتوکې خرج کړو ددغه وجه نه اوس عبدالله خلق دمسلمانانو دناستې پاستې خوراك څښاك تردې چه جمعه اواخترونوکې دټولوخلقونه وروستوصف کې يعنې دماشوم اونابالغ دصف نه هم وروستوکولی شی دې سره دهرچاپه مخکې ډيرذليل اوبدترشو.اګرچه عبدالله سل ځله توبه وکړه بياهم څوك اعتبارنه کوی داځکه دې اودشريعت موافق داغوالرې چرته خرڅول ځنګه دې اودغه قيمت عبدالله خپل خرچه کې استعمالولی شی يانه اواخستونکی ته ددې غوانه فائده اخستل جائزدی يانه ؟

جواب : فی الدرالمختارولایحدبوطی بهیمة بل یعزروتذبح ثم تحرق ویکره الانتفاع بها حیة ومیتة مجتبی
ای لقطع امتداوالتحدث به کلمارؤیت ولیس بجواب کمافی الهدایة وهذا اذاکانت ممالایوکل فان
کانت توکل جازاکلها عنده وقالا تحرق ایضافان کانت الدابة لغیر الواطی یطالب صاحبها ان
یدفعها الیه بالقیمة ثم تذبح هکذا قالوا وفیه قولهم یطالب صاحبهاان یدفعهاالی الواطی لیس علی
طریق الجبر وعبارة النهر والظاهرانه یطالب علی وجه الندب ، عبارتونونه معلومه شوه چه
دامام صاحب رحمه الله په نزد ددی غواحلالول اوخوړل جائزووا ودصاحبینوپه نزداګرچه ددی
خوراك مناسب نه دی بلکه سوزول مناسب دی خوددی حکم اصلی علت دادی چه
داغوابیاپیاکتل اوددی مشهورول نه وی معلومه شوه چه څه بلی طریقی سره ددی شهرت
ختم شی نومقصودحاصل شولکه څنګه چه په صورت دسوال کی که تصریح ده چه هغه لری
لاړه اوس په نظرهم نه راځی چه مشهوره شی بس مقصود حاصل شو بیاهرکله چه داځناور
دغیرواطی وی نودواطی په لاس ددی دبیع جائزکیدوته معلومه شوه چه قیمت ددی حلال
دی اوددی تولوخبرونه چه قطع نظروکړی هرکله چه ددی سوزول ممکن نه دی اوتکلیف
مالایطاق شرعاختم شویدی نوداسری دومره تنګول چرته جائزدی بل داچه داحکم په درجه
دوجوب کی نه دی بس دغیرواجب په پریخودوباندی دومره سختی داخوپه خپله تجاوزدی
دحدودشرعیونه په دی وجه په تولوواجب دی چه هرکله دی سړی توبه وویسته نوهغه نه
پریشانه کوی کنی ګنهګاربه شی والله اعلم ۱۵رمضان س۱۳۲۳ھ (امدادج۳ ص۱۴۴)

تحقیق ایذاء ارواح خبیثه

سوال :(۶۱۶)ارواح خبیثه انسان ته تکلیف رسولی شی یانه ارواح خبیثه نه څه مراد دی؟

جواب :نه شي رسولی ۱۸ جمادی الثانیه ۱۳۲۵ھ / امداد ج۳/ص۱۳۷)

سوال :(۶۱۷)الاول :دیوزنانه تقریبادرویشت کاله عمردی اودوه کاله ئی دیبعت وشول بظاهر معالجه کی په هغه مختلف حالتونه خی راځی بعض دهغی نه دادی چه په حالت دبیداری کی څه رڼاشنه غوندی یاسره غوندی ورته ښودلی کیږی چه زیاتیږی اومکان راګیروی اوتعوذوغیره سره نه ختمیږی اودارڼاکله کله یوی ګنتی پوری وی اوهره ورځ ښودلی کیږی نودارڼانقصانی ده که غیرنقصانی که چرته نقصانی ده نودلری کولوڅه صورت دی؟

جواب :دی کی ګڼ احتمالات دی څه دماغی مرض وی اودشیطان تسلط اوغلبه وی کله کله روح طیبه تصرف وی ددی تحقیق ددویم سوال په جواب کی راځی رومبی صورت جسما نقصان دی . ددی ختمولودپاره طبیب ته تلل پکاردی دویم صورت نفسااوپه واسطه دنفس جسماهم نقصانی دی ددی ختمولودپاره عامل ته تلل پکاردی دریم صورت اصلا نقصانی نه دی صرف دی حالت کی نقصانی دی هرکله چه صاحب واقع ته دی تلبس بالارواح په وجه عجب وی دی صورت کی دینانقصانی دی .ددی علاج دعجب ختمول دی دی احتمالاتوکی دیوتعین قرائن مقامیه سره کیدیشی کوم چه مشاهده باندی موقوف دی دااحتمالات هغه وخت دی چه کله دتلبیس اودروغواحتمال نه وی کنی کله دغه شان هم کیږی زه دیوشق تعین نه شم کولی احوط دادی چه تول تدبیرونه وکړی ۲۵ذی قعده س۱۳۵۰ھ (القعدشعبان س۱۳۵۱ھ ص۷)

سوال :(۶۱۸)ایضاًثانی :دسلف صالحینوارواح په یوه زنانه مسلط کیږی اوخپله پته هم ښائی اوکه چرته په کورکی څوك مریض وی هغه دصحت دپاره اوبه هم دم کوی یاتیلووغیره باندی دم اچوی دی سره مریض ته یقینافائده کیږی اوصحت ورته ملاویږی زما بعض عزیزانوته څه وظیفه هم ښائی دهغه خلق ورد کوی نوآیاروحونه داسی تصرف کولی شی که چرته نه شی کولی نوشریعت کی به داسی عقیده لرونکی ته څه وایو .امیددی چه تشفی وکړی اوزمونږه پریشانی لری کړی برنی سائل؟ .

جواب :دیکی هم هغه برنی تول احتمالات دی اواحتمال دتصرف دارواحو اګرچه ډیرغادردی خوممکن دی اګرچه دعوامو غلوته وګوری اوددی نه بالکلیه نفی وکړی اوداذا استقرارارواح فیی البرزخ منافی نه دی هغه استقراراصل عادت دی اودڅه حکمت په وجه پس داذان الهی نه ددی نه انفصال خارق عادت دی اوددی وقوع احیانامتواترالغی ده تفسیرمظهری کی هم دی ته اجمالاتعرض کړی دی حیث قال بل احیاء یعنی ان الله تعالیٰ ارواحهم قوة الا جساد فیذهبون من الارض والسماء والجنة حیث یشاؤن وینصرون اولیائهم ویدمرون اعداء هم انشاء الله تعالیٰ قوا ... متواترعن کثیر من الاولیاء انهم ینصرون اولیائهم ویدمرون اعدائهم یهدون الله تعالی ... الله تعالیٰ اه ، دلته هم تعیین دپاره دقرائنوحاجت دی اوافادت مذکوره فی السوال احتمال داثردروح مرجع نه دی په حدیث کی دشیطان حضرت ابوهریره رضی الله عنه ته دایة الکرسی تلقین کول راغلی دی ۲۵ذی عقده س۱۳۵۰ھ (النورشعبان س۱۳۵۱ھ ص۷)

د دست غیب تحقیق

سوال: (۶۱۹) دست غیب څه شی دی او څرنګه حاصلیدی شی آیا په دی باندی عقیده لرل په شان دنورو دینی اعتقاداتو دی؟ ۲۰ جمادی الثانی س۱۳۲۵ھ (امداد ج۳ ص۱۴۷)

جواب: په واسطه دژوند غلا ده لهذا حرام دی. (امداد ج۳ ص۱۴۷)

تحقیق همزاد

سوال: (۶۲۰) همزاد څه شی دی آیا دا په قبضه کی راتلی شی؟

جواب: د الفظ د خان نه جوړ کړی شویدی البته پیریان په څه عمل باندی مسخر کول صحیح دی ۲۰ جمادی الثانی س۱۳۲۵ھ (امداد ج۳ ص۱۴۷)

دفع شبه قادیانی وتفسیر ایت

سوال: (۶۲۱) مرزا غلام احمد قادیانی وائی چه نبوت کلی او جزئی طور باندی ختم شویدی دا خبره غلطه ده حالانکه د دی ایت لفظی ترجمه نه معلومیږی چه درسالت سلسله ختم شوی نه ده ایت په سورة اعراف کی دی. یبنی ادم اما یاتینکم رسل منکم یقصون علیکم ایاتی. دی ایت نه ثابتیږی چه د نبوت سلسله ختم شوي نه ده که چرته ختم شویده نو د دی ایت څه مطلب دی. د دی تسلی بخش جواب ولیکی؟

جواب: د ایت مطلب ښکاره دی چه دا ایت متصل دی قصه د ادمؑ سره وروستو د خطاب داهبطو نه دا هم ارشاد و شو چه اما یاتینکم رسل الخ په دی وجه د دی خطاب نه وروستو پیرسولان راغلی دی اګرچه پس د ختم نبوت نه نه دی راغلی. ۱۲ ذی قعده س۱۳۲۵ھ (امداد ج۳ ص۱۴۷)

تعدد ادم سوال متعلق

سوال: (۶۲۲) درکتاب هدایة الاسرار منقول است که یکی از علمائ نصاری بجناب ولایت مآب حضرت علیؓ عرض نموده که پیش از آدم صفی اللهؑ چه بود حضرت فرمود که آدم باز تکرار کرد و باز همان جواب داد و بار سوم سوال کرد و همان جواب یافت و صاحب تاریخ خواجگی می نویسد که شخصی از امام برحق امام جعفر صادقؒ احوال پیدایش آدم پرسید حضرت فرمود که آدم صفی الله که جد من و تست می پرسی یا از آدم دیگر آن شخص

متعجب شد و عرض کرد که یا حضرت سوائ ادم صفی الله دیگر بوجود آمده آنجناب فرمود که آدم صفی الله آدم صد و یکم است و قبل از وی یك صد آدم گذشته اند که اولاد و احفاد هر یکی ازانها نیامانده و هم در تاریخ طبری مسطور است که روزی موسیؑ از مدت خلقت آسمان و زمین بحضرت رب العالمین استدراك نمود حکم شد که در فلان وادی چاهی است که خود را بر سر آن چاه برسا و سنگ ریزه دران بیند از تا حقیقت حال بر تو هویدا شود موسیؑ بر سر آن چاه رفت و سنگ ریزه دران انداخت از اندرون چاه آوازی برآمد که کیست بر لب چاه فرمود که منم موسیٰ بن فلان بن فلان تا آن که سلسله نسب خود تا آدم صفی اللهؑ بشمرد و دیگر بار آواز از آمد که در هر زمانی شخصی به همین نام و نسب بر سر این چاه آمد و سنگی درین چاه اداخته تا آنکه نصف چاه پر شد والله اعلم حاصل آن که این همه بمعنی مذکور سوائ کتب مسطوره از کتبهائ معتبر سیر یا آثار و غیره به ثبوت فی رسد یا چه وخلاصه احوال آن برچه منوال؟

جواب: این چنین مضمون اکثر بزرگان منقول شده است مگر تحقیق آنست که حضرت شیخ مجدد الف ثانیؒ ده مکتوب پنجاه و هشتم از جلد اند و هو هذا نوشته بود که شیخ محی الدین عربی قدس سره در فتوحات مکه حدیثی نقل می کنند که آن سرور فرموده علیه و علی آله والصلوة ان الله تعالیٰ خلق مأته الف آدم و حکایتی می آورد در بعضی مشاهدات عالم در وقت طواف کعبه معظمه چنین ظاهر شد که همراه جمعی طواف می کنند که من ایشان رانمی شناسم و در اثنائ طواف ایشان دو بیت عربی خواندند که یکی ازان دو هیت این ست

لقد اطفنا کما طفتم سنینا ****** بهذا البیت طرا جمعینا

چون این بیت شنیدم در خاطر گذشت که اینها ایدان عالم مثال اند و مقارن این خطور یکی ازینها بجانب من نگاه کرد و فرمود که من از اجداد توام من پرسید که چند سال است از فوت تو فرمود که از فوت من زیاده از چهل هزار سال ست من از روی تعجب گفتم که از ابتدائ خلقت آدم ابی البشر علی نبینا علیه الصلوة والسلام تا این دم هتم هزار سال تمام نشده است فرمود تو از کدام عالم میگوئی این آدم است که در اول دوره هفت هزار سال خلق شده است شیخ فرموده درین وقت آن حدیث نبویﷺ که سابق تحریر یافته است بخاطر گذشت که موئد این قول ست مخدوما مکرما درین مسئله بعنایت الله سبحانه آنچه برین فقیر ظاهر گذشته است که این همه آدم که پیش از وجود حضر آدم علی نبینا علیه الصلوة والسلام گذشته

اندوجوشان درعالم مثال بوده است شهادت همین حضرت آدم است که درعالم شهادت همین حضرت ادم است که درعالم شهادت موجودگسته است ودرزمین خلافت یافته ومسجودملائکه شده صلوات الله تعالیٰ تسلیماته سبحانه علی نبینا وعلیهم اجمعین خاتمہ مافی الباب آدم چون برصنعت چامعیت مخلوی گشته است درحقیقت خودلطائف واوصاف بسیار واردوپیش ازوجوداویقرون متطاوله درهروقتی ازاوقات وصفتی ازصفات یالطیفه ازلطائف اوبایجادخداوندی جل سلطانه درعالم مثال موجود گشته است وبصورت آدم ظاهرشده مسمیٰ باسم اوگشته وکاروبارآدم منتظرازوی بوقوع آمده حتیٰ که توالدوتناسل که مناسب عالم مثال است نیزبظهورپیوسته وکمالات صوری ومعنوی مناسب آن عالم نیزیافته وشایان عذاب وثواب گشته بلکه درحق اوقائم شده بهفتی به بهشت ودوزخی بدوزخ رفته بعدازان دروقتی ازاوقات بمشیت الله سبحانه صفتی یالطیفه دیگرازصفات ولطائف اوعلی نبیناوعلیه والسلام درهمان عالم بمنصه ظهورآمده وکاروباری که ازظهوراول بوجودآمده بوداز ظهور ثانی نیزبوجودآمد وچون الصلوة آن دوره نیزتمام شده ظهورثالث ازان صفات ولطائف اوعلی نبیناوعلیه الصلوة والسلام بحصول پیوسته وچون آن ظهورنیزدوره خودراتمام کرده ظهوررابع به ثبوت پیوسته الی ماشاء الله تعالیٰ وچون دوائرظهورات مثالیه اوکه تعلقات به صفات ولطائف اوداشت تمام گشته آخرالامرآن نسخه جامعه درعالم شهادت بایجادخداوندی جل سلطانه بوجودآمده معززومکرم گشته اگرصدهزارآدم باشندهم اجزاء همین آدم انوست وپائ اویندومبادی ومقدمات وجود اویند انتهی مختصراً وتمام اودرمکتوب است من شاء فلیرجع الیه والله اعلم [۲۳ جمادی الثانی امدادج۳ص۱۴۸]

معامله باغیرمقلدان

سوال: (۶۲۳) یواشتهاردغیرمقلدینوپه چاندپورمقام کی راغی هغه ستاسوپه خدمت کی درلیږم ددی مضمون صحیح دی یانه دوئ پسی لمونځ کول پکاردی یانه حاصل دامضمون داشتهار...... معنون به نقل معاهده علمائی اهل حدیث وفقه مدخوله عدالت کمشنری دهلی چونکه دهلی اوډیرښارونوکښ اکثرناپوه خلقومسائل فرعیه کی ډیرتنازعات پیداکړی دی اوقسماقسم اشتهارات اورسالی خوری کړی دی اودشمنی ته ئی نوبت رسولی دی فساداوعنادورسره زیات شونوبت عدالت ته ورسیدوحالانکه دااختلاف دسلف صالحینو نه راغلی دی خوهغه حضراتوکی بغض اوعنادنه وواونن صباخلق ددغه فروعی مسئلوپه وجه

اتفاقی حرمتونوکی اخته شویدی ځکه چه غیبت اوعداوت بالاتفاق حرام دی په کومومسئلوکی چه اختلاف دی هغه دادی داوبوپلیتیدل، امین بالجهر، رفع یدین اونور اختلافی مسئلی دی بعضوحرام وګڼل اوبعضوپه شان دموګده غرض داعتدال نه ووتل یوفریق دبل فریق په افعالوکی طعن اوتوهین سره پیش راښئ اولمونځ دیوفریق په بل فریق پسی جائزدی خپله کی محبت اواتحادساتی هیڅوک یوبل ته بدمذهب مه وائی منازعت اوتکرارمه کوی. انتهی مختصراً مواهیرفلان فلان ودسخط فلان فلان ازعلماء مقلدین وغیرمقلیدین مقام دهلی؟

نقل دمعاهدی داهل حدیثواوفقه مدخوله عدالت کمشنری دهلی می وکاته مضمون معلوم شودی جګړو کی دلیکلومی زړه نه غواړی ځکه چه هیڅ فائده نه راوزی ناحق وخت ضائع کیږی خوتاتپوس کړی دی ناچاره عرض کولی شی چه ددی مضمون بظاهرصحیح دی خوحقیقت کی ئی دهوکه کړی ده ځکه چه زمونږه غیرمقلدینوسره صرف په وجه داختلاف دفرعواوجزئیاتونه دی که چرته داوجه وی نورحنفیه اوشافعیه به چرته هم نه وه جوړشوی هروخت به جنګ جګړی وی حالانکه همیشه صلح اواتحادووبکه نزاع دی خلقوسره په اصولوکی راغلي دی ځکه چه سلف صالحین خصوصاامام ابوحنیفه نه ډیربدردوائی اودخلورونکاحونونه زیات جائزګڼی اوعمرفارق ته دتراویحوباره کی بدعتی وائی اومقلدینوته مشرکین وائی اودهغی په مقابله کی خپل ځان ته موحّدوائی اودامامانوتقلید دعرب دجاهلانودرسم په شان ګڼی چه هغوی به وئیل وجدناعلیه اباءنا معاذالله استغفرالله اووائی چه الله په عرش باندی ناست دی دفقه کتابونه اسباب دګمراهی ګڼی اوفصحا مخالف دسنت ګرځوی اوهمیشه دپاره فساداوفتنه جوړه وی علی هذالقیاس ډیرباطل عقائدلری تفصیل اوتشریح دهغه اوږده ده اومحتاج دبیان نه دی دخدای په دبندګانوباندی ظاهره ده خاص کرچه څوك ددوی تصنیفات وګوری په هغوی به داخبره اظهرمن الشمس شی بیاپه دوی باندی عادت دتقیی دی موقع باندی چپ شی ډیرخبروکی انځلی اومنکریږی بس ددی وجوهو[1] په بنیاد ددوی نه احتیاط په تولوامورودینی اودنیائی کی بهترمعلومیږی باقی جنګ جګړه هیچاسره هم ښه نه ده چه انجام ددی نه ماسوادخرابی نه هیڅ هم نه دی اومخالف مخاصم جګړی سره په لاره نه راځی

[1] البته چه کوم غیرمقلدینوکی داامورنه وی دهغوی حکم دشافعی المذهب په شان دی ۱۲منه

بیادبی فائدی تکرارنه څه حاصلیږی، قال الله تعالیٰ :یایها الذین امنو علیکم انفسکم لایضرکم من ضل اذاهتدیتم الایه ولی التوفیق والسلام علی من اتبع الهدیٰ اه ۸ محرم س۱۳۰۱ھ (امدادج۳ص۱۵۰)

خواب دیدن کسی حامله مرده راکه فرزندزائیده

سوال :(۴۲۴) اسلام علیکم څه فرمائی عالمان دین دی مسئله کی چه دیوسری ښځه دحمل په ورځو کی په تاریخ (۲۴ محرم/ س ۱۳۰۱ھ) کی وفات شویدی هغه ته دخوب په ذریعه دخالی په شپه په خورلسم صفرباندی دپنځوبجونه مخکی معلومه شوه چه دبی بی خوی شویدی اوس داتپوس کول غواړوچه دوخت پوره کیدونه پس قبرکولاوول شریعت کی څه حکم لری؟

جواب :قبر کولاوول شرعاجائزنه دی اوخوب دشریعت په نزدڅه محبت تامه نه دی کنی که څوك دخوب تعبیرویستونکی معلوم وی نوهغه نه تپوس وکړی بس یاخوداخوب یوقسم دخیالاتونه دی ځکه چه دمورساه سره بچی ساه اخلی هرکله چه دمورساه مرګ سره ختم شوه نوبچی هم مری یاکه چرته قدرت خداوندی سره په طوردخارق عادت داامرواقع هم شی نوپه طوردخارق عادت به هغه بچی هم دقبرنه راوزی ځکه چه الله رحیم اوکریم دی که چرته ددی بچی عمروی نودی به نه ضائع کوی بلکه ښکاره کوی به نی اوکه چرته مقدرکی دهغه عمرنه وی نوراویستوسره هیڅ فائده نه کیږی غرض صرف په خیال اوګمان باندی قبرنه دی کولاوول پکار قال الله تعالیٰ : انّ الظّنّ لایغنی من الحق شیئاً، والله اعلم فقط ۱۹ صفرس۱۳۰۱ھ (امدادج۳ص۱۵۱)

درمعنیٰ ولیمه

سوال :(۴۲۵) څه فرمائی عالمان ددین په دی مسئله کی چه زیدوائی چه طعام دولیمی هغه خوراك ته وائی کوم چه دواده دهلك دطرفه پس دفراغت دنکاح نه په دریمه ورځ خپلوانووغیره کې تقسیموی اوحدیث شریف ددی مصدق دی عمروائی چه کوم خوراك چه دختنی نه وروستوپه خپلوانوباندی تقسیمولی شی هغه هم دحدیث شریف موافق طعام دولیمی وه زیددعمروغلط وایې اوطعام ولیمه صرف دغه طعام کوم چه بره ذکرشوهغه بیانوی دی صورت کې دچاقول صحیح دی اوحدیث شریف کې کوم قول مستنددی؟

جواب :دلغت موافق اوپه اصطلاح دشریعت کې دزیدقول صحیح دی امااللغة فلمافی منتهیٰ الارب ولیمة کسفینة مهمانی عروسی وقیل اسم الولیمة یقع علیٰ کل دعوة یتخذبسرور حادث لکن الاشهر استعمالها عند الاطلاق فی النکاح ویقیدفی غیره فیقال ولیمة الختان ونحوذلك انتهیٰ وماالشرع فلما فی صحیح البخاری ومسلمة من انس ان النبی ﷺ رای علی عبدالرحمٰن بن عوف اثرصفرة فقال ماهذا قال انی تزوجت امرأة علی وزن نواة من ذهب قال بارك الله لك اولم ولوبشاة متفق علیه وعنه قال اولم رسول الله ﷺ حین بنی بزینب بنت جحش فاشبع الناس خبزاولحما رواه البخاری، اودختنی دطعام نوم اعذاردی اوبعض عالمانودطعام قسمونه په نظم کې راجمع کړیدی

ان لـــو لائم عشرة مــع واحـــد من عـــدها قـــدعزّ فی اقرانه
فالخرس عند نفاسهاوعقـــيقة للطفل والا عذار عند ختـــانه
ولحفـــظ قرآن واداب لقـد قالوا الحذاق لحـــذقة وبیانـــه
ثم الملاك لعـــقده وولیمـــة فی عرســـه فاحـــرص علی اعلانـــه
وكـــذلك مادبة بلاسبب یری ووكـــيره بنـــاء لمكانـــه
ونقـــيعة لقـــد مـــروروغیمة ولمضـــية وتكون من جـــیرانه
ولاول الشـــهر الاصـــم عتیرة بذبیـــحة جـــاءت لرفعة شانه

منقوله من ردالمحتار ج۵ ،ص ۱۵ ، اوکله کله توسعاومجازاً دتولوقسمونه ته ولیمه وایې په دی نظم کې وویل، ان الولائم عشرة الخ وفی درالمحتار علی الی ولیمة، دی طعام العرس. قیل الولیمة اسم لکل طعام (ج ۵/ص ۲۲۱) ولمامرمن عبارة متنهی الارب وقیل الخ، بس دعمروقول هم صحیح دی خواستعمال غالب موافق دقول دزیددی، لمامرمن ان الاشهرالخ، ی داڅه شرعی مسئله نه ده صرف نزاع لفظی ده، دی باندی څه ثواب اوعقاب مرتب نه دی، والله اعلم ۱۸ جمادی الثانیه (۱۳۰۳ھ/ امدادج۳/ص۱۵۲)

وجوب دتقليد

سوال: (۴۲۶) ماجوابكم ايها العلماء رحمكم الله دي صورت كښې چه بعض خايونو كښې اكثر خلق حنفي المذهب ان پره وي خودهغوي عقيدې موافق دشريعت ښه مضبوطې وي عالمانو او حفظانو په خدمت كښې تعظيم ښه زړه سره كوي دهغوي دوعظ او پند حجت سره دهغو عقائدو پرپاخه وي اوس هلته بعض بعض غير مقلدين ئي اودوي دهركه كوي او وائي چه تاسو مذهب محمدي پريږدي او مذهب حنفي اختيار وي ؟

جواب: احكام شرعيه په دوه قسم د منصوص او غير منصوص. منصوص دوه قسم دي متعارض او غير متعارض. متعارض په دوه قسم دي معلوم التقديم والتاخير بس احكام منصوصه غير متعارضه يا متعارضه معلوم التقدم و التاخير كښې نه قياس جائز دي نه دچا دقياس اتباع جائز ده لقوله تعالى. وان هم الايظنون ولقوله تعالىٰ ان يتبعون الا الظن اه. ظن نه مراد هغه ظن دي كوم چه مقابل دنص دي او احكام غير منصوصه يا منصوصه متعارضه غير معلوم التقدم والتاخير كښې يا به هيڅ عمل نه كوي يا به كوي كه چرته هيڅ نه كوي نو مخالفت دنص ايحسب الانسان ان يترك سدي، او. افحسبتم انما خلقنكم عبثاً. لازم راځي او كه چرته كوي نو بغير دعلم يا تعين يو طرفته عمل ممكن نه دي بس علم يا تعين دحكم بعض سره خو كيدې نشي لعدم النص في الاول ولاتعارض من غير علم بالتقديم والتاخير في الثاني. عمل بالتعين قياس سره كيږي بس يا قياس دهر كس شرعاً معتبر دي چه څه چه دچا په ذهن كښې راغلل يا دبعضو معتبر دي دبعضو نه دي دټولو خو معتبر كيدې نه شي لقوله تعالى ولوردوه الى الرسول والى اولى الامر منهم لعلمه الذين يستنبطون منهم، بس دبعضو معتبر دي او دبعضو نه دي دچا چه معتبر دي هغوي ته مجتهد مستنبط وائي. دچا چه معتبر نه دي هغه ته مقلد وائي بس مقلد باندې لازمي شول چه ديو مجتهد تقليد وكړي لقوله تعالى واتبع سبيل من اناب الى. اوس پو هيدل پكار دي چه دڅلورو اړو امامانو دتاريخي حالاتو نه يقين معلوم دي چه لاندې دعموم من اناب الى داخل دي بس ددوي اتباع هم ضروري شوه پاتې شوه داخبره چه مجتهدين خو ډير تير شوي دي دبل چا تقليد ولې نه كوو ددې جواب دادې چه اتباع دسبيل دپاره علم دسبيل ضروري دي او ښكاره خبره ده چه ماسوا دائمه اربعو نه ديو مجتهد دسبيل دا تفصيل دجزئياتو او دفروعو معلوم نه دي بس څرنګه دچا اتباع ممكن ده بس انحصار دمذاهب اربعو ثابت شو پاتې شوه داخبره چه دې

څلورو اړو كښې ديو تقليد ولې دې. ددې وجه داده چه مسائل په دوه قسم دي متفق عليها، مختلف فيها، مسائل متفق عليها كښې خو به دهرچا اتباع كيږي مسائل مختلف فيها كښې خو دټولو كيدې نه شي. دبعضو به كيږي او دبعضو نه. بس ضروري دي چه څه وجه دترجيح به وي بس حق تعالى اتباع لره انابت الى الله باندې متعلق كړيده دكوم امام چه انابت الى الله زيات معلوم وي دهغه اتباع به كيږي اوس تحقيق دزيات انابت به يا تفصيلاً كولى شي يا اجمالاً. تفصيلاً داچه هره فرع او جز مختلف فيه وكتلى شي چه حق د چاطرفته دي اجمالاً داچه دهر امام په مجموعي حالاتو او كيفيت باندې نظر وكړى شي چه غالباً څوك به په حق وي او دچا انابت زياتي دي رومبي صورت كښې علاوه دحرج او تكليف مالايطاق نه مقلد مقلد پاتې نه شو بلكه دخپل تحقيق متبع شو نه دچاد سبيل وهو خلاف المفروض بس دويم صورت متعين شو چاته چه په امام ابوحنيفه رحمه الله باندې دهغه مجموعي حالاتو سره داظن غالب او اعتقاد راجع وي چه دې منيب او مصيب دې چاته په امام شافعي رحمه الله باندې چاته په امام مالك رحمه الله باندې چاته په امام احمد بن حنبل رحمه الله باندې په دې وجه هر يو ديو يو اتباع اختيار كړي او هر كله چه ديو اتباع لره وجه دعلم بالانابت التزام وكړې شو اوس بعض جزئيات كښې بغير دڅه قوي وجه يا دسخت ضرورت نه دهغه په مخالفت كښې شق اول به واپس راځي وقد ثبت بطلانه. بس بحمد الله دې تقرير سره وجوب دتقليد مطلقاً او تقليد دائمه اربعو خصوصاً او انحصار في المذاهب الاربعه او وجوب دتقليد شخصي او بطلان دتلفيق كالشمس في كبد السماء معلوم شو. ودونه خرط القتاد والكلام فيه طويل وفيما ذكرنا كفاية لطالب الرشاد انشاء الله تعالىٰ ولنعم ماقيل

هر كه سر بر خط فرمان وليلى نه نهد — كى ميسر شودش روئ براه آوردن

هر كه خواهد سر منزل مقصود رسد — بايدش پيروى راه نمايان كردن

او داوئيل چه مذهب محمدي مو پرښودو او مذهب حنفي مو اختيار كړ داعجيب دكم عقلو كلام دې ده ته داخبره هم نشته چه مذهب څه ته وائي دين محمدي ته مذهب محمدي وائي په دين او مذهب كښې ورته فرق هم معلوم نه دې چه دين مجموعه داصولو نوم دې او مذهب دمجموعه دفروعو او هر فروع دپاره اصول ضروري دي هر كله چه مذهب محمدي شونو دين څه شو داكس دې نسبت سره حنفيه منع كوي او خپل خبرو ته نشته چه څه خاوري خولي ته اچوي چه دين

محمدي دلاس اوزي او د حنفيه په نسبت خو نهايت صحيح دي ځکه چه دين په مثل دلوی ملك يا دلوئي قبيلي دي او مذهب په شان دښارونو او دوړو قبيلو دي اختلافات روزمره کی دخيل خان ښار او وړی قبيلی طرفته نسبت کوی البته هر کله چه دلوئي قبيلي يا ملك نه سوال کيږی هغه وخت خپل ملك او لويه قبيله ښائي دغه شان اطلاقات روزمره کی که چرته يو سړی خان ته حنفي ووائي او کله چه دين سره سوال وی او هغه وخت خان ته محمدي ووائي نو ووائي کوم شرك يا کفر لازم شو دی باندي اعتراض کول داسی دی لکه يو سړی ووائي چه ته خپل خان ته صديقي يا لکنهوی ولی وائي بلکه سړی يا هندیی او وښايه دداسی کس مقابله ماسوا د جواب جاهلان باشد خاموشی نه بل څه دی ايها الاخوان لا تسعوا فی الارض بالفساد والطغيان فان الفتنة اشد من القتل بالسيف والسنان والله المستعان على البليات والاحزان رب توفنا على الحق والايمان فقط ۱۵ ۱۰ شعبان ۱۳۱۴ھ روز چهارشنبه (امداد ج۳ ص۱۵۳)

رساله اعداء الجنة ملتوقى عن الشبهة فى اعداد البدعة والسنة

[فرق در تقليد و بيعت شخصی]

سوال :(۶۲۷) د حضرت مولانا اسمعيل شهيد رحمه الله کتاب ايضاح الحق الصريح يو عبارت می وکتو هغه سره می يوه شبه پيدا شوه لهذا اصل عبارت نقل کولو نه وروستو شبه پيش کوم ددی ازله وکړی چه زما تشفی وشی (عبارت) استحسانات اکثر متاخرين از فقهاء وصوفيه که بناء بر ظن حصول بعضی منافع دينيه ومصالح شرعيه بدون تمسك بدليلي از دلائل شرعيه واصلی از اصول عبادات يا معاملات اختراع می نمايند يا تحديد اصلی از اصول دينيه بحدوث خاصه احداث می کنند يا ترويج امری که شامل در قرون سابقه بود بروئ کار می آرند يا احتمال امری که دران ازمنه مروج بود عمل می آرند مثل نماز معکوس ووجوب تقليد شخص معيّن از ائمه مجتهدين ومثل تحديد ذکر کلمه تهليل باوضاع مخصوصه از اعداد وضربات وجلسات وتحديد ماء کثير بعشر فی العشر وترويج مسائل قياسيه وکشفيه واستغراق بجميع همت خود دران واخمال ظاهر کتاب وسنت مگر بطريق تبرك ويتمن همه از قبيل بدعت حقيقة است وآنچه در مقام عذر آن ميگويند هر چند که اين امر محدث است اما مشتمل بر مصلحتی از مصالح دينيه است يا اصل آن در شرع ثابت است اگر چه خصوصيت مذکوره محدث باشد پس مجرد اين عذر امور مذکوره از حدّ بدعات خارج

نمی گرداند اخل ، [دويم عبارت] ام تخرجيات متاخرين فقهاء مثل تحديد ماء کثير بعشر فی العشر بنا بر قياس بر زمين متعلقه چاه ومثل حکم بوجوب تقليد مجتهدی معين از مجتهدين سابقين وحکم بالتزام بعيت شخصی معيّن از شيوخ طريقت بناء بر قياس بر اطاعت امام وقت والتزام بعيت او وامثال آن از تخريجات غير محصوره که منقول از متاخرين فقهاء وصوفيه است وکتب فقه وسلوك بآن مملو ومشحون است واکثر اتباع ايشان همين تخريجات محدثه را احکام شريعت واسرار طريقت می انگارند همه از قبيل بدعات است ودلائل ايشان همه از قبيل لطائف شعر ونکات مخليه است که هرگز احکام مذکوره را از بدعت خارج نمی گرداند ودر دائره شريعت ايمانيه وطريقه احسانيه داخل نمی کنند الخ [تقرير د شبه] وجوب د تقليد شخصی معين ،تحديد اعداد درود ووظائف باوضاع مخصوصه وغيره داسی امور د کوم ناقصيت چه فی الدين عند المحققين مجرب دی داخو ښکاره خبره ده چه دا امور فی ذاتها د مقاصد ونه نه دی بلکه دنورو مقاصد دينيو ضروري يو د پاره مقدمات دی او په خپله فی ذاتها داسی دينوی محضه هم نه دی چه په هغه اجر د ترتب توقع نه وی او دا امور بهيا تها الکزاتيه زمانه خير القرون کی هم نه موندی کيدل اگر چه ددی اطلاق د نصوصو د عموم د لاندی داخل دی خو تخصيصات کذاتيه ضرور محدث دی نو بيا په ديکی او په نورو بدعتونو کی د کوم اطلاق چه نصوصو نه ثابت دی او حقيقت کذائی محدث کی به څه فرق وی که چرته محض دينوی دی نو دلائل شرعيه سره د هغه ثابتول څرنگه دوست شول او په منکرينو به نکير کول څنگه جائزوی اغرض د اصل مسئلی حقيقت او د حضرت شهيد د عبارتونو تصحيح مطلب يا تحقيقی جواب وليکی چه تشفی می وشی د خپلی اصلاح د پاره دعا طالب يم والسلام ؟

جواب : فی رد المحتار سنن الوضوء ان کان مما واظب عليه الرسول الله ﷺ او الخلفاء الراشدون من بعده سنة والا فمندوب ونفل الخ ،صــ ۲۰۶ ، ج۱ ، فی الدر المختار بحث النية والتلفظ عند الارادة بها مستحب هو المختار وقيل سنة يعنی احبا السلف اوسنة علمائنا اذلم ينقل عن المصطفیٰ ولا الصحابة ولا التابعين بل قيل بدعة فی رد المحتار قوله قيل سنة عزاه فی التحفة والاختيار الی محمد وصرح فی البدائع بانه لم يذکره محمد الصلاة بل فی الحج فحملوا الصلوة علی الحج قوله الخ اشاربه للاعتراض علی المصنف بان معنی القولين واحد سمی مستحباً باعتباراله احبه علماء تادسنة باعتبار طريقة حسنة لهم ام لا طريقة للنبی ﷺ کما حوره فی البحر قوله بل قيل بدعة نقله

فی الفتح وقال فی الحلیة ولعل الاشبه انه بدعة حسنة عند قصد جمع العزیمة لان الانسان قد یغلب علیه تفرق خاطره وقداستفاض ظهور العمل به فی کثیر من الاعصار فی عامة الا مصار فلاجرم انه ذهب فی المبسوط والهدایة والکافی الیٰ انه ان فعله لیجمع عزیمة قلبه فحسن فیندفع ماقیل انه یکره الخ فی درالمختار احکام الامامة ومبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا لمعاندة بل بنوع شبهته وفی ردالمختار قوله ای صاحب بدعة ای محرمة ولا فقد تکون واجبة کنصب لادلة علی اهل الفرق الضالة وتعلم النحو المفهم للکتاب والسنة ومندوبة کاحداث نحو رباط ومدرسة وکل احسان لم یکن فی الصدر الاول ومکروهة کزخرفة المساجد ومباحة کالتوسع بلذیذ الماکل والمشارب والثیاب کمافی شرح الجامع الصغیر المناوی عن تهذیب النووی ومثله فی الطریقة المحمدیه البرکوی. داعبارتونو دلاندنی امورو فائده ورکوی اروهبی ادسنت ګنې معناوی دی [۱] منقول عن الرسول الله ﷺ کماذکر فی عبارة لاطریقة النبی ﷺ [۲] منقول عن الرسول الله ﷺ للخلفاء الراشدین کماذکر فی عبارة واظب علیه الرسول ﷺ اوالخلفاء الراشدون [۳] منقول عن الرسول الله ﷺ اوالصحابة اوالتابعین کمافی عبارة ازلم ینقل عن المصطفیٰ ولا الصحابة ولا التابعین [۴] منقول عن العلماء کمافی عبارة اوسنة علماء نافی تفسیر السنة وفی عبارة انه طریقة حسنة لهم ای العلماء او چونکه بدعت مقابل دسنت دی کماهو ظاهر په دی وجه په دی باندې دبدعت هم ګنړی معنی دی یعنی دسنت دهری معنی مقابل. [۱] غیرمنقول عن الرسول [۲] غیرمنقول عن الرسول والخلفاء [۳] غیرمنقول عن الرسول اوالصحابة اوالتابعین [۴] غیرمنقول عن العلماء - او دا تعدد محض ظاهری دي دهری معنی کنی په حقیقت کې دسنت معنی ده - هی الطریقة المسلوکة فی الدین کماهومذکور بعد العبارة الاولیٰ باسطر. داټولی معنی سنت ته شامل دی او دبدعت معنی دی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا لمعاندة بل بنوع شبهة یابعنوان دیګرما احدث علی خلاف الحق المتلقی عن رسول الله ﷺ من علم اوعمل اوحال الخ کذافی الدرالمختار وردالمختار فی بحث الامامة قلت وهذا التلقی عام کان بلاواسطة اوبواسطة الأدلة الشرعیة کماهو معلوم من القواعد وهذا المعنی الحقیقی للبدعة مرادفی قوله ﷺ من احدث فی امرنا هذا مالیس منه الحدیث ای ادخل فی الدین ماهو خارج من الدین والثالث بالادلة داخل فی الدین لاخارج منه ، بس سنت حقیقیه

او بدعت حقیقیه نه شی جمع کیدی خو بدعت صوری په سنت حقیقیه سره جمع کیدیشی په دی وجه تلفظ به نیت الصلوة ته سنت ونیلی شویدی بعضو معنو په اعتبار سره چه هغه معنی یو قسم دی دسنت حقیقیه . او بدعت هم ورته ونیلی شویدی بعض معنو مقابل دسنت په اعتبار سره په دی وجه دحلیه په ذکر شوی عبارت کی ئی دا بدعت ګنلی دی او حسن ئی ورته ونیلی دی کوم چه صریح دی جواز د اجتماع په بعضو اقسامو دبدعت مع السنة الحقیقیه کی او دا اجتماع دحضرت عمر ﷺ ددی قول لمحة البدعة سره هم موید کیږی لکه څنګه چه جزئی حقیقی خو کلی سره نه جمع کیږی دالته نه داهم معلومه شوه چه دبدعت حسنه چه کومو بعض اکابرو نفی کړیده او مشهور اثبات دی دا نزاع لفظی ده نافی په خپله اصلاح کی بدعت حقیقی سره خاص کړیدی او مثبت بدعت عام اخته دی او دا رازدی چه صحابو ته خو دیوی خبری منقول عن الرسول ﷺ نه کیدو سره دهغی په سنت کیدو کی تردد راتلو او وروستو دبعضو دصحابو یاتابعینو نه منقول نه کیدو کی تردد راتلو وهکذا تردی چه مونږ دپاره به هم هغه خیز سنت وی کوم چه علماؤ راسخینو داصول دشرع نه ګنلی دي دی سره هم تعدد دمعنو دسنت تقویت کیږی هر کله چه دا مقدمه پوره شوه اوس دمولانا کلام طرفته متوجه کیږم دی دواړو عبارتونو کی ئی چه کوم شی بدعت ګرځولی دی دهغی بالمعنی الاعم بدعت کیدل منافی دسنت نه دی خو بدعت حقیقی کیدل دی صورت کی صحیح وی په دی وجه بل عبارت کی داقول دهغی قرینه ده .همین تخریجات محدثه را احکام شرعیت واسرار طریقت می انکارند. او روهبی عبارت به په دی باندی حمل کولی شی څکه چه محکوم علیه په دواړو عبارتونو کی یو خیزونه دی تفاوت بسیار ولا یعتبر ولا یوثر فی الحکم بس دمولانا د کلام د توجیه نه خوروزګار شوم خو که چرته یو سړی دا احکام مقصود فی الشرع نه ګنی او ددی دبدعت او غیر بدعت کیدو تحقیق طالب وی نو هغه دپاره یوی یوی جزئی تفصیل کوم . دی سره به په قواعدو شرعیو هم پوهه شی چه دی سره به دا امور غیر مذکور وفی المقام هم حکم وکړیشی بس پیش کولی شی ، دمعکوس لمونځ دین سره هیڅ تعلق نشته دا یو قسم مجاهده ده او دمعالجات طبیه په شان دنفس تادیب دپاره علاج دی. دی درجه کی دا ګنل بدعت نه دی البته که چرته دی سره دبدنی نقصان څه خطره وی نو ګناه ده کنی مباح دنورو ریاضات بدیتو په شان او که چرته دا څوک قریب ګنی خو بدعت دی ،تقلید شخصی: دی لره حکم مقصود بالذات ګنل بی شکه بدعت دی خو مقصود بالغیر ګنل یعنی د مقصود بالذات

مقدمه ګڼل بدعت نه دی بلکه طاعت دی ،تحدید دکلمی دتهلیل الخ ، یعنی دلااله الاالله دذکر حد مقصود ګڼل او مطلق زیادت دعدد دا جر سبب ګڼل او ضرباتو او جلسات دقبیلی دمصالح طیبه نه ګڼل بدعت نه دی او په خپله دا قربات ګڼل بدعت دی ،تحدید ما. کثیر دامقصود ګڼل بدعت دی او دعوامو انتظام دپاره بلاشبه مطلوب بالغیر دی، ترویج مسائل قیاسیه و کشفیه و استغراق بجمیع همت خود دران الخ ، دی کی مراد دظهور قرینه په خپله دی نه وروستو موجوده ده یعنی احتمال ظاهر کتاب سنت خو په طریقه دتبرك او تیمن دی طریقی باندی په بدعت کیدو کی څه شبه ده خو که هریو شی په خپله درجه کی وی نو هغه بدعت نه دی او په درجه داعمال کی بدعت دی دیکی غدر وروستو ذکر شوی دی نبکاره خبره ده چه نافع او مقبول نه دی څنګه چه مولانا و فرمائیل حکم بالالتزام بیعیت دی باندی مبنی کړی شویدی دی اعتبار سره بی شك بدعت او زیادت فی الدین دی او که چرته بله صحیح وی او هغه بناء هغه ده چه دهغی په اعتبار سره د طبیب داتباع شخصی التزام کیږی او ددی لوازمو نه ددی قائل کیدل هم وی چه ددی التزام پریښودل یا دبل اتباع سره بدلول جائز دی نو دی صورت کی هیڅ وجه نشته دبدعت کیدو ، دی نه وروستو دتخریجاتو په نسبت ئی چه کوم فرمائیلی دی محمل دهغی هغه صورت دی چه هر کله دحدودو نه هم مخکی بوتللی شی اعتقاداً یا عملاً مخکی ئی دهغی ددلائلو باره کی فرمائیلی دی مراد ددی نه هغه دلائل دی کوم چه اکثر جاهلانو کالعلماء دی مقاصد و باندی اختراع کړی دی نه چه دلائل صحیحه کوم چه بفضله تعالی داحقر په تصنیفاتو کی ذکر شویدی دی نه وروستو په تقریر شبه کی سوال کړی شویدی چه دیکی او نورو بدعتونو کی څه فرق دی که چرته بدعتیانو دی لره دحدودو نه تیرولی نو دا سوال تولو امورو کی خو نه په بعض امورو کی صحیح وو خو مشاهده ده چه هغوی دا بدعات داخل ددین بلکه دعبادات منصوصو نه ډیر زیات او موکد اعتقاداً یا عملاً ګڼی او محتاطینو سره دو مره بغض ساتی چه دو مره کافرانو سره هم نه ساتی او ددغه ذکر شوو برنو امورو اختیارونکی دداسی غلو نه پاك دی بس دی دوارو قسمو اعمالو کی فرق ظاهر دی .الکلام علی سبیل التزام فی المقام : کومه توجه چه دحضرت مولانا شهید رحمه الله کلام ذکر شویدی که چرته داخوك نه قبلوی نو اخر جواب دادی چه مولانا نه مجتهد وو او نه مخکی عالمانو نه بره وو .که چرته مونږ د مولانا ادب ملحوظ وساتو او دهغه ارشاد حجت و نه ګڼو نو زمونږ د څه التزام خلاف نه دی غایت مافی الباب دهغه دی ارشاد سره به دامسائل هم

مختلف فیه شی کوم کی چه نه په قائل ملامتیا شته او نه دقائل اتباع واجب ده . والله اعلم .وبقیت هذه العجالة باعداد الحجة ملتوق عن الشبهة فی اعداد البدعة والسنة .کتب سابع رمضان س ۱۳۵۲ھ

(النور محرم س ۵۴ ھ ص ۲۰)

مجتهد مقید بودن ابن همام رحمه الله را

سوال :(۶۲۸)حضرت ابن همام ته مجتهد مقید وئیل صحیح دی یا نه ؟

جواب :حضرت ابن همام ته مرتبه د اجتهاد حاصله ده او ده ته مجتهد مقید وئیل صحیح او ربنتیا دی قال الشامی فی جواب اعتراض علی ابن الهمام فی مسئلة واجاب العلامة المقدسی بان مابحث الکمال (ای ابن الهمام) هو القیاس کما صرح به الامام الحصیری فی شرح الجامع الکبیر واذا کان هو القیاس لایقال فی شانه انه غلط وسوء ادب علیٰ ان الشخص الذی بلغ رتبة الاجتهاد واذا قال مقتضی النظر کذا لشئی هو القیاس لایرد علیه بان هذا منقول لانه انما اتبع الدلیل المقبول وان کان الحیث لایقضی علی المذهب انتهی شامی ،ج۳ص۳۷۸ والله اعلم فقط

(امداد ج۳ص۱۵۲)

فرق در رسم وصورت رسم

سوال :(۶۲۹)احقر دلوری په تقریب دعقد کی څه رسم وغیره نه دی کړی البته بلاتکلف چه کوم عزیزان او خپلوان وغیره راجمع شول هغه باندی خوراك وغیره او خوړی شو .خو صورت ددعوت او داجتماع وغیره رسم والو په شان شو دی باندی خلق اعتراض کوی زما په ذهن کی خو مابه الفرق موجود دی خو ظاهرا داشکال جواب ذهن ته نه راځی که چرته حضور تفصیلا یا مختصرا معیار دفرق بیان کړی نو زړه به مو مطمئن شی ؟

جواب :اصل خو دغه دی چه هیڅ هم نه وی کنی داعتراضاتو چپ کوونکی جواب مشکل دی اګرچه په خپل ذهن کی فرق راتلل اسان دی هغه فرق دغه دی چه نه د رسم نیت وی او نه د رسم والو په طریقه وی نو دا رسم نه دی نه حقیقت نه صورت دغه معیار دفرق دی .ددینه دزیات لیکلو څه حاجت دی .والسلام (النور ص۲۷ ذی قعدة ش ۱۳۴۶)

دجال ذکر په قران کی نشته یانه

سوال :(۶۳۰) ددی څه حکمت دی چه د دجال چه دهغه فتنه دټولو فتنو نه لویه ده په قران مجید کی چرته هم دهغه ذکر نشته نه صراحتاً نه ضمناً دیاجوج ماجوج دفتنی دده فتنه دیره لویه ده که چرته په دی باندی اطلاع وفرمائی نو اطمنان به راته حاصل شی؟

جواب :زما دمذاق موافق خو دا جواب دی چه دحکمت غیر منصوص دتلاش هیڅ حاجت نشته [شعر]

حدیث مطرب ومی گو و راز و هر کمتر جو ٭٭٭ که کس نکشود و نکشاید بحکمت این معمارا

اودعام مذاق موافق جواب دادی چه رومبی داخو مسلم نه دی چه ذکرئی نشته بلکه دعیسی دنزول په ضمن کی دی شان سره ذکر دی چه عاده او سنت دالله ﷻ دادی چه هرنبی دیولوی فتنی دفع کولو دپاره لیږلی شی نو دحضرت عیسی ؑ تشریف راوړل هم دیولوی فتنی دفع کولو دپاره کیدل پکار دی مخکی ددی فتنی تعین دادحدیثو نه معلوم شویل داچه دافتنه به پوهیدو وی خکه چه دجال یهودی دی لکه څنګه چه دعیسیٰ ؑ رومبی هیبت هم دیهدیت فتنی دفع دپاره شوی وو بس رومبی خودی طریقی سره ذکر شویدی خو که چرته داذکر کول ذکرونه منی نو بیا دویم حکمت داکیدیشی اوکیدیشی خکه ئی وئیل چه داسی حکمتونه ظنی وی ا چه حوادث په دوه قسم دی یو هغه چه دهغه داثر او نقصان نه محفوظ پاتی کیدل یادهغی دفع کول دبنده په اختیار کی نه وی دریم قسم هغه چه په هغی کی دبنده اختیار وی قران مجید کی رومبی قسم ذکر کړی شوی دی خاص اعتبار سره ئی دیته عظیم وونیلو دویم قسم نه دی ذکر شوی فتنه ددجال دویم قسم کی ده چه دده داضلال نه بچ کیدل دهرچا په اختیار کی شته بل داچه دده داهلاك به دیو بنده په حساب سره وی دائی عظیم وګڼلو والله اعلم ۔ (النور ربیع الثانی س۵۴ھ ص۹)

قواعد شرعیه دپاره د، جماعت تبلیغ او تنظیم :امابعد الحمد والصلوٰة فعن ابی هریرة ؓ قال النبی ﷺ المومن القوی خیر من المؤمن الضعیف وفی کل خیر الحدیث رواه مسلم ،نن صباحه مسلمانان دهندوستان په کومو پریشانو کی اخته وی په هغه کی دوه طریقی مشروع دی یو دضعیفانو دپاره چه دسکوت محض نه کار واخلی نه دحفاظت دپاره څه سامان تیار کړی اونه د مدافعت اهتمام وکړی دویم اقوی اه دپاره چه دحفاظت او مدافعت تدبیر وکړی خپل خان

دپاره هم او خپلو ورونو مسلمانانو دپاره هم او برئی حدیث نه چه څنګه ددواړو طریقو جواز معلومیږی دغه شان ددویم طریقی ترجیح هم معلومیږی او دحفاظت محل دوه څیزونه دی یو دین او اصل هم دغه دی دویم دنیا ددی دحفاظت فضیلت دحفاظت ددین په دی حدیث کی ثابت دی من قتل دون ماله فهو شهید ومن قتل دون دمه فهو شهد ومن قتل دون دینه فهو شهید ومن قتل دون اهله فهو شهید ، جمع الفوائد عن اصحاب السنن ، او داخبره تجربی سره ثابته ده چه اکثر افراد دحفاظت خصوصا دنورو مطلقا حفاظت او دخپل ددنیا حفاظت افراد عادة موقوف دی قوت اجتماعیه او اتفاق منظم باندی په دی وجه دحفاظت ضرورت داعی وګرځید و اجتماع او اتفاق او دغه تنظیم طرفته او نه مونږ ورونو کی تقریبا دانشته په دی وجه هر مسلمان په خپله ځان یو ازی وینی نو دخپل ضعف نه پریشان دی کنی داهل باطل په مقابله کی داهل حق دپریشانی څه احتمال هم نه شی کیدی او که چرته برای نام تنظیم شته نو هغه سره صرف اغراض دینو په مقصود دی بلکه اکثر خو دین لره په دی اغراضو کی نقصان گنی او قصداً دی نه اعراض کوی داسی دبی چاره گی په وخت کی رحمت الهی شامل حال شو چه دبعض بندگانو په زړونو کی ئی دداسی تنظیم ضرورت او دعمل صورت القاو کړه دی سره به دین اصالة او دنیا تبعا محفوظ پاتی شی په دی وجه مونږ یو خو خادمانو داسلام دی تنظیم دپاره یو مجلس قایم کړو چونکه هر محل کی دحکم شرعی دتحقیق ضرورت دی په دی وجه دهغه دفعاتو دپاره مو دحضرت مولانا محمد اشرف علی ؒ نه فتوی شرعی حاصله کړه کومه چه لاندی نقل کولی شی او چونکه ددی ضرورت کی عام دی په دی وجه دنورو مسلمانانو دفائدی دپاره هم داشائع کولی شی که چرته مقامی مصلحت سره دیکی چرته کمی زیاتی وکړیشی نو دهغی څه بقانشته.

سوال :(۶۳۱) څه فرمائی عالمان دینی په دی خبره کی چه نن صبا دهندوستان مسلمانان چه په کومو پریشانو کی اخته دی او اینده ددی نه زیاته داخته کید وخطره ده ددی نه خپله محفوظ باقی کیدو او نورو مسلمانانو ورونو د محفوظ ساتلو دپاره یو جماعت دیو مجلس قائمولو اراده کړیده دهغی دفعات لاندی لیکلی شی اوس سوال دادی چه دادفعات دشریعت مظهر خلاف خو نه دی دی پاره چه دادفعات بدل کړو او دشریعت موافق یی کړو (۱) احکام شرعیه باندی پوره اهتمام سره عمل کول او په کومو اعمالو چه قدرت نه وی په هغی کی معذوری ده (۲) نورو ته ددی احکاماتو اوددی پابندی تبلیغ کول

[۳]خصوصاً لاندینی احکام کوم نه چه خاص دخل دی په حفاظت مقصوده کی هغه احکام دادی. اسلام باندی قائم اوسیدل ،علم دین زده کول اوښودل،اودقران مجيدلوستل ښودل، الله ﷻ اورسول ﷺ سره محبت کول په درجه عشق کی ،په تقدیرایمان راوړل اوپه الله ﷻ باندي اعتماد کول دعا غوښتل ،نیکانو سره ناسته کول اوکوم چه دیکی تیرشویدی دهغوی دښو حالاتو کتابونه لوستل اوریدل ،دحضوراقدس ﷺ حالات لوستل اوریدل دمسلمانانو دحقونو خالص خیال لرل اوهغه اداکول دخپل بدن حقونه اداکول په دیکی داهم داخل دی چه دحاکمانو مقابله به نه کو وبلکه تهذیب سره به دخپل تکلیف اطلاع کووکه چرته دمرض موافق انتظام نه وی نوصبر کول که چرته دمخالف طرفته څه فتنه اوفسادوی نودحاکمانو په ذریعه دهغه مدافعت کول بیابرابره خبره ده که چرته هغوی په خپله انتظام کوی اوکه تاسوته دانتقام اجازت درکوی ،بل دبدن په حقونو کی داهم داخل دی چه ورزش کول دقانون په حدودو کی دننه وو ،سپاهی توب فن زده کول ،لمونځ پاندی ساتل ،دضرورت په ځای کی جومات جوړول ،کثرت سره دالله ﷻ ذکر کول ،زکوة ورکول ،بل داچه نورونیکو کارونو کی خرچ کول ،روژی نیول ،حج کول،اوکه چرته وس یاهمت وی نوروضه شریفه زیارت هم کول ،قربانی کول،اوکه چرته دی کی څوك روك ټوك کوی نوهغه دستورالعمل اختیارول کوم چه اوس دبدن په حقونو کی ذکرشول دامدن اودخرج انتظام ساتل ،نکاح سره نسل زیاتول دنیاسره زړه نه لګول ،دګناهونو نه بچ کیدل ،صبراوشکر کول ،صبر کی داهم داخل دی چه چرته دشریعت حکم وی هلته مالی یابدنی هرڅنګه تکلیف چه وی هغه برداشت کول دمشوری په قابلو امورو کی مشوره اخستل ،یوبل سره محبت اوهمدردی اواتفاق ساتل ،قومی امتیازیعنی خپل لباس ،خپله وضع خپل کلام اوخبری تعلق اومعامله کول وغیره وغیرمذهب والونه جداساتل ،ددی اعمالوتفصیل په حیاة المسلمین رساله کی شویدی کوم چه دکتوقابل دی)

[۴]طریقه دعمل داحقرپه ذهن کی داده چه کوم ځای کوم جماعت ته اګرچه لږوی خوهغوی توفیق وی چه یو مجلس جوړ کړی اوپه دی احکامو باندی دعمل کولو خلقوته په دی باندی دعمل کولو کوشش شروع کړی [۵]دنظم آسانتیادپاره ددی مجلس څه نوم هم تجویز کړی مثلاً صيانة المسلمین یاڅه بل څه اوباقاعده دهغه څه عناصرهم مقرر کړی چه دهغه دخدمت به څه معارضه نه وی [۶]داعناصربه دری قسمه دی یوارکان داهغه خلق دی چه دهغوی مشوره به دمجلس هر کاردپاره .اودر کن چنده اداکونکی کیدل شرط نه دی .دویم معین داپه

دچنده اداکونکونوم وی دریم عاملین دابه دهغه خلقونوم وی چه نه به مشیروی اونه چنده اداکونکی بلکه محض بغیر دمعاوضی نه به خپل خدمات مجلس دپاره وقف کوی. اومجلس دطرف نه چه کوم خدمت دوی حواله کړی شی هغوی به هغه لره حسبة لله ﷻ په ځای راوړی ددی دری واړو عناصرو تعلق باضابطه دی. شلورم مجلس کوم چه خیرالهی دعاکی مشغول دی بل څه مناسب رائی خیال راځی دهغه اطلاع مجلس ته ورکوی ددی طبقه تعلق باضابطه نه دی [۷]دارکانو په طبقه کی یوسړی دمجلس صدرمقرر کړیشی دهغه انتخاب به دارکانو په اتفاق سره وی [۸]دارکانو شمیره دیرزیات نه دی پکار.لکه په هرمقام باندی دومره وی چه دهغوی جمع کیدل مشوری دپاره اسان وی که مقامی وی اوکه بهرنه راځی خوچه ضرورت په وخت کی په اسانتیاراجمع کیدی شی اودباقی دریو طبقو دشمیرڅه حدنشته [۹]انوی رکنیت دپاره دمخکنیو ارکانو متفقه منظوری شرط دی په دی کی هغوی اختیاردی اودباقی دریو عناصرو دخدماتو قبول دادکانو په زمه لازم وی.الا لمانع شرعی مفوض الی رائهم [۱۰]یوسړی دوه خدمتونه واخلی نودوو طبقو کی شمیر کیدی شی [۱۱]یوسړی به درکنیت خپله درخواست نه شی کولی بلکه مخکي ارکان به په خپله دهغه درکنیت درخواست کوی اومعین اوعامل په خپله درخواست ګولی شی دهغوی په درخواست به دوی ته فارم ورکړیشی په هغه کی به خپل نوم اووعده ولیکی دهغه نقشه ارکان تجویزولی شی اوداتول فارمونه به مجلس کی محفوظ وی. اومحبین په خپله هم درخواست کولی شی اوددوی دطرفنه هم درخواست کیدیشی خودابه ټول زبانی وی اوکه چرته دیوطرف نه هم خاص درخواست نه وی بیاهم هرمسلمان نه عنام درخواست هغه وخت کولی شی چه نیك مشوروسره اودعاسره ددی مجلس مدت فرمائی [۱۲]دصدراورکن تقررڅنګه چه دارکانو په اتفاق سره شوی وو دغه شان دهغوی معزلول به هم دارکانو په اتفاق سره وی [۱۳]اودصدراودرکن استعفی دچاپه منظوری باندی موقوف نه دی خودابه دهغه احسان وی که چرته دوه هفتی مخکی اطلاع ورکړی وی [۱۴]په استثنادوختی کارونو هیڅ یو کاربه بغیرد مشوری نه نه کیږی [۱۵]مشوری دپاره دصدراودریو مشیرانو اجتماع کافی ده که چرته دصدرڅه عذروی هغه قائم مقام جوړ کړی [۱۶]که چرته اهل شوری کی اختلاف راشی نوکوم طرفته چه دصدررائی وی قطع نظردکموالی اوزیاتوالی نه هغه طرفته به ترجیح وی که چرته اهل شوری اوصدر کی اختلاف راشی نواحتیاط طرفته به ترجیح ورکولی شی یعنی که

چرته متنازع فیه یوه رایه کی نافع محض غیرمحتمل الضروری . اوبل رایه کی نه نافع وی نه مضرتونافع والارایه ته به ترجح ورکولی شی اوهغه کاربه کولی شی اوکه چرته یوه رایه کی مضروی اوبلی رایه کی نافع اوضروری وی اوصرف دااختلاف اهم اواشددی نودصدررایه ته به ترجیح ورکولی شی [۱۷] هیڅ یوکاربه خلاف شرع نه شی کولی نه به څه رایه خلاف شرع قبلولی شی که چرته جوازاوعدم جوازکی ترددوی نوعالمانوته به استفتاراغوښتلی شی که چرته دمفتی به انتخاب کی اختلاف راشی یادعالمانوپه فتوی کی اختلاف راشی نودصدرتجویزشده مفتی فتوی به محمول به وی خوکه چرته یورکن په دی کی شرح صدرنه وی نوهغه به په عمل باندی نه شی مجبورولی هغه ته به دسکوت اوپه دی کارکی دنه شریکیدواجازت ورکولی شی خودمناقشه اجازت به ورته نه وی دغه شان یوکاربه خلاف قانون هم نه شی کولی [۱۸] ادی مجلس کی شریکیدوپاره به په چاباندی زورنه شی کولی بهتره خودا ده چه ترغیب به هم ورته نه شی ورکولی خوکه چرته په دیکی مصلحت وی نوپه ترغیب کی دمخاطب دطیب خاطراوانشراح صدرنه به تجاوزنه شی کولی صرف دمجلس داغرض ومقاصدوخصوصی یاعمومی اطلاع به ورکولی شی کوم سری چه په خپله یاجائزترغیب سره شرکت کوی هغه به شریکولی شی [۱۹] ادی مجلس دطرفنه به څه مخلص اواهل مبلغ هم مقررولی شی چه هغوی به داحکاموشرعیه عموما اوددی ذکرشوواحکامونمبر[۳] اکی خصوصا اشاعت کوی اوداتبلیغ به په خطاب عام سره وی اودی تبلیغ کی به غیرمسلموطرفته هم داسلام قبلولوترغیب ورکوی اومناظره وغیره به هیچاسره هم نه کوی که چرته څوك به خپله درخواست کوی هغوی ته دمناظرینوپته وښائیی [۲۰] ادی مجلس به څه پوهه اوسلیم رضاکاره مقررولی شی چه دهغوی کاردتبلیغ به په خطاب خاص سره وی مثلا دلمونځ په وخت کی مشغولینواوغافلینولره نرمی اومحبت سره لمونځ یادول یوسړی خلاف شرع کارکوونکی یااراده کوونکی اولیدلی شی . که بدکاری یاشراب خوری یاجواری هغوی ته به نرمی سره شرعی وعیدونه یادول اوپوهول . خوکه چرته دی سره څوك ونه منی نوبیاپه هغه مسلط کیدل یاڅه طریقی سره زورورکول برابره خبره ده که سختی سره وی یالاس ورته جوړکړی یابه لاره کی خملی دامناسب نه دی بلکه هرکله چه دااصح باضابطة حکومت نه وی داسی کول اکثرنقصانی گرځی دغه شان که چرته دارضاکاربه چاباندی وويني چه ظلم کیږی که یوسړی یومباح معامله کوی لکه کپړا اخستل یاخرڅول اوبل ده لره

په دی معامله نه کولومجبوروی نودارضاکاره ددی مظلوم مدت وکړی خوصرف دمدافعت پوری به وی دظالم نه بدله به نه اخلی دغه شان لاره کی دیوحاجت مندبوج وچتول چاسره په سوریدوکی مدت کول یوتړي ته اوبه ورکول یوناآشناته لاره ښودل دوه کسه په جگړه وی په هغوی کی صلح کول داټول درضاکاراوخدمتونه دی اودمظلوم یادحاجت مندکی به دانه شی کتلی چه دی دخپل مذهب دی یادبل مذهب دی دټولومدت کول پکاردی درضاکاری داشرطونه وی : اسلام ،بلوغ ،عقل ،نارینه والی ،په طالب علمی کی مشغول نه وی که علم دمعاش وی اوکه علم دمعادوی . دچاماتحت یاملازم نه وی [۲۱] اددی مبلغینواورضاکارانوکه چرته څه امتیازی علامات هم وی نوقرین دمصلحت دی [۲۲] دامبلغین اورضاکاربه ټول دمجلس دصدرماتحت وی هیڅ یوکاربه دده داجازت نه بغیرنه شی کولی [۲۳] اد ارضاکاربه هره ورځ اومبلغین به هره میاشت صدریاچه صدرڅوك په خپل ځای باندی نائب مقررکړی هغوی سره به جمع کیږی اوخپله کارگزاری به ورته ښائی اوآینده دپاره به مناسب احکام حاصلوی اودارکانودمجلس جلسه به کم ازکم هره میاشت کوی په هغه کی به ضرورمشوری باره کی فیصله کولی شی [۲۴] اددی مبلغینواورضاکارانودمالی خدمت دپاره به دچندی انتظام کولی شی خودیکی دشرع حدودواهتمام واجب دی که چرته چنده کم وی نوکاربه په مختصره پیمانه کولی شی اودکومورضاکارانوچه دلچسپی وی هغه ته به ورزش وغیره هم ښودلی شی [۲۵] که چرته مجلس کی داسی حضرات شریك شی کوم چه مسلمانانولره ددوکان کولاوکولوانتظام کولی شی نومجلس به دی خدمت لره هم په خپلوفرائضوکی داخلوی [۲۶] اوکه چرته مجلس کی داسی حضرات شریك شی کوم چه مسلمانانودتکلیف تدبیریادهغوی اتین دحقونواو دتهذیب په حدودوکی دننه گورنمنټ نه طلب کولی شی نومجلس به دی خدمت لره هم په خپلوفرائضوکی داخلوی [۲۷] اوخت په وخت دمجلس کارگزاری سره دحساب دچندی نه هم شائع کول پکاردی [۲۸] اددی کارگزاری عام سبب هم اوددی جزئیات وقتیه خاص طورباندی زبانی هم دحضرت په توسط سره حکاموته به پیش کولی شی . دی پاره چه یومخالف ته دبدگمانی پیداکولوگنجائش نه وی [۲۹] اددی مجلس مرکزی مقام به دهلی وی اونورومقاماتوباندی اهل مقام ته اختیاردی که مستقل طورباندی خپل ځای کی داسی مجالس قائموی یاددی مرکزی مجالس شاخونه جوړوی اودشاخ جوړولوپه صورت کی

دمرکزاودشاخونوپه خپله کی به دتعلقاتو او حقونو شرطونو متعلق زبانی مشوره هم اخستی شی [۳۰] دشعبه تبلیغ دلاندی به مفیدرسالی هم دضرورت موافق اودوس موافق وخت په وخت اخستی شی اومجلس کی به محفوظ ساتلی شی او یو خاص وخت کی به عامو مسلمانانوته هم دیکی دمطالع اجازت وی اوکه چرته وس وی نوداسی رسالی به چاپ کوویابه ئی اخلواوعامو مسلمانانوکی به ئی شائع کو وخودمجلس په سرمایه باندی به څه اخبارنه شی اخستی که چرته څوك مالك داخباربغیرد معاوضی نه راولیږی یاارکان یاغیرارکان ئی په خپله واخلی بیاکه مجلس کی داخلو یاپه خپله مطالع وکړی اودواقعاتو استحضار سره به مشوره کی کارواخلی .ددی اجازت نشته خوهرحالت کی داوصیت کیږی چه محض اخبارکی دیوی واقع ددرج کیدونه بغیرداذن شرعی څه اثرمه اخلی [۳۱] چونکه دی برنوذکرشووکارگزارولره دضبط هم ضرورت دی په دی وجه مجلس کی دیو پوهه مستعد محررمقررول هم ضروری دی دهغه دخدمت نگرانی دصدرپاچه صدرڅوك مقرر کړی دهغه په ذمه به وی دغه شان ددفتردپاره هم دیومکان ضرورت دی اودغه مکان به دانعقاد مجلس هم په کارراځی۔

نوټ: دامجلس خالص مذهبی دی سیاست سره ددی هیڅ تعلق نشته نه چاپه مدافعت کی نه دچاپه مخالفت کی اودمحکومینو دحکامونه خپل جائزحق دقانون په حدودوکی غوښتل سیاست نه دی لکه څنگه چه دجائزملازمت درخواست ته یوسړی سیاست نه شی وئیلی۔

جواب: داټول دفعات بالکل دشریعت سره داسی موافق دی چه دلیلونوهم حاجت نشته خوچونکه ددی مجوع ضرورت اجتهادی دی په دی وجه که چرته سره داعتقاددا استحسان دی لره په عمل کی دراوستو دچادلچسپی نه وی اوخپل خان دپاره ذوقاخانته پاتی کیدل ذریعه دامن گنی اودامشلك خوښوی کوم چه احقردرسالی معاملة المسلمین نوټ نمبردویم کی خپل خان دپاره طریقه دعمل تجویزکړیده ده باندی دی مجلس دشرکت دپاره زورنه دی کول پکار .په خپله دمجلس مسئول عنه دفع ۱۸کی هم ددی تصریح کړیده اوس داجواب دی دعاباندی ختموم اللهم جعل هذه الجماعة صنیانة وحمایة للمسلمین عن کل خیانة ونکایة من غیرالمسلمین ، اه، کتبه اشرف علی ۱النور ۳جمادی الثانی/ ۱۳۴۹هـ/ ۲۴ربیع الاول/ الاغرالا بجل/ ۱۳۴۹هـ]

علامات قبول توبه مع رفع اشکال

سوال: (۶۳۲) فتوحات کی حضرت شیخ اکبر رحمه الله فرمائی دتوبی دقبلیدوعلامات دادی چه دهغه گناه نقشه بالکل دذهن نه ختم شی چه چرته ټول عمرهم ورته په یادرانشی ددی مسئلی نوم ئی قاصمة الظهرکیښودلی دی اوشعرانی په خپل کتابونوکی داسی شان سره نقل کړی دی گویاچه هغه هم دغه شان منی اودطریقت په عامو کتابونوکی جمهورلیکی چه سالك باندی لازم دی چه همیشه هروخت خپل گناهونه مخ ته ساتی چرته دی هم نه هیروی امام شعرانی علی الخصوص دی مسئلی باندی ډیرزورورکوی بظاهردواړوکی تعارض معلومیږی حقیقت څه دی اووجه دتطبیق ؟

جواب: دختمیدونه دامرادنه دی چه یاددی نه وی بلکه مراد دادی چه ددی اثرخاص یعنی دطبیعت هغه پریشانی نه وی اگرکه یادهم وی اواعتقادی قلق اواضطراب هم وی نوداامرگناه لره دیادلرلو دتعلیم سره معارض نه شوه اوداهم کلیانه ده دبعضوطبیعتونوپه اعتبارسره دی دی دپاره قلق طبعی حاجب وی انشراح فی الطاعة نه اودی وخت کی اصل عبارتونه زماپه نظرکی نشته عبارت منقوله می دسوال په بنیادولیکل کنی ممکن دی چه ددی نه هم بنه وجه دجمع وی ۲۵ربیع الاول س۱۳۴۹هـ النورص۹ رجب س۱۳۴۹هـ

وجه ویره دموسی علیه السلام

سوال: (۶۳۳) حضرت اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته :دزړه تسکین دپاره عرض دی چه قران مجید کی ذکردی چه فرښتی دابراهیم علیه السلام په خدمت کی حاضری شوی اوپه خیال دملستیا دهغوی مخ ته غوښه کیښوده هغوی ونه خوړه دحضرت ابراهیم علیه السلام په زړه ددی په وجه ویره پیداشوه دغه شان دحضرت موسی علیه السلام په باره کی څوځایه کی راغلی دی مثلاً دمصرنه مدین ته دمصروالاوودویری نه تلل دارنگه دعصانه اژدهاجوړیدودوجه نه ویریدل ذکرشویدی اوصفت دتوکل هم په انبیاؤعلیهم السلام کی پوره وی نوداویره په څه وجه وه سره دوصف دحضور دمعیت دحق تعالی نه ددی ویری څه سبب وو اودامورطبعی بشری ظهورسره دحصول دحضور دمعیت دحق تعالی کیږی یانه برای کرم وتوکل حقیقت اودحق تعالی دمعیت مفهوم هم ولیکی ؟

جواب :ویره یو امرطبعی په شان دلوږې تندې اوغصې اوخوشحالۍ اوغم دی بس څنګه چه داکیفیات منافي نه دي دکمال نبوت دغه شان ویره هم منافي دنبوت نه ده نه منافي دتوکل ده څکه چه دتوکل حقیقت دادی چه غیرحق طرفته په اعتقاددنفع اونقصان قصداً التفات اونظرنه وي اوبلاقصدنظر کیدل کوم چه یوامرطبعي دی منافي دتوکل نه دی اوددې لیدلوبلاقصدکې هم داسې ویره نه وي چه دیوواجب دپرېښودوسبب جوړشي لکه څنګه چه عوامو ته داسې ویره راځي .دې تفصیل په بنیادباندې په سوره احزاب کې دحضوراقدس ﷺ په نسبت تخشی الناس فرمائلي دي .اودحضراتورسولانوعلیهم السلام په نسبت چه دیکې حضوراقدس ﷺ هم داخل دی ، یبلغون رسالات ویخشونه ولایخشون احداً الا الله . فرمائیلي دي ، یبلغون رسالت الله قرینه واضحه ده چه ماموربه یعنې واجب یامندوب کې داویره نه حائل کیږي داخودتوکل منافي نه کیدوتقریروو پاتې شودمعیت بحث نودمعیت انواع مختلف دي یومعیت علمیه یعنې دحق تعالی علم هریوته محیط کیدل .دامعیت عام هریوشي ته مؤمن ته هم کافرته هم مکلفینوته هم غیرمکلفینوته هم .قال الله تعالی ان الله قداحاط بکل شیء علما .اودغه معیت دی په دی ایت کې وهومعکم اینماکنتم .اوددې دعموم اعتقادمن جمله دعقائدولازمونه دی .اودامعیت هرچادپاره ثابت دی برابره خبره ده که هغه ددې معتقدهم نه وي نودې معیت سره دویرې منافي نه کیدل خوظاهردی اودې ته معیت عام وائي بل معیت خاص دی یعنې معیت بالرحمة ،معیت بالنصرة بیارحمت صورتونه هم مختلف دي دغه شان دنصرت هم .دانه بجمیع اقسامهاعام دی اوداسې عموم اعتقادواجب دی کوم سره چه وعده ده .دوعدې موافق ددې اعتقادپه دې باندې واجب دی اوددې اعتقادموافق عمل لازم دی .کاملین یعنې انبیاء علیهم السلام کې نه ددې اعتقاددکمی احتمال شته بس خوپورې چه حق تعالی طرفته داوعده نه وي چه دااژدهاتاته ضررنه شي رسولی دغه وخت پورې نه ددې اعتقادپه موسی ﷺ باندې واجب دی اودتختیدل واجب دی څکه چه دکوم معیت وعده نشته دهغه اعتقادیاپه هغه عمل هم واجب نه دی اوپه وجه داحتمال دضررددې نه تختیدل هم جائزبلکه واجب دی اوداویره ضررشوي وه موسی ﷺ ته هغې طرفته تلوکې خوچه کله وعده وشوه انني معکما اسمع واری نوبیائې بې ویرې خبرې وکړې دې تقریرسره دمعیت حقیقت سره داقسامو هم معلوم شواودټولواشکالاتو جواب هم وشو .۱۰۲ج االنورص۵۹ذی قعده س۴۹ها

معنی حدیث نفخ وزغه نارابراهیم ﷺ را

سوال :(۶۳۴) بغیردځه قصورنه دسورسرې کربوړې مرکول جائزدي یانه مشتاق الانوارکې یوحدیث ددې مضمون شته چه دسورسرې کربوړې مرکول ثواب دی رومبی ګزارسره مرکول دیرثواب دی دویم ګزارکې دهغه نه کم .دریم ګزارکې دهغه نه کم. اوددې ثواب علت دابنودلې شویدې چه کوم وخت نمرددحضرت ابراهیم ﷺ په اورکې اچولې وو اومرغانو او ږیرو ځناوروداوردمرکولوکوشش کولوخوسورسرې کربوړې داتورهم زیاتولوداخبره مې په ذهن کې نبې طریقې سره رانه غله څکه چه دیوسورسرې کربوړې فعل سره په نوروباندې ظلم کولې شي تفصیلي جواب سره راته زړه یخ کړی ؟

جواب : ددې حدیث دامطلب نه دی چه دیوفرددفعل دټولوانواعونه بدله اخستلې کیږي بلکه اصل علت ددې نوع خبیث الطبع اوموذي کیدل دی اواورتیزول دادده دپلیتې علامات دی بس تقریردحدیث دادی چه داشې قتل کړی څکه چه داطبقاضررر سوونکی دی اودده دطبعی دضرررسولوداثروچه په ابراهیم ﷺ ئې اورتیز ولوبس کوم چه اصل علت دی هغه دنوع په ټولوافرادوکې مشترك دي په دې وجه هریوفردلره دهغې دطبعې خباثت دوجه نه وهلې کیدې شي نه داچه دبل فعل سره .۱۱جمادی الثانی س۱۳۲۴ه امدادص۱۷۵ا

دامیرشرطونه

سوال :(۶۳۵) موجوده زمانه کې دمسلمانانوغیرمنظم حالت کتلوسره ضرورت ددې خبرې مقتضي دی چه داسلام دامارت څه صورت راوستلی شي آیاتاسوبه بیان کړی چه دامسئله شرعاڅه حکم لري [۱] آیامونږته دټول هندوستان دپاره یادیوخاص علاقې دپاره دځپل امیرمقررولوحق حاصل دی یانه [۲] که چرته حق حاصل وي نوڅه شرطونه ئې دي [۳] اوستاسوپه رایه کې ددې حصول دپاره کومې ذرائع اوصورتونه تیاریدې شي ؟

جواب : [۱] حاصل دی په شرط دقدرت اومشاهدې دي چه په حالت موجوده کې امارت اراده باندې شته اوپه امارت قهریه باندې قدرت نشته [۲] دینداري اوعقل [۳] دادحکم شرعی سوال نه دی چه ددي جواب دعالمانونه واخستی شي بلکه دتدبیرسوال دی .ددې جواب دتجربې والونه اخستل پکاردي . ۲۰صفر ۱۳۵۰ه االنورص ۲رمضان المبارك س ۱۳۵۰ها

دپنشن خرڅول

سوال :(۴۳۶) څه فرمائی عالمان ددین او مفتیان دشرع مبین دی مسئله کی چه انگریزی گورنمنټ کی داقانون دی چه کوم ملازمان دملازمت ختمیدو نه وروستو پنشن واخلی ددغه ملازمانو دپنشن دهغوی په خواهش باندی انگریزی گورنمنټ بیاقیمت ورکوی او پنشن واپس اخلی دهغه صورت دادی چه مثلاً یو ملازم هره میاشت دوه سوه روپی دملازمت اخستی او دهغه پنشن سل روپی هره میاشت مقرر شو نو دی سلو کی نیمه حصه دپنشن یعنی پنځوس روپو پوری گورنمنټ اخلی خو په ځای دهر میاشت داداکولو دلسو کالو روپی یوموټی صاحب پنشن ته ورکولی شی خو په دی کی شرط داوی چه ملازم پنشن یافته ته ډاکټر سول سرجن پس دکتونه دالیکی چه ددی ملازم تندرستی دی و خت کی داسی ده چه بظاهر هیڅ قسمه مرض وغیره نشته او فوراً ددهٔ دهلاکت واقع کیدو احتمال هم نشته نو داسی صورت کی داخرڅول دپنشن جائز دی یا نه بینوا توجروا؟

جواب : داصورت بیع ده کنی حقیقت کی دگورنمنټ دطرفنه مستقل تبرع ده په دی وجه دگورنمنټ رضامندی سره جائز دی ۲۰ شوال س ۱۳۵۰ھ [النور ربیع الثانی س ۱۳۵۱ھ]

مسجداقصی دمعراج په وخت کی وران وویانه

سوال :(۴۳۷) تنویر السراج ص/۷۱ نهمه تنبیه کی حضرت والا لیکلی دی. دلته دمسجد اقصی نه مراد صرف ددی جومات زمکه ده. الی قوله دهغه عمارت ونړولی شو الخ او بیان القران کی دسورة بنی اسرائل په تفسیر کی هم دغه ارشاد شوی دی بنده ددی باره کی بعضو وجوهاتو سره دتاریخ مختلف کتابونه وکتل. تولو نه زیات معتبر تاریخ می دمحمد بن جریر الطبری وکتو په هغه کی دخلافت فاروقی س ۱۰ھ په وقائعو کی څلورم جلد کی داعبارت شته بعنیه هغه تاسو ته لیکم، قال لما شخص عمر من الجابية الیٰ ایلیاء فدنامن باب المسجد قال ارقبوالیٰ کعبا فلما الفوق به الباب قال لبیك اللهم لبیك فماهواحب الیك ثم قصد الخراب محراب دواؤد ؑ وذلك لیلا فصلی فیه ولم یلبث ان طلع الفجر فامر المؤذن بالاقامة فتقدم وصلی بالناس وقرأبهم فی الثانية صدر بنی السرائیل ثم رکع ثم انصرف فقال علیّ بکعب فاتی به فقال این تری ان نجعل المصلیٰ فقال الی صخره فقال ضاهیت والله الیهودية یاکعب

وقدرایتك وخلعك ونعلیك فقال احببت ان اباشره بقدمی فقال قدرأیتك بل نجعل قبلة صدره کماجعل رسول الله ﷺ قبلة مساجدنا صدورها اذهب الیك فانابل نجعل قبلة صدره کماجعل رسول ﷺ قبلة مساجدناصدورهااذهب الیك فانالم نؤمربالصخرة ولکنا امرنا بالکعبة فجعل قبلة صدره ثم قام من مصلاه الیٰ کناسة قدکانت الروم قدد فنت بهابیت المقدس فی زمان بنی اسرائیل فلماصار الیهم ابروز وابعضها وترکوا سائرها وقال یاایهاالناس امنع واکما اصنع وحثاق اصلها وحثاق فرج من فروج قبائه وسمع التکبیر من خلفه کان یکره سوء فی کل شئی فقال ماهذا فقالو اکبر کعب وکبرالناس بتکبیره فقال علی به فاتی به فقال یاامیرالمومنین انه حدثنا علی ما صنعت الیوم بنی منه خمسمأة سنة فقال وکیف فقال ان الروم اغاروا علی بنی اسرائیل فادیلوا علیهم فدمنوه ثم ادیلوا فلم یفرغواله حتی اغارت علیهم فارس فبغوا علی بنی اسرائیل ثم ادیلت الروم علیهم الی ان ولیت فبعث الله نبیاً علی الکناسة فقال ابشری اوری شلم علیك الفاروقی ینقل مماقبلك الخ، دی نه دفاروق اعظم ؓ زمانی پوری دباب المسجد باقی پاتی کیدل دداود ؑ محراب موجود کیدل دصخره په خپل ځای باندی پاتی کیدل او جومات لره دهران جوړول او هغه ډکول او په هغه کی دبعضو ودس ماتی او دبعضو خخله پرینبودل ثابتیږی او بالکل وران او نړیدل ثابت دی او بیا دفاروق اعظم ؓ ددی صفائی کول ذکر کړی شوی دی نه هغه نړیدلی تعمیر. مولوی شبلی ؒ په الفارق حصه نمبر ص ۹۲ کی لیکلی دی تولو نه مخکی جومات ته لاړو دداود ؑ محراب ته چه ورسید وهلته ئی دمسجده داود ؑ ایت تلاوت کړو او سجدی وکړی او دطبری دبعض بعض ځایونو نه ئی اخذ کړیدی او تفسیر عزیزی کی راځی دومن اظلم ممن منع په تفسیر کی دهیران جوړول او دخخلی وغیره دغورزولو ذکر ئی کړیدی بهرحال دبیت المقدس دجومات عمارت باقی پاتی کیدل خووران حالت باندی پرینبودل او دهران وغیره جوړول ثابتیږی نه داچه وران کیدل دی سره دمعراج حدیث تول او پوره په خپل ظاهر باندی پاتی کیږی او تنویر ص ۵۹ کی چه حضور دام هانی نه چه کوم حدیث نقل کړیدی هغه بالکل سالم پاتی کیږی ځکه چه هغه کی ددروازو وجود ثابتیږی او که چرته هغه دروازی کافرانو ته معلوم نه وی نو دحضرت یو یو شمیر او کافرته خود دل او دهغوی باور کول داخود پتید و په مقام کی راځی دیکی چه دحضور څه رایه وی هغه شره مونږ مشرف او فرمائی

جواب: جزاکم اللہ تعالی علی هذا التحقیق ماپه خپله تاریخ نه دی کتلی دتفسیرحقانی نه مې لیکلی وو په دې وجه تفسیربیان القران کې مې اینده چه دکوم مقام حواله وورکړې شوې هلته مې دتفسیر حقانی نه داخذ کولو تصریح کړیده. اشرف علی عفی عنه ۱۳ محرم النورص ۲ جمادی الثانی س ۵۱ هـ

دکیمیا تحقیق

سوال: (۶۳۸) دحکماؤ یوه ډله په دې قائم ده چه دمعدنیاتو اصلیت سره زر دی باقی چه څومره اجساد او اجناس دی دځه نقائصو دوجه نه وې کنې حقیقت هغه هم سره زر دی پس دې رای باندې که چرته کیمیا کې کامیابي وشوه نوهغه مصنوعی سرو او معدنی سرو کې به ذره فرق نه دې غایت مافی الباب به داوشي چه دمصنوعی صفائی به لږه کمه وي ددې قیمت به کم وي او دهغه بلې به زیات وي شرعا اکارکول څنګه دې انهماك په کوشش دکیمیا سازۍ کې جائز دې یا نه ؟

جواب: زومبی خو دحکماؤ ددې په امکان عادي کې اختلاف دی او کوم دلیل چه دامکان عادي په سوال کې بیان شوېدې هغه دمُدعا نتیجه نه را باسي ځکه چه ددې څه دلیل دې سره نه دې بیان شوی چه تدبیرخاص هغه نقائص په واقع کې ختمیږي یادهغې صرف نمونه ګرځي داچه کوم ونیلی شوېدې چه اصلی سره به ددې څه فرق نه وي دیکې دوه سواله دې یو داچه آیا واقع کې به یکې څه فرق نه وي یا په کتلو سره به یکې فرق نه کیږي آیا څه داسې امتحان شته چه صحیح هم وي او ددې اعتبار سره اصلی او مصنوعی سره زر یوشان ثابت شي دویم سوال دادې چه فی الحال یکې څه فرق نه وي یا آینده به هم یکې څه فرق نه واقع کیږي مادبعضو تجربه کارو نه اوریدلې دې چه څو ورځې پس داخپله اصلی دهات طرفته ګرځي ددې سوالونو قابل اطمنان جوابونو نه وروستو دتحقیق وخت دی دځه امکان او عدم امکان کې دتردد په بنیاد فقهاؤ ددې حکم کې جزم نه دې کړې په شامي کې دابن حجر نه نقل شوېدې ، کثیراما یسئال عن علمه الکیمیا او تعلمه هل یحل اولادلم تر لاحد کلا ماقال ذلك والذی یظهر انه یبق علی هذا الخلاف فعلی الاول (ای انقلاب الحقائق) من علمه العلمه الموصل لذلك القلب علمایقینا جازله علمه وتعلیمه اذلا محذورفیه بوجه عن الوجوه وان قلنا بالثانی (ای عدم انقلاب الحقائق) من علمه العلمه الموصل لذلك القلب علمایقینا جازله علمه وتعلیمه اذلا محذور فیه بوجه عن الوجوه وان قلنا بالثانی (ای عدم انقلاب الحقائق) اولم یعلم الانسان ذلك العلم الیقین وکان

ذلك وسیلة الی الغش فالوجه الحرمة اه قلت المراد الانقلاب العادی فی هذه المادة خاصة لا الامکان العقلی فانه لا دلیل علی نفیه ولامطلق الامکان العادی فانه کثیر کانقلاب بعض العناصر ای بعض کانقلاب الخمر الی الخل ووقداعتبره الشرح، اوداتول کلام په جواز فی نفسه کې دی او که چرته دې اشتغال کې دقف دمال غلبه وي اودکامیاب نه زیاته ناکامي وي یادضائع کیدو مقدار دحصول نه زیات وي نو باوجود چه جواز فی نفسه ددې عارض په وجه دحرمت حکم به کولی شي او ددې بنیاد باندې اشتغال یا کیمیا لره فقهاؤ داسباب عزل متولی نه فرمائیلی ده چه احتمال وو چه مال دوقف به هم ضائع کړې او دقوعد شرعیو څو مقتضی داده چه که چرته یو څیز کې مصالح ډیروي او مفاسد کم وي نو دی نه به هم منع کولی شي چه څایکه معامله برعکس وي. چه مفاسد ډیروي او مصالح کم وي. والله اعلم. ۲۵ ربیع الاول س ۱۳۵۱ هـ النورص ۷ ذی الحجه س ۱۳۵۱ ؛

دکافرانو دهجوې دجواز دلیل

سوال: (۶۳۹) یوانګریزي خوان نوجوان سوال کړې دې چه حدیث کې چه دا کوم ذکر راځي چه رسول الله ﷺ حضرت حسان رضی الله عنه ته وفرمائیل چه دکافرانو هجوه وکړه دادچاهجوه کول داخلاق پیغمبری نه ډیرلرې معلومیږي زه ددې داجواب لیکونکې یم چه هجوه مطلقامعیوب اوبده نه ده که چرته څه غرض صحیح دپاره وي دفاع دپاره چه قتال پورې جائز دې لکه په بعض صورتونو کې واجب اوفرض دې نوهجوه خوددې نه معمولي شي دې خصوصا چه کله دهجوې مقصد خپلوذاتي دښمنانو سره نه وي بلکه ددین دښمنانو نه انتقام اخستو دپاره وي او تجربې سره ددې حربې موثر کیدل ثابت شویوې دې جواب کې که چرته دزیاتوالی ضرورت وي نوهغه ته اشاره وکړې الزیادت فی الجواب قوله ثابت شوي وي دې حکمت طرفته په خپله حضور اقدس ﷺ ډیرنژدې اشاره کړیده. حیث قال اهجواقریشافانه اشدعلیها من رشق النبل وقال ﷺ ان روح القدس یؤیدك مانافحت عن الله ورسوله وقال ﷺ هجاهم حسان فشفی واشتفی (مسلم فضائل حسان) وقال النووی فیه جواز الانتصارمن الکفار وقال وفیه جواز هجوالکفار مالم یکن امان وامامره ﷺ هجائهم الی قوله فالمقصود منه النکایة فی الکفار وقد امره الله تعالیٰ بالجهاد فی الکفار والا غلاظ علیهم وکان هذا الهجواشد علیهم من رشق النبل فکان مندوبا لذلك مع مافیه من کف اذاهم وبیان نقصهم والانتصار هجائهم المسلمین قال العلماء وینبغی ان

لایبدء المشرکون بالسبّ والهجاء مخافة من سبهم الاسلام واهله قال الله تعالیٰ ولاتسبوّ الذین یدعون الله فیسبوالله عدوابغیرعلم والتزیه السنة المسلمین عن الفحش الا ان تدعوا الی ذلك ضرورة لابتداء هم به فیکف اذاهم ونحوه کمافعل النبی ﷺ اه ،،دی عبارت کی ددی حکمت شرح اوآداب اوشرطونه هم جمع شول اویوزیاتی حکمت ئی هم وښودفی قوله مع مافیه من کف اذاهم وفی قوله فکیف اذاهم .یعنی دکافرانوجرأت اوزیاتی بندول هم مقصودووخکه چه کله هغوی وګوری چه مونږوایونودی نه به زیات واوری نودهغوی همت به مات شی نودی کی دمسلمانانوحفاظت دی اوداهل حق دشراوتکلیف نه حفاظت نه دوچتواخلاقو مطلوب نه دی داټول حکمتونه فلسفیانه وی اویوحکمت صوفیانه هم ډیرباریك دی هغه داچه په خپله بدله نه اخستوکی به په دوی باندی دالله ﷻ غصه ډیره سخته وی اوبدله اخستوسره هغه کی کموالی راځی نودیکی دهغوی خیرخواهی ده دلیل ددی شدت اخفت یوحدیث دی چه دحضرت عائشه رضی الله عنهانه چا غلاوکړه هغی ښیری وکړی حضرت ﷺ وفرمائل چه ښیروکولوسره دهغوی په سزاکی کموالی راځی اودحضرت ﷺ ددی حکمت نمونه بل حدیث کی راځی چه دحضرت ﷺ په مرض وفات کی کوروالو دحضرت ﷺ په خوله مبارکه کی دوائی واچوله منع کولوباندی هم داسی وکړل حضرت ﷺ خپل وراندی دټولوپه خوله کی ددوائی اچولو حکم وکړورواه البخاری فی باب مرض النبی ﷺ ووفاته هلته محققینودغه حکمت بیان کړیدی چه که چرته حضرت ﷺ بدله نه اخستی نوپه دوی به څه عذاب نازل شوی وی حضرت ﷺ هغوی بچ کړل غرض دادی چه دحضرت ﷺ اصلی مذاق خوداووکوم چه په حدیثوکی راغلی دی چه حضرت ﷺ نه دکافرانودپاره دښیروکولودرخواست وکړی شونوهغوی انکاروکړواوداصل مذاق خلاف چه چرته شویدی دڅه قوعارض وجه نه شویدی فقط ۲۲/رجب س۱۳۵۱ه النور ص۷ربیع الاول س۱۳۵۱ها

رفع شبهات برتکفیرشیعه

سوال :(۶۴۰) ادمولوی عبدلماجدصاحب دریابادی ادیوی فتوی نقل به خدمت کی درلیږواداقتوی به دخط دجواب نه وروستونقل کیږی ادی باندی علاوه دنوروو مستندوعالمانودحضرت مولانا ﷫ دسخط هم شته اغالبامولاناحسین احمدصاحب مراددی اخوزه څه عرض وکړم چه زماسینه تراوسه نه ده کولاوشوی شیعه ګانوته مبتدع

،فاسق ،فاسدالعقیده وغیره اونورچه څه ووئیلی شی دهغه زه هم پوره طریقی سره قائل یم خوکافراوخارج ازاسلام وئیلوته می زړه په ریږدوشی ؟

جواب :داعلامات دی ستادقوت ایمانی خوچاچه دافتوی ورکړیده دهغی منشاء هم قوت دایمان دی چه څوك ئې د ایمانیاتومنکرولیدوبې ایمانه ئې ورته وئیل

تتمه سوال:که چرته داګمراه فرقه دغه شان خارج داسلام نه پاتی شوه نومسلمان به پاتی څومره شی ؟

تتمه جواب :ددی څوك ذموواردی خدای دی نه کړی که چرته یوخای کی دیرزیات خلق مرتدشی اولږغوندی مسلمانان پاتی شی نوآیادی مصلحت سره به هغوی ته هم کافرنه شی وئیلی کیدی

تتمه سوال:شیعه ګانوسره نکاح که چرته تجربی سره نقصانی ثابته شوی وی نوبس تهدیداددی بندول کافی دی

تتمه جواب:ددی تهدیدعنوان ماسوادی نه بل څه شته نه سوچ وکړی

تتمه سوال:زمازړه خودقادیانانوطرفنه هیبة تاویل تلاش کوی

تتمه جواب:دادشفقت انتهاده خوددی شفقت انجام دسیدهاساده مسلمانانوپه حق کی عدم شفقت دی چه هغوی به ښی طریقی سره ددی ښکارشی

تتمه سوال:کوم چه بنیاددتکفیرګرځولی شویدی یعنی عقیده تحریف دقران مانه په دی کی تامل دی که چرته داعقیده دهغوی دمذهب جزوی نودحضرت شاه عبدالعزیزوغیره نه به داپټه نه پاتی کیږی؟

تتمه جواب:هرکله چه دهغه دمنلوشووکتابونونه جزئیت ثابت دی بیادحضرت شاه صاحب که چرته سکوت ثابت وی دکوم چه ماته پته نشته نودهغه په سکوت کی به څه تاویل کیږی نه چه جزئیت کی.

تتمه سوال :ډیرزیات غم ماته په دی خبره کی راځی چه تراوسه پوری مونږدآریو اودعیسایانوپه مقابله کی دکلام مجیدغیرمحرف کیدوباندی په طوردیوبالکل مسلم اوغیرمختلف فیه عقیده پیش کوواوس به ددی خلقوپه لاس کی یوه نوی حربه راشی .چه اوګوری په خپله ستاسوکلمه لوستونکی اوستاسوقبله منونکی په لکونوکروړونوخلق قران پاك ناقص اومحرف ګنی ؟

تتمه جواب: دی سره نورهم دهغوی دتکفیرضرورت ثابت شوبیابه مونږسره صفاجواب وی چه دوی دسره نه مسلمان هم نه دی.

تتمه سوال: دحضرت جی صاحب کوم خط چه دسرسید احمد په نوم ووزماد ومره خوښ شوچه ماد اهتمام په سیخ کی شائع کړی وویس زماپه ناقص پوهه کی دا معیارجوړول پکاردی اودی مطابق معامله ټولوگمراه فرقوسره ساتل پکاردی یعنی نه مداهنت اونه دومره مخالفت چه دوی کی اوآریانواوعیسایانووغیره کی هیڅ فرق هم ونه ساتلی شی ؟

تتمه جواب: خوکه چرته هغوی په خپله خپل ځان کافرجوړکړی نوایادغه وخت به هم مونږ دوی ته کافرنه وایودنیاکی تراوسه پوری چاخپل ځان ته کافرنه دی وئیلی لکه څوك عیسائی وائی څوك یهودی وائی چونکه ددی فرقوعقائد کفریه دلائلوسره ثابت دی په دی وجه دوی ته به هم دغه کافروئیلی شی نومدارددی حکم په عقائد کفریه وگرځیده نوکه چرته یوسړی خپل ځان دشیعه گڼانودډلی نه وگڼی اوځه عقیده کفریه دهغه مذهب داجزاؤاولوازمونه وه نوخپل ځان ددی فرقی نه شمیرل په دلالت التزامی سره دی عقیدی لره خپل عقیده ښودل دی بیادعدم تکفیرڅه وجه شوه اوکه چرته دهغوی په نزدداعقیده مختلف فیه هم ده بیابه هم دچاپه تکفیرکی ترددوی خوداهم نشته اوچه کوم اختلاف دی هغه غیرمعتدبه دی کوم لره چه په خپله دهغوی جمهوردرکوی دی حالت کی خواصل به کفروی البته که څوك صراحتاووائی چه زماداعقیده نه ده یایوفرقه خپل نوم جداکړی مثلاچه کوم عالمان ددوی دتحریف نافی دی هغوی طرفته خپل ځان منسوب کړی مثلاخپل ځان ته صدوقی یاقمی یامرتضوی یاطبرسی وائی مطلق شیعه نه وائی نوخاص دی سړی ته به یادی فرقی لره به دی عموم سره مستثنی وایوخودی استثناگانوسره قانونی حکم نه بدلیږی حرمت د نکاح اوحرمت دذبیحی احکام قانونی دی دابه په دوی هم جاری کیږی خوپوری چه دغه فرقه متمیزه اومشهوره نه شی خصوصاهرکله چه دتقیه هم شبه ده نوکه بدگمانی نه هم کوی خواحتیاطآبه عمل دبدگمانی په شان وی البته الله تعالی سره به دهغی معامله دهغوی دعقیدی موافق وی که چرته یوهندودتوحید قائل وی اودرسالت هم خوخپل ځان ته هندووائی اگرکه څه تاویل هم کوی نوده سره به اخرڅه معامله وی دغه حالت دلته هم دی ضلع فتچپورکی دهندوانویوجماعت دی کوم چه قران اوحدیث لولی اولمونځ رزژی ساتی خوخپل ځان ته هندوان وائی لباس اونوم هرڅه دهندوانوپه شان کوی که چرته دوی خپل ځان

ته هندوان وائی اوخپل مشرب نه ښکاره کوی نوآیاداوریدونکی په ذمه به تفصیل واجب وی چه که چرته دداسی عقیدی وی نوکافراوکه چرته دداسی عقیدی وی نومسلمان

تتمه سوال: تاسوته په هره معامله کی زه خپل پوره حالت لیکم خدای دی وکړی چه دی باره کی هم ستاسوجواب باصواب زماپه حق کی ذریعه دتشفی وی؟

تتمه جواب: دتشفی ذمه خومشکل ده خصوصاددی خشیت غلبه په خپله ماباندی ده خوحضرت جنیدی رحمه الله په ربیدلولاسونودحسین بن منصورخلاف فتوی لیکلی وه محض حفاظت دشریعت دپاره مونږهم دهغوی متبع یواوراز دهغی دغه دی چه دی رعایت دساده مسلمانانوهلاکت دی مولوی محمد شفیع صاحب رحمه الله په اصولوتکفیرکی پوهه مختصراوجامع مانع اونافع رساله لیکلی ده بعض اجزاؤکی زه هم نختیوم خودهغه په تقریراوتحریرسره تقریباتقریبامسئله صفاشوه دابه زرچاپ کیږی مادهغی نوم کیښودی دی وصول الافکارالی اصول الاکفار ۷ شعبان س ۱۳۵۱ھ

نقل فتوی موعوده افازخط بالا

بسم الله الرحمن الرحیم: حامدا ومصلیا: څه فرمائی عالمان ددین اومفتیان دشرع مبین دی مسئله کی چه شیعه اثناعشرمسلمانان دی که داسلام نه خارج دی اوهغوی سره نکاح اودهغوی ذبیحه حلاله ده یانه دهغوی دجنازی لمونځ کول اوپه خپله جنازه کی شریکول درست دی یانه بل داکه چرته هغوی جومات جوړولوکی چنده ورکول غواړی نواخستل پکاردی یانه ؟

جواب: والله الموفق لصواب: شیعه اثناعشرقطعا داسلام نه خارج دی زمونږ مخکینو عالمانوته چونکه ددوی دمذهب حقیقت کماینبغی معلوم نه وودهغه په وجه خپل مذهب پټوی اودهغوی کتابونه هم نایاب وولهذابعض محققینوداحتیاط په بنیادددوی تکفیرنه ووکړی خونن دهغوی کتابونه نایاب پاتی نه شول اودهغوی دمذهب کیفیت ښکاره شوپه دی وجه اول محققین دهغوی په تکفیرمتفق شویدی دضروریاتونه انکارقطعاکفردی اوقران مجید په ضروریاتوکی دټولونه اوچت اواعلی اوافع څیزدی اوشیعه بلااختلاف څه چه دی هغوی متقدین اومتاخرین ټول په ټول دتحریف دقران قائل دی دهغوی په معتبرکتابونوکی دوه زرونه زیات روایتونه دتحریف دقران موجوددی په هغی کی پنځه قسم تحریف په قران شریف کی بیان شویدی [۱] کمی [۲] زیاتی [۳] تبدل دالفاظو [۴] تبدل دحروفو [۵] خرابی ترتیب د سورتونوکی هم اوایتونوکی هم اوکلمهاتوکی هم دی پنځوقسمودتحریف

روایتونو سره دهغوی دعالمانو اقراردی چه دا روایتونه متواتردی په تحریف دقران باندی صریح الدلالت دی او ددی موافق عقیده ده په شیعه عالمانو کی په شمیر د څلورو مرو چه دقران دتحریف نه انکار کوی (۱) الشیخ صدوق (۲) ابن یابویه قمی (۳) شریف مرتضی (۴) ابوعلی طبرسی مصنف دتفسیر مجمع البیان. ددی څلورو سړو اقوال چونکه محض بی دلیل او د روایتونو متواترو خلاف دی په دی وجه په خپله شیعه عالمانو ارد کړیدی ددی مبحث پوره تحقیق زما په کتاب تنبیه الحائرین کی شته من شاء فلیطالعه. علامه بحرالعلوم فرنګی محل به مخکی دشیعو د مسلمانید فتوی ورکوله خو د تفسیر مجمع البیان کتلو سره هغه ته معلومه شوه چه شیعه دتحریف قران قائل دی لهذا هغه په فواتح الرحمت شرح مسلم الثبوت کی دشیعه ګانو د کفر په بنیاد دعقیدی دتحریف دقران محل د تردد نه دی. ددی نه علاوه نوری وجه د کفر هم شته مثلا په ام المؤمنین ﷺ باندی تهمت لګول. خودی کی دڅه تاویل ګنجائش شته لهذا شیعه ګانو سره نکاح قطعا جائزنه ده او دهغوی ذبیحه حرامه ده او دهغوی چنده په جومات کی اخستل ناروادی دهغوی جنازه لوستل هغوی په خپله جنازه کی شریك کول جائزنه دی دهغوی دمذهبی تعلیم په کتابونو کی دادی چه دسنیانو په جنازه کی شریك شی دا دعا کول پکاردی چه یاالله ﷺ ددوی قبر د اور نه ډك کړی او په دوی عذاب نازل کړی فقط والله اعلم. جواب دخط سره دنقل د فتوی پوره شو.

تنقیح الجواب علی اصول الفقه

دتکفیر دوه درجی دی یو فیمابینه وبین الله کوم چه په معاملاتو د بنده او دالله ﷻ ترمنځه دی ددی مدار خو کفر باطنی باندی دی ددی بالیقین په چا باندی حکم نه شی لګیدی او دویم درجه داحکام ظاهری په اعتبار سره دی ددی مراد په قوانین خاصه دی کوم چه دعالمانو په کلام کی مدون دی. دی درجه کی احتمالات غیرناشی عن دلیل محفوظ نه دی کنی یو کافر باندی به هم جهاد هغه پوری هم جائزنه وی ځکه چه احتمال شته چه دی په زړه کی مؤمن وی او د کفر په اظهار کی ده سره څه واقعی عذر وه او ښکاره خبره ده چه دی کی څه قدری غلطی لازمی راځی

توضیح الجواب علی اصول الکلام

ایمان چه رنګ یو اجمالی دی یو تفصیلی دی او دواړو مدار داحکامو دی دغه شان کفر هم یو اجمالی دی یو تفصیلی دی او دواړو مدار داحکامو دی بس څه رنګه چه یوی فرقی اسلامی طرفته خپل نسبت کول موجب د حکم بالایمان دی اګرچه دیوی یوی اسلامی عقیدی تفصیل ونه کړی دغه شان یوی فرقی کفر طرفته خپل نسبت کوی موجب دحکم بالکفر دی اګرچه دیوی یوی کفری عقیدی تفصیل ونه کړی مخکی یو کمزوری سوال پاتی کیږی چه که چرته یو داسی فرقی طرفته خپل ځان منسوب کړی چه دهغی څه عقیدی اسلامی وی او څه کوی نوردی به څه حکم وی بس قواعد سمعیه او عقلیه په دی باندی متفق دی چه مجموعه دایمان او دکفر کفردی وقدصرح به فی قوله تعالیٰ ویقولون نومن ببعض ونکفر ببعض ویریدون ان یتخذوا بین ذلك سبیلا اولئك هم الکفرون حقا. کنی دنیاکی به داسی یوه فرقه هم نه وی چه دهغی هره عقیده کفری وی ډیر کافران دصانع قائل دی او دا چه کوم وئیلی شی چه که دچرته یو کم سل وجهی دکفروی او یوه دایمان وی نو دایمان حکم به کولی شی دي نه مراد هغه وجوه دی چه په هغی کی دواړه احتمال وی لکه څنګه چه دیو کلام ګنی معنی کیدلی شی ۱۴ شعبان س ۱۳۵۱ھ

تشریح الجواب علی اصول التصوف

برنی جواب سره دخپلوتولو اجزاؤ په درجه دمنع کی دی یعنی هغه فتوی ذکر کړی شوی باندی شبهات وودهغی جواب دی برنی جواب په خپله فتوی نه ده چونکه سرسری نظر کی دافتوی ګڼلی شی په دی وجه دامر اساتنیاد پاره خپل خاص تحقیق دی کی پیش کولی شی او دا تحقیق په اعتبار دخپل حقیقت هم دغه فقه او کلام داخل دی خو په اعتبار دصورت ددی تصوف سره خاص نزدیکت او مناسبت دی په دی وجه عنوان کی ددی خیال وساتلی شو هغه تحقیق دادی چه که چرته دیو خاص شی باره کی یا دیو خاص جماعت باره کی حکم بالکفر کی تردد وی. برابره خبره ده که د تردد اسبابو کی دعالمانو اختلاف وی یا دقرائنو تعارض وی یا د اصولو غموض وی نو اسلم دادی چه نه د کفر حکم وکړی شی نه د اسلام رومبی حکم کی خو په خپله دهغی دمعاملاتو په اعتبار سره بی احتیاطی ده او دویم حکم کی دنورو مسلمانانو دمعاملاتو په اعتبار سره بی احتیاطیی ده بس احکاماتو کی به دواړو احتیاطونه جمع کولی شی یعنی نه به دوی سره دنکاح اجازت ورکولی شی نه به ددوی اقتداء کولی شی نه به ددوی ذبیحه خوړی شی او نه به په دوی

سیاست کافرانه جاری کولی شی که چرته دتحقیق قدرت وی دهغه دعقائدو تلاش به کولی شی او ددی تلاش نه وروستو چه څه ثابت شی هغسی احکام به جاری کولی شی او که چرته دتحقیق قدرت نه وی نو سکوت به کولی شی او دهغی معامله به الله ﷻ حواله کولی شی ددی نمونه هغه حکم دی کوم چه ته داهل کتابو دمشتبه روایتونو باره کی را غلی دی لاتصدقوا اهل الکتاب ولاتکذبوهم وقولوا امنا بالله وماانزل الینا الایة رواه البخاری ، دویم فقهی نمونه دا احکام خنثیٰ دی ، یوخذفیه بالاحوط والاوثق فی امورالدین وان لایحکم بثبوت حکم وقع الشک فی ثبوته واذا وقف خلف الامام قام بین صف الرجال والنساء ویصلح بقناع ویجلس فی صلاته جلوس المرأة ویکره له فی حیاته لبس الحلی والحریر وان یخلوبه غیر محرم من رجل اوامرأة اولیسافرمع غیرمحرم من الرجال ولاناث ولم یغسله رجل ولاامرأة ویتیمم بالصعید ویکفن کمایکفن الجاریة وامثالها مما فصله الفقهاء اھ ،

۱۸ شعبان س ۱۳۵۱ھ النور ص ۹ ربیع الاول س ۱۳۵۲ھ

احکام الایقان لاقسام الاطمنان [مشتمل بر چند خطوط واجوبه انها]

رومبی خط / معنی اطمنان

سوال :(۶۴۱) مولانااشرف الاکرم متعنا الله بفیضکم وطول بقائکم :شکایت دی چه دډیرو فکرونو او ډیرو مشاغلو دنیاوی نه می زړه مغموم او پریشان وی او طمانیت او سکون دزړه می ډیرکم ملاویږی لړه غوندی ناکامی می دزړه پریشانه کړی او لږه غوندی کامیابی را ته تسلی او تشفی بخشش کرځی حوصلی ،امیدونه ،او ارزوګانی می ډیری دی او هر کله چه نه پوره کیږی نو ډیره سخته پریشانی او بیزاری می پیدا کیږی کوم څیزونه چه راته اسباب د راحت معلومیده او کوم می ارزو لرله هغه پس دملاویدونه ډیرزر بیکاره کیږی احساس دومره زیات شویدی چه نفرت کونکی او اذیت رسونکی څیزونو پیدا کیدو سره راته کله کله ډیر تکلیف محسوسیږی دنا امیدی طرف غالبه راځی ؟

جواب :ایا دا څیزونه دین دپاره مضر دی که چرته مضر دی نو مطلقا یا بعضو حالاتو کی

تتمه سوال :دسوج کولو نه وروستو می خیال راغی چه دنیا ددی نوم دی او ددنیا دغه حال دی .هیچ کنجی بی دوابی دام نیست جزبخلوت گاه حق آرام نیست ، دی سره می دا ایت هم الذین امنو وتطمئن قلوبهم بذکرالله الابذکرالله تطمئن القلوب ، مخی ته راغی

جواب :ایا داطمنان نه دا مراد دی کوم چه دطبعی پریشانی مقابل دی ،

تتمه سوال :اراده می وکړه چه اکثریه زړه کی یا په ژبی سره دالله ﷻ ذکرکوم بیا می خیال راغی چه ذکرونه خوبی شمیره دی زما دمخصوص حالاتو په لحاظ سره معلومه نه ده چه کوم ذکر همیشوالی زیات موافق او بهتر دی په دی وجه جناب والا ته دی باره کی دجوع کول مناسب معلوم شول

جواب :تراوسه خو بنیاد هم ثابت نه دی

دویم خط

سوال قدوة الانام ومرجع الخاص والعام ادام الله ظلکم اسلام علیکم :خط ملاو شو خوشحال شوم دکوم څیزونو چه خاکسار په خط کی شکایت کړی دی دهغه باره کی خیال دادی چه هغه څیزونه دین دپاره مضر نه دی او که چرته دی هم نو بالواسطه یا خاص حالاتو کی جواب بیا څه سوال پاتی شو

تتمه سوال :بلکه کله کله کتلی شی چه دنیای مشاغلو او فکرونه نه چه کومه بی چینی او پریشانی زړه کی پیدا کیږی او دنیائی کاروبار کی چه کومی پریشانی مخی ته راځی هغه درجوع الی الله ﷻ والی دینه سبب جوړیږی ،کماقال الله تعالیٰ واذامس الانسان الضر دعانا لجنبه اوقاعدا اوقائماً ، او ددی په عکس دینوی ترقی او کامیابی اکثرو ختونو کی دخدای ﷻ او دهغه ددین نه دغفلت سبب جوړیږی دی مصلحت په بنیاد باندی کله کله خدای ﷻ په خپلو نیکانو بندګانو باندی دنیا تنګوی ولوبسط الله الرزق لعباده لبغوا فی الارض ، . ایت کریمه الذین امنوا وتطمئن قلوبهم الخ کی زما په نزد عام او کله اطمنان مراد دی او رښتونی مسلمان دپاره خدای ﷻ یادول دهغه دهری یوی پریشانی علاج دی الاان اولیاء الله لاخوف علیهم ولاهم یحزنون .اصاحب دتفسیر جلالین ای فی الاخره لیکلی دی خو زما په نزد اولیاء الله ته دنیا او اخرت دواړو کی دویری او غم نه خلاصی دی او س پاتی شو طبعی غم هغه ضرور کله کله موندلی شی او تقاضائی بشری ده خو هغه هم دوی دپاره زرختمیدونکی ده الهذا مخکی ایت دی اطمینان ته هم شامل دی کوم چه دطبعی پریشانی مقابل دی کومه اګرچه په ذاکرین صادق الایمان کی موندلی کیږی خو دخدای ﷻ یاد هغه لره هم زر دفع کوی صاحب دتفسیر جلالین دذکر الله تفسیر وعد الله سره کړیدی کوم چه زما په

پوهه کې نه راځي بلکه وجه نه معلومیږي چه ذکر په معنی مشهوروالی مراد نه شی اخستلی

جواب: هر کله چه ته خپله محقق یې بیا دبل چانه دتحقیق څه ضرورت دی.

تتمه سوال: مدعا داده چه هغه کوم صورت دی چه ددنیا په کارونو او جګړو کې مصروف او مشغول هم شی او بیا هم زړه ته اطمینان حاصل شی. جواب: تفسیر خو نه کوی او دهغه نه چه کوم سوال پیداشی دهغی ذمه دار دبل خوك وی عجیبه ده.

دریم خط

سوال: حضرت مولانا الاکرم دامت فیوضهم اسلام علیکم: جواب ناصواب باندی خبرشوم امور شرعیه او اصول دینیه کې دی کم علم ته مجال ددعوی څرنګه کیدی شی چه دشلویوشتو کالونه ددغه علوم عقلیو نقلیو طرفته دمتوجه کیدو موقع ملاونه شوه کوم چه دهغی نه مخکې حاصل شوی وودی عاجز چه دسوالونو په جواب کې کوم درائی اظهار کړیدی داصرف امتثال دامرو و؟

جواب: هغه امر هم ظاهرول پکار وو او ایا امر داووچه بې دلیله دعوی جازمیه وکړی شی ددی امرا متثال خو داسې هم کیدی شو چه ماستا په ویناباندی ولیکلو خو دهغی صحیح او غیر صحیح کیدل معلوم نه دی که چرته صحیح نه وی نو اصلاح ئې وکړه نه داچه دمحققینو اقوال نقل کړی او بیا دهغی به مقابله کې خپله رایه راجح کړی ایا دا تاویل فاسد نه دی.

تتمه سوال: دی توقع سره وه چه حضرت به دغلطی اصلاح وکړی؟ جواب: ایا په هغی کې ددی درخواست وو. تتمه سوال: دامدعا او مقصود نه وو چه دتحقیق قابلیت او دنظر دبصیرت اظهار وکړم کوم چه خلاف واقع کیدو سره بې ادبی کې داخل وی نعوذبالله منه؟

جواب: دپټ مقصد ماته څه پته وه هغه لهجه قایل دکتلو ده چه دعوی ده او دعوی هم به په اوچت اواز سره.

تتمه سوال: دومره عرض کولو نه وروستو اصل عرض طرفته رجوع کولو اجازت غواړم او هغه داده چه دینوی مشاغلو سره چه کوم اضطراب او بې چینی په زړه کې راځي هغه دین دپاره بالذات او هر حال کې مضر نه ده خو هغه مشاغل که چرته ددی نوعیت وی چه هغی کې دنیا سره ددین طرفته هم موجود دی نو خامخا به دین ته نقصان رسی بس ددی قسم مشاغلو په

انجام کې که چرته سکون وی او اطمینان قلب موجود نه وی نو ددین او دنیا دواړو به نقصان کیږی او هغه مشاغل به نبی طریقی سره پوره نه شی.؟

جواب: زو مبی خو دیکی کلام دی نبی طریقی سره کار دپاره علم او قدرت کافی دی اطمینان طبعی باندی موقوف نه دی خو که چرته دی نه قطع نظر هم وکړی نو دداسی سکون او اطمنان قوت دپاره خو تبه او سردرد هم کافی دی ایا دباطن دمصلح په ذمه ددی تدبیر هم خود ل دی.

تتمه سوال: مارومبی خط کې لیکلی ووچه زما زړه کې ماشوموالی نه مرضونه او مصیبتونه دی او په دی کې استعداد دقبلولو د اضطراب بې چینی او دناامیدی زیات دی بیا هم ماډیرلیدلی دی چه څه قسم پریشانی په حالت کې دالله ﷻ ذکر کوم نو زړه ته می څه سکون او راحت حاصلیږی او ددی ناامیدی چه راتلو نکی ده ددی حالت بدلیږی او دی بنیاد باندی الابذکر الله تطمئن القلوب طرفته می ذهن منتقل شو او خیال می راغی چه ده ډیر ذکر دپاره که چرته یو خاص ذکر معین کړی شی چه ډیره فائده راکړی؟

جواب: ټول بناء فاسد علی الفاسد دی

تتمه سوال: زه به پوهیږم چه زما مثال دهغه مریض په شان دی کوم چه طبیب ته خپل ټول حالت بیانوی او درخواست کوی چه دمرض تشخیص وکړی او دهغه علاج ورته تجویز کړی دمریض داکار نه دی چه هغه دخپل مرض په خپله تشخیص وکړی او دهغی علاج تجویز وکړی زما اصل خواهش دادی چه دهری ورځی په مشاغلو کې چه زه لګیایم په دی کې چه زیات سکون او اطمنان دزړه ممکن وی هغه ماته حاصل شی او هغه دحضرت غوندی بزرګانو په فیض او کرم سره حاصلیدل څه ګران دی نیست از شاه عجب ګر نبوداز درویش.؟

جواب: زو مبی خو ټول مقدمات متکلم فیه دی فاین المدعی خوزه دی کې قیل او قال نه خوښوم که چرته ستا په ذوق کې ټولی دعوی صحیح وی او داسی اطمنان مطلوب فی الدین دی نو اخیری جواب دادی چه ماته ددی نسخه معلومه نه ده چرته بل طبیب ته دجوع وکړه

څلورم خط

سوال: حضرت اکرم نفعنا الله ﷻ بطول بقائکم وادام لنا برکاتکم اسلام علیکم. خط ملاوشو دامخکینو نورو خطونو سره دوباره په غور وکتلو. زه په خپلی غلطی فکر او رای باندی خبرشوم حقیقت داحال را ته ښکاره شو او دا دحضرت توجه برکت دی واقعی حسن

کاراطمنان قلبي باندي موقوف نه دي اودي پاره دعلم ضرورت دی اوداسی اطمینان مطلوب في الدين كيدلی شی ؟

جواب : هنيأ بكم العلم .

تتمه سوال : حضرت چه زمادخطونو په جواب کي کوم مختصرخولطیف انتباهات اوهدایات فرمائیلی دی هغه مادپاره فائده مندشول اوانشاءالله اينده به هم فائده مندوی ؟

جواب: رزقكم الله تعالى .

تتمه سوال : اوس لاندیني در خواستونه زمادحضرت نه دی [۱] داچه زمااصلاح دباطن ،دګناهونومعافي اودوارو جهانو دکامیابی دپاره دالله ﷻ نه دعاغواړی ؟

جواب: زړه نه دعاکوم

تتمه سوال : [۲] داچه دداسی کتابونو نومونه راته ښائي چه دهغه مطاعی سره دنفس اصلاح وشی ا ودین په استقامت کي راته پوهه حاصل شی ؟

جواب: په یودم خوراته یادنه راځی لړلړپه درته عرض کوم دی وخت کښبعض نومونه لیکم قصد السبیل ،تبلیغ دین ،تربیة السالك ،داحقرمواعظ څومره چه ملاویږی ربیع الاول س۵۲هـ [النورص۲۶شعبان س۱۳۵۲هـ]

تحت رساله احكام الايقان

[عدم تكفيرد نقل ويستونكبو غيره]

سوال : (۴۴۲) څه فرمايي عالمان ددين اومفتيان دشرع متين دی مسئله کي [۱] زيدخوراك څښاك په وجه داسی شكل بدلوی کوم سره چه دهغه دهندوکیدویقین کیږی مثلا کله هندونی کله هندوفقیر کله هندوسيټ دولت مندوغيره جوړیږی په تندی قشقه دهندوانولګوی په غاړه کي دهندوانوهاراچوی داخومحض دهغه افعال دی چه دي سره دعوامو هغه لره هندوګڼی کله کله په خپله هغه خان هندوښائي مثلادهندوانوپه شكل کي راځی اوخواهش کوی چه زه مسلمانیدل غوارم ګویاپه خپله خان نه هندوجوړکړی دی دهوکه ورکوی اوانعام حاصل وی داسی حالت کي دهغه دمسلمان پاتی کیدل اونكاح قائمیدوپاره کي څه حكم دی که چرته نكاح ساقط کیږی نوبغیرد حلالی نه دویمه نكاح کولی شی یانه ؟

[۲] یکردسرکاری سی ایی ډی [خفیه پولیس] دملازمت دوجه نه دیومفرورملزم په تلاش

کي یادیوواقع معلومات دپاره دخپلی فرض منصبی اداکولودپاره داسی شکل بدلوی چه یوناآشناسړی هغه اووینی نوشبې سره دانه شی وئیلی چه د امسلمان دی لکه دهندوکیدو يقين کیږی اګرچه هغه په خپله ژبه دهندوکیدواقرارنه کوی نوداسی حالت کښ هغه داسلام اونكاح څه حکم دی؟

[۳] بعض قصابان وغیره هم دهندوانوپه شکل کي راځی اودهندوانونه څناوراخلی اوبیابغیرد توبی نه داځناورذبحه کوی اوخرڅوی اونكاح هم نه تازه کوی ددوی داسلام ذبیحی اودنكاح څه حكم دی بینواتوجروا؟

جواب : في البحراحكام المرتدين و(يكفر) بوضع قلنسوة المجوسى علىٰ راسه على الصحيح الاضرورة دفع الحروالبردوبشدالزنارفي وسطه الااذافعل ذلك خديعة في حرب وطليعة للمسلمين وفيه ويكفر بقول المحتلرلغيره كنت كافرافاسلمت عند بعضهم وقيل لاوفيه عن السامرة ولاعتبار التعظيم المنافي للاستخفاف كفرالحنفية بالفاظ كثيرة وافعال تصدر من المتهتكين لدلالتها على الاستخفاف بالدين كالصلوٰة بلاوضوء عمداً الخ وفيه عن الفتاوىٰ الصغرى الكفرشئ عظيم فلااجعل المؤمن كافرامتى وجدت رواية انه لا يكفر وقال قبله وفي الجامع الاصغر اذااطلق الرجل كلمة الكفر لكنه لم يعتقدالكفر قال بعض اصحابنا لايكفرلان الكفر يتعلق بالضميرولم يعقدالضمير على الكفر وقال بعضهم يكفر وهو الصحيح عندى لانه استخف بدينه الخ الى قوله ومن تكلم بها اختياراًجاهلاً بانهاكفرففيه اختلاف والذى تحرر انه لايفتى بتكفير مسلمه امكن حمل كلامه على محمل حسن اوكان في كفره اختلاف ولوورواية ضعيفة الخ وفي العالمگيرية الباب التاسع من كتاب السير من الجلدالثالث (صـ۳۱۷ ، ماكان في كونه كفرا ختلاف فان قائله يوم بتجديدالنكاح وبالتوبه والرجوع عن ذلك بطريق الاحتياط الخ – .دارواياتونه دلاندنیو امورو فائده ورکوی ړومبی دکافرانووضع لغیرد ضرورت قویه حسیه كدفع الحروالبردياشرعيه كخدع اهل الحرب والتجسس للمسلمين دافعالو دکفرنه دی دویم داسی افعال بالذات کفرنه دی بلکه ددي دکفرکیدوعلت اسخفاف بالدين دی اوچرته چه استخفاف بالدين يقينامنفی وی مثلادفاعل په علم اوقصدکښ دی مبنی ضروریات یامصلحت وی اوواقع کي ضرورت قویه نه وی اوددی کفرکیدوعلم هم نه وی هلته ارتفاع دعلت سره حکم بالكفر هم منفی وی خومستقل دلیلونو سره به دمعصيت حكم کولی شی اونوراوضاع غیرمذهبی کي به لکه

ځکه چه عام طور باندی عوام جاهلان خصوصاً د کلو خلق په دی کې اخته دی د اسی د اشدیت حکم به نه شی کولی او هر حال کې توبه واجب ده دریم دغه ذکر شوه وضع په کفر کیدو کې اختلاف هم دی کما یدل علیه قوله علی الصحیح اگرچه ډیره سخته گناه ده څلورم په زبې د کفر اقرار چه ورسره د سلام هم اقرار وی کفر اختلافی دی پنځم کفر اختلافی کې به د کفر یاد ښځی د طلاقید و فتوی نه شی ورکیدی البته احتیاطاً به د نکاح او اسلام تازه کولو حکم کولی شی او دی تازه کولو د پاره د حلالی ضرورت نشته، فی الدر المختار وارتداداحدهما ای الزوجین فسخ فلاینقص عدداعاجل بلا قضاء (مع شامی / صـــ ۶۴۳/ ج ۱) وفی الشامی تحت قوله فلاینقص عددافلوارتدمرار اوجدد الاسلام فی کل مرة وجدوالنکاح علی قوله ابی حنیفة رحمہ اللہ کل امرأته من غیر اصابة زوج ثان بحر عن الخانیة ، چونکه د نکاح تازه کولو حکم د احتیاط په درجه کې دی که چرته هغه په دی راضی هم نه وی بیا هم د هغه ښځی ته بل چا سره د نکاح کول جایز نه وی البته د معصیت کیدو په صورت کې توبه واجب کما سبق اوس پوهیدل پکار دی چه ددی اړوسوالونو کې نه د کفر اتفاقی څه فعل او مندی شو نه د کفر اختلافی کوم فعل چه محتمل د کفر وو په هغه کې استخفاف یقیناً منفی دی که چرته بعضو کې تلعب دی نو تلعب یا لدین نه دی تلعب بالحاضرین دی. داسی حالت کې دا افعال اتفاقاً کفر نه دی دغه شان قول د کفر سره قول د اسلام هم مقترن دی بس دا کفر هم اختلافی دی په دی وجه هیڅ صورت کې به هم نه د کفر فتوی ورکولی شی نه د ښځی د بائن کیدو نه د حرمت د ذبیحی. البته گناه صادر شوه لهذا توبې حکم یقینی دی او د کفر اختلافی کیدو په وجه د اسلام او د نکاح تازه کولو حکم به احتیاطاً ورکولی شی ددی نه زیاتی فتوی ورکول د احتیاط د حدودو نه تجاوز دی /۲۳ جمادی الثانی س ۱۳۵۲ هـ]

تصدیق جواب بالا از مدرسه دیوبند

جواب : د حضرت محی السنة د حکیم الامت دامت برکاتهم جواب بالکل حق او صواب او حقیقت او د احتیاط جامع دی ددی نه تجاوز کول بې شکه د احتیاط د حدودو نه تجاوز دی اصول مسلم په باره د تکفیر کې د مسلمان کې هم ددی مقتضی دی او جزئیات د جواب چه کوم لیکلی شوی دی هغه هم په دی ناطق دی کیدونکې بلا شبه دی مسئله کې ذکر شویدی او د فقهاؤ د اختلاف تفصیل فقه اکبر نمبر ۲۲۸ کې موجود دی کوم چه د وضع قلنسوة المجوس

باره کې په حواله د خلاصی نقل کړی دی قال فی الخلاصة من وضع قلنسوة المجوس علی راسه قال بعضهم یکفر وقال بعض المتاخرین ان کان لضرورة البرد ولان البقرة لاتعطیه اللبن حتی یلبسها لایکفر (ثم قال) وفی الخلاصة لوشدالزنار قال ابوجعفر الاستروشنی ان فعل لتخلیص الاساری لایکفر والا کفر (شرح فقه اکبر ص ۲۲۸، ۱/ ۱۰ رجب س ۱۳۵۲ هـ النور ص ۵ جمادی الثانی ۱۳۵۳ هـ)

حضرت حسین رضی اللہ عنہ ته سیدالشهداء لقب جائزدی یا نه

سوال هغه خط کوم کېچه د تلقیب سید الشهداء او احکامو باره کې ارشاد گرامی وو چه د اهل سنت دفع توحش د پاره د شیعه او د اهل سنت د مذهب فرق ښودلی شی او د ا ښکاره کړیشی چه مونږ ته صرف د عقائد شعیه په دوی سره دی امور کې اختلاف دی کنی نه په امام ویلو کې څه حرج نشته او نه سید شهداء کیدو کې ما د مولانا عبدالشکور رحمہ اللہ په خدمت کې ولیگل مولانا هغه کیښود ل او ماته یې دومره جواب راولیږلو چه دا مضمون به چرته مناسب ځای کې زیات کړیشی خو ماته دیکې تردد دی چه د یو تلقیب د بل تلقیب سره مانع نه دی ځکه چه رسول اللہ ﷺ کوم لقب خپل یو صحابی ته ورکړو حضرت ﷺ په خپله هم هغه لقب بل چا ته نه دی ورکړی بیا صحابه او تابعینو هم هغه لقب چا ته نه دی ورکړی په دی وجه معلومه شوه چه چا ته د القب ورکړی شویدی هغه د داسی امورو د وجه نه ورکړی شوی دی کوم چه هغه سره خاص دی خصوصاً د سیادت په لقب کې خو صفا صفا دغه معلومیږی ځکه چه مختلف جنتونه د مختلفو اعمالو د خلقو د پاره جوړ کړیشویدی مثلاً انبیاء د پاره او شهیدانو د پاره او صالحینو د پاره او سید الشهداء د پاره په دی وجه دغه ذهن ته راځی چه ماته سید الشهداء لقب ملاویدو مطلب دا دی چه هغوی ته دیو خاص جاگیر سند ورکړیشویدی او د داسی سند ورکولو اختیار هغه چا ته دی د چا په اختیار کې چه جاگیر دی دغه شان حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ ته خلیفه او فرمائیلی شول نو د رسول اللہ ﷺ نه وروستو هم ده ته خلیفه رسول اللہ ﷺ وویلی شول. بل چا ته ددی لقب شرف حاصل نه شو او اگرچه نورو حضراتو ته هم خلیفه وویلی شول خو داتول په اعتبار د لقب یا په اعتبار د اصلاح شرعی ورته خلیفه گان وویلی شول د لقب په طور ورته و نه ویلی شول او نه د لته د هغې معنی لحاظ وشو کوم چه خلیفه رسول اللہ ﷺ کې دی لکه ځنگه چه د رسول اللہ ﷺ فقط رسول نه چه کوم شرف معلومیږی هغه مثلاً جاء فی رسول عامل د خراسان کې نشته. رسول اللہ ﷺ خپلو صحابو ته

مختلف لقبونه ورکړل په هغې دبعضې لقبونه اثارپه دنیاکې ښکاره شول اوبعض به په اخرت کې ښکاره کیږی مثلاً حضرت ابوبکرصدیق ؓ ته صدیق اوحضرت عمر ؓ ته فاروق اوحضرت خالد ؓ ته سیف الله اوحضرت ابوعبیده ؓ ته امین هذه الامت اوحضرت حمزه ؓ ته اسدالله واسدرسوله اوسیدالشهداء اوحضرت حسین ؓ ته سیداشباب اهل الجنة اوحضرات شیخین ته سیداکهول اهل الجنة اوحضرت علی ؓ ته اقضاهم اوحضرت ابی بن کعب ؓ ته اقرأهم وفرمائیلی شول خوچرته ضعیف نه ضعیف روایت هم داسې نه ملاویږی چه دصحابه کرامویاتابعینودحالاتوسره دتشابه په لحاظ سره دی لقبونوسره چرته بل کس یافرمائیلی شوی وی کوم چه صفاصفاددی خبری دلیل دی چه درسول الله ﷺورکړی شوی لقب هغه حضراتوبل چادپاره استعمالول جائزنه ګڼل. په دنیاکې دشاهی خطاباتواصول هم دغه د یچه خان بهادر، شمس العلما یاجنګ بهادروغیره یوغیرشاهی خطاب موندونکې دپاره نه شی ملاویدی نه قانوناًنه رواجاً اوکه چاته غیربادشاه داخطاب ورکړی هم نوزره دهغه عزت افزایې نه کیږی اونه اثارمرتب کیږی کوم چه شاهی خطاب موندونکې دپاره وی مثلاپه دربارکې رابللی کیدل .عدالت کې کرسی ملاویدل دده شهادت یوخاص وقعت کیدل وغیره ذالك دغه شان دالقاب نبوی ﷺباره کې هم دغه ذهن ته راځی زه خپل پرشان حالات دحضوروالاپه خدمت کې پیش کوم ددی دپاره چه اصلاح وشی کنی زه څه یم اوزماهستی څه ده ؟

جواب :دغه حکم کول مشکل دی چه داارشادات توصیف دی یاتلقیب دی دپاره دقرائن خارجیه حاجت دی خوپوری احتمال د توصیف دی دتخصیص حکم نه شی کیدی تردی چه دالله ﷻ دبعضې اوصافواطلاق مخلوق دپاره جائزدی لکه رحیم، ملك ،عزیزوامثالهاتابه وصف نګران چه رسد. حضور ﷺ دغریه زلزله کې حضرت ابوبکرصدیق ؓ ته دصدیق لقب اوبعضوصحابوته دشهیدلقب ورکړوبیاهم دقران دصدق اودشهید تعدد معلومیږی اولئك هم الصدیقون والشهداًعندربهم. قران کې حضرت ابراهیم ؑ ته امام فرمائیلی شوی دی اوپه خپله امت په زرګونوته دامام لقب ورکړی شوی بل داچه حضور ﷺ حضرت حسن ؓ په نسبت وفرمائیل ان ابنی هذا اسید .بیابلانکیردسید اطلاق په زرګونوباندی شویدی اواخری خبره خوداده چه داحکم شرعی دی ددی فتوی دعالمانونه وغواړی کم نه کم دافائده خوبه وشی چه تحقیق به مشترك شی تفردخوبه رانه شی که چرته استفتاوی ددواروطرفودلیلونه

په سوالونه کې ولیکې بلکه غورکولونه معلومیږی چه مطلق تلقیب هم مستلزم دتخصیص نه دی بلکه دې کې تفصیل دی هغه داچه کله دنفس مفهوم لقب په اعتبارسره وی دادنفس مفهوم تخصیص ته مقتضی نه وی دبخاری حدیث کېدحضور ﷺ په مناقبوکې حدیث قدسی دی سمیتك المتوکل اوبیاپه غیررسول باندی اطلاق دمتوکل بلانکیرشائع دی البته قران مجیدکې ارشاددی هوسماکك المسلمین .ددی اطلاق په غیرمسلم باند ی جائزنه دی فرق هم دغه دی چه دمسلمین لقب په اعتباردنفس مفهوم دی اودمتوکل لقب په اعتباردکمال دی اوتعین ددی دقرائین خارجیونه کیږی په دی کې دذوق اجتهادی ضرورت دی زمااوستاحکم معتبرنه دی دی نه وروستومی یوحدیث وکتوپه اخره زمانه کې دروم اومدینې والوته دقتال دواقع باره کښارشاددی .ویقتل ثلث هم افضل الشهداء عند الله جمیع الفوائد کتاب الملاحم عن مسلم، افضل الشهدامرادف دی دسیدالشهداء دی سره داطلاق غیرحمزه ؓ دپاره جائزکیدل ثابت شول اوکه چرته دعوی دتخصیص هم دغه الفاظوسره خاص ده نوداطلاق به کمال سره خاص کولی شی کماذکر اوحضرت امام حسین ؓ ته به وروستودرجه کې سیدالشهداء وئیلی شی مثلاالشهداء کې لام دعهدشواومراددی نه شهداء دکربلا شول دحضرت امام حسین ؓ د هغوی دسیداورئیس کیدوکې څه کلام نشته بل داچه دحضور ﷺ ارشاددی چه حسن ؓ اوحسین ؓ سیداشباب اهل الجنة اوښکاره خبره ده چه په شبابوکې شهداء هم شته نودهغوی هم سرداران شونوسیدالشهداء کیدل بی تکلف دنص نه ثابت شول بل داچه کوم حدیث کې حضرت حمزه ؓ ته سیدالشهداء وئیلی شویدی په هغه کې دیوم القیمه هم قیددی نوکه چرته تحقیق باندی دلالت مسلم هم وی نوحضرت امام حسین ؓ باندی به دی قیدسره اطلاق نه کیږی ممکنه ده داهل وعیال توارث پاتی کیدل دقاتلانومدعی دمحبت جدمقتول کیدل دعزیزانومخکې مقتول کیدل دیوصاحب شوکت ولی په جنګ کې نه حاضریدل اوداتول هله دی چه حدیث سنداصحیح وی کنی ثبوت به هم متکلم فیه وی خوجمع الفوائدکې دی حدیث ته ضعیف وئیلی شویدی

[۱۲ربیع الثانی س ۱۳۵۲هـ]

جواب تصدیق علماء مظاهرالعلوم

سهارنپورو مفتی دارالعلوم دیوبند

دېرنی جواب نه وروستو د سائل د طرفنه بیا څه سوالونه راغلل د فاصلی د کموالی د پاره هغه ته مشوره ورکړی شوه چه د واړو طرفو دلیلونه د زید او عمرو په نوم سره د نورو عالمانو په خدمت کې هم پیش کړی چه فیصله وکړی شی په دی وجه سائل ډیرو خایونو ته استفتاګانی ولیږلی د دوو ځایونو تصدیق جوابونه چه کوم ماوکتل نقل کولی شی

د سهارنپور جواب

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد: سیدنا حضرت امام حسین ؓ باندی د سید الشهداء د اطلاق په جواز او عدم جواز باندی د فریقینو فاضلانه دلیلونه بنده دوباره دری باره وکتل د طرفینو په دلیلونو معارضاتو باندی په حیثیت د قوت او ضعف تنقید کول پوراجع اوبل مرجوع ګرځول او خپله رایه فیصله لیکل د داداسی سړی کار دی چه هغه په علم او فضل او فهم او دانش باندی د فریقینو اعتمادوی خو چونکه تاسو استفتا فرمائیلی ده په دی وجه محض د استفتا جواب د خپل تحقیق او تتبع موافق لیکم قطع نظر د دی نه چه هغه د زید موافق یاد عمرو مخالف دی د استفتاء په اجزاؤ کښا هم اجزاء دادی [۱] د سید الشهداء اطلاق په حضرت حسین ؓ باندی جائز دی یا نه [۲] حدیث د سید الشهدا حمزه ؓ د سند په اعتبار سره د کومی درجی دی [۳] او حدیث سید اشباب اهل الجنة د سند په اعتبار سره د کومی درجی دی [۴] او دی دواړو روایتونو کې کوم یو ته ترجیح دی [۱] حضرت امام حسین ؓ باندی د سید الشهداء اطلاق اګرچه په احادیثو کښ د حضور ﷺ نه ثابت نه دی خو که چرته وکړی شو دی پاره څه مانع نشته حضرات حسنینو ؓ باندی حضور ﷺ د لفظ سید اطلاق کړیدی کوم چه روایتونو کښ مصرح دی او عالمانو چه کوم د هغه معنی بیان کړیدی هغه خپل عموم سره سیادت مطلقه ثابتوی په هغه کښ حضرت حمزه ؓ او نور صحابه ؓ علاوه د انبیاء ؑ او د خلفاء راشدینو نه ټول داخل دی په مرقات کښ د حدیث سید اشباب اهل الجنة د لاندی ملاعلی قاری ؒ لیکلی قال المظهر یعنی هم افضل من مات شابافی سبیل الله من اصحاب الجنة اولم یرد به من الشاب لانهما ماتا وقد کهلا بل مایفعله الشاب من المروة کمایقال

فلان فتی وان کان شیخایشیرالی مروته وفتوته اوانهما سیداهل الجنة سوی الانبیاء والخلفاء الراشدین وذلک لان اهل الجنة کلهم فی سن واحد وهوالشباب ولیس فیهم شیخ ولاکهل اه ومثله فی مجمع البحار وغیرهما. او د حضرت حسین ؓ د شهید کیدو اطلاع په خپله حضور ﷺ ورکړیده لو په دی کې حق او انصاف ته هیڅ تامل نشته چه حضرت امام ؓ او د هغه ملګری شهیدان دی دواړه قسم حدیثونه که چرته ملاؤ کړی نو نتیجه ظاهرده چه په حضرت امام حسین ؓ باندی د سید الشهداء اطلاق کول صحیح دی

جواب د شبهاتو

رومبی شبه پاتی شوه داشبه چه حضرت حمزه ؓ ته حضور ﷺ د سید الشهداء لقب خاص کړی دی په دی وجه باچا باندی د دی اطلاق نه شی کیدی د دی جواب دادی چه د حضرت حمزه ؓ سیادت مسلم دی خو دادعوی کومه چه تامخصوص کړیده بی دلیله ده د روایتونو د سرسری تتبع نه معلومیږی چه دا لقب حضرت حمزه ؓ د پاره مخصوص نه دی اګر که هغه د پاره تو لونه رومبی د ژبی د نبوت صادر شو کوم چه یو د پرلوی شرف دی او باعث د امتیاز دی دلیل د دی دادی چه حدیث د سید الشهداء حمزه ؓ پوره دادی، ابن عباس ؓ رفعه سیدالشهداء یوم القیمة حمزة ابن عبدالمطلب ورجل قام الی امام جائر فامره ونهاه فقتله للاوسط بضعف جمع الفوائد، ص۲۲۸ج۲). په خپله دی روایت کې تصریح ده چه د سید الشهداء اطلاق داسی کس باندی هم کیدی شی کوم چه د ظالم بادشاه په مقابله کې او وژلی شی او س ایا حضرت حسین ؓ د دی سړی په عموم کې داخل نه دی یقینا داخل دی او هرکله چه دی په دی عموم کې داخل شو نو په حضرت امام حسین ؓ باندی به د سید الشهداء اطلاق د حضور ﷺ د ژبی مبارک نه ثابت شی او د حضرت امام ؓ مقابله بی شکه ظالم بادشاه سره وه دویم روایت د حضرت علی ؓ نه مروی دی عن علی ؓ ان افضل الشهداء حمزة بن عبد المطلب وقال رسول الله ﷺ سیدالشهداء جعفربن ابی طالب مع الملئکة لم ینحل ذلک احد ممن مضی من الامم غیره شی اکرم به و ﷺ ابوبکر ؓ وابوالقاسم الحرقی فی امالیه کنزالعمال، (ص۲۱ج۷). دی روایت کښ هم تصریح ده چه حضرت جعفر ؓ باندی د سید الشهداء اطلاق وکړی شو دی وخت کښ سرسری تتبع سره دا روایت مخی ته راغلی دی ممکنه ده چه تلاش

کولوباندی نوروروایتونوهم داسی ملاؤ شی چه په هغه کښې نوروصحابو ﷡ باندی خاص ددی لفظ یانوروخلقوباندی اطلاق نه دی شوی خصوصاً دسید الشهداء.

دویمه شبه: دویم شبه داکیدی شی ادامانع دطرفنه شویده اچه بسید الشهداء کښ اضافت دسید جمع طرف ته دی کوم چه مفید دعموم دی داهم دعوی محض ده .دی باندی څه قوی دلیل نه دی قائم شوی په دی وجه ظاهره دغه ده چه اضافت او الف لام دواړه عموم دپاره دی استغراق دپاره نه دی اوکه چرته استغراق هم ومنی نو استغراق حقیقی باندی څه دلیل دی بسکاره خبره ده چه استغراق عرفی دی علامه حنفی ﵀ دحدیث سید الشهداء حمزه ﷜ دلاندی لیکلی قوله سید الشهداء ای شهداء المعركة فلایردان نحوسیدناعمرمن الشهداء وهوافضل منه لكنه لیس من شهداء المعركة فلیس داخلافیه وكذا یقال فی رجل قام الی الامام (حاشیه شرح جامع الصغیر (ص۳۲۱) دریمه شبه: دی کښتشبه بالروافض دی دادومره ضعیف ده چه یوفاضل اوپوهه سړی خوڅه یومعمولی سړی هم دی سره نه شی دهوکه کیدی ځکه چه نفس محبت د حسنینو ﷡ یادعلی ﷡ اودهغوی مرتبه داهل سنة په نزدچه څه ده هغه معلومه ده باقی دوی لره شیعه ګان دخپل اعتقادموافق دنوروحضراتونه افضل ګڼل افراط دی لهذاصرف دی وجه سره ددی اطلاق معلل کول درست نه دی بیاچه ددی په عدم جوازڅه نص هم موجودنه دی اودروایتونوعموم سره جوازمعلومیږی خلاصه دکلام داده چه زیات نه زیات وجه دعدم جوازداکیدیشی چه دالقب حضرت حمزه ﷜ سره مخصوص دی بس ددی عام کیدل ددی تقریرنه ثابت شول اوکه چرته داومنی هم اوحضرت حمزه ﷜ دپاره داخصوصی شرف مخصوص کړی نوکیدیشی چه حضور ﷺ چه په حضرت حمزه ﷜ کوم اطلاق کړی دی هغه دی وصف خاص لحاظ سره اعلی فردوواونوروافرادوته چونکه دژبی دنبوت ﷺ نه دی ملاؤشوی نودی وجه کېدی نه دی خواطلاق دپاره څه مانع نشته هرکله چه دحضور ﷺ دکلام نه عموم ثابت دی علامه حنفی ﵀ سیدالشهداء جعفر ﷜ کښهم سره ددی نه چه په خپله حضور ﷺ ده ته سید الشهدا فرمایلی دی داتوجیه فرمایي ای بعدحمزة ویوجدفی المفضول (ص۳۲۱ج۲)

[۲] حدیث سید الشهداء الخ جمع الفوائد کښ حضرت ابن عباس ﷜ نه په حواله داوسط نقل کړیده اوبضعف یې لیکلی دی خوجامع صغیرد طبرانی کبیرپه حواله سره اوپه حواله دحاکم دحضرت جابر ﷜ نه نقل کړیدی اوشرح کښراخی قال الشیخ حدیث صحیح (ص۳۲۱ج۲)

[۳] سید اشباب اهل الجنة ترمذی ص۲۱۸ج۲باندی دی ترمذی دی ته حسن او صحیح وئیلی دی [۴] دواړوروایتونوکښچونکه تعارض اوتخالف نشته په دی وجه یوته هم دراجح اومرجوح وئیلوحاجت نشته هریوپه خپل محل باندی محمول دی فقط والله اعلم بالصواب حرره سعیداحمدا جراروی مدرس مدرسه مظاهرالعلوم سهارنپور ۲۲رجب س۱۳۵۲هـ

جواب صحیح: عبداللطیف ناظم مدرس مدرسه مظاهر العلوم سهارنپور

جواب دیوبند

استفتاء مطلق دلقب سید الشهداء می سره ددلیلونودفریقینو وکتو.جواب دپاره دفرصت انتظاروودی په مینځ کښې جواب حرره مظاهرالعلوم سهارنپوروکتوبالکل صحیح کافی اووافی معلوم شو په دی وجه دجداجواب حاجت پاتی نه شو په دی وجه دهغه جواب تصدیق کوم. اودریم شبې باره کښدومره اضافه کوم چه داشبه په تشبه اوتشابه کښپه فرق نه کولوباندی مبنی دی حالانکه دواړوکښیوخای والی دیرلری دی که چرته محبت دال دبنی ﷺ په روافضوکښوموندلی شی یاپه څه درجه کښهغوی سره مخصوص وګڼلی شی نوایااهل السنتوالجماعت ته به دارایې ورکولی شی چه دوی داپریږدی. کلاثم کلا ولنعم ماقال الشافعی

ان کان رفضاحب ال محمد   فلیشهدالثقلان انی رافضی

والله سبحان وتعالیٰ اعلم - کتبه احقرشفیع غفرله خادم دارالافتاء درالعلوم دیوبند[۲۹ شعبان/۱۳۵۲هـ/النورص۹/ بابت ماه ذیقعده ۱۳۵۲هـ]

تحقیق السعد والنحس

سوال:(۶۴۳)اعلم الله ان کان المرادبالسعادة والنحوسة مایزعمه الجهلاء من خاصیة طبعیة فی شئ باسباب غیرمشاهدة فهی شعبة من النجوم التی نفاهاالشرع فقد روی احمد وابوداؤد وابن ماجة عن ابن عباس ﷠ قال قال: رسول الله ﷺ من اقتبس علماً من النجوم اقتبس شعبة من السحرزادمازادوروی رزین عن ابن عباس ﷠ قال قال : رسول الله ﷺ من اقتبس بابامن علم النجوم بغیرماذکرالله فقد اقتبس شعبة من السحرالنجم کاهن والکاهن ساحر والساحر کافروعن قتادة قال خلق الله تعالیٰ هذه النجوم لثلث جعلهازینة للسماء رجوما للشاطین

وعلامات لیهتدی بهافمن تاول فیها بغیرذلک اخطأ واضاع نصیبه وتکلف مالایعلم رواه البخاری تعلیقاًوفی روایة رزین وتکلف مالایعنیه ومالاعلم له به وماعجزمن علمه والانبیاء والملائکة وعن الربیع مثله وزادماجعل الله فی نجم حیوة احدولارزقه ولاموته وانمایفترون علی الله الکذب ویتعللون بالنجوم (مشکوة باب الکهانة) وان کان المراد بالسعادة برکة وفضیلة ثبت بالنقل الصحیح وبالنحوسة مضرة ومعرة ثبت کذلک فالسعادة واقعة بماوردمن النصوص فی ایام مبارکة کالجمعة ورمضان وغیرهاوالنحوسة منفیة بالنصوص کذلک کقوله ﷺ لاعدوی ولاهامة ولانوء ولاصفررواه مسلم وکقوله ﷺ الطیرة شرک وکقوله ﷺ الطیرة من الجبت رواهما ابوداؤد (مشکوة باب الفال والطیرة) وماوردمن قوله ﷺ الشوم فی المرأة والدار والفرس متفقه علیه (مشکوة کتاب النکاح یفسره الحدیث الاخرالذی رواه ابوداؤدمن قوله ﷺ ان تکن الطیرة فی شیٔ ففی الداروالفرس والمرأة (مشکوة باب الفال) وفی المرقاة المعنی ان فرض وجودهایکون فی هذه الثلثة والمقصودمنه فی صحته الطیرة علی وجه المبالغة اه قلت فکلمة ان هذه کهی فی قوله تعالیٰ قل ان کان للرحمٰن ولدفاناأول العابدین بمعنی انها بمعنی لوتکون للنفی کماقال النبی ﷺ العین حق فلوکان شیٔ سابق القدرسبقة العین رواه مسلم (مشکوة کتاب الطب) واماقول الله تعالیٰ فارسلناعلیهم ریحاً صرصراً فی ایام نحسات الایة فلیس المرادبه النحوسة المتعارفة بدلیل تفسیرهذه الایام بایام الاسبوع فی قوله تعالیٰ واماعادفاهلکوابریح صرصرعاتیة سخرهاعلیهم سبع لیال وثمانیة ایام حسوماالایة فلوکان المراد النحوسة المتعارفة لکانت الایام کلها نحسوهوخلاف مادعوه فعلم ان المرادبالنحسات نحسات علیهم لنزول العذاب علی معاصیهم فاتضح سبیل الرشاد، کتبه اشرف علی ؛ تاسع رمضان/ (النورص۱۰ربیع الاول ۱۳۵۴ھ)

دنوروکتابونو اسما نیو هرف هرف منزل دی یانه

سوال :(۶۴۴) مسلمانانو کښې چه کومه عامه عقیده خوره ده چه تورات او انجیل وغیرهم دقران مجید په شان کلام الهی دی ددی شرعی بنیاد څه دی ددی په نفس منزل من الله کیدو کښې کلام نشته خبره صرف دی کښې ده چه په شان دقران ددی لفظ په لفظ حرف به حرف

دمنزل کید ودعوی قران مجید یاحدیث کښې چرته کړې شویدې ماته خوداسې ښکاری چه ددې کتابونو نزول صرف اجمالی حیثیت سره شویدې یعنی په لحاظ دمعانی مطالبوما سیواد تورات نه دهغه احکاماتونه دکوم چه په صورت دالواحونازلیدوصراحت په قران مجید کښې دی تفصیلی یعنی لفظی حرفی تنزیل صرف دقران مجید شویدې ماراپه نه ده قائم کړې صرف سرسری داخیال پیدا شویدې دهغه مخکینو کتابونو دیرزیاتی کمزوری مې اوی نوصرف استفاده داپیش کوم تورات زبورسره غنیمت دی تولونه زیات کمزوری اوبی سنده خومات انجیل ښکاری ددی دمطالع کولونه وروستواوس داپه اسانی سره ذهن ته راځی چه په یورپ کښې دهریت مادیت زوروللی دومره زیاتیږی داسې بې خونده او کمزوری مذهب سره بغاوت لازمی وو او افسوس په دی بې چاره ګانوداراځی چه عیسائیت نفس دمذهب قائم مقام ګڼی او اسلام په هغی قیاس کوی او دتحقیق اسلام دطرف نه بې فکره شویدی .

جواب :په دی سوچ کښې په جواب کښې ډیر ځوورځی تاخیروکړیشو. دایتونومې هم ډیر سوچ وکړ خو یوایت هم ذهن ته رانه غی چه دی باره کښې اثباتاً یا نفیاً نص وی نوځه رنګه چه داثبات دعوی نه شی کیدی دغه شان دنفی دعوی نه شی کیدی دواړه احتماله برابر دی ممکن ده چه الفاظ نازل شوی وی او ممکن ده په معنی نازل شوی وی اودالفاظ دموسی ﷺ اودعیسی ﷺ وی اګرچه هغه محفوظ نه وی پاتی شوی نودی باب کښې ددی درجی دحدیث په شان شوه اوددی هم چرته تصریح نشته چه الواح غیردی دتورات بلکه ظاهرالواح (۱) کښې تورات دی که چرته ظاهر کافی ونه ګڼل شی نودتورات لفظی تنزیل به یو درجه کښې ثابت شی که چرته څه وخت کښې ددی نه زیاته څه خبره ذهن ته راشی نوعرض به کړم ۲۱ جمادی الثانی س۵۴ھ (النورص۷رجب ۵۴ھ)

---

(۱) وجه الظهورسیاق الروایات التی اوردهافی الدرالمنثورباسانید مختلفة فی تفسیرقوله تعالیٰ وکتبناله فی الالواح من کل شیٔ موعظة وتفصیلا لکل شیٔ یفهم منها اتحاد التوراة والالواح اصرحها مااخرجه عن ابن خاتم عن ابن عباس قال اعطی موسی التوراة فی سبعة الواح من زبرجدفیها تبیان لکل شیٔ وموعظة الخ بل داچه ددی تائیدیوایت سره هم وشو قال تعالیٰ وکتبنا علیهم فیها ای فی التوراة ان النفس بالنفس الخ ، دلته نه دتورات مکتوب کیدل ثابتیږی اوروسته ایت نه دالواح مکتوب کیدل پس ظاهرهم دغه ده چه دواړه متحددی والله اعلم ۱۲

د حضرت معاویه رضی الله عنه داس د دوړې برابره هیڅ یوولی مرتبه هم نه ده

سوال: (۶۴۵) احقر په یو تقریر کښې عرض کړی وو چه د حضرت په یو وعظ کښې دا مثال لیدلی وو چه د حضرت معاویه رضی الله عنه داس د پوزې په سپږمو کښې چه کوم خاوره غورزیدلی ده د هغې برابر هم د هیڅ یوولي درجه نه شي کیدی تقریر ختمید و باندې یو سائل د اصل مضمون حوالې تپوس وکړو که چرته ما نه سهوه نه وي شوې نو حضرت ددې واقعې د سند حواله ولیکېاو که چرته سهوه شوې وي نو چه څه صحیح وي هغه ولیکي؟

جواب: فی ارشاد الطالبین لمولانا ثناء الله الپانی پتی (صـ ۱۹) عبد الله بن مبارک از تابعین ست میگوید الغبار الذی دخل انف فرس معاویة رضی الله عنه خیر من اویس القرنی وعمر بن عبد العزیز المروانی ، ۱ جمادی الاخری ۵۳هـ النورص ۸ رجب س ۵۴هـ

دلیل دا فضلیت د صحابو په غیر صحابي باندې

سوال: (۶۴۵) دا عقیده چه صحابه افضل دي د غیر صحابه نه ددې عقیدې دلیل د کتاب د سنت نه هم شته یا صرف اجماع ده؟

جواب: ایت خو څه ذهن ته رانغی البته د حدیث نه صفا استدلال کیدی شي عن عمر رضی الله عنه قال قال: رسول الله صلی الله علیه وسلم اکرموا اصحابی فانهم خیارکم الحدیث رواه (کذافی المشکوة باب مناقب الصحابة رضی الله عنهم) وفی الحاشیة عن مرقاة واللمعات مانصه فی اصل المصنف ههنا بیاض والحق به النسا، ئي واسناده صحیح ورجاله رجال الصحیح الاابراهیم ابن الحسن الخثعمی فانه لم یخرج له الشیخان وهو ثقة ثبت ذکره الجزری اه ، استدلال تقریر دادی داخیار جمع ده د خیر او خیر په معنی دافعل التفضیل دی نو صحابو ته مخاطبینو باندې تفضیل مدلول د حدیث دی او دی کیاطلاق دی نو مطلق تفضیل مراد شو او خیارکم کښې خطاب یقینا غیر صحابو ته دی ځکه چه مفضل او مفضل کښې متغائرت وي نو مدلول د حدیث دا شو چه اصحابو ته به مطلقا په غیر صحابو فضیلت وي بس مدعا ثابت شوه او اګرچه دا خبر واحد دی کوم چه ظني وي خو اجماع سره یو ځاي کیدو دوجه نه دا قطعي شو چه کوم قطعیت کښې عقائدو ضرورت دی او س دي مقام باندې یو بل حدیث سره شبه کیدیشي هغه هم سره د جواب نه عرض کوم هغه حدیث دادی، عن ابي سعید کان بین خالد بن ولید رضی الله عنه وبین عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه شي فسبه

خالد رضی الله عنه فقال النبی صلی الله علیه وسلم لاتسبوا اصحابي فان احدکم ان انفق مثل احد ذهبا مابلغ مد احدهم ونصیفه الشیخین وابی داؤد والترمذی (کذافی جمع الفوائد من فضائل الصحابة المشترکه). شبه داده چه دی حدیث کښې یې یو صحابي لره د نورو صحابو د ترك احترام نه منع فرمائیلی ده نو یقینا دلته داصحاب نه مراد اکابر د اصحابو دي نو د صحابو افضلیت ثابت نه شو. جواب دادی چه دلته یې هم مدار د نفي او تفضیل صفت د صحبت فرمائیلی دي نو څرنګه چه اکابر صحابه د اصاغر صحابه نه د صحبت داوږدوالي په وجه افضل دي دغه شان دي علت سره مطلق صحابه د غیر صحابه نه افضل دي بس مدعا په خپل حال ثابت پاتې شوه والله اعلم ۳۰ جمادی الاخری س ۵۳هـ النورص ۸ رجب س ۵۴هـ

د ختم خواجګان احکام

سوال: (۶۴۶) [۱] د ختم خواجګان اکومه چه د صوفیانو یوه طریقه ده د قضای حاجت دیني او جائز حاجات دینوي د پاره لوستل په جومات کښې جائز دي یا نه؟

جواب: په اجرت سره ناجائز دي او بغیر د اجرت نه اتفاقا جائز دي او عادت یې جوړول ناجائز دي د اتفضیل د حاجت دینوي باره کښې دي او حاجات دینیه کښې د مثال ضرورت دي.

[۲] ادیو کس دعا د پاره دي عمل لره یعنی ختم خواجګان په جومات کښې لوستل دینوي حاجتونو د پاره جائز دي یا نه؟ جواب: هغه برنی تفضیل دي سوال [۳]: جائز دینوي ضروریاتو د پاره په جومات کښې دعا کول څنګه دي جائز دي یا نه؟ جواب: جائز دي ځکه دعا عبادت دي اګرچه د دنیایي مباح د پاره وي، سوال [۴]: د کال په اکثرو حصو کښې بزرګانو د روحونو ایصال ثواب د پاره راجمع کول بغیر د څه خاص انتظام نه او وخت مقرر کولو نه قران لوستل جائز دي یا نه که چرته جائز دي نو خپلو دوستانو پناه لیدو د پاره وئیل څنګه دي؟ جواب: داتداعي ده غیر مقصود د پاره کوم چه بدعت او مکروه دي. ۲ جمادی الاول س ۵۴هـ النورص ۷ ربیع الثانی س ۱۳۵۵هـ

تقلیداو اتباع کښفرق شته یانه

سوال :(۶۴۷)اهل حدیثو عالمان .....دلفظ تقلیداو اتباع په مفهوم کښفرق کوی ،زمایه دی کښه دیروخت نه ذوقاو اتباعابالاکـابر کلام دی اه‌ادي نـه وروسـتوبې دافـرق او اتحادپـه یواوږدتقریر کښنقل کړیدی ا؟

جواب : پـه اتبـاع او تقلید کښچـه کـوم فـرق پـه درجـه دتبـائن یااتحادپـه درجـه دتسـاوی دواړوقولونو کښنقل شویدی هغه باندی زه پوهه نه شوم کوم چه زماپه ذهن کښراغلی هغه عرض کوم ږومبی مقدمه تیاروم بیاخپل خیال لیکم .مقدمه داده چه لفظ تقلیدپه فنون شرعیوکښه وجه داصلاح لغوی معنی کښستعمل دی او اتباع کښځه اصلاح منقول نه ده په دی وجه داپه خپل لغوی معنی کښستعمل ده اوددی لغوی معنی ښکاره ده چه دتقلیدنه عام ده اوس سوال اوجواب ښکاره دی چه دی دواړو کښد عموم وخصوص مطلق نسبت دی یعنی اتباع عام ده هرموافقت ته برابره خبره ده که هغه تقلیدوی اوکه غیر تقلیدتردی که چرته متبع سره مستقلاهم دلیل دی یعنی وحی څنګه چه ارشاددی .ثم اوحینا الیك ان اتبع ملة ابراهیم حنیفا . یاڅنګه چه ارشاددی فبهداهم اقتده یادلیل مذکوربالمعنی المستقل اتباع وی لکه څنګه چه ارشاددی لنعلم من یتبع الرسول یادمتبع دلیل اتباع وي لکه څنګه چه ارشاددی واتبع سبیل منْ اناب الی من اناب الی واضح دی ددی اتباع ته یې اتباع وئیلی ده اودی تولواتباع ګانوباندی تقلیدمصلح صادق نه راځی تردی چه مجتهددپاره دتقلیددمجتهد اجازت نه شی ورکیدی او اتباع ته دمنع څه وجه نشته اودتقلیدپه اصطلاحی تفسیر کښاګرکه څه اختلاف هم وی خوهرتفسیرباندی هغه خاص دی اتباع دمجتهدسره محض ددلیل اجمالی په بنیادبغیرد انتظار دتفصیلی دلیلونو نه اګرکه دلیلونه معلوم هم شی خوهغه انتظارنه شی کیدی تردی که چرته دلیل نه معلومیدی یامعلومیدونه وروستوپه هغه کښځه شبه غیرقطعیه عارض شی بیاهم داتباع التزام باقی دی اوځه ځای کښد دواړو جمع کیدل که حق کښوی او که باطل کښد اد تبائن خومنافی دی خوتساوی ته مستلزم نه دی اصل مفهوم ددواړوتتبع دمواردوداستعمال نه دغه معلومیږی خودتجوزات بالقرائن انکارنه شی کیدی اوحاصـل داختـلاف قـائلین بالاتحاداودبالتبـائین نـزاع لفظـی ده کومـه چـه تـابع ده دتفسیرد الفاظوکوم سره چه احکام واقعیه باندی څه اثرنه پریوزی .حق حق دی که دهغه هیڅ نوم

هم کیښودلی شی اوباطل باطل دی که دهغی هرڅه نوم هم کیښودلی شی .والله اعلم ۳شعبان س۱۲۵۴ه (النورص۷رمضان س۱۳۵۵ه)

خودکشی کوونکې دپاره دعا جائزده

سوال :(۶۴۸) څه فرمایې عالمان ددین اومفتیاد شرع مبین دی مسئله کښچه یوسړی په قصد خپل ځان په توپك وویشتو او مړشو دپوسټ مارتم کیدونه وروستودفن کړی شو .چونکه ایت کریمه کښوفرمائیل ولاتقتلوا النفس التی حرم الله الابالحق . دالله ﷻ دنارضګی په عذاب کښراغلی دی کوم چه دویم ځای ایت کریمه کښوفرمائیل ، ومن یقتل مؤمنا متعمدا فجزاء جهنم خالدا فیه وغضب الله علیه ولعنه واعدله عذابا عظیما - دی نه صفاښکاره ده چه په عذاب کښه اخته کیږی ددی دتلافی دپاره نوروپس ماندګانوته څه مشکل وښایې چه دهغه اختیارولوسره دده په عذاب کښکمی راشی بینواتوجروا ؟

جواب :بې شکه دی ایتونو کښدی کارسخت ګناه اوموجب دسختی سزاګرځیدل منصوص دی خونوررونوصوصـو کښتولو مؤمنانودپاره اپـه دی کښـه اطـلاق دالفـاظوتول ګنهګـاران اومستحقین دوعیدهم داخل دی اددعـادمغفرت ترغیب هم اکوم چه عقلا اوسمعامستلزم دی ددوی دفائدی دپاره راغلی دی کماقی قوله تعالیٰ .والذین جاؤامن بعدهم یقولون ربنااغفرلنا ولاخواننا الذین سبقونابالایمان الایة .اوحدیثونه معتضده باجماع هذه الامة فی هذالباب شامله الدعاوسائراعمال الثواب، خواحصارممکن نه دی بهرحال څرنګه چه تولو مسلمانانو مړو لره دایصال ثواب طریقه لکه دعااواستغفار .لااله الاالله اوتسبیح اوصدقی اوخیراتونه .نفلونه اوتلاوتونه وغیره دعذاب سپکیدوبلکه دعذاب په اوچتیدوکښنافع ګرځی دغه شان قاتل دنفس دپاره هم اودی تولو کښزیات نـافع بغیردځه قسم داختـلاف نـه دوه عملـه دی یـوه دعادمغفرت بله صدقه مالیه والله اعلم اوکه چرته دی سره په خپله ددی ګنهګارتوبه هم یوځای شوی وی ابرابره خبره ده که زړه کښپښیمانتیاوی کنوم چه حقیقت دی .دتوبی په الفاظوظاهریدل شرط نه دی دکوم چه مسلمان نه غالب احتمال دی اوداسی واقعی دیری اوریدی شوی هم دی انوبیاخودعفواومغفرت امیدنورهم قوی کیږی داخودسوال اوجواب شواوس تبرعادومره نورهم لیکم چه که چرته دسوال دویم ایت نه په دی باب کښچاته یوخاص

علمی شبه وی نوزما په تفسیربیان القران کښ دی ایت پوره تفسیرسره دحاشیواوفائدو اوګوری. والله اعلم ۷صفرس۵۵ھ االنورص۲۵ذی قعده س۱۳۵۵ھا

رساله الجعل المعمی علیٰ حل المعمّیٰ

سوال :(۴۴۹)اخبارونواورسالوکښ هاته کښ معمی امبهم خیزاحل طلب شائع کیږی دهغی لاندینی مختلف صورتونه دی االف|کوم کس چه ددی معمی حل راولیږی که چرته یوحل هم صحیح وی نودی یوته اوکه ګڼ صحیح شول نودقرعه اندازی په ذریعه به یوته فلانی انعام ورکولی شی اب|ادی معمی صحیح حل لیکونکښته به دومره انعام ورکولی شی اوګنوصحیح لیکونکوکښ برابرپه برابرتقسیمولی شی موجوده رقمونه دانعام دفلانی بینک یادفلانی سری په تحویل کښ ورکړی شوی دی خوهری معمی حل شده سره دداخلی فیس مثلا یوه روپی راتلل پکاردی اج|معمی حل کونکوکښ اکه چرته هغه حل صحیح راوزی انویوغلطی هم نه کونکښته د ومره اویوه غلطی کونکښته دومره وغیره وغیره رقم به په طورد انعام ورکولی شی اوهره درجه کښ به ګنوکسانوته به برابرددی درجی انعام تقسیمولی شی خوهرحل سره دومره رقم مثلاً ۸ انه اچه دابه دداخلی دفیس نه تعبیرکولی شی اراتلل ضروری دی که چرته فیس د داخلی کم جمع شونودرقمونه دانعام به کم اوکه چرته زیات جمع شول نورقمونه دانعام به زیاتولی شی

تشریح:[۱]صورت [الف]او[ب] او[ج]کښ افرق دی چه رومبی کښ خه رقم دحل سره نه طلب کیږی اودی وروستنودواړوکښ رقم طلب کولی شی بیاپه [ب]او[ج]کښ افرق دی چه په [ب]کښ طلب دحل موجوده رقمونه دانعامونو رومبی جدا جمع کوی اودداخلی دفیس کمی زیاتی سره دی موجوده رقمونوباندی هیڅ اثرنشته اوپه [ج]کښ اسی نه دی بلکه دفیس زیاتی کمی په رقم موجوده باندی اثراندازه کیږی اورومبی ته جدا جمع شوی هم نه دی یعنی معمه شائع کونکښ فیس داخله جمع شده نه چه خومره غواړی کیږدی به اوخومره چه غواړی تقسیموی به په دی وجه رقمونه دانعام چه کوم مشهورولی شی هغه صرف جذب نظردپاره دی

تشریح:[۲][ب]او[ج]کښ نومونه دحل کننده دفیس دداخلی نه واپس کول مشترك دی

تشریح:[۳]بعض معمی مختلفوشکلونوکښ یوشان طریقی باندی قطعی صحیح کیدی شی اوکولی هم شی خومعمی شائع کونکښ چه دصحت کوم شکل متعین کړی وی خوپوری چه دهغه مطابق نه وی حل شوی قابل د انعام به نه وی دغه شان ډیرواقعی صحیح حل

کونکښ انعام نه محرومیږي اوفیس داخله هم ضبط مثلا نهه خانوکښ پنځلسو عدد دوکولومعمه شائع شویده اوشائع کونکښ هغه حل طلب کړی دی

داشکل

٨	١	٦
٣	٥	٧
٧	٩	٢

متعین کریدی

٦	١	٨
٧	٥	٣
٢	٩	٤

و

٢	٩	٤
٧	٥	٣
٦	١	٨

٤	٩	٢
٣	٥	٧
٨	١	٦

،

٢	٧	٦
٩	٥	١
٤	٣	٨

،

٤	٣	٨
٩	٥	١
٢	٧	٦

،

٦	٧	٢
١	٥	٩
٨	٣	٤

،

٨	٣	٤
١	٥	٩
٦	٧	٢

اوس ناکام به شی اوداقیصه الف ،ب،اوج دری واړوصورتونوکښ کیږی.

تشریح:[۴]په صورت دجیم کښ موماد حدنه زیات اسان معمه پیش کولی شی ددی نه صفاظاهریږی چه دمعمی دمقصودحل و کړی په ذهنونوکښ ترقی مددګارجوړیدل نشته بلکه صرف روپی ولګوی اویوقسم نفع حاصلول دی اوالف ،ب کښ اکثرډیری سختی معمی وی سوال دادی چه دی صورتونوکښ کوم یوصورت جائزاوکوم ناجائزدی اوکوم یوحل کول اودانعام حاصلولوکوشش کول په جواری کښ داخل دی اوپه کوم کښ جواری نشته یاشرعادی کښ نوری خه خه پلیتی اوقبائح دی.

جواب :ب اوج کښ چونکه دداخلی دفیس نه واپس کول محض حرام دی په دی وجه ددی په ناجائزکیدوکښ خه شبه نشته .دامحذورخودطالبان حل طرفته راګرځی بیاحل کونکښته چه خه ملاویږی که چرته دیته دفیس عوض اووایې نودجواری اودسودمرکب کیدوپه وجه حرام دی اوکه چرته دهغی عوض ورته ونه وایې بلکه دمشقت عوض ورته ووایې نوغالبالکه یقیناهغه هم ددغه فیس دذخیری نه ورکولی شی په دی وجه حرام دی چه دمال مغصوب نه یې اخلی اودرومبی جواب په دی موقوف دی چه هغه دانعام رقم دکوم ځایه راغی. االنورص ۸ ربیع الثانی س۵۲ھا

رساله النهرللمؤمن بالدهر

استفتاء: څه فرمایې عالمان ددین اومفتیان دشرع مبین دی مسئله کښ چه ایاهم دغه الله ﷻ دهردی یعنی الله ﷻ اودهریوواحدذات دی یانه بل داچه الله ﷻ ته دهروئیل

الحاد، کفر او شرک او زندیقی ده یانه .[١] او حال دا دی چه دهر صرف د نظام شمسی نوم دی څنګه چه راغب اصفهانی لیکي.

هل الدهر الا لیلة ونهارها **** والاطلوع الشمس غيارها

او داهغه دهر نظام شمسی دی لکه څنګه چه مخکښې قران د نازلیدو نه تولو لمر پرستو هر خای خپل الله معبود قدیم، قادر منلو او دوی ته به یې دهری هم وئیل اپه قول دیو کس دهری وکړلو د دهر ته ستاتعبیر[٢] خو قران مجید کښې دهر ته [اله، معبود، قدیم، قادر] د منو نکړ تردید کوی او هغوی ته کافر او مجرمان وایې او ددوی نه یې مومنان جدا کړ خولی دی څکه چه دهر [نظام شمسی] مخلوق دی حادث او خالق اله قدیم قادر نه دی لهذا الله ﷻ د داسی شرک فی الذات نه قطعا ویزاره دی او په دی وجه کلام الهیٰ کښې دعامو مسلمانانو لره په تاکید سره خبردار کړیدی چه دهر ته اله قدیم او قادر منو نکي باطل ګمراه کونکي مجوسی تعلیم هر ګز هر ګز نه دی قبلول پکار او خالص اسلامی شریعت باندی قائم او سیدل پکار دی [٣] سورة جاثیه. ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ مِّنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨﴾ إِنَّهُمْ لَن يُغْنُوا عَنكَ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا ۚ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۖ وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِينَ ﴿١٩﴾ هَٰذَا بَصَائِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿٢٠﴾ أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَن نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ ۚ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٢١﴾ وَخَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ وَلِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٢﴾ [٤] أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِ وَقَلْبِهِ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِ غِشَاوَةً فَمَن يَهْدِيهِ مِن بَعْدِ اللَّهِ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٣﴾ [٥] وَقَالُوا مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَا إِلَّا الدَّهْرُ ۚ وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٢٤﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ إِلَّا أَن قَالُوا ائْتُوا بِآبَائِنَا إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٥﴾ [٦] قُلِ اللَّهُ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾ وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ

وَالْأَرْضِ ۚ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَخْسَرُ الْمُبْطِلُونَ ﴿٢٧﴾ وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً ۚ كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَىٰ إِلَىٰ كِتَابِهَا الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾ هَٰذَا كِتَابُنَا يَنطِقُ عَلَيْكُم بِالْحَقِّ ۚ إِنَّا كُنَّا نَسْتَنسِخُ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٩﴾ [٧] فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِي رَحْمَتِهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِينُ ﴿٣٠﴾ [٨] وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا أَفَلَمْ تَكُنْ آيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَاسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنتُمْ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴿٣١﴾ [٩] د کلام الهی په روسره یو مخلوق او خالق جل شانه یو ذات ګرځول قطعا مستلزم د کفر دی لهذا دهر [نظام شمسی] هم دغه یو مخلوق ته بالذات خالق اکبر و یونکو مؤمنو ته لیکونکو په کفر باندی بنص صریح لاندی ایتونه د قران مجید دلالت کوی بله څه وجه مانع پاتی نه شوه فان الله هو الدهر و یونکو ته کافر نه شی وئیلی المائده ۞ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ، المائده ۞ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ، لهذا (. لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الدَّهْرُ، [١٠] دهر [نظام شمسی] چونکه مخلوق دی خالق نه دی حادث او فانی دی قدیم نه دی اله نه دی قادر نه دی. دی وجوهاتو باندی دهر ته منجمله اسماء باری تعالی چرته هم نه دی شمیر شوی او نه د شرع د اسلام نه داسی الحادی او شرک او کفر جائز دی چه الله ﷻ ذات پاک او دهر [نظام شمسی] مخلوق لره یو واحد ذات ومنی [١١] سوره اعراف کښې داسی کسانو ته ملحد وئیلی شویدی کوم چه تلبیساً غیر اسماء الحسنی نومونو سره الله ﷻ نوموی او د شیطانانو مجوسیانو تابعداری کوی [١٢] سوره الاعراف، وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِي آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ ﴿١٧٥﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ ۚ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَث ۚ ذَّٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۚ فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٧٦﴾ سَاءَ مَثَلًا الْقَوْمُ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَأَنفُسَهُمْ كَانُوا يَظْلِمُونَ ﴿١٧٧﴾ مَن يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِي ۖ وَمَن يُضْلِلْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿١٧٨﴾ وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ ۖ لَهُمْ

قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَا ۚ أُولَٰئِكَ
كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ (۱۳) وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا ۖ
وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ ۚ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (۱۴) بس څه فرمايي
عالمان ددين دداسی دهری باره کښکوم چه فان الله هوالدهروئيلی اووايي چه خالق اکبرجل شانه اودهغه ادنی مخلوق دهرانظام شمسی الره قطعاًهم دغه يوذات گرځوی اودی تلبيس سره دهرامجوسی معبودا [الٰه] انظام شمسی الره [الٰه قديم] پخلاکول غواړی. اوغواړی چه سيده ساده مسلمانانولره دغه شان ملحد کافر، مشرك، فاسق، زنديق، افتاب پرست، عبدالشمس دهريه جوړکړی اودعقيده توحيدنه ئي واړوی اودد دهريت اختلاط سره حقيقی اسلام لره پټ کړی [۱۵] اوس ددی تپوس کوو چه دوی هم دغه دهرلره خپل الٰه گنی داسی سړی په شرع کښ دهريه، ملحد، کافر، مشرك، فاسق، زنديق، مجوسی دی يانه. اودداسی قول فعل شهادت اوعدالت باندی شرعاً اعتمادصحت اودلالت جائز دی يانه ؟فقط والسلام داعی الله ﷺ ابراهيم حنيف ازلاهورپسی اخباراسټريټ دفتر آل محمد-

جواب: ومنه الصدق والصواب رومبی ددهريه معنی ځان پوهه کړی بيابه جواب کړم ففی مجمع البحار عن النهاية وهو (ای الدهر) اسم للزمان الطويل ومدة الحيٰوة الدنيا فنهواعن سبه ای لاتسبوا فاعلها (ای النوازل) فانكم اذاسببتموه وقع السب على الله تعالیٰ لانه الفعال ای جالب الحوادث لاغيره فوضع الدهر موضع الجلب لاشتهار الدهر عندهم به روی فان الله هوالدهر ای جالب الحوادث لاغيرالجالب ردالاعتقادهم ان جالبها هوالدهر وعن الكرمانی وروی الدهر بالنصب ای باق فيه وعن الطيبی وقيل هوظرف اقلب وتعاقب بانه لافائدة للظرفية فالرفع ولايمعنی انا المتصرف المدبروالفاعل مايضاف الی الدهروعن شرح جامع الاصول والكسر الخطابی الرفع بانه يقتضی كون الدهرمن اسمائه الحسنیٰ بل معناه الظرفيه ای اقلب الليل والنهار طول الزمان اه مخلصاوفی مفردات الراغب الدهرفی الاصل اسم المدة العالم من مبدا وجوده الیٰ انقضائه ثم يعبربه عن كل مدة كثيرة وهوخلاف الزمان وان الزمان يقع على المدة القليلة والكثيرة وقوله ﷺ لاتسبوا الدهر فان الله هوالدهر فقدقيل معناه ان الله فاعلی مايضاف الی دهر

ته په بیکاری او ذلت سوال باندی ترجیح ورکړی اودنیکو اعمالو اختیارولو خپله هم کوشش کوی او نورو ته هم تاکید ورکوی .ا۲ا حیاة المسلمین تبلیغ دین ،تعلیم دین ،محاسن الاسلام بهشتی زیور سره په مطالع کښلری او وخت په وخت ددی مضامینو خپلو دوستانو ملاویدونکو او ټولو بندیګانو دخدای ﷻ ته ورسوی .ا۷ا کوم عالمان چه په څه دین خدمت کې مشغول وی لکه درس او تدریس ،تصنیف او تالیف وغیره کې په خپل نشست او برخاست کې او دملاقات په وختونو کې بندګان خدای ﷻ ته په احکامو الهیو رسولو کې سستی نه کوی او په وزګارو وختونو کښلکه څنګه چه دجمعی چوټی ده یاداوی دی چوټی وخت دی دوعظ او نصیحت په ذریعه دخدای ﷻ بندیګانو ته احکام د اسلام رسول خپله فریضه وګنی زه خپل خالص تعلق لرونکو ته په خاص طور باندی بیا بیا تاکید کوم چه ددی برنو امورو پابندی کوی په دی کې هرګز کمی مه کوی او ټولو مسلمانانو ته هم دغه درخواست کوم چه دا دستور العمل دخپل ځان دپاره وګنی او هرسړی دی ددین الهی خدمت دپاره اماده او تیار شی ماته دالله ﷻ په بروسه باندی یقین دی چه که چرته ټول مسلمانان دغه شان په کارکې ولګی نو دټولو مصیبتونو او پریشانو کوم چه دا وخت دمسلمانانو په وړاندی دی دیر زر به ختم شی او دالله ﷻ امداد به ورسره شی او دا دستور العمل دځوور څو دپاره نه دی بلکه همیشه دپاره قائم او جاری وساتی او س دامضمون په دی دعا باندی ختموو ،ربنا اغفرلنا ذنوبنا واسرافنا فی امرنا وثبت اقدامنا وانصرنا علی القوم الکافرین – اشرف علی عفی عنه مقام تهانه بهون ا ۲۳ ا ذی الحجه : ۱۳۵۲ ه / مطابق ۲۴ فروری / ۱۹۲۸ م / النور ص ۲۳ ، ذیقعده ۱۳۵۲ ه ا

دعیسی ؑ په ژوندبانډی دشبې جواب

سوال: (۶۵۷) عالمان دحضرت عیسی ؑ په ژوندباندی ایت: فلما توفیتنی کنت انت الرقیب علیهم ، پیش کوی او دعیسی ؑ ژوند ثابتوی چه په اسمان کښژوندی دی څنګه چه مفسرینو هم لیکلی دی چه دتوفی رفع الی السماء ده او س مرزایې اعتراض کوی چه که چرته عیسی ؑ ژوندی وی او قیامت ته نژدی راکوزشی او دخپل امت دتثلیث پرستی اچه الله دری دی امعاذالله نه خبرشی نو دقیامت په ورځ به څرنګه خپله لاعلمی او بی خبری ښکاره کوی .دی سره خو دحضرت عیسی ؑ کذب لازمی راځی .دهدایت بخشا مرزایې په جواب کښدی عاجز ته خبرور کړی فقط ؟

جواب: صحیح تفسیر معلومیدونه وروستو که چرته څه سوال پاتې شو نو ولیکه هغه تفسیر دادی چه زه ددوی په حالت خبرداروم څو پورې چه زه دوی کښې موجود ووم ابس دغه وخته پورې حال خوماکتلی وو دهغې باره کښې بیان کولی شم ابیا هر کله چه زه تا اوچت کړم ایعنی رومبی خل کښې خو اسمان طرف ته او په دویم خل کښې د وفات په طور باندې . ومن ههنا لم یقل رفعتنی ولاامتنی والتوفی عام لهما کمافی قوله تعالیٰ یتوفی الانفس حین موتها والتی لم تمت فی منامها ،نو دغه وخت صرف ته په احوالو خبروئ الخ. وقد تقرر فی محله ان عدم دلیل لایستلزم عدم المدعا خصوصاً مع وجود دلیل ، ۸ محرم / ۱۳۵۲ھ / النورص ۹ / ربیع الثانی / ۵۷ھ (ایضا)

سوال: (۶۵۷) عرض دادی چه مرزایي قادیانانو لاندینی سوالونه کړی دی ددی جوابونه ولیکي (۱) هر کله چه حضرت عیسیٰ ﷺ اکوم چه داهل سنت والجماعت دعقیدې په ورسره ژوندی جسم عنصری سره اسمان ته وچت کړی شوی وو ادقیامت نه مخکښې دجال ملعون دقتل دپاره راشي نو دویم راتلو کښې هغه دالله ﷺ نبی وی یا صرف امتی به وی .(۲) که چرته صرف امتی وی نه چه نبی نو دده نه به نبوت ولې اخستی شی . دده څه قصور دی ؟(۳) که چرته نازل شو او دغه وخت هم نبی الله ﷺ وی نو ایا دده نبی کیدل به دایت قرانی خاتم النبیین او حدیث نبوی اناخاتم النبیین لانبی بعدی خلاف نه وی (۴) صحیح مسلم شریف دویم جلد ص ۴۰۰ او ۴۰۱ او مشکوٰة شریف باب العلامات بین یدي الساعة وذکرالدجال رومبی فصل کښې راځی (اذاولی الله الی عیسی) ایا د حضرت نبی کریم ﷺ نه پس ولی او نبوت شته .ایا حضرت عیسیٰ ﷺ ته روحی الهی کیدل دایت خاتم النبیین او حدیث لانبی بعدی خلاف نه دی .؟(۵) سوره ال عمران دریمه سیپاره دیارلسمه رکوع کښې راځی اویعلمه الکتب والحکمة والتوراة والانجیل) معلومه شوه چه الله ﷺ دده ته تورات او انجیل خودلی دی دراکوزیدونه وروستو به هغه په انجیل شریف عمل کوی او که دقران شریف په شریعت به عمل کوی؟ (۶) ایا الله تعالیٰ دده ته په اسمان کښې قران مجید هم خودلی دی . یا به دراکوزیدونه وروستو چرته دیو مولوی صاحب نه قرآن مجید او سنت او حدیث زده کوی ــ ددی سوالونو جواب دقرآن مجید ایت مبارکه او احادیث نبویه ،اقوال صحابه او اقوال تابعین په رو سره اوفرمائي؟

جواب: دو رومبی دویم دریم څلورم حاصل یو سوال دی او دپنځم او شپږم حاصل یو سوال دی تول دوه سواله دی و رومبی سوال کښې په نبوت عیسوی باندې اشکال کړی شویدی او دویم

سوال کښې دعیسیٰ ﷺ په قران او حدیث باندې په عمل کولو اشکال کړی شویدی ــ او اشکال دعوی ده ددی په جواب کښې منع کافی ده ددلیل حاجت نشته ــ بس سائل مدعی دی او مدعی مطالب بالدلیل وی او مجیب مانع دی او مانع مطالب بالدلیل نه وی. بس دسوال په آخر کښې چه کوم دقران او حدیث واقوال او تابعین سره ددلیل مطالبه شویده بالکل بی اصوله ده ، دکوم سری په ذهن کښې داکلیه نه وی راغلی هغوی دی دمناظری ماهرینو نه زده کړی، اوس جواب عرض کوم . دو رومبی اشکال جواب دادی چه حضرت عیسیٰ ﷺ به په وخت دراکوزیدو کښې نبی وی او دده ولې به وحی دنبوت وی خو دشریعت محمدی متبع به وی او دده نبوت دختم نبوت منافی ځکه نه دی چه ختم نبوت سدباب عطائی لاحقه دی نه داچه سدباب دبقائی نبوت سابقه مع اتباع خاتم نبوت ــ او ددویم اشکال جواب دادی چه عیسیٰ ﷺ به چونکه دشریعت محمدیه ﷺ تابع وی په دی وجه ددعمل به په قرآن او حدیث وی. او ددی ضرورت نشته چه دده به آسمان لوستی وی یا دراکوزیدونه وروستو به دیو استاد نه لولی موهوب طریقی سره به دده ته دقران او حدیث علم ورکړی شوی وی لکه څنګه چه بعض اولیاء هم دی طریقې باندې علم ورکړی شویدی دی تقریر سره تولو سوالونو جواب وشو. اشرف علی ۲ رمضان / ۱۳۵۲ھ / النورص ۱۰ / رمضان المبارک / ۱۳۵۷ھ ا

رجوع موتی باندې دشبې جواب

سوال: (۶۵۸) عرض دادی چه مرزاغلام احمد قادیانی او دهغه مریدانو په عدم رجوع موتی فی الدنیا باندې دسورة الانبیاء اولسمی سیپاری اوومی رکوع ایت [وحرام علیٰ قریة اهلکنها انهم لایرجعون] او دمشکوٰة جامع المناقب دفصل ثانی حدیث عن جابر ﷺ قال لقینی رسول الله ﷺ فقال یاجابر مالی اراك منکسراقلت استشهدابی وترك عیالا ودیناً قال افلایسرك بمالقی الله به اباك قلت بلیٰ یارسول الله ،قال ماکلمه الله احداقط الامن وراء حجاب واحیٰ اباك فکلمه کرحاقال یاعبدی تمن علی اعطك قال یارب تحیینی فاقتل فیك ثانیة قال الرب تبارك وتعالیٰ انه قدسبق منی انهم لایرجعون فنزلت ولاتحسبن الذین قتلوا فی سبیل الله امواتا الأیت « رواه الترمذی» پیش کړیدی او دقران مجید آیت مبارکه (په کوم کښې چه دمړو د ژوندی کیدو ذکر دی) نه مراد دبې هوشی نه په هوش کښې راتلل بل کشف وغیره اخستی دی. او دحضرت عیسیٰ ﷺ بن مریم دمعجزو (واحیی الموتی باذن الله) دامعنی کوی

چه کافرانولره مسلمانان اومؤمن کول- براه مهربانی ددی ایت امبارك اودحدیث شریف صحیح مطلب ولیکی؟

جواب: وړومبی څوضروری مقدمات لیکم- بیابه دایت باره کښې عرض کوم.وړمبی مقدمه: دیونص په تفسیر کښې ضرورت دی، دهغی سیاق اوسباق کښې دنظرکولو اودسیاق اوسباق نه خلاف صرف یودووخایونونه استدلال کول صحیح نه دی، دویمه مقدمه: دتعارض په وخت به عبارة النص په اشارة النص مقدم گنړلی شی، دریمه مقدمه: دخاص په انتفاء سره دعام انتفاء لازم نه راځی - څلورمه مقدمه: اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال: پنځمه مقدمه مستدل مدعی وی ده ته احتمال مضردی اومانع طالب ددلیل وی ده ته احتمال مفیددی- اوس ددی ایت صحیح مطلب په سیاق اوسباق کښې نظرکولوسره بیانوم قال تعالیٰ ان هذه امتکم امة واحدة واناربکم فاعبدون،دبیان القران نه تفسیر: ای خلقوبره چه کومه طریقه دانبیاء عليهم السلام دتوحید معلومه شوه الی قوله دغه وخت به منکرین درجوع هم درجوع قائل شی (ج۷ ص۵۸، کرخه ته ۱۷) دی تقریرنه معلومه شوه چه په ایت کښې دمطلق رجوع نفی نه ده بلکه رجوع خاص للحساب والکتاب نفی ده لکه څنګه چه سیاق اوسباق نه معلومه شوه بس دی سره دمطلق رجوع په نفی باندی استدلال نه شی کیدی- للمقدمة الثالثة اوصرف دمینځ نه یوه حصه اخستوسره استدلال کول صحیح نه دی للمقدمة الاولیٰ اوکه چرته بالفرض ددی خاص دلالت اومنی هم نودابه داشارة النص مدلول وی- اومدلول مذکوره کوم چه دسیاق اوسباق نه مسوق له الکلام دی دعبارة النص مدلول دی- اودابه اشارة النص مقدم دی- للمقدمة الثالثة اوکه بالفرض تقدیم نه هم نه وی نودواړه مدلول به محتمل شی- اوداحتمال به موجودګی استدلال نه شی کیدی للمقدمة الرابعة: اودااحتمال مونږته مضرنه دی څکه چه مونږ مستدل نه یوبلکه مانع یو، للمقدمة الخامسة: اودا ایت که چرته دی مدعاکښې قطعی الدلالت وی نوآیاجمهورقائلین درجوع المسیح دتکفیر التزام کولی شی -- کوم چه ایت خیردی بیاهم ددغه رجوع قائل دی- باقی حدیث بس هغی کښې دعادت نفی ده یعنی خاص دوقوع معتاداومستمرنفی ده - نه دمطلق وقوع- بس دخرق عادت په طورباندی په یوماده کښې ددی واقع کیدل ددی معارض نه دی لکه ان حزب الله هم الغالبون کښې ددی اشکال مشهوریو جواب داهم ورکړی شویدی چه مقصود ددی نه دعادت بیان کول دی اه- یاکه څنګه چه دیهودومغلوبیت یوم القیامه پوری ارشادفرمائیلی شویدی- اوپه مینځ کښې به

څلوبیښت ورځی ددجال غلبه وی کوم چه یهوددی دی داهم په عادة اکثریه باندی محمول کړی شویدی یعنی مغلوبیت ته به عادت غالبه اوغالبیت ته عارض وئیلی شی اوپه ایت کښې چه کوم داحیاء تاویل دی مونږ ته څکه مضرنه دی چه مونږپه امکان رجوع باندی ددی نه استدلال نه کوو،بلکه امکان کښې عقلی سره خاص دمستقل دلیل نقلی نه اثبات کوو،کماهومبسوط فی کلام العلماء رداعلیٰ اهل الهواء ،والله اعلم- اشرف علی، ۱۷صفر ۱۳۵۲ھ/ النور/ ۹ربیع الثانی/ ۱۳۵۷ھ

دعیسیٰ عليه السلام اوادریس عليه السلام ژوند

سوال: (۶۵۹)دلاندینیی مسئلی تحقیق کول غواړو (۱) شپاړلسمه پاره سورة مریم کښې الله تعالیٰ دادریس عليه السلام باره کښې فرمائیلی دی، ورفعناه مکاناعلیا،،(۲) عرض دادی چه دحضرت عیسیٰ بن مریم عليه السلام په باره کښې په سورة النساء شپږمه دویمه رکوع الله فرمائیلی دی،بل رفعه الله الیه وکان الله عزیزاحکیما،، (۳) عرض دادی چه آیاادریس عليه السلام هم حضرت مسیح بن مریم عليه السلام په شان ژوندی خپل جسد عنصرسره آسمان ته اوچت کړی شویدی (۴) الفاظ ورفعناه مکاناه علیاً،، معنی خلق (یعنی مرازیښې فرقی خلق) داکوی چه الله تعالیٰ دهغه درجی اوچتی کړی هغه ژوندی اسمان نه دی اوچت کړی شوی آیادامعنی صحیح ده (۵) یعنی خلق دالفاظو ورفعناه مکاناعلیاً دامعنی کوی چه الله تعالیٰ هغه ته وفات ورکړو آیادامعنی صحیح ده- (۶) که چرته حضرت ادریس عليه السلام خپل جسدمبارك سره ژوندی اسمان ته اوچت کړی شوی وی نوآیا دحضرت عیسیٰ بن مریم عليه السلام په شان به هغه هم کله نازلیږی اودنازلیدونه وروستوبه وفات کیږی (۷) چرته په حدیث نبوی کښې یادیوصحابی یاتابعی په قول کښې دحضرت ادریس عليه السلام دنازلیدواوبیادوفات کیدوخبراغلی دی یانه (۸) آیاقران شریف یاصحیح حدیثونوکښې لفظ درفع جسمانی اوددرجاتوداوچتیدونه سیواچرته بله معنی (مثلاً خپل طبعی مرګ باندی مړکیدل) کښې هم استعمال شویدی- (۹) بعض وائی چه دحضرت ادریس عليه السلام نه مرادحضرت الیاس عليه السلام دی عليه السلام (۱۰) شیخ اکبرابن عربی په فتوحاتو کښې مکیه دریم جلدص ۲۴۱ دیرشم باب کښې چه داسراء دشپی ذکرکوی نودحضرت عیسیٰ عليه السلام په دویم اسمان کښې اودحضرت ادریس عليه السلام په څلورم اسمان کښې ژوندی موجودکیدل فرمائیلی دی آیااهل سنت مفسرینودحضر ادریس عليه السلام باره کښې داسی لیکلی دی-

جواب: دبعضو سوالونو خو اصل مبحث سره څه تعلق ښکاره نه شو- دهغې دجواب حاجت نشته- او دباقي سوالونو منشاء يوه مقدمه ده - دکوم چه څه دليل نشته- دهغې دفساد ظهور سره به دټولو جواب اوشي اوهغه مقدمه داده چه دحضرت عيسیٰ ﷺ په قيصه کي هم لفظ رفع راغليدی او دحضرت ادريس ﷺ په قصه کي هم بس دواړو مقامونو باندی يوه معنی کيدل ضروری دی که چرته رفع عيسوی ته حسي اووايي نو رفع ادريسي ته به هم حسي وايي - او که چرته رفع ادريسي ته رتبي اووايي نو رفع عيسوی ته به هم رتبي وايي دی مقدمه باندی ټول سوالونه مبنی دی اوس دا مقدمه خو په خپله فاسده ده ځکه چه لفظ رفع په شان نورو بې شميره الفاظو دخپل اشتراك معنوی په وجه ټولو اقسامو د رفع لره عام ده- اوس کوم مقام باندی کوم قسم ترجيح لره چه څه دليل حقيقي وی مراد کي به دهغې تعيين کولی شي او په کوم ځای چه د ترجيح څه دليل نه وی نو دواړو ته به محتمل وئيلی شي دغه وجه وه چه رفع السماء کي مشاهده مرجح ده رفع حسي لره - اورفعناه بعضهم فوق بعض درجات لفظ درجات مرجح دی اراده د رفع رتبي لره - او دغه شان به په ټولو مواردو د استعمال تعيين دمراد دلائلو ديني موافق وی- رفع عيسوی کي دليلونه مرجح دی رفع حسي لره - نو هلته به رفع حسي وی او هغه دليلونه دتفسير او حديث او کلام په کتابونو کي ذکر کړی شويدی او په ټولو کي اقویٰ او اسلم اجماع ده دی رفعی حسي باندی - که دا رفع پس دوفات نه بساعة قليلة وی او که بغير دوفات نه وی- بس دا اختلاف اصل مقصود لره مضر نه دی- او د کومو سلفو نه چه دوفات دعوی نقل شويده- دهغې محمل دغه دی- رفع حسي انکار هغوی هم نه کوی بس دی رفع باندی اجماع وشوه- په دی وجه ايت کي به دغه مراد وی- او په دی نفی کي علاوه دانکار دلائل عقليونه يو لوئ شنيع محذور عقلی لازم راځي- هغه دا چه دسورة ال عمران ايت ومکروا ومکرالله دکوم تفصيل چه ددی ايت اذقال الله يعيسی الخ کي ذکر شويده- په مثل دنص دی په ابطال د مکر ديهودو کي کوم چه دعيسیٰ دهلاکت تدبير جوړ کړی وه بس که چرته رفع او توخي لره په موت عرّفي مقرون بالدفن باندی محمول کړيشی نو دی سره د مکر يهودو ابطال څه شو- بلکه دهغوی د تدبير خو تائيد او تقويت اوشو- ځکه چه هغوی هلاکول غوختل وه الله په خپله هلاك کړو نو ديکي د دشمنانو هغه خذلان څه شو دهغوی خو دخوشحالي او دمقصود تکميل اوشو- او ددی شناعت عظمیٰ او قباحت کبری کيدل ظاهر دی- او ايت ومکروا ومکرالله دمعنی نه خالي گرځي- مومن خو مومن دی يو عقل

مند هم دا جائز نه شي گڼړلی په دی وجه دلته کي رفع حسي متيقين شوه - اوفي بيوت اذن الله ان ترفع کي دليل مرجح دی رفع يقيني څه دليل نشته په دی وجه هغه محتمل دی ددواړو- دغه وجه ده چه دسلفو دواړو طرفته اقوال شته- دی تقرير سره دمقام دټولو سوالونو جواب اوشو- کوم چه ادنیٰ سوچ سره په ټولو باندی منطبق کيديشی که چرته دچاپه تطبيق کي خفاوی نو دوباره تپوس وکړی- والله اعلم - کتبه اشرف علی ا اول رجب/ ۱۳۵۲ھ/ النورجمادی الثاني/ ۱۳۵۷ھ)

جولاوئيل جائزدی

سوال: (۶۶۰) څه فرمائي علماء دين اومفتيان شرع متين په دی مسئله کي چه ديو مؤمن لره مسلمان په شان کي دداسی الفاظو استعمالول کوم سره چه دهغه سپکاوی او تذليل راځي شرعاً جائز دی يانه، او داسی معامله کي مسلمانانو ته څه رنگه احتياط لازم دی، مثال په طور وگوری چه يو گڼړه مسلمانه کورنی چه په علمان نيکان مشائخ امدرسين وپرزيات موجود دی خو هغوی د پلارانو نيکونو پيشه داوه چه دکډی او جولاګانو کاريې کولو په دی وجه دپوره قبيلی نوم يې جولا ايښی دی او دالفظ جولا ټول دهندوستان او سيد ونکی که مسلمانان دی او که غير مسلم په عرف او حقيقت کي دومره معيوب او مذموم گڼړی چه مسلمانه کورنی خو پريږده که چرته ډم او چمیار (موچی) ته هم لفظ دجولا استعمال کړی نو ډير زيات خفه کړی او خپل خان دپاره يې ډير زيات دذلت او رسوائي سبب گڼړی په دی وجه چه بل څه لفظ ددی نه بدتر ديو خاندان دسپکاوی او ذلت دپاره مشهور نه دی نو اوس داسی صورت کي ددی خاندان باره کي دچا چه دمور او پلار دغه پيشه وه يا دهغوی نور هم ډير کسان پيشه کوی نو ددی پيشی په بنياد دداسی ذلت والا فقط جولا استعمال دڅه شرعی سزا حقدار دی يانه که چرته دی نو ده سره دمسلمانانو څه معاملی کول پکار دی، قران مجيد دحديث او دفقه په رو سره ددی حکم صادر کړی او ددی شر او فتنی په زمانه کي مونږ ته صحيح طريقه دعمل وښايي عندالله به ماجور له گرځي والسلام-

جواب: هر کله چه دمتکلم نيت صحيح وی نو داسی عرف جاهلانه اعتبا نشته ځکه چه نه دی وئيلی اگرچه عرف کي سپکاوی دپکار وئيلی شي کوم کافران چه مسلمانانو لره دمسلمان کيدو په وجه ذليل او حقير تردی چه پليت يې گڼړی نو ايا دهغوی په مجمع کي به مسلمان ته

مسلمان وئیل ناجائزوي ایاخوك دیندار یاعقل ددي قائل کیدیشي وهذا ظاهرای ظهور،
والله اعلم کتبه اشرف علی ۱۱ رجب/ ۱۳۵۲ھ/ النور ۱۸ جمادی الثانی/ ۱۳۵۷ھ)

عجالة كشف الحجاب عن مسئلة تعظيم بعض الانصاب

جهنډې ته عاجزي کول حرام دي

تمهید دسترکټ بورډ بلندښار نه دهغې ځای سیکرټري دطرفنه لاندیني سوال سره دوومطبوعه کاغذونه یوعنوان به ضروري هدایات ، دویم راشتري جنډا راغي کوم چه سره دجواب نه نقل کولې شي ،

سوال :(۴۶۱)کرم فرمائي بنده جناب مولوي مولانااشرف علی صاحب تهانوي تسلیم جلسه بورډ په تاریخ ۲۱ ستمبر ۱۹۲۷م کښې څومبرانودبورډ داتحریك پیش کړو چه ټولومدرسوکښې کومې چه دبورډ داهتمام دلاندې دي منسلکه زاري کول متعلق قومي ترنګا جهنډا روزانه دمدرسې په شروع کولوکښې به کولې شي په دې باندې ټولو مسلمانانو ممبرانودبورډ دااعتراض وکړو چه زمونږ مذهب ددې قسم اجازت هرګزنه ورکوي چه دالله نه علاوه دبل چاپه مخکښې عاجزي وکړې اوکه چرته بورډ په خپل کثرت رایې سره ددې زاري کول منظوروي نومسلمانان طلباء ددې نه مستثنیٰ اوساتي او اسلامي مکتبونه قطعي مستثنیٰ اوساتي په دې باندې بورډ په ذریعه فیصلې ۲۱۲ – ۱۰ ستمبر- ۱۹۳۸م دافیصله کړیده چه دې مسئله باندې دجناب نه رائې واخلي لهذا تاسوبراه کرم خپلې رائې سره دې مسئلې باندې مونږته زرخبرداري راکړئ چه ایادجهنډې مخکښې عاجزي اوزاري کول شریعت کښې جائزدي یانه موجب دمشکوري به وي نیازمند دستخط سکرټري دسترکټ بورډ بلندشهر،

ضروري هدایات

په باره دنصب کولودقومي جهنډې موافق دقراردادبورډ ۸۳ مورخه ۲۰ جولاي ۱۹۳۷م

(۱) خالص سپینه جوړه شوې قومي ترنګاجهنډا ۱۹ جولائي ۱۹۳۷ھ په ورځ دخالي په ټولو عمارتونوکښې چه دډسترکټ بورډ بلندښار دانتظام لاندې دي هلته یې نصب کړې – (۲) جهنډه به دعمارت په مناسب ځای نصب کولې شي – جهنډا به دډسترکټ بورډ دمشرد طرفنه ورکولې شي – اود کهمبې اودصحیح والي وغیره انتظام به هیډ یامنظم دعمارت په خپله

کوي (۳) دجهنډې دسلامي رسم به دورځې پوره لس بجې اداکولې شي دغه وخت به ټول ملازمین اوطلباء دبورډ موجودوي- کوم به باقاعده په قطارکښې اودریږي اودقومي جهنډې سندره بهٔ وایې (۴) درسم کامیاب جوړولودپاره مشرمدرس یامنتظم باندې لازم دي چه مقامي معززکسان اوبل ممبران دسکول دشرکت دکمیټۍ دشرکت حاصلولوکوشش وکړي اورسم سلامي که چرته کیدیشي نوچرته دبل خاص هستي په ذریعه یې ادکړي (۵) دټولې کارروائي اطلاع مشردډسترکټ بورډ ۲۹ جولائي ۱۹۳۷م باندې اولیږي (سکرټري دسترکټ بورډ بلندشهر)

جواب : عنایت فرمائي بنده بعدماوجب آنکه دبورډ دمسلمانانو اعتراض صحیح دي- واقعي اسلامي مذهب ددې اجازت نه ورکوي دضابطې جواب خواوشو- باقي ددې حکم دلیل صرف عالمانودپاره په بل کاغذباندې لیکلې شي فقط اشرف علی ازتهانه بهون ۱۷ شوال ۵۷ھ) تقریرددلیل کوم چه دویم کاغذباندې لیکلې شویدی-

دليل المسئلة

مقدمة اولیٰ ، قال الله تعالیٰ انما الخمر و الميسر والانصاب الیٰ قوله فاجتنبوه ، دانصاب په عموم کښې لغة هم اونقلاً هم المفسرین هم داسې نخې هم داخل دي. مقدمة ثانیه : دچادتعظیم دجوازدپاره شرط دادي چه هغه معظم دهغې مستحق وي- کمافي الدرالمختار – بل یندب القیام تعظیما للقادم ای ان کان ممن یستحق التعظیم- مقدمة الثالثه :دچامستحق دتعظیم کیدل موقوف دي په دلیل صحیح باندې اوددې جنډې په مستحق تعظیم کیدو باندې څه دلیل نشته- کماهوظاهر- مقدمة الرابعه : خصوصاً هرکله چه هغه اسلامي جهنډا هم نه وي اوکه چرته یورنګ نه اسلامي اووایې نوصرف دي اختراع سره دې لره اسلام طرفته منسوب کول خلاف دلیل دي څکه چه هرکله دیکښې یورنګ غیراسلامي هم دي نوچه دواړونه چه مرکب شي نوبیاخوغیراسلامي شوه لکه څنګه چه قاعده عقلیه هم ده چه داسلام اودغیراسلام مجموعه غیراسلام وي. اواُحکام نقلیه کښې هم ددې اعتبارکړې شویدی دنمونې په طوریوه جزئیه نقل کوم في الدرالمختار في احكام الذبائح وان عطف حرمت نحو باسم الله واسم فلان اوفلان (ای بدون تكرار لفظ اسم) لانه اهل به لغيرالله كذا في الهداية لان

الاهلال لله تعالیٰ لایکون الابذکر اسمه مجرداً لاشریك له – اه – اوګوره دی صورت کښې دالله نوم سره دبل چانوم اخستی شویدی خودی مجموعی ته یې غیرالله اووی او اهلال الله یې منحصر کړیدی دغیرپه نوم اخستوباندی دی سره ددی قاعدی صریح تائید اوشو. مقدمة خامسه: سوال سره چه کوم ترانه نقل شویده وړومبی خودیکښې ډیرالفاظ غیرمعلوم المعنی هم دی او داپه خپله مستقله مسئله ده چه دداسی الفاظوتکلم شرعاً جائزدی یانه او بعض الفاظ چه کوم معلوم المعنی دی هغه غیراسلامی اشعار دی – او دغیراسلامی اشعارو استعمال قولاوفعلاً لویه ګناه قریب په ضد داسلام دی. خلاصه دا شوه چه نه دداسی جهنډی تعظیم شرعاً جائزدی اونه داترانه وئیل جایزدی اونه په داسی جلسه کښې شریکیدل جائزدی. لقوله ﷺ من کثرسواد قوم فهو امنهم . پس مسلمانانو ته ددی بالکل جدا اوسیدل واجب دی اونوروسذهبونووالوته هم اهل اسلام ته داسی درخواست کول مناسب نه دی بلکه دوی لره مستثنیٰ لرل ضرور دی خصوصاً هرکله چه دقوم اتحادلره هم مدعی دی نو داامر دعوی دمحبت نه ډیرلری دی چه دهغوی مذهب نه خلاف دهغوی نه درخواست وکړی نوټ: احقرددی جواب په عنواناتوکښې لاتسبوا الذین یدعون من دون الله باندی نظرساتلی دی کنی دادسختو عنواناتو مستحق دی، (۱۷ شوال/ ۵۷هـ/ النور ص ۴/ شوال /۵۷هـ)

دامام اعظم رحمه الله والدی په نکاح باندی داشکال جواب

سوال :(۶۶۲) امابعد دحضرت اقدس په خدمت کښې داګزارش دی چه دحضرت په رساله الاقتصادفی بحث التقلید والاجتهاد په اخرکښې یومضمون دلالة عقل واهندا الخ دی په هغی کښې حضرت لیکلی دی (۱) دامام صاحب پلارثابت په خپل وړوکوالی کښې دحضرت علی رضی الله عنه په خدمت کښې حاضرشوی وه (۲) دامام صاحب دپلاردوفات نه وروستو دامام صاحب والدی صاحبی حضرت امام جعفرصادق سره نکاح وکړه – اوامام صاحب دحضرت جعفرپه تربیت کښې لوئې شویدی اسماء الرجال کښې صاحب مشکوٰة دامام جعفرصادق رحمه الله اودامام ابوحنیفه رحمه الله دپیدائش کال ۸۰ هجری لیکلی ده دواړه بزرګان په یوکال پیداشویدی امیددی چه حضورپه دی باندی صحیح جواب ورکړی؟

جواب : تادشبی تقریرنه دی لیکلی – کنی هغه لحاظ سره به څه لیکلی شوی وه زه دشبی داتقریر کوم – چه هرکله امام ابوحنیفه رحمه الله اوامام جعفر رحمه الله همزولی دی اودمورد خوی نه

لوې کیدل لازم دی نودامام صاحب والده به هم دحضرت جعفرصادق نه دومره مشره وی بیانکاح څه رنګه وکړی شوه که چرته داتقریرمراددی نودیکښې څه وجه داشکال ذهن ته نه راځی – آیادخپل ځان نه دلوی عمروالازنانه سره دنکاح عادت نشته – په خپله حضوراقدس ﷺ چه حضرت خدیجه رضی الله عنها سره نکاح کړی وه نوحضرت ﷺ عمرپنځه ویشت کاله وه اوحضرت خدیجه رضی الله عنها عمرڅلویښت کاله وه مشره وه – نودمنکوحی دناکح نه دومره مشره کیدل لکثرت شائع واقع شویدی البته دی صورت کښې په لفظ ګود (غیږ) باندی شبه کیدیشی – نوکوم ځای نه چه داروایت نقل کړی شویدی دهغی عبارت عربی دی اوپه هغی کښې لفظ دحجردی دهغی مشهورترجمی غیږ ده دنقل په وخت کښې ددواړوهم عمرکیدل زماذهن کښې نه وه په دی وجه می هغه ترجمه وکړه اوس به داسی اووایوچه دلته دحجرمعنی مجازی مرادده یعنی رعایت لکه څنګه چه دبزرګانونه درخواست کولی شی چه خپل رحمت په غیږ یې واخلی اوکه چرته دشبی تقریر څه بل څه دی نوواضحه ولیکئ ددی مجموعه مضمون دنقل په وخت چه کوم کتابونه زمامخی ته وه په هغی کښې بعض داوخت ملاؤنه شول کنی کیدیشی ددی نه څه زیات لیکلی شوی وی (النور ص ۱۰/ شوال ۵۷هـ)

جنت ادم

سوال :(۶۶۳) دسورت بقری په ایت مبارکه یا ادم اسکن انت وزوجك الجنة ، کښې چه دکوم جنت ذکر دی داپه اسمان کښې وه که دی زمکه باندی یوباغ وه اودآسمان جنت نه وه څکه چه وړومبی دلیل: الله فرمائیلی دی: واذقال ربك للملئکة انی جاعل فی الارض خلیفة ، الله تعالیٰ فرشتوته فرمائیلی وه چه زه به په زمکه خلیفه جوړوم. دویم دلیل: سورة النباء دیرشمه سپاره کښې جنت دپاره راغلی دی لایسمعون فیها لغوا ولاکذابا ،خوکوم جنت کښې چه حضرت ادم ﷺ وه هغه ته شیطان لاړو اوپه دروغه قسم یې اوخوړو اودروغ یې اووئیل – دریم دلیل: جنت ته چه کوم مومن داخل شی هغه دپاره به هلته همیشه همیشه اوسیدل وی- خالدین فیها ابدا،خوحضرت ادم ﷺ اوحوا ﷺ خودنه جنت نه ویستلی شوی وه هرکله چه هغوی دهغه ونی نه اوخوړه کوم نه چه الله منع فرمائیلی وه ؟

جواب : دی مبحث کښې دوه مقامه دی یومدعا یې حق باندی صحیح استدلال – دویم ددی دخلاف والودلیلونوابطال – دوړومبی مقام تقریردادی چه دآیات وارده فی الباب نه موافق

محاورات قرانیو متبادریقیناً اسمانی جنت دی او تبادر علامت ددی دحقیقتا وبغیر دتعذر دحقیقت نه مجازته تلل جائزنه دی اودتعذرنه څه دلیل نشته کماسیتضح من المقام الثانی ، بس خراه مخواه به په اسمانی جنت باندی محمول کولی شی داخو دلیل عقلی دی اودلیل نقلی جماع ده دصحابو او تابعینو دی معنی باندی - په دی وجه چانه هم ددی خلاف منقول نه دی اوداجماع خلاف باطل دی بس دزمکی جنت اخستل جائزنه شول ، اوداقول دمعتزلوٌ دی اوداجماع نه وروستو داهل حق قول هم مقبول نه دی - نه چه دمعتزلوٌ اهل باطلوٌ بس ددی دخلاف قائل کیدل اصول شرعیه سره ناجائزه شول اصل دلیل خوداوه کوم چه ذکرشو. اوس ددی دتعیین څه قرائن په خپله دقران مجیدنه ذکرکولی شی یو ایت کښ ارشاددی ، قلنااهبطوا بعضکم لبعض عدو والکم فی مستقر ، دیکښ صفادلالت دی چه هبوط دغیرارض نه طرفته اوشو. که چرته دادزمکی جنت وی نو ددی به څه معنیٰ وی دریم ایت کښ ارشاددی ، ان لك ان لاتجوع فیها ولاتعری وانك لاتظما فیهاولا تضحیٰ، ښکاره خبره ده چه دزمکی څه حصه داسی نشته چه هلته لوږه تنده وغیره نه لګی داخاصیت صرف آسمانی جنت کښ دی دریم ایت کښ ارشاددی، قال فاهبطمنهافمایکون لك ان تتکبرفیها، دی نه صفامعلومیږی چه دغه وخت ابلیس په اسمان کښ وه ځکه چه زمکه خو محل دمعصیت دی البته په اسمان کښ نافرمانی عجیبه ده بل داچه صحیح مسلم کښ محابه دادم ؑ اودموسیٰ ؑ ذکرده په معنی کښ دموسیٰ ؑ قول دی اسکنك فی جنته ثم اهبطت الناس بخطیئتك الی الارض ، دیکښ هم دروميي ايت په شان تقریردی اودی ایتونو او صحیح روایتونو کښ تاویلات کول تقریباً تقریباً تحریف دی په دی وجه عالمانو دکلام تصریح کریده ، النصوص تحمل علیٰ ظواهرها(یعنی مالم یضطرالیٰ ترکهاولااضطرارههناومن ادعاه فلیات بالبرهان، اوس ددویم مقام باره کښ عرض دی ،

جواب : وروميي دلیل جواب : خلافت فی الارض واسکان فی الجنة السماویه ، کښ هیڅ تنافی نشته - لکه دیو عهده داروطن په یو ځای کښ وی اودعهدی دپاره تقررچرته بل ځای کښ وی که چرته دحضرت ادم ؑ نه دونی خوراك صادرشوی نه وائښ نو عارضی طورباناد ی به یې په زمکه دخلافت خدمت په ځای راوړی وی او بیابه اسمانی جنت ته تلی وی لکه دحضرت جبریل ؑ داوسیدو ځای سدرة المنتهیٰ ده خو دوحی نزول وغیره دپاره زمکی ته به یې تشریف راوړو - بیابه خپل ځای ته تلو - ددویم دلیل جواب : مقصود دایت دجنتیانو نه

دلغو و کذب نفی ده یعنی جنتیان به ددی لغویاتو نه منزه وی که چرته یو غیرجنتی په زمانه غیرمتناهیه نه یو لمحی دپاره هلته داخل شی اودداسی ارتکاب وکړی او فوراً ویستلی شی نو دی حکم کښ مخل نه دی لکه قران مجید کښ جومات والو په مدح کښ ارشاددی فی بیوت اذن الله ان ترفع ویذکرفیهااسمه یسبح له فیهابالغدو والآصال رجال الخ، ددریم دلیل جواب: داهمیشه اوسیدل به هغه وخت وی چه کله داعمالو دبدلی دپاره مستقل طورباندی داخل کړیشی وصرح به قوله تعالیٰ فی سورة الاحقاف اولئك اصحاب الجنة خالدین فیها جزاء بما کانوا یعملون ، دادم ؑ اوسیدل نه جزاءً وه نه استقلالاً - دلیل ددی خپله په احادیثو کښ دی دمسلم په حدیث کښ دشهیدانو باره کښ راغلیدی- ارواحهم فی اجواف طیراخضر لهاقنادیل معلقه بالرش تسرح من الجنة حیث شاءت ثم تاوی الیٰ تلك القنادیل الحدیث، که چرته داقنادیل جنت نه بهردی بیا خو هره ورځ جنت ته داخلیدل او راوتل ثابتیږی - اوکه چرته بهرنه دی نو دقیامت په ورځ به شهیدان هم په میدان دحشرکښ حاضرولی شی کوم چه دجنت نه خارج دی البته بیادجزاء په طورچه کله مستقل داخل شی بیابه نه خارجیږی اودی سره ددی هم جواب وشو ، چه شیطان سره دی چرته ملاؤشو چه ده سره یې خبری اوقسمونه وکړل جواب دادی چه ممکن دی چه دغه وخت ده دجنت نه بهرڅه مصلحت دپاره تشریف راوړی وی -لکه یو عارف دعمده باغ نه دوارن ځای کتلو دپاره دی دپاره لاړشی چه دالله دنعمت قدرزیات شی اوشکرنور توفیق هم ملاؤشی ددی اصل په قران کښ موجوددی- فلینظر الانسان مم خلق خلق من ماء دافق کمااورده المعارف الرومی فی مثنوی او همدغه شان په بخاری کښ دنکرین دسوال نه وروستوراغلیدی- فیقال له انظرالی مقعدك من النارقدابدلك الله به مقعداً من الجنة فیراهماجمیعاالحدیث وفی حدیث ابن ماجة ابسط من هذا والاحادیث کلها فی المشکوٰة ، والله اعلم ضروری خبرداری - ددی جواب په اکثره حصه کښ ه ددی قاعدی داستحضار ضرورت دی کوم می چه ددی نه مخکښ په یو جواب کښ نقل کړیدی چه مانع طالب دلیل وی نه که مطالب بالدلیل - فقط [۱۵ شوال / ۱۳۵۲ هـ / النورص ۷/ ذی قعده / ۵۷هـ]

محاورات قرانیو متبادر یقیناً اسمانی جنت دی او تبادر علامت ددی دحقیقتا وبغیر دتعذر دحقیقت نه مجاز ته تلل جائزنه دی او تعذر نه څه دلیل نشته کماسیتضح من المقام الثانی ، بس خراه مخواه به په اسمانی جنت باندی محمول کولی شی داخو دلیل عقلی دی او دلیل نقلی جماع ده دصحابو او تابعینو دی معنی باندی - په دی وجه چانه هم ددی خلاف منقول نه دی او داجماع خلاف باطل دی بس دزمکی جنت اخستل جائزنه شول ، او داقول دمعتزلو دی او داجماع نه وروستو داهل حق قول هم مقبول نه دی - نه چه دمعتزلو اهل باطلو بس ددی دخلاف قائل کیدل اصول شرعیه سره ناجائزه شول اصل دلیل خو داوه کوم چه ذکرشو. اوس ددی دتعیین څه قرائن په خپله دقران مجیدنه ذکرکولی شی یو ایت کښ ارشاددی ، قلنااهبطوا بعضکم لبعض عدووالکم فی مستقر ، دیکښ صفادلالت دی چه هبوط دغیرارض نه طرفته اوشو ، که چرته دادزمکی جنت وی نو ددی به څه معنیٰ وی دریم ایت کښ ارشاددی ، ان لک ان لاتجوع فیها ولاتعری وانک لاتظما فیهاولا تضحیٰ ، ښکاره خبره ده چه دزمکی څه حصه داسی نشته چه هلته لوږه تنده وغیره نه لګی داخاصیت صرف آسمانی جنت کښ دی دریم ایت کښ ارشاددی ، قال فاهبطمنهافمایکون لک ان تتکبرفیها ، دی نه صفامعلومیږی چه دغه وخت ابلیس په اسمان کښ وه ځکه چه زمکه خو محل دمعصیت دی البته په اسمان کښ نافرمانی عجیبه ده بل داچه صحیح مسلم کښ محابه دادم عليه السلام اودموسی عليه السلام ذکرده په هغی کښ دموسی عليه السلام قول دی اسکنک فی جنته ثم اهبطت الناس بخطیئتک الی الارض ، دیکښ هم دورومبی ایت په شان تقریردی او دی ایتونو او صحیح روایتونو کښ تاویلات کول تقریباً تقریباً تحریف دی په دی وجه عالمانو دکلام تصریح کړیده ، النصوص تحمل علیٰ ظواهرها (یعنی مالم یضطرالیٰ ترکهاولااضطرارههناومن ادعاه فلیات بالبرهان ، اوس ددویم مقام باره کښ عرض دی ،

جواب : ورومبی دلیل جواب : خلافت فی الارض واسکان فی الجنة السماویه ، کښ هیڅ تنافی نشته - لکه دیو عهده دار وطن په یو ځای کښ وی او دعهدی دپاره تقرر چرته بل ځای کښ وی که چرته دحضرت ادم عليه السلام نه دونی خوراک صادرشوی نه وائی نو عارضی طور باناذی به یې په زمکه دخلافت خدمت په ځای راوړی وی او بیا به اسمانی جنت ته تلی وی لکه دحضرت جبریل عليه السلام داوسیدو ځای سدرة المنتهیٰ ده خو دوحی نزول وغیره دپاره زمکی ته به یې تشریف راوړو - بیا به خپل ځای ته تلو - ددویم دلیل جواب : مقصود دایت دجنتیانو نه

دلغو و کذب نفی ده یعنی جنتیان به ددی لغویاتو نه منزه وی که چرته یو غیر جنتی په زمانه غیر متناهیه نه یو لمحی دپاره هلته داخل شی او دداسی ارتکاب وکړی او فوراً ویستلی شی نو دی حکم کښ مخل نه دی لکه قران مجید کښ جومات والو په مدح کښ ارشاددی فی بیوت اذن الله ان ترفع ویذکرفیهااسمه یسبح له فیهابالغدووالاصال رجال الخ ، ددریم دلیل جواب : داهمیشه اوسیدل به هغه وخت وی چه کله داعمالو دبدلی دپاره مستقل طور باندی داخل کړیشی وصرح به قوله تعالیٰ فی سورة الاحقاف اولئک اصحاب الجنة خالدین فیها جزاء بماکانوایعملون ، دادم عليه السلام اوسیدل نه جزاءً وه نه استقلالاً - دلیل ددی خپله په احادیثو کښ دی دمسلم په حدیث کښ دشهیدانو باره کښ راغلیدی - ارواحهم فی اجواف طیراخضرلهاقنادیل معلقه بالرش تسرح من الجنة حیث شاءت ثم تاوی الیٰ تلک القنادیل الحدیث ، که چرته داقنادیل جنت نه بهر دی بیا خو هره ورځ جنت ته داخلیدل او راوتل ثابتیږی - او که چرته بهرنه دی نو دقیامت په ورځ به شهیدان هم په میدان دحشر کښ حاضرولی شی کوم چه دجنت نه خارج دی البته بیاد جزاء په طور چه کله مستقل داخل شی بیا به نه خارجیږی او دی سره ددی هم جواب وشو ، چه شیطان سره دی چرته ملاؤشو چه ده سره یې خبری او قسمونه وکړل جواب دادی چه ممکن دی چه دغه وخت ده دجنت نه بهر څه مصلحت دپاره تشریف راوړی وی - لکه یو عارف دعمده باغ نه دوارن ځای کتلو دپاره دی دپاره لاړشی چه دالله دنعمت قدرزیات شی او شکرنور توفیق هم ملاؤشی ددی اصل په قران کښ موجوددی - فلینظر الانسان مم خلق خلق من ماء دافق کمااورده المعارف الرومی فی مثنوی او همدغه شان په بخاری کښ دنکرین دسوال نه وروستو راغلیدی - فیقال له انظرالی مقعدک من النارقدابدلک الله به مقعداً من الجنة فیراهماجمیعاالحدیث وفی حدیث ابن ماجة ابسط من هذا والاحادیث کلها فی المشکوٰة ، والله اعلم ضروری خبرداری - ددی جواب په اکثره حصه کښ ه ددی قاعدی داستحضار ضرورت دی کوم می چه ددی نه مخکښ په یو جواب کښ نقل کړیدی چه مانع طالب دلیل وی نه که مطالب بالدلیل - فقط ۱۵ شوال / ۱۳۵۲ هـ / النور ص ۷/ ذی قعده / ۵۷ هـ]

الاختلاف للاعتراف [ای فی الانساب ۱۲ بمعنی شناختن ..... کذافی الصراح ۱۲]

دقوم دتبدیل حکم

سوال :(۴۶۴)بعد الحمد والصلوة : مانه دمختلف مسلمان قومونو باره کښې په کوم کښې چه بعض قومونه دنورو تنقیص وتحقیر کوی او بعض قومونه خپل ځان بغیر د دلیل نه نورو قومونو کښې داخلوی ، تپوس اوشو چه دادواړه کاره شرعی قاعدی سره څنګه دی ددی جواب عرض کوم چه دادواړه کاره شرعاً ښه نه دی وړومبی تفریط دی اودویمه افراط تفصیل ددی دادی چه نصوص شرعیه دی باره کښې ظاهراً دوه قسمه دی یو مثبت دمساوات اودتماثل بومثبت تفاوت اوتفاضل چه څوك په حدیثو پوهیږی هغوی ته معلومه ده اوظاهره خبره ده چه نصوصو کښې تعارض نه شی کیدی لهذا دواړو به جدا جدا عمل ګرځولی شی بس نصوص دمساوات خو احکام متعلقه داخرت په باره کښې دی یعنی داخرت نجات دپاره دایمان اوعمل صالح مدار کیدو کښې تول برابر دی دغه شان اسلامی حقونو کښې اوددینی کمال حاصلولو نه وروستو په تقدم کښې تول برابر دی مثلاً سلام، دانتوشی، جواب ورکول دبیمار تپوس کول اوجنازی ته په حاضریدو کښې چه دااسلامی حقونه دی یاتحصیل داوصافو دامامت داستحقاق نه وروستو یاتحصیل دعلوم دینیه وروستو یادتحصیل دکمالات باطنیه نه وروستو امام یا استاد یادشیخ جوړیدو په استحقاق کښې تول برابر دی په دی وجه دشرافت عرفیه دعوید ارهم تولو قومونو پسی نمونځ کوی دهغوی نه علوم حاصلوی دهغوی نه بیعت کوی- هغوی ته دخلافت په طورد بیعت اودتلقین دلاری اجازت ورکوی دغه وجه ده چه احقرپه خپله هم دداسی حضراتو شاګرددی- اوبعض زما دطرفنه مجاز دطریقت هم دی بس دنصوص مساوات خو دامحل دی اونصوص دتفاوت داحکام راجعه الی المصالح الدنیویه په باره کښې دی لکه شرف دنسب یاپه نکاح کښې کفاءت تردی چه کوم قومونه عرفاً په اعلی طبقه کښې مشهوردی په خپله هغوی کښې ددغه تفاوت ، ماخوذ من قوله تعالیٰ اجعلنکم شعوباً وقبائل لتعارفو- الاية- شرعاً اعتبار کړی شویدی په قریشو کښې دنبی هاشم شرف نسب په نورو قریشو باندی نص کښې راغلیدی - کفاءت کښې دقریشو شرف په غیر قریشو باندی اګرچه هغوی هم عربی وی دلائل شرعیه سره ثابت دی اوس په نصوصو کښې څه تعارض خونشته بس ددی تفاضل دامعنی نه ده — چه یو قوم دی خپل ځان لوی وګنړی اوبل دی سپك

وګنړی بلکه صرف په بعض احکامو کښې دکوم بیان چه بره ذکرشوه په دی تفاضل باندی دعمل اجازت دی بس کم خلق چه ځانته لویی اونوروا اعتقاداً یاً عملاً سپك ګنړی- یابغیر ددلیل شرعی نه په لویو قومونو کښې دځان دداخلولو کوشش کوی - داددواړو په افراط اوتفریط کښې اخته دی دوړومبی دلی تکبر خو بالکل ښکاره دی. چه نور خلق ښکاره بره سپك ګنړی خو ددویم دلی والاهم عند التامل دتکبر ارتکاب کوی ځکه چه دیو قوم نه اوو تل اوبغیر ددلیل شرعی نه یې په بل قوم کښې دداخلولو کوشش وکړو نو دکوم قوم نه چه ځان ویستل اوغوختل هغه یې سپك وګنړلو کنی دهغی نه دوتو کوشش به یې ولی کولو اوعلاوه دتکبر دنسب دبدلیدو دګناه ارتکاب هم کوی په کوم چه حدیث کښې سخت وعید راغلیدی بهرحال ددی احکامو دعلم نه وروستو دواړو ډلو باندی واجب دی چه دافراط اوتفریط نه توبه وکړی اداتباع دنصوصو دلاندی په حدود شرعیه کښې دننه اوسی اوخپله کښې دیو بل خیال ساتی اوکمالات دینیه حاصل کړی چه اصلی شرف هم دغه دی کنی نوراسباب وشرف به په اخرت کښې فائده نه ورکوی کوم چه دمسلمان اصل مقصود دی والله الموفق- اوداټول مضمون سره داجزاونه ایت ، یاایهاالناس ان خلقناکم من ذکروانثی (الی قوله) ان اکرمکم عندالله اتقکم ، کښې ذکرشویدی په احکامو داخرت کښې خو مساوات صراحةً (فی قوله تعالیٰ) ان اکرمکم عندالله اتقکم ، پس دتقویٰ په مدار داکرمیت کیدو کښې تول مساوی دی اواحکام دنیویه کښې تفاوت تقریباً په صراحت ، فی قوله تعالیٰ :وجعلناکم شعوباً وقبائل لتعارفوا ،تقریر ددلالت دادی چه اختلاف دشعوب اوقبائلو یې غایت تعارف اوتمائز اوفرمائیلو- اوښکاره خبره ده چه تعارف اوتمائز احکام دنیویه به نه دی- اوپه خپله مقصود بالذات نه دی لکه دحقوق خاصه اداکولو دپاره مقصود دی اوکوم حقوق چه په تعارف اوتمائز باندی متفرع کیږی هغه تول احکام متعلقه بالمصالح الدنیویه دی بس دی شان سره دادلالت حاصل شو- ولله الحمد علی ماعلمه وفهم وهدانا الی الطریق الامم- کتبه بقلم اشرف علی عفی عنه فی کانپور یوم الغد من انعقاد مومن کانفرس ۱۲۱ رجب ۱۳۵۷هـ النورص ۹ / ربیع الثانی / ۱۳۵۸هـ

اردوژبه ورسره تنقید دعالمانو بعد الحمد والصلوة: نن صبا زمونږ په ملك هندوستان کښې داردو ژبی مسئلی یوخاص اهمیت حاصل کړی دی، چونکه بفضله تعالیٰ کارکوونکښې دخپل فکررسیدو پوری په دیکښې حصه اخلی داکافی ګنړی دخپل ځان دپاره ددی دڅه خدمت

ضرورت ذهن کې نه راځی اتفاق سره نن په ۲۴ ذی الحجه ۵۷ھ باندی دیوخای نه چاپ شوی یوخط سره د اشتهارنه راغی دهغی نه معلومه شوه چه هلته دی دپاره یو کانفرانس منعقد کیدوو الادی په دی خط کې یې داهم لیکلی وه چه که چرته په څه وجه کانفرانس کې شرکت اونه شی نوڅه مشوره هم ورکړی او بمعناه- داخط او اشتهار چه می اولوستلونوزړه کې می یو حرکت پیداشو چه دی وخت کې څه قسم حصه واخلو چونکه دمتعارف خدمتونو نه صلاحیت شته نه قوت - اوغالباً یوخاص مذمت طرفته چه توجه هم نه ده کړی اوهغه خدمت دهغی تحقیق دی چه ددی تحریك شرعی حیثیت سره څه درجه ده اوددی ضرورت هم څکه محسوس شوچه داوخت دامسئله درواج اوقومیت نه هم مخکې لاړه اومذهبیت صورت یې اختیار کړیدی په دی وجه خیال شوچه دی باره کې یو مختصر تحریر ولیکلی شی اودفترته اولیږلی شی دی دپاره چه که چرته هغه حضرات غواړی نوعام یاخاص مجلس کې به یې پیش کړیشی اوکه غواړی نوشائع به یې هم کړیشی والله الهادی الی الصواب فی کل بـــاب — اشرف علی — الایات: قال الله تعالیٰ :الاولیٰ :ومارسلنامن رسول الابلسان قومه (الایة) الثانیة قال الله تعالیٰ : ومن ایاته خلق السمٰوٰت والارض واختلاف السنتکم والوانکم الایة : الثالثة: قال الله تعالیٰ : الرحمٰن علم القران خلق الانسان علمه البیان — الایــة— الروایـات الحدیثیة والفقهیة ، الاولیٰ قال رسول الله ﷺ احبوا العربیة لثلاث لانی عربی والقرآن عربی وکلام اهــل الجنة عربی ۷ اخرجه الطبرانی فی الکبیر والحاکم فی المستدرك والبیهقــی فی الــشعب کــذا فی کنزالعمال — ج ۶/ صـــ ۲۰۴/ الثانیة :عن ابی هریرة رضی الله عنه قال کــنـا جلوســاعندالنبی ﷺ اذنزلت سورة الجمعة فلمانزلت واخرین منهم لما یلحقوا بهم، قالوا من هؤلا یارســول الله ﷺ قال وفینا سلمان الفارسی قال فوضع النبی ﷺ یده علی سلمان ثم قال لوکان الایمــان عنــد الثریالناله رجال من هٰؤلاء متفق علیه قال فی اللمعات والمقصود ان المراد بالذین لم یلحقوا بهم اهل العجم من التابعین لحقوا بالصحابة واکثرالتابعین من اهل العجم والصحابة من العرب ولقد ظهر بسطة العلم والاجتهاد فی التابعین مالم یظهرفی غیرهم اه، الرابعة : فی الــدرالمختار فــصل تالیف الصلوٰة کماصحّ لوشرع بغیرعربیة ای لسان کان وخصه البردعی بالفارســیة لمزیتــها فی ردالمحتار قوله البردعی الیٰ قوله وفارس اسم قلعة نسب الیها قوم والمراد بها لغتهم وهی اشــرف اللغات واشهرهابعدالعربیة واقربها الیها ابوالسعود، الخامسة: فی التوضیح حتی لوقرا ایــة مــن

القران بالفارسیة یجوز الی قوله لکن الاصح انه رجع عن هذا القول فی التلویح قوله بغیرالعربیــة اشارة الیٰ ان الفارسیة وغیرها سواء فی ذلك الحکم وقیل الخلاف فی الفارسیة لاغیرفی الحاشــیة لعبدالحکیم رحمه الله لمزیتها علیٰ غیرها لقربها مـــن العربیــة فی الفــصاحة الخ - ایتونواوبرتوررو ایتونونه داامورمعلوم شول (۱) ، تولی ژبی په ځپل ذات کې قطع نظردعوارضونه نعمت الهٰیه اودلانلودقدرت کیدوکې اوپه دی باندی په استعمال داباحت کې متساوی الاقدام دی- کمادلت علیه الایات (۲) ، دبعضوخصوصیاتودوجه نه چه هغه خصوصیات داسباب عادیه په منزله دلوازمو گرځیدلی دی دژبوپه یوبل تفاضل ثابت دی دغه وجه ده چه دعربی ژبی فضلیت بیان شویدی- کمافی الروایة الاولیٰ اودمحاوراتودعرب داستعمال نه یې نهی فرمائیلی ده که هغه نهی هره درجه کې وی خودناخوښی په مدلول کیدوکې څه شبه نشته کمافی الروایة الثانیه - اودی دواړوروایتونوکې سوچ کولوسره صفامعلومیږی چه دفضل اومدح یاذم وقبیح مبنی ددی ژبی دتلبس دیوفضلیت څیزسره یادهغی تلبس یومذموم څیزسره دی که هغه شی څه عین وی یامعنی وی (۳) پس دعربی نه فارسی ته ددی ذکرشوی تلبس په وجه څوجوسره فضلیت ثابت دی- یوددی تعلق دمقبولینودلی سره دی کمافی الروایة الثالثه مع الحاشیه الدالتین علی کونهم مرضیین عندالله تعالیٰ وکونهم اهل علم واجتــهاد، اونوری وجی مخکې راغی (۴) ، ددی فضلیت په بنیادڅنگه چه بعض محققینو دفارسی دتخصیص تصریح کړیده امام صاحب په یووخت کې په فارسی کې قرآت ته جائزوئیلی وه- اگرچه وروستوبیې دهغی نه رجوع اوفرمائیله خورجوع کولوسره دبناء انعدام لازم نه راځی څکه چه دارجوع دڅه معارض اقویٰ په وجه ده نه دضعف بناء په وجه - نوددغه معارض قوت په یوخاص محل کې ظهور دااثردبناء مانع وگرځیدونه داچه مبطل دغه وجه ده چه علاوه دفضلیت کوم چه نمبر ۳ کې ذکرشویله وجه دفضلیت ددی اشرف اللغات کیدل دی کمافی الروایة الرابعة - اوددی شرف مبنی تقریباً داکیدیشی چه مقبولین بندگانودی سره تکلم کړیدی لکه څنگه چه لاندینوروایتونوکې راغلیدی-

الف: روی البخاری فی حدیث طویل من کتاب الجهاد فصاح النبی ﷺ یااهل الخندق ان جــابر الله صنع سوراً الخ قال الحافظ فی الفتح عن السماعیلی السورکلمة بالفارسیة الخ وقال اللزمانی لغة فارسیة کخ کخ الحدیث — ج:وروی البخاری ایضاً فی باب اذقالواصبانا من کتاب الجهــاد

وقال عمر ﷺ اذاقال مترس فقدامنه –د: روی ابوداؤد اباميمونة قال بينما انا جالس مع ابی هريرة جاء ته امراة فارسية الی قوله فقالت ياباهريرة رطنت بالفارسية وفيه فقال ابوهريرة استهماعليه ورطن لها بذلك الحديث باب الحديث من احق بالولد– ه: وذكر ابن تيمية فی كتابه اقتضاء الصراط المستقيم عن ابی العالية ومحمد بن الحنيفة تكلمهما بالفارسية، اوبعضو روايتونكې چه كوم ددی كراهت راغليدی حافظ چه فتح كې دهغې جواب وركړيدی ، واشارالمصنف (ای البخاری) الی ضعف ماوردمن الاحاديث الواردة فی كراهة الكلام بالفارسية الی قوله وتسدده واه ايضاً – دويم جواب دادی چه داكراهت هغه چاډپاره دی چه څوك ديه په عربی ترجيح وركړی – اودريم وجه دفضليت ددی داده چه فصاحت كې داعربی سره نژدی ده – په خلاف دبعضوژبوچه دهغې په كلماتوكې ثقل اوتنافرهيروی ، كما فی الرواية الخامسة مع الحاشيه ،اوس دی مقاماتوباندی تفريع كړم اوعرض كوم چه څه رنګه فارسی ژبې دپاره عربی ژبې سره دمناسبت كيدودوجه نه فضليت حاصل دی اوچونكه ددی فضليت اثرپه احكام دينيه كې هم ښكاره شويدی، په دی وجه دافضليت دينيه دی دغه شان بلاشبه عربی اوفارسی سره دداسی قوی مناسبت كيدوسره اردوته هم فضليت دينيه حاصل دی بلكه فارسی ته خوعربی سره صرف دمشابهت مناسبت دی اواردوته فارسی اوعربی سره دجزئيت مناسبت دی لكه څنګه چه ښكاره ده – چه اردوكې په كثرت سره دفارسی اوعربی الفاظ مفرده دی كوم چه يوه ژبه كې هم نشته لكه ددی ډيری جملی خوداسی دی- چه ماسيوا روابطو لكه كا ،كی ،كے ،ہے ،اونهس ،نه نوره ټوله ماده په فارسی كې وی داخودفضليت ژبوسره ددی تلبس دی دويم فضليت په ديكې دادعلوم دينيوخصوصاً دتصوف صحيح اومقبول په دی غيرمحدود اوغيرمحصورذخيره ده كومه چه عالمانومشائخو دسوونوكالومشقت اواهتمام سره جمع كړيده په دی وجه څلورم روايت كې اشهروښيلوسره دی طرفته اشاره معلوميږی خدای دی نه كړی كه چرته داژبه ضائع شوه نوداټوله ذخيره به ضائع شی خصوصاً عوامومسلمانانولره به دعلم دين هيڅ ذريعه پاتی نه شی څكه چه دهغوی استفاده په وجه دی نه پوهيدلودعربی په دی باندی موقوف ده- اياڅوك مسلمان دابرداشت كولی شی اوآياداسی ددی ضائع كيدل ليدل اوددی بنديزنه كول شرعاً جائزدی دريم خصوصيت چې ديته هم په فضليت كې لوئی دخل دی دری سليس اوآسان كيدل دی

آسانوالی يې په ايات قرانيه كې په ځای دامتنان كې ارشادفرمائيلی دی ، كما قال تعالیٰ فانمايسرناه بلسانك لتبشربه المتقين وقال تعالیٰ فانمايسرناه بلسانك لعلهم يتذكرون ، واشباههامن الايات،تفريع علی التفريع – ددی نتيجی نه وروستومعلومه شوه چه داوخت داردو ژبوحفاظت ددين حفاظت دی – دی بنياد باندی داحفاظت موافق دخپل وس طاعت اوواجب دی- اوسره دقدرت نه ديكې غفلت اوسستی كول معصيت اوموجب دمواخذی دی په اخرت كې و والله اعلم وهذا ماحضرنی الان ولعل الله يحدث بعدذلك امرا ،رساله درجه اردوتمام شد؛ النورص ۱۰/ شعبان/ ۵۸ھ

دګناهونوښكاره كولوحكم

سوال :(۶۶۵)ديوی مسئلی مې دديروخت نه تپوس كول غوختل نن يې تمبرراغی بيابيا داخيال راځی چه په خپل قلم دخپل ژوند ټول حالات بالكل من وعن وليكم- بياكه چرته همت وی نوپه خپل ژوند كې به يې چاپ كړم كنی وروستوخلقو ته به يې پريږدم په هغې كې به دخپلی بدعقيدګی بدعملئ ګناهونودهرڅه تصريح وی اګرچه مقصود هغې نه دنورواصلاح اوعبرت دی خوبيا هم ويريږم چه چرته ددی حديث خلاف ورزی اونه شی په كوم كې چه دفسق اودګناهونودښكاره كولو ممانعت دی اوس چه څه رنګه چه جناب الا ارشادوی؟

جواب : سوچ كولوسره دی باره كې مې دااجزاء ذهن ته راغلل(۱) دكومو ګناهونوداظهارنه چه ممانعت دی مراد دهغې نه هغه دی كوم چه مرتكب هم ګناه ګنړی دهغې اظهارصورت جسارت اوقباحت دی په دی وجه منع دی(۲) دعقايدفاسدواظهار ديكې داخل نه دی څكه چه دهغې ارتكاب يې دين اوحق ګنړی نوكول يې په دی وجه هغه علت دلته نشته(۳) بيادداغه ګناهونواظهارهم كه چرته دضرورت دينيه دوجه نه وی لكه دمصلح په مخكې په غرض داصلاح په دی كې هغه علت نه شی موندلی كيدی په دی وجه داممنوع نه دی لكه دپټ بدن ښكاره كول دمعالج مخكې جائزدی دنورچاپه مخكې جائزنه دی(۴) اوكوم ځای چه داضرورت نه وی صرف دخپل نقص اظهار يادنور چادويرولو اوتحزير مصلحت وی چونكه دامصلحت عنوانات كليه سره هم حاصليدیشی مثلاً ډيرګناهونه وكړل الله تعالیٰ دی معاف كړی نورحضرات دی هم مادپاره بښنه اوغواړی په دی وجه دجزئياتواظهار جائزنه دی اميددی چه جواب پوره شوی وی كه چرته ضروری شی پاتی شوی وی نوبياسوال وكړی فقط ۱۹/ رجب/ ۱۳۵۸ھ/ النورص ۱۰ /ذی قيعده/ ۱۳۵۸ھ

توحید الحق

(رساله توحید الحق در عدم نجات غیر مسلم)

بسم الله الرحمن الرحیم: بعد الحمد والصلوة احقر اشرف علی مدعابنکاره کوونکی دی چه زمونږ دبدواعمالو دوجه نه مونږه داسی یوه بده ورځ ولیده چه دیو خاص داعی په بنیاد یو داسی مسئلی باندی په صورت تحقیق تحصیف تصنیف دمستقل لیکلو ضرورت پیداشو. دکوم دضرورت چه دبعث دنبی پاک ﷺ نه تراوسه پوری چاته په خوب کښې هم داوسوسه نه وه شوی هغه مسئله داده چه آیا داهل اسلام نه علاوه نور دینونو الا به هم نجات موندونکې وی ددی صفا حاصل په نورو الفاظو کښې دادی چه ایا داسلام په شان کفرهم موجب دنجات دی په اخرت کښې - اوددی تحقیق هغه داعی دادی چه داوخت بعض مدعیانو داسلام ددی دعوی وکړه اوپه صورت دتصنیف یې شائع هم کړه اوسره دمسئلی دقطعی اوددین دضروریاتو دکیدونه اوتراوسه پوری دیو مدعی داسلام داختلاف نه کولو ددی دعوی وکړه اوپه ایتونو کښې یې تلبس اوتدلیس نه کار واخستو، انالله وانا الیه راجعون. وایې گزارپس امروزبود دفردائی چونکه خطره وه چه آئنده نسلونو کښې دعلم اوفهم کمی دوجه نه چاته غلط فهمی رانشی - په دی وجه داضرورت پیداشو چه دکومو ایتونو دی مسئلی سره تعلق دی استدلاً لاً یا جدالاً، اوجدال که وقوع شوی وی پاتی احتمال شوی وی دهغی یو معتدبه حصه سره دهغی دصحیح تفسیر نه دنمونی په طور جمع کړیشی اوبعضو مقاماتو باندی صرف تبرعاً اوتائیداً علاوه داخبار اواثارو ذکرشو په ضمن دتفسیر کښې نور آثار او اخبار هم وارد کړی شویدی دی دپاره چه حقیقت واقع ژوندی شی اووسوسی اختراعیه وغیره فنا اوختم شی اودنورو ایتونو حل به ددی نمونی په امداد سره په وجه داشتراك داصولو اسان شی. اونوم ددی تحریر توحید الحق کیخودلی شو یعنی ددین حق واحد اوغیر معتد کیدو اثبات دی. اوکوم ایتونه چه لیکلی شویدی هغی په شمیر باندی نظر کولو سره می بست ایت (شل ایتونه) نوم تجویز کړو. اودیو ایت په تفسیر کښې که چرته ډیر توجیهات وی نوهغی سره په نفس مقصود کښې شبه مه کوی ځکه چه هغه ډیر په دی امرکښې یودی چه په هغی کښې په یو توجیه کښې هم ددغه مخترع بدعتی موافقت نه دی کړی شوی - بس ددی مخترع بطلان یقیناً مجمع علیه دی بیا قطع نظر داجماع نه دی تدلیسی توجیه لره په خپله صاحب تدلیس هم ددرجه داحتمال نه متجاوز نه شی وئیلی اګرچه

داحتمال ه باطل دی خودی فرض باندی هم په دیکښې دقابل استدلال کیدو صلاحیت خوبه نه وی ځکه چه قانون عقلی دی - اذاجاء الاحتمال بطل الاستدلال - بل داچه قانون عقلی دی چه مشتبه اومحتمل لره محکم اومفسر طرفته راجع کول ضروری دی - دی دپاره چه کلام صادق کښې تعارض رانشی اوددی عکس قطعاً باطل دی اودمسئلی محکم کیدل ظاهردی دهغی دلیلونه محکمو به په ائنده ایتونو کښې اووینی خوتبرعاً وتقویة بعض حدیثونه هم دبخاری اومسلم نه نقل کولی شی ځکه چه حدیث کښې دوجوه مختلفو ډیر کم ګنجائش وی نودهغی دلالت په عام نظر کښې ډیر واضح وی اودشیخینو روایت کولو سره دهغی صحت هم مسلم دی اوثبوت اودلالت هم دغه دوه روحه دی ددلیل کماهو معلوم - هغه حدیثونه دادی،
روی البخاری عن ابی هریرة ؓ قال قال: رسول الله ﷺ کل امتی یدخلون الجنة الامن ابیٰ قال من اطاعنی دخل الجنة ومن عصانی فقدابیٰ (مشکوٰة) وروی مسلم فی باوجوب الایمان برسالة نبینا محمد ﷺ الیٰ جمیع الناس ونسخ الملل بملته عن ابی هریرة ؓ عن رسول الله ﷺ قال والذی نفس محمد بیده لایسمع بی احدمن هذه الامة یهودی ولانصرانی ثم یموت ولم یؤمن بالذی ارسلت به الاکان من اصحاب النار، قال النووی وانما ذکرالیهود والنصاریٰ تنبیهاعلیٰ من سواهما لان الیهود والنصاریٰ لهم کتاب فاذا کان هذا شانهم مع ان لهم کتاباً فغیرهم ممن لاکتاب لهم اولیٰ والله اعلم وروی مسلم ایضا فی باب الدلیل علی ان من مات علی الکفر لاینفعه عمل عن عائشة ؓ قلت یارسول الله ﷺ ابن جدعان کان فی الجاهلیة یصل الرحم ویطعم المسکین فهل ذاك نافعة قال ﷺ لاینفعه انه لم یقل یوماً رب اغفرلی خطیئتی یوم الدین قال النووی ای لم یکن مصدقاً بالبعث ومن لم یصدق به کافرو لاینفعه عمل، وقال القاضی عیاض ؒ وقد انعقدالاجماع علی ان الکفار ولاینفعهم اعمالهم ولایثابون علیها الخ، داتول تمهید وه اوس مخکښې مقصود شروع کیږی یعنی ایات موعوده سره دتفسیرنه نقل کوم، والله الهادی الیٰ سواء السبیل وهو حسبی فی کل مرام ونعم الوکیل - الایة الاولیٰ: والذین کفروا وکذبوا بایاتنا اولئك اصحاب النار هم فیها خالدون، سورة البقره: اوکوم خلق چه کفر کوی اونسبت ددروغو کوی زمونږ داحکاماتو داخلق ددوږخ والادی دوی به دیکښې همیشه دپاره اوسیږی (بیان القرآن صـ ۲۵/ ج ۱/ توضیح کوم مذهب والا چه دحضور اقدس ﷺ دنبوت نه انکار کوی دهغه کافر مکذب دایتونو کیدل یقینی اوپه ایت کښې صریح دی چه ده ته نجات

نشته دی ایت نه استدلال داهل حق ښکاره دی الاٰیة الثانیه: ان الذین امنوا والذین هادوا والنصارا والصائبین من امن بالله والیوم الاخروعمل صالحا فلهم اجرهم عندربهم ولاخوف علیهم ولاهم یحزنون (سوره بقره) داتحقیقی خبره ده چه مسلمان یهودونصاریٰ اوصائبین (دی ټولوکې) چه کوم یقین لری دالله په ذات اوصفات باندی اوپه ورځ دقیامت باندی اونیك کارکوی (موافق دقانون دشریعت) داسی خلقودپاره دهغوی حق الخدمت هم دی ددوی پروردګارسره (چه اورسی) او (هلته چه لاړشی) نوپه دوی به څه ویره هم نه وی اونه به دوی غمژن شی- (ف) حاصل دقانون ظاهردی چه زمونږ په دربارکې دچاتخصیص نشته چه کوم سړی پوره اطاعت په اعتقاداواعمالوکې اختیارکړی که هغه دمخکې نه هرڅنګه وی زمونږ په نزدمقبول اوهغه خدمت قبول کړی شویدی- اوښکاره خبره ده چه پوره اطاعت په اطاعت محمدی یعنی مسلمان کیدوکې منحصرده مطلب داشو چه څوك مسلمان شی نومستحق داجراودنجات اخروی دی په دیکې ددی خیال جواب اوشو- یعنی ددی شرارتونونه وروستوکه هم چرته مسلمان شی نوموږ به یې معاف کړو اوصائبین یوه فرقه وه- چه دهغوی دعقایدو اودطرزعمل په باره کې په دی رجه چه چاته پوره پته نه ده لګیدلی مختلف اقوال دی والله اعلم- اودی قانون کې دمسلمانانوذکرپه ظاهرکې ضرورت نشته ځکه چه هغوی خومسلمانان دی خودی کلام کې یوخاص بلاغت دی اومضمون کې یوخاص وقفت پیداشو- ددی مثال دی چه یوحاکم یاپادشاه یوداسی موقعې باندی داسی اووایې چه زمونږ قانون عام دی که څوك موافق وی اوکه مخالف څوك چه اطاعت وکړ هغه لائق دمهربانی دی اوس ښکاره خبره چه موافق خواطاعت کوی اوړول دی اصل کې مخالف ته خودیکې نکته داده چه زمونږ چه په کوم موافقین مهربانی ده دهغی علت هغوی سره څه ذاتی خصوصیت نه دی بلکه دهغوی صفت مدارد موافقت دی زمونږدعنایت اومهربانی- بس که چرته مخالف هم دااختیارکړی نوهغه به هم ددی موافق برابرشی- په دی وجه مخالف سره موافق برابرشی په دی وجه مخالف سره موافق هم ذکرکړی شو (بیان القرآن صـ ۳۶/ ج۱) توضیح: دی تقریرنه وروستو دی ایت نه دباطل پرستو داستدلال کمزوری ظاهره ده اویوداسی ایت لایحب الله ختمیدونه نزدی رکوع یاایهاالرسول بلغ کې راغلیدی دهغی هم دغه تقریردی اودی مقام باندی دتمهید په دی عبارت کې یعنی من قوله دیوایت په تفسیرکې الی قوله دمسلی محکم کیدل ښکاره دی اه- دنظراعاده وکړی اودآئنده مطالع کې به هم چرته ددی اعاده

مفیدوی بعض الاخبار: وروی ابن جریربسنده عن مجاهدعن سلمان وذکرالنبی ﷺ اعمال النصاریٰ واجتهادهم فنزلت هذه الاٰیة فدعاسلمان فقال نزلت هذه الاٰیة فی اصحابك ثم قال النبی ﷺ من مات علیٰ دین عیسیٰ ؑ ومات علی الاسلام قبل ان یسمع بی فهوعلی خیرومن سمع بی الیوم ولم یومن فقدهلك وروی ابن جریر ایضه بسنده عن ابن عباس ؓ قوله ان الذین امنواالیٰ قوله تعالیٰ ولاهم یحزنون- فانزل الله تعالیٰ بعدهذا ومن یبتغ غیرالاسلام دینافلن یقبل منه وهوفی الاٰخرة من الخاسرین اه قال ابن کثیر بعدنقل قول مجاهد مانصه قال ابن ابی حاتم وروی عن سعیدبن جبیر ؓ نحوا هذاقلت هذا لاینافی ماروی عن ابن عباس ؓ (قوله فانزل الله بعدهذا) قال هذا الذی قاله ابن عباس ؓ اخبارعن انه لایقبل من احدطریقة ولاعملا الاماکان موافقا لشریعة محمد ﷺ بعدان بعثه فاماقبل ذلك فکل من اتبع الرسول فی زمانه فهوعلی هدی وسبیل ونجاة فالیهودداتباع موسیٰ ؑ والذین یتحاکمو الی التوراة فی زمانهم اه- الاٰیة الثالثه: بلیٰ من کسب سیئة واحاطت به خطیئة فاولئك اصحاب النارهم فیها خالدون، والذین امنوعلمو الصلحٰت اولئك اصحٰب الجنة هم فیهاخالدون (سوره بقره) کوم سړی چه قصداً بدی خبری کوی اوهغه ته دهغی خطا (اوقصوردغه شان) احاطه وکړی (چه چرته دینکی اثرهم پاتی نه شی) بس داسی خلق دوزخ والادی (هو) دوی به دیکې همیشه (همیشه) دپاره اوسی اوکوم خلق (چه الله اورسول باندی) ایمان راوړی اونیك کارکوی داسی خلق جنتیان دی (هو) دوی به دیکې همیشه وی (ف) دخطاګانوداحاطی کولو دامعنی احقرپه ترجمه کې ظاهره کړیده خطاپه دی معنی کافرانوسره مخصوص ده- ځکه چه دکفرپه وجه هیڅ یونیك عمل نه قبلیږی بلکه که چرته دکفرنه مخکې هم څه اعمال وی هغه هم ضائع اوختمیږی په دی وجه کافرانوکې توله بدی بدی ده- په خلاف دایمان والوچه ورومبی خودهغوی ایمان په خپله یولوئ اعمال صالحه دی- دویم دهغوی اعمال فرعیه هم په نامه اعمال کې لیکلی کیږی په دی وجه هغوی دنیکی داثرنه خالی نه دی، توضیح: دی ایت نه داهل حق استدلال ظاهردی ځکه چه داحاطه خطیه چه کوم تفسیرکړی شویدی کافریقیناً دهغی مصداق دی اودکافرنجات نه موندل په دی ایت کې مصرح دی اودحضوراقدس ﷺ کې مصرح نه دی ځکه چه دی صورت کې خوکافرپه درجه اولیٰ سره غیرناجی شو اودمعتزلودقول بطلان یومستقل بحث دی، الاٰیة الرابعه: فلماجاء هم کتاب من عندالله مصدق لمامعهم وکانوا من

قبل يستفتحون على الذين كفروا فلما جاء هم ما عرفوا كفروا به فلعنة الله على الكافرين (سوره بقره) او هر کله چه دوی ته يو داسی کتاب راورسيدو (يعنی قران) کوم چه دالله د طرفنه دی (او) د هغه کتاب هم تصديق کوونکی دی کوم چه (مخکښ نه) دوی سره دی (يعنی تورات) حالانکه ددی نه مخکښ به يې په خپله بيان کولو (او) کافرانو ته (يعنی عرب مشرکينو ته چه يو نبی راتلونکی دی او يو کتاب راوړونکی دی خو) هر کله چه هغی شئ راورسيدو کوم چه دوی (ښه پيژندو) نو دهغه نه يې (صفا) انکار وکړو (بس) دخدای لعنت دی په داسی منکرينو باندی (چه سره د پوهی نه صرف دتعصب په وجه انکار کوی) (ف) او که چرته چاته شبه وی چه هر کله يې حق پيژندو نو دوی ته مومن وئيل پکاردی بيا دوی ته کافر څه رنګه وئيلی شول جواب دادی چه څه رنګه حق لره باطل ګڼړل کفر دی دغه شان سره دحق پيژندو انکار کول هم کفر دی لکه په شهادت دعقل او دشرع دادورومبی نه هم دير قبيح دی بل دا پيژندل اضطراری وه۔ دکوم نه چه دوی مجبور وه۔ او ايمان دتصديق اختياری نوم دی ديکښ طوع او تسليم دی ځکه چه ماموربه دی او دماموربه اختياری کيدل ضروری دی (بيان القران / ص ۴۸ / ج ۱) توضيح : ايت داهل حق په مقصود کښ صريح دی ځکه چه د رسول او دقران انکار ته يې اګرچه زړه کښ يقين هم وی کفر او وئيلو۔ او دکافر غيرناجی کيدل ظاهر دی ، الآية الخامسة: ان الذين كفروا وماتوا وهم كفار اولئك عليهم لعنة الله والملئكة والناس اجمعين خالدين فيها لايخفف عنهم العذاب ولاهم ينظرون (سوره بقره) البته چه کوم خلق (ددی نه ، اسلام راونه ړی او داسی غيراسلام حالت باندی مړه شی داسی خلقو باندی (هغه) لعنت (مذکوره) دالله تعالیٰ او دفرښتو او دټولو خلقو دی (داسی طور باندی به روا وريږی چه) دوی به هميشه هميشه په دی لعنت کښ وی (حاصل دا چه دوی به هميشه دپاره په جهنم کښ داخل شی او هميشه په جهنم کښ او سيدونکښ دالله دخاص رحمت نه به لری هم دی او هميشه ملعون او سيدل هم دغه دی او هميشه لعنت سره داهم دی چه ددا خليدو نه وروستو به هيڅ وخت هم په دوی باندی د (جهنم) عذاب کميږی هم نه او نه د (داخليدو نه وروستو) به دوی لره (يو وخته پوری) مهلت ورکړيشی (بيان القران ص ۹۰ / ج ۱) توضيح : داهم داهل حق په مدعا کښ صريح دی ځکه چه څوك مسلمان نه وی هغه کافر دی او دکافر غيرناجی کيدل صفا ذکر کړی شويدی ۔ الآية السادسة: ومن يرتدد منكم عن دينه فيمت وهو كافر فاولئك حبطت اعمالهم فى الدنيا والاخرة – واولئك اصحٰب النار هم فيها خالدون ، او کوم سړی چه دستاسو نه

دخپل دين (اسلام) نه واوړی بيا هم ددغه کفر په حالت کښ مړشی نو داسی خلقو (نيك) عملونه په دنيا او اخرت کښ برباد دی او داسی خلق جهنميان دی او دا خلق به هميشه په جهنم کښ اوسی (بيان القران / ص ۱۲۳ / ج ۱) توضيح : دېرنی ايت په شان دی ځکه چه مراد حکم کفر دی الآية السابعة: الله ولى الذين امنوا يخرجهم من الظلمٰت الى النور، والذين كفروا اولياء هم الطاغوت يخرجونهم من النور الى الظلمات اولئك اصحاب النار هم فيها خلدون (سوره بقره) الله تعالیٰ دوست دی دهغه خلقو چه کوم ايمان راوړی هغوی (دکفر) دتيارونه راوباسی يا يې کوی په نور د (اسلام) کښ داخلوی او کوم خلق چه کافر دی دهغوی ملګری شيطانان دی (انسی يا جنی) هغوی دوی لره دنور (داسلام) نه راوباسی او د (کفر) تيارو طرفته يې بوزی داسی خلق (چه کوم اسلام پريږدی او کفر اختيار کړی) ددوزخ اوسيدونکښ دی (او) دا خلق په ديکښ هميشه هميشه اوسيږی (بيان القران / ج ۱ / ص ۱۳۵) دلته هم دېرنی ايت په شان وضاحت دی اطلاع هغه ايتونه چه په عدم نجات دکافر کښ مثبت دی په قران مجيد کښ دسوونو نه هم زيات دی ورومبی منزل کښ بغير دتلاش نه په سرسری نظر کښ می دا ايتونه په خيال کښ راغلل (۱) ان الدين عندالله الاسلام (ال عمران) کوم چه موافق دتصريح دروح المعانی چه تعريف دجزئينو مفيد دی حصرته مرادف دی دا ايت (۲) ومن يبتغ غيرالاسلام دينا فلن يقبل منه (ال عمران) کوم چه مقصود کښ دصريح نه هم زيات دی او ورومبی ايت په سلسله کښ ديرنزدی وقل للذين اوتوالكتاب والاميين اسلمتم فان اسلموا فقداهتدو الخ ، کښ څه رنګه چه ددی تصريح ده چه هم دغه اسلام شرط ددی داهتداء – دغه شان ددی هم تصريح ده چه اهل کتاب هم په شان دمشرکينو دعرب چه په کوم حالت کښ وه چه شريعت محمديه ﷺ يې قبول کړی نه وه په خپلی ورومبی طريقی ديهوديت نصرانيت باندی وه دا اسلام نه دی بس دی احکاماتو کښ داسلام بالمعنى الاعم احتمال محض منفی او باطل دی او چه کله اسلام نشته نو اهتداء نشته کوم چه شرط دنجات دی بس ثابته شوه چه په دور دشريعت محمديه کښ په يو بل شريعت باندی عمل کولو سره نجات هم نشته او په بل ايت کښ چه ديته ديرنزدی دی ارشاد دی ولاتموتن الاوانتم مسلمون ، بس ديکښ هم تصريح ده چه دکوم اسلام چه بره ذکر دی دهغی غيرنه دی قبول دی باندی ترمرګه پوری پاتی کيدل ماموربه دی – بيا ديته نزدی دامت محمديه خيريت او بنياد دخيريت يې امرونهی او ايمان اوفرمائيلو او ارشاد دی چه ولوامن اهل الكتب لكان خيرالهم - ديکښ تصريح ده چه دا ايت

دنزول په وخت کې اهل کتاب مومنان نه وه- دوی به هله مومنان وی چه کله په امت محمدیه کې داخل شی بس دااجزاء جداجدا هم اوچه یوځای هم شی نو مقصود کې دومره صفادی چه په دیکې دځه تحریف ذره برابرهم گنجائش نشته (۳) کیف یهدی الله قوماً کفروابعدایمانهم وشهدوا ان الرسول حق وجاء هم البینات والله لایهدی القوم الظلمین،اولئك جزاء هم ان علیهم لعنة الله والملئکة والناس اجمعین خالدین فیها لایخفف عنهم العذاب ولاهم ینظرون، آل عمران – (۴) من یعص الله ورسوله ویتعدحدوده یدخله ناراخالداً فیها وله عذاب مهین (نساء (۵) ان الذین کفروا بآ یاتناسوف نصلیهم ناراً ، کمانضجت جلودهم بدلناهم جلوداً غیرهالیذوقوا العذاب ،ان الله کان عزیزا حکیما(نساء) (۶) ان الذین یکفرون بالله ورسوله ویریدون ان یفرقوا بین الله ورسله ویقولون نؤمن ببعض ونکفرببعض ویریدون ان یتخذوا بین ذلك سبیلا، اولئك هم الکافرون حقا(نساء) (۷) ان الذین کفرواوظلموا لم یکن الله لیغفرلهم (نساء) په دی وجه اتنده داسی آیتونه دیوخاص مقتضی کوم طرفته چه اشاره هم کړی شویده نه به شی نقل کولی صرف نورایتونه کوم سره چه داهل باطن دتمسك کولو جواب به ورکولی شی هغه به نقل کولی شی الایة الثامنه : (اوپه وجه دتناسب وروستوته څوتزدی نزدی ایتونه هغی سره په جمع کوو بیادمجموعی تفسیراودمقصود تقریر یوځای وکړو- وکیف یحکمونك وعندهم التوراة فیها حکم الله ثم یتولون من بعدذلك وما اولئك بالمومنین (مائده) کیدیشی چه یوجاهل ته به شبه راځی چه په دیکې تورات والوته دحضور ﷺ په فیصله کولو باندی نکیردی اودی سره تورات والوته داوخت هم په قران باندی دعمل کولو دنه واجب کیدونتیجه راوزی- الایة التاسعه : إِنَّا أَنزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ ۚ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ الَّذِينَ أَسْلَمُوا لِلَّذِينَ هَادُوا وَالرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِن كِتَابِ اللَّهِ وَكَانُوا عَلَيْهِ شُهَدَاءَ ۚ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ ﴿٤٤﴾ (مائده) شاید دی سره هم یوجاهل ته هغه شان شبه وی چه په دیکې دتورات موافق انبیاؤته دحکم کولوپه بنیاد تورات والوته ترغیب ورکړیدی داوخت هم

دحکم بالتوراة اوددی په خلاف باندی وعیددی ، الایة العاشرة والحادیة عشر: وَقَفَّيْنَا عَلَىٰ آثَارِهِم بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرَاةِ ۖ وَآتَيْنَاهُ الْإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرَاةِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٦﴾ وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ الْإِنجِيلِ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فِيهِ ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٤٧﴾ (مائده) دیکې هم جاهل ته هغه شان وسوسه کیدیشی چه دتورات نه وروستو دانجیل حکم کول شاید په دی زمانه کې هم دی باندی دعمل کولودترغیب دپاره وی اودولیحکم اهل الانجیل نه دغه مرادی دی، الایة الثانیة عشروالثالثة عشروالرابعة عشر: وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ۖ فَاحْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ عَمَّا جَاءَكَ مِنَ الْحَقِّ ۚ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ ۖ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ ۚ إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٤٨﴾ وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَا أَنزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ لَفَاسِقُونَ ﴿٤٩﴾ أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ۚ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿٥٠﴾ دی ایتونو کې ددی دیوخاص جزء یعنی لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً، سره جاهل ته وسوسه کیدیشی چه هری دلی دپاره یې چه کومی جداجدا طریقی تجویز کړیدی شاید ددی نه هم دغه مقصود وی چه ټولوته په خپلی خپلی لاری باندی ټولوته دیودین اختیارولوامت واحده جوړول ضروری نه دی دااوه ایتونه دی اوس ددی تفسیرلیکلی شی اوتعبیرنه مخکې یوتقریرد ربط په طوردتمهید سره دهغی دیوحاشیی نه لیکلی شی حاشیه: وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ التَّوْرَاةُ فِيهَا حُكْمُ اللَّهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ ۚ وَمَا أُولَٰئِكَ

بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿﴾ باندي په ظاهرداشبه راتله چه دين اسلام خوناسخ داديانو دی ددی دراتلونه وروستو تورات اوانجيل وغيره تول منسوخ شويدي پس دی بنيادباندي هغه خلق داتحکيم وکړو داخوپه هغوی لازم وه يعني داچه هغوی به ضرورپه حضرت ﷺ فيصله کوله بياپه دی باندي تعجب ولي اوفرمائيلي شوخوتقريرد ربط اوتفسيرسره (کوم چه ډيرزرليکلي شی) داشبه بالکل ختم شوه فافهم واشکرللمفسر: تبيان حاشيه بيان القران اج۳ صـ۳۳/ حاشيه اخيره ا اوس تفسيرليکلي شی تقرير اوتاکيد دمخکې مضمون. اولاً تعجب خبره ده چه، هغوی (ددين په معامله کې) په تاباندي فيصلي کوی حالانکه هغوی سره تورات (موجود) په هغی کې يې دالله حکم (ليکلي) دی (دکوم دمنلوچه دهغوی دعویٰ ده وروميبی خوداخبره ډيره لري ده) بيا (داتعجب دی سره تورهم مضبوط شوچه) ددی (فيصلي راوړو) نه وروستو چه کله دستافيصله اوري نودهغی فيصلي نه هم) اوړی (يعني وروميبی خودی حالت کې فيصلي رواړلوسره تعجب کوی خوددی احتمال نه رفع کيديشوه چه کيديشی ستاپه حق باندي کيدل په دوی باندي واضح شوی وی خکه راغلی وی خوچه کله دافيصله يې اونه منله نوهغه تعجب يې بياتازه شواوس هغه احتمال هم پاتی نه شوبيابه څه خبره وی دکوم دپاره چه يې دافيصله راوړی ده) او (دی سره هرعقل مندته اندازه وشوه چه)، داخلق هرګزاعتقاد لرونکي نه دی (دلته اعتقادسره نه دی راغلی خپل مطلب دپاره راغلی وه اوهرکله چه نه منل دعدم اعتقاد دليل دی نودی نه داهم معلومه شوه چه څه رنګه حضرت ﷺ لره دوی ته اعتقادنشته- دغه شان خپل کتاب سره يې هم پوره اعتقادنشته کنی هغه به يې پريخودواودلته به ولي راتلل - غرض دواړوطرفونونه لاړل چه دچانه يې انکاردی هغوی لره يې هم اعتقادنشته اوچاسره چه يې دعویٰ داعتقاد ده هغوی سره يې هم نشته - ف: دالله دحکم په توضيح کې چه يې دااوئيل چه دکومو منلو چه دوی ته دعوی وه دی سره هغه شبه ختم شوه چه تورات نه وه محرّف شوی خکه ددوی دګمان په بنياد باندي خبره داده يادا چه دهغوی دواقعاتو خاصه ذکرشوی حکمونه په تورات کې محفوظ دی ربط: بره په ډيرو روايتونوکې ديهودوپه نسبت اوبعض ايتونوکې دنصاراؤپه نسبت دهغوی احکام اومواثيق الهيه پريخودل اوماتول اودهغی مذمت ذکرشويدی مخکې په پوره رکوع کې دهغی احکام الهيه په هره زمانه کې واجب العمل پاتی کيدل اودهغی پريخودل حرام اوموردد وعيد کيدل چه دهغی ظهورکله دتوارت په واسطی وی اوکله دانجيل په واسطه وی او اوس دقران

مجيد په واسطه بيانوی دی سره دهغه ناقضيومذمت پوره ښکاره شو- اوبل داچه عمل بالتوراة والانجيل سبب شودتصديق درسالة محمديه ﷺ کوم چه دواړه کې مبشربه دی په فلاتخشوالناس کې ددی تصريح هم ده اوپه بعضو قراتو اوتفاسيروباندي وليحکم اهل الانجيل کې هم دامضمون دی اوبل په ذکردانجيل کې هم دغه مضمون دی اوبل داچه ذکردانجيل کې په يهودوتعريض دی چه هغوی ددی تکذيب کولو اوپه ذکردقران کې يهودونصاراؤدواړوباندي تعريض دی چه دواړوددی تکذيب کولو اودتورات دذکرپه ضمن کې بعض حکمونه دقصاص يې شايدخکه فرمائيلي وی چه مخکې ايت ياايهاالرسول لايحزنك، يوسبب دنزول واقع دقصاص هم وه- کومه چه يهودوپه يومخترع رسم لره بدل کړی وه، اواګرچه رجم يې هم بدل کړی وه خوشايدددی تخصيص په ذکرکې دی دپارهوی چه ددی په اخلال بندګانوباندي ظلم کيده اوهغه داخلال في الرجم نه کوم چه حق دی ډيرسخت وه والله اعلم- ذکروجوجب عمل توريت درزمان او: انا انزلنا التوراة فيهاهدىً ونورالیٰ قوله فاولئك هم الکافرون، مونږ په موسیٰ ﷺ باندي تورات نازل کړی وه په هغه کې (دعقائيدصحيحه هم) هدايت وه او (داحکام عمليه هم) وضاحت وه انبياء (بنی اسرائيل) کوم چه (سره دلکونوخلقو دمقتداومطاع کيدو) دالله تابعداروه .ددی (تورات) موافق به يې يهودوته حکم کولو اودغه شان دهغوی اهل الله اوعالمانوهم (ددغی موافق چه دغه دهغه وخت شريعت وه حکم ورکولو) په وجه ددی چه دوی (اهل الله اوعالمانو) ته دی کتاب الله باندي دعمل کولو اودعمل حکم ورکولو) دحفاظت حکم (دحضرات انبياء کرام ﷺ په ذريعه) ورکړی شوی وه اوهغوی ددی (يعنی په دی دعمل کولو اونورته دحکم کولو) اقرارګرخيدلی وه (يعنی چونکه هغوی ته ددی حکم شوی وه اوهغکوی داحکم قبول کړی وه په دی وجه هميشه دهغی پابنداوسيدل سيوا ددی زمانی درئيسانواوعالمانوديهودونه هرکله دهميشه نه دستاسو دټولو دمقتدادتورات منونکي راغلی وه نو) تاسوهم (دتصديق درسالت محمديه ﷺ په باره کې دکوم حکم چه په تورات کې دی) خلقونه (دا) ويره مه کوی (چه مونږ به تصديق وکړو نودعامو خلقوپه نظرکې به زمونږپه عزت کې فرق راشی) او (صرف) مانه اوويريږی (چه په تصديق نه کولو به سزادرکړم اوزمادحکمونه په بدله کې (ددنيا) لږه متاع (کومه چه تاسوته دخپلوعوامونه وصوليږی) مه اخلی (چه دغه محبت مال تاسوته باعث ګرځی دتصديق نه کولو) دتصديق نه کولو) او (يادولی چه) کوم سړی الله

تعالیٰ دنازل کړی شوی موافق حکم اونه کړی (بلکه غیرحکم شرعی لره قصداً شرعی اوواتی او دهغی موافق حکم وکړی) بس داسی خلق بالکل کافردی (لکه چه ای یهودیانوتاسو کوی چه عقایدوکې هم په شان دعقیدی درسالة محمدیه اوپه اعمالوکې هم لکه حکم درجم وغیره ډېر مخترعات ته حکم الهی وایې. اوپه ضلال اوضلال کې اخته شوی یې (بیان القران، ج۳، ص ۳۲، ۳۵ لسمی کرخی پوری) ربط: بره دتورات په خپله زمانه کې حجت کیدل ذکر شوی وه مخکې دانجیل هم دغه صفت ذکرشویدی لکه څنګه چه تمهید دایت انا انزلنا التوراة کې مفصل تقریرددی تیرشوی دی، ذکروجوب عمل بانجیل درزمان او. وقفینا علی اثارهم بعیسی بن مریم الی قوله فالنك هم الفاسقون، اوموږددی (نبیانو) پسی (دکوموذکرچه یحکم بها النبیون کې راغلیدی) عیسیٰ بن مریم ﷺ لره په دی حالت کې (پیغمبرجوړ کړی شوی) اولیږلو چه هغه دخان نه مخکې کتاب یعنی دتورات تصدیق کولو (کوم چه دلوازمودرسالت نه دی چه دټولو کتب الهیو تصدیق به کوی) اوموږ هغه ته انجیل وکړو په هغی کې (دتوارت په شان دعقاید صحیحوهم) هدایت وه او(داحکام الهیوهم) وضاحت وه اوهغه (انجیل) دخان نه مخکې دکتاب یعنی دتورات تصدیق (هم) کولو (چه داهم دلوازمودکتاب الهی نه دی) اوهغه سراسرهدایت (دنصیحت وه دالله ﷻ نه ویریدونکودپاره او (موږه انجیل ورکړاوحکم اداکړو چه) انجیل والوته پکاردی چه الله تعالیٰ چه څه دیکې نازل کړیدی دهغی موافق حکم کوی او(ای ددی زمانی نصاراویادکړی چه) کوم سړی دالله تعالیٰ دنازل کړی شوی موافق حکم نه کوی (دهغی معنی مخکې تیری شویدی) نوداسی خلق بالکل بی حکمی کوونکې دی اوانجیل درسالت محمدیه خبرورکوی تاسوددی خلاف ولی روان یې؟ ربط: بره یې دتورات اوانجیل په خپل خپل دورکې واجب العمل کیدل بیان شوی وه مخکې دقران مجید په خپل دورکې کوم چه دوخت دنزول نه ترقیامته پوری دی واجب العمل کیدل بیانوی اوددی ایتونو په ضمن کې اشارةً یوی قصی سره هم تعرض دی کوم چه ابن اسحاق دحضرت ابن عباس ﷺ نه روایت کریدی چه څه عالمان اومشران دیهودو دحضور ﷺ په خدمت کې حاضرشول عرض یې وکړو چه زموږدقوم سره زموږه څه مقدمه ده که چرته تاسوزموږه موافق فیصله وکړی نوموږ به ستاتابعداری اختیارکړو چه دی سره به نوریهودهم متبع شی. حضرت ﷺ صفا انکاروکړو په دی باندی داایت دحضرت ﷺ تصویب دپاره نازل شو وان احکم— کذا فی الباب اوخرج نحوه

کمافی الروح ابن ابی حاتم والبیهقی فی الدلائل— ذکروجوب عمل بالقرآن علی التابید— وانزلنا الیك الکتاب بالحق الی قوله ومن احسن من الله حکما لقوم یوقنون، او(دتورات اوانجیل نه وروستو) موږه واکتاب (مسمی بالقران) تاته رالیږلی دی کوم چه په خپله هم صدق سره موصوف دی اوددی نه مخکې چه کوم (آسمانی) کتابونه راغلی دی (لکه تورارت انجیل اوزبور) دهغی هم تصدیق کوی (چه هغه نازل من الله دی) اوچونکه هغه کتاب کوم چه مسمی به قران دی قیامته پوری محفوظ اومعمول به دی اودیکې دهغی آسمانی کتابونوتصدیق موجوددی په دی وجه داکتاب دهغه کتابونو (دصادق کیدو دمضمون همیشه دپاره) محافظ دی (څکه چه قران کې به همیشه دامحفوظ وی چه هغه کتابونه نازل من الله دی هرکله چه قران داسی کتاب دی نو دی (داهل کتابو) په خپلو معاملاتوکې (چه کله ستاپه اجلاس کې پیش شی) ددی لیږلی شوی کتاب موافق فیصله وکړه اوداچه کوم ریشتونی کتاب تاته ملاؤشویدی ددی نه لری کیدل اوددوی (خلاف شرع خواهشونو او باندی (آئنده هم) عمل درآمد مه کوی (لکه څنګه چه تراوسه پوری سره ددوی ددرخواست اوالتماس نه تاصف انکاروکړو یعنی داد ستارائې بالکل صحیح ده، په دی همیشه قائم اوسه، اواهل کتاب تاسوته ددی کتاب دحق ګنړلونه اوددی دفیصلی منلونه ولی انکاردی آیادنوی دین راتلل څه دتعجب خبره ده اخرتاسوکې هریو (امت) دپاره (دینه مخکې) موږیو خاص شریعت اوخاص طریقت تجویز کړی وه (مثلاً دیهودو شریعت اوطریقت تورات وه اودنصاراؤ شریعت اوطریقت انجیل وه بیاکه چرته امت محمدیه دپاره شریعت اوطریقت قران مجید مقرر کړی شوچه ددی حق کیدل هم ددلائلونه ثابت دی نوچه دانکار څه ده) اوکه چرته الله تعالیٰ ته (دټولو په یوه طریقه باندی ګرځول منظوروی نوهغه په دی هم قدرت لرلوچه) تاسوټولو یهودونصاراؤاواهل اسلام) ته یې (یو شریعت ورکړی وی) په یوامت کې یې ګرځولی وی (اونوی شریعت به نه راتلو دکوم نه چه تاسوویره کوی) خو (خپل حکمت سره یې) داسی ونه کړل (بلکه هرامت ته یې جداجدا طریقه ورکړه) دی دپاره چه کوم کوم دین تاسوته (په هره زمانه کې نوی نوی) ورکړی شویدی په دی کې ستاسو دټولونه (دستاسو داطاعت اظهاردپاره) امتحان اخستی شی (څکه چه اکثرطبعی امردی چه دنوی طریقی نه ویره اومخالفت طرفته حرکت کیږی خوچه کوم سړی دصحیح عقل اوانصاف نه کاراخلی— نودهغی دحقیقت ظاهریدونه وروستوخپل طبیعت لره موافقت باندی

مجبوروی، اودا یولوئ امتحان دی بس که چرته دټولو یو شریعت وی نوددی شریعت دابتداء په وخت کې چه کوم خلق وه دهغوی امتحان خوبه شوی وه خونورچه کوم ددوی مقلداوددی طریقی نه مالوف دی دهغوی امتحان به نه وه شوی اواوس خودهرامت امتحان اوشو- اودامتحان یوصورت داوی چه انسان دکوم څیزنه منع کولی شی که معمول وی که متروك په هغی باندی حرص کیږی اودا امتحان دشرائع په تعدد کې اقویٰ دی چه دمنسوخ نه بندولی کیږی اودشریعت په اتحاد کې اگرچه دگناهونه یې بندوی خوپه هغی کې دحقیقت خوڅه شبه نه راځی چه دورومبی صورت صرف سلف سره خصوصیت دی بس هرکله چه نوی شریعت کې داحکمت دی نو (تعجب پریږدی) دفائدوخیروطرفته سلف سره خصوصیت دی بس هرکله چه نوی شریعت کې داحکمت دی) نو (تعجب پریږدی) دفائدوخیروطرفته (یعنی دهغی عقایدواعمالواواحکاموطرفته په کوم اواحکاموطرفته په کوم چه قران مشتمل دی، منډه کړی یعنی په قران ایمان راوړی ددی موافق لارشی یوه ورځ) دستاسوټولو الله طرفته تلل دی بیابه هغه تاسوټول خبرکړی په کوم کې چه تاسو (سره دوضاحت دحق نه په دنیاکې خواه مخواه) اختلاف کولو (په دی وجه دابی ځایه اختلاف پریږدی اوحق لره چه کوم اوس منحصردی په قران کې قبول کړی) اوچونکه دی داهل کتابوداسی ځان غټ وګڼړلو چه دحضرت ﷺ نه درخواست دخپل موافق دفیصلی کولوکوی چرته چه ددی احتمال هم نشته- په دی وجه دهغوی حوصلوکمزوری کولو دپاره اوهغوی ته اوورولوهمیشه همیشه دهغوی ناامید کولودپاره مونږه (بیابیا) حکم کوو چه څه ددوی (اهل کتابو) په خپلو کې دمعاملاتو (چه کله په اجلاس کې پیش شی، ددی لیږلی شوی کتاب موافق فیصله اوفرمایه اوددوی) خلاف شرع) خواهشاتو (اوفرمائشونوباندی آینده هم) عمل درامدکوه- (لکه څنګه چه تراوسه پوری دی نه دی کړی اوددوی نه (یعنی ددوی ددی څیزونو آئنده هم دمخکینې په شان) احتیاط کوه- چه دوی تالره دالله تعالیٰ ﷻ لیږلی شوی څه حکم نه هم واړوی (یعنی اگرچه ددی احتمال نشته نوکه چرته ددی قصدهم وی نوموجب دثواب هم دی) بیاسره دوضوح دقران اوددی دفیصلی دحق کیدوهم) که چرته داخلق (دقران نه اوستادفیصلی نه چه ګومه به موافق دقران وی) اعراض وکړی نویقین وکړه چه بس الله ته منظوره ده چه ددوی په بعضی جرمونوباندی (په دنیاکې) دوی ته سزاورکړی (اوهغه بعْضی جرم دفیصلی نه منل دی اودقران دحقانیت دنه منلوپوره سزابه په اخرت کې ملاویږی څکه چه ورومبی جرم دذمی

کیدو خلاف دی اودویم جرم دایمان خلاف دی دحربیت سزاخوهم دغه دنیاکې وی اودکفرسزاپه اخرت کې دغه وجه ده چه دیهودوسرکشی اووعده خلافی چه هرکله دحدتسامح نه واوریده نوددوی ته سزادقتل اوددظن نه دوتلوورکړی شوه- اوای محمد ﷺ ددوی داحالات چه واوری نوته به ضرورغمجن کیږی خوته زیات غم مه کوه څکه چه (زیات خلق خودیناکې همیشه) بې حکم (راغلیدی) داخلق (دقرانی فیصلی نه کوم چه عین عدل دی اعراض کوی) بیاایادزمانی دجاهلیت فیصله غواړی کومه دوی برخلاف دشرائع سماویه په خپله مخترع کړی وه دکوم ذکرچه دددوواقعوپه ضمن کې ددی رکوع نه مخکې رکوع دایت یاایها الرسول لایحزنك په تمهید کې تیرشویدی- حالانکه هغه دسراسرعدل اودلیل نه خلاف دی- یعنی سره دعلمه دعلم نه اعراض کول اودجهل غوختونکی جوړیدل تعجب باندی تعجب دی اوفیصله کولوکې به دالله نه څوك بنه (فیصله کوونکې) وی (بلکه څوك برابرهم نشته بس دخدای ﷻ فیصله پریخودل) اودبل چادفیصلی طالب جوړیدل عین جهل نه دی توڅه دی (اوداکافران ددی نه بې نصیبه دی) ف: که چرته چاته شبه وی چه دی نه معلومیږی چه دهرامت طریقه ددین جداده اوتوروایتونونه یوکیدل معلومیږی لکه سوره شوری کې راځی . شرع لکم من الدین الخ. جواب دادی چه جداپه اعتبار دفروعواوداعمالوسره ده اویوکیدل په اعتبارداصولواوعقایدوسره ده (بیان القران ص ۳۲ نه ۳۹ پوری/ ج ۳)، توضیح: مجموعی تقریرسره دشبهات باطله زوال بلکل صریح وجوهوسره معلوم شو خصوصاً اخیری دوایتونوپه تقریرکې چه غوروکړی یعنی دان احکم نه یوقنون پوری په دیکې دقران موافق فیصله کولوتاکیداودقران نه خلاف فیصله غوختلو باندی سخت وعید راغلی دی اوبعض ایتونه ددغه ذکرشوایتونومتقارب المعنیٰ په کوم کې چه په تورات انجیل اوقران مجید ټولو باندی دعمل کولومتعلق مضمون دی- ددی رکوع نه په دریمه څلورمه رکوع کې راغلیدی- دی سره یوجاهل ته دسوسه کیدیشی چه دی ټولوکتابونوکې عمل کوونکې نجات موندونکې دی په دی وجه دهغی مختصراً حاصل هم نقل کوم- یوایت دادی ، ولوانهم اقاموا التوراة والانجیل ومانزل الیهم لاکلوا من فوقهم ومن تحت ارجلهم- دوهم ایت: قل یااهل الکتاب لستم علیٰ شئ حتی تقیموا التوراة والانجیل ومانزل الیکم من ربکم، بس ددی دواړوحاصل دادی چه اهل کتاب ته کوم چه دتورات انجیل تصدیق اودقران تکذیب کوی خطاب دی چه ددی ټولوکتابونودپابندی دغه شان ضرورت

دی چه په دیکې په کوم کوم کتاب باندی یې دعمل کولو چه لیکلی دی تولو باندی عمل وکړی په دیکې تصدیق درسالت هم راغی- اودی نه احکام محرفه منسوخه خارج دی ځکه چه ددی کتابونو مجموعه په دی باندی دعمل کولونه وایې بلکه منع کوی نوبرنی ایت اودی ایتونوکې په تولوکې په تورات اوانجیل باندی دعمل کولو احقیقت خودلی شویدی چه دقران هم تصدیق وکړی- اودی باندی عمل هم وکړی بغیرددی نه په دی باندی عمل کولوته چرته کافی ونیلی دی ، بعض الاخبار: روی ابن جریرعن السدی ولوانهم اقاموا التوراة الایة، یقول لوعملوابماانزل الیهم مماجاء هم به محمد ﷺ وعن مجاهدولوانهم اقاموا التوراة الخ اماافامتهم التوراة فالحمل بها واماماانزل الیهم من ربهم فبمحمد ﷺ وماانزل الیه قال ابن جریرفان قال قائل وکیف یقیمون التوراة والانجیل ماانزل الی محمد ﷺ مع اختلاف هذه الکتب ونسخ بعضهابعضا قیل (ای فی الجواب) انهاوان کانت کذلك فی بعض احکامهاشرائعهافهی متفقة فی الایمان برسل الله التصدیق بماجاءت به من عندالله فمعنی اقامتهم التوراة وماانزل الی محمد ﷺ تصدیقهم بمافیهاوالعمل بماهی متفقة فیه وکل واحدمنهافی الخبرالذی فرض العمل به، دغه شان بعض ایتونوکې په تورات اوانجیل باندی دعمل کولویعنی داهل کتابومدح راغلیده شایددی سره چاته دغه ذکرکړی شوی وسوسه وی دیرایتونونه په حق دهغه اهل کتابوکې دی کوم چه مسلمانان شوی وه که چرته یوایت کې ددی قیدنه قطع نظروکړی نودیکې صرف دبعض اعمالومدح مقصودده- دهغوی دموجب نجات کیدوځه دلیل نشته مثلاً دبرنی ایت ولوانهم قاموالتوراة والانجیل الخ ، په اخرکې ارشاددی منهم امة مقتصدة، داداسلام راوړونکوپه حق کې دی دغه وجه ده سوره ال عمران کې ومن اهل الکتاب امة قائمة نه پس چه کوم اوصاف ذکرشویدی یتلون ایات الله من الصالحین پوری داپه منزله دتفسیرکې دی دمقتصدة اقائمة – دغه شان په سوره بقره کې الذین اتینهم الکتب یتلونه حق تلاوته کې دی سره اولیك یومنون به دهغی تفسیرذکرشویدی اومثلاً سوره ال عمران کې راغی ، ومن اهل الکتب من ان تامنه بقنطاریوده الیك، که چرته ددی روایتونونه هم قطع نظروکړی په کوم کې چه ددی ایت نزول خاص دهغه اهل کتابوباره کې ذکرشویدی کوموچه ایمان راوړی لکه معالم کې په روایت دضحاك یې دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړیدی بیاهم دامدح په اعتباردقبول عندالله نه ده بلکه بنابرانصاف اودبی تعصبی ده چه دمخالف

هغی نه یې هم په واقعی اندازی سره شاباش ورکړیدی – بس دی اصل کلی باندی دداسی تولوایتونومحمل متعین شواودغه ذکرکړی شوی وسوسه ختم شوه ښه پوه شه- بعض الاخبار: روی ابن جریربسنده عن مجاهدمنهم امة مقتصدة وهم مسلمة اهل الکتاب وعن السدی منهم امة ، مقتصدة یقول مومنة- الایة الخامسة عشرمع مایلیها: داخوایتونه دنزدیکت اومتناسق کیدودوجه نه په حکم دیوایت کې وګرخولی شول- لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿۸۲﴾ وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَىٰ أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ ﴿۸۳﴾ وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَمَا جَاءَنَا مِنَ الْحَقِّ وَنَطْمَعُ أَن يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصَّالِحِينَ ﴿۸۴﴾ فَأَثَابَهُمُ اللَّهُ بِمَا قَالُوا جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْمُحْسِنِينَ ﴿۸۵﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿۸۶﴾ مائده (غیرمومنینوکې) تولوخلقونه زیات به مسلمانانوسره دشمنی لرونکې تاسویهودا ومشرکین اوموضی اودی (غیرمومنینو) کې به مسلمانانوسره په دوستی کې ډیرنزدی (په نسبت دنورو) هغه خلق اوموصی کوم چه خان ته نصارا وایې (دډیرنزدی مطلب داچه دوستان خوهغوی هم نه دی خوددی نوروذکرکړی شوونه غنیمت دی) داپه (دوستی) کې ډیرنزدی کیدل او (په دشمنی کې کم کیدل) په دی سبب دی چه دی (نصاراو) کې ډیرعلم دوست عالمان دی اوډیردنیاپریخودونکې درویشان دی (اوهرکله چه یوځو) کې داسی خلق ډیروی نوپه عواموکې هم دحق نه زیات عنادنه وی اګرچه خواص اوعوام حق لره هم قبول نهك کړی) اودی سبب سره دی چه دانصارادتکبرنه کوی (دقسیین اورهبانانونه ډیرزرمتاثره کیږی اوبل داچه دتواضع خاصه ده دامرحق په مخکې نرم کیدل په دی وجه ددوی دشمنی زیاته نه ده بس وجود دقسیین اورهبان ارشاددی علت فاعله طرفته اوعدم استکبار قابلیت طرفته په خلاف دیهودواومشرکینوچه ددنیامحبت لرونکې دی اوتکبرکوونکې دی اواګرچه یهودوکې هم بعض عالمان حق پرست وه کوم چه سبب ګرځی ده سختی دشمنی په دی وجه

یهود دېر کم مومنان شول ، او مشرکینو نه چه چه کله عناد او وتلو نو بیا پکې مومنان کېدل شروع شول ، ف ، دایت دتفسیر نه معلومه شوی وی چه دادهری زمانی او ځایونو دنصارا په باره کې نه دی او دی باندی بعض دلیلونه او قرینی دی۔ وړومبی دلیل: ددی دوستی دنزیکت سبب یې یو دا اوفرمایه چه په دوی کې داسی داسی صفتونو کې او درویشان دی او مونږ دا سبب عام نه مومو ، دویم دلیل : ددوی یې دریم سبب دا اوفرمایه چه په دوی کې تکبر نشته مونږه داهم عام نه مومو ، دریم دلیل: دلته دنزدیکت دوستی د مومنانو د پاره خبرور کړېدی په خپله دی وقوع هم عام نه شی موندلی کېدی او صدق دلوازمو د کلام الهی نه دی معلومه شوه چه کوم دنیوی غرض سره په دیکې دعموم مطلق دعوی کول صرف خواهش پرستی ده۔ وړومبی قرینه: سبب دنزول خاص دی په تمهیدانو کې ذکر شول ، یعنی اصل تفسیر کې قالو د ماضی صیغه ده بس کوم خلق چه داتا نصرا ویونکې ، وروستو ، او موندلی شی هغوی په ایت کې مذکور او داخل نه دی بلکه هغوی مسکوت عنه دی نورو دلیلونو سره به هغوی حکم تلاش کولی شی – ان خیرا مخیروان شرا فشر۔ دویمه قرینه: لتجدن کې اصل دادی چه خطاب رسول الله ﷺ ته وی بس نورو زمانو ته شامل نه دی اوس مونږ ته پ جواب کې ددی قائل کېدو ضرورت پاتی نه شو چه ایت لره خاص دنو مسلم نصاراؤ سره مخصوص وګڼړو اګرچه ډېر مفسرین ددی قائل دی او دوه شواهده ددی تائید هم کوی – وړومبی شاهد سبب دنزول دویم شاهد واذا سمعوا یقیناً خاص داسلام راوړونکو په شان کې کېدل او په دیکې دضمیر ماقبل طرفته راجع کېدل او دراجع او مرجع متحر کېدل خو ظاهراً د قرائنو نه دو مره خصوص هم نه معلومېږی او صاحب روح المعانی هم خصوص نه دی اختی۔ وړومبی قرنیه – دوی ته یې په مودت کې اقرب وئیلی دی او کوم چه مسلمان شوی وه هغوی خو د قرب مودت نه هم بره هم لاړل په خپله مودت بلکه شدت مودت سره موصوف شوی وه ، دویمه قرینه: ددی نو مسلمو د دوستی اصل علت ایمان دی نه که اخلاف پریخودل د دنیا او محبت دعلم او تواضع بیا د دنیا پریخودل نه یې په عنوان درهبانیت سره تعبیرو کړو کوم چه شریعت محمدیه کې محمود نه دی۔ دی نه معلومېږی چه داحکم یې دبقاء نصارانیت په حالت کې فرمائیلی دی – بس ایت کې نه مطلقاً عموم دی او نه مطلقاً خصوص او شان تزول عموم من وجه نه مضر نه دی ځکه چه یو جزء ددی یعنی ذالك بان منهم الخ په اعتبار د حالت دنصرانیت کېدیشی او دویم جزء یعنی واذا سمعوا الخ په اعتبار د حالت داسلام او داذا سمعوا

ضمیر ماقبل طرفته په اعتبار دبعض طرفته راجع کېدیشی لکه څنګه چه کبیر کې راخی بس ددغه دواړو شاهدینو مذکورینو جواب وشو - او دلته نه مفسرینو دوه فائدی لیکلی دی۔ وړومبی فائده : اخلاق حمیده چه په کوم قوم کې وی هغه حمیده دی دویمه فائده: دنصاراؤ کفر په ذات او صفات کې دی چه تثلیث قائل دی او اکثر د یهود و نبوت سره صرف بعضو البته عزیر ﷺ ته یې هم ابن الله وئیلی وه او وړومبی کفر سخت دی ددی دویم کفرنه – خو د اخلاقو په تفاوت سره دویم باندی زیات ملامت وکړی شو دلته نه دفرق متبدعه په اهل اسلام کې ددی قضاوت حال پیژندل پکار دی او دلته دوه تنبیه دی۔ وړومبی تنبیه: دلته دنصاراؤ او د کافرانو مدح نه ده بلکه انصاف دی او د اخلاقو فی نفسها مدح۔ دویمه تنبیه: په اخلاقو کې درهبانیت مدح په اعتبار دهغی دټول خصوصیت نه ده بلکه صرف دبعضی په جزء یعنی ترک حب دنیا په اعتبار سره ده او احقر چه کوم دایت تفسیر په ربط کې ، یعنی اصل تفسیر کې ، لفظ عدل او انصاف او د اقرب په ترجمی کې لفظ نسبت ظاهر کړېدی دلته نه دوه خبری داشکال د رفع د پاره حاصل شوی – وړومبی خبره : مقصود په ایت کې دمودت قرب کامل نه دی بلکه اقرب اضافی دی او دلته دوه نکتی دو تحقیقونه لره مقید دی – وړومبی نکته: الذین اشرکوا یې ماضی راوړه دی نه دا فائده ده چه دتمامی زمانی او د ځایونو په مشرکینو باندی داحکم جاری کول ضروری نه دی دویمه نکته: الذین قالوا یې ماضی راوړه چه دویمه قرینه کې هم ددی دغه فائده تیره شوه۔ بس که چرته یو ځای وه پخوانی طرز دهندوانو په نسبت دمتعصب عیسائیانو مسلمانانو سره زیات محبت لرونکې او موندلی شی نو قران دهغی نفی نه کوی او یهود و وړومبی خو ترا وسه پوری محبت کوونکې نه دی اوریدلی شوی خو که چرته او موندی شول نو الیهود کې الف لام دعهد کېدیشی دغه وجه په ترجمی کې لفظ «دوی» دی طرفته اشاره کوی او یاداسی وئیلی کېدیشی چه په یو قوم باندی څه حکم په اعتبار د اکثر کېږی دیو څو ددی حکم نه خارجېدل موجب دتخلف حکم نه نه دی او دوه تحقیقونه دقرب مودت باره کې نور هم دی وړومبی تحقیق: داحکم ذکر کړی شوی دقرب مودت دنصاراؤ په حق کې دی او کوم چه واقع کې نصارا نه دی اګرچه بعض خلق دبعض اوضاعو او دمشابهت دوجه نه دوی ته نصارا وایې – ایت کې دوی دپاره داحکم نه دی ذکر شوی۔ دویم تحقیق: دلته یې نصاراؤ د پاره مسلمانانو سره دقرب مودت خبرور کړی دی دا نه دی چه مسلمانانو ته یې نصاراؤ سره دمودت اجازت ورکړی وی وقد تم ههنا بحمد الله

تعالیٰ تفسیرهذه الایة مع فوائد تتعلق بها تبلغ عشرین با جمع تقریر او منعه و احسن بیان واتقن تبیین وسمیته بخیر المودة فی تفسیر اٰیة المودة، ربط: بره د نصاراؤ دیوخاص اوصافو ذکروه مخکښي دهغوی ذکردی کوم چه په دوی کښي مسلمانان شوی. دنوی مسلمان نصاراؤ مدح واذا سمعوا ما انزل الی الرسول تری اعینهم تفیض من الدمع الیٰ قوله اصحاب الجحیم. او (بعضی دوی کښي کوم چه اخرکښي مسلمانان شوی وه داسی دی چه) کله هغوی دا (کلام) اوری کوم چه رسول الله ﷺ طرفته رالیږلی شویدی (یعنی قران) نو ته دهغوی سترګی داوښکونه بهیدونکي وینی - په دی وجه چه هغوی (دین) حق (یعنی اسلام) اوپیژندو (مطلب دا چه حق واوری نو متاثره کیږی او) داسی وایي چه ای زمونږ ربه مونږه مسلمانان شو نو مونږه هم دهغه خلقو سره اولیکه (یعنی په هغوی کښي موشمار کړه) کوم چه (د محمد ﷺ او د قران دحق کیدو) دتصدیق کوی او مونږ سره کوم عذر دی چه مونږ په الله باندی (موافق د تعلیم د شریعت محمدیه) او کوم (دین) حق چه مونږ ته (اوس) رارسیدلی دي په هغی ایمان نه راوړو - او (بیا) ددی خبری امید (هم) ساتی چه ای زمونږه ربه مونږه د نیک (مقبول) خلقو په معصیت کښي داخل کړه (بلکه دا امید موقوف دی په اسلام باندی په دی وجه مسلمانیدل ضروری دی) بس داسی (خلق) الله تعالیٰ ددوی ددی قول (مع الاعتقاد) په بدله کښي داسی باغ (دجنت) ته بوزی چه دهغی د (محلاتو) دلاندی به نهرونه هم روان وی (او) دوی به دیکښي همیشه همیشه اوسیږی او دنیکو کارو دغه بدله ده او (برخلاف ددوی) چه کوم خلق کافر دی او زمونږه ایتونو (احکاماتو) ته دروغو نسبت کوی دا خلق همیشه دپاره په دوذخ کښي اوسیدونکي دی. توضیح: شاید ددی نه څوك دلیل نیسی چه که څرته نصاراپه حقه نه وی نوپه واذا سمعوا کښي په ددوی ولی مدح کیده معلومه شوه چه حق په اسلام کښي منحصرنه دی ددی تفسیرسره ددی جواب صفا شو چه دا دمطلق نصاراؤ په باره کښي نه دی بلکه دوی کښي چه کوم مسلمانان شوی وه دغه وجه ده په خپله دقران مجید الفاظ ښائي او ددی نه مخکښي چه دکوم ملکاتو او اخلاقو ذکردی هغه انصاف دی حکم دنجات نه دی اود اخر په ایت کښي خو تصریح ده چه څوك کافر او مکذب وی اګرچه نصرانی وی کما هو مدلول العموم هغه دوزخی دی او د کافر او مکذب خلود فی النار په نورو ایتونو کښي ذکر شویدی نو دداسی نصرانی غیرناجی کیدل ثابت شول. بعض الاخبار: روی ابن جریر عن ابن جریج قال قال عطاء فی قوله ولتجدن اقربهم مودة الایة هم ناس من الحبشة اٰمنوا اذا جاء تهم مهاجرة المؤمنین

وعن قتادة قوله ولتجدن الایة اناس من اهل الکتاب کانوا علیٰ شریعة من الحق مما جاء به عیسیٰ یومنون وینتهون الیه فلما بعث الله نبیه محمدا ﷺ صدقوا به اٰمنوا به الخ وفی الباب اٰثار کثیرة تتفق فی هذا المعنی.

الایة السادسة عشر: وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ۗ فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا ۗ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ ﴿٣٤﴾ (سورة حج) اوبره چه کوم دقربانی په حرم کښي دذبح کولو حکم دی دی سره څوك داونه ګڼړی چه اصلی تعظیم دحرم دی بلکه اصل مقصود دالله تعظیم او هغه ته نزدیکت دی او مذبوح او مذبح ددی یوه آله او ذریعه ده او تخصیص دبعض حکمتونو په وجه دی او که څرته دا تخصیصات مقصود اصلی وی نو په هیڅ یو شریعت کښي به نه وه بدل شوی خو ددی بدلیدل ظاهردی البته تقرب الی الله کوم چه اصل مقصود ده هغه په ټولو شریعتونو کښي محفوظ پاتی شویدی په دی وجه) مونږه (چه څومره شریعتونه تیر شویدی په هغی کښي) چه الله دوی ته ورکړیدی (بس اصل مقصود دا نوم اخستل وه) بس (دی سره دا خبره راووته چه) ستاسو معبود (حقیقی) یو الله دی (کوم سره چه یې دا ذکر کړیدی ټولو نه دتقرب حکم شوی دی نو تاسو ټول دالله تابعدار شی (یعنی خالص موحدین شی یو مکان وغیره لره دمعظم بالذات ګڼړلو ذره برابر شرك شائبه په خپل عمل کښي مه راولی) او (ای محمد ﷺ کوم خلق چه زمونږ په دی تعلیم باندی عمل وکړی) ته (دداسی احکام الهیو مخکښي) سرخکته کوونکو ته (دجنت وغیره) زیری واوروه (بیان القران ص ۷۲-۷۳/ ج ۳) توضیح: شاید چا به د منسك معنی مطلق عبادت اخستی او خپلی باطل دعوی باندی به یې استدلال کولی دهغو جواب خو په ترجمی کښي او شو دویم ددی مناسکو دبقاء مشروعیت خو ددی سره لازم نه راځی هرکله چه ددی منسوخ کیدل ثابت شول یو داسی ایت ددی نه لږ وروستو هم دی کوم چه په لفظ مستقیم باندی ختمیږی هلته هم دغه کلام دی- الایة السابعة عشر: أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا ۗ وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن

يَنصُرُهُۥٓ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِىٌّ عَزِيزٌ (سورِ حج) دی مقام باندی ددی ایت یو خاص جزء مقصود بالذکر دی یعنی وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ الی قوله تعالیٰ، که (همیشه نه) دخلقو دیو بل (په لاس سره زور نه کمولی (یعنی اهل حق یې وخت په وخت په اهل باطلو نه زوربور کولی) نو په خپله زمانه کې (دنصاراؤ دخلوت ځایونه او عبادت خانی او (دیهودو) عبادت خانی او (دمسلمانانو) هغه جوماتونه کوم کې چه دالله نوم زیات اخستی شی ټول به وران (او ختم) شوی وی (فـ اولهدمت صوامع الخ سره دی څوك داشبه نه کوی چه داټول متعبدات اوس هم دالله تعالیٰ په نزد مقبول دی، اصل داده دخپلی خپلی زمانی په مشروعیت او مقصودیت دملت کې ددی مغلوبیت مقصود دی لکه څنګه چه دترجمی نه ظاهر دی (بیان القران ج۷/ص۷۵-۷۴)

توضیح: شبه او حل دواړه په تفسیر کې لیکلی شویدی تائید دپاره دفیسا پوری قول نقل کړلی شی .لولادفع الله هدم فی شرع کل نبی المکان المعهودلهم فهدم فی زمن موسیٰ علیه السلام الکنائس وفی زمن عیسیٰ علیه السلام الصوامع والبیع وفی زمن محمد ﷺ المساجدوعلیٰ هذا الوجه انمادفع عنهم حینه کانواعلی الحق قبل التحریف والنسخ ،الایة الثامنة عشر والتاسعة عشر: لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحًا وَٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِۦٓ إِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓ ۖ أَنْ أَقِيمُوا۟ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا۟ فِيهِ (شوری) قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُولُوا۟ ٱشْهَدُوا۟ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ (سوره ال عمران) دویم ایت اګرچه په ترتیب کې دقران کې مقدم دی خو دتناسب په وجه وړومبی ایت سره ذهن کې راغی په دی وجه هغی سره نقل کړی شو، دوړومبی ایت تفسیر: الله تعالیٰ دخلقو دپاره هغه دین مقرر کړیدی دکوم چه الله نوح علیه السلام ته حکم کړی وه او کوم چه مونږ تاته دوحی په ذریعه رالیږلی دی او دکوم چه مونږ ابراهیم او موسی علیه السلام ته (سره ددوی دتابعدارانو) حکم ورکړی وه (او ددوی امتونو ته می داوئیلی وه) چه دادین قائم ساتی (په دیکې اختلاف مه کوی) مراد ددی دین نه اصول ددین دی کوم چه په ټولو شریعتونو کې مشترك وه لکه توحید، رسالت او بعثت ونحوه .او قائم ساتل داچه دامه بدلوی او دامه پریږدی او اختلاف داچه په څه خبرو ایمان راوړی

او په څه نه راوړی یا څوك ایمان راوړی او څوك نه راوړی (بیان القران/ص۲۷/ج۱۰) دویم ایت تفسیر: ای محمد ﷺ تاسو او فرمائې چه ای اهل کتابو راشی یو داسی خبری طرفته کوم چه زمونږ او ستاسو په مینځ کې (مسلمایندو کې) برابره ده (هغه) دا (ده) چه ماسیوا دالله تعالیٰ نه به مونږ بل چا عبادت نه کوو او الله تعالیٰ سره به څوك شریك نه ګرځوو او مونږ کې به ماسیوا دالله نه بل څوك رب نه نیسو بیا که چرته (ددی نه وروستو هم) داخلق (دحق نه) مخ واړوی نو تاسو (مسلمانان) ورته ووائې چه تاسو (زمونږ) ددی (اقرار) ګواه اوسی چه مونږ خو (ددی خبری) منونکې یو (یو که چرته تاسو نه منی نو تاسو پوه شی) (ف) دی مضمون ته یې مسلم څکه ووئیل چه ټولو شریعتونو کې ددی تعلیم ورکړی شوی وه او اجمالاً او کلیاً اهل کتاب هم دامنی چه توحید فرض دی او شرك کفر دی او یو مخلوق رب جوړول شرك دی خو سره ددی نه داخلق شرك کې څکه مبتلا وه چه هغوی داشرك او خلاف دتوحید نه ګڼړلو بس دی تقریر کې یې خوند داو کړو چه دوی ته دکلیات مسلمه یادولو نه وروستو دجزئیات مختلف فیها په دی کلیاتو کې دداخلولو اثبات اسان پاتی شو- توضیح: کیدیشی چاته دی ایتونو سره داشبه وی چه دی نه معلومیږی چه شریعتونه په اصولو کې ټول متحد دی او دغه اصول مقصود دی بس په فروعاتو کې اختلاف څه مضر نه دی اهل باطلو داصول او فروعو دغه فرق به مختلفو عنواناتو سره ذکر کړیدی خو دی ایتونو کې ددی مقصود چرته هم پته نشته مقصود خو مخاطبینو سره خبره ده چه تا دداسی اصولو هم خلاف کوی کوم چه دشریعتونو داشتراك په وجه واجب التسلیم دی (کوم چه دوړومبی ایت حاصل دی) کوم چه ستاپه نزد هم مسلم دی (کوم چه حاصل دی ددویم ایت) او دی سره دالازم نه راځی چه فروع په خپله درجه کې هم مقصود نه دی یا شریعت مؤخره سره دشریعت سابقه فروع منسوخ نه شول البته دمقصودیت درجی دی نفس نجات دپاره خو دتصدیق او تسلیم درجه او نجات اولیٰ دپاره خو سره دیو ځای کولو دعمل نه بیا داصولو دذکر کولو نه نکته اسان ده فروعاتو طرفته په راوړوکې لکه دویم ایت کې چه دی طرفته اشاره هم ده فی قوله دی تقریر کې یې خوند داو کړو الخ بس هر کله چه فروعو کې مقصودیت هم دی او په دیکې نسخ هم کیږی بیا دا ایتونو دی باطل مدعا سره څه تعلق پاتی شو .بعض الاخبار روی ابن جریر عن الربیع قال ذکرلناان النبی ﷺ دعاالیهودالی کلمة سواء وعن السدی قال ثم دعاهم رسول الله ﷺ یعنی الوفدمن نصاریٰ نجران، الایة العشرون: إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ

وَٱلْمُشْرِكِينَ فِى نَارِ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمْ شَرُّ ٱلْبَرِيَّةِ ﴿۶﴾ (سوره بینه) بی شکه چه کوم خلق به اهل کتابو او مشرکینو کې کافرشول هغوی به اورددوخ ته ځی هلته به همیشه همیشه اوسی (او) دا خلق ډیربدترین دخلقونه دی (بیان القران ص ۱۳/ ج ۱۲)

توضیح دی باطل پرستو کې بعضو سره زما خبره او شوه هغوی عام مذهب والو ته خوناجی (نجات موندونکې) نه وئیل خو اهل کتاب یې ناجی ګڼړل دی ایت کې تصریح ده ددی هم دغیرناجی کیدو- عرض مولف ما په خطبه کې تصریح کړیده چه دایتونو استیعاب مقصود نه دی صرف یو معتدبه حصه جمع کول مقصود دی بس بحمدالله دا مقصود حاصل شو- په دی وجه اوس دا عجاله ختموم او ددی دنافع او مقبول کیدو دعا کوم- وقد فرغت منها بفضل الله الکبیر المتعال فی مدة ثلاث لیال من اخر شوال ۱۳۵۸ھ هجرة سیدالرسل واکمل اهل الکمال ﷺ واصحابه خیر اصحاب وال،

ضمیمه رساله توحیدالحق

ددی رسالی دطرز حاصل اثبات دمقصود بالجزئیات المنقوله دی، دی باره کې دبعض فاضلانو تحریر لاس ته راغی دهغی دطرز حاصل اثبات دمقصود بالکلیات المعقوله دی تائیداً او تشئیداً رسالی سره دهغی الحاق هم فائده مند معلوم شو- او دغه تحریر کې دبعض داسی باطلو مدعیانو اقوال هم نقل شویدی او ډیر مفصل کلام یې کړیدی چونکه دامختصر دهغی تفصیل متحمل نه دی لهذا دهغی یو کافی حصه به اندازی دضرورت کوم چه په خپله صاحب تحریر دهغی خلاصه راوستی ده نقل کولی شی اصل تحریر د مدرسی امدادالعلوم په دفتر کې موجود دی او هغه مخلصه حصه داده-

بسم الله الرحمٰن الرحیم

چونکه دمصنف په ټولو هذیاناتو باندی کلام کول یو ډیر مشکل کار دی په دی وجه دهغه ټول هذیانات مو پریخودل دهغه دی مضمون طرفته متوجه کیږو کوم چه هغه دخلاصی په طور بیان کړیدی هغه وایې چه دټول ذکرشو تفصیلاتو حاصل په لاندینو دفعاتو کې بیانیدی شی دی نه وروستو هغه دا دفعات په دی شان سره بیان کړیدی (۱) دقران دنازلیدو نه مخکې ددینامذهبی تخیل ددی نه زیاته فراخی نه لرله چه دنسلونو خاندانو او دقبیلو دمعاشرتی حدبندو په شان دمذهب هم یوه خاص ډله بندی شوی وه- دهری ډلی سړی داګڼړل چه ددین ریښتونوالی صرف دهغه چه په حصه کې راغلیدی چه کوم انسان دهغی په مذهبی حدبندی کې داخل دی نجات موندونکې دی ځوك چه داخل نه دی هغه دنجات نه محروم دی (۲) دهری ډلی په نزد دمذهب اصل او حقیقت محض دهغه ظاهری عملونه او رسمونه وه چه کله به یو انسان هغه اختیار کړل نو یقین به کولی شو چه نجات او نیك بختی ده ته حاصله شوه مثلاً دعبادت شکل او طریقه دقربانی رسمونه او اخترونه یو خاص خوراك خوړل یا نه خوړل دیو خاص وضع قطع اختیارول یا نه اختیارول- (۳) چونکه دا عملونه او رسمونه په هرمذهب کې جدا جدا وه- څه رنګ چه ده په خپله اختیار کړی وه (۴) دهرمذهبی ډلی دعوی صرف دا نه وه چه دا ریښتونی دی بلکه دا هم وه چه دابل دروغژن دی نتیجه دا وه چه هره ډله صرف په دومره باندی قانع نه پاتی کیده چه دخپل ریښتونوالی اعلان وکړی بلکه دا یې هم ضروری ګڼړل چه دنورو خلاف تعصب او نفرت خور کړی دی صورت حال انسانانو له دیو دائمی جنګ په حالت کې مبتلا کړی وه دمذهب او دخدائې په نوم هری ډلی دبلی نه نفرت کولو او دهغی وینه بیول یې جائز ګڼړل (۵) خو قران مجید دانسانانو په وړاندی دمذهب دعالمګیر ریښتونوالی اصول پیش کړل خو سوال دا دی چه ایا قرآن دحق او دباطل هغه اختیار او چت کړو که چرته ددی جواب دادی چه آو نو دا صریح کفر الحاد او زندیقیت دی او کیدیشی مصنف هم دا تسلیم نه کړی او که چرته ددی مطلب دا نه دی او هغه دحق او باطل امتیاز باقی لرلو سره خلقو له دحق قبلولو او دباطل پریخودلو دعوت ورکوی نو بیا ده دمذهب عالمګیر ریښتونوالی دعوت کله ورکړو بلکه دی صورت کې ده خلقو له په دوو ډلو کې تقسیم کړه او په خپله یې هم ددی ډلی بندی او فرقه بندی ارتکاب وکړو دکوم الزام یې چه په نورو باندی عائد کولو او هر کله چه دا صورت دی نو اسلام ته څه رنګه وئیلی کیدیشی بس ثابته شوه

قبلوی ددی نتیجه ډله بندی او تفرقه او اختلاف ګرځی بس ثابته شوه چه د مصنف دا بیان هم سراسر جهالت دی او نه دی په اسلام باندی پوه دی او نه په نورو مذهبونو۔ دی نه وروستو هغه نمبر(د) قائم کړیدی او وایی ده او خودل چه یو څیز دین دی او بل شرع او منهاج دی دین یو دی او یو شان باندی خلقو ته ورکړی شو دالبته په شرع او منهاج کښې اختلاف او شو۔ او دا اختلاف په خوامخواه وه ځکه چه دهری زمانی او هر قوم حالت یو شان نه وه او ضروری وه چه څه رنګ چه د چا حالت وی هغه شان احکام او اعمال هغوی ته اختیار کړیشی بس د شرع او منهاج په اختلاف سره اصل دین کښې اختلاف نه شی کیدی جهالت او په قران افتراء ده ځکه چه قران چرته هم دا دعوی نه ده کړی چه دین څه بل شی دی او شرع او منهاج څه بل څه شی بلکه په خپله دغه شرع او منهاج دین دی ددی نه علاوه دین څه بل څیز نه دی ځکه چه دین نوم دی د قانون الهی بس کومه زمانه کښې چه کوم قانون الهی وی۔ په دغه زمانه کښې به هم دغه دین وی او هر کله چه هغه قانون منسوخ شی نو دین به هم پاتی نه وی بس د نورو مذهبونو غلطی دا نه ده چه هغوی شرع او منهاج دین وګڼړلو بلکه د هغوی غلطی دا ده چه غیر دین نه یې دین جوړ کړو یا دین منسوخ یې غیر منسوخ وګرځولو او دین حق یې دروغژن کړو دی نه وروستو مصنف نمبر(ه) قائم کړیده۔ او وایی ده او خودل چه مذهبی ډله بندو او ددوی ظاهری رسمونو ته په انسانی نجات او نیک بختی څه دخل نشته۔ دا ډله بندی ستاسو جوړی کړی شوی وی کنی د خدائی جوړ کړی شوی خو یو دی هغه دین حقیقی څه دی هغه وایی چه د وی یو الله عبادت او نیک عمل ژوند کوم انسان چه د ایمان او د نیک عمل لاره اختیار کړی هغه د پاره نجات دی که هغه ستاسو په دغه ډله بندو کښې داخل وی او که نه وی اه۔ خو دا هم د مصنف یو لیونتوب دی د کوم چه څه معنی نشته ځکه په یو طرفته هغه د شرع او منهاج اختلاف منی او بله طرفته وایی چه دا ډله بازی ستاسو جوړی کړی شویدی بیا یو طرفته دی دا شرع او منهاج ګڼړی او دا په نجات او د انسان په نیک بختی کښې موثر منی او بل طرفته دا انسانی ډله بازی ګڼړی او د انسان په نجات او نیک بختی کښې یې غیر موثر ګڼړی بیا دی وایی چه حقیقی دین دیو الله بندګی او دنیک عملی ژوند بنائی خو دا نه بنایی چه دیو الله بندګی او دنیک عملی دژوند څه مطلب دی که چرته دی ددی څه صورت متعین کوی نو بیا دی ددی تعریف نه خارجیږی او د شرع او منهاج په حد کښې راځی ــ او دا د دین نه خارج ګڼړی او س مونږ نه پو هیږو چه هغه حقیقی دین څه شی دی او دی باندی انسان څه رنګه قائمیدیشی ــ بس ثابته شوه چه دا کلام ټول دلیونتوب دی

او ددی سرنه هډو څه معنی نشته دی نه وروستو ده نمبر(و) قائم کړیدی او وایی ده په صفا صفا الفاظو کښې اعلان وکړو چه دده دعوت مقصد ددی نه سیوا هیڅ نه دی چه ټول مذهبونه دی په خپل مشترك او متفقه ریشتونوالی باندی جمع شی دی وایی چه ټول مذهبونه ریشتونی دی خو تابعداران د مذهب د ریشتونوالی نه اوړیدلی دی که چرته دوی خپل هغه هیر کړی شوی ریشتونوالی بیا د سرنه اختیار کړی نو زما کار پوره شوا و دوی زه قبول کړم د ټولو مذهبونو دغه مشترکه او متفقه ریشتونوالی وه څنګه چه دوی والدین و والاسلام نوم سره بللی کیږی اه خو دا هم دده په قران باندی افتراء ده قران هرګز دا دعوی نه ده کړی چه ټول مذهبونه ریشتونی دی او دین اولاً الاسلام ددی مشترکه ریشتونوالی نوم دی آو دی دا ضروری وایی چه په خپل خپل وخت کښې هر مذهب ریشتونی وه او په هغه وخت کښې هغه دالدین االاسلام مصداق وه خو اوس چه کله ټول مذهبونه منسوخ شول او د هغوی په ځای یو نوی دین راغی نو اوس داالدین او الاسلام مصداق دی نه که بل څه مذهب ــ دی بیان کښې او د مصنف په بیان کښې --- هم هغه اختلاف دی کوم چه په ایمان او کفر کښې دی ــ دی نه وروستو مصنف نمبر(ز) قائموی او وایی چه د خدائی دین دی د پاره نه دی چه یو انسان دی د بل انسان نه نفرت وکړی بلکه دی د پاره دی چه هر انسان بل سره محبت وکړی او ټول دیو الله په بندګی کښې راشی او یو جوړ شی۔ دی وایی چه هر کله د ټولو پروردګار یو دی هر کله چه د ټولو مقصود د هغه بندګی ده هر کله چه انسان د پاره هم صرف هغه دی څه رنګ چه د هغه عمل دی نو بیا د خدائی او د مذهب په نوم باندی دا ټول جنګ او اختلاف ولی دی اه ــ خو دا هم په قران باندی افتراء او یو بنکاره بهتان دی قران چرته هم ددی کفر یا تو تبلیغ نه کوی قران انسانانو لره په دوو ډلو کښې تقسیموی یو ته مسلمانان وایی بل ته کافر مسلمانانو ته په خپل منځ کښې د محبت تعلیم ورکوی او د کافرانو د نفرت دوی سره د جنګ حکم ورکوی۔ دوی د شیطان ملګری ګڼړی نه دا چه د خدائی او دا مضمون په قران کښې په ناقابل انکار طریقی باندی موجود دی نو ددی په نسبت چه مصنف کومی دعوی کړیدی ټول و بهتانونه دی

تمت الضميمة وبتمامها اختتمت رسالة توحيد الحق والله الحمد

څلورم جلد په فضل رب العالیمن ختم شو الحمد الله

ضمیمه امدادالفتاوی مبوب جلد شلورم

فائده ثالثه واربعین ازموئد العوائد فی زوائد الفوائد مندرجه النوررجب المرجب ۱۳۴۷ھ درتتمه ترجیح الراجح حصه ششم فصل دوم ، ددی موقع مضمون متضمن توضیح دبعض اجزاؤ داصل واقع دصاحب واقعی بالکل ختم باندی یعنی دانت ارحم الراحمین نه پس دی ، یعنی دهغی نه وروستو دڈی لاندنیی عبارت زیاتوالی وکړی - وهی هذا

تذنیب ثانی

بل داچه پیوست کول دزیاتی وضاحت دبعض اجزاؤ داصل واقع دصاحب واقع نه په ربیع الاول ۱۳۴۷ھ کي صاحب واقع دوباره ماسره دتربیت باطنه په غرض راغی اودضروری حالاتو دروزانه اطلاع په ضمن کښی یې یو خالص حالت دواقعی متعلق تحریری اطلاع دالاندنیی بیان وموافق ورکړه دهغی په وروښو کرخو کي کوم چه دهغه په متاثرمن الجذب کیدو باندی دلالت کوی دهغه په زیاتی معذوری باندی صریح وضاحت کیږی بل داچه داحقر دتعبیر دهغه اودهغه دتقلید ومناسب کیدل هم معلومیږی دهغی تحریر بعینه نقل کوم وهوهذا - ددی نه علاوه یوه بله خبره ده کومه چه ماتراوسه ستاپه خدمت بابرکت کي عرض نه کړی شوه - ماهغی په پټولو کي سره دپوه سترګی نه دی پټی کړی بلکه اتفاق سره می عرض نه کړی شوه هغه داچه دخوب چه کومه واقعه په ریاست رامپورکي ماسره اوشوه کوم کي چه دکلمی شریفی ذکروه - دهغی باره کي بعضو خولیونتوب ولیکلواوبعضو زیادت دمحبت وغیره خودیکي چه کوم اصل رازوه - دهغی علم الله تعالیٰ دی یاماته رازیه هغی کي داوه چه دغه ورخو کي په ماباندی دجذب ډیراثرات رابنکاره شوی وه دالله دمحبت غلبه وه دی غلبه دمحبت کي ماته دشیخ تلاش وشو - خوماخپل عقل پیژندو اوپریدم چه دجانااهله په صحبت کي راګیرنه شم اوبیاچه کوم اهل دی په هغی کي هم دمرتبی حیثیت سره په یو بل باندی فضلیت شته - اوطبیعت ددی خبری مقتضی وه چه دداسی شیخ انتخاب وکړم چه دهغه نمونه نن په ټوله دنیاکي موجودنه وی خوزماعقل ددی امتیاز نه خالی وه دامکان وه چه زه به خپل عقل سره په خپله دشیخ انتخاب وکړم اوعندالله کیدیشی دهغه نه په دنیاکي بل څوک لوئ شیخ وی - په دی وجه ماپه خپل عقل باندی اعتمادونه کړواوالله ﷻ طرفته می رجوع وکړه زه په ځنګل کي کیناستم مادشپی ډیرپه زاری اواضطراری سره ډیرپه عاجزی اوتذلل سره دالله په دربارکي لاس اوچت کړل اوعرض می وکړو چه ای الله ﷻ زه نه پیژنم چه داوخت په دنیاکي تولونه زیات مرتبی والا ستاولی څوک وی اوزماعقل دی پیژنګلو په خوب باندی اعتمادنه کوم ځکه چه کیدیشی شیطان متمثل شی اویو شکل راته پیش کړی اوزه په دهوکه کي راشم - اودامی هم خیال وه چه چرته په یوبدعتی باندی زمااعتقادیوخ نه شی دغه وجه ده چه الله زمادعاقبوله کړه اودا واقعه راباندی تیره شوه -

تمت بالخیر بعون الملك الوهاب